# قرآن او پښتو ژباړه ئې

# القرآن الكريم

مترجم: حکمتیار

د حزب اسلامي افغانستان امیر

# قرآن کریم

مترجم: حکمتیار

د حزب اسلامی افغانستان امیر


بسم الله الرحمن الرحيم

## سُورَةُ الفَاتِحَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٢ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ٣ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٤ ٱهۡدِنَاٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٥ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ٦ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧

## الفاتحه- مکي سوره- 7 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ټولې ستاینې د عالمونو رب الله ته دي. 2- همغه ډېر مهربان رحم کوونکی. 3- د بدلې د ورځې ټولواك. 4- یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو. 5- په دغې سمې لار مو هدایت کړې. 6- د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزوینه کړې. 7- نه غضب پرې شوی او نه بې لارې دي.

# سُورَةُ البَقَرَةِ

سُورَةُ البَقَرَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢ ٱلَّذِينَ
يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣
وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ
هُمۡ يُوقِنُونَ ٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥

## البقره- مدني سوره- 286 آيتونه

**د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه**

**1- الف، لام، میم، 2- دا همغه کتاب دئ، شك په کې نشته، د متقیانو لپاره لارښود. 3- هغه چې په غیب ایمان لري، لمونځ اقامه کوي او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي. 4- او هغه چې پر تا نازل شوي (کتاب) هم ایمان راوړي او په هغه هم چې تر تا مخکې نازل شوي او دوی په آخرت یقین کوي. 5- دوی د خپل رب په لارښوونې (سم) دي او همدا دوی بریالي دي.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا
يُؤۡمِنُونَ ٦ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَعَلَىٰ سَمۡعِهِمۡۖ وَعَلَىٰٓ أَبۡصَٰرِهِمۡ
غِشَٰوَةٞۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٧ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا
بِٱللَّهِ وَبِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَمَا هُم بِمُؤۡمِنِينَ ٨ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٩ فِي
قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ
يَكۡذِبُونَ ١٠ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ قَالُوٓاْ إِنَّمَا
نَحۡنُ مُصۡلِحُونَ ١١ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡمُفۡسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا
يَشۡعُرُونَ ١٢ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ ءَامِنُواْ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ
كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُۗ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعۡلَمُونَ
١٣ وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمۡ
قَالُوٓاْ إِنَّا مَعَكُمۡ إِنَّمَا نَحۡنُ مُسۡتَهۡزِءُونَ ١٤ ٱللَّهُ يَسۡتَهۡزِئُ بِهِمۡ
وَيَمُدُّهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١٥ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ
ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمۡ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ١٦

6- يقيناً هغه چې کافران شوي، پرې برابره ده چې وئې وېروې يا
ئې ونه وېروې، ايمان نه راوړي. 7- الله د دوی پر زړونو او د دوی
پر غوږونو مهر لګولی او پر سترګو ئې ځانګړې پرده ده او دوی ته
ستر عذاب دئ. 8- او د خلکو ځيني داسي دي چې وايي: پر الله او
د آخرت پر ورځ مو ايمان راوړی، حال دا چې دوی مؤمنان نه دي.
9- له الله او له مؤمنانو سره خدعه کوي، خو له ځانه پرته بل څوك
نشي غولولی، خو نه پوهېږي. 10- په زړونو کې ئې خاصه بيماري
ده، نو الله ئې بيماري ورزياته کړه او دوی ته دردناك عذاب دئ،
له دې کبله چې دروغ وايي.11- او کله چې ورته وويل شي: په
زمکې کې فساد مه کوئ، وايي: موږ خو په يقين سره مصلحين يو.
12- پام چې همدا دوی مفسدين دي خو نه پوهېږي.13- او کله
چې ورته وويل شي: د دغو خلکو په څېر ايمان راوړئ، وايي: آيا د
دغو کمعقلو په څېر ايمان راوړو؟! پام چې همدا دوی په خپله
کمعقله دي خو نه پوهېږي. 14- او کله چې له مؤمنانو سره
مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړی، خو کله چې د خپلو شيطانانو
په لور ګوښه شي؛ وايي: موږ يقيناً له تاسو سره يو، موږ خو هسي
ملنډې وهونکي يو. 15- الله پر دوی استهزاء کوي او په خپل طغيان
کې ورته مهلت ورکوي، په داسي حال کې چې لالهانده وي.
16- دا همغه ډله ده چې ضلالت ئې په هدايت پېرلی، خو نه
ئې تجارت ګټه وکړه او نه هدايت شوي دي.

مَثَلُهُمۡ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسۡتَوۡقَدَ نَارٗا فَلَمَّآ أَضَآءَتۡ مَا حَوۡلَهُۥ
ذَهَبَ ٱللَّهُ بِنُورِهِمۡ وَتَرَكَهُمۡ فِي ظُلُمَٰتٖ لَّا يُبۡصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمُّۢ
بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوۡ كَصَيِّبٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ
ظُلُمَٰتٞ وَرَعۡدٞ وَبَرۡقٞ يَجۡعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِم مِّنَ
ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِۚ وَٱللَّهُ مُحِيطُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ ٱلۡبَرۡقُ
يَخۡطَفُ أَبۡصَٰرَهُمۡۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوۡاْ فِيهِ وَإِذَآ أَظۡلَمَ عَلَيۡهِمۡ
قَامُواْۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٢٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى
خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ
لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا
وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾ وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا
فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي
وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٤﴾

17- مثال ئې د هغه چا مثال ته ورته دئ چي اور ئې بل کړ، کله
چي ئې د ده ماحول روښانه کړ، الله د دوی (د بصيرت) نور ختم کړ
او په داسي تيارو کي ئې پرېښودل چي څه نه ويني. 18- کاڼه،
گونگيان او ړانده، نو بېرته راگرځېدی نشي. 19- او يا لکه کوم تېز
باران له آسمانه چي په کي تيارې، تالنده او برېښنا وي، د تندر له
کبله خپلي گوتي په خپلو غوږونو کي نيسي، د مرگ له وېري، حال دا
چي الله پر کافرانو احاطه کړې. 20- نژدې ده چي برېښنا ئې سترگي
يوسي، چي کله ئې ورته روښانه کړي په کي درومي او چي کله ئې
وربانديي تياره کړي ودرېږي او که الله غوښتی نو حتماً به ئې د دوی
غوږونه او سترگي له منځه وړي وو، بې شکه چي الله په هر څه
قادر دئ. 21- اې خلکو! د خپل هغه رب عبادت وکړئ چي تاسو
ئې هم پيدا کړي يئ او تر تاسو مخکني هم، ترڅو مو ځان ساتلی
وي. 22- هغه چي زمکه ئې تاسو ته فرش او آسمان ئې چت کړ او
له آسمانه ئې اوبه راکوزي کړې او په هغه سره ئې مېوې راوايستې،
ستاسو لپاره روزي، نو الله ته سيالان مه نيسئ په داسي حال کي چي
پوهېږئ (هغه سيال نه لري). 23- او که د هغه څه په اړه شك لرئ
چي موږ پر خپل بنده نازل کړی، نو له الله پرته خپل شاهدان راوبلئ
او د هغه په څېر يوه سوره راوړئ که رښتيني يئ. 24- او که ونه
توانېدئ او هيڅکله نه شئ توانېدی، نو له هغه اور ځان وساتئ چي
سون ئې خلك او ډبري دي، د کافرانو لپاره تيار کړی شوی.

وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا
قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ وَلَهُمۡ
فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥ *إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَسۡتَحۡيِۦٓ أَن يَضۡرِبَ مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ فَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرٗا وَيَهۡدِي
بِهِۦ كَثِيرٗاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦ ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ
عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن
يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٢٧
كَيۡفَ تَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمۡ أَمۡوَٰتٗا فَأَحۡيَٰكُمۡۖ ثُمَّ
يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٨ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ
لَكُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ
سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٩

25- او هغو ته چي ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، د دې زېری ورکړه چي دوی ته به داسي جنتونه وي چي ترلاندي به ئې ویالې بهېږي، چي کله ئې له مېوې څه ورروزي کړی شي وایي به: دا خو همغه دي چي تر دې د مخه راکړی شوې وې، حال دا چي یوې بلې ته ورته مېوې به ورکړی شوې وي او هلته به ئې سپېڅلې جوړې په برخه وي او په هغه کې به تلپاته وي. 26- یقیناً چي الله له دې حیا نه کوي چي د کوم ماشي مثال راوړي او یا تر هغې د اوچت څه، نو چا چي ایمان راوړی پوهېږي چي دا د دوی د رب له لوري حقیقت دئ او هغه چي کافران شوي نو وایي: الله په دې مثال سره څه اراده لري، ډېر پرې بې لاري کوي او ډېر پرې هدایت کوي او له فاسقانو پرته بل څوك ورباندي نه بې لاري کوي. 27- هغه (فاسقان) چي الهي ژمني له ټینګولو وروسته ماتوي او هغه څه غوڅوي چي الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکه کې فساد کوي، همدا دوی زیانمن دي. 28- څنګه د الله په اړه کفر کوئ! حال دا چي تاسو مړه وئ او هغه راژوندي کړئ، بیا مو مړوي او بیا مو بېرته راژوندي کوي او بیا د ده په لور ورګرځول کېږئ. 29- دی همغه ذات دئ چي د زمکي ټول څه ئې تاسو ته راپیدا کړل، بیا ئې آسمان ته مخه کړه، نو هغه ئې اوه آسمانه جوړ کړل او دی په هرڅه ښه پوه دئ.

وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗۖ قَالُوٓاْ
أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ
بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٠ وَعَلَّمَ
ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِي
بِأَسۡمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣١ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ
لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٢ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ
أَنۢبِئۡهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ
إِنِّيٓ أَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَأَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا كُنتُمۡ
تَكۡتُمُونَ ٣٣ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ
إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٤ وَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ
ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ وَكُلَا مِنۡهَا رَغَدًا حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا
تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣٥ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ
عَنۡهَا فَأَخۡرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِۖ وَقُلۡنَا ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ
عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ٣٦ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ
مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٣٧

30- او کله چي ستا رب ملائکو ته وویل: زه پر زمکه د یوه نائب پیداکوونکی یم، دوی وویل: آیا داسي څوك په کي پیدا کوې چي فساد به په کي کوي اوویني به تویوي، حال دا چي موږ ستا له ستاینې سره لګیا یو او ستا لپاره په تقدیس بوخت یو. وئې فرمایل: زه په هغه څه ښه پوه یم چي تاسو پرې نه پوهېږئ. 31- او آدم ته ئې نومونه ورزده کړل، ټول ئې، بیا ئې ملائکو ته وړاندي کړل، نو وئې ویل: د دغو پر نومونو مي خبر کړئ؛ که رښتیني یئ. 32- وئې ویل: پاکي تا ته ده، موږ له هغه پرته چي تا راښودلي هیڅ علم نه لرو، ته خو بې شکه چي باحکمت پوه یې. 33- وئې ویل: اې آدمه! په نومونو ئې خبر کړه، نو چي کله ئې پر نومونو خبر کړل، وئې ویل: آیا تاسو ته مي نه وو ویلي چي زه د آسمانونو او زمکي په پټو ښه پوهېږم او په هغه څه هم ښه پوهېږم چي څرګندوئ ئې او په هغه هم چي پټول مو؟ 34- او کله چي مو ملائکو ته وویل: د آدم لپاره سجده وکړئ، ټول په سجده شول مګر ابلیس، ډډه او تکبر ئې وکړ او له کافرانو وو. 35- ومو ویل: اې آدمه! ته او مېرمن دي په دې جنت کي مېشت شئ او له کومه ځایه چي غواړئ پرېمانه وخورئ، خو دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو له ظالمانو به شئ. 36- خو شیطان له هغه وښویول او له هغه څه ئې وایستل چي په کي ول، او ومو ویل: کوز شئ، ځیني د ځینو نورو لپاره دښمن او تاسو ته په زمکي کي د تېکي ځای دئ او څه متاع، تر یوه وخته. 37- نو آدم له خپل رب داسي څو کلمې ترلاسه کړې چي له کبله ئې توبه قبوله کړه، بې شکه چي هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ.

قُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن تَبِعَ
هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾ يَٰبَنِىٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ
أُوفِ بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٤٠﴾ وَءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا
مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا
وَإِيَّٰىَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا۟ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا۟ ٱلْحَقَّ
وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ
ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾ ۞ أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ
تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾ وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ
وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟
رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ
أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا
لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ
مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

38- ومو ویل: له دې ځایه ټول کوز شئ، خو که کله زما له لوري کومه لارښوونه درغله، نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ، نو نه په دوی څه وېره شته او نه به دوی غمجن شي. 39- او هغه چې کافر شول او زما آیتونه ئې تکذیب کړل، دوی دوزخیان دي، په هغه کې تلپاته. 40- اې د اسرائیل زامنو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او له ما سره په کړو ژمنو وفا وکړئ ترڅو زه له تاسو سره په خپلو ژمنو وفا وکړم او یوازې له ما ووېرېږئ. 41- او په هغه څه ایمان راوړئ چې ما نازل کړی، له تاسو سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی او لومړي انکار کوونکي ئې مه کېږئ او زما آیتونه په لږه بیع مه پلورئ او یوازې له ما ځان ساتنه او وېره ولرئ. 42- او حق له باطل سره مه خلطوئ، او حق مه پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ. 43- او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ. 44- آیا خلك په ښېګڼو ګمارئ او خپل ځان هېروئ، په داسې حال کې چې تاسو کتاب لولئ! آیا تعقل نه کوئ؟ 45- او په صبر او لمانځه سره مرسته ترلاسه کړئ او دا خو یقیناً چې ګران او ستر کار دئ مګر خاشعینو ته. 46- هغه (خاشعین) چې ګمان کوي له خپل رب سره مخامخېدونکي دي او هرومرو د ده په لوري ورګرځېدونکي دي. 47- اې بني اسرائیلو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او تاسو ته مو پر ټولو نړۍ والو فضیلت درکړ. 48- او له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه یو د بل مجازات په غاړه اخیستی شي، نه د ده په اړه کوم شفاعت قبلېدی شي، نه څه بدله ترې اخیستل کېدی شي او نه ئې مرسته کېدی شي.

وَإِذۡ نَجَّيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ
يُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ
مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ﴿٤٩﴾ وَإِذۡ فَرَقۡنَا بِكُمُ ٱلۡبَحۡرَ فَأَنجَيۡنَٰكُمۡ
وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾ وَإِذۡ وَٰعَدۡنَا مُوسَىٰٓ
أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾
ثُمَّ عَفَوۡنَا عَنكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذۡ
ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿٥٣﴾ وَإِذۡ قَالَ
مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ
ٱلۡعِجۡلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمۡ فَٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ
لَّكُمۡ عِندَ بَارِئِكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ
﴿٥٤﴾ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ
فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿٥٥﴾ ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ
مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٥٦﴾ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡغَمَامَ
وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ
وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٥٧﴾

49- او هغه وخت درپه یاد کړئ چې له فرعونیانو مو وژغورلئ، په بد عذاب ئې تعذیبولئ، ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کې تاسو ته ستاسو د رب له لوري لویه آزموینه وه. 50- او هغه وخت هم چې بحر مو تاسو ته پرانیست، نو تاسو مو وژغورلئ او فرعونیان مو په داسې حال کې غرق کړل چې تاسو (ئې) تماشا کوله. 51- او بیا هغه وخت چې موسی ته مو د څلوېښتو شپو وعده ورکړه، بیا تا سو په ظالمانه توګه سخوندر (خپل معبود) ونیو. 52- خو له دې سره سره مو تاسو ته عفو وکړه چې شکر وکړئ. 53- او هغه وخت چې موسی ته مو کتاب او فرقان ورکړ چې هدایت شئ. 54- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! بې شکه چې د سخوندر په نیولو سره تاسو پر خپل ځان ظلم کړی، نو د خپل رب لوري ته مخه او توبه وکړئ او (مشرك شوي ) خپلوان مو ووژنئ، دا د خپل رب په نزد کې درته غوره دئ، ستاسو توبه به قبوله کړي، بې شکه چې هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ. 55- او کله چې تا سو وویل: اې موسی! هیڅکله به درته ایمان رانه وړو ترڅو الله څرګند ونه ګورو، نو په داسې حال کې تندر ونیولئ چې (ورته) کتل مو. 56- بیا مو له مرګه وروسته بېرته راژوندي کړئ چې شکر وکړئ. 57_ او د ورېځو مو پر تاسو سیوری جوړ کړ او پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل، له هغو پاکیزه وو چې درروزي کړي مو دي وخورئ، پر موږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کاوو.

وَإِذۡ قُلۡنَا ٱدۡخُلُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ فَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ رَغَدٗا
وَٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُولُواْ حِطَّةٞ نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطَٰيَٰكُمۡۚ
وَسَنَزِيدُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٨ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي
قِيلَ لَهُمۡ فَأَنزَلۡنَا عَلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ
يَفۡسُقُونَ ٥٩ ۞وَإِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ فَقُلۡنَا ٱضۡرِب
بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنفَجَرَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ
أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۖ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ مِن رِّزۡقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٦٠ وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصۡبِرَ عَلَىٰ طَعَامٖ
وَٰحِدٖ فَٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُخۡرِجۡ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۢ بَقۡلِهَا
وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَاۖ قَالَ أَتَسۡتَبۡدِلُونَ ٱلَّذِي هُوَ
أَدۡنَىٰ بِٱلَّذِي هُوَ خَيۡرٌۚ ٱهۡبِطُواْ مِصۡرٗا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلۡتُمۡۗ
وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِۗ
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ
ٱلۡحَقِّۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٦١

58- او هغه وخت چي ومو ویل: دې کلي ته ننوځئ، نو له هرځایه ئې
چي غواړئ پرېمانه او تازه تازه وخورئ او له سجدې سره په دروازې
ننوځئ او وایئ: رېژونه (د گناهونو)، چي خطاگانی مو دروبخښم او
ژر به ئې نېکانو ته زیات کړم. 59- خو د دوی ظالمانو د هغي وینا په
عوض کي چي ورته ویل شوې وه بله وینا خپله کړه، نو په ظلم کوونکو
مو له دې کبله له آسمانه د اضطراب عذاب نازل کړ چي فسق ئې
کاوو. 60- او کله چي موسی د خپل قوم لپاره د څړوبه کېدو غوښتنه
وکړه، نو (ورته) ومو ویل: دا تیږه په خپلي عصا ووهه، نو په دې سره
له هغې دولس چینې راوخوټېدې، هري ډلي خپل اوبه خور وپېژندو،
د الله له رزق وخورئ او وڅښئ او په زمکي کي فساد کوونکی مه گرځئ.
61- او هغه وخت چي تاسو وویل: اې موسی! په یوه رنگ خوراك
هیڅکله صبر نه شو کولی!! نو خپل رب ته دي زموږ لپاره دعاء وکړه
چي موږ ته هغه څه راوباسي چي زمکه ئې راشنه کوي: له ساگ سابه
ئې، تره او بادرنگ ئې، غنم ئې، نسك ئې او پیاز ئې، وئې ویل: آیا د
هغه څه په عوض کي چي غوره دئ هغه څه غواړئ چي راټیټ او
ناغوره دئ؟ کوم ښار ته کوز شئ، چي هلته هغه څه ترلاسه کړئ چي
تاسو ئې غوښتنه وکړه، نو سپکاوی او خواري وربانديي وتپل شوه او د
الله په غضب اخته شول، دا له دې امله چي د الله له آیتونو ئې انکار
کولو او پیغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چي عصیان
ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ
ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ
رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا
مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم
بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ
بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ
ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْاْ مِنكُمْ فِى
ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾ فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا
لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾ وَإِذْ قَالَ
مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُواْ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓاْ
أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ
﴿٦٧﴾ قَالُواْ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا
بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَٱفْعَلُواْ مَا
تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾ قَالُواْ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُۥ
يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾

62- بېشکه هغه چې ایمان ئې راوړی او هغه چې یهودان شوي
او نصاری او صابئین، (که هرڅوك وي) چې پر الله او د آخرت پر
ورځې ایمان راوړي او نېك عملونه وکړي، نو دوی ته د خپل رب
په خوا کې اجرونه دي، نه په دوی څه وېره شته او نه به دوی
غمجن شي. 63- او کله چې مو ستاسو ژمنه واخیسته او طور مو
ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ویل: ) هغه څه په ښه زور
سره کلك ونیسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه څه تل په یاد
وساتئ چې په دې کې (راغلی) دئ، ترڅو مو ځان ساتلی وي. 64-
خو بیا تاسو له دې وروسته مخ واړاوو، خو که پر تاسو د الله فضل
او پېرزوینه نه وی نو له زیانمنو به شوي وئ. 65- او خپل هغه
خلك مو هم ښه پېژندلي چې د شنبې په ورځ ئې تېری وکړ نو موږ
ورته وویل: ذلیلې بیزوګانې شئ. 66- نو دا (پېښه) مو تر دې
وړاندینیو او وروستنیو ته د عبرت وسیله او متقیانو ته موعظه
کړه. 67- او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: الله درته امر کوي
چې یوه غوا ذبح کړئ، وئې ویل: آیا په موږ ملنډې وهې؟ وئې
ویل: الله ته له دې پناه وړم چې له جاهلانو وم. 68- وئې ویل:
خپل رب ته زموږ لپاره دعاء وکړه چې موږ ته ئې څرګنده کړي
چې دا څه دئ؟ وئې ویل: هغه فرمایي: دا داسې غوا ده چې نه
زړه ده، نه وړه، ځوانه د دې ترمنځ، نو په څه چې ګمارل شوي
یئ هغه ترسره کړئ. 69- وئې ویل: خپل رب ته زموږ لپاره دعاء
وکړه چې موږ ته ئې څرګنده کړي چې رنګ ئې څنګه دئ؟ وئې
ویل: هغه فرمایي: دا داسې تکه زیړه غوا ده چې لیدونکې ښادوي.

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا وَإِنَّآ إِن
شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ٧٠ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ
ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ
بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ٧١ وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ
فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ٧٢ فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ
كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٧٣
ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلۡحِجَارَةِ أَوۡ أَشَدُّ قَسۡوَةٗۚ
وَإِنَّ مِنَ ٱلۡحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنۡهُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَشَّقَّقُ
فَيَخۡرُجُ مِنۡهُ ٱلۡمَآءُۚ وَإِنَّ مِنۡهَا لَمَا يَهۡبِطُ مِنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ
بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٧٤ ۞أَفَتَطۡمَعُونَ أَن يُؤۡمِنُواْ لَكُمۡ وَقَدۡ كَانَ
فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ
وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥ وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا
بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ قَالُوٓاْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ
لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٧٦

70- وئې ويل: خپل رب ته زموږ لپاره دعاء وکړه چې موږ ته ئې څرګنده کړي چې دا څه ده، موږ خو دې غوا په شك كې اچولي يو او كه الله كول موږ به حتماً هدايت موندونكي شو. 71- وئې ويل: هغه فرمايي: دا داسي غوا ده چې نه خوارکۍ ده چې زمکه يوې کوي او نه کښت خړوبه كوي، روغه رمتيه چې هيڅ ټاپې په كې نشته، وئې ويل: اوس دې سمه ( د حق) خبره راوړه، نو هغه ئې په داسي حال كې ذبح كړه چې نژدې وو وئې نه كړي. 72- او كله چې تاسو يو كس ووژلو او بيا د ده په اړه په اختلاف اخته شوئ او الله د هغه څه رابرسېره كوونكى وو چې تاسو پټولو. 73- نو ومو ويل: هغه ئې په يوې برخې ووهئ، همدا راز الله مړي راژوندي كوي او خپلې نښې درښيي چې تعقل وكړئ. 74- بيا له دې وروسته ستاسو زړونه سخت شول، داسي لكه چې تيږي وي او تر دې هم ډېر سخت او له تيږو خو ځيني داسي دي چې ويالې ترې بهيږي او ځيني داسي چې ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي او ځيني ئې داسي چې د الله له وېرې راپرېوځي او الله له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې كوئ. 75- آيا دا طمع لرئ چې دوى به ايمان درته راوړي، حال دا چې د دوى يوه ډله د الله كلام اوري خو د هغه په مطلب له پوهېدو وروسته ئې تحريفوي په داسي حال كې چې پوهيږي. 76- او كله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړى او كله چې په خپلو كې سره ګوښه شي وايي: آيا هغه خبري ورته كوئ چې الله تاسو ته پرانيستې، تر څو د خپل رب په وړاندې مو پرې پړ كړي، آيا تعقل نه كوئ؟

أَوَ لَا يَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٧
وَمِنۡهُمۡ أُمِّيُّونَ لَا يَعۡلَمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا
يَظُنُّونَ ٧٨ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ
يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ
لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩ وَقَالُواْ
لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَةٗۚ قُلۡ أَتَّخَذۡتُمۡ عِندَ ٱللَّهِ
عَهۡدٗا فَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ عَهۡدَهُۥٓۖ أَمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ٨٠ بَلَىٰۚ مَن كَسَبَ سَيِّئَةٗ وَأَحَٰطَتۡ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ
فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٨١ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ٨٢ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ لَا تَعۡبُدُونَ إِلَّا
ٱللَّهَ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَانٗا وَذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ
وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنٗا وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ
تَوَلَّيۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنكُمۡ وَأَنتُم مُّعۡرِضُونَ ٨٣

77- آیا په دې نه پوهېږي چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې
دوی ئې پټوي یا ئې ښکاره کوي؟ 78- او د دوی ځیني امي
(نالوستي) دي، له څه هیلو پرته نور په کتاب نه پوهېږي او دوی
نه دي مګر ګمان کوونکي. 79- افسوس د هغو په حال چې کتاب
په خپل لاس لیکي بیا وایي: دا د الله له لوري دئ، ترڅو ناڅیزه بیع
پرې ترلاسه کړي، افسوس د دوی د لاسونو پر لیکني او افسوس په
هغه څه چې دوی ئې ترلاسه کوي. 80- او وئې ویل: اور نشي
رارسېدی مګر د څو ورځو لپاره، ووایه: آیا له الله مو کومه داسي
ژمنه ترلاسه کړې چې الله هیڅکله له خپلي دې ژمني؛ نه په شا
کېږي او یا د الله په اړه هغه څه وایئ چې نه ورباندي پوهېږئ؟
81- داسي نه ده بلکي هرڅوك چې بده کړنه وکړي او خپلي
خطاګاني ئې رااحاطه کړي، نو دوی دوزخیان دي چې په هغه کې
به تلپاته وي. 82- او هغه چې ایمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې
وکړل، دوی جنتیان دي چې په هغه کې به تلپاته وي. 83- او کله
چې مو د بني اسرائیلو دا ژمنه ترلاسه کړه چې له الله پرته به د بل
څه عبادت نه کوئ او له مور پلار سره او له خپلوانو، یتیمانو او
مسکینانو سره به احسان کوئ او خلکو ته به په ښه توګه وینا
کوئ او لمونځ به اداء کوئ او زکات به ورکوئ، بیا ستاسو له لږو
کسانو پرته، تاسو ټولو شا کړه په داسي حال کې چې ډډه کوونکي
وئ.

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ لَا تَسۡفِكُونَ دِمَآءَكُمۡ وَلَا تُخۡرِجُونَ
أَنفُسَكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ ثُمَّ أَقۡرَرۡتُمۡ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ أَنتُمۡ
هَٰٓؤُلَآءِ تَقۡتُلُونَ أَنفُسَكُمۡ وَتُخۡرِجُونَ فَرِيقٗا مِّنكُم مِّن
دِيَٰرِهِمۡ تَظَٰهَرُونَ عَلَيۡهِم بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَإِن يَأۡتُوكُمۡ أُسَٰرَىٰ
تُفَٰدُوهُمۡ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيۡكُمۡ إِخۡرَاجُهُمۡۚ أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ
ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ
إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ
ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ
ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ
يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَقَفَّيۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ
بِٱلرُّسُلِۖ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ
ٱلۡقُدُسِۗ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ
ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ فَفَرِيقٗا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا
غُلۡفُۢۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَقَلِيلٗا مَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾

84- او کله چي مو ستاسو دا ژمنه ترلاسه کړه چي يو د بلويني به نه تویوئ او یو به بل له خپل کور کلي نه باسئ، بیا مو اقرار وکړ په داسي حال کي چي شاهد وئ. 85- بیا تاسو همغه یئ چي یو بل وژنئ او خپله یوه ډله له خپل کور کلي باسئ، د دوی په ضد په گناه او تېري کي (د تېري کوونکو) مرسته کوئ او که د اسیرانو په توگه درته راشي نو فدیه ئې ورکوئ، حال دا چي د دوی ایستل دربانديي حرام دي، آیا د کتاب په یوې برخي ایمان راوړئ او په بلي برخي ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو چي هرڅوك دا کار وکړي، نو سزا ئې په دنیا کي له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قیامت په ورځ به د شدید عذاب په لور گرځول کېږي او الله له هغه څه چي تاسو ئې کوئ غافل نه دئ. 86- دا همغه خلك دي چي دنیوي ژوند ئې د آخرت په بیع وپېرو، نو نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به ئې مرسته وشي. 87- او یقیناً چي موږ موسی ته کتاب ورکړ او تر ده وروسته مو نور پیغمبران ورپسې کړل او عیسی د مریمې زوی ته مو هغه ښرگندي نښي ورکړې او په روح القدس سره مو د ده ملاتړ وکړ، نو آیا هر کله چي کوم پیغمبر درته هغه څه راوړل چي ستاسو نفسونو نه خوښول، کبر او لویي غوښتنه مو وکړه، نو ځیني مو تکذیب کړل او ځیني وژنئ!! 88- او وئې ویل: زړونه مو په پرده کي دي، نه، داسي نه ده، بلکي الله د دوی د کفر په وجه پر دوی لعنت لیږلی، نو ځکه لږ ایمان راوړي.

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ وَكَانُواْ
مِن قَبۡلُ يَسۡتَفۡتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا
عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئۡسَمَا
ٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡ أَن يَكۡفُرُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغۡيًا أَن
يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ فَبَآءُو
بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٩٠﴾ وَإِذَا قِيلَ
لَهُمۡ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ نُؤۡمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا
وَيَكۡفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَهُمۡۗ قُلۡ
فَلِمَ تَقۡتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبۡلُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩١﴾
*وَلَقَدۡ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذۡتُمُ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ
بَعۡدِهِۦ وَأَنتُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا
فَوۡقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱسۡمَعُواْۖ قَالُواْ
سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا وَأُشۡرِبُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡۚ قُلۡ
بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩٣﴾

89- او کله چې د الله لخوا داسې کتاب ورته راغی چې لدوی سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی وو او دوی تر دې وړاندې پر کافرانو د بریا غوښتنه کوله، خو کله چې همغه څه ورته راغی چې ښه ئې پېژندو، په هغه کافران شول، نو په دې کافرانو دې د الله لعنت وي. 90- څومره بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، په دې چې په باغیانه توګه پر ما انزل الله کافران شول، له دې کبله چې الله ولې له خپلو بندګانو پر هغه چا چې دی ئې غواړي د خپل فضل کوم څه نازلوي، نو د الله په پر له پسې غضب اخته شول او دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب دئ. 91- او کله چې ورته وویل شي: په هغه څه چې الله نازل کړي ایمان راوړئ، وایي: په هغه څه ایمان راوړو چې پر موږ نازل شوی او له دې علاوه په هر څه کافران کېږي، که څه هم هغه حق وي او لدوی سره د شته کتاب تصدیقوونکی، ورته ووایه: نو که تاسو مؤمنان وئ ولې مو تر دې د مخه د الله پیغمبران وژل؟ 92- او په یقین سره چې موسی څرګندې نښې درته راوړې خو له دې وروسته تاسو سخوندر (معبود) ونیو، په داسې حال کې چې ظالمان وئ. 93- او کله چې مو ستاسو ژمنه درنه واخیسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ویل:) په هغه څه منګولې کلکې ولګوئ چې تاسو ته مو درکړی او غوږ شئ، وئې ویل: غوږ شوو خو سرغړونه کوو او د خپل کفر په سبب ئې سخوندر په زړونو کې ننه ایستی شو، ووایه: که تاسو مؤمنان یئ دا ایمان خو مو په ډېرو بدو شیانو ګماري!!

قُلۡ إِن كَانَتۡ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةٗ مِّن
دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن
يَتَمَنَّوۡهُ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٥﴾
وَلَتَجِدَنَّهُمۡ أَحۡرَصَ ٱلنَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٖ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۚ
يَوَدُّ أَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ أَلۡفَ سَنَةٖ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهِۦ مِنَ
ٱلۡعَذَابِ أَن يُعَمَّرَۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾ قُلۡ مَن كَانَ
عَدُوّٗا لِّـجِبۡرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٗا
لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٩٧﴾ مَن كَانَ عَدُوّٗا
لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوّٞ
لِّلۡكَٰفِرِينَ ﴿٩٨﴾ وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ وَمَا يَكۡفُرُ
بِهَآ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَ كُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ
مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٠﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ
عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٠١﴾

94- ورته ووایه: که د الله په خوا کې د آخرت کور؛ له خلکو پرته
یوازې ستاسو لپاره وي نو د مرګ تمنا وکړئ که رښتیني یئ. 95-
او په خپلو لاسونو ئې چې څه وړاندې کړي د هغه له امله به
هیڅکله د مرګ تمنا ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دئ. 96-
او دوی به تر ټولو زیات په ژوند حریص ومومې او له مشرکانو
هم، هر یو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو
همدا د عمر اوږدوالی له عذاب د دوی ژغورونکی نه دئ او الله د
هغه څه ډېر ښه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي. 97- ووایه: څوك
چې د جبریل دښمن وي، نو هغه خو د الله په اذن او حکم سره
ستا پر زړه نازل کړ، له ده د مخکنیو تصدیقوونکی او مؤمنانو ته
لارښود او زېری. 98- څوك چې د الله، د ده د ملائکو، د ده د
پیغمبرانو، د جبریل او میکائیل دښمن وي، نو الله د دغو کافرانو
دښمن دئ. 99- او یقیناً چې تا ته مو څرګندې نښې رانازل کړې،
(هغه چې) له فاسقانو پرته بل څوك ترې انکار نه کوي. 100- او
چې کله هم دوی کومه ژمنه کړې نو یوې ډلې ئې (دا ژمنه لرې)
غورځولې، بلکي اکثر ئې ایمان نه راوړي. 101- او کله چې د الله له
لوري کوم داسې پیغمبر ورغلی چې لدوی سره د شته (کتاب)
تصدیقوونکی وو، نو د اهل کتابو یوې ډلې د الله کتاب داسې شا
ته وغورځاوو لکه (په هیڅ) چې نه پوهېدل.

وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ
سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ
ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا
يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ
فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا
هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا
يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ١٠٢ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَمَثُوبَةٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ
خَيۡرٞۚ لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ١٠٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ
رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرۡنَا وَٱسۡمَعُواْۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٠٤
مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَلَا ٱلۡمُشۡرِكِينَ أَن
يُنَزَّلَ عَلَيۡكُم مِّنۡ خَيۡرٖ مِّن رَّبِّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ
مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ١٠٥

102- او د هغه څه متابعت ئې پېل کړ چې شيطانانو به د سليمان
د پاچاهۍ (په اړه) لوستل، دا په داسې حال کې چې سليمان د کفر
لار نه وه غوره کړې، بلکې په خپله دا شيطانان کافران شوي وو،
خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو:
هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هيچا ته څه
تعليم نه ورکاوو مګر دا چې ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه)
امتحان (لپاره راغلې) يو، نو ته مه کافرکېږه، خو دوی له دې دواړو
هغه څه زده کول چې په هغه سره يو سړی او مېرمنه ئې سره
بېل کړي، دا په داسې حال کې چې په دې سره دوی د الله له اذن پرته
هيچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسې حال کې چې هغه څه ئې زده
کول چې تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله او يقيناً په دې پوه شوي
وو چې هرڅوک دا وپېري نو په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي او يقيناً
چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، کاش پوهېدلی.
103- او که دوی ايمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو د الله له لوري
ثواب ډېر غوره دئ، کاش پوهېدلی. 104- اې مؤمنانو! راعنا (زموږ رعايت
وکړه) مه وايئ او انظرنا (موږ ته نظر وکړه) ووايئ او په غور سره واورئ
او دغو کافرانو ته دردناك عذاب دئ. 105- نه د اهل کتابو کافران او نه
هم مشرکان دا خوښوي چې پر تاسو دي ستاسو د رب له لوري کومه ښېګڼه
رانازله کړی شي، په داسې حال کې چې الله تعالی په خپلې پېرزوينې سره هغه
څوك مختص کوي چې دی ئې غواړي او الله د ستر فضل خاوند دئ.

۞مَا نَنسَخۡ مِنۡ ءَايَةٍ أَوۡ نُنسِهَا نَأۡتِ بِخَيۡرٖ مِّنۡهَآ أَوۡ مِثۡلِهَآۗ أَلَمۡ
تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١٠٦ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ
مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ
وَلَا نَصِيرٍ ١٠٧ أَمۡ تُرِيدُونَ أَن تَسۡـَٔلُواْ رَسُولَكُمۡ كَمَا سُئِلَ
مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ
ٱلسَّبِيلِ ١٠٨ وَدَّ كَثِيرٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعۡدِ
إِيمَٰنِكُمۡ كُفَّارًا حَسَدٗا مِّنۡ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ
لَهُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَٱعۡفُواْ وَٱصۡفَحُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ بِأَمۡرِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٠٩ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَمَا
تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا
تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٠ وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا
أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ١١١ بَلَىٰۚ مَنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَلَهُۥٓ أَجۡرُهُۥ
عِندَ رَبِّهِۦ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١١٢

106- که کوم آیت منسوخ کوو یا ئې (درباندي) هېروو نو یا تر
هغه غوره رالېږو او یا د هغه په څېر، آیا په دې نه پوهېږې چي الله
په هر څه ښه قادر دئ؟ 107- آیا په دې نه پوهېږې چي د آسمانونو
او زمکي واکمني د الله ده او له الله پرته نه کوم مولا لرئ او نه کوم
مرستندوی. 108- آیا غواړئ له خپل پیغمبر همغسي وپوښتئ چي
تر دې د مخه موسی پوښتل شوی وو؟! او څوك چي ایمان په کفر
بدل کړي نو له شکه پرته ئې سمه لار ورکه کړې. 109- د اهل کتابو
ډېری دا خوښوي چي له خپل ایمان وروسته مو بېرته کفر ته
راوګرځوي، د خپل حسد له امله او له هغه وروسته چي حق ورته
څرګند شوی. نو ترې تېر شئ او مخ ترې واړوئ، تر هغه چي الله
خپله پرېکړه وکړي، بې شکه چي الله په هر څه ښه قادر دئ. 110-
او لمونځ اداء کړئ او زکات ورکړئ او له ښېګڼو چي څه هم د ځان
لپاره مخکي لېږئ د الله په خوا کې به ئې بیاموئ، یقیناً چي الله
ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ. 111- او وئې ویل: هیڅکله به جنت
ته داخل نشي مګر هغه چي یا یهودي وي او یا نصراني!! دا (خو
هسي) د دوی هیلي دي، (ورته) ووایه: که رښتیني یئ دلیل مو
راوړئ، 112- نه؛ بلکي خبره دا ده چي څوك الله ته ځان تسلیم کړي
په داسي حال کې چي په خپله نېك وي، نو ده ته د خپل رب خوا کې
خپل اجر دئ او نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي.

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ
لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ
ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١١٣ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ
أَن يُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمۡ أَن
يَدۡخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
عَذَابٌ عَظِيمٞ ١١٤ وَلِلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ فَأَيۡنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ
وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ١١٥ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ
بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ١١٦ بَدِيعُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن
فَيَكُونُ ١١٧ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوۡ تَأۡتِينَآ
ءَايَةٞۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡۘ تَشَٰبَهَتۡ قُلُوبُهُمۡۗ
قَدۡ بَيَّنَّا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ١١٨ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا
وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ١١٩

113- او يهودانو وويل: نصرانيان په هيڅ (سم دين) نه دي، او نصرانيانو وويل: يهودان په هيڅ څه نه دي، په داسي حال کي چي دوی کتاب لولي، همداراز هغو کسانو هم چي نه پوهېږي دوی ته ورته وينا وکړه، نو الله به د قيامت په ورځ د دوی ترمنځ په هغه څه کي قضاوت کوي چي دوی په کي اختلاف کاوو. 114- او تر هغه چا به ستر ظالم څوک وي چي د الله په جوماتونو کي ئې د الله د نوم د يادولو مخنيوی کړی او يا ئې د ورانولو هڅه کړې، دوی خو هغه دي چي نه ښايي ورداخل شي مگر وېرېدونکي، په دنيا کي ورته سپکاوی دئ او په آخرت کي دوی ته ستر عذاب. 115- او دا مشرق او مغرب خو (دواړه) د الله دي، نو چي هري خوا ته مخه کړئ، الله هملته دئ، يقيناً چي الله ښه پوه واسع دئ. 116- او وئې ويل: الله ځانته زوی نيولی!! الله ته پاکي ده، داسي نه ده، بلکي د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي، ټول ده ته منقاد دي. 117- (همغه) د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پيل کوونکی او کله چي د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو هغه وشي. 118- او هغو هم چي نه پوهېږي وويل: الله ولي له موږ سره (مخامخ) خبري نه کوي او ولي کومه څرگنده نښه نه راځي؟! همداراز تر دوی مخکنيو هم د دوی په څېر خبره وکړه، زړونه ئې سره ورته دي، بې شکه چي موږ يقين کوونکو ته دا آيتونه بيان کړي. 119- او بې شکه چي ته مو په حقه سره بشارت ورکوونکی او انذار ورکوونکی لېږلی يې او ته خو د جهنميانو په اړه نه پوښتل کېږې.

وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ
هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ
مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ
ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن يَكۡفُرۡ
بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٢١ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ
ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢٢ وَٱتَّقُواْ
يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا
تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ١٢٣ ۞وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ
بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ
قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤ وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ
وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ
وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ
١٢٥ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ
ٱلثَّمَرَٰتِ مَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُم بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ قَالَ وَمَن كَفَرَ
فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلٗا ثُمَّ أَضۡطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٢٦

120- او نه به یهودان هیڅکله له تا راضي شي او نه نصارا، ترڅو چي د دوی د دین متابعت ونه کړې، ووایه: یوازې د الله لارښوونه ده او که د دوی د هوی او هوس متابعت وکړې له هغه وروسته چي تا ته څه علم درغلی، نو له الله به نه کوم مولا ترلاسه کړې او نه کوم مرستندوی. 121- هغه چي کتاب مو ورکړی او په حقه ئې تلاوت کوي، هغوی به ورباندي ایمان راوړي او څوك چي ترې انکار کوي نو دوی زیانمن دي. 122- اې بني اسرائیلو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چي پر تاسو مي پېرزو کړل او تاسو ته مو پر ټولو نړۍ والو فضیلت درکړ. 123- او له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه یو د بل مجازات په غاړه اخیستی شي، نه څه بدله ترې منل کېږي، نه کوم شفاعت ورته ګټه رسولی شي او نه ئې مرسته کېدی شي. 124- او کله چي خپل رب ئې ابراهیم په څو خبرو وآزمویلو، کومي چي هغه بشپړي کړې، وئې فرمایل: زه خو له تا د خلکو لپاره د یو امام جوړونکی یم، وئې ویل: او زما له اولاد هم، وئې فرمایل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي. 125- او کله چي مو دا (د کعبې) کور د خلکو لپاره د غونډېدو ځای او د امن سبب وګرځاوو او (ومو ویل:) د ابراهیم د درېدو ځای، د لمانځه ځای وګرځوئ او ابراهیم او اسمعیل ته مو دا حکم ولېږو چي زما کور د طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو او رکوع سجده کوونکو لپاره پاك کړئ. 126- او کله چي ابراهیم وویل: اې زما ربه! دا یو خوندي ښار وګرځوه او هغو اوسېدونکو ته ئې روزي ورکړه چي پر الله او آخرت ئې ایمان راوړ، وئې فرمایل: او څوك چي کافر شو نو لږ به ئې برخمن کړم، بیا به ئې د اور عذاب ته اړ کړم او څومره بد دئ دا ورګرځېدو ځای.

وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ
إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧ رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِن
ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةٗ مُّسۡلِمَةٗ لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٢٨ رَبَّنَا وَٱبۡعَثۡ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ
ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيهِمۡۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ١٢٩ وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ
وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٣٠
إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٣١ وَوَصَّىٰ
بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ يَٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ
فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ١٣٢ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ
يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ
إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗا
وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٣ تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ
وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٣٤

127- او کله چي ابراهيم او اسمعيل د دې کور بنسټونه جګول، (او
ويل ئې:) اې زموږ ربه! له موږ ئې قبول کړه، بې شکه چي ته ښه پوه
اورېدونکی يې. 128- اې زموږ ربه! موږ دواړه درته منقاد او تابع
وګرځوه او له اولاد مو تا ته يو منقاد امت او موږ ته زموږ ديني مناسك
راوښيه او توبه مو قبوله کړه، يقيناً چي ته ډېر مهربان توبه قبلوونکی
يې. 129- اې زموږ ربه! په دوی کي په خپله لدوی داسي پيغمبر مبعوث
کړه چي ستا آيتونه پرې لولي، کتاب او حکمت ورښيي او روزنه ئې
کوي، بېشکه چي همدا ته باحکمت عزتمن يې. 130- له هغه چا پرته
چي خپل ځان ئې تحميق کړی وي بل به څوك د ابراهيم له دين مخ
واړوي، په داسي حال کي چي هغه مو په دنيا کي غوره کړ او په آخرت
کي به هغه له صالحينو وي. 131- هغه وخت چي خپل رب ورته وويل:
تابع او تسليم اوسه، وئې ويل: د عالمونو رب ته (لاد مخه) تسليم يم.
132- او په دې باندي هم ابراهيم خپلو زامنو ته وصيت کړی وو او
هم يعقوب؛ چي اې زما زامنو! الله تاسو ته دا دين غوره کړی، نو مه
مرئ مګر په داسي حال کي چي مسلمان وئ. 133- آيا هغه وخت تاسو
حاضر وئ چي يعقوب ته مرګ رانژدې شو، هغه وخت چي ده خپلو
زامنو ته وويل: تر ما وروسته به د څه عبادت کوئ؟ وئې ويل: ستا د
معبود او ستا د پلار نيکه، ابراهيم، اسمعيل او اسحاق معبود، هغه
يوازينی معبود او موږ ورته تسليم شوي يو. 134- دا خو يوه ډله ده
چي تېره شوې، دوی ته به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله
لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو نه پوښتل کېږئ.

وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰ تَهۡتَدُواْۗ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِـۧمَ حَنِيفٗاۖ
وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٣٥ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ
أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ
أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ
أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٦ فَإِنۡ ءَامَنُواْ بِمِثۡلِ مَآ ءَامَنتُم
بِهِۦ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا هُمۡ فِي شِقَاقٖۖ فَسَيَكۡفِيكَهُمُ
ٱللَّهُۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣٧ صِبۡغَةَ ٱللَّهِ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ
صِبۡغَةٗۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ١٣٨ قُلۡ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا
وَرَبُّكُمۡ وَلَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُخۡلِصُونَ ١٣٩
أَمۡ تَقُولُونَ إِنَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطَ
كَانُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ قُلۡ ءَأَنتُمۡ أَعۡلَمُ أَمِ ٱللَّهُۗ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن
كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٠
تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا
تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤١

135- او وئې ويل: يا يهودي شئ يا نصراني چي سمه لار ومومئ! ورته
ووايه: نه بلكي د ابراهيم دين چي حنيف وو او له مشركانو؛ نه وو. 136-
ووايئ: پر الله مو ايمان راوړی او په هغه څه چي موږ ته نازل كړی شوي او
ابراهيم، اسمعيل، اسحاق، يعقوب او اولاد ته ئې نازل كړی شوي او په هغه
څه چي موسی او عيسی ته وركړی شوي او په هغه چي نورو ټولو پيغمبرانو
ته د خپل رب له لوري وركړی شوي، د دوی په هيڅ يوه كي هم فرق نه كوو
او موږ هغه ته منقاد او تسليم يو. 137- نو كه ئې همغسي ايمان راوړ چي
تاسو ورباندي ايمان راوړی نو هدايت شوي به وي او كه ئې مخ واړاوو نو
دوی به په داسي اختلاف كي (پرېوتي) وي چي الله به حتماً د دوی (د
مخالفت) په مقابل كي تا ته كفايت وكړي او هغه خو ښه پوه اورېدونكی
دئ. 138- (همدا راز ووايئ: ) الهي رنگ (مو غوره كړی) او تر الله به ښوك
په رنگ كي غوره وي او موږ د ده عبادت كوونكي يو. 139- ورته ووايه: آيا
له موږ سره د الله په اړه شخړه كوئ؟! په داسي حال كي چي هغه هم زموږ
رب دئ او هم ستاسو رب او موږ ته به خپل عملونه وي او تاسو ته خپل
عملونه او موږ هغه ته مخلص يو. 140- آيا تاسو دا وايئ چي ابراهيم،
اسمعيل، اسحاق او يعقوب او اولاده ئې يهودان او نصرانيان وو؟! ورته
ووايه: تاسو ښه پوهېږئ او كه الله؟ او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چي
له ځان سره كوم الهي شهادت پټ كړي؟ او الله خو له هغه څه چي تاسو
ئې كوئ غافل نه دئ. 141- دا خو يوه ډله وه چي تېره شوه، دوی ته به
خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له
كړنو نه پوښتل كېږئ.

۞سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ عَن قِبۡلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ
عَلَيۡهَاۚ قُل لِّلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ
مُّسۡتَقِيمٖ ١٤٢ وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ
عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا
ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن
يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ وَإِن كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۗ
وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ
١٤٣ قَدۡ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبۡلَةٗ تَرۡضَىٰهَاۚ
فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ
وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ
ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ ١٤٤ وَلَئِنۡ أَتَيۡتَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٖ مَّا تَبِعُواْ قِبۡلَتَكَۚ وَمَآ أَنتَ بِتَابِعٖ
قِبۡلَتَهُمۡۚ وَمَا بَعۡضُهُم بِتَابِعٖ قِبۡلَةَ بَعۡضٖۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم
مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ إِنَّكَ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٥

142- ژر ده چي د خلكو ناپوهان به ووايي: څه شي له خپلې هغې قبلې واړول چي پرې (معتقد) وو، ورته ووايه: ختيځ او لوېديځ (دواړه) د الله دي، هغه څوك مستقيمي لاري ته هدايت كوي چي دى ئې په خپله وغواړي. 143- او همداراز مو تاسو غوره امت وگرځولئ، چي تاسو پرخلكو شاهدان وئ او پيغمبر پرتاسو شاهد وي. او ستا مخكنۍ قبله مو له دې پرته د بل څه لپاره نه وه گرځولې چي معلومه كړو څوك د پيغمبر متابعت كوي او څوك په خپلو پوندو بېرته گرځي. او دا خو يقيناً گران كار دئ مگر هغو ته چي الله هدايت كړي وي او الله داسي نه دئ چي ستاسو ايمان ضائع كړي، يقيناً چي الله پر خلكو ډېر مهربان رؤف دئ. 144- موږ د آسمان لوري ته ستا د مخ اړول رااړول وينو، نو هرو مرو به دي هغي قبلې ته مخامخ كړو چي ته ئې خوښوې، نو مخ دي د مسجد الحرام په لوري وگرځوه او چي هر ځاى وئ د هغې په لوري مخ كړئ او بې شكه چي اهل كتاب په دې ښه پوهېږي چي دا د دوى د رب لخوا يو حقيقت دئ او الله له هغه څه غافل نه دئ چي دوى ئې كوي. 145- او كه ته اهل كتابو ته هر دليل راوړې، ستا د قبلې متابعت نه كوي او ته هم د دوى د قبلې متابعت كوونكى نه يې او دوى هم يو د بل د قبلې متابعت كوونكي نه دي او كه له هغه وروسته چي علم دركړى شو، تا د دوى د هوى او هوس متابعت وكړ، نو ته به يقيناً چي له ظالمانو وې.

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ
فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا
تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١٤٧ وَلِكُلّٖ وِجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَاۖ فَٱسۡتَبِقُواْ
ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨ وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ
ٱلۡحَرَامِۖ وَإِنَّهُۥ لَلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٩
وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ وَحَيۡثُ
مَا كُنتُمۡ فَوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ شَطۡرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيۡكُمۡ
حُجَّةٌ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِي وَلِأُتِمَّ
نِعۡمَتِي عَلَيۡكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٠ كَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِيكُمۡ رَسُولٗا
مِّنكُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِنَا وَيُزَكِّيكُمۡ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ
وَٱلۡحِكۡمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ١٥١ فَٱذۡكُرُونِيٓ
أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٣

146- هغه کسان چي کتاب ورکړی شوی، داسي ئې پېژني لکه خپل زامن چي پېژني، خو د دوی یوه ډله حق په داسي حال کي پټوي چي ( ښه ورباندي) پوهېږي. 147- حق همغه دئ چي ستا د رب له لوري دئ، نو له شك كوونكو مه كېږه. 148- او هر چا ته (د مخ کولو) یوه قبله ده چي هغه ئې پالي، نو تاسو په ښېګڼو کي یو له بل د وړاندي کېدو هڅه وکړئ، چي هرځای وئ الله به تاسو ټول راغونډ کړي، بې شکه چي الله په هر څه قادر دئ. 149- او چي له هره ځایه (د لمانځه لپاره) راووځې نو مخ دي د مسجدالحرام په لوري وګرځوه او یقیناً چي دا ستا د رب له لوري یو حقیقت دئ او الله له هغه څه غافل نه دئ چي تاسو ئې کوئ. 150- او له هره ځایه چي ووځې نو مخ دي د مسجدالحرام په لوري وګرځوه او چي هر ځای وئ نو مخ مو د هغه په لوري وګرځوئ، ترڅو خلکو ته ستاسو په خلاف هيڅ اعتراض (پاته) نه وي، مګر ظالمانو ته ئې، نو لدوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ او د دې لپاره چي خپله پېرزوينه په تاسو باندي بشپړه کړم او د دې لپاره چي تاسو هدايت شئ. 151- همداسي لکه چي په تاسو کي مو ستاسو له منځه داسي پیغمبر درولېږو چي زما آیتونه درباندي لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او کتاب درښيي او هغه څه درښيي چي نه ورباندي پوهېدئ. 152- نو ما یاد کړئ چي یاد مو کړم او ما ته شکر وباسئ او ناشکري مي مه کوئ. 153- اې مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته ترلاسه کړئ، یقیناً چي الله له صبر کوونکو سره دئ.

وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا
تَشۡعُرُونَ ١٥٤ وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ
ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥ ٱلَّذِينَ إِذَآ
أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ
صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧ ۞إِنَّ ٱلصَّفَا
وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ
عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ ١٥٨
إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا
بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ
ٱللَّٰعِنُونَ ١٥٩ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ
عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ
كُفَّارٌ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةُ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٦١
خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ١٦٢
وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٣

154- او هغو ته مړه مه وایئ چي د الله په لار کي وژل کیږي، بلکي ژوندي دي خو تاسو نه پوهیږئ. 155- هرومرو به تاسو په څه وېري، لوږي او د مال، ځان او مېوو( د حاصلاتو) په کمښت او تاوان وآزمويو، نو صابرانو ته زېرى وركړه. 156- هغو ته چي كله مصيبت وروررسيږي وايي: موږ د الله يو او د ده په لوري ورتلونكي. 157- دا هغه ډله ده چي د خپل رب له لوري ورباندي صلوات (درودونه) او رحمتونه دي او همدا دوى هدايت موندونكي دي. 158- يقيناً چي صفا او مروه له الهي شعائرو او نښو دي، نو څوك چي د بيت (الله) حج وكړي او يا عمره ترسره كړي نو څه گناه ورباندي نشته چي د دوى طواف وكړي او چا چي په خپله خوښه د خير كوم كار وكړ نو الله ښه پوه شاكر دئ. 159- له ځرگندو آيتونو او لارښووني چي موږ كوم څه نازل كړي، څوك چي دا پټوي، وروسته له هغه چي موږ خلكو ته په كتاب كي بيان كړي، نو يقيناً چي په دغو كسانو هم الله لعنت وايي او هم هر لعنت ويونكى پرې لعنت وايي. 160- مگر هغه چي توبه او رجوع ئې وكړه او خپل كړه ئې اصلاح كړل او بيان ئې كړ، نو د دوى توبه به قبوله كړم او زه خو يقيناً چي ډېر مهربان توبه قبلوونكى يم. 161- بې شكه هغه چي كافران شول او په داسي حال كي مړه شول چي كافران ول، پر دوى د الله، د ملائكو او ټولو خلكو لعنت دئ. 162- تلپاته په هغه كي، نه به عذاب ترې سپك كړى شي او نه به مهلت وركړى شي. 163- او ستاسو معبود يوازينى معبود دئ، له ده پرته بل معبود نشته، هماغه ډېر مهربان رحم كوونكى.

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلۡفُلۡكِ
ٱلَّتِي تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مِن مَّآءٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖ
وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلۡمُسَخَّرِ بَيۡنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ١٦٤ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ
أَندَادٗا يُحِبُّونَهُمۡ كَحُبِّ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ وَلَوۡ
يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِذۡ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ أَنَّ ٱلۡقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعٗا وَأَنَّ
ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعَذَابِ ١٦٥ إِذۡ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ
وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ وَتَقَطَّعَتۡ بِهِمُ ٱلۡأَسۡبَابُ ١٦٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُواْ
لَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ فَنَتَبَرَّأَ مِنۡهُمۡ كَمَا تَبَرَّءُواْ مِنَّاۗ كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ
أَعۡمَٰلَهُمۡ حَسَرَٰتٍ عَلَيۡهِمۡۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ ٱلنَّارِ ١٦٧
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَلَا تَتَّبِعُواْ
خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ١٦٨ إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم
بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ١٦٩

164- يقيناً چي د آسمانونو او زمکي په پيدايښت کي او د شپې او ورځي يوه په بلي پسي راتلو کي او په هغو بېړيو کي چي په بحر کي درومي، له هغه څه سره چي خلکو ته ئې گټه رسي او په هغو اوبو کي چي الله له آسمانه نازل کړې، چي په هغه سره ئې زمکه له خپلي مړيني وروسته بيا راژوندۍ کړې او په هغې کي ئې ډول ډول خوځېدونکي خواره کړي او د بادونو په گرځولو راگرځولو او د آسمان او زمکي ترمنځ په دې مسخر شوو ورېځو کي، هرومرو عقلمنو ته ښکاره نښي دي. 165- او له خلکو ځيني له الله پرته داسي سيالان نيسي چي له الله سره د ميني په څېر ورسره مينه کوي او هغه خلك چي ايمان ئې راوړی؛ د الله په ميني کي تر ټولو شديد دي. او کاش ظالمان په هغه څه پوه شي چي د عذاب د ليدو په وخت کي ئې په خپلو سترگو گوري چي يقيناً ځواك ټول د الله دئ او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. 166- هغه وخت چي متبوعان (پيشوايان) به له خپلو تابعانو (پلويانو) بې زاره وي او عذاب به وگوري او ټولي اړيکي به ئې وشلېږي. 167- او هغه چي متابعت ئې کولو وبه وايي: کاش (دنيا ته) بېرته گرځېدل مو (په برخه شوی) وی، ترڅو لدوی داسي بې زاره شو لکه چي دوی له موږ بې زاره شوي، همداسي به الله دوی ته خپل عملونه په خپل ځان د حسرتونو په بڼه کي وښيي او له اور به وتونکي نه وي. 168- اې خلکو! په زمکي کي شته حلال او پاکيزه شيان وخورئ او د شيطان په پلونو پسي مه ځئ، بې شکه چي هغه ستاسو ښکاره دښمن دئ. 169- يقيني چي هغه تاسو يوازي په کرکجنو کارونو گماري او په دې چي د الله په اړه هغه څه ووايئ چي نه ورباندي پوهېږئ.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَآ أَلۡفَيۡنَا
عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ
١٧٠ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ كَمَثَلِ ٱلَّذِي يَنۡعِقُ بِمَا لَا يَسۡمَعُ إِلَّا
دُعَآءٗ وَنِدَآءٗۚ صُمُّۢ بُكۡمٌ عُمۡيٞ فَهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ١٧١ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ إِن
كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١٧٢ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ
ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا
عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٧٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ
يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنٗا
قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ
ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ
أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ
وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ١٧٦

170- او کله چي ورته وويل شو: د هغه څه متابعت وکړئ چي الله نازل کړی، وايي: نه بلکي د هغه څه متابعت کوو چي پلرونه مو ورباندي موندلي، که څه هم د دوی پلرونه داسي وي چي نه په څه پوهېږي او نه په سمه لار روان وي؟! 171- او د کافر شوو مثال هغه چا ته ورته دئ چي ناريِ وهي هغه څه ته چي له چيغي پرته بل څه نه اوري، کاڼه، ګونګيان او ړانده، نو خود به نه پوهېږي. 172- ای مؤمنانو! د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چي موږ درروزي کړی او د الله شکر پر ځای کړئ، که په رښتيا د ده عبادت کوئ. 173- خبره دا ده چي په تاسو مرداره غوښه، وينه، د خنزير غوښه او هغه چي د غيرالله غږ پرې شوی وي (د غيرالله په نامه ذبح شوی وي) حرام کړی شوي، او څوك چي اړ شو، په داسي حال کي چي نه باغي وي او نه تېری کوونکی، نو څه ګناه ورباندي نشته، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ. 174- يقيناً هغه چي د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بدله پرې پېري، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو ګېډو کي نه خوري ( نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبري کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي. 175- دا هماغه دي چي بې لارتيا ئې په هدايت او عذاب ئې په مغفرت وپېرلو، نو څه شي په اور باندي صابر کړل؟! 176- دا له دې امله چي الله دا کتاب په حقه نازل کړی او چا چي په دې کتاب کي اختلاف وکړ، نو دوی په ژور اختلاف کي دي.

۞لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ
وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ
وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ
وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ
وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي
ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ
فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ ٱلۡحُرُّ بِٱلۡحُرِّ وَٱلۡعَبۡدُ بِٱلۡعَبۡدِ وَٱلۡأُنثَىٰ بِٱلۡأُنثَىٰۚ فَمَنۡ عُفِيَ
لَهُۥ مِنۡ أَخِيهِ شَيۡءٞ فَٱتِّبَاعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيۡهِ بِإِحۡسَٰنٖۗ ذَٰلِكَ
تَخۡفِيفٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَرَحۡمَةٞۗ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ١٧٨ وَلَكُمۡ فِي ٱلۡقِصَاصِ حَيَوٰةٞ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ لَعَلَّكُمۡ
تَتَّقُونَ ١٧٩ كُتِبَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ إِن تَرَكَ
خَيۡرًا ٱلۡوَصِيَّةُ لِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ
١٨٠ فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعۡدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثۡمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓۚ
إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١٨١

177- نېکي دا نه ده چي مخونه مو د مشرق او مغرب په لوري وګرځوئ، برعکس نېکي دا ده چي چا په الله، د آخرت په ورځ، په ملائکو، په کتاب او پیغمبرانو ایمان راوړ او په داسي حال کي چي له مال سره ئې مینه هم وه خو هغه ئې خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرانو او سؤالګرو ته ورکړ او د (محکومانو) د آزادولو لپاره (ئې ولګولو)، لمونځ ئې اداء کړ، زکات ئې ورکړ، په خپلو ژمنو وفا کوونکي، هر کله چي ئې ژمنه کړې، په کړاوونو، تاوانونو او د جګړي په دوران کي صبر کوونکي، دغه کسان (په خپل ایمان کي) رښتیني دي او همدا دوی متقیان دي. 178- اې مؤمنانو! د وژل شوو په اړه قصاص درباندي فرض کړی شوی، آزاد په آزاد، مریی په مریي او ښځه په ښځي، خو که چا ته د خپل ورور له لوري څه وبخښل شو، نو په ښه توګه ورپسې کېدل دي او په نېکه وجه ئې ده ته اداء کول، دا ستاسو د رب له لوري تخفیف او پېرزوینه ده، نو چا چي له دې وروسته تېری وکړ، هغه ته دردناك عذاب دئ. 179- او اې عقلمنو! په قصاص کي تاسو ته ژوندون دئ، د دې لپاره چي ځان ساتنه مو کړې وي. 180- کله چي موکوم یوه ته مرګ راوړاندي شي، که څه مال ترشا پرېږدي؛ نو د مور پلار او خپلوانو په اړه په معروفه توګه وصیت پر تاسو فرض کړی شوی، دا پر متقیانو یو لازمي حق دئ. 181- او چا چي له اورېدو وروسته هغه بدل کړ، نو ګناه ئې پر هغو ده چي بدل ئې کړ، بې شکه چي الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

فَمَنْ خَافَ مِن مُّوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ إِثْمَ
عَلَيْهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ١٨٢ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ
عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ١٨٣ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم
مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ
يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ۖ فَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ
لَّهُۥ ۚ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ١٨٤ شَهْرُ
رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَـٰتٍ مِّنَ
ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ ۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَن
كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ
بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا۟ ٱلْعِدَّةَ
وَلِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ١٨٥
وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ
إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ١٨٦

182- نو که څوك د وصيت کوونکي له کوم ظلم یا کومي ګناه ووېرېدو او د دوی ترمنځ ئې روغه جوړه وکړه، نو کومه ګناه پرې نشته، يقيناً چي الله ډېر مهربان بخښونکی دئ. 183- اې مؤمنانو! پر تاسو روژه داسي فرض کړی شوې لکه تر تاسو پر مخکنيو چي فرض کړی شوې وه، تر څو مو ځان ساتنه کړی وي. 184- څو شمېرلې ورځې، خو که ستاسو څوك بيمار وي او يا په سفر لګيا وي، نو بيا ئې د شمېر پوره کول دي له نورو ورځو او پر هغه چا چي په تکليف سره ئې نيولی شي، د يوه مسکين (د ورځني) خوراك فديه ده، نو که څوك په خپله خوښه د خير کار ترسره کړي، دا ورته غوره دئ او که روژه ونيسئ دا درته غوره ده، که وپوهېږئ. 185- د روژې مياشت هغه ده چي په هغې کې قرآن نازل شوی؛ د خلکو لپاره لاربښود، د هدايت څرګندي نښي او فرقان، نو چي څوك دا مياشت بيامومي هغه دي روژه ونيسي او څوك چي بيمار وي او ياپه سفر باندي، نو پر ده له نورو ورځو دغه شمېر پوره کول دي، الله تاسو ته د آسانتيا اراده لري او د سختي اراده درته نه لري، دا د دې لپاره چي شمېر پوره کړئ او د دې لپاره چي الله د هغه څه لپاره په لويي ياد کړئ چي تاسو ئې هدايت کړئ او چي شکر وکړئ. 186- او کله چي زما بندګان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي، نو زه يقيناً نژدې يم، کله چي دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دي ومني او پرما دي ايمان راوړي، تر څو رشد او کمال ته ورسي.

أُحِلَّ لَكُمۡ لَيۡلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمۡۚ هُنَّ لِبَاسٌ
لَّكُمۡ وَأَنتُمۡ لِبَاسٌ لَّهُنَّۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَخۡتَانُونَ
أَنفُسَكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ وَعَفَا عَنكُمۡۖ فَٱلۡـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ
وَٱبۡتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ
ٱلۡخَيۡطُ ٱلۡأَبۡيَضُ مِنَ ٱلۡخَيۡطِ ٱلۡأَسۡوَدِ مِنَ ٱلۡفَجۡرِۖ ثُمَّ أَتِمُّواْ
ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيۡلِۚ وَلَا تُبَٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمۡ عَٰكِفُونَ فِي ٱلۡمَسَٰجِدِۗ
تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقۡرَبُوهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ
لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ١٨٧ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم
بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقًا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ
ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١٨٨ ۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَهِلَّةِۖ قُلۡ
هِيَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلۡحَجِّۗ وَلَيۡسَ ٱلۡبِرُّ بِأَن تَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِن
ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِنۡ أَبۡوَٰبِهَاۚ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٨٩ وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ
يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ١٩٠

187- له خپلو مېرمنو سره د روژې د شپې نژدې والی (جماع) درته حلال کړی شوې، هغوی ستاسو لپاره لباس او تاسو د دوی لپاره لباس یئ، الله په دې پوه شوی چې تاسو له ځان سره خیانت کولو، نو پر تاسو (له خپل رحمت سره) راوګرځېدو او عفو ئې درته وکړه، نو اوس لدوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (د اولاد درلودو هیله) او خورئ او څښئ ترهغه چې د سباوون سپینه کرښه له توري درته څرګنده شي، بیا مو روژه تر شپې پوري پوره کړئ او له هغوی سره په هغه وخت کې مباشرت مه کوئ چې په جوماتونو کې معتکف وئ، دا الهي حدود دي نو هغوی ته مه نژدې کېږئ، همداراز الله خپل آیتونه خلکو ته بیانوي چې ځان وساتي. 188- او مالونه مو په خپلو کې په ناحقه مه خورئ او واکمنانو ته ئې د دې لپاره مه وړاندي کوئ چې د خلکو د مال کوم څه په ناروا وخورئ، په داسي حال کې چې پوهېږئ. 189- د سپوږمۍ رابره کېدو په اړه درنه پوښتنه کوي، ورته ووایه: دا د خلکو لپاره د وختونو او د حج د تعیین وسیله ده او ښېګڼه دا نه ده چې کورونو ته له شا راشئ، بلکې ښېګڼه دا ده چې څوك ځان وساتي، او کورونو ته له دروازو ننوځئ او له الله ووېرېږئ چې بریالي شئ. 190- او د الله په لار کې له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي او تېری او زیاتی مه کوئ، یقیناً چې الله تېری کوونکي نه خوښوي.

وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ
وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ
يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٩١
فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٢ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ
وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩٣
ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ
عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩٤ وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ
بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٩٥
وَأَتِمُّواْ ٱلۡحَجَّ وَٱلۡعُمۡرَةَ لِلَّهِۚ فَإِنۡ أُحۡصِرۡتُمۡ فَمَا ٱسۡتَيۡسَرَ مِنَ ٱلۡهَدۡيِۖ وَلَا
تَحۡلِقُواْ رُءُوسَكُمۡ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡهَدۡيُ مَحِلَّهُۥۚ فَمَن كَانَ مِنكُم
مَّرِيضًا أَوۡ بِهِۦٓ أَذٗى مِّن رَّأۡسِهِۦ فَفِدۡيَةٞ مِّن صِيَامٍ أَوۡ صَدَقَةٍ أَوۡ نُسُكٖۚ
فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلۡعُمۡرَةِ إِلَى ٱلۡحَجِّ فَمَا ٱسۡتَيۡسَرَ مِنَ ٱلۡهَدۡيِۚ
فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖ فِي ٱلۡحَجِّ وَسَبۡعَةٍ إِذَا رَجَعۡتُمۡۗ تِلۡكَ
عَشَرَةٞ كَامِلَةٞۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمۡ يَكُنۡ أَهۡلُهُۥ حَاضِرِي ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۚ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١٩٦

191- او هر ځای چې دوی ومئ وئې وژنئ او له هغه ځایه ئې وباسئ
چې تاسو ئې ترې ایستلي يئ او فتنه تر وژني سخته (لويه گناه) ده او
د مسجدالحرام په خوا کې مه ورسره جنگېږئ، ترهغه چې دوی له تاسو
سره په کې نه وي جنگېدلي، که درسره وجنگېدل، نو وئې وژنئ، د
کافرانو سزا دغسې ده. 192- خو که ئې ډډه وکړه، نو الله مهربان
بخښونکی دئ. 193- او لدوی سره تر هغه وجنگېږئ چې هيڅ فتنه نه
وي (پاتې) او دین ټول الله ته وي، خو که ډډه ئې وکړه، بیا نو له ظالمانو
پرته دې پر بل چا تېری نه کېږي. 194- د حرام (محترمه) میاشت د
محترمې میاشتې په مقابل کې او محترم شیان سره برابر، نو چا چې پر
تاسو تېری وکړ، نو داسې تېری وربانديې وکړئ لکه چې ئې تېری
درباندې کړی او له الله ووېرېږئ او پوه شئ چې الله له متقیانو سره
دئ. 195) او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په
هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنین خوښوي. 196-
او حج او عمره د الله لپاره ترسره کړئ، که مو مخنیوی وشو نو بیا (ئې
فدیه) د قربانۍ هغه څاروی دئ چې میسر وي او خپل سرونه ترهغه
مه خریئ چې دا څاروی د حلالېدو خپل ځای ته ورسي، نو که ستاسو
کوم څوك بیمار وي او یا د سر له کومې برخې ځورېږي، نو بیا فدیه
ده د روژې یا صدقې یا قربانۍ، او بیا کله چې په امن شئ نو که څوك
تر حج پورې له عمرې گټه واخلي نو بیا د قربانۍ هغه څاروی دئ
چې میسر وي، نو که چا ونه موندو نو بیا د حج په ورځو کې درې
ورځې روژه او له راستنېدو وروسته اوه ورځې روژه ده، چې دا پوره
لس ورځې کېږي، دا د هغه چا لپاره ده چې کورنۍ ئې د مسجدالحرام
(د شا و خوا) اوسېدونکې نه وي، او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ
چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ
وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ
ٱللَّهُۗ وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي
ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٧ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن
رَّبِّكُمۡۚ فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ
ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ
ٱلضَّآلِّينَ ١٩٨ ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنۡ حَيۡثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ
ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٩٩ فَإِذَا قَضَيۡتُم مَّنَٰسِكَكُمۡ
فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكۡرِكُمۡ ءَابَآءَكُمۡ أَوۡ أَشَدَّ ذِكۡرٗاۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ
مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ
خَلَٰقٖ ٢٠٠ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي
ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ٢٠١ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ نَصِيبٞ
مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٢٠٢

197- د حج څو معلومي مياشتي دي، نو چا چي په دې کي حج (په ځان) فرض کړ، نو بيا په حج کي نه له مېرمنو سره نژدې والی شته، نه فسق او گناه او نه جدال او شخړي، او د خير هر کار چي وکړئ الله ورباندي پوهېږي او توښه درسره واخلئ چي ښه والی د توښې ځان ساتل دي او له ما ووېرېږئ اې د عقل خاوندانو. 198- په دې کي په تاسو هيڅ گناه نشته چي د خپل رب کوم فضل ولټوئ، نو کله چي له عرفات راکوز شوئ نو د مشعرالحرام خوا ته د الله ذکر وکړئ او همغسي ذکر ئې وکړئ چي تاسو ته ئې درښودلی، يقيناً چي تاسو تر دې وړاندي له لارورکو وئ. 199- بيا له هغه ځايه بېرته راکوز شئ چي خلك ترې راکوزېږي او له الله بخښنه وغواړئ، بې شکه چي الله مهربان بخښونکی دئ. 200- نو کله چي خپل مناسك ترسره کړئ، نو الله داسي ياد کړئ لکه د خپلو پلرونو يادونه مو، يا تر دې هم شديد يادول، له خلکو ځيني داسي دي چي وايي: اې زموږ ربه! موږ ته ئې په دنيا کي راکړه، چي ده ته به په آخرت کي هيڅ برخه نه وي. 201- او د دوی ځيني داسي دي چي وايي: اې زموږ ربه! موږ ته هم په دنيا کي ښېگڼه راپه برخه کړه او هم په آخرت کي ښېگڼه او د اور له عذابه مو وساته. 202- دې ډلي ته به د خپلو لاسته راوړنو خاصه برخه وي او الله ژر محاسبه کوونکی دئ.

۞وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡدُودَٰتٖۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَوۡمَيۡنِ
فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۖ لِمَنِ ٱتَّقَىٰۗ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٢٠٣ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن
يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي
قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ٢٠٤ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ
لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ
٢٠٥ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ
جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ٢٠٦ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ
ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ
إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٠٨ فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ
ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٢٠٩ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ
أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ
وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٢١٠

203- او په (دغو) څو شمېرلو ورځو کې د الله ذکر وکړئ، خو چا
چې تلوار او بیړه وکړه، په دوو ورځو کې، څه ګناه ورباندې نشته
او چا چې ځنډ وکړ؛ په هغه هم څه ګناه نشته، دا د هغه چا لپاره
چې تقوی ئې وکړه او له اللهووېرېږئ او پوه شئ چې د ده لورې
ته به راغونډ کړی شئ. 204- او د خلکو ځینې داسې دي چې د
دنیا په اړه د ده وینا دې حیرانوي او په هغه څه الله شاهد نیسي
چې په زړه کې ئې دي، په داسې حال کې چې دی ترټولو کلك دښمن
دئ. 205- خو کله چې (د چارو) متولي شي نو په زمکه کې د دې
هڅه کوي چې فساد په کې خور کړي او فصل او نسل تباه کړي او
الله خو فساد نه خوښوي. 206- او چې ورته وویل شي: له خدایه
ووېرېږه! عزت النفس ئې ګناه ته وپاروي، نو جهنم ورته کافي دئ
او څومره بد ځاټوبی! 207- او د خلکو ځینې داسې دي چې خپل
نفس د الله د رضاء په لټه کې پلوري او الله په خپلو دغو بندګانو
رءوف دئ. 208- اې مؤمنانو! په اسلام کې په مکمله توګه ننوځئ
او د شیطان په پلونو پسې مه ځئ، هغه خو له شکه پرته ستاسو
څرګند دښمن دئ. 209- خو که له هغه وروسته چې څرګندې
نښې درته راغلې وښویېدئ، نو پوه شئ چې الله باحکمت عزتمن
دئ. 210- آیا له دې پرته د بل څه انتظار کوي چې الله د ورېځو
په سیورې کې ورته راشي او ملائکې هم او د کار ترسره کېدو پرېکړه
وشي، په داسې حال کې چې کارونه ټول الله ته راجع کېږي.

سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ
ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢١١ زُيِّنَ لِلَّذِينَ
كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ
ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢١٢
كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ
وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا
ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَمَا ٱخۡتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا
جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا
ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ
مُّسۡتَقِيمٍ ٢١٣ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ
ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ
يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ
ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤ يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ
فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَا
تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٢١٥

211- بني اسرائيل وپوښته چې څومره څرګندې نښې مو ورکړې؟ او څوك چې د الله نعمت له هغه وروسته بدل کړي چې ورته راشي، نو بې شکه چې الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. 212- کافر شوو ته دنيوی ژوند ښايسته کړی شوی او په هغو پسې ټمسخر کوي چې ايمان ئې راوړی او هغه چې ځان ساتنه ئې وکړه؛ د قيامت په ورځ به تر دوی بر وي او الله چې چا ته وغواړي بې حسابه روزي ورکوي. 213- خلك ټول يو امت او ټولی وو، نو الله زېری ورکوونکي او انذار ورکوونکي پيغمبران ولېږل او لدوی سره ئې حقيقي کتاب راولېږو چې د خلکو ترمنځ په هغه څه کې پرېکړه وکړي چيدوی په کې اختلاف کړی وو او اختلاف خو له هغو پرته بل چا نه وو کړی چې کتاب ورکړی شوی وو او دا هم په خپلو کې د کينې له کبله او وروسته له هغه چې څرګندې نښې ورته راغلې، نو الله په خپل حکم سره هغه کسان په مختلف فيه شيانو کې هدايت کړل چې ايمان ئې راوړی وو او الله چې هرڅوك وغواړي د سمې لارې په لوري ئې هدايت کوي. 214- آيا داسې مو انګېرلې چې جنت ته به داخل شئ حال دا چې لاتراوسه پر تاسو هغو کسانو ته ورته حالت نه دئ راغلی چې ترتاسو مخکې تېر شوي؛ ستونزې او کړاوونه وروراسېدل او ولړزول شول، هومره چې پيغمبر او د ده په خوا کې مؤمنانو به ويل: دالله نصرت او مرسته به کله راځي؟ پام چې د الله مرسته نژدې ده. 215- تا پوښتې چې څه انفاق کړي؟ ووايه: څه چې له غوره (مال) لګوئ، نو هغه دې د مور پلار لپاره، د خپلوانو، مسکينانو، يتيمانو او بې وزلو مسافرانو لپاره وي او هر غوره کار چې وکړئ نو الله ورباندې پوهېږي.

كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ وَهُوَ كُرۡهٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ
شَيۡـٔٗا وَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّواْ شَيۡـٔٗا وَهُوَ شَرّٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ
يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٢١٦ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ قِتَالٖ
فِيهِۖ قُلۡ قِتَالٞ فِيهِ كَبِيرٞۚ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفۡرُۢ بِهِۦ
وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَإِخۡرَاجُ أَهۡلِهِۦ مِنۡهُ أَكۡبَرُ عِندَ ٱللَّهِۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ
أَكۡبَرُ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن
دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَٰعُواْۚ وَمَن يَرۡتَدِدۡ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتۡ
وَهُوَ كَافِرٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ
وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢١٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ
ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢١٨ ۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ
فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ
وَيَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلِ ٱلۡعَفۡوَۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ
ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ٢١٩

216- پر تاسو قتال (جګړه) فرض کړی شوی، په داسي حال کې
چي هغه درته کرکجن برېښي، خو ښايي تاسو به يو څه بد وګڼئ
حال دا چي هغه به ډېر درته غوره وي او ښايي تاسو به له يوه
شي سره مينه وښيئ خو هغه به تاسو ته ډېر بد وي او الله
پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ. 217- په حرامه مياشت کې د جګړي
په اړه تا پوښتي، ووايه: په دې کې جنګ کول ستره ( ګناه) ده،
خو د الله د لاري خنډ کېدل او له هغې انکار او له مسجد الحرام
مخنيوی او اوسېدونکي ئې ترې ايستل، تر دې هم د الله په نزد
کې ستره ده او فتنه تر قتل هم ستره، او تل به له تاسو سره
جنګېږي تر هغه چي تاسو له خپل دين واړوي؛ که وتوانېږي، او
له تاسو چي هرڅوك له خپل دين واوړي او په داسي حال کې
ومري چي کافر وي، نو د دوی عملونه په دنيا او آخرت کې تباه
شول او دوی هغه دوزخيان دي چي په هغه کې به تلپاته وي.
218- بې شکه هغه چي ايمان ئې راوړی او هغه چي هجرت ئې
کړی او د الله په لار کې ئې جهاد کړی، دوی د الله د رحمت او
پېرزوينو طمع لري او الله مهربان بخښونکی دئ. 219- د شراب
او قمار په اړه تا پوښتي، ووايه: په دوی کې ستره ګناه ده او څه
ګټې د خلکو لپاره، خو ګناه ئې تر ګټې ډېره ستره ده، او تا
پوښتي چي څه انفاق کړي؟ ورته ووايه: هماغه زيات ئې، همدا
راز الله تاسو ته دا آيتونه بيانوي چي تفکر وکړئ.

فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡيَتَٰمَىٰۖ قُلۡ إِصۡلَاحٞ لَّهُمۡ خَيۡرٞۖ
وَإِن تُخَالِطُوهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ ٱلۡمُفۡسِدَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِۚ
وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعۡنَتَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٢٠ وَلَا تَنكِحُواْ
ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ
أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ
خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ
يَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ وَٱلۡمَغۡفِرَةِ بِإِذۡنِهِۦۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ
يَتَذَكَّرُونَ ٢٢١ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ
ٱلنِّسَآءَ فِي ٱلۡمَحِيضِ وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطۡهُرۡنَۖ فَإِذَا تَطَهَّرۡنَ
فَأۡتُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ
ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢ نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ
شِئۡتُمۡۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُۗ
وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٢٣ وَلَا تَجۡعَلُواْ ٱللَّهَ عُرۡضَةٗ لِّأَيۡمَٰنِكُمۡ أَن تَبَرُّواْ
وَتَتَّقُواْ وَتُصۡلِحُواْ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٢٤

220- په دنیا او آخرت کې، او د یتیمانو په اړه تا پوښتي، ووایه: د دوی لپاره اصلاحي عمل غوره دئ او که ئې درسره ګډ کړئ نو هغوی مو ورونه دي، الله مفسد له مصلح پېژني او که الله غوښتلی نو حتماً به ئې په کړاو کې اچولي وئ، بې شکه چې الله باحکمت غالب ذات دئ. 221- مشرکې ښځې تر هغه ځان ته مه نکاح کوئ چې ایمان راوړي او باایمانه وینځه تر مشرکې ښځې ډېره غوره ده که څه هم ستاسو خوښه شوې وي او تر هغه مشرکانو ته (څوك) په نکاح مه ورکوئ چې ایمان راوړي او باایمانه مریی تر مشرك ډېر غوره دئ که څه هم ستاسو خوښ شوی وي، دوی خو د اور لوري ته بلنه ورکوي او الله په خپل اذن او حکم سره د جنت او مغفرت لوري ته بلنه ورکوي او خپل آیتونه خلکو ته بیانوي چې پند واخلي. 222- او د حیض په اړه تا پوښتي، ورته ووایه: دا یوه بیماري ده، نو له مېرمنو په حیض کې ډډه وکړئ او تر هغه نژدې والی مه ورسره کوئ چې پاکې شي، خو کله چې پاکې شوې، نو له هغه لوري ورته راتګ وکړئ چې الله درته امر کړی، بې شکه چې الله توبه کوونکې خوښوي او له ځان پاك ساتونکو سره محبت کوي. 223- مېرمني مو ستاسو لپاره یو کرځی دئ، نو چې څنګه مو خوښه وي همغسي خپل کرځي ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندي ولېږئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې له هغه سره مخامخ کېدونکي یئ او مؤمنانو ته (ئې) زېری ورکړه. 224- او الله د خپلو قسمونو لپاره داسي مه په نښه کوئ چې نه به نېکي، نه به تقوی او نه به د خلکو ترمنځ روغه جوړه کوئ او الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا
كَسَبَتۡ قُلُوبُكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٢٥ لِّلَّذِينَ يُؤۡلُونَ مِن
نِّسَآئِهِمۡ تَرَبُّصُ أَرۡبَعَةِ أَشۡهُرٖۖ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٢٦
وَإِنۡ عَزَمُواْ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٢٧ وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ
يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكۡتُمۡنَ مَا خَلَقَ
ٱللَّهُ فِيٓ أَرۡحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤۡمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَبُعُولَتُهُنَّ
أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنۡ أَرَادُوٓاْ إِصۡلَٰحٗاۚ وَلَهُنَّ مِثۡلُ ٱلَّذِي عَلَيۡهِنَّ
بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيۡهِنَّ دَرَجَةٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٢٢٨ ٱلطَّلَٰقُ
مَرَّتَانِۖ فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٖۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن
تَأۡخُذُواْ مِمَّآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ شَيۡـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۖ
فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيمَا ٱفۡتَدَتۡ
بِهِۦۗ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعۡتَدُوهَاۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٢٩ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ
تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥۗ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ
إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۗ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٖ
يَعۡلَمُونَ ٢٣٠

225- الله تاسو په خوشي قسمونو نه نيسي، بلکې په هغو مو نيسي چې ستاسو زړونو ئې قصد کړی وي او الله حليم بخښونکی دئ. 226- هغو ته چې له خپلو مېرمنو سره د نه نژدې والي لوړه کوي، د څلورو مياشتو انتظار کول دي، نو که ئې (په دغې مودې کې) رجوع وکړه، نو الله مهربان بخښونکی دئ. 227- او که ئې د طلاق هوډ وکړ نو الله ښه پوه اورېدونکی دئ. 228- طلاقې شوې ښځې دي د ځان په اړه تر درې واري حيضه انتظار وکړي او د هغه څه پټول ورته روا نه دي چې الله تعالی د دوی په رحم کې پيدا کړی، که په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، په دې (موده) کې، د دوی مېړونه تر هر چا زيات د دې مستحق دي چې دوی بېرته راوگرځوي. که د روغې جوړې اراده ولري. دوی ته په ښه توگه داسې ( حقوق) دي لکه چې پر دوی (د مېړونو) دي، خو د نارينه وو پر دوی يوه خاصه مرتبه ده او الله با حکمته عزتمن دئ. 229- طلاق دوه ځلې وي، نور ئې يا په ښه توگه ساتل دي او يا ئې په ښايسته توگه پرېښودل او دا درته روا نه ده چې دوی ته مو د ورکړو شيانو څه بېرته واخلئ، مگر دا چې دواړه د الهي حدودو له نه ساتلو ووېرېږي، نو که دا وېره مو درلوده چې دوی به الهي حدود ترسره نه کړي، بيا په دې کې په دوی څه گناه نشته چې ښځه څه فديه ورکړي (د طلاق لپاره) همدا الهي حدود دي، نو تېری ترې مه کوئ او چا چې له الهي حدودو تېری وکړ؛ همدا دوی ظالمان دي. 230- نو که ئې بيا طلاق ورکړ، نو تر هغه ورته روا نه ده چې له ده پرته له بل مېړه سره نکاح وکړي، نو که هغه طلاقه کړه، بيا په دوی دواړو څه گناه نشته چې يو بل ته رجوع وکړي، که ئې دا گمان کولو چې الهي حدود پاللی شي، همدا الهي حدود دي؛ هغو وگړو ته ئې بيانوي چې پوهېږي.

وَإِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ
سَرِّحُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖۚ وَلَا تُمۡسِكُوهُنَّ ضِرَارٗا لِّتَعۡتَدُواْۚ وَمَن يَفۡعَلۡ
ذَٰلِكَ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوٗاۚ وَٱذۡكُرُواْ
نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡحِكۡمَةِ
يَعِظُكُم بِهِۦۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٢٣١﴾ وَإِذَا
طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحۡنَ أَزۡوَٰجَهُنَّ
إِذَا تَرَٰضَوۡاْ بَيۡنَهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمۡ يُؤۡمِنُ
بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ ذَٰلِكُمۡ أَزۡكَىٰ لَكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا
تَعۡلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾ ۞وَٱلۡوَٰلِدَٰتُ يُرۡضِعۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ حَوۡلَيۡنِ كَامِلَيۡنِۖ لِمَنۡ أَرَادَ
أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَۚ وَعَلَى ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ لَا
تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦۚ
وَعَلَى ٱلۡوَارِثِ مِثۡلُ ذَٰلِكَۗ فَإِنۡ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٖ مِّنۡهُمَا وَتَشَاوُرٖ
فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۗ وَإِنۡ أَرَدتُّمۡ أَن تَسۡتَرۡضِعُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ فَلَا جُنَاحَ
عَلَيۡكُمۡ إِذَا سَلَّمۡتُم مَّآ ءَاتَيۡتُم بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ
ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٢٣٣﴾

231- او کله چې مېرمنې طلاقې کړئ او دوی د خپل عدت (پای) ته ورسېږي، نو یا ئې په ښه توګه وساتئ او یا ئې په ښه توګه خوشې کړئ او په کړاو کې ئې د دې لپاره مه ساتئ چې تېری وکړئ، او هر څوك چې دا کار وکړي نو یقیناً چې په خپل ځان ئې ظلم کړی او د الله له آیتونو سره ملنډې مه وهئ او د الله هغه نعمت چې پر تاسو ئې پېرزو کړی او له کتاب او حکمت ئې چې څه پر تاسو نازل کړي، په کوم سره چې تاسو ته نصیحت کوي، دا دریاد کړئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې الله په هر څه ښه پوهېږي.

232- او کله چې مو مېرمنو ته طلاق ورکړ او دوی د خپل عدت پای ته ورسېدې، نو دوی له دې مه راګرځوئ چې د خپلي خوښي مېړه سره نکاح وکړي، که په ښه توګه په خپلو کې سره راضي شوي وي، په دې سره ستاسو هغه چا ته پند ورکول کېږي چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري، دا درته غوره او د تزکیې او پاکۍ سبب ده او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

233- او که څوك غواړي چې د تې ورکولو موده دې پوره شي، نو میندې دې خپلو اولادونو ته تر پوره دوو کلونو تی ورکړي او د اولاد په خاوند باندې په مناسب ډول سره د دوی روزي او جامه ده او هیڅوك نشي مکلف کېدی مګر د خپل وس په اندازه، نه به مور د خپل اولاد په سر کړول کېږي او نه هم پلار په خپل اولاد سره او په وارث باندې هم دې ته ورته (حقوق او وجائب دي) او که دواړو په خپله خوښه او رضایت او په خپلو کې په مشوره له تې بېلول وغوښتل نو څه ګناه ورباندې نشته او که مو وغوښتل چې اولاد ته دایې ونیسئ، کومه ګناه درباندې نشته، په دې شرط چې منل شوې اجوره په ښه طریقه وروسپارئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ
أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَعَشۡرٗاۖ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ
فِيمَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٢٣٤
وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا عَرَّضۡتُم بِهِۦ مِنۡ خِطۡبَةِ ٱلنِّسَآءِ أَوۡ
أَكۡنَنتُمۡ فِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ سَتَذۡكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن
لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُواْ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗاۚ وَلَا تَعۡزِمُواْ
عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡكِتَٰبُ أَجَلَهُۥۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ
مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٣٥ لَّا
جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمۡ تَمَسُّوهُنَّ أَوۡ تَفۡرِضُواْ
لَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلۡمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلۡمُقۡتِرِ قَدَرُهُۥ
مَتَٰعَۢا بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٢٣٦ وَإِن طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن
قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدۡ فَرَضۡتُمۡ لَهُنَّ فَرِيضَةٗ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ
إِلَّآ أَن يَعۡفُونَ أَوۡ يَعۡفُوَاْ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ عُقۡدَةُ ٱلنِّكَاحِۚ وَأَن تَعۡفُوٓاْ
أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۚ وَلَا تَنسَوُاْ ٱلۡفَضۡلَ بَيۡنَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ
بَصِيرٌ ٢٣٧

234- او ستاسو کوم څوك چي مري او مېرمني (ترشا ) پرېږدي، دا مېرمني دي تر لس باندي څلورو میاشتو د ځان په اړه انتظار وکړي، نو کله چي د خپلي دغي مودې پای ته ورسېدې، بیا نو په دې کي په تاسو باندي څه گناه نشته چي د ځان په اړه ئې په ښه توگه هرڅه وکړل او الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ. 235- او د دغو ښځو د غوښتلو (او نکاح) په اړه چي تاسو کوم څه (کنایتاً) څرگندوئ یا ئې په خپل زړه کي پټ ساتئ، په دې کي پر تاسو هیڅ گناه نشته، الله ته معلومه ده چي تاسو به ئې هرومرو ورته یاده کړئ، خو په پټه ورسره وعده مه کوئ، مگر دا چي کومه غوره او مناسبه خبره وکړئ او تر هغه د نکاح تړلو هوډ مه کوئ چي دا مقرره نېټه ترسره شي او په دې پوه شئ چي الله ستاسو د زړونو په حال ښه پوهېږي، نو له ده ووېرېږئ او پوه شئ چي الله حلیم بخښونکی دئ. 236- په دې کي هم پر تاسو کومه گناه نشته چي ښځي له نژدې والي یا دوی ته د کوم مهر له ټاکلو وړاندي طلاقي کړئ، خو څه مال متاع ورکړئ، په توانمن د خپل توان په اندازه او په نیستمن د خپل وس په اندازه، مناسبه متاع په غوره توگه، دا یو حق دئ پر محسنینو. 237- او که مو تر نژدې والي وړاندي هغه وخت طلاقي کړې چي کوم مهر مو ورته ټاکلی وي نو د دې مهر نیمایی دئ، مگر دا چي ښځي ترې تېري شي او یا هغه کس تېر شي چي د نکاح غوټه ئې په لاس کي ده او که عفو وکړئ، دا تقوی ته نژدې ده او په خپلو کي فضل او احسان مه هېروئ، بې شکه چي الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ.

حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ
٢٣٨ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ فَرِجَالًا أَوۡ رُكۡبَانٗاۖ فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ
كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمۡ تَكُونُواْ تَعۡلَمُونَ ٢٣٩ وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ
مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا وَصِيَّةٗ لِّأَزۡوَٰجِهِم مَّتَٰعًا إِلَى ٱلۡحَوۡلِ
غَيۡرَ إِخۡرَاجٖۚ فَإِنۡ خَرَجۡنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِي مَا فَعَلۡنَ
فِيٓ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعۡرُوفٖۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٤٠
وَلِلۡمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعُۢ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٤١ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢٤٢ *أَلَمۡ تَرَ إِلَى
ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَهُمۡ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِ فَقَالَ
لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحۡيَٰهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ٢٤٣ وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ
ٱللَّهِ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٤٤ مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ
ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضۡعَافٗا كَثِيرَةٗۚ وَٱللَّهُ
يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٤٥

238- د ټولو لمونځونو او د هغه غوره ئې ښه حفاظت کوئ او الله ته غاړه اېښودونکي ودرېږئ. 239- خو که وېرېدلئ نو بیا یا پلي او یا سپاره، خو کله چي د امنیت احساس وکړئ نو الله همغسي یاد کړئ لکه چي تاسو ته ئې درښودلی، همغه څه چي نه وربانديي پوهېدئ. 240- او له تاسو چي څوك مري او مېرمني تر شا پرېږدي، په دوی باندي د خپلو مېرمنو په اړه تر پوره یوه کاله د نه ایستلو د متاع وصیت لازم دئ، خو که (په خپله) ووتلې نو پر تاسو ئې د هغه معروف کار په ارتباط څه ګناه نشته چي دوی ئې د ځان په اړه ترسره کوي او الله باحکمت عزتمن دئ. 241- او طلاق شوو ښځو ته په ښه توګه څه مال متاع ورکول دي، دا پر متقیانو لازمه ده. 242- همدا راز الله خپل آیتونه درته بیانوي چي تعقل وکړئ. 243- آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي د مرګ له وېري په داسي حال کي له خپلو کورونو ووتل چي په زرګونو ول، نو الله ورته وفرمایل: ومرئ، خو بیا ئې راژوندي کړل، یقیناً چي الله پر خلکو باندي د فضل او پېرزویني خاوند دئ، خو اکثر خلك شکر نه کوي. 244- او د الله په لار کي وجنګېږئ او (په دې) پوه شئ چي بې شکه الله ښه پوه اورېدونکی دئ. 245- هغه څوك دئ چي الله ته حسنه پور ورکړي، (داسي پور) چي الله ئې ورته په ځلونو ځلونو زیات کړي او دا خو الله دئ چي تنګول او پراخول کوي او د ده په لوري بېرته ګرځول کېږئ.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰٓ إِذۡ قَالُواْ
لِنَبِيّٖ لَّهُمُ ٱبۡعَثۡ لَنَا مَلِكٗا نُّقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ قَالَ هَلۡ
عَسَيۡتُمۡ إِن كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُواْۖ قَالُواْ وَمَا لَنَآ
أَلَّا نُقَٰتِلَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدۡ أُخۡرِجۡنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبۡنَآئِنَاۖ
فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ تَوَلَّوۡاْ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ
بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ بَعَثَ لَكُمۡ
طَالُوتَ مَلِكٗاۚ قَالُوٓاْ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ عَلَيۡنَا وَنَحۡنُ أَحَقُّ
بِٱلۡمُلۡكِ مِنۡهُ وَلَمۡ يُؤۡتَ سَعَةٗ مِّنَ ٱلۡمَالِۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰهُ
عَلَيۡكُمۡ وَزَادَهُۥ بَسۡطَةٗ فِي ٱلۡعِلۡمِ وَٱلۡجِسۡمِۖ وَٱللَّهُ يُؤۡتِي
مُلۡكَهُۥ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٢٤٧﴾ وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ
ءَايَةَ مُلۡكِهِۦٓ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ
وَبَقِيَّةٞ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحۡمِلُهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

246- آیا د بني اسرائیلو هغه ډله دې ونه لیده چې تر موسی وروسته وه، کله چې ئې خپل پیغمبر ته وویل: موږ ته یو پاچا وټاکه، تر څو د الله په لار کې وجنګیږو، ورته وئې ویل: آیا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګیږئ؟ وئې ویل: نو په موږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګیږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر ایستل شوي یو؟ خو کله چې جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غیر له لږ شمېر ئې او الله خو د ظالمانو په حال ښه پوه دئ. 247- او پیغمبر ئې ورته وویل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی، وئې ویل: څنګه به پر موږ باندې ده ته پاچایي وي، حال دا چې موږ په پاچایي کې تر ده ډېر وړ او مستحق یو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دئ ورکړی شوی؟ وئې ویل: بې شکه چې هغه الله پرتاسو غوره کړی او په علم او جسم کې ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع (پراخ لاسی) دئ. 248- او پیغمبر ئې ورته وویل: د ده د پاچایۍ نښه دا ده چې تاسو ته به هغه صندوق راشي چې په هغه کې ستاسو د رب له لوري یوه ډاډېینه او د موسی او هارون د اولاد پاته شوني دي، هغه چې ملائکې به ئې حمل کوي، په دې کې تاسو ته څرګنده نښه ده که مؤمنان یئ.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلۡجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبۡتَلِيكُم بِنَهَرٖ
فَمَن شَرِبَ مِنۡهُ فَلَيۡسَ مِنِّي وَمَن لَّمۡ يَطۡعَمۡهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ
إِلَّا مَنِ ٱغۡتَرَفَ غُرۡفَةَۢ بِيَدِهِۦۚ فَشَرِبُواْ مِنۡهُ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۚ
فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا
ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ
ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ
وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ٢٤٩ وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ
رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٥٠ فَهَزَمُوهُم بِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ
وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُۗ وَلَوۡلَا
دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٥١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ
نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢٥٢

249- نو کله چې طالوت لښکري راوایستې، وئې ویل: الله په یوې
ویالې سره ستاسو آزمویونکی دئ، نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما
له ډلې ندئ او چا چې (ئې خوند) ونه څکو، نو هغه زما (له ډلې)
دئ، مګر دا چې د خپل یوه لاس یوه لپه (اوبه) غوړپ کړي، خو
د دوی له لږو کسانو پرته نورو هغه وڅښلې، نو کله چې دی او
د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل، وئې ویل: نن خو موږ د جالوت
او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو، خو هغو چې په دې
ئې باور وو له الله سره مخامخ کېدونکي دي؛ وویل: څومره لږکي
ټولګي د الله په اذن سره په ډېرکیو ټولګیو غالب شوي، الله خو له
صابرانو سره دئ. 250- او کله چې جالوت او لښکرو ته ئې
راڅرګند شول، وئې ویل: اې زموږ ربه! پر موږ صبر نازل کړه او
ګامونه مو ټینګ کړه او پر دې کافر قوم برى را، 251- نو د الله په
حکم سره ئې دوی ته ماته ورکړه او داؤد جالوت وواژو او الله
ورته پاچايي او حکمت ورپه برخه کړ او چې څه ئې غوښتل هغه
ئې وروښودل او که د الله دا د خلکو ځیني په ځینو نورو دفع کول
نه وی، نو زمکه به تباه شوې وه، خو الله په نړۍ والو د فضل
خاوند دئ. 252- دا د الله آیتونه دي چې پر تا ئې لولو او یقیناً
چې ته د پیغمبرانو له ډلې یې.

*تِلۡكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۘ مِّنۡهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُۖ وَرَفَعَ
بَعۡضَهُمۡ دَرَجَٰتٖۚ وَءَاتَيۡنَا عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ
بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِم مِّنۢ بَعۡدِ
مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم
مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ
﴿٢٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ
يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ
﴿٢٥٤﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا
بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ
عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ
حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾ لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ
مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ
بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

253- دا همغه پیغمبران دي چې ځینو ته مو په ځینو نورو فضیلت ورکړی، ځیني ئې هغه دي چې الله ورسره تکلم کړی او د ځینو ئې درجې لوړې کړې او عیسی د مریمې زوی ته مو ښکاره نښې ورکړې او په پاکې روح سره مو د ده مرسته وکړه او که الله غوښتلی نو لدوی وروسته به په داسې حال کې نه وو سره جنګېدلي چې ښکاره نښې ورته راغلې، خو په خپلو کې ئې اختلاف وکړ، چې ځینو ئې ایمان راوړ او ځیني ئې کافر شول او که الله غوښتي وی نو په خپلو کې به نه سره جنګېدل، خو الله هغه څه کوي چې اراده ئې وکړي. 254- اې مؤمنانو! زموږ له لوري درکړل شوې روزي د هغې ورځې تر رارسېدو مخکې انفاق کړئ چې نه پېرل او پلورل په کې شته او نه دوستي او نه شفاعت او کافران ظالمان دي. 255- الله هغه ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی قیوم ذات، نه ئې پرکالي نیسي او نه خوب، هغه هرڅه د ده دي چې په آسمانونو کې دي او چې په زمکې کې دي، دا به څوك وي چې د ده له اجازې پرته د ده په وړاندې سپارښتنه او شفاعت وکړی شي، په داسې حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شاته دي او دوی د ده له علم یوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي، (د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکې حاوي ده او د دوی دواړو ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ. 256- په دین کې اکراه (او په زور منل) نشته، (په قرآن) سره هدایت له بې لارېتوب ښکاره شوی، نو څوك چې له طغیان کوونکي انکار وکړي او بیا پر الله ایمان راوړي نو په داسې کلکې کړۍ ئې منګولې ټینګې کړې چې شلېدل ئې نشته او الله خو ډېر پوه اورېدونکی دئ.

ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۖ
وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخۡرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ
إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِۗ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥٧
أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِي حَآجَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ فِي رَبِّهِۦٓ أَنۡ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ
إِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّيَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحۡيِۦ وَأُمِيتُۖ
قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأۡتِي بِٱلشَّمۡسِ مِنَ ٱلۡمَشۡرِقِ فَأۡتِ بِهَا
مِنَ ٱلۡمَغۡرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِي كَفَرَۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٥٨ أَوۡ كَٱلَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ
عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحۡيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ
مِاْئَةَ عَامٖ ثُمَّ بَعَثَهُۥۖ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَۖ قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ
بَعۡضَ يَوۡمٖۖ قَالَ بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٖ فَٱنظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ
وَشَرَابِكَ لَمۡ يَتَسَنَّهۡۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجۡعَلَكَ ءَايَةٗ
لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ
فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٥٩

257- الله د هغو مولا دئ چي ایمان ئې راوړی، له تیارو ئې د رڼا په لوري باسي او هغه چي کافر شوي؛ اولیاء (پالونکي) ئې طاغوتان دي، چي له رڼا ئې د تیارو لوري ته باسي، دوی دوزخیان دي، په کې تلپاته. 258- هغه څوك دي ونه لید چي له ابراهیم سره ئې له دې کبله شخړه کوله چي الله ورته پاچايي ورکړې وه، کله چي ابراهیم وویل: زما رب همغه دئ چي ژوندي کول او مړول کوي، وئی ویل: زه یم چي د ژوند مرگ فیصله کوم!! ابراهیم وویل: الله خو لمر له مشرقه راخېژوي ته ئې له مغربه راوله (که رښتینی یې)، نو هغه چي کافر شوی وو مبهوت او حیران شو ( څه ئې د ویلو لپاره نه موندل) او الله ظالمان نه هدایت کوي. 259- او یا لکه هغه چي په یوه داسي کلي تېر شو چي په خپلو بامونو راپرېوتی وو، وئې ویل: الله به دا له خپلې داسي مړیني وروسته څنگه بیاراژوندي کوي، نو الله هغه په سل کلن مرگ مړ کړ، بیا ئې بېرته راژوندی کړ، ورته وئې ویل: څومره وځنډېدې، وئې ویل: یوه ورځ ځنډېدلی یم او یا خو د یوې ورځې یوه برخه، وئې فرمایل: داسي نه ده، بلکې سل کاله ځنډېدلی یې، نو خوراك او څښاك ته دي وگوره چي نه دي خوسا شوي او خره ته دي وگوره او دا د دې لپاره چي تا د خلکو لپاره یوه نښه وگرځوو او هډوکو ته ځیر شه چي څنگه ئې خوځوو او بیا ئې په غوښي پټوو، نو کله چي ورته څرگنده شوه، وئې ویل: (اوس) ښه پوهېږم چي الله په هر څه ښه قادر دئ.

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ
قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ
فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ
يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٢٦٠ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ
يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ
فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٖ مِّاْئَةُ حَبَّةٖۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ
عَلِيمٌ ٢٦١ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتۡبِعُونَ
مَآ أَنفَقُواْ مَنّٗا وَلَآ أَذٗى لَّهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ
عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٢٦٢ ۞قَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞ وَمَغۡفِرَةٌ خَيۡرٞ مِّن
صَدَقَةٖ يَتۡبَعُهَآ أَذٗىۗ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٞ ٢٦٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
لَا تُبۡطِلُواْ صَدَقَٰتِكُم بِٱلۡمَنِّ وَٱلۡأَذَىٰ كَٱلَّذِي يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ
ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفۡوَانٍ
عَلَيۡهِ تُرَابٞ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٞ فَتَرَكَهُۥ صَلۡدٗاۖ لَّا يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ
مِّمَّا كَسَبُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٦٤

260- او کله چي ابراهيم وويل: اې زما ربه! راوښيه چي مړی څنګه راژوندی کوې؟ وئې فرمايل: آيا په دې باندي باور نه لرې، وئې ويل: څنګه نه، خو غواړم چي زړه مي ډاډه شي، وئې ويل: نو د مرغانو څلور درواخله او له ځانه سره ئې آموخته کړه، بيا ئې په هر غره يوه برخه کېږده، بيا ئې راوبوله چي تا ته به په منډه راشي او په دې پوه شه چي الله باحکمت غالب ذات دئ. 261- د هغو کسانو مثال چي خپل مالونه د الله په لار کي لګوي؛ هغې دانې ته ورته دئ چي اوه وږي راوټوکوي، په هر وږي کي سل دانې او الله چي چا ته وغواړي ورته مضاعف کوي ئې او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ. 262- همغه چي خپل مالونه د الله په لار کي لګوي او بيا په خپلو انفاق کړو مالونو پسي نه کړول کوي او نه منت بارول. دوی ته د خپل رب په خوا کي خپل اجر دئ، نه په دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي. 263- غوره وينا او بخښنه تر هغې صدقې ډېره غوره ده چي کړول ورپسې وي او الله حليم غني دئ. 264- اې مؤمنانو! خپل صدقات په منت او اذيت سره مه باطلوئ، د هغه چا په څېر چي خپل مال خلکو ته د ځان ښودني لپاره انفاق کوي، په داسي حال کي چي پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان نه لري. نو د ده مثال هغې ښويي تيږې ته ورته دئ چي څه خاوره ورباندي پرته وي او داسي زورور باران پرې وشي چي صفا او ښويه ئې کړي، د خپلو لاسته راوړنو د هيڅ څه په ترلاسه کولو به نه توانېږي او الله داسي کافر قوم نه هدايت کوي.

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثۡبِيتٗا مِّنۡ
أَنفُسِهِمۡ كَمَثَلِ جَنَّةِۢ بِرَبۡوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٞ فَـَٔاتَتۡ أُكُلَهَا
ضِعۡفَيۡنِ فَإِن لَّمۡ يُصِبۡهَا وَابِلٞ فَطَلّٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ
٢٦٥ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمۡ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَابٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ
ٱلۡكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٞ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعۡصَارٞ فِيهِ نَارٞ
فَٱحۡتَرَقَتۡۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ
تَتَفَكَّرُونَ ٢٦٦ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا
كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ
مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ
ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ٢٦٧ ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم
بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ
عَلِيمٞ ٢٦٨ يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ
أُوتِيَ خَيۡرٗا كَثِيرٗاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٦٩

265- او مثال د هغو چي خپل مالونه د الله د رضاء په لټه کې او د خپل نفسي ثبات په وجه انفاق کوي، د یوې لوړې زمکې پر سر یوه باغ ته ورته دئ چي که زورور باران ئې په برخه شي نو دوه برابره مېوه ورکړي او که زورور باران ورونه رسېږي نو پرخه، او الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دئ. 266- آیا ستاسو کوم یو دا خوښوي چي د کجورو او انګورو داسي باغ دې وي چي ویالې ترې لاندي بهېږي او په هغه کې ده ته هر ډول (نوري) مېوې هم وي او ده ته زوړوالی رسېدلی وي او کمزوري زامن ئې وي، خو ناڅاپه ئې باغ ته داسي سخته سیلۍ ورسېږي چي په کې اور وي او باغ ئې وسوزي، الله دغسي آیتونه درته بیانوي چي تفکر وکړئ. 267- اې مؤمنانو! له خپلو لاسته راوړو شیانو او له هغه چي موږ له زمکي درته راایستلي، پاکیزه پاکیزه ئې انفاق کړئ او د هغو ناپاکو قصد ئې مه کوئ چي بل ته ئې ورکوئ خو په خپله ئې اخیستونکي نه یئ، مګر دا چي سترګي پرې پټې کړئ او په دې پوه شئ چي الله ستایلی غني دئ. 268- شیطان د فقر وعده درکوي او په فحشاء مو ګماري او الله د خپل مغفرت او پېرزویني وعده درکوي او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ. 269- چا ته چي وغواړي حکمت ورکوي او چا ته چي حکمت ورکړی شو؛ نو هغه ته یقیناً چي ډېره ښېګڼه ورکړی شوه او له عقلمنو پرته بل څوك پند نه اخلي.

وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ
وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبۡدُواْ ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا
هِيَۖ وَإِن تُخۡفُوهَا وَتُؤۡتُوهَا ٱلۡفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡۚ
وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمۡۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٌ
﴿٢٧١﴾ ۞لَّيۡسَ عَلَيۡكَ هُدَىٰهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُۗ
وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٍ فَلِأَنفُسِكُمۡۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ
وَجۡهِ ٱللَّهِۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٍ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا
تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ لِلۡفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحۡصِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا
يَسۡتَطِيعُونَ ضَرۡبًا فِي ٱلۡأَرۡضِ يَحۡسَبُهُمُ ٱلۡجَاهِلُ أَغۡنِيَآءَ مِنَ
ٱلتَّعَفُّفِ تَعۡرِفُهُم بِسِيمَٰهُمۡ لَا يَسۡـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلۡحَافًاۗ وَمَا
تُنفِقُواْ مِنۡ خَيۡرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ
أَمۡوَٰلَهُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ
رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

270- او تاسو چي کوم څه انفاق کړي دي او په ځان منلی کوم نذر مو ترسره کړی دئ، نو الله پرې پوهېږي او د ظالمانو هيڅ مرستندوی نشته. 271- که صدقات په ځرګنده ورکړئ نو دا هم ښه کار دئ او که ئې پټ کړئ او فقيرانو ته ئې ورکړئ، نو دا درته غوره دئ او (په دې سره به الله تعالی) ستاسو ځيني بدغوني ختم کړي او الله ستاسو له کړنو ښه خبر دئ. 272- پر تا د دوی هدايت کول نه دئ فرض شوی او دا خو الله دئ چي څوك وغواړي هدايت کوي ئې، او له مال چي څه انفاق کړئ نو دا په خپله ستاسو (په ګټه) ده او تاسو خو د الله د رضاءله لټولو پرته د بل څه لپاره انفاق نه کوئ او له مال چي څه هم تاسو انفاق کړئ؛ پوره به (بېرته) درکړی شي او پر تاسو به ظلم ونشي. 273- هغو فقيرانو ته دي وي چي د الله په لار کي مصروف کړی شوي، په وس کي ئې نه ده چي په زمکه کي سفر وکړي، د عفاف (او نه سؤال کولو) په وجه ئې جاهل او ناپوه انسان غنيان ګڼي، له څېرو به ئې وپېژنې، له خلکو په ټينګار سره څه نه غواړي او تاسو چي هر څه انفاق کړئ، الله ورباندي ښه پوه دئ. 274- هغه چي خپل مالونه شپه او ورځ، په پټه او ښکاره انفاق کوي نو د دوی اجر له خپل رب سره دئ، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي.

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ
وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ
فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ
فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ يَمۡحَقُ ٱللَّهُ
ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ
لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن
تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾
وَإِن كَانَ ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡ
إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ
كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

275- هغه چي سود خوري نه پاڅي مګر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چي شيطان په مس (لاس راښکلو) سره د ده حواس خراب کړي وي، دا له دې کبله چي وايي: بيع خو هم د سود په څېر ده! حال دا چي الله بيع حلاله کړې او سود ئې حرام کړی، نو چا ته چي د خپل رب له لوري موعظه راغله، نو ډډه ئې وکړه، ده ته همغه پخوا تېر شوی دئ او کار ئې الله ته (محول) دئ او څوك چي بيا وروګرځېدو نو دوی دوزخيان دي، په هغه کي تلپاته. 276- الله سود تباه کوي او صدقاتو ته وده ورکوي او الله هيڅ ګناهګار کافر نه خوښوي. 277- بې شکه هغه کسان چي ايمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي، لمونځ ئې اداء کړی او زکات ئې ورکړی، دوی ته خپل اجر دئ؛ د خپل رب خوا کي، نه پر دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي. 278- اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او پاته سود پرېږدئ، که ايمان لرئ. 279- او که دا کار ونکړئ نو د الله او پيغمبر يوې جګړي ته تيار شئ او که مو توبه وکړه، نو بيا تاسو ته ستاسو رأس المال (اصل مال) دئ، مه تاسو ظلم کوئ او نه دي پر تاسو ظلم کېږي. 280- او که (پوروړی) له تنګسې سره مخ وو نو بيا تر پراخۍ انتظار کول دي او که ئې وبخښئ ډېر درته غوره دئ، که وپوهېږئ. 281- او له هغي ورځي ووېرېږئ چي الله ته په کي ورګرځئ، چي بيا به هر چا ته خپلي لاسته راوړني پوره ورکړی شي او ظلم به پرې نه کېږي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيۡنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى
فَٱكۡتُبُوهُۚ وَلۡيَكۡتُب بَّيۡنَكُمۡ كَاتِبُۢ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَلَا يَأۡبَ كَاتِبٌ
أَن يَكۡتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُۚ فَلۡيَكۡتُبۡ وَلۡيُمۡلِلِ ٱلَّذِي عَلَيۡهِ
ٱلۡحَقُّ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبۡخَسۡ مِنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِي
عَلَيۡهِ ٱلۡحَقُّ سَفِيهًا أَوۡ ضَعِيفًا أَوۡ لَا يَسۡتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ
فَلۡيُمۡلِلۡ وَلِيُّهُۥ بِٱلۡعَدۡلِۚ وَٱسۡتَشۡهِدُواْ شَهِيدَيۡنِ مِن رِّجَالِكُمۡۖ
فَإِن لَّمۡ يَكُونَا رَجُلَيۡنِ فَرَجُلٞ وَٱمۡرَأَتَانِ مِمَّن تَرۡضَوۡنَ مِنَ
ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحۡدَىٰهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحۡدَىٰهُمَا ٱلۡأُخۡرَىٰۚ وَلَا
يَأۡبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُواْۚ وَلَا تَسۡـَٔمُوٓاْ أَن تَكۡتُبُوهُ صَغِيرًا أَوۡ
كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦۚ ذَٰلِكُمۡ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقۡوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ
وَأَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَرۡتَابُوٓاْ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً حَاضِرَةٗ تُدِيرُونَهَا
بَيۡنَكُمۡ فَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَلَّا تَكۡتُبُوهَاۗ وَأَشۡهِدُوٓاْ إِذَا
تَبَايَعۡتُمۡۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٞ وَلَا شَهِيدٞۚ وَإِن تَفۡعَلُواْ فَإِنَّهُۥ فُسُوقُۢ
بِكُمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٢٨٢

282- اې مؤمنانو! کله چې په خپلو کې تر يوې نېټې د پور راکړه ورکړه کوئ، نو وئې ليکئ، کوم ليکونکی دې هغه په عدل سره ستاسو ترمنځ وليکي او ليکونکی دې له ليکلو ډډه نه کوي، لکه څنګه چې الله ورښودلي همغسې ئې بايد وليکي او هغه څوك دې املاء وکړي (د ليك مطلب دې په خوله بيان کړي) چې حق (پور) ورباندې دئ او له خپل رب دې ووېرېږي او هيڅ څه دې نه ترې کموي او که هغه څوك چې حق ورباندې دئ ناپوه يا ضعيف وو او يا ئې املاء نه شوی کولی، نو د ده ولي دې عادلانه اقرار وکړي او له خپلو نارينه وو د شهادت لپاره دوه شاهدان ونيسئ، خو که دوه سړي نه وو نو ستاسې د خوښې له شاهدانو دې يو سړی او دوه ښځې وي چې که لدوی دواړو يوې خبره هېره کړه بله به ئې ور په ياد کړي او کله چې شاهدان (د شهادت لپاره) وبلل شي ډډه دې نه کوي او په دې کې اهمال مه کوئ چې تر خپلې خاصې نېټې يو پور وليکئ، لږ وي که ډېر، دا (ليکل) مو د الله په نزد کې ډېر عادلانه دئ او د شهادت مضبوطوونکی او دې ته ډېر نژدې چې په خپلو کې شك ونکړئ، مګر دا چې هغه حضوري او مخامخ تجارت وي چې په خپلو کې ئې لاس په لاس کوئ، نو بيا پر تاسو د دې ګناه نشته چې وئې نه ليکئ او کله چې مو په خپلو کې بيع کوله نو شاهدان ونيسئ، نه به ليکونکي ته تاوان رسول کېږي او نه شاهد ته او که مو داسې وکړل نو دا به ستاسو فسق او ګناه شمېرلی شي او له الله ووېرېږئ او الله خو تاسو ته ښوونه کوي او الله خو په هرڅه ښه پوه دئ.

*وَإِن كُنتُمۡ عَلَىٰ سَفَرٖ وَلَمۡ تَجِدُواْ كَاتِبٗا فَرِهَٰنٞ مَّقۡبُوضَةٞۖ فَإِنۡ
أَمِنَ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا فَلۡيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤۡتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلۡيَتَّقِ ٱللَّهَ
رَبَّهُۥۗ وَلَا تَكۡتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ وَمَن يَكۡتُمۡهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلۡبُهُۥۗ
وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨٣ لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي
ٱلۡأَرۡضِۗ وَإِن تُبۡدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ أَوۡ تُخۡفُوهُ يُحَاسِبۡكُم بِهِ
ٱللَّهُۖ فَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٌ ٢٨٤ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ
كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ
أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ
ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ
وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ
رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ
رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا
وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦

283- او که په سفر کې وئ او کوم کاتب مو ونه موندو، نو بیا مقبوضه رهن (ترلاسه کړی ګرو) دئ او که ستاسو ځینو ځیني نور امین وګڼل (او اعتبار ئې پرې وکړ) نو امین ګڼل شوی دي د هغه امانت بېرته ورکړي او له خپل رب دي ووېرېږي، او شهادتونه مه پټوئ او چا چې پټ کړ نو بې شکه چې زړه ئې ګنهګار دئ او الله په هر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ. 284- څه چې په آسمانونو کې او څه چې په زمکه کې دي، ټول د الله دي او که د خپل زړه خبري مو ښکاره کړئ یا ئې پټې کړئ، الله به د هغوی محاسبه درسره کوي، نو چا ته چې وغواړي بخښنه به ورته وکړي او څوك چې وغواړي تعذیب به ئې کړي او الله په هر څه ښه قادر دئ. 285- پیغمبر پر هغه څه باور کړی چې د خپل رب له لوري ورته نازل شوي او مؤمنانو هم، ټولو پر الله، پر ملائکو ئې، پر کتابونو ئې او پر پیغمبرانو ئې ایمان راوړی، د ده د پیغمبرانو په هیڅ یوه کې فرق نه کوو او وئې ویل: واموورېدل او اطاعت مو وکړ، ستا غفران او بخښنه اې زموږ ربه! او ستا په لور درتګ. 286- الله هیڅوك تر خپل ظرفیت لوړ نه مکلف کوي، ده ته خپلې لاسته راوړنې دي او پر ده ئې خپلې لاسته راوړنې، اې زموږ ربه! په دې مو ونه نیسې چې په هېره څه (ګناه) وکړو یا خطا رانه وشي، اې زموږ ربه! پر موږ هغسې دروند پېټی مه ږده چې تر موږ پر مخکنیو دي ایښی وو، اې زموږ ربه! او پر موږ هغه پېټی مه ږده چې توان ئې نه لرو، موږ ته عفو وکړه، موږ ته بخښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، ته مو مولا یې، نو پر کافرانو بریا را.

# سُورَةُ آلِ عِمۡرَانَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ ٢ نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ
بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ٣ مِن قَبۡلُ
هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ
عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ٤ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ
شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ
كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ
عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ
مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ
ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ
وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا
يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا
وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ٨ رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ
ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ٩

## آل عمران- مدني سوره- 200 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، میم، 2- الله هغه ذات دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، همغه ژوندی او قیوم. 3- په حقه ئې پرتا دا کتاب نازل کړی، تر ده د مخکنیو کتابونو مصدق. تورات او انجیل ئې مخکې نازل کړل، 4- د خلکو لپاره لارښود او فرقان ئې نازل کړی، یقیناً هغه چي په الهي آیتونو کافران شوي، دوی ته شدید عذاب دئ او الله عزتمن غچ اخیستونکی دئ. 5- یقیناً چي په الله باندي هیڅ څه نشي پټېدی، نه په زمکې کې څه او نه په آسمان کې څه. 6- دی خو همغه ذات دئ چي تاسو ته د (میندو) په رحم کې هغسي صورت او شکل درکوي چي دی ئې غواړي، پرته له ده چي عزیز او حکیم دئ بل معبود نشته. 7- الله هغه ذات دئ چي دا کتاب ئې پرتا باندي نازل کړ، چي ځیني آیتونه ئې مُحکم دي، چي دا د کتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه چي په زړونو کې ئې کوږوالی دئ په متشابه پسي ئې درومي، د فتنې په لټه کې او د تأویل په لټه کې، په داسي حال کې چي په تأویل ئې له الله پرته هیڅوك نه پوهېږي او هغه چي د راسخ علم خاوندان دي وایي: موږ ایمان پرې راوړی، ټول زموږ د رب له لوري دي او پند نه اخلي مګر د عقل خاوندان. 8- اې زموږ ربه! زموږ زړونه له هغه وروسته کاږه نه کړې چي هدایت دي کړو او خپله پېرزوینه دي زموږ په برخه کړه، بې شکه چي ته ډېر لوروونکی یې. 9- اې زموږ ربه! یقیناً چي ته هغې ورځې ته د خلکو راغونډوونکی یې چي شك په کې نشته، بې شکه چي الله له وعدې نه په شا کېږي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ
ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ ١٠ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ
وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ
وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١١ قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ
وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٢ قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ
فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ
يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ١٣ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ
ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ
ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ
مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤ ۞قُلۡ
أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۖ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتٞ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ
وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ١٥

10- يقيناً هغه چي کافران شوي، نه به ئې له الله د دوی مالونه
څه ترې دفع کړی شي او نه ئې اولاد، او همدا دوی به د اور سون
وي. 11- د فرعونيانو او د هغو په څېر به ئې حال وي چي تر
دوی مخکي وو، زما آيتونه ئې تکذيب کړل، نو الله په خپلو گناهونو
ونيول او الله سخت عذاب ورکوونکی دئ. 12- کافرانو ته ووايه:
حتماً به مغلوب شئ او د جهنم په لوري به محشور (راغونډ) کړی
شئ، څومره بد استوگنځی! 13- يقيناً تاسو ته په هغو دوو ډلو کي
څرگنده نښه ده چي سره ونښتې، يوه د الله په لار کي جنگېده او
بله ئې کافره وه چي د سترگو په ليد سره ئې هغوی د ځان دوه
برابره ليدل او الله په خپلي مرستي سره د هغه چا ملاتړ کوي چي
دی ئې وغواړي، يقيناً چي په دې کي سترگورو ته ښه عبرت دئ.
14- خلکو ته د مرغوبو شيانو، لکه ښځي، زامن، د سرو او سپينو
زرو خزانې، نښانمن آسونه، څاروي او د کر کښت مينه ښايسته
کړی شوي، خو دا ټول د دنيوی ژوند متاع ده او د الله خوا ته خو
ډېر غوره د ټېکي ځای دئ. 15- ووايه: آيا تر دې په غوره څه مو
خبر کړم؟ متقيانو ته د دوی د رب خوا کي داسي جنتونه دي چي
ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کي او پاکيزه جوړې او د
الله رضا مندي او الله خو د خپلو بندگانو ښه ليدونکی دئ.

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ
ٱلنَّارِ ١٦ ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ
وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ ١٧ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ١٨ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ
أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ وَمَن
يَكۡفُرۡ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩ فَإِنۡ حَآجُّوكَ
فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ
وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا
عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٢٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ
بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٢١ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٢٢

16- هغه چي وايي: اې زمونږ ربه! يقيناً چي مونږ ايمان راوړی، نو زمونږ ګناهونه راته وبخښه او د اور له عذابه مو وساته. 17- همغه صابران، صادقان، غاړه ايښودونکي، انفاق کوونکي او د سحر په وخت کي مغفرت غوښتونکي بندګان. 18- الله په دې شهادت ورکړی چي له ده پرته بل معبود نشته، ملائکو او په عدل ولاړو د علم خاوندانو هم، له عزيز حکيم خدای پرته بل معبود نشته. 19- بې شکه چي د الله په نزد کي (مقبول) دين، اسلام دئ او د اهل کتابو اختلاف خو له هغه وروسته وو چي علم ئې پرې راغی، په خپلو کي د ضد او بغي له امله او څوك چي د الله په آيتونو کافر شي نو يقيناً چي الله ډېر ژر محاسبه کوونکی دئ. 20- نو که ئې شخړه درسره کوله ووايه: ما خپل ځان الله ته تسليم کړی او هغو هم چي زما متابعت کوي، او اهل کتابو او نالوستو ته ووايه: آيا تاسو هم تسليم شوي يئ؟ نو که تسليم شول، لار ئې موندله او که ئې مخ واړاوو نو پر تا يوازي تبليغ دئ او الله د بندګانو ښه ليدونکی دئ. 21- يقيناً هغه چي د الله په آيتونو کافران کېږي او د الله پيغمبران په ناحقه وژني او د خلکو هغه کسان هم وژني چي د عدل کولو امر کوي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه. □□- دوی هغه دي چي عملونه ئې په دنيا او آخرت کي حبط او تباه شوي او هيڅ مرستندوی ورته نشته.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ
ٱللَّهِ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ وَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٣
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامٗا مَّعۡدُودَٰتٖۖ وَغَرَّهُمۡ
فِي دِينِهِم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢٤ فَكَيۡفَ إِذَا جَمَعۡنَٰهُمۡ لِيَوۡمٖ لَّا
رَيۡبَ فِيهِ وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٥
قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ
مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٦ تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي
ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ
مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٢٧ لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ
أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي
شَيۡءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنۡهُمۡ تُقَىٰةٗۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ
ٱلۡمَصِيرُ ٢٨ قُلۡ إِن تُخۡفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمۡ أَوۡ تُبۡدُوهُ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ
وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ
٢٩

23- آيا هغو ته دي پام نه دئ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي چي د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي، خو يوه ډله ئې ډډه کوي، په داسي حال کي چي (عمداً) اعراض کوونکي وي. 24- دا له دې امله چي وايي: موږ ته به له څو شمېرلو ورځو پرته (د دوزخ) اور راونه رسېږي، خپلو افتراءاتو په خپل دين کي دوکه کړل. 25- نو څنگه به وي کله چي ئې هغي ورځي ته راغونډ کړو چي شك په کي نشته او هر چا ته به هغه څه پوره ورکړی شي چي کړي ئې وو او ظلم به نه پرې کېږي؟ 26- ووايه: اې بارئ ربه! د واکمنۍ واکداره! دا ته يې چي چا ته وغواړې واکمني ورکوې او له چا چي وغواړې د واکمنۍ (جامه) ببرته ترې باسې، چي چا ته وغواړې عزت ورکوې او چي څوك وغواړې سپکوې ئې، ښېگڼه ټوله ستا په لاس کي ده، بې شکه چي ته په هر څه قادر يې. 27- شپه په ورځ کي ننباسې او ورځ په شپې کي داخلوې، ژوندی له مړي راباسې او مړی له ژوندي راباسې او چي چا ته وغواړې بې حسابه روزي ورکوې. 28- مؤمنان دي له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ نه نيسي او څوك چي دا کار وکړي نو په هيڅ څه کي له الله سره نه دئ، مگر دا چي لدوی څه وېره ولرئ او الله خو تاسو له خپل ځانه په حذر کوي او ورگرځېدا خو د الله په لوري ده. 29- ووايه: که د سينو خبره مو پټه کړئ او يا ئې څرگنده کړئ، الله پرې پوهېږي او په هغه څه هم پوهېږي چي په آسمانونو کي دي او په هغه څه هم چي په زمکي کي دي او الله په هر څه قادر دئ.

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ مِن
سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ
وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٣٠ قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي
يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١
قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ
٣٢ ۞إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ
عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٣ ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ
٣٤ إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِي بَطۡنِي
مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٣٥ فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا
قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ وَلَيۡسَ
ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ وَإِنِّي سَمَّيۡتُهَا مَرۡيَمَ وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا
مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ٣٦ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٖ وَأَنۢبَتَهَا
نَبَاتًا حَسَنٗا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيۡهَا زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ
وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ
ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ٣٧

30- هغه ورځ چې هر څوك به د خير هر هغه څه حاضر ومومي چې كړي ئې وو او له بدو كارونو ئې چې څه كړي وي دا به خوښوي چې كاش د دغه (بد كار) او د ده ترمنځ لري او اوږد واټن وى، او الله تاسو له ځانه وېروي او الله په خپلو بندګانو رؤف او مهربان دئ. 31- ووايه: كه په رښتيا له الله سره مينه لرئ نو زما متابعت وكړئ، تر څو الله له تاسو سره محبت وكړي او ګناهونه مو درته وبخښي او الله ډېر مهربان بخښونكى دئ. 32- ووايه: د الله او د پيغمبر اطاعت وكړئ، كه ئې مخ واړاوو نو الله له دغو كافرانو سره محبت نه كوي. 33- يقيناً چې الله آدم، نوح، د ابراهيم او عمران اولاد په عالميانو غوره كړي. 34- يو د بل اولاد، او الله ښه پوه اورېدونكى دئ. 35- هغه وخت چې د عمران مېرمني وويل: اې زما ربه! زما په رحم كې چې څه دي هغه مي ستا لپاره نذر كړي، آزاد (له بل هر كار)، نو له ما ئې قبول كړه، بې شكه چې ته ښه پوه اورېدونكى يې. 36- نو كله چې ئې وزيږاوو، وئې ويل: اې زما ربه! ما خو نجلۍ وزيږوله! او الله ښه پوهېږي چې څه ئې زېږولي، او نارينه خو د ښځي په څېر نه وي! او ما هغه مريم ونوموله او زه دا او اولاد ئې له رټل شوي شيطان ستا په پناه كې دركوم. 37- نو خپل رب ئې په ښه توګه قبوله كړه او د دې ښه روزنه ئې وكړه او زكريا ئې د دې روزونكى او كفيل وګرځاوو، كله چې به هم زكريا د دې عبادت ځي ته ورننووت نو د دې په خوا كې به ئې خاص خوراك وموندو، وبه ئې ويل: اې مريمې! دا له كومه درته راغلي؟ وبه ئې ويل: دا د الله له لوري دي، بې شكه چې الله هر چا ته چې وغواړي بې حسابه روزي وركوي.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ
إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٨ فَنَادَتۡهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي
ٱلۡمِحۡرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحۡيَىٰ مُصَدِّقَۢا بِكَلِمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ
وَسَيِّدٗا وَحَصُورٗا وَنَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٣٩ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ
لِي غُلَٰمٞ وَقَدۡ بَلَغَنِيَ ٱلۡكِبَرُ وَٱمۡرَأَتِي عَاقِرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفۡعَلُ
مَا يَشَآءُ ٤٠ قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ
ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمۡزٗاۗ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ كَثِيرٗا وَسَبِّحۡ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ
٤١ وَإِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ
وَٱصۡطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٢ يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ
وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ٤٣ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ
نُوحِيهِ إِلَيۡكَۚ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يُلۡقُونَ أَقۡلَٰمَهُمۡ أَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ
مَرۡيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ٤٤ إِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ
مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ٤٥

38- دلته نو زکریا خپل رب ته دعاء وکړه، وئې ویل: اې زما ربه! له خپل لوري ما ته پاکیزه اولاد را، بې شکه چې ته د دعاګانو ښه اورېدونکی یې. 39- نو په داسي حال کې چې ولاړ وو، په محراب کې ئې لمونځ کاوو، ملائکو پرې غږ کړ چې الله تا ته د یحیی زېری درکوي، د یوې الهي کلمې تصدیقوونکی، سالار او ځان ساتونکی او د صالحینو له ډلې یو نبي. 40- وئې ویل: اې زما ربه! څنګه به ما ته زوی وي، په داسي حال کې چې د زوړالي (وخت مي) رارسېدلی او مېرمن مي شنډه ده؟! وئې ویل: الله خو همداسي چې څه وغواړي کوي ئې. 41- وئې ویل: اې زما ربه! څه نښه ئې راته وټاکه، وئې فرمایل: نښه دي دا ده چې درې ورځې به له اشارې پرته له خلکو سره خبرې نه شې کولی او خپل رب زیات یادوه او سبا او ماښام تسبیح وایه. 42- او کله چې ملائکو وویل: اې مریمې! بې شکه چې ته الله غوره کړې او پاکه کړې یې او د نړۍ پر ټولو ښځو ئې غوره ګرځولې یې. 43- اې مریمې! خپل رب ته تسلیم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره رکوع کوه. 44- دا د غیب ځیني خبرې دي چې تا ته ئې وحي کوو او ته هغه وخت د دوی خوا ته نه وې چې دوی خپل قلمونه د دې لپاره اچول چې (معلومه کړي) څوك به د مریمې کفالت کوي او هغه وخت هم د دوی په خوا کې نه وې چې په خپلو کې ئې شخړه کوله. 45- هغه وخت چې ملائکو وویل: اې مریمې! بې شکه چې الله تا ته د یوې الهي کلمې زېری درکوي، چې نوم به ئې مسیح عیسی د مریمې زوی وي، په دنیا او آخرت کې مخور او د مقربینو له ډلې.

وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٤٦ قَالَتۡ رَبِّ
أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ
مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٤٧
وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ٤٨ وَرَسُولًا إِلَىٰ
بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ
لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ
ٱللَّهِۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ
وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٤٩ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ
ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعۡضَ ٱلَّذِي حُرِّمَ عَلَيۡكُمۡۚ وَجِئۡتُكُم
بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ٥٠ إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ
فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٥١ *فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ
ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ
ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ٥٢

46- او خلکو ته به په ماشومتوب او زوړوالي کې وینا کوي او له صالحینو به وي. 47- وئې ویل: اې زما ربه! څنګه به مې زوی وي حال دا چې د هیڅ بشر لاس نه دئ راباندې لګېدلی، وئې فرمایل: همداسې ده! الله چې څه وغواړي پیدا کوي ئې، کله چې د کوم کار پرېکړه وکړي ورته وایي: وشه نو هغه وشي. 48- او کتاب، حکمت، تورات او انجیل به ورزده کړي. 49- او د بني اسرائیلو په لوري یو رسول، په دې چې ستاسو د رب له لوري مې څرګنده نښه درته راوړې ده، هغه دا چې زه ستاسې لپاره له ختې د مرغه څېره جوړوم، بیا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي او د الله په حکم به له موره ړوند پیدا شوی او برګی روغوم او مړي به ژوندي کوم او په هغه څه به مو خبروم چې په خپلو کورونو کې ئې خورئ یا ئې ذخیره کوئ، بې شکه چې په دې کې تاسو ته څرګنده نښه ده که مؤمن یئ. 50- او د هغه تورات تصدیقوونکی چې تر ما مخکې وو او چې ځیني هغه شیان درته حلال کړم چې پر تاسو حرام کړی شوي او ستاسو له ربه مې څرګنده نښه درته راوړې، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 51- بې شکه چې زما او ستاسې رب الله دئ، نو عبادت ئې وکړئ، همدا نېغه لاره ده. 52- نو کله چې عیسی د دوی کفر احساس کړ، وئې ویل: څوک مې د الله په لار کې ملګري دي؟ حواریونو وویل: موږ د الله ملګري یو، په الله مو ایمان راوړی او ته دې شاهد وې چې موږ مسلمانان یو.

رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ٥٣ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٥٤ إِذۡ
قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوۡقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِۖ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ فِيمَا كُنتُمۡ فِيهِ
تَخۡتَلِفُونَ ٥٥ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي
ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٥٦ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ
٥٧ ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ٥٨ إِنَّ مَثَلَ
عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ٥٩ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ٦٠
فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ
نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا
وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ٦١

53- اې زموږ ربه! په هغه څه مو ایمان راوړی چي تا رالېږلی، د پیغمبر متابعت مو وکړ، نو موږ د شاهدانو په زمره کي ولیکه. 54- او دوی پټ تدبیر ته لاس کړ او الله هم پټ تدبیر وکړ او الله خو تر ټولو غوره تدبیرکوونکی دئ. 55- کله چي الله وفرمایل: اې عیسی! زه ستا بشپړ اخیستونکی او خپل لوري ته پورته کوونکی یم او له کافرانو ستا پاکوونکی او تر قیامته پر کافرانو باندي د هغو کسانو لوړ ګرځونکی یم چي ستا متابعت ئې کړی، بیا مو زما لوري ته بېرته ګرځېدا ده، نو ستاسو ترمنځ به په هغه څه کي پرېکړه کوم چي تاسو په کي اختلاف کاوو. 56- نو هغه چي کافران شوي په دنیا او آخرت کي به ئې په شدید عذاب تعذیب کړم او هیڅ مرستندوی به ئې نه وي. 57- خو هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، نو اجر به ئې پوره پوره ورکړم او الله خو ظالمان نه خوښوي. 58- همدا د هغو آیتونو او حکیمانه پند او ذکر یوه برخه ده چي پر تا ئې لولو. 59- د عیسی مثال خو د الله په نزد یقیناً د آدم د مثال په څېر دئ، چي له خاوري ئې پیدا کړ بیا ئې ورته وویل: وشه، نو هغه وشو. 60- دا حق دئ ستا د رب له لوري، نو د شك کوونکو له ډلي مه کېږه. 61- نو چا چي په دې کي درسره شخړه کوله، وروسته له هغه چي تا ته ئې څه علم درکړی شو، ووایه: راشئ زموږ زامن، ستاسو زامن، زموږ مېرمني، ستاسو مېرمني، موږ په خپله او تاسو په خپله، راوغواړو، بیا (الله ته) زاري وکړو او په دروغجنو لعنت ووایو.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡقَصَصُ ٱلۡحَقُّۚ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٦٣﴾
قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا
نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا
أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾
يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ
وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٥﴾ هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ
حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم
بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ
يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ أَوۡلَى ٱلنَّاسِ بِإِبۡرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا
ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۗ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٨﴾ وَدَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ
أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا
يَشۡعُرُونَ ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ
تَشۡهَدُونَ ﴿٧٠﴾

62- بې شکه چې دا رښتنيني قصې دي او له الله پرته بل معبود نشته او بې شکه چې الله باحکمت عزتمن دئ. 63- نو که ئې ډډه وکړه نو الله په دې مفسدينو ښه پوه دئ. 64- ووايه: اې اهل کتابو! هغه خبري ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ يو شانته ده او هغه دا چې: له الله پرته به (د بل چا) عبادت نه کوو او هيڅ څه به ورسره نه شريکوو او زموږ ځيني به ځيني نور له الله پرته ارباب نه نيسي، نو که ئې ډډه وکړه نو ووايئ: شاهد اوسئ چې موږ منقاد او مسلمان يو. 65- اې اهل کتابو! ولې د ابراهيم په اړه شخړه کوئ!! حال دا چې تورات او انجيل خو نه دي نازل شوي مگر له ده وروسته!! آيا تعقل نه کوئ؟ 66- تاسو خو همغه يئ چې شخړه مو وکړه په هغه څه کې چې څه ناڅه پرې پوهېدئ، خو ولې د هغه څه په اړه شخړه کوئ چې هيڅ علم پرې نه لرئ، حال دا چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ. 67- ابراهيم نه يهودي وو او نه نصراني، هغه خو يو مخی منقاد وو او د مشرکينو له ډلې نه وو. 68- بې شکه چې ابراهيم ته تر ټولو نژدې خلك هغه کسان دي چې د ده متابعت ئې کړی او دا پيغمبر او هغه چې ايمان ئې راوړی او الله د مؤمنانو ولي دئ. 69- د اهل کتابو يوې ډلې دا خوښه کړه چې تاسو بې لارې کړي، خو له ځانه پرته بل څوك نشي بې لارې کولی او نه پوهېږي. 70- اې اهل کتابو! ولې د الله په آيتونو کافران کېږئ په داسې حال کې چې په خپله شاهد يئ!!

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ
وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١ وَقَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامِنُواْ
بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ
لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٧٢ وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ
ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ
عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ
وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٧٣ يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ
ٱلۡعَظِيمِ ٧٤ ۞وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ يُؤَدِّهِۦٓ
إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ إِلَّا مَا دُمۡتَ
عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ
وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥ بَلَىٰۚ مَنۡ أَوۡفَىٰ
بِعَهۡدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٧٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ
بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٧

71- اې اهل کتابو! ولې حق له باطل سره خلطوئ، او حق پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ. 72- او د اهل کتابو یوې ډلې وویل: د ورځې په سر کې په هغه څه ایمان راوړئ چې پر مسلمانانو نازل شوی او په پای کې ئې کافر شئ، چې راوګرځي. 73- او له هغه چا پرته د بل په خبرې باور مه کوئ چې ستاسو د دین متابعت کوي، ووایه: یوازې الهي هدایت، هدایت دئ او دا چې چا ته دې هغه څه ورکړی شي چې تاسو ته د درکړ شوي شي په څېر وي او یا دې له تاسو سره ستاسو د رب په وړاندې احتجاج وکړی شي، ووایه: فضل د الله په لاس کې دئ، چا ته چې ئې خوښه وي هغه ته ئې ورکوي او الله ښه پوه د وسعت خاوند دئ. 74- چې څوك وغواړي هغه د خپلو پېرزوینو لپاره ځانګړی کوي او الله د ستر فضل خاوند دئ. 75- او له اهل کتابو ځیني داسې دي چې که د کومې خزانې امین ئې کړې، بېرته به ئې درکړي او ځیني ئې داسې دي چې که په یوه دینار ئې امین کړې نو بېرته به ئې درنکړي مګر دا چې تل ورباندې (ټینګار کوونکی) ولاړ وې. دا د دې لپاره چې دوی وایي: پر موږ د نالوستو په اړه څه الزام نشته او د الله په نسبت دروغ وایي په داسې حال کې چې پوهېږي. 76- داسې نه ده بلکې چا چې په خپل عهد وفا وکړه او ځان ئې وساتو نو بې شکه چې الله له داسې متقیانو سره محبت کوي. 77- یقیناً هغه چې د الله په عهد او په خپلو قسمونو لږ بیع پېري، دوی ته به په آخرت کې هیڅ برخه نه وي او د قیامت په ورځ به نه الله ورسره تکلم کوي او نه به ورته نظر کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي.

وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ
ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا
هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ
٧٨ مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤۡتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ
يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادٗا لِّي مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُواْ
رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمۡ تُعَلِّمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمۡ تَدۡرُسُونَ ٧٩
وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًاۗ أَيَأۡمُرُكُم
بِٱلۡكُفۡرِ بَعۡدَ إِذۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ٨٠ وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ
ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ
مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ
وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠
مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨١ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ ٨٢ أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ٨٣

78- او د دوی یوه ډله داسي ده چي په خپلي لیکني او کتاب خپلي ژبي داسي اړوي چي ته هغه د الله د کتاب یوه برخه وبولې، په داسي حال کي چي هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبري ټولي د الله له لوري دي په داسي حال کي چي د الله له خوا ندي، په الله پوري دروغ تړي سره له دې چي ښه پوهېږي. 79- هيڅ انسان ته نه ښايي چي الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بيا هغه خلکو ته ووايي: له الله پرته زما بندګان شئ! بلکي (بايد ووايي:) د دې لپاره بايد خدای پالونکي شئ چي تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولئ. 80- او هغه تاسو ته دا امر نه کوي چي ملائکي او پيغمبران خپل اربابان ونيسئ، آيا تاسي ته به د کفر امر وکړي وروسته له هغه چي تاسو مسلمان شوي يئ؟! 81- او کله چي الله د پيغمبرانو ژمنه واخيسته چي دا دئ تاسو ته مي کتاب او حکمت درکړ، نو که بيا تاسو ته داسي کوم پيغمبر راغی چي تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصديقوونکی وي نو حتماً به ايمان پرې راوړئ او مرسته به ئې کوئ، وئې فرمايل: آيا په دې اقرار کوئ او پر دې باندي زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئې ويل: اقرار کوو، وئې فرمايل: نو شاهد اوسئ چي زه هم له شاهدانو يم. 82- نو څوک چي له دې وروسته په شا شي نو همدا دوی فاسقان دي. 83- آيا د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه، په خوښه او ناخوښه ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي.

قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ
وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ
وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ
لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ٨٤ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ
وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥ كَيۡفَ يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا
كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ ٱلرَّسُولَ حَقّٞ وَجَآءَهُمُ
ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٦ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ
أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ٨٧ خَٰلِدِينَ
فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ٨٨ إِلَّا ٱلَّذِينَ
تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٨٩ إِنَّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ
تَوۡبَتُهُمۡ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ٩٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ
وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ
ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٩١

84- ووایه: موږ هم پر الله ایمان راوړی او هم په هغه څه چې پر
موږ نازل شوی او پر ابراهیم، اسمعیل، اسحاق، یعقوب او د دوی
پر اولاد نازل شوي او پر هغه څه چې موسی، عیسی او نورو
پیغمبرانو ته د دوی د رب له لوري ورکړی شوي، د دوی په هیڅ یوه
کې توپیر نه کوو او موږ ورته غاړه ایښودونکي یو. 85- او څوك چې
له اسلام پرته د بل دین په لټه کې شي هیڅکله به ترې ونه منل شي
او په آخرت کې به له زیانکارانو وي. 86- څنګه به الله هغه قوم
هدایت کړي چې له خپل ایمان وروسته کافران شول، په داسي حال
کې چې د پیغمبر د حقانیت شاهد ول او څرګندي نښي ورته راغلې
وې او الله داسي ظالم قوم نه هدایت کوي. 87- د دوی جزاء دا ده
چي د الله، ملائکو او ټولو خلکو لعنت به پرې وربېري. 88- په هغه
کې تلپاته، نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به مهلت ورکړی شي.
89- مګر هغه چي له دې وروسته ئې توبه وکړه او سمونه ئې وکړه،
نو الله مهربان بخښونکی دئ.90- یقیناً هغه چي له خپل ایمان
وروسته کافر شول، بیا ئې په کفر کې زیاتوالی وکړ، هیڅکله به ئې
توبه قبوله نشي او همدا دوی لارورکي دي. 91- یقیناً هغه چي
کافران شول او په داسي حال کې ومړل چي کافران ول، نو هیڅکله
به د دوی له کوم یوه د زمکي د ډکوالي په اندازه سره زر قبول نشي
که څه هم په فدیه کې ئې ورکړي، دې ډلي ته دردناك عذاب دئ او
هیڅ مرستندوی ئې نشته.

لَن تَنَالُواْ ٱلۡبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فَإِنَّ
ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ﴿٩٢﴾ ۞كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلّٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا
حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ
بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾ فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ
ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩٤﴾ قُلۡ صَدَقَ
ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ
أَوَّلَ بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكٗا وَهُدٗى لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾
فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنٗاۗ وَلِلَّهِ
عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ
تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٨﴾ قُلۡ
يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ تَبۡغُونَهَا
عِوَجٗا وَأَنتُمۡ شُهَدَآءُۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم
بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ ﴿١٠٠﴾

92- هیڅکله به ښېګڼي ته ونه رسئ چي له خپلو محبوبو شیانو څه انفاق نه کړئ او څه چي انفاق کوئ نو الله وربانديي ښه پوه دئ. 93- ټول خوراکي شیان بني اسرائیلو ته حلال وو، مګر هغه چي د تورات له نازلېدو د مخه اسرائیل (یعقوب علیه السلام) په خپله په ځان حرام کړي وو، ووایه: تورات راوړئ او وئې لولئ که رښتیني یئ. 94- نو چا چي له دې وروسته پر الله باندي په دروغو افتراء وکړه، نو همدا دوی ظالمان دي. 95- ووایه: الله رښتیا ویلي، نو د ابراهیم د ملت متابعت وکړئ، هغه چي حنیف وو او له مشرکانو نه وو. 96- یقینا لومړی کور چي د خلکو لپاره وضع شوی همغه دئ چي په مکه کي دئ، مبارك او د نړۍ والو لارښود. 97- په هغه کي ښرګندي نښي دي؛ د ابراهیم د ودرېدو ځای او څوك چي ورننوځي خوندي وي او د خلکو پر هغه چا ئې د الله لپاره حج کول لازم شوي چي د لاري په موندو وتوانېږي او چا چي کفر وکړ نو الله له نړۍ والو بې نیاز دئ. 98- ووایه: اې اهل کتابو! ولي د الله د آیتونو په نسبت کافران کېږئ، په داسي حال کي چي الله پر هغه څه شاهد دئ چي تاسو ئې کوئ. 99- ووایه: اې اهل کتابو! ولي د الله له لاري هغه څوك منع کوئ چي ایمان ئې راوړی، کوږوالی ورته لټوئ، په داسي حال کي چي په خپله شاهد یئ او الله له هغه څه غافل نه دئ چي تاسو ئې کوئ. 100- اې مؤمنانو! که د اهل کتابو د کومي ډلي اطاعت مو وکړ نو له خپل ایمان وروسته به مو کافران کړي.

وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمۡ
رَسُولُهُۥۗ وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ فَقَدۡ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٠١
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم
مُّسۡلِمُونَ ١٠٢ وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ
نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ
فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ
فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ
تَهۡتَدُونَ ١٠٣ وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ
بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٤ وَلَا
تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ
وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٥ يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ
فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡوَدَّتۡ وُجُوهُهُمۡ أَكَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ فَذُوقُواْ
ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ١٠٦ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبۡيَضَّتۡ وُجُوهُهُمۡ
فَفِي رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١٠٧ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا
عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٨

101- او څنګه کافران کېږئ، حال دا چې د الله آیتونه درباندې لوستل کېږي او پیغمبر ئې په تاسو کې دئ او څوک چې په الله اعتصام وکړي نو یقیناً چې سمې لارې ته هدایت شو. 102- اې مؤمنانو! له الله هغسې ووېرېږئ لکه چې له ده د وېرې تقاضاء ده او مه مرئ مګر دا چې مسلمانان وئ. 103- او ټول د الله په رسئ منګولې ولګوئ او مه متفرق کېږئ او پر تاسو باندې د الله هغه نعمت درياد کړئ چې په خپلو کې سره د ښمنان وئ، خو الله ستاسو په زړونو کې الفت واچاوو او د ده په نعمت سره په خپلو کې وروڼه وروڼه شوئ او تاسو د اور د یوې کندې په ژۍ وئ نو له هغې ئې وژغورلئ، همداراز الله تاسو ته خپل آیتونه بیانوي چې هدایت شئ. 104- او له تاسو دې داسې یوه ډله (جوړه شوې) وي چې د خیر په لوري بلنه ورکوي، په معروف امر کوي او له منکر مخنیوی کوي او همدا دوی بریالي دي. 105- او د هغو په څېر مه کېږئ چې په خپلو کې له هغه وروسته بېل بېل شول او اختلاف ئې وکړ چې څرګندې نښې ورته راغلې او د همدغو لپاره ستر عذاب دئ. 106- هغه ورځ چې ځینې مخونه به سپین شي او ځینې مخونه به تور، نو هغه چې مخونه ئې تور شي، (ورته وبه ویل شي) آیا له خپل ایمان وروسته کافر شوئ؟ نو دا عذاب د دې لپاره وڅکئ چې کافر کېدئ. 107- خو هغه چې مخونه به ئې سپین شي نو د الله په رحمت کې به وي، په هغه کې تلپاته. 108- دا د الله آیتونه دي چې په حقه ئې پر تا لولو او الله پر نړۍ والو د ظلم اراده نه لري.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ
﴿١٠٩﴾ كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ
وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ وَلَوۡ ءَامَنَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ
لَكَانَ خَيۡرًا لَّهُمۚ مِّنۡهُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾ لَن
يَضُرُّوكُمۡ إِلَّآ أَذًىۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمۡ يُوَلُّوكُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ثُمَّ لَا
يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيۡنَ مَا ثُقِفُوٓاْ إِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ
ٱللَّهِ وَحَبۡلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتۡ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَسۡكَنَةُۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
وَيَقۡتُلُونَ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقٍّۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ
﴿١١٢﴾ ۞لَيۡسُواْ سَوَآءٗۗ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي
ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾ وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ
فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾

109- او څه چي په آسمانونو او څه چي په زمکي کي دي ټول د الله دي او کارونه ټول د الله په لوري ګرځول کېږي. 110- تاسو تر ټولو غوره امت یئ، چي د خلکو لپاره رابرسېره شوی، چي په معروف ګمارنه کوئ او د منکر مخنیوی کوئ او په الله ایمان لرئ او که اهل کتابو ایمان راوړی وی دا ورته غوره وو، ځیني ئې مؤمنان دي خو اکثر ئې فاسقان دي. 111- له ربړولو پرته هیڅ تاوان نشي دررسولی او که درسره وجنګېږي نو شا به درواړوي او بیا به ئې هیڅ مرسته ونشي. 112- که هر ځای وموندل شي، ذلت پرې تپل شوی، مګر د کومي الهي رسۍ او یا د خلکو د کومي رسۍ په سبب (له دې ذلته وژغورل شي) او په الهي غضب اخته شول او مسکنت پرې وتپل شو، دا له دې امله چي د الله له آیتونو ئې انکار کاوو او په ناحقه ئې د الله پیغمبران وژل، دا له دې امله چي سرغړاوی ئې وکړ او تېری ئې کاوو. 113- ټول سره برابر نه دي، د اهل کتابو یوه ډله (په حق) ولاړه (ډله) ده، د الله آیتونه د شپې په شېبو کي لولي، په داسي حال کي چي سجدې کوي. 114- په الله او د آخرت په ورځي ایمان لري، په معروف امر کوي، د منکر مخنیوی کوي او په ښېګڼو کي تلوار کوي او دوی د صالحانو له ډلي دي. 115- او د خیر کوم کار چي دوی کوي هیڅکله به ضائع نشي او الله په دغو متقیانو ښه پوه دئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ
شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١١٦ مَثَلُ مَا
يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتۡ
حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنۡ
أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةٗ مِّن
دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ
مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ
إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ١١٨ هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ
وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ
عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ
ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩ إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ
وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا
يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ١٢٠ وَإِذۡ
غَدَوۡتَ مِنۡ أَهۡلِكَ تُبَوِّئُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلۡقِتَالِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ
عَلِيمٌ ١٢١

116- بې شکه هغه چي کافران شوي هیڅکله به له الله؛ نه د دوی مالونه څه ترې دفع کړی شي او نه ئې اولادونه او دوی دوزخیان دي، په هغه کي به تلپاته وي. 117- او په دې دنیوي ژوند کي چي څه خرڅوي مثال ئې هغه باد ته ورته دئ چي په کي سخته یخني یا اور وي او د هغه قوم کښت ته ورسېږي او تباه ئې کړي چي په خپل ځان ئې ظلم کړی او الله پر دوی ظلم نه دئ کړی، بلکي دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کاوو. 118- اې مؤمنانو! له خپلو مؤمنانو پرته نور ځان ته رازدار مه نیسئ، هیڅ خرابي درنه نه سپموي، هغه څه خوښوي چي تاسو ځوروي، بغض خو ئې له خولو ښکاره شوی، خو څه چي د دوی سینې ئې پټ ساتي تر دې هم ستر دئ، موږ خو تاسو ته آیتونه بیان کړل که تعقل کولی شئ. 119- دا دئ تاسو دوی ښه ایسوئ خو تاسو د دوی ښه نه ایسئ او تاسو پر ټولو کتابونو ایمان لرئ، او چي درسره مخامخ شي وایي: موږ ایمان لرو! او چي گوښه شي نو پرتاسو د خپل غیظ او کینې له وجهې خپلې گوتې چیچي، ووایه: په خپل غیظ سره ومرئ، بې شکه چي الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ. 120- که کومه ښېگڼه درورسېږي دا ئې خفه کړي او که کوم کړاو درورسېږي پر دې خوښ شي او که صبر او ځان ساتنه وکړئ د دوی دسیسې هیڅ تاوان نشي دررسولی، بې شکه چي الله د دوی په کړنو محیط دئ. 121- او کله چي په سباوون کي له خپله کوره راووتې او مؤمنان دي د جنگ لپاره په مورچلو کي ځای پر ځای کول او الله ښه پوه اورېدونکی دئ.

إِذۡ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمۡ أَن تَفۡشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَاۗ وَعَلَى ٱللَّهِ
فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ
أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓۚ
إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم
بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا
بُشۡرَىٰ لَكُمۡ وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦۗ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ
ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقۡطَعَ طَرَفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡ
يَكۡبِتَهُمۡ فَيَنقَلِبُواْ خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾ لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ أَوۡ يَتُوبَ
عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا
فِي ٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ
﴿١٢٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٣٠﴾ وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾
وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٣٢﴾

122- کله چې ستا سو دوو قبیلو د بې زړه توب قصد وکړ، په داسې حال کې چې الله ئې ولي او مرستندوی وو او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي. 123- او یقیناً چې الله په بدر کې تاسو ته بریا درکړه په داسې حال کې چې تاسو کمزوري وئ، نو له الله وویرېږئ تر څو مو شکر کړی وي. 124- کله چې تا مؤمنانو ته ویل: آیا دا درته کافي نه ده چې ستاسو رب مو په دریو زرو رالېږل شویو ملائکو مرسته وکړي؟ 125- هوکې! که صبر او تقوی وکړئ او دوی په همدې شور ځوږ درباندې راشي، نو ستاسو رب به مو په پنځو زرو نښانمنو ملائکو مرسته وکړي. 126- او دا ئې نه دئ ګرځولی مګر تاسو ته د زېرې په توګه او د دې لپاره چې ستاسو زړونه پرې ډاډه شي، که نه نو بریا له باحکمت عزیز خدای پرته د هیچا له لوري نه وي. 127- تر څو د کافرانو یو لوری قطع (پرې) کړي، یا ئې نسکور کړي، نو نامراده بېرته وګرځي. 128- د دې کار هیڅ څه په تا پوري اړه نه لري، یا به ئې توبه قبلوي او یا به ئې د دې لپاره تعذیبوي چې ظالمان دي. 129- او څه چې په آسمانونو کې او څه چې په زمکه کې دي ټول د الله دي، چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي تعذیبوي ئې او الله مهربان بخښونکی ئ. 130- اې مؤمنانو! سود په څو څو ځله زیاتوالي سره مه خورئ او له الله وویرېږئ چې بریالي شئ. 131- او له هغه اوره ځان وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی. 132- او د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ تر څو رحم درباندې وشي.

۞وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ
وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ ١٣٣ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ
وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤ وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوۡ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ
وَلَمۡ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٣٥ أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم
مَّغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ١٣٦ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ
فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١٣٧
هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ١٣٨ وَلَا تَهِنُواْ
وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩ إِن
يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ
نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ
شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٤٠

133- او د خپل رب د بخښني او د هغه جنت په لوري تلوار وکړئ چي عرض به ئې آسمانونه او زمکه وي، د متقيانو لپاره تيار کړی شوی. 134- هغه چي په سوکالي او تنگسه کې انفاق کوي او د غيظ زغمونکي او د خلکو (له اشتباهاتو) تېرېدونکي دي، او الله دا محسنين خوښوي. 135- او هغه چي کله کوم سپك کار وکړي او يا په خپل ځان ظلم وکړي، نو الله يادوي او د خپلو گناهونو بخښنه غواړي، او له الله پرته بل څوك دئ چي گناه بخښلی شي؟ او په خپلو کړو گناهونو اصرار او ټينگار نه کوي، په داسي حال کې چي پوهېږي. 136- دا هغه کسان دي چي جزاء ئې د خپل رب له لوري بخښنه ده او هغه جنتونه چي ويالې به ترې لاندي بهېږي، په کې تلپاته، د عمل کوونکو اجر څومره غوره دئ!! 137- يقيناً چي تر تاسو وړاندي هم ځيني سنن تېر شوي، نو پر زمکه وگرځئ او وگورئ چي د مکذبينو عاقبت او پايله څنگه وه؟ 138- دا د خلکو لپاره بيان دئ او د متقيانو لپاره لارښود او موعظه. 139- نو مه سست کېږئ او مه غمجن کېږئ او همدا تاسو لوړ يئ که مؤمن وئ. 140- که تاسو ته کوم زخم دررسېږي نو دښمن قوم ته خو هم دغسي زخمونه رسېدلي او دا خو هغه ورځې دي چي په خلکو کې ئې اړوو رااړوو او ترڅو الله هغه کسان معلوم کړي چي ايمان ئې راوړی او له تاسو ځيني شهيدان ونيسي او الله خو دا ظالمان نه خوښوي.

وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤١ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ
أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ
ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٢ وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ
رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ١٤٣ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن
قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُۚ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوۡ قُتِلَ ٱنقَلَبۡتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡۚ وَمَن
يَنقَلِبۡ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ وَسَيَجۡزِي ٱللَّهُ
ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤ وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبٗا
مُّؤَجَّلٗاۗ وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ
ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٥ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ
قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦ وَمَا كَانَ
قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا
وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤٧ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ
ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤٨

141- او دا د دې لپاره چې مؤمنان ښه عيار کړي او کافران نابود کړي. 142- آيا داسې مو انګېرلې چې جنت ته به تر هغه وړاندې ننوځئ چې لا الله نه ستاسو مجاهدين معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!! 143- او يقيناً چې تاسو تر دې د مخه چې له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنا مو کوله، نو دا دئ ومو ليدو په داسې حال کې چې ورته کتل مو. 144- او محمد خو فقط يو استازی دئ چې تر ده مخکې هم ډېر استازي تېر شوي، نو که هغه ومري يا ووژل شي، آيا په خپلو پوندو په شا ګرځئ؟! او څوک چې په خپلو پوندو په شا وګرځي الله ته هيڅ تاوان نشي رسولی او الله به ډېر ژر شاکرانو ته اجر ورکړي. 145- او هيڅ نفس ته نه ښايي چې ومري مګر د الله په اذن سره په ليکل شوې ټاکلې نېټې او څوک چې د دنيا اجر غواړي له همدې ئې برخه ورکوو او څوک چې د آخرت اجر غواړي له هغه ئې برخه ورکوو او ډېر ژر به شکر کوونکو ته غوره بدله ورکړو. 146- او ډېر پيغمبران داسې وو چې ډېر خدای پالونکي ئې په څنګ کې جنګېدلي، خو د الله په لار کې د وررسېدلو مصيبتونو له امله نه سست شول، نه ئې د ضعف احساس وکړ او نه ئې ذلت ومنلو او داسې صبر کوونکي په الله ګران وي. 147- او وينا به ئې له دې پرته بل څه نه وه چې ويل به ئې: اې زموږ ربه! زموږ ګناهونه او په خپلو چارو کې زموږ تېری او اسراف راته وبخښه او زموږ قدمونه استوار کړه او په دې کافر ټولګي موږ ته بری راکړه. 148- نو الله دنيوي بدله هم ورکړه او د آخرت غوره بدله هم؛ او الله داسې محسنين خوښوي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ
أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ١٤٩ بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ
خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ١٥٠ سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ
بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗاۖ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ
وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ١٥١ وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ
تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ
وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ
ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ
لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٥٢ ۞إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ
يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ فَأَثَٰبَكُمۡ غَمَّۢا بِغَمّٖ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ
عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ
١٥٣

149- اې مؤمنانو! که د هغو کسانو اطاعت وکړئ چې کافران شوي، نو په خپلو پوندو به مو بېرته وګرځوي، نو زیانمن به وګرځئ. 150- داسې نه ده بلکې الله ستاسو مل دئ او هغه تر ټولو غوره مرستندوی دئ. 151- حتماً به د کافر شوو په زړونو کې وېره واچوو، د دې لپاره چې له الله سره ئې داسې څه شریك کړي چې کوم دلیل ئې پرې نه دئ نازل کړی او استوګنځی به ئې اور وي او څومره بد دئ د ظالمانو د تېکي ځای. 152- او یقیناً چې الله خپله وعده درسره رښتینې کړه، هغه وخت چې د الله په حکم مو دوی نیول او وژل، تر هغه چې بې زړه شوئ او په هغه کار کې مو په خپلو کې نزاع وکړه او له هغه وروسته مو نافرماني وکړه چې تاسو ته ئې ستاسو محبوب شیان دروښودل، ستاسو ځینو دنیا غوښته او ځینو مو آخرت غوښتو، بیا ئې لدوی راوګرځولئ، تر څو مو وآزمویي او یقیناً چې تاسو ته ئې عفو وکړه او الله خو پر مؤمنانو د فضل څښتن دئ. 153- کله چې بر ختلئ او هیچا ته مو ترشا نه کتل، په داسې حال کې چې پیغمبر له تاسو شا ته (پاته) وو او تاسو ئې وربللئ، نو د پر له پسې غمونو سزا ئې درکړه، تر څو نه په هغه څه غمجن شئ چې له لاسه مو وتلي او نه په هغه څه چې دررسېدلي او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ
مِّنكُمۡۖ وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ
ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ
كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ
لَنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ
لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا
فِي صُدُورِكُمۡ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ١٥٤ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا
ٱسۡتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِبَعۡضِ مَا كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهُمۡۗ إِنَّ
ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ١٥٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ كَانُواْ غُزّٗى لَّوۡ
كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجۡعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسۡرَةٗ فِي
قُلُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١٥٦ وَلَئِن
قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ مِّمَّا
يَجۡمَعُونَ ١٥٧

154- بیا ئې له دې غمونو وروسته پرتاسو د پرکالۍ په بڼه کې هغه ډاډېینه نازله کړه چې ستاسو پر یوې ډلې به غوړېدله او بله ډله بیا داسې وه چې خپلو ځانونو په اندېښنه کې غورځولې وو، د الله په اړه ئې د جاهلیت د دور ناروا ګمانونه کول، ویل ئې: د دې کار څه زموږ په برخه دي؟ ورته ووایه: کار خو ټول د الله (په واك کې) دئ، دوی په خپلو زړونو کې هغه څه پټوي چې تا ته ئې نه څرګندوي، وایي: که د دې کار څه زموږ په برخه وی نو دلته به نه وژل کېدو، ووایه: که په خپلو کورونو کې هم وی نو هغه کسان به هرومرو د خپلې مړینې ځای ته راوتلي وو چې وژنه ئې مقرره شوې وه او چې ستاسو د سینو خبري وآزمویي او ستاسو د زړونو شته عیار کړي او الله د زړونو په شته وو ښه پوه دئ. 155- یقیناً ستاسو کوم کسان چې د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ تر شا شول په حقیقت کې شیطان د خپلو ځینو لاسته راوړنو له امله وښویول، بې شکه چې الله ورته عفو وکړه، یقیناً چې الله حلیم بخښونکی دئ. 156- اې مؤمنانو! د هغو په څېر مه کېږئ چې کافران شول او د خپلو وروڼو په اړه ئې چې په سفر تللي وو او یا ئې غزا کوله وویل: که زموږ په خوا کې وی، نه به مړه شوي وو او نه به وژل شوي وو!! تر څو الله دا خبره د دوی په زړونو کې د حسرت باعث وګرځوي، حال دا چې د ژوند، مرګ پرېکړه الله کوي او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ. 157- او که د الله په لار کې ووژل شئ یا ومرئ نو د الله بخښنه او پېرزوینه تر هغه څه ډېره غوره ده چې نور ئې غونډوي.

وَلَئِن مُّتُّمۡ أَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحۡشَرُونَ ١٥٨ فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ
لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ
فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ
فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩ إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا
غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ
وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٦٠ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّۚ وَمَن يَغۡلُلۡ
يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا
يُظۡلَمُونَ ١٦١ أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٖ مِّنَ ٱللَّهِ
وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦٢ هُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ
بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ١٦٣ لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ
رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ
ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ١٦٤ أَوَلَمَّآ
أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ
عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٦٥

158- او که ومرئ یا ووژل شئ نو هرو مرو به د الله په لوري راغونډ کړی شئ. 159- نو د خپل رب د رحمت له کبله ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی، نو ستا له شا او خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، نو چې عزم دې وکړ بیا خو په الله توکل کوه، یقیناً چې الله توکل کوونکي خوښوي. 160- که الله مو مرسته وکړي نو هیڅ غالبېدونکی (دښمن) نه لرئ او که مو یوازې پرېږدي، نو هغه به څوك وي چې له ده وروسته مو مرسته وکړی شي؟ او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي. 161- او هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چې (په غنیمت کې) خیانت وکړي او څوك چې خیانت وکړي نو دا خیانت شوی شی به د قیامت په ورځ (له ځان سره) راوړي، بیا به هر چا ته خپله لاسته راوړنه پوره ورکړی شي او ظلم به پرې نه کېږي. 162- آیا هغه څوك چې د الله په رضاء پسې شوی، د هغه چا په څېر کېدی شي چې د الله په قهر او غضب اخته شوی او ځای ئې دوزخ دئ او د ورگرځېدو څومره بد ځای؟! 163- دوی د الله په نزد درجې دي او الله دهغه څه لیدونکی دئ چې دوی ئې کوي. 164- یقیناً چې الله پر مؤمنانو احسان وکړ چې په دوی کې ئې د دوی له منځه داسي پیغمبر مبعوث کړ چې پر دوی باندي ئې آیتونه لولي، د دوی روزنه کوي او کتاب او حکمت ورښیي، په داسي حال کې چې تر دې وړاندي یقیناً په څرگندي تېروتني کې وو. 165- آیا کله چې داسي مصیبت دررورسېدو چې د دې دوه برابره مو (دښمن ته) رسولی وو، نو ویل مو: دا له کومه؟! ووایه: دا په خپله ستاسو لخوا دئ، یقیناً چې الله په هر څه ښه قادر دئ.

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٦٦
وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ
ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ
مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ
بِمَا يَكۡتُمُونَ ١٦٧ ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا
قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٦٨
وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ
يُرۡزَقُونَ ١٦٩ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَيَسۡتَبۡشِرُونَ
بِٱلَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُواْ بِهِم مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ١٧٠ *يَسۡتَبۡشِرُونَ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا
يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٧١ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ
مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ١٧٢
ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ
فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣

166- او هغه څه چي د دوو فوځونو د مخامخ کېدو په ورځ دروړسېدل، دا خو د الله په حکم او د دې لپاره وو چي مؤمنان معلوم کړي. 167- او د دې لپاره چي هغه کسان هم معلوم کړي چي منافقت ئې کاوو او چي ورته وويل شو: راشئ يا د الله په لار کي وجنګېږئ يا دفاع وکړئ! وئې ويل: که د کوم جنګ پوهه مو وی حتماً مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنژدې وو، تر هغه واټن چي له ايمانه ئې درلودو، په خوله ئې هغه څه ويل چي په زړونو کي ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چي دوی ئې پټوي. 168- هغه چي خپلو ورونو ته ئې وويل، په داسي حال کي چي په خپله کښېنستلي وو: که ئې زموږ خبره منلې وی؛ نه به وژل کېدل، ووايه: له خپله ځانه مرګ دفع کړئ که رښتيني يئ. 169- او هغه کسان مړه مه ګڼئ چي د الله په لار کي شهيدان شوي، دوی ژوندي دي او د الله په خوا کي ورته روزي ورکول کېږي. 170- الله چي له خپل فضله څه د دوی په برخه کړي، په هغه خوشحالي کوي او د هغو کسانو لپاره هم چي لاتراوسه لدوی سره نه دي يوځای شوي او د دوی تر شا دي، له دې کبله خوشحالي کوي چي نه به پر دوی څه وېره وي او نه به غمجن شي. 171- د الله په نعمتونو او فضل به خوشحالي کوي او په دې هم چي الله د مؤمنانو اجر نه ضائع کوي. 172- هغه چي د الله او د ده د پيغمبر بلنه ئې په داسی حال کي ومنله چي پرهارونه وررسېدلي وو، د دوی چي چا د احسان او تقوا لار غوره کړه، ستر اجر ئې دئ. 173- هغه چي خلکو ورته وويل: ډېر خلك درته راغونډ شوي، لدوی بايد ووېرېږي، نو دې خبري د دوی ايمان مزيد زيات کړ او ويل به ئې: الله موږ ته کافي دئ، ښومره غوره پالونکی.

فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ
ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ١٧٤ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ
أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٥ وَلَا يَحۡزُنكَ
ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ
أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٧٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ
ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ
١٧٧ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا
نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٧٨ مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِۗ وَمَا
كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ
مَن يَشَآءُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ
عَظِيمٞ ١٧٩ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ
هُوَ خَيۡرٗا لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ
وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١٨٠

174- نو د الله له نعمتونو او پېرزوینو سره بېرته راوګرځېدل، په داسي حال کې چې هيڅ تاوان نه دئ وررسېدلی او د الله په رضاء پسي ولاړل او الله د لوی فضل خاوند دئ. 175- دا خو فقط شيطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ. 176- او هغه کسان دي تا غمجن نه کړي چې د کفر په لوري تلوار کوي، هيڅکله الله ته تاوان نشي رسولی، الله غواړي چې په آخرت کې هيڅ برخه ورپه برخه نه کړي او دوی ته ستر عذاب دئ. 177- يقيناً چا چې کفر د ايمان په بيع وپېرلو، الله ته هيڅ تاوان نشي رسولی او دوی ته دردناك عذاب دئ. 178- او کافران دي ګمان نه کوي چې زموږ له لوري مهلت ورکول ئې په ګټه دئ، موږ خو د دې لپاره دا مهلت ورکوو چې د لازياتو ګناهونو مرتکب شي او سپکوونکی عذاب ئې په برخه شي. 179- الله تعالی داسي نه دئ چې مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو پرته همداسي ستاسو په موجوده حالت کې پرېږدي او الله داسي هم نه دئ چې تاسي له غيبه خبر کړي، لکن الله له پيغمبرانو چې څوك وغواړي هغه غوره کوي، نو په الله او په پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ، که مو ايمان راوړ او تقوی مو غوره کړه نو ستاسي لپاره ستر اجر دئ. 180- او چا ته چې الله د خپل فضل څه ورکړي خو هغه په کې بخل کوي، ګمان دي نه کوي چې دا ئې په ګټه دئ، نه؛ دا ورته بد دئ، حتماً به د قيامت په ورځ هغه څه ورته د غاړې امېل شي چې بخل ئې په کې کاوو او د زمکې او آسمانونو ميراث خو د الله دئ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

لَّقَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٞ وَنَحۡنُ أَغۡنِيَآءُۘ
سَنَكۡتُبُ مَا قَالُواْ وَقَتۡلَهُمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَنَقُولُ ذُوقُواْ
عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ١٨١ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ
بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ١٨٢ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيۡنَآ أَلَّا نُؤۡمِنَ
لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأۡتِيَنَا بِقُرۡبَانٖ تَأۡكُلُهُ ٱلنَّارُۗ قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ
رُسُلٞ مِّن قَبۡلِي بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِي قُلۡتُمۡ فَلِمَ قَتَلۡتُمُوهُمۡ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٨٣ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ
جَآءُو بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ ١٨٤ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ
ٱلۡمَوۡتِۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ
ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ
ٱلۡغُرُورِ ١٨٥ *لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى
كَثِيرٗاۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٨٦

181- يقيناً چې الله د هغو کسانو خبره هم اورېدلې چې ويل ئې: خدای فقير دئ او موږ غنيان يو، حتماً به هغه څه هم وليکو چې دوی ويلي او په ناحقه د پيغمبرانو وژنه ئې هم؛ او ورته وبه وايو: د سوزوونکي اور عذاب وڅکئ. 182- دا د هغه څه له کبله چې ستاسو خپلو لاسونو وړاندې کړي وو او الله خو په بندګانو ظلم کوونکی نه دئ. 183- هغه چې وايي: موږ ته خو الله دا فرمان رالېږلی چې تر هغه په کوم پيغمبر ايمان رانه وړو چې داسې قرباني ئې نه وي راوړې چې اور ئې خوري، ووايه: تاسو ته خو تر ما مخکې هم پيغمبران له څرګندو نښو سره او له هغه څه سره راغلي وو چې تاسو وويل، که رښتيني وئ نو هغوی مو ولې ووژل؟! 184- نو که ئې ته تکذيب کړی يې، له تا مخکې نور پيغمبران هم تکذيب کړی شوي، هغه چې څرګندې نښې، روښانه کتابونه او صحيفې ئې راوړې وې. 185- هر نفس د مرګ د خوند څکونکی دئ او خبره دا ده بله نه ده چې د قيامت په ورځ به خپل اجر په بشپړه توګه ترلاسه کوئ، نو څوک چې له اوره وژغورل شو او جنت ته ننووت، بې شکه چې بريالی شو او د دنيا دا ژوند خو له غولونکې متاع پرته بل څه نه دئ. 186- حتماً به په خپل مال او ځان کې وآزمويل شئ او هرومرو به له هغو چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او له هغو چې مشرکان شوي ډېرې ځورونې واورئ او که صبر او تقوی وکړئ نو دا له همتناکو کارونو دئ.

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا
تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ
فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ١٨٧ لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ
وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ
ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨٨ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١٨٩ إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٠ ٱلَّذِينَ
يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا
عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٩١ رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ١٩٢ رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ
أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا
سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ١٩٣ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ
وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ١٩٤

187- او کله چي الله له اهل کتابو دا ژمنه ترلاسه کړه چي هرومرو به
ئې خلکو ته بیانوئ او نه به ئې پټوئ، خو خپلي شا ته ئې وغورځاوو او
ناځیزه بیع ئې پرې وپېرله، څومره بد دئ هغه څه چي دوی ئې پېري.
188- ګمان مه کوه، هغه کسان چي څه ئې کړي په هغه خوشحالي کوي
او دا ئې خوښېږي چي په نه کړو کارونو ئې ستاینه وشي، دوی له عذابه
د ژغورني په دریځ کي مه ګڼه او دوی ته دردناك عذاب دئ. 189- او د
آسمانونو او زمکي پاچایي د الله ده او الله په هر کار ښه قادر دئ. 190-
یقیناً چي د آسمانونو او زمکي په پیدایښت کي او د شپې او ورځي په تلو
راتلو کي عقلمنو ته ډېري نښي دي. 191- هغه چي الله په ولاړه، ناسته
او په خپل اړخ ملاسته یادوي او د آسمانونو او زمکي په پیدایښت کي فکر
کوي، چي اې زموږ ربه! دا دي خوشي نه دي پیدا کړي، پاکي ده تا ته،
موږ د اور له عذابه وساته. 192- اې زموږ ربه! بې شکه څوك چي اور
ته داخل کړې نو هغه دي رسوا کړ او ظالمان خو هیڅ مرستندوی نه لري.
193- اې زموږ ربه! یو بلونکی مو واورېدو چي د ایمان په لوري ئې دا
بلنه ورکوله چي په خپل رب ایمان راوړئ، نو ایمان مو راوړ، اې زموږ ربه!
نو زموږ ګناهونه راته وبخښه او زموږ بدي او سیئات رانه ورېژوه او له
نېکانو سره مو وفات کړه. 194- اې زموږ ربه! هغه څه راپه برخه کړه
چي وعده دې د پیغمبرانو په واسطه راسره کړې ده او د قیامت په ورځ
مو مه رسوا کوه، بې شکه چي ته له وعدې؛ نه په شا کېږې.

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن
ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ
مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ
سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ
عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ١٩٥ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ١٩٦ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ
وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٩٧ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ
ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ١٩٨ وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ
وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ١٩٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ
وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٢٠٠

195- نو الله په خوب کې ورته وفرمایل چې زه د هیڅ عمل کوونکي
عمل نه ضائع کوم، که نارینه وي او که ښځینه، تاسو ټول یو له
بل یئ، نو هغه چې هجرت ئې وکړ، له خپل کور کلي وایستل
شول، زما په لار کې وځورول شول، وجنګېدل او ووژل شول، نو
هرو مرو به ئې سیئات محو کړم او حتماً به ئې په هغو جنتونو
کې داخل کړم چې ویالې ترې لاندي بهېږي، د الله له لوري یوه بدله
او له الله سره خو ښایسته بدله شته. 196- په ښارونو کې د کافر
شوو لاندي باندي کېدل دې ونه غولوي. 197- دا ناڅیزه متاع ده،
بیا ئې مېشت ځای د اور کنده ده، څومره بد استوګنځی!! 198-
خو هغه چې له خپل رب ئې تقوی کړې وي، دوی ته داسي جنتونه
دي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، د الله له لوري
یوه مېلمستیا او څه چې له الله سره دي، هغه د ابرارو لپاره ډېر
غوره دي. 199- او له اهل کتابو ځیني هغه دي چې هم په الله
ایمان راوړي، هم په هغه څه چې تاسو ته نازل شوی او هم په
هغه څه چې دوی ته نازل شوی، الله ته خاشع دي او د الله په
آیتونو باندي ناڅیزه بیع نه پېري، دوی ته د خپل رب په خوا کې
خپل اجر دئ، بې شکه چې الله ژر محاسبه کوونکی دئ. 200- اې
مؤمنانو! صبر کوئ او صابر اوسئ، اړیکي ټینګي وساتئ او تقوی
وکړئ چې بریالي شئ.

## النساء، مدني 176آيتونه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ
مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي
تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١ وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ
أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ
أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ٢ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ
فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ
أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ٣
وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا
فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ٤ وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ
لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٥
وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ
إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا
فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ
أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې خلکو! له خپل هغه رب ووېرېږئ چې له يوه نفس ئې راپيدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه راپيدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، هم د هغه الله په نسبت تقوی ولرئ چې په خپلو کې غوښتنې پرې کوئ او هم د خپلوۍ په اړه، بې شکه چې الله ستاسو څارونکی دئ. 2- او يتيمانو ته د دوی خپل مالونه ورکړئ او ناپاك په پاك مه بدلوئ او د دوی مالونه تر خپلو مالونو پورې مه خورئ، بې شکه چې دا لويه گناه ده. 3- او که له دې ووېرېدئ چې د يتيمانو په اړه به عدالت ونکړئ، نو له دغو ښځو د خپلې خوښې دوه دوه، درې درې او څلور څلور په نکاح کړئ، خو که ووېرېدئ چې عدالت به ونکړئ نو بيا به يوازې يوه وي او په خپل واك کې وينځې مو، دا دې ته نژدې ده چې ظلم ونکړئ. 4- ښځو ته د دوی مهر په ورين تندي ورکړئ، خو که له خپل لورې ئې په خوښه د هغه کومه برخه درکړه نو بې غمه ئې په خوند خوند وخورئ. 5- او کمعقلو ته خپل هغه مالونه مه سپارئ چې الله ستاسو لپاره د قيام ذريعه گرځولې، برعکس په هغه کې ئې د رزق، روزې او جامو انتظام وکړئ او غوره وينا ورته وکړئ. 6- او تر هغه يتيمان آزمويئ چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي، نو که د دوی هوښيارې مو احساس کړه، نو مالونه ئې وروسپارئ. او د دې لپاره په اسراف او تلوار سره د دوی مالونه مه مصرفوئ چې ستر به شي؛ او څوك چې غني وي نو پرهېز دې وکړي او څوك چې نېستمن وي په مناسبه توگه دې مصرف کړي او کله چې دوی ته خپل مالونه مسترد کوئ نو شاهدان ورباندې ونيسئ او الله د حساب کوونکي په توگه کافي دئ.

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ
مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا
مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾ وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُو۟لُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ
وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾
وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا۟ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُوا۟ عَلَيْهِمْ
فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ
ٱلْيَتَٰمَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا
﴿١٠﴾ يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِىٓ أَوْلَٰدِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۚ فَإِن
كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۖ وَإِن كَانَتْ وَٰحِدَةً
فَلَهَا ٱلنِّصْفُ ۚ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَٰحِدٍ مِّنْهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن
كَانَ لَهُۥ وَلَدٌ ۚ فَإِن لَّمْ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٌ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُ ۚ
فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُ ۚ مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِى بِهَآ
أَوْ دَيْنٍ ۗ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۚ
فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١﴾

7- نارينه وو ته له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي ځانګړې برخه ده او ښځينه وو ته هم له هغه څه چې مور پلار او خپلوان ئې شا ته پرېږدي ځانګړې برخه ده، که دا لږ وي یا ډېر، ټاکل شوې برخه ده. 8- او کله چې دې وېش ته خپلوان، یتیمان او مسکینان راحاضر شي، نو دوی ته هم له دې څه رزق روزي ورکړئ او کومه غوره وینا ورته وکړئ. 9- او هغه کسان دي ووېرېږي چې که ترشا ئې کمزوري اولاد پرېښودی نو پرې وېرېدل به، نو له الله دي ووېرېږي او سمه خبره دي وکړي. 10- یقیناً هغه چې د یتیمانو مالونه په ظلم سره خوري، دوی په خپلو خېټو کې له اوره پرته بل څه نه اچوي او ژر به اور ته ننوځي. 11- الله د خپل اولاد په اړه درته توصیه کوي: نارینه ته به د دوو ښځو د برخي په څېر وي، نو که ټول ئې تر دوو زیاتي ښځي وي نو دوی ته به د ده د پرېښي (مال) دوه ثلثه وي او که یوه وي نو نیمایي به ئې د دې وي، او پلار، مور ته ئې، هر یوه ته، د ده د پرېښي (مال) شپږمه برخه ده، که ئې اولاد وو، خو که ئې اولاد نه وو او میراث ئې مور، پلار ته پاته شوی وو، نو مور ته ئې درېیمه برخه ده، خو که ئې ورونه وو، نو مور ته ئې شپږمه برخه ده، له هغه وصیت وروسته چې دی ئې کوي او له پور وروسته، نه پوهېږئ چې کوم یو به ئې په نفع کې تاسو ته نژدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فریضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمت پوه دئ.

۞وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ أَزۡوَٰجُكُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٞۚ
فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٞ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡنَۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ
يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن
لَّكُمۡ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَكُمۡ وَلَدٞ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكۡتُمۚ مِّنۢ
بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۗ وَإِن كَانَ رَجُلٞ يُورَثُ كَلَٰلَةً
أَوِ ٱمۡرَأَةٞ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٞ فَلِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُۚ فَإِن
كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ
يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرّٖۚ وَصِيَّةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَلِيمٞ ﴿١٢﴾ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ
جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٣﴾ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ
يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٤﴾

12- او تاسو ته د هغه څه نيمايي دي چي ستاسو مېرمنو شا ته پرېښي، که ئې اولاد نه وو، خو که ئې اولاد وو نو بيا تاسو ته د هغه څه څلورمه برخه ده چي دوی ئې تر شا پرېږدي، له پور او هغه وصيت وروسته چي دوی ئې کوي او دوی ته د هغه څه څلورمه برخه ده چي تاسو ئې تر شا پرېږدئ، که اولاد مو نه وو، خو که اولاد مو درلود، نو بيا دوی ته د هغه څه اتمه ده چي تاسو ئې تر شا پرېږدئ، له پور او هغه وصيت وروسته چي تاسو ئې کوئ او که هغه څوك چي ميراث ترې وړل کېږي؛ کلاله وي (بې پلاره او بې اولاده) او يا همداسي ښځه وي او کوم ورور يا کومه خور ئې وي، نو د دوی هر يوه ته شپږمه ده او که تر دې زيات وي نو دوی ټول په درېيمه کي سره ګډ دي، له هغه وصيت چي سپارښتنه ئې کېږي او له پور وروسته، ضرر نه رسوونکی، د الله له لوري يوه توصيه، او الله حليم پوه دئ. 13- دا الهي حدود دي او چا چي د الله او د ده د رسول اطاعت وکړ، داسي جنت ته به ئې داخل کړي چي ويالې به ترې لاندي بهېږي، په هغه کي تلپاته او همدا ستره بريا ده. 14- او چا چي له الله او د ده له رسوله سرغړاوی او د ده له حدودو ئې تېری وکړ، داسي اور ته به ئې ننباسي چي په کي تلپاته به وي او ده ته به سپکوونکی عذاب وي.

وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ
أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ
يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ١٥ وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا
مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ تَوَّابٗا رَّحِيمًا ١٦ إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ
ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ
عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧ وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ
يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ
ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ
عَذَابًا أَلِيمٗا ١٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَرِثُواْ
ٱلنِّسَآءَ كَرۡهٗاۖ وَلَا تَعۡضُلُوهُنَّ لِتَذۡهَبُواْ بِبَعۡضِ مَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ
إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِن
كَرِهۡتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكۡرَهُواْ شَيۡـٔٗا وَيَجۡعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيۡرٗا
كَثِيرٗا ١٩

15- او ستاسو هغه مېرمني چي فحش کار (زنا) کوي، نو په دوی باندي له خپل منځ څلور شاهدان وغواړئ، نو که ئې شهادت ورکړ، بیا ئې تر هغه په خونو کي حصاري کړئ چي مرگ ئې کار ترسره کړي او یا الله ورته کومه لار وټاکي. 16- او که ستاسو دوه نارینه دا کار وکړي نو وئې ځوروئ، که ئې توبه وکړه او ځان ئې اصلاح کړ، نو ترې تېر شئ، یقیناً چي الله مهربان توبه منونکی دئ. 17- په الله باندي خو یوازي د هغو توبه (قبلول) دي چي دا بد کار په ناپوهۍ سره کوي، بیا ورپسې نژدې توبه کوي، نو الله به پر دغو کسانو (له خپل رحمت سره) راگرځي او الله باحکمت پوه دئ. 18- او دا توبه د هغو لپاره نه ده چي تر هغه بد کارونه کوي چي کوم یوه ته ئې مرگ راوړاندي شي نو وايي: اوس مي توبه ده او نه هم د هغو لپاره چي کافر مري، دوی خو هغه دي چي دردناك عذاب مو ورته تیار کړی. 19- اې مؤمنانو! درته روا نه ده چي ښځي په زور په میراث کي واخلئ او د دې لپاره ئې مه تنگوئ چي د خپلو ورکړو شیانو څه برخه بېرته ترې واخلئ، مگر دا چي کومه ښرگنده بدکاري وکړي او په ښه توگه ورسره ژوند وکړئ، که مو ښه نه ایسي نو کېدی شي چي کوم څه مو خوښ نه وي خو الله په کي ډېر خیر واچوي.

وَإِنۡ أَرَدتُّمُ ٱسۡتِبۡدَالَ زَوۡجٖ مَّكَانَ زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ
قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا
﴿٢٠﴾ وَكَيۡفَ تَأۡخُذُونَهُۥ وَقَدۡ أَفۡضَىٰ بَعۡضُكُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ
وَأَخَذۡنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿٢١﴾ وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ
ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ
وَمَقۡتٗا وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٢٢﴾ حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ
وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ وَعَمَّٰتُكُمۡ وَخَٰلَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ
وَبَنَاتُ ٱلۡأُخۡتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم
مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي
حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ تَكُونُواْ
دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ
مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ
إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٣﴾

20- او كه مو يوه ښځه په بلې ښځې بدلول وغوښتل او د دوی كومې يوې ته مو ډېر مال سپارلی وي، نو هيڅ څه ترې بېرته مه اخلئ، آيا په بهتان او ښكاره ګناه سره ئې بېرته اخلئ؟! 21- او څنګه به ئې بېرته اخلئ حال دا چې په خپلو منځونو كې مو مباشرت كړی او له تاسو ئې كلكه ژمنه ترلاسه كړې. 22- او له هغو ښځو څوك مه په نكاح كوئ چې ستاسو پلرونو په نكاح كړې، مګر هغه څه چې مخكې تېر شوي، يقيناً چې دا ښكاره بې حيائي، د غضب وړ كار او بده طريقه ده. 23- خپلې ميندې، خپلې لوڼې، خپلې خويندې، خپلې ترېندې (د پلار خويندې)، خپلې توريانې، وريرې، خورزې او هغه رضاعي ميندې مو چې تی ئې دركړی او رضاعي خويندې مو او د خپلو مېرمنو ميندې مو او په خپل كور كې له هغو مېرمنو ستاسو پركټې چې نژدېوالی مو ورسره كړی، كه مو نژدېوالی نه وي ورسره كړی نو څه ګناه به درباندې نه وي او د خپلو اصلي زامنو مېرمنې (ږنندې) مو او دا چې دوه خويندې سره يو ځای په نكاح كړئ، دا (ټولې) درباندې حرامې كړی شوې، مګر هغه څه چې مخكې تېر شوي، يقيناً چې الله مهربان بخښونكی دئ.

۞وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ كِتَٰبَ
ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمۡ أَن تَبۡتَغُواْ
بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ
فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا تَرَٰضَيۡتُم
بِهِۦ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡفَرِيضَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ٢٤ وَمَن لَّمۡ
يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلًا أَن يَنكِحَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ فَمِن
مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ
بِإِيمَٰنِكُمۚ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ
وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا
مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ
نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ
ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ وَأَن تَصۡبِرُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٥
يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ
وَيَتُوبَ عَلَيۡكُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٦

24- او مېروښي ښځې مگر هغه چې ستاسو په واك كې وي، دا پر تاسو ليكلې الهي فريضه ده او له دې سوا درته روا كړى شوې چې په خپل مال سره ئې د نكاح كوونكو په توگه لټه وكړئ، نه د زنا كوونكو په توگه، نو كه په دې (مال) سره مو له دغو ښځو تمتع (گټه) اخيستل وغوښتل، نو فرض مهر ئې وركړئ او له مهر وروسته په هغه څه كې كومه گناه درباندې نشته چې په خپلو كېورباندې راضي شئ، بې شكه چې الله باحكمت پوه دئ. 25- او ستاسو هغه څوك چې د شتمنۍ له پلوه هومره توان نلري چې مؤمني مېرمني ځان ته په نكاح كړي نو بيا دې په خپل واك كې له باايمانه وينځو (څوك په نكاح كړي) او الله ستاسو په ايمان ښه پوه دئ، تاسو يو له بله يئ، نو د خپلو خاوندانو په اجازه ئې په نكاح كړئ او مهر ئې په ښه توگه وركړئ، د نكاح په حصار كې راتلونكې، نه زنا كونكې او نه د پټې يار نيونكې، نو چې په نكاح كې راغلې، كه ئې بيا كومه بې حيائي وكړه، نو په دوى د آزادو مېرمنو د عذاب نيمايي ده، دا مو د هغه چا لپاره چې له كړاو ئې وېره وه او كه صبر وكړئ دا درته غوره دئ او الله مهربان بخښونكى دئ. 26- الله غواړي چې تاسو ته ئې بيان كړي او د هغو كسانو دود دستور دروښيي چې له تاسو مخكې وو او په رحمت سره درباندې راوگرځي او الله باحكمت پوه دئ.

وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ
أَن تَمِيلُواْ مَيۡلًا عَظِيمٗا ٢٧ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ وَخُلِقَ
ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا ٢٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم
بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا
تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٢٩ وَمَن يَفۡعَلۡ
ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ
يَسِيرًا ٣٠ إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ
سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ٣١ وَلَا تَتَمَنَّوۡاْ مَا فَضَّلَ
ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ
وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ٣٢ وَلِكُلّٖ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ مِمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ
وَٱلۡأَقۡرَبُونَۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَـَٔاتُوهُمۡ نَصِيبَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ٣٣

27- الله خو غواړي چې په رحمت سره دربانديي راوګرځي او هغه کسان چې په شهواتو پسې روان دي دا غواړي چې په ډېر کوږوالي سره کاږه شئ. 28- الله دا غواړي چې درنه سپك ئې کړي او انسان خو کمزوری پيدا شوی. 29- اې مؤمنانو! مالونه مو په خپل منځ کې په ناروا مه خورئ، مګر دا چې ستاسو د رضامندۍ تجارت وي او ځان وژنه مه کوئ (خپلوان مو مه وژنئ)، يقيناً چې الله دربانديي مهربانه دئ. 30- او چا چې په تېري او ظلم سره دا کار وکړ، حتماً به ئې اور ته ننباسو او دا خو الله ته آسان دئ. 31- که مو له سترو سترو منع شوو ډډه وکړه، بد بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو. 32- او د هغه څه هيله مه کوئ چې الله ستاسو يوه ته پر بل پرې فضيلت ورکړی، نارينه وو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه ده او ښځو ته د خپلو لاسته راوړنو ځانګړې برخه او له الله د ده فضل وغواړئ، يقيناً چې الله په هر څه ښه پوه دئ. 33- او هر چا ته مو د هغه څه لپاره وارثان ټاکلي چې والدين او خپلوان ئې تر شا پرېږدي او هغه چې ستاسو لوړو او قسمونو (درسره) تړلي دي، خپله برخه ئې ورکړئ، بې شکه چې الله په هر څه شاهد دئ.

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ

وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا
تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا كَبِيرٗا ٣٤ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ
شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا فَٱبۡعَثُواْ حَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهِۦ وَحَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن
يُرِيدَآ إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرٗا
٣٥ ۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا
وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ
وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ
أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ٣٦ ٱلَّذِينَ
يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِ وَيَكۡتُمُونَ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ
مِن فَضۡلِهِۦۗ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ٣٧

34- نارينه پر ښځو قيم ( مدبر او منتظم) دي، د هغه فضيلت په وجه هم چې الله يوه ته پر بل ورکړی او د خپلو مالونو د انفاق په وجه هم، نو صالحې ښځې مطيع وي او په غياب کې د هغه څه ساتونکې وي چې الله خوندي کړي او د کومو ښځو له بدخويي او سرغړاوي چې وېره لرئ نو نصيحت ورته وکړئ، په بستر کې ترې لرې شئ او وئې وهئ، نو که ستاسو اطاعت ئې وکړ نو هسې حيلې او بهانې ورته مه لټوئ، بې شکه چې الله ستر لوړ دئ. 35- او که د دوی ترمنځ له بېلتون ووېرېدئ نو يو حَکَم د ده له کورنۍ او يو حَکَم د دې له کورنۍ ورولېږئ، که ئې د اصلاح اراده وه نو الله به د دواړو ترمنځ موافقت راولي، يقيناً چې الله باخبر پوه دئ. 36- او د الله عبادت وکړئ او هيڅ څه ورسره مه شريکوئ او له والدينو سره ښېګڼه وکړئ او له خپلوانو سره، له يتيمانو، مسکينانو، خپل ګاونډي، لرې ګاونډي، په څنګ کې ملګري، مسافر سره او له هغه چا سره چې ستاسو په واك کې دي او الله هغه څوك نه خوښوي چې ځان ستايونکی کبرجن وي. 37- هغه چې (پخپله هم) بخل کوي او (نور) خلك (هم) په بخل ګماري او الله چې له خپل فضل څه ورکړي هغه پټوي او دغو کافرانو ته مو سپکوونکی عذاب تيار کړی.

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا
بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيۡطَٰنُ لَهُۥ قَرِينٗا فَسَآءَ قَرِينٗا ﴿٣٨﴾
وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ
ٱللَّهُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا ﴿٣٩﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن
تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٤٠﴾ فَكَيۡفَ
إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدٗا ﴿٤١﴾
يَوۡمَئِذٖ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ
وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ﴿٤٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ
ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا
عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْۚ وَإِن كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ
جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ
مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ
ٱلۡكِتَٰبِ يَشۡتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ﴿٤٤﴾

38- او هغوی چې خلکو ته د ځان ښودنې لپاره خپل مال لګوي او نه په الله ایمان لري او نه د آخرت په ورځې او د چا چې شیطان ملګری شي نو څومره بد دئ دا ملګری. 39- او په دوی به څه شوي وو که ئې په الله او د آخرت په ورځې ایمان لرلی او الله چې کومه روزي ورکړې له هغه ئې څه انفاق کړي وی! او الله ورباندې ښه پوه دئ. 40- بې شکه چې الله د یوې ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي او که هغه کومه ښېګڼه وي نو دوه برابره به ئې کړي او له خپل لوري به ستره بدله ورکړي. 41- نو څنګه به وي چې له هر امت یو شاهد راولو او تا پر دغو شاهد راولو؟ 42- په دې ورځ به هغه چې کافران شوي او له پیغمبر ئې سرغړاوی کړی، دا خوښوي چې کاش زمکه پر دوی آواره شي او هیڅ خبره به له الله نشي پټولی. 43- اې مؤمنانو! په داسي حال کې لمانځه ته مه نژدې کېږئ چې مست یئ، تر څو په هغه څه پوه شئ چې تاسو ئې وایئ او نه په هغه حال کې چې جنب یئ، مګر دا چې لاروي یئ، تر هغه چې غسل وکړئ؛ او که بیمار وئ او یا په سفر باندې او یا مو کوم یو له بیدیا راوګرځي او یا مو له مېرمنو سره نژدېوالی وکړ او اوبه مو ونه موندې، نو د پاکې خاورې تیمم وکړئ او په خپلو مخونو او لاسونو ئې مسح کړئ، بې شکه چې الله بخښونکی عفو کوونکی دئ. 44- آیا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې څه برخه د کتاب ورکړی شوې، ضلالت او تېروتنه پېري او دا غواړي چې تاسو هم بې لاري شئ.

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِأَعۡدَآئِكُمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيّٗا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرٗا ﴿٤٥﴾
مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعۡنَا
وَعَصَيۡنَا وَٱسۡمَعۡ غَيۡرَ مُسۡمَعٖ وَرَٰعِنَا لَيَّۢا بِأَلۡسِنَتِهِمۡ وَطَعۡنٗا فِي
ٱلدِّينِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَا وَٱسۡمَعۡ وَٱنظُرۡنَا لَكَانَ خَيۡرٗا
لَّهُمۡ وَأَقۡوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا
قَلِيلٗا ﴿٤٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلۡنَا مُصَدِّقٗا
لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبۡلِ أَن نَّطۡمِسَ وُجُوهٗا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدۡبَارِهَآ أَوۡ
نَلۡعَنَهُمۡ كَمَا لَعَنَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلسَّبۡتِۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ مَفۡعُولًا ﴿٤٧﴾
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ
وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ
يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾
ٱنظُرۡ كَيۡفَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثۡمٗا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾
أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡجِبۡتِ
وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهۡدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾

45- او الله ستاسو په دښمنانو ښه پوه دئ او الله د مولا په توګه کافي دئ او الله د مرستندوی په توګه کافي دئ. 46- له یهودانو ځیني د الله کلام له خپل خپل ځایه کږوي او وایي: موږ اوریدلي، ومو نه مانو، ته ئې واوره نه اورېدونکیه؛ او د خپلو ژبو په تاوولو سره راعنا وایي، په دین باندي طعن وهونکي؛ او که دوی ویلي وی چي موږ واورېدو، منونکي ئې شوو، واوره، موږ ته نظر وکړه، نو دا ورته غوره وه او ډېره سمه، خو الله دوی د خپل کفر له کبله رټلي دي، نو ځکه ایمان نه راوړي مګر ډېر لږ. 47- اې هغو چي کتاب ورکړی شوی! په هغه څه ایمان راوړئ چي موږ نازل کړی او له تاسو سره د شته کتاب تصدیقوونکی دئ، له هغه د مخه چي ځیني مخونه ویجاړ کړو او تر شا ئې واړوو، یا ئې داسي ورټو لکه شنبه وال چي مو ورټل او د الله امر خو ترسره کېدونکی دئ. 48- یقیناً چي الله شرك نه بخښي او له شرك پرته نور څه هر هغه چا ته بخښي چي د ده خوښه وي او څوك چي له الله سره شرك وکړي نو د ستړي ګناه افتراء ئې کړې. 49- آیا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي خپل ځانونه ستایي، نه؛ دا خو (یوازي) الله دئ چي څوك ئې خوښ وي تزکیه کوي ئې او د خرما د زړي د یوه تار په اندازه به ورباندي ظلم ونشي. 50- وګوره: څنګه پر الله د درواغو افتراء کوي او همدا د څرګندي ګناه په توګه کافي ده. 51- آیا هغو ته دي پام ونه کړ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، خو په جبت (خرافات) او طاغوت ایمان راوړي او د کافرانو په اړه وایي: دوی تر مؤمنانو ډېر په سمه لار دي.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾
أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمۡ
يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ
إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴿٥٤﴾ فَمِنۡهُم مَّنۡ
ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن صَدَّ عَنۡهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم
بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا
حَكِيمٗا ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ
وَنُدۡخِلُهُمۡ ظِلّٗا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾ ۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ
إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ
نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ﴿٥٨﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن
تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ
وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ﴿٥٩﴾

52- دوی همغه دي چي الله رټلي دي او الله چي څوك ورټي نو هيڅ ملاتړی به ورته ونه مومې. 53- آيا په واکمنۍ کي د دوی کومه برخه شته، نو بيا خو به ئې خلکو ته د خرما د زړي د ټاپکي په اندازه کوم څه نه وو ورکړی. 54- آيا له خلکو سره په هغه څه باندي حسد کوي چي الله له خپل فضل څه ورکړي؟ نو موږ خو د ابراهيم اولاد ته کتاب او حکمت ورکړ او لويه پاچايي مو ورکړه. 55- نو د دوی ځينو ورباندي ايمان راوړ او ځينو ئې ترې ډډه وکړه او لمبه ناك جهنم (ورته) کافي دئ. 56- يقيناً هغه چي زموږ په آيتونو کافران شوي، ژر به ئې په اور کي ننباسو، کله چي ئې څرمني پخې شي نو په عوض کي به له دغو پرته نوري څرمني ورکړو، چي عذاب وڅکي، بې شکه چي الله باحکمت عزيز دئ. 57- او هغه چي ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي ژر به ئې داسي جنتونو ته داخل کړو چي ويالې به ترې لاندي بهېږي، تلپاته په هغه کي تر ابده، دوی ته به په هغه کي پاکيزه جوړې وي او په ښه سيوري کي به ئې داخل کړو. 58- يقيناً چي الله تاسو ته د دې امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چي د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چي الله بصير اورېدونکی دئ. 59- اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کي مو په خپلو کي شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلي له پلوه ډېر ښايسته.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ
أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ
أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا
بَعِيدًا ٦٠ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ
رَأَيۡتَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ٦١ فَكَيۡفَ إِذَآ
أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحۡلِفُونَ
بِٱللَّهِ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّآ إِحۡسَٰنًا وَتَوۡفِيقًا ٦٢ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُ
ٱللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَعِظۡهُمۡ وَقُل لَّهُمۡ فِيٓ
أَنفُسِهِمۡ قَوۡلَۢا بَلِيغًا ٦٣ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ
ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ٦٤ فَلَا
وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا
يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٦٥

60- آیا هغه دي ونه لیدل چي گمان کوي هم پر هغه څه ایمان لري
چي پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چي تر تا د مخه نازل شوي،
خو غواړي چي د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر
شوی چي له هغه به انکار کوي او شیطان غواړي چي په ژوري
تېروتني سره ئې تېر باسي. 6 1- او کله چي ورته وویل شي: د هغه
څه په لوري راشئ چي الله نازل کړی او د پیغمبر په لوري؛ منافقین به
وگورې چي له تا به په کلکه ډډه کوي. 62- نو هغه وخت به څنگه
وي چي کوم مصیبت د هغه څه له امله ورورسېږي چي په خپل لاس
ئې مخکي لېږلي، بیا تا ته راشي او د الله په نامه لوړي کوي چي له
احسان او توفیق پرته مو بل څه نه غوښتل. 63- دا همغه کسان دي
چي الله د دوی د زړونو په شته وو ښه پوهېږي، نو مخ ترې واړوه،
نصیحت ورته وکړه او د خپل ځان په اړه ئې بلیغه وینا ورته وکړه.
64- او هیڅ پیغمبر مو له دې پرته د بل څه لپاره نه دئ لېږلی چي د
الله په حکم سره ئې اطاعت وشي او که دوی هغه وخت درته راغلي
وی چي پر خپل ځان ئې ظلم کړی وو، بیا ئې له الله مغفرت غوښتی
وی او پیغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وی، نو الله به ئې مهربان توبه
منونکی موندلی وو. 65- نو نه؛ ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ایمان
نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځیو شخړو کي حکم ونه گرځوي، بیا ستا
د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنگوالی ونه مومي او په بشپړه
توگه تسلیم نشي.

وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن
دِيَٰرِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ
بِهِۦ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا ٦٦ وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ
أَجۡرًا عَظِيمٗا ٦٧ وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٦٨ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ
وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ
وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩
ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ٧٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ جَمِيعٗا ٧١ وَإِنَّ
مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ
عَلَيَّ إِذۡ لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ٧٢ وَلَئِنۡ أَصَٰبَكُمۡ فَضۡلٞ مِّنَ
ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمۡ تَكُنۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُۥ مَوَدَّةٞ يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ
مَعَهُمۡ فَأَفُوزَ فَوۡزًا عَظِيمٗا ٧٣ ۞فَلۡيُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ
يَشۡرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَن يُقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقۡتَلۡ
أَوۡ يَغۡلِبۡ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٧٤

66- او که دا مو پر دوی فرض کړي وی چي خپل ځان ووژنئ او له خپل کور کلي ووځئ نو له لږو کسانو پرته به ئې دا کار نه وو کړی او که هغه څه ئې ترسره کړي وی چي نصیحت ئې ورته کېږي نو دا به ورته ډېر غوره وو او په مضبوطوالي کې ډېر کلك. 67- او هغه وخت به مو له خپلي خوا ستر اجر ورکړی وو. 68- او هرومرو به مو په سمي لاري هدایت کړي وو. 69- او چا چي د الله او پیغمبر اطاعت وکړ، نو دوی له هغو سره دي چي الله وربانديي پېرزویني کړې دي، له پیغمبرانو، صدیقینو، شهداوو او صالحینو او څومره غوره دي دوی په ملګرتیا کې. 70- دا خو الهي فضل دئ او الله د ښه پوه په توګه کافي دئ. 71- اې مؤمنانو! خپل احتیاطي تدابیر ونیسئ، بیا یا بېل بېل او یا په ګډه ووځئ. 72- او یقیناً چي په تاسو کې ځیني هرو مرو لټي کوي، نو که کوم مصیبت درورسېږي، وایي: واقعي چي الله پر ما هغه وخت فضل وکړ چي لدوی سره حاضر نه وم. 73- او که د الله کوم فضل مو په برخه شي، حتماً به داسي وینا کوي لکه چي ستاسو او د ده ترمنځ هیڅ دوستي نه وي: ای کاش لدوی سره وی او لویه بریا مي په برخه شوې وی. 74- نو د الله په لار کې دي هغه کسان وجنګېږي چي د دنیا ژوند پر آخرت پلوري او څوك چي د الله په لار کې وجنګېږي، ووژل شي، یا بریالی شي، نو ژر به ستر اجر ورکړو.

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ
وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ
ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ
نَصِيرًا ٧٥ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ
ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ٧٦ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ
أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ
إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ
رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ
مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧
أَيۡنَمَا تَكُونُواْ يُدۡرِككُّمُ ٱلۡمَوۡتُ وَلَوۡ كُنتُمۡ فِي بُرُوجٖ مُّشَيَّدَةٖۗ وَإِن
تُصِبۡهُمۡ حَسَنَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ
يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَۚ قُلۡ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلۡقَوۡمِ
لَا يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ حَدِيثٗا ٧٨ مَّآ أَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ
وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٖ فَمِن نَّفۡسِكَۚ وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ٧٩

75- او پر تاسو څه شوي چې د الله په لار کې او د هغو بې وزلو سړیو، ښځو او ماشومانو د ژغورنې لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زموږ ربه! له دې کلي چې اهل ئې ظالمان دي موږ وباسه او له خپلې خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه. 76- ایمان لرونکي د الله په لار کې جنګېږي او کافران د طاغوت په لار کې جنګېږي، نو د شیطان له ملګرو سره وجنګېږئ چې د شیطان ټول تدبیرونه کمزوري دي. 77- هغو ته دې ونه کتل چې ورته وویل شو: لاسونه مو راټم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، خو کله چې پر دوی جهاد فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله او یا تر دې هم سخته وېره او ویل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر یوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووایه: د دنیا متاع خو وړوکی شی دئ او آخرت غوره دئ، د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره کړه او د بخرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونشي. 78- چې هرځای وئ مرګ به مو بیا مومي، که څه هم په دنګو کلکو ماڼیو کې وئ او چې کومه ښېګڼه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو که کړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو ستا له کبله دئ، ورته ووایه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلکو څه شوي چې په هیڅ خبرې نه پوهېږي. 79- له ښېګڼې چې څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چې کړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه پخپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلکو ته یو استازی لېږلی یې او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ
عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗا ٨٠ وَيَقُولُونَ طَاعَةٞ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنۡ عِندِكَ بَيَّتَ
طَآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ غَيۡرَ ٱلَّذِي تَقُولُۖ وَٱللَّهُ يَكۡتُبُ مَا يُبَيِّتُونَۖ
فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٨١ أَفَلَا
يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَۚ وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ
ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ٨٢ وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ
بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ
يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ
لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٣ فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ
إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأۡسَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا وَأَشَدُّ تَنكِيلٗا ٨٤ مَّن يَشۡفَعۡ
شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةٗ سَيِّئَةٗ
يَكُن لَّهُۥ كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتٗا ٨٥ وَإِذَا
حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ٨٦

80- څوك چې د پيغمبر اطاعت وكړي، په حقيقت كې ئې د الله اطاعت كړى او څوك چې مخ واړوي نو ته مو پردوى څارونكى نه يې لېږلى. 81- او وايي: اطاعت (كوو)، خو كله چې ستا لخوا بهر ووځي، نو يوه ډله ئې په شپه كې د هغه څه خلاف مركې كوي چې دلته ئې وايي او الله د دوى دا د شپې مركې ليكي، نو لدوى مخ واړوه او پر الله توكل وكړه او الله د وكيل په توګه كافي دئ. 82- نو آيا په قرآن كې ئې تدبر نه دئ كړى، كه هغه د ماسوى الله له لوري وى نو حتماً به ئې ډېر اختلاف په كې موندلى وو. 83- او كه كله د امن يا د وېري كوم خبر ورته راشي، خپروي ئې، خو كه هغه ئې پيغمبر او خپلو چارواكو ته رسولى وى، نو د دوى ا ستنباط كوونكي به حتماً پرې پوه شوي وو او كه پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وى نو له لږو پرته به تاسو ټولو د شيطان متابعت كړى وو. 84- نو د الله په لار كې وجنګېږه، ته يوازي د خپل ځان مسئول يې، او مؤمنان وهڅوه، اميد دئ الله د كافرانو جګړه بنده كړي، د الله خو هم جنګ شديد دئ او هم ئې عذابول. 85- څوك چې د ښايسته سپارښتني سپارښتنه وكړي، هغه ته به د دې ځانګړې برخه وي او چا چې د ناوړي سپارښتني سپارښتنه وكړه، هغه ته به د دې ځانګړى د ګناه پېټى وي او الله په هر څه ښه څار كوونكى دئ. 86- او كه كله په كوم ښه سلام پر تاسو سلام ووېل شو، نو يا تر دې غوره سلام ووايئ او يا همغه وروګرځوئ، بې شكه چې الله په هر څه ښه حساب كوونكى دئ.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ
أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴿٨٧﴾ ۞فَمَا لَكُمۡ فِي ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِئَتَيۡنِ وَٱللَّهُ
أَرۡكَسَهُم بِمَا كَسَبُوٓاْۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَهۡدُواْ مَنۡ أَضَلَّ ٱللَّهُۖ وَمَن
يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلٗا ﴿٨٨﴾ وَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ كَمَا
كَفَرُواْ فَتَكُونُونَ سَوَآءٗۖ فَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ أَوۡلِيَآءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْ
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡۖ
وَلَا تَتَّخِذُواْ مِنۡهُمۡ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ
بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ صُدُورُهُمۡ أَن
يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ
فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا
جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ﴿٩٠﴾ سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ
أَن يَأۡمَنُوكُمۡ وَيَأۡمَنُواْ قَوۡمَهُمۡ كُلَّ مَا رُدُّوٓاْ إِلَى ٱلۡفِتۡنَةِ أُرۡكِسُواْ فِيهَاۚ
فَإِن لَّمۡ يَعۡتَزِلُوكُمۡ وَيُلۡقُوٓاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ
فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمۡ جَعَلۡنَا لَكُمۡ
عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿٩١﴾

87- الله همغه دئ چي له ده پرته بل معبود نشته، حتماً به مو د قيامت ورځي ته راغونډ کړي، او څوك به په وينا کي تر الله زيات رښتينی وي؟ 88- نو پر تاسو څه شوي چي د منافقينو په اړه دوه ډلي شوئ، حال دا چي الله تعالی دوی د خپلو لاسته راوړنو په وجه رانسکور کړل، آيا غواړئ هغه څوك هدايت کړئ چي الله بې لاري کړی، او الله چي څوك بې لاري کړي هيڅ لار به ورته ونه مومې. 89- خوښه ئې دا ده چي تاسو هم داسي کافران شئ لکه دوی چي کافران شول، نو بيا به سره برابر شئ، نو تر هغه لدوی دوستان مه نيسئ چي د الله په لار کي هجرت وکړي، نو که ئې ډډه وکړه، نو وئې نيسئ او هر ځای چي ئې مومئ وئې وژنئ او مه لدوی کوم دوست نيسئ او مه کوم مرستندوی. 90- له هغو پرته چي له کوم داسي قوم سره پيوست کېږي چي ستاسو او د دوی ترمنځ کومه معاهده وي او يا تاسو ته په داسي حال کي راشي چي سينې ئې له دې تنگي شوې وي چي له تاسو سره وجنگېږي او يا له خپل قوم سره وجنگېږي او که الله غوښتی نو دوی به ئې درباندي مسلط کړي وو او بيا به حتماً درسره جنگېدل، نو که درنه يوې خوا ته شول او درسره ونه جنگېدل او روغه، جوړه ئې دروړاندي کړه، نو بيا الله تاسو ته پر دوی (د تېري) کومه لار گودر نه دئ ټاکلی. 91- ژر ده چي نور هم داسي ومومئ چي غواړي هم له تاسو په امن کي وي او هم له خپل قوم په امان کي، خو که کله فتنې ته وبلل شي، په کي پرېوځي، نو که له تاسو يوې خوا ته نه شول او روغه، جوړه ئې دروړاندي نه کړه او خپل لاسونه ئې راتم نه کړل، نو وئې نيسئ او چي هر ځای ئې مومئ وئې وژنئ او پر دې ډلي مو تاسو ته ښکاره حجت درکړی.

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٍ أَن يَقۡتُلَ مُؤۡمِنًا إِلَّا خَطَـٔٗاۚ وَمَن قَتَلَ مُؤۡمِنًا
خَطَـٔٗا فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ وَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦٓ إِلَّآ أَن
يَصَّدَّقُواْۚ فَإِن كَانَ مِن قَوۡمٍ عَدُوّٖ لَّكُمۡ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَتَحۡرِيرُ
رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ وَإِن كَانَ مِن قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞ فَدِيَةٞ
مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ وَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ
شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ تَوۡبَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا
٩٢ وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا
وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ٩٣
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا
تَقُولُواْ لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ
عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم
مِّن قَبۡلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا
تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ٩٤

92- او هيڅ مؤمن ته نه ښايي چي بل مؤمن ووژني، مګر په خطا سره او
چا چي کوم مؤمن په خطا سره وواژو نو بيا د يوه مؤمن مريي آزادول او
ټبر ته ئې مسلم ديت ورکول دي، مګر دا چي معاف ئې کړي، او که هغه
له داسي يوه قوم وو چي ستاسو دښمن وي، خو دی مؤمن وو، نو بيا د يوه
مؤمن مريي آزادول دي او که له داسي قوم وو چي په خپلو کې کومه
معاهده سره لرئ، نو بيا ئې ټبر ته مسلم ديت ورکول او د يوه مؤمن مريي
آزادول دي، خو که څوک ئې ونه مومي نو بيا دوه مياشتي پر له پسې روژه
نيول دي، يوه الهي توبه او الله باحکمت پوه دئ. 93- او څوک چي کوم
مؤمن په قصد سره ووژني نو سزا ئې دوزخ دئ، تلپاته په هغه کي او الله
پرې غضب کړی، لعنت ئې پرې ويلی او ستر عذاب ئې ورته تيار کړی. 94-
اې مؤمنانو! کله چي د الله په لار کې د جهاد لپاره وځئ نو ښه څېړنه کوئ
او هغه چا ته چي پر تاسو سلام اچوي؛ دا مه وايئ چي ته مؤمن نه يې، په
داسي حال کې چي دنيوی مال، متاع لټوئ، نو له الله سره ډېر غنائم دي، تر
دې مخکې تاسو هم دغسي وئ، خو الله درباندي احسان وکړ، نو ښه تحقيق
کوئ، بې شکه چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ؟

لَّا يَسْتَوِى ٱلْقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُو۟لِى ٱلضَّرَرِ وَٱلْمُجَٰهِدُونَ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ
وَأَنفُسِهِمْ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ
ٱلْمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجَٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً

وَرَحۡمَةٗۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ
قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٗ فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ
جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾ إِلَّا ٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ
وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةٗ وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلٗا ﴿٩٨﴾ فَأُوْلَٰٓئِكَ
عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورٗا ﴿٩٩﴾ *وَمَن يُهَاجِرۡ
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُرَٰغَمٗا كَثِيرٗا وَسَعَةٗۚ وَمَن يَخۡرُجۡ مِنۢ
بَيۡتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدۡرِكۡهُ ٱلۡمَوۡتُ فَقَدۡ وَقَعَ أَجۡرُهُۥ
عَلَى ٱللَّهِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٠٠﴾ وَإِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَلَيۡسَ
عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَقۡصُرُواْ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنۡ خِفۡتُمۡ أَن يَفۡتِنَكُمُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْۚ إِنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ كَانُواْ لَكُمۡ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿١٠١﴾

95- د مؤمنانو غیر معذور ناست کسان له هغو سره برابر نه دي چې په خپل مال او ځان سره د الله د لارې مجاهدین دي، الله دغو په خپل مال او ځان سره مجاهدینو ته پر ناستو کسانو د ځانګړې درجې فضیلت ورکړی، په داسې حال کې چې الله له هر یوه سره د ښې بدلې وعده کړې، خو مجاهدینو ته ئې پر ناستو کسانو د ستر اجر فضیلت ورکړی. 96- د ده له خوا ځانګړې درجې، بخښنه او پېرزوینه او الله مهربان بخښونکی دئ. 97- بې شکه هغه کسان چې ملائکې ئې روح قبضوي، په داسې حال کې چې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کوونکي وي، ورته وايي به: تاسې په څه حالت کې وئ؟ وايي: موږ په زمکه کې کمزوري او مستضعف وو، ورته وبه وايي: آیا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو په کې کړی وی؟ نو دوی همغه دي چې مېشت ځای ئې دوزخ دئ او د ورګرځېدو څومره بد ځای! 98- مګر هغه کمزوري نارینه، ښځې او ماشومان چې نه د کومې حیلې توان لري او نه د کومې لارې د موندو. 99- نو ښايي الله دوی ته عفو وکړي او الله بخښونکی تېرېدونکی دئ. 100- او څوك چې د الله په لار کې هجرت وکړي، په زمکې کې به ډېر آرام ځایونه او پراخې ومومي او څوك چې له خپل کور د الله او د ده د رسول لورې ته د مهاجر په څېر ووځي او مرګ ئې بیا ومومي نو په یقین سره ئې اجر د الله په ذمه شو او الله خو مهربان بخښونکی دئ. 101- او کله چې په زمکه سفر کوئ، نو په دې کې پر تاسو کومه ګناه نشته چې لمونځ رالنډ کړئ، که دا وېره مو وه چې کافران به مو په فتنه کې واچوي، بې شکه چې کافران ستاسو څرګند دښمنان دي.

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمۡ فَأَقَمۡتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلۡتَقُمۡ طَآئِفَةٞ مِّنۡهُم
مَّعَكَ وَلۡيَأۡخُذُوٓاْ أَسۡلِحَتَهُمۡۖ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلۡيَكُونُواْ مِن
وَرَآئِكُمۡ وَلۡتَأۡتِ طَآئِفَةٌ أُخۡرَىٰ لَمۡ يُصَلُّواْ فَلۡيُصَلُّواْ مَعَكَ
وَلۡيَأۡخُذُواْ حِذۡرَهُمۡ وَأَسۡلِحَتَهُمۡۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ تَغۡفُلُونَ
عَنۡ أَسۡلِحَتِكُمۡ وَأَمۡتِعَتِكُمۡ فَيَمِيلُونَ عَلَيۡكُم مَّيۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ
وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ إِن كَانَ بِكُمۡ أَذٗى مِّن مَّطَرٍ أَوۡ كُنتُم
مَّرۡضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسۡلِحَتَكُمۡۖ وَخُذُواْ حِذۡرَكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ
لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٠٢ فَإِذَا قَضَيۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ
قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمۡۚ فَإِذَا ٱطۡمَأۡنَنتُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ
إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣ وَلَا تَهِنُواْ
فِي ٱبۡتِغَآءِ ٱلۡقَوۡمِۖ إِن تَكُونُواْ تَأۡلَمُونَ فَإِنَّهُمۡ يَأۡلَمُونَ كَمَا
تَأۡلَمُونَۖ وَتَرۡجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرۡجُونَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَكِيمًا ١٠٤ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ
ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥

102- او که ته لدوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی یوه ډله دې له تا سره ودرېږي او خپلې وسلې دې ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بیا دې له تاسو تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دې راشي او له تا سره دې لمونځ وکړي او خپل احتیاطي تدابیر دې ونیسي او اسلحه دې ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په یوواري درباندې رامات شي، خو که له بارانه ځورېدئ یا بیمار وئ نو څه ګناه درباندې نشته چې خپله وسله کېږدئ، خو احتیاطي تدابیر مو ونیسئ، بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی. 103- خو کله چې لمونځ اداء کړئ، نو الله په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کې یادوئ، بیا کله چې مطمئن شئ نو همغه لمونځ اداء کړئ، بې شکه چې دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی. 104- او د دې قوم په لټه کې لټې او سستي مه کوئ، که تاسو دردمن کېږئ نو دوی هم ستاسو په څېر دردمن کېږي، په داسې حال کې چې تاسو له الله هغه هیلې لرئ چې دوی ئې نلري او الله باحکمت پوه دئ. 105- بې شکه چې تا ته مو دا په حقیقت ولاړ کتاب رانازل کړ، تر څو د خلکو ترمنځ د هغه څه مطابق حکم وکړې چې الله درښودلي او د خائنانو لپاره شخړه کوونکی مه شه.

وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٦﴾ وَلَا تُجَٰدِلْ عَنِ
ٱلَّذِينَ يَخْتَانُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا
﴿١٠٧﴾ يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمْ
إِذْ يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرْضَىٰ مِنَ ٱلْقَوْلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطًا
﴿١٠٨﴾ هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فَمَن يُجَٰدِلُ
ٱللَّهَ عَنْهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَن
يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ غَفُورًا
رَّحِيمًا ﴿١١٠﴾ وَمَن يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١١١﴾ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيٓـَٔةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ
يَرْمِ بِهِۦ بَرِيٓـًٔا فَقَدِ ٱحْتَمَلَ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿١١٢﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ
ٱللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ وَمَا
يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ ۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَىْءٍ ۚ وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكَ
ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ ٱللَّهِ
عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴿١١٣﴾

106- او له الله بخښنه وغواړه، بې شکه چي الله مهربان بخښونکی دئ. 107- او د هغو لپاره مجادله مه کوه چي له ځان سره خیانت کوي، یقیناً چي الله هغه څوك نه خوښوي چي ګنهګار خائن وي. 108- له خلکو ئې پټول غواړي او له الله ئې نه پټوي، حال دا چي دی هغه وخت هم ورسره وو چي د شپې ئې په هغي خبري مرکه کوله چي نه ئې خوښوي. او الله په هغه څه احاطه کوونکی دئ چي دوی ئې کوي. 109- اې هغو کسانو چي تاسو د دنیا په ژوند کې لدوی د دفاع لپاره مجادله وکړه، د قیامت په ورځ به څوك له الله سره د دوی لپاره مجادله کوي او څوك به ئې وکیل شي؟! 110- او چا چي کومه ګناه وکړه او یا ئې پر خپل ځان ظلم وکړ، بیا ئې له الله بخښنه وغوښته، الله به مهربان بخښونکی ومومي. 111- او څوك چي د ګناه کار کوي نو پر خپل ځان ئې کوي او الله باحکمت پوه دئ. 112- او څوك چي کومه خطاء یا ګناه وکړي او بیا کوم پاك کس ورباندي تورن کړي، نو ښکاره بهتان او ګناه ئې پر خپلو اوږو اېښې. 113- او که پر تا د الله فضل او د ده رحمت نه وی نو د دوی یوې ډلي غوښتل چي تا تېرباسي، له ځانه پرته بل څوك نه تېرباسي او د هیڅ څه تاوان نشي دررسولی او الله خو پر تا دا کتاب او حکمت نازل کړ او هغه څه ئې دروښودل چي نه پرې پوهېدې او پر تا د الله ډېر ستر فضل دئ.

۞لَّا خَيۡرَ فِي كَثِيرٖ مِّن نَّجۡوَىٰهُمۡ إِلَّا مَنۡ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوۡ
مَعۡرُوفٍ أَوۡ إِصۡلَٰحِۭ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ ٱبۡتِغَآءَ
مَرۡضَاتِ ٱللَّهِ فَسَوۡفَ نُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١١٤﴾ وَمَن يُشَاقِقِ
ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَتَّبِعۡ غَيۡرَ سَبِيلِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصۡلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن
يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ إِن
يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا مَّرِيدٗا
﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿١١٨﴾
وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ
وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا
مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾ يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ
وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ
وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾

114- د دوی په ډېرو غوږ په غوږ کېدو کې څه خیر نشته، مګر دا چې څوك د صدقې، کوم معروف کار او د خلکو ترمنځ د روغې جوړې سپارښتنه وکړي او څوك چې د الله د رضاء په لټه کې دا کار وکړي ژر به ستر اجر ورکړو. 115- او څوك چې له پیغمبر سره له هغه وروسته مخالفت وکړي چې سمه لار ورته څرګنده شوې او له مؤمنانو پرته د بلې لارې متابعت وکړي، همغه لوري ته به ئې مخه کړو چې ده ورته مخ اړولی او په دوزخ کې به ئې ننباسو او د ورګرځېدو څومره بد ځای. 116- یقیناً چې الله دا نه بخښي چې له ده سره شرك وشي او له دې راکوز هرڅه هغه چا ته بخښي چې وئې غواړي او چا چې له الله سره شرك وکړ، نو یقیناً چې په ژور ضلالت سره بې لارې شوی. 117- دوی خو له الله پرته یوازې د ښځو عبادت کوي او له سرکښ شیطان پرته د بل څه عبادت نه کوي. 118- همغه چې الله رټلی او ویلي ئې دي: هرومرو به ستا له بندګانو ټاکلې برخه ترلاسه کوم. 119- او حتماً به ئې تېرباسم او حتماً به هیلي په کې راولاړوم او خامخا به ورته امر کوم نو د څاروو غوږونه به غوڅوي او هرومرو به ئې ګمارم نو د الله د مخلوق جوړښت به بدلوي او څوك چې له الله پرته شیطان دوست ونیسي نو په ښکاره تاوان سره ئې تاوان وکړ. 120- وعدې ورسره کوي او هیلي په کې راولاړوي او شیطان خو له تېرایستو پرته څه وعده نه ورسره کوي. 121- دوی همغه دي چې مېشت ځای ئې دوزخ دئ او له هغه نه به د خلاصون چاره نه مومي.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ
وَمَنۡ أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ١٢٢ لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ
أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن
دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٢٣ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا
يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤ وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ
وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ
خَلِيلٗا ١٢٥ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطٗا ١٢٦ وَيَسۡتَفۡتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِۖ قُلِ ٱللَّهُ
يُفۡتِيكُمۡ فِيهِنَّ وَمَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى
ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤۡتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرۡغَبُونَ أَن
تَنكِحُوهُنَّ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلۡوِلۡدَٰنِ وَأَن تَقُومُواْ لِلۡيَتَٰمَىٰ
بِٱلۡقِسۡطِۚ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمٗا ١٢٧

122- او هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، حتماً به ئې داسې جنتونو ته داخل کړو چې ترې لاندې ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې تر ابده، د الله رښتينې وعده او تر الله به څوک په وينا کې زيات رښتينی وي. 123- نه ستاسو په هيلو ده او نه د اهل کتابو په هيلو، څوك چې بد کار وکړي په هغه به مجازات شي او ځان ته به له الله پرته نه کوم دوست ومومي او نه کوم مرستندوی. 124- او څوك چې صالح کارونه وکړي، له نارينه وو يا ښځينه وو؛ او هغه مؤمن وي، نو دوی به جنت ته ننوځي او د خرما د زړي ټاپکي په اندازه به ظلم وربانديې ونشي. 125- او تر هغه چا څوك په دين کې غوره کېدی شي چې الله ته ئې ځان تسليم کړی، نېك دئ او د حنيف ابراهيم د دين متابعت ئې کړی او الله خو ابراهيم خپل خاص دوست ونيوو. 126- او څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي، ټول د الله دي او الله په هر څه احاطه کوونکی دئ. 127- او د ښځو په اړه له تا ځواب او فتوی غواړي، ووايه: الله د دوی په اړه هم ځواب درکوي او د هغه څه په اړه هم چې په کتاب کې د هغو يتيمو ښځو په اړه درباندې لوستل کېږي چې ټاکلی مهر ئې نه ورکوئ او غواړئ په نکاح ئې کړئ او د کمزورو هلکانو په اړه او دا چې د يتيمانو په اړه په عدل قائم اوسئ او د خير هر کار چې وکړئ نو الله ورباندې ښه پوه دئ.

وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضٗا فَلَا جُنَاحَ
عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحٗاۚ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞۗ وَأُحۡضِرَتِ
ٱلۡأَنفُسُ ٱلشُّحَّۚ وَإِن تُحۡسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ
خَبِيرٗا ١٢٨ وَلَن تَسۡتَطِيعُوٓاْ أَن تَعۡدِلُواْ بَيۡنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡۖ
فَلَا تَمِيلُواْ كُلَّ ٱلۡمَيۡلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلۡمُعَلَّقَةِۚ وَإِن تُصۡلِحُواْ
وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٢٩ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغۡنِ ٱللَّهُ
كُلّٗا مِّن سَعَتِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا حَكِيمٗا ١٣٠ وَلِلَّهِ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ
مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدٗا ١٣١ وَلِلَّهِ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ١٣٢ إِن يَشَأۡ
يُذۡهِبۡكُمۡ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأۡتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ
قَدِيرٗا ١٣٣ مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنۡيَا
وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ١٣٤

128- او که کومه ښـځه د خپل مېړه له کوم بد خويي يا بې اعتنائي ووېرېده، نو په دې کې څه گناه وربانديي نشــته چي په خپلو کې کومه صلح وکړي او دا صلح غوره ده او نفسونه خو د بخل او حرص سر ته حاضر ودرول شــوي او که احســان او تقوى وکړئ نو الله په هغه څه ښــه خبر دئ چي تاســو ئې کوئ. 129- او هيڅکله به په دې ونه توانېږئ چي د ښځو تر منځ عدالت وکړئ که څه هم ډېره تلو سه او حرص ئې وکړئ، نو په ټول ميلان سره يوې خوا ته داسي تمايل مه کوئ چي هغه د ځوړندي په څېر پرېږدئ او که صـلح او تقوى وکړئ نو الله مهربان بخښــونکی دئ. 130- او که دواړه سره بېل شي، الله به ئې هر يو په خپل پراخ رزق سره مســتغني کړي او الله باحکمت د وسعت خاوند دئ. 131- او په آسمانونو کې هر څه او په زمکي کې هر څه د الله دي او يقيناً چي موږ هغو ته هم د دې حکم کړی وو چي تر تاسو مخکي کتاب ورکړی شوی او تاسو ته هم؛ چي له الله ووېرېږئ او که کفر وکړئ نو په آســمانونو کې هر څه او په زمکي کې هر څه د الله دي او الله ســتايلی غني دئ. 132- په آســمانونو کې هر څه او په زمکي کې هر څه د الله دي او الله د وکيل په توگه کافي دئ. 133- که وغواړي نو تاســو به له منځه يوسي، اې خلکو! او نور به راولي او الله خو پر دې ښه قادر دئ. 134- څوك چي د دنيا بدله غواړي نو د دنيا او آخرت بدلې خو دواړه له الله سره دي او الله ليدونکی اورېدونکی دئ.

*يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ
أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ
أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُواْ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَـٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَـٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ
مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ
ٱلْـَٔاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَـٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ
ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ
لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًۢا ﴿١٣٧﴾ بَشِّرِ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا
﴿١٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَـٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ
عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى
ٱلْكِتَـٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا
تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ
إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱلْكَـٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾

135- اې مؤمنانو! پر عدل قائم اوسئ، د الله لپاره شهادت ورکوونکي، که څه هم پر خپل ځان مو وي يا پر مور، پلار او يا خپلوانو، که غني وي يا فقير، نو الله ترې اولى دئ، نو د عدل په نه کولو کې د هوى او هوس متابعت مه کوئ، که خپلې ژبې تاو راتاو کړئ يا ډډه وکړئ نو يقيناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. 136- اې مؤمنانو! پر الله او پيغمبر ئې او پر هغه کتاب چې پر خپل پيغمبر ئې نازل کړى او پر هغه کتاب چې مخکې ئې نازل کړى، ايمان راوړئ، او څوك چې پر الله، پر ملائکو ئې، پر کتابونو ئې، پر پيغمبرانو ئې او د آخرت پر ورځې کافر شي، نو بې شکه چې په ژورې تېروتنې سره تېروتى دئ. 137- يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړ، بيا کافر شول، بيا ئې ايمان راوړ، بيا ئې کفر وکړ، بيا ئې په کفر کې زياتوالى وکړ، نو دوى ته خو نه الله بخښنه کوي او نه ئې په سمه لار هدايت کوي. 138- منافقينو ته د دې زېرى ورکړه چې دوى ته دردونکى عذاب دئ. 139- همغو ته چې له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا د دوى خوا ته عزت لټوي؟ نو عزت خو ټول د الله دئ. 140- او يقيناً چې پر تاسو باندې په کتاب کې دا نازل شوې چې کله واورئ د الله له آيتونو انکار کېږي او يا ملنډې پرې وهل کېږي، نو تر هغه مه ورسره کښېنئ چې له دې پرته په بله خبره بوخت شي، که نه نو تاسو به هم د دوى په څېر وئ، يقيناً چې الله په دوزخ کې د ټولو منافقانو او کافرانو راغونډوونکى دئ.

ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمۡ فَإِن كَانَ لَكُمۡ فَتۡحٞ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓاْ أَلَمۡ
نَكُن مَّعَكُمۡ وَإِن كَانَ لِلۡكَٰفِرِينَ نَصِيبٞ قَالُوٓاْ أَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ
عَلَيۡكُمۡ وَنَمۡنَعۡكُم مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلَن يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا ١٤١ إِنَّ
ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ
قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ١٤٢
مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ
ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ١٤٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ
ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ
عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينًا ١٤٤ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ
ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ١٤٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ
وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ
وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١٤٦ مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ
بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمٗا ١٤٧

141- همغه منافقان چي ستاسو په اړه منتظر دي، که د الله له لوري مو کوم بری په برخه شوی وي، نو وايي: آیا موږ درسره نه وو؟ او که د کافرانو کوم څه په نصیب شوي وي، نو وايي: آیا موږ درباندي برلاسي نه وو او له مؤمنانو مو ونه ژغورلئ؟ نو الله به د قیامت په ورځ ستاسو ترمنځ پرېکړه کوي او الله به هیڅکله کافرانو ته پر مؤمنانو باندي د برلاسي لاره ونه ټاکي. 142- بې شکه چي منافقین له الله سره خدعه کوي او هغه ئې هم په خدعه کې اچوونکی دئ او کله چي لمانځه ته پاځي نو لټ پاځي، خلکو ته ځان ښودنه کوي او الله نه یادوي مگر ډېر لږ. 143- په همدې کې مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دي او نه د هغو په لوري او الله چي څوك بې لاري کړي هیڅ لار به ورته ونه مومې. 144- اې مؤمنانو! له مؤمنانو علاوه کافران په دوستۍ مه نیسئ، آیا دا غواړئ چي الله ته د ځان خلاف څرگند الزام او دلیل ورکړئ؟ 145- یقیناً چي منافقین به د اور تر ټولو ټیټ تل کې وي او هیڅکله به کوم مرستندوی ورته ونه مومې. 146- مگر هغه چي توبه ئې وکړه، صالح شول، له الله سره ئې اړیکي ټینگي کړې او خپل دین ئې الله ته خالص کړ، نو دوی له مؤمنانو سره دي او الله به ډېر ژر مؤمنانو ته ستر اجر ورکړي. 147- الله به ستاسو په عذابولو څه کوي که شکر وکړئ او ایمان راوړئ او الله خو پوه قدر کوونکی دئ.

*لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلۡجَهۡرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ إِلَّا مَن ظُلِمَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾ إِن تُبۡدُواْ خَيۡرًا أَوۡ تُخۡفُوهُ أَوۡ تَعۡفُواْ عَن سُوٓءٖ
فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوّٗا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ
وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ
وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾
أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا
﴿١٥١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ
أُوْلَٰٓئِكَ سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٥٢﴾
يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ فَقَدۡ
سَأَلُواْ مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡهُمُ
ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ
ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَعَفَوۡنَا عَن ذَٰلِكَۚ وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿١٥٣﴾
وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ وَقُلۡنَا لَهُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا
وَقُلۡنَا لَهُمۡ لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿١٥٤﴾

148- په بدي خبري خوله پرانيستل د الله نه خوښېږي، مګر د هغه
چا چي ظلم پرې شوی او الله پوه اورېدونکی دئ. 149- که کومه
ښېګڼه ښکاره کړئ يا ئې پټه، او له کومي بدۍ سترګي پټې کړئ،
نو الله قادر عفو کوونکی دئ. 150- يقيناً هغه چي پر الله او د ده
پر پيغمبرانو کافران کېږي او غواړي د الله او د ده د پيغمبرانو تر
منځ بېلتون وکړي او وايي: پر ځينو ايمان راوړو او له ځينو انکار
کوو او غواړي د دې ترمنځ بله لار اختيار کړي. 151- دوی په
رښتيا چي کافران دي او موږ دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب تيار
کړی. 152- او هغو چي پر الله او د ده پر پيغمبرانو ئې ايمان راوړ
او د دوی په هيڅ يوه کې ئې تفريق ونکړ، دوی ته به ډېر ژر خپل
اجر ورکړي او الله مهربان بخښونکی دئ. 153- اهل کتاب درنه
غواړي چي له آسمانه کوم کتاب پرې نازل کړې، نو دوی خو له
موسی تر دې لويه غوښتنه وکړه او وئې ويل: الله ښکاره راوښيه،
نو د خپل ظلم له امله تندر ونيول، بيا ئې له هغه وروسته
سخوندر معبود ونيولو چي څرګندي نښې ورته راغلې، نو موږ له
دې ورته تېر شوو او موسی ته مو ښکاره حجت ورکړ. 154- او د
دوی د ژمني لپاره مو پر دوی طور رااوچت کړ او ورته ومو ويل:
په دې دروازې سجده کوونکي ننوځئ او ورته ومو ويل: د شنبې
په ورځ تېری مه کوئ او کلکه ژمنه مو ترې واخيسته.

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ وَكُفۡرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتۡلِهِمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ
حَقّٖ وَقَوۡلِهِمۡ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَلۡ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا
يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٥٥ وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلَىٰ مَرۡيَمَ بُهۡتَٰنًا عَظِيمٗا
١٥٦ وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ
وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ
مَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ١٥٧ بَل رَّفَعَهُ
ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٥٨ وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا
لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ١٥٩
فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ
وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ١٦٠ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ
وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا
أَلِيمٗا ١٦١ لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ
أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٦٢

155- نو د خپلو ژمنو د ماتولو له امله او د الله پر آیتونو د دوی د کفر په سبب او په ناحقه د پیغمبرانو د وژنې او د دې وینا په وجه ئې چې زړونه مو په پردو کې دي، بلکې الله د دوی د کفر په وجه پرې مهر لګولی، نو ایمان نه راوړي مګر لږ. 156- او د دوی د کفر له کبله او پر مریمې د دوی د ستر بهتان وینا (له امله). 157- او د دې خبرې په سبب چې موږ د الله پیغمبر مسیح د مریمې زوی وواژو، حال دا چې نه ئې وژلی دئ او نه ئې په صلیب ځړولی، بلکې ورته مشتبه کړی شو او یقیناً هغه چې په دې کې اختلاف کوي په دې اړه په شك کې دي، له ګمانه پرته هیڅ علم پرې نه لري، په یقین سره ئې نه دئ وژلی. 158- بلکې الله خپل لوري ته اوچت کړ او الله باحکمت عزتمن دئ. 159- او د اهل کتابو به هیڅوك نه وي مګر داسې چې له خپل مرګه مخکې به هرومرو پر ده ایمان راوړي او د قیامت په ورځ به پرې شاهد وي. 160- نو پر یهودانو مو ځینې هغه پاکیزه شیان حرام کړل چې ورته حلال شوي وو؛ د دوی د ظلم له کبله او د الله له لارې د دوی د ډېر مخنیوی له امله. 161- او د دوی د سود اخیستو په سبب، په داسې حال کې چې ترې منع شوي وو او په ناحقه ئې د خلکو د مال خوړلو په وجه او دغو کافرانو ته مو دردوونکی عذاب تیار کړی. 162- لکن په علم کې پاخه ئې او هغه مؤمنان ئې چې هم پر هغه څه ایمان راوړي چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې تر تا مخکې نازل شوي، لمونځ کوونکي، زکات ورکوونکي او پر خدای او آخرت ایمان لرونکي ئې، ډېر ژر به دوی ته ستره بدله او اجر ورکړو.

۞إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ
وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ
وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ
زَبُورٗا ١٦٣ وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ
نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ١٦٤ رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ
وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٦٥ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ
أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦ إِنَّ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدۡ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا
١٦٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا
لِيَهۡدِيَهُمۡ طَرِيقًا ١٦٨ إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ
ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٦٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ
بِٱلۡحَقِّ مِن رَّبِّكُمۡ فَـَٔامِنُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧٠

163- بې شکه چي موږ تا ته همغسي وحي کړې چي نوح او تر ده وروسته انبیاوو ته مو وحي کړې وه او چي ابراهیم، اسمعیل، اسحاق، یعقوب او اولاد ئې، عیسی، ایوب، یونس، هارون او سلیمان ته مو وحي کړې وه او داؤد ته مو زبور ورکړی وو. 164- او داسي پیغمبرانو ته هم چي تا ته مو لاد مخه د دوی قصه کړې او داسي پیغمبرانو ته هم چي لا مو د دوی قصه نه ده درته کړې او الله له موسی سره په ځانګړي تکلم سره تکلم وکړ.165- زېری ورکوونکي او انذار ورکوونکي پیغمبران، تر څو خلکو ته د الله پر ذمه کوم حجت پاته نشي او الله باحکمت عزتمن دئ. 166- لیکن الله د هغه څه په اړه چي پر تا ئې نازل کړی د دې شهادت ورکوي چي هغه ئې له خپل علم سره سم نازل کړی او ملائکي هم شهادت ورکوي او الله د شاهد په توګه کافي دئ. 167- یقیناً هغه چي کافران شول او د الله له لاري ئې مخنیوی وکړ، په رښتیا چي په ژور بې لاریتوب بې لاري شول. 168- بې شکه هغه چي کافران شول او ظلم ئې وکړ، نو الله داسي نه دئ چي دوی ته بخښنه وکړي او نه داسي چي په کومي لاري ئې هدایت کړي. 169- مګر د جهنم په لار، چي تل به په کې وي او دا خو الله ته آسان دئ. 170- اې خلکو! بې شکه چي د خپل رب له لوري مو دغه پیغمبر دا حق درته راوړی، نو ایمان راوړئ چي دا درته غوره دئ او که انکار وکړئ نو بې شکه چي د آسمانونو او زمکي هر څه د الله دي او الله باحکمت پوه دئ.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا
ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ
أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ
ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن
يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ
بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾ لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ
وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ
وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ﴿١٧٢﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۖ
وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡتَنكَفُواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ فَيُعَذِّبُهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَلَا
يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ
قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا
﴿١٧٤﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي
رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴿١٧٥﴾

171- اې اهل کتابو! په خپل دین کې غلو مه کوئ او د الله په اړه له حق پرته بل څه مه وایئ، بې شکه چې مسیح د مریمې زوی خو یوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مریمې ته ئې القاء کړې وه او د ده یوه روح، نو پر الله او پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ او مه وایئ چې درې دي، ډډه وکړئ، چې دا درته غوره دئ، الله خو یوازینی اله دئ، له دې منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکیل په توګه کافي دئ. 172- نه مسیح هیڅکله له دې ننګ کړی چې د الله بنده وي او نه مقربو ملائکو، او څوك چې د ده له عبادته ننګ او تکبر وکړي نو ژر به ټول خپل لوري ته راغونډ کړي. 173- نو هغه چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي؛ اجر به ئې پوره پوره ورکړي او له خپل فضل به مزید څه ورکړي او هغه چې ننګ او لویي ئې کړې وي، نو په دردناك عذاب به ئې تعذیب کړي او له الله پرته به نه کوم مولا ځان ته ومومي او نه کوم مرستندوی. 174- اې خلکو! یقیناً چې د خپل رب له لوري مو برهان او دلیل درته راغی او څرګنده رڼا مو درته نازله کړه. 175- نو هغه چې پر الله ایمان راوړي او له هغه سره اړیکې ټینګې کړي، نو حتماً به ئې په خپل رحمت او فضل کې ننباسي او خپل لوري ته به ئې په سمې لارې هدایت کړي.

يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ
لَهُۥ وَلَدٞ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن
لَّهَا وَلَدٞۚ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخۡوَةٗ
رِّجَالٗا وَنِسَآءٗ فَلِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ أَن
تَضِلُّواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ١٧٦

## سُورَةُ المَائِدَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ أُحِلَّتۡ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلۡأَنۡعَٰمِ
إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ
مَا يُرِيدُ ١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ
ٱلۡحَرَامَ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ
فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ فَٱصۡطَادُواْۚ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ
شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن صَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ أَن تَعۡتَدُواْۘ وَتَعَاوَنُواْ
عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ
ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢

176- له تا فتوی غواړي، ووایه: الله تاسو ته د هغه چا په اړه چي نه ئې پلار وي او نه اولاد؛ فتوی درکوي: که څوك ومري، زوی ئې نه وي او يوه خور ئې وي، نو دې ته د هغه څه نيمايي ده چي ده پرېښي او دی به له دې خور هر څه په ميراث وړي که ئې زوی نه وو او که دوی دوه خويندي وي، نو دوی ته له دريو دوه برخي د ميراث دي او که دوی نارينه او ښځي وروڼه، خويندي وي، نو نارينه ته به د دوو ښځو په څېر برخه وي، الله تاسو ته وضاحتونه کوي تر څو بې لارې نه شئ او الله په هر څه ښه پوه دئ.

## المائده مدني سوره 120 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې مؤمنانو! په تړونونو وفا وکړئ، څرېدونکي بوده درته حلال کړی شوي، مگر هغه چي درباندي ولوستی شي، خو حلال نه گڼونکي د ښکار کله چي په احرام کې وئ، بې شکه چي الله همغسي حکم کوي چي غواړي ئې. 2- اې مؤمنانو! مه د الهي نښو بې حرمتي کوئ او مه د محترمي مياشتي او مه کعبې ته د هديه شوي څاروي او مه د هغو څارويو چي په غاړو کې ئې غړوندي وي او مه بيت الحرام ته د خپل رب د فضل او رضاء په لټه کې د تلونکو، او ښکار هغه وخت وکړئ چي له احرام ووځئ او د کوم قوم دا دښمني دي تاسو تېري کولو ته ونه هڅوي چي له مسجدالحرام ئې منع کړئ، په ښېگڼې او تقوی کې يو د بل مرسته وکړئ، په گناه او تېري کې يو د بل مرسته مه کوئ او له الله ووېرېږئ، بې شکه چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ
بِهِۦ وَٱلۡمُنۡخَنِقَةُ وَٱلۡمَوۡقُوذَةُ وَٱلۡمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ
إِلَّا مَا ذَكَّيۡتُمۡ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسۡتَقۡسِمُواْ بِٱلۡأَزۡلَٰمِۚ ذَٰلِكُمۡ
فِسۡقٌۗ ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ
وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي
وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ فِي مَخۡمَصَةٍ غَيۡرَ مُتَجَانِفٖ
لِّإِثۡمٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣ يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمۡۖ قُلۡ أُحِلَّ
لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ وَمَا عَلَّمۡتُم مِّنَ ٱلۡجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا
عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُۖ فَكُلُواْ مِمَّآ أَمۡسَكۡنَ عَلَيۡكُمۡ وَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ
عَلَيۡهِۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٤ ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ
ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ لَّكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ
لَّهُمۡۖ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ إِذَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحۡصِنِينَ غَيۡرَ
مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخۡدَانٖۗ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ
عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٥

3- پر تاسو د مردار ځاروي غوښه، وينه، د خنزير غوښه او هر هغه څه چي د غير الله لپاره پرې غږ شوی وي، د خفه کړی شوي، وهل شوي، غورځېدلي، په ښکر ځيرل شوي، ځناور خوړلي، مگر هغه چي حلال کړی مو وي، هغه چي په کوم درشل کي ذبح شوی وي او هغه چي په غشو سره ئې په خپلو کي وېشئ، حرام کړی شوي، دا به مو فسق او سرغړونه وي، نن کافران ستاسو له دين مأيوس شول، نو لدوی مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ، نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي درباندي پوره کړ او اسلام مي د دين په توگه درته غوره کړ، خو که څوك په سخته لوږه کي اړ شو، په داسي حال کي چي د گناه په لوري تلوسه کوونکی نه وي، نو الله مهربان بخښونکی دئ. 4- له تا پوښتي چي څه ورته حلال دي؟ ورته ووايه: پاك او ستره شيان درته حلال شوي او د ښکار کوونکو حيواناتو چي کوم يو تاسو روزلی وي او په ښکار پسې ئې لېږئ او هغه څه ورښيئ چي الله تاسو ته درښودلي، نو څه چي درته وساتي هغه خورئ او د الله نومورباندي يادوئ او له الله ووېرېږئ، بې شکه چي الله ژر حساب کوونکی دئ. 5- نن ټول پاکيزه شيان درته حلال کړی شوي او د اهل کتابو طعام تاسو ته حلال دئ او ستاسو طعام دوی ته حلال دئ او له مؤمنانو پاك لمني ښځي هم او له هغو خلکو پاك لمني ښځي هم درته حلالي دي چي له تاسو مخکي کتاب ورکړی شوی، په دې شرط چي مهر ئې ورکړئ، په داسي حال کي چي نکاح کوونکي به وئ نه زنا کوونکي او نه د پټې معشوقې او محبوبې نيونکي او څوك چي له ايمانه انکار وکړي نو يقيناً چي عمل ئې حبط او تباه شو او هغه به په آخرت کي له زيانمنو وي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ
وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ
وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن كُنتُم
مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ
لَٰمَسۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا
فَٱمۡسَحُواْ بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ
عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ
عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ
وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٧ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ
عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ
خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ٨ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٞ ٩

6- ای مؤمنانو! کله چې لمانځه ته پورته کېږئ نو خپل مخونه او خپل لاسونه
تر څنګلیو ووینځئ او پر خپل سر مسح وکړئ او پښې مو هم تر بجلیو او
که جنب وئ نو ښه ځان پاك کړئ او که ناروغ وئ او یا په سفر باندي او
یا مو کوم یو له اودس ماتي راوګرځېدو او یا مو له ښځو سره نږدېوالی وکړ،
خو اوبه مو ونه موندلې، نو بیا کومي پاکي خاوري ته مخه کړئ او خپل مخ
او لاسونو پرې مسح کړئ، الله پر تاسو د کومي سختۍ او زحمت تپل نه
غواړي، برعکس دا غواړي چي تاسو پاك کړي او خپلي پیرزویني درباندي
بشپړي کړي، ترڅو شکر وکړئ. 7- او پر تاسو د الله نعمت درپه یاد کړئ او
هغه تړون ئې هم چي تاسو ئې هغه وخت پرې ژمن کړي یئ چي ومو
ویل: واموورېدو او ومومانو او له الله ووېرېږئ، یقیناً چي الله د سینو په
شته وو ښه پوه دئ. 8- اې مؤمنانو! د الله لپاره د عدل د شاهدانو په توګه
ښه او کلك ودرېدونکي اوسئ او د کوم قوم دښمني دي تاسو دې ته ونه
هڅوي چي عدالت ونکړئ، عدالت وکړئ چي دا تقوی ته ډېر نږدې دئ او
له الله ووېرېږئ، یقیناً چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ.
9- الله له هغو سره د بخښني او ستر اجر وعده کړې چي ایمان ئې راوړی
او صالح عملونه ئې کړي.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ
﴿١٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ هَمَّ
قَوۡمٌ أَن يَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ فَكَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡۖ

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١١﴾ ۞وَلَقَدۡ أَخَذَ
ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ
ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم
بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ
عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ
ٱلسَّبِيلِ ﴿١٢﴾ فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ لَعَنَّٰهُمۡ وَجَعَلۡنَا قُلُوبَهُمۡ
قَٰسِيَةٗۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ
بِهِۦۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٖ مِّنۡهُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۖ
فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱصۡفَحۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣﴾

10- او هغه چې کافران شوي او زموږ آیتونه ئې تکذیب کړي، دوی دوزخیان دي. 11- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر خپل ځان د الله د هغه وخت نعمت راپه یاد کړئ چې یوه قوم غوښتل لاس درواچوي خو الله د دوی لاسونه له تاسو دفع کړل او له الله ووېرېږئ او مؤمنان خو باید پر الله توکل وکړي. 12- او یقیناً چې الله د بني اسرائیلو ژمنه هم ترلاسه کړې وه او لدوی مو دولس مشران رابرسېره کړل او الله وفرمایل: زه درسره یم، که مو لمونځ اداء کړ او زکات مو ورکړ او زما پر پیغمبرانو مو ایمان راوړ او د دوی ملاتړ مو وکړ او الله ته مو غوره پور ورکړ، نو هرومرو به ستاسو سیئات درنه محو کړم او حتماً به مو هغو جنتونو ته داخل کړم چې لاندي ئې ویالې بهېږي، خو که له دې وروسته له تاسو څوك کافر شو یقیناً چې سمه لاره ئې ورکه کړې. 13- نو د خپلو ژمنو د ماتولو له کبله مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل، کلمې له خپل خپل ځایه کږوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکول کېدو او تل به د دوی له یوه او بل خیانته خبرېږې، مګر لږ ئې، نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه، بې شکه چې الله داسي محسنین خوښوي.

وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَهُمۡ فَنَسُواْ حَظّٗا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَأَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَاوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَسَوۡفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ١٤ يَٰٓأَهۡلَ

ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا
كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم
مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ ١٥ يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ
رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ
بِإِذۡنِهِۦ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٦ لَّقَدۡ كَفَرَ
ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ
مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ أَن يُهۡلِكَ ٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥ
وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗاۗ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا
بَيۡنَهُمَاۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧

14- او له هغو مو هم خپلي ژمني ترلاسه کړې چي وايي موږ نصرانيان يو، نو هغوی هم له هغه څه برخمن کېدل هېر کړل چي پند پرې ورکول کېدو، نو په دوی کې مو د قيامت تر ورځې دښمني او کينه واچوله او ډېر ژر به ئې الله په هغه څه خبر

کړي چي دوی به کول. 15- اې اهل کتابو! بې شکه چي زموږ
استازی درته راغلی، د کتاب ډېر هغه څه درته څرگندوي چي
تاسو پټول او له ډېرو تېرېږي، يقيناً چي تاسو ته د الله له لوري
رڼا او څرگند کتاب راغلی. 16- په دې سره الله هغه څوك د
سلامتيا په لار هدايت کوي چي د ده رضاء لټوي او په خپل اذن
سره ئې له تيارو د نور په لوري بيايي او د مستقيمي لاري په
لور ئې لارښوونه کوي. 17- هغه کسان بې له شکه کافران شوي
چي وئې ويل: يقيناً چي الله خو همدغه مسيح د مريمې زوی
دئ!! ووايه: که الله وغواړي چي مسيح، د ده مور او ټول هغه
چي په زمکې کې دي مړه کړي، نو څوك به له الله کوم څه په
خپلې ولکې کې وساتي؟ او د آسمانونو، زمکې او څه چي په دوی
کې دي، د ټولو واك له الله سره دئ، څه چي وغواړي پيدا کوي
ئې او الله په هر څه قادر دئ.

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥۚ قُلْ فَلِمَ
يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُمۖ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ
وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَاۖ

وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٨﴾ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ
لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا
نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٩﴾
وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ
جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ
أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَٰقَوۡمِ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡأَرۡضَ ٱلۡمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِي
كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَارِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ
﴿٢١﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوۡمٗا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا حَتَّىٰ
يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ
ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا
دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٣﴾

18- او يهودانو او نصاراوو وويل: موږ د الله زامن او د ده محبوبان يو، ووايه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذيبوي؟ داسي نده بلکي تاسو همغه عادي انسانان يئ چي الله پيدا کړي. چا ته چي وغواړي بخښنه کوي او څوک چي وغواړي تعذيبوی ئې او د آسمانونو، زمکي

او څه چي په دوی کي دي، د ټولو واك له الله سره دئ او بېرته ورتگ
د ده په لوري دئ. 19- اې اهل کتابو! بې شکه چي زموږ استازی
درته راغی، د پیغمبرانو د لړۍ د ځنډېدو په وخت کي څرگندوني درته
کوي، ترڅو ونه وایئ چي موږ ته کوم بشیر او نذیر نه وو راغلی، نو
دا دئ بشیر او نذیر درته راغی او الله په هر څه ښه قادر دئ. 20-
او کله چي موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! پر تاسو د الله
پېرزویني درپه یاد کړئ؛ کله چي ئې په تاسو کي پیغمبران راپیدا
کړل، تاسو ئې پاچایان وگرځولئ او هغه څه ئې درکړل چي په
ولسونو کي ئې هېچا ته نه وو ورکړي. 21- اې زما قومه! دغي مقدسي
زمکي ته چي الله درته لیکلې ورننوځئ او شا ته مه کېږئ، که
نه نو زیانمن به راوگرځئ. 22- وئې ویل: اې موسی! په دې کي خو یو
پیاوړی قوم دئ او موږ به تر هغه هیڅکله ورداخل نشو چي دوی
ترې ووځي، که ترې ووتل بیا به ورننوتونکي شو. 23- له دغو چي
وېرېدل، دوو سړیو ئې چي الله پرې پېرزوینه کړې وه، وویل: له
دروازې پرې ورننوځئ، نو کله هم چي ورننوتئ تاسو به بریالي وئ
او که مؤمنان وئ نو پر الله باید توکل وکړئ.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذۡهَبۡ أَنتَ
وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ إِلَّا
نَفۡسِي وَأَخِيۖ فَٱفۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا

مُحَرَّمَةٌۛ عَلَيۡهِمۡۛ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗۛ يَتِيهُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَلَا تَأۡسَ عَلَى
ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦ ۞وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا
قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ قَالَ لَأَقۡتُلَنَّكَۖ
قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٧ لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ
لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ
أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩ فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ
قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٣٠ فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابٗا
يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ
أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ
فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ٣١

24- وئي ويل: اې موسی! تر څو چي دوی په کي وي موږ به هيڅکله ورداخل نشو، نو ته او رب دي لاړ شئ او وجنګيږئ، موږ به همدلته ناست يو! 25- وئي ويل: اې زما ربه! زما په واك کي خو له خپل ځان او له خپل ورور پرته نور څه نشته، نو موږ او

دغه فاسق قوم په خپلو کې سره بېل کړه. 26- وئې فرمايل: نو دا
تر څلوېښتو کلونو پرې حرامه شوه، په زمکې کې به لالهانده گرځي،
نو پر دې فاسق قوم تأسف مه کوه. 27- او د آدم د دوو زامنو
حقيقي خبره ورواوروه، کله چې دواړو يوه يوه قرباني وړاندې
کړه، خو له يوه ئې ومنل شوه او له بله ونه منل شوه، وئې ويل:
هرومرو به دې ووژنم، وئې ويل: الله خو ئې يوازې له پرهېزگارانو
قبلوي. 28- که زما د وژلو لپاره دې لاس رااوږد کړ، زه خو ستا د
وژلو لپاره د خپل لاس درغزوونکی نه يم، زه خو د عالمونو له
پالونکي الله وېرېږم. 29- زه خو دا غواړم چې ته زما په گناه هم
او پر خپلې گناه هم مؤاخذه شې، په دې سره به ته له دوزخيانو
شې او همدا د ظالمانو سزا ده. 30- نو خپل نفس د خپل ورور
وژل ورته ښايسته کړ، نو وئې واژو او له زيانمنو شو. 31- نو الله
يو کارغه راولېږو چې زمکه ئې سپړله، ترڅو وروښيي چې د خپل
ورور جثه څنگه پټه کړي، وئې ويل: هاى افسوس، آيا له دې هم
عاجز شوم چې د دې کارغه په څېر واى او د خپل ورور جثه مې
پټه کړې واى، نو له پښېماني کوونکو شو.

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ
نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ
جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًاۚ وَلَقَدْ

جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ
فِي ٱلۡأَرۡضِ لَمُسۡرِفُونَ ٣٢ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ
أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ
ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ
عَظِيمٌ ٣٣ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبۡلِ أَن تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهِمۡۖ
فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ
لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي
ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفۡتَدُواْ بِهِۦ مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنۡهُمۡۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٣٦

32- د همدې لپاره مو بني اسرائيلو ته حکم وکړ چي: که څوك د بل کس له قصاص پرته او يا په زمکې کې له کوم فساد پرته يو کس ووژني، نو دا داسي دئ لکه چي ټول خلك ئې وژلي وي او چا چي هغه

ژوندی وژغورو نو دا داسي دئ لکه چي ټول خلك ئې ژوندي کړي
وي او زموږ پيغمبران له همدغو څرګندو نښو سره ورغلل، خو دا
دئ ډېری ئې له دې وروسته هم په زمکي کي اسراف کوونکي دي. 33-
د هغو کسانو چي له الله او د ده له پيغمبر سره جنګېږي او په زمکي
کي د فساد هڅه کوي سزا ئې له دې پرته بل څه نده چي يا ووژل
شي يا پانسۍ شي، يا ئې لاسونه او پښې سره مخالف پرې کړی شي
او يا له ملکه وشړل شي، دا د دوی لپاره د دنيا سپکاوی او په آخرت
کي ورته ستر عذاب دئ. 34- مګر هغه چي مخکي له دې توبه وکړي
چي تاسو پرې برلاسي شئ، نو پوه شئ چي الله مهربان بخښونکی
دئ. 35- اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او د ده لوري ته وسيله ولټوئ
او د ده په لار کي جهاد وکړئ ترڅو بريالي شئ. 36- يقيناً هغه چي
کافران شوي که د زمکي ټول شته د دوی وی او دې ته ورته نور هم
ورسره وی، ترڅو د قيامت د ورځي د عذاب په بدله کي ئې ورکړي،
ترې قبول به نشي او دوی ته به دردناك عذاب وي.

يُرِيدُونَ أَن يَخۡرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنۡهَاۖ وَلَهُمۡ
عَذَابٞ مُّقِيمٞ ٣٧ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا

جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلٗا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٣٨ فَمَن
تَابَ مِنۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ
غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٣٩ أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٤٠ ۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ
فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن
قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ
ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ
يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ
وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ
وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٤١

37- غواړي به چې له اور ووځي خو ترې وتونکي به نه وي او دوی ته به دائمي عذاب وي. 38- او د غله او غلې لاسونه ورپرې کړئ،

د لاسته راوړنو سزا ئې، الهي عبرت، او الله باحکمت عزتمن دئ. 39- نو که چا له خپل ظلمه وروسته توبه وکړه او (ځان ئې) اصلاح کړ، نو يقيناً چي الله ئې توبه قبلوي، بې شکه چي الله مهربان بخښونکی دئ. 40- آيا په دې نه پوهېږې چي د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، څوك چي وغواړي تعذيبوي ئې او چا ته چي ئې خوښه وي بخښنه ورته کوي او الله په هر څه شه قادر دئ. 41- اې پيغمبره! هغه خلك چي په خولو ئې ايمان راوړی خو زړونو ئې ايمان نه دئ راوړی، په کفر کې د دوی تلوار دې هم تا غمجن نکړي او د هغو هم چي يهودان شوي، درواغو ته ښه غوږ نيوونکي او د هغو خلکو لپاره ښه اورېدونکي (يا جاسوسي کوونکي) چي لا تا ته نه دي راغلي، کلمې به له خپل خپل ځايه راوروسته اړوي، وايي به: که دا دا درکړی شو، نو وائې خلئ او که درنکړی شو نو ډډه ترې وکړئ، او الله چي په فتنه کې د چا اچول وغوښتل نو له الله هيڅ څه نشې ورته ترلاسه کولی، دوی همغه دي چي الله د دوی د زړونو پاکول نه دي غوښتي، دوی ته په دنيا کې رسوائي ده او په آخرت کې ورته ستر عذاب.

سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحۡكُم
بَيۡنَهُمۡ أَوۡ أَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ
شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٤٢﴾ وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰةُ فِيهَا
حُكۡمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ
بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٣﴾ إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ
بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ
وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ
شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا
قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ
وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ
بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ
وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾

42- درواغو ته ښه غوږ نيوونکي، د حرامو ډېر خوړونکي، نو که درته راغلل يا د دوی ترمنځ پرېکړه وکړه او يا مخ ترې واړوه او که مخ ترې واړوې نو هيڅ ضرر نشي دررسولی او که پرېکړه دې کوله نو د دوی تر منځ عادلانه پرېکړه کوه، بې شکه چې الله عدالت کوونکي خوښوي. 43- او څنګه به تا حکم ګرځوي حال دا چې لدوی سره خو تورات دئ چې د الله احکام په کې شته، بيا له دې سره سره مخ اړوي او دوی خو اصلاً مؤمنان نه دي. 44- يقيناً چې دا تورات مو نازل کړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا ده، په دې سره هم هغو پيغمبرانو يهودانو ته پرېکړې اورولې چې مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماوو په هغه څه چې د الله له کتابه ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول، نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آيتونو ناڅيزه بيع مه پېرئ او چا چې په ماانزل الله حکم ونکړ نو همدا دوی کافران دي. 45- او په هغه کې مو پر دوی دا فرض کړي وو چې نفس د نفس، سترګه د سترګې، پزه د پزې، غوږ د غوږ او غاښ د غاښ په بدل کې او پرهارونه به سره برابر (قصاص) کېږي. او چا چې وبخښو نو همدا ئې کفاره شوه او چا چې په ماانزل الله حکم ونکړ، همدا دوی ظالمان دي.

وَقَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ
مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ
يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٤٦ وَلۡيَحۡكُمۡ أَهۡلُ
ٱلۡإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤٧ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ
مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم
بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ
لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ
أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ
إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ
٤٨ وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ
وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ
فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا
مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ٤٩ أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ
أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٥٠

46- او د دوی په پل مو عیسی د مریمې زوی ور پسې کړ، د هغه تورات تصدیقوونکی چې له ده د مخه وو او هغه انجیل مو ورکړ چې لارښوونه او رڼا په کې وه او د هغه تورات تصدیقوونکی وو چې ترې د مخه وو او متقیانو لپاره لارښود او پند وو. 47- نو د انجیل خاوندان دې په هغه څه حکم وکړي چې الله په کې نازل کړي او څوك چې په ما انزل الله حکم ونکړي نو همدا دوی فاسقان دي. 48- او تا ته مو دا په حق ولاړ کتاب رانازل کړ، د هغو کتابونو تصدیقوونکی چې ترې د مخه وو او پرې احتواء کوونکی، نو د دوی ترمنځ په هغه څه حکم کوه چې الله نازل کړي او تا ته د راغلي حق په معامله کې د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوه، ستاسو هر یوه ته مو خاص شریعت او تګلاره ټاکلې او که الله غوښتلی نو تاسو ټول به ئې یوه ډله ګرځولي وئ، خو (غواړي) په هغه سره مو وآزمویي چې درکړي ئې دي، نو د ښېګڼو په لوري تلوار وکړئ، ستاسو ټولو ورتګ د الله لوري ته دئ، نو په هغه څه به مو خبر کړي چې اختلاف مو په کې کاوو. 49- او دا چې د دوی ترمنځ په هغه څه پرېکړي کوه چې الله نازل کړي او د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوه او په دې کې لدوی ځان ساته چې تا ته د الله له لوري د نازل شوو له کومي برخي دي واړوي، نو که ئې ډډه وکړه نوپه دې دي پوه وې چې الله غواړي د ځینو ګناهونو په وجه ئې په مصیبتونو اخته کړي او یقیناً چې د دغو خلکو ډېری فاسقان دي. 50- آیا د جاهلیت پرېکړه لټوي، په داسي حال کې چې تر الله به د باور لرونکو لپاره څوك په حکم کولو کې غوره وي؟!

۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ
أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ
يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ
مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُولُ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ إِنَّهُمۡ
لَمَعَكُمۡۚ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَأَصۡبَحُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ
وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ
وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمۡ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾ وَمَن يَتَوَلَّ
ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٥٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن
كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾

51- اې مؤمنانو! يهود او نصارا په دوستۍ مه نيسئ، دوی په خپلو کې يو د بل دوستان دي او له تاسو چې څوک له دوی سره دوستي وکړه، هغه به د دوی له ډلې وي او يقيناً چې الله د ظالمانو دا ډله هيڅکله نه هدايت کوي. 52- نو هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده، ته به ئې ګورې چې د دوی په دوستۍ کې به تلوار کوي، وايي به: د کومې حادثې له رارسېدو وېرېږو!! نو ښايي چې الله به له خپل لوري فتح او يا کوم بل څه راولي او په دې سره به په هغو خبرو پښېماني کوونکي شي چې په خپلو زړونو کې ئې پټولې. 53- او هغه چې ايمان ئې راوړی وايي به: آيا دا همغه دي چې د الله په نامه به ئې کلکې کلکې لوړې کولې چې دوی له شکه پرته له تاسو سره دي! عملونه ئې تباه شول نو له زيانمنو شول. 54- اې مؤمنانو! که له تاسو څوک له خپل دين په شا شو نو الله به ډېر ژر داسې قوم راپيدا کړي چې دوی پر ده ګران وي او دی پر دوی ګران وي، پر مؤمنانو تواضع کوونکي او پر کافرانو ځان برګنڼونکي، د الله په لار کې به جهاد کوي او د هيڅ ملامتوونکي له ملامتولو به نه وېرېږي، دا د الله فضل دئ، هغه چا ته ئې ورپه برخه کوي چې دی ئې غواړي او الله پوه د وسعت خاوند دئ. 55- ستاسو دوستان خو الله او پيغمبر ئې او هغه مؤمنان دي چې لمونځ کوي او زکات ورکوي په داسې حال کې چې رکوع کوونکي وي. 56- او څوک چې له الله او د ده له پيغمبر او مؤمنانو سره دوستي کوي نو بې شکه چې همدا د الله حزب غالب دئ. 57- اې مؤمنانو! له هغو چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او ستاسو دين ئې په ټوکو او لوبو نيولی او له کافرانو دوستان مه نيسئ او له اللهووېرېږئ که مؤمنان ياست.

وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا
يَعْقِلُونَ ﴿٥٨﴾ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا
بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾
قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ
وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَۚ
أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٦٠﴾ وَإِذَا جَآءُوكُمْ
قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ
بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾ وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ
وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا
يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَۚ
لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌۚ غُلَّتْ
أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا۟ بِمَا قَالُوا۟ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُۚ
وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًاۚ
وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِۚ كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا
لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُۚ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًاۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ
ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾

58- او کله چي د لمانځه لوري ته بلنه ورکوئ ملنډې پرې وهي ، دا له
دې کبله چي دوی بې عقله خلك دي.59- ووايه: اې اهل کتابو! آيا له
دې پرته د بل څه لپاره موږ عيبجن ګڼئ چي موږ هم پر الله ايمان راوړی
او هم پر هغه څه چي موږ ته نازل شوی او هم پر هغه څه چي له دې
د مخه نازل شوی او د دې لپاره چي ستاسو اکثريت فاسقان دي. 60-
ووايه: آيا په هغه مو خبر کړم چي تر دې ئې د الله په وړاندې سزا ډېره
بده ده؟ هغه چي الله رټلي، غضب ئې پرې کړی او لدوی ئې بيزوګانې،
خنزيران او د طاغوت بندګان جوړ کړل، دوی د دريځ له مخي ډېر بد او
له سمې لارې ډېر تېروتي دي. 61- او چي درته راشي وايي: ايمان مو
راوړی، حال دا چي له کفر سره راننوتي او له همدې سره بېرته وتلي او
الله په هغه څه ډېر ښه پوهېږي چي پټوي ئې. 62- او ډېری به ئې وګورې
چي په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي، څومره بد دئ
هغه څه چي دوی ئې کوي. 63- ولې ئې خدای پالونکي او علماء د ګناه
له وينا او د حرامو له خوړلو نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چي
دوی ئې کوي. 64- او يهودانو وويل: د الله تعالی لاس تړلی دئ، د دوی
لاسونه دې تړلي وي او پر دوی دې لعنت وي، په سبب د هغه څه چي
وئې ويل، داسې نده لکه دوی چي وايي، د الله تعالی دواړه لاسونه خلاص
دي او څنګه چي وغواړي همغسې انفاق کوي او هغه څه به د دوی د
ډېرو طغيان او کفر حتماً ورزيات کړي چي ستا د رب له لوري درته نازل
شوی او د دوی ترمنځ مو ترقيامته دښمني او کرکه وغورځوله، هرکله ئې
چي د جګړې کوم اور بل کړی، الله هغه مړ کړی او په ځمکې کې د فساد
لپاره هڅه کوي او الله دا مفسدين نه خوښوي.

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَكَفَّرۡنَا عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ
وَلَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٦٥ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ
وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِم مِّن رَّبِّهِمۡ لَأَكَلُواْ مِن فَوۡقِهِمۡ وَمِن
تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۚ مِّنۡهُمۡ أُمَّةٞ مُّقۡتَصِدَةٞۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ سَآءَ مَا يَعۡمَلُونَ
٦٦ ۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ
فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٧ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ
تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡۗ
وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۖ
فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ
هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٩ لَقَدۡ
أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ رُسُلٗاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمۡ
رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُهُمۡ فَرِيقٗا كَذَّبُواْ وَفَرِيقٗا يَقۡتُلُونَ ٧٠

65- او که اهل کتابو ایمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو حتماً به مو د دوی ناخوالي ختمي کړې وې او هرومرو به مو د نعمتونو جنت ته ننیستي وو. 66- او که دوی تورات، انجیل او هغه څه چي د خپل رب له لوري ورته نازل شوي، پلي کړي وی، نو هرومرو به ئې هم له بره خوړلي وو او هم د خپلو پښو له لاندي، د دوی یوه ډله خو منځ لارې ده خو ډېری ئې داسي دي چي کړني ئې ډېري بدې دي. 67- اې پیغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دي ونکړ نو د ده پیغام دي نه دئ رسولی او الله دي له خلکو ساتي، یقیناً چي الله دا کافر قوم نه هدایت کوي. 68- ووایه: اې اهل کتابو! تر څو تورات، انجیل او هغه څه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي پلي نکړئ، په هیڅ څه نه یئ او هغه څه به حتماً د دوی د ډېرو طغیان او کفر ورزیات کړي چي ستا د رب له لوري درته نازل شوی، نو د کافرانو پر دې قوم هیڅ تأسف مه کوه. 69- یقیناً له هغو چي ایمان ئې راوړی او له هغو چي یهودان شوي او له صابئینو او نصرانیانو چي څوك هم پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان راوړي او نېك عملونه وکړي نو نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. 70- یقیناً چي د بني اسرائیلو ژمنه مو ترلاسه کړې وه او پیغمبران مو ورلېږلي وو، خو کله هم چي کوم پیغمبر هغه څه ورته راوړي چي د دوی نفسونو نه خوښاوو، نو ځیني ئې تکذیب کړل او ځیني ئې وژل.

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتۡنَةٞ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ثُمَّ
عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٞ مِّنۡهُمۡۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ٧١ لَقَدۡ كَفَرَ
ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ وَقَالَ ٱلۡمَسِيحُ يَٰبَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ
ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ٧٢ لَّقَدۡ
كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٖۘ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ
وَإِن لَّمۡ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ٧٣ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٤
مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ
صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ
ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٧٥ قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ
لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦ قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ
ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ
ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧

71- او دا گمان ئې وکړ چې څه عذاب به نه وي، نو ړانده او کاڼه
شول، بیا الله پرې ورحمېدو، خو بیا ئې ډېر ړانده او کاڼه شول او
الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې کوي ئې. 72- یقیناً هغه کسان
کافران شول چې ویل ئې: بې شکه چې الله خو همدا مسیح د
مریمې زوی دئ، په داسې حال کې چې مسیح به ویل: اې بني
اسرائیلو! د الله عبادت وکړئ چې هم زما رب دئ او هم ستاسو
رب، حقیقت دا دئ چې چا له الله سره شرك وکړ، نو یقیناً الله جنت
ورباندې حرام کړی او ځای ئې اور دئ او دغو ظالمانو ته هیڅ
مرستندویان نشته. 73- یقیناً چا چې وویل: الله د دریو درېیم دئ
هغوی کافران شوي، له یوه معبود پرته بل معبود نشته او که ئې
له هغه څه ډډه ونکړه چې دوی ئې وایي نو حتماً به د دوی کافر
شوو ته دردناك عذاب ورسېږي. 74- نو آیا الله ته توبه نه کوي او
بخښنه ترې نه غواړي، په داسې حال کې چې الله مهربان بخښونکی
دئ. 75- مسیح د مریمې زوی خو له یوه استازي پرته بل څه نه
دئ، تر ده د مخه هم پیغمبران تېر شوي او مور ئې ډېره رښتینې
ښځه وه، دواړو به خوراك کاوو، وگوره چې څنگه څرگند دلائل
ورته بیانوو، بیا دې ته هم وگوره چې څنگه دوکه کېږي! 76-
ووایه: آیا له الله پرته د داسې څه عبادت کوئ چې نه تا سو ته
کوم زیان په خپل واك کې لري او نه هم کومه گټه، او دا خو الله
دئ چې ښه پوه اورېدونکی دئ.

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ
وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُواْ
لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٩﴾
تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ
لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ
خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوۡ كَانُواْ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ
مَا ٱتَّخَذُوهُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾
۞لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةٗ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ
أَشۡرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقۡرَبَهُم مَّوَدَّةٗ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا
نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانٗا وَأَنَّهُمۡ لَا
يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٨٢﴾ وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ
أَعۡيُنَهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ
رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾

78- د بني اسرائيلو هغه کسان د داؤد او عیسی د مريمې زوی په ژبه لعنت کړی شول چې کافران شوي وو، دا د دې لپاره چې نافرماني ئې کوله او تېری به ئې کاوو. 79- دا دوی ول چې يوه به بل له هغو کرغېړنو عملونو نه منع کول چې دوی به پرې اخته وو، څومره بد دئ هغه چې دوی به کاوو. 80- ډېری به ئې ګورې چې له کافرانو سره به دوستي کوي، څومره بد دئ هغه چې د دوی نفسونو وروړاندې کړل، چې الله پرې په قهر شو او په عذاب کې به تلپاته وي. 81- او که دوی پر خدای، پيغمبراو هغه څه ايمان درلودی چې دوی ته نازل شوي وو نو هغوی به ئې دوستان نه نيول، خو اکثر د دوی فاسقان دي. 82- له مؤمنانو سره په دښمنۍ کې به حتماً يهودان او مشرکين تر ټولو خلکو شديد وموم‌ې او هرومرو به مؤمنانو ته په دوستۍ کې هغه کسان ډېر نژدې ومومې چې وايي: موږ نصارا يو، دا د دې لپاره چې د دوی ځيني کشيشان او زاهدان دي او د دې لپاره چې تکبر نه کوي. 83- او کله چې هغه څه واوري چې پيغمبر ته رانازل شوی د حقيقت د پېژندو له امله به د دوی سترګي ګورې چې له اوښکو بهېږي، وايي به: اې زموږ ربه! موږ خو ايمان راوړی نود شاهدانو په زمره کې مو وليکه.

وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا
رَبُّنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴿٨٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡجَحِيمِ ﴿٨٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ
ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُواْ مِمَّا
رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ
﴿٨٨﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن
يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ
مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ
تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ
أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ
لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٨٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا
ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ
فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٩٠﴾

84- او ولې به پر الله او پر هغه حقيقت باور نه کوو چې موږ ته رارسېدلی او دا طمع کوو چې زموږ رب به مو د صالحانو په ډله کې داخل کړي. 85- نو الله د دوی د دې وينا په سبب هغه جنتونه په بدل کې ورکړل چې ترې لاندې ويالې بهېږي، تلپاته په هغوی کې، او همدا د نېکي کوونکو بدله ده. 86- او هغه چې کافران شوي او زما آيتونه ئې تکذيب کړي، دوی دوزخيان دي. 87- اې مؤمنانو! هغه پاکيزه شيان چې الله درته حلال کړي مه حراموئ او تېری مه کوئ، الله تېری کوونکي نه خوښوي. 88- او هغه پاکيزه حلال وخورئ چې الله درروزي کړي او له هغه الله ووېرېږئ چې ايمان پرې لرئ. 89- الله مو په مُهمل او خوشي قسمونو نه نيسي، خو په هغو قسمونو مو نيسي چې تړون مو پرې کلك کړی، نو کفاره ئې لسو مسکينانو ته د هغه طعام اوسط ورکول دي چې خپل ټبر ته ئې ورکوئ، يا جامې ورکول او يا د يوه مريي آزادول، نو چا چې دا ونه موندل نو درې ورځې روژه نيول دي، چې کله هم لوړه وکړئ، نو دا ستاسو د لوړو کفاره ده او د خپلو قسمونو حفاظت وکړئ، همدا راز الله خپل آيتونه درته بيانوي ترڅو شکر وکړئ. 90- اې مؤمنانو! اصلي خبره دا ده چې شراب، قمار، بتان او د فال غشي د شيطان پليتي کړني دي، نو ځان ترې وساتئ ترڅو بريا ومومئ.

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي
ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ
أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحۡذَرُواْۚ فَإِن
تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٩٢﴾ لَيۡسَ عَلَى
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٞ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا
ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ
وَّأَحۡسَنُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٩٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ
لِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ
حُرُمٞۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ
يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ
طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمۡرِهِۦۗ عَفَا
ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو
ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

91- شیطان خو غواړي چې په شراب او قمار سره په تاسو کې دښمني او کینه واچوي او د الله له ذکر او له لمانځه مو مخنیوی وکړي، نو آیا امتناع کوونکي یئ. 92- او د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ او حذر وکړئ، نو که مخ مو واړاوو نو پوه شئ چې زموږ د پیغمبر پر ذمه یوازي څرګند تبلیغ دئ. 93- پر هغو چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي په هغه څه کې کومه ګناه نشته چې خوړلي ئې دي، که ( لدې وروسته) ځان وساتي، (په حرمت ئې) ایمان ولري، او نېك عملونه وکړي، بیا تقوی وکړي او ایمان راوړي، بیا تقوی او احسان وکړي او الله خو دا محسنین خوښوي. 94- اې مؤمنانو! الله به مو حتماً په داسي ښکار سره آزمويي چې ستاسو لاسونه او نېزې وررسېږي، تر څو الله دا معلومه کړي چې څوك غائبانه ترې وېرېږي، نو چا چې له دې وروسته تېری وکړ نو هغه ته دردناك عذاب دئ. 95- اې مؤمنانو! چې کله په احرام کې وئ نو ښکار مه وژنئ او له تاسو نه چې چا قصداً ووژلو نو سزا ئې هغه څه ته ورته څاروی دئ چې وژلی ئې دئ، چې ستاسو دوه باانصافه به ئې پرېکړه کوي، کعبې ته د رسېدونکي نذر په توګه، یا څو مسکینانو ته د خوړو ورکولو کفاره ده، یا ئې له دې سره برابر روژه نیول، ترڅو د خپل کار سزا وڅکي، الله د هغه څه عفو وکړه چې پخوا تېر شوي او څوك چې وګرځېدو نو الله به ترې بدل واخلي او الله انتقام اخیستونکی عزتمن دئ.

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ وَحُرِّمَ
عَلَيْكُمْ صَيْدُ ٱلْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ
تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾ ۞ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ
وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا
فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾ ٱعْلَمُوٓا۟
أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٨﴾ مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ
إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾ قُل لَّا يَسْتَوِى
ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى
ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ
أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ
تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ
مِّن قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا۟ بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾ مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ
وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ ۙ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَفْتَرُونَ
عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾

96- د بحر ښکار او خواړه ئې درته حلال کړی شوي، چي ستاسو او د
نورو مسافرانو لپاره یوه متاع ده او د وچي ښکار تر هغه دربانديي
حرام کړی شوی چي په احرام کي وئ او له هغه الله ووېرېږئ چي د
هغه لوري ته به ورټول کړی شئ. 97- الله د کعبې دا محترم کور د
خلکو لپاره د قیام وسیله گرځولی او درنه میاشت هم او نذر شوی
څاروی او امېل داره څاروي هم، دا د دې لپاره چي پوه شئ الله په
ټولو هغو شیانو پوهېږي چي په آسمانونو او زمکي کي دي او دا چي
الله په هر څه ښه پوه دئ. 98- په دې پوه شئ چي الله هم سخت
عذاب ورکوونکی دئ او هم مهربان بخښونکی. 99- پر پیغمبر له رسولو
او تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته او الله په هغه څه هم پوهېږي چي
څرگندوئ ئې او په هغه هم چي پټوئ ئې. 100- ووایه: ناپاك او پاك
سره برابر نه دي که څه هم د ناپاکانو زیاتوالی دي حیران کړي، نو له
الله ووېرېږئ اې عقلمنو تر څو بریا ومومئ. 101- اې مؤمنانو! د هغو
شیانو په اړه پوښتنه مه کوئ چي که درته څرگند شي نو خفه به مو
کړي او که د هغه په هکله هغه وخت پوښتنه وکړئ چي قرآن نازلېږي
نو درته څرگند به شي، الله دي د دې عفو وکړي او الله حلیم بخښونکی
دئ. 102- یقیناً چي ترتاسو د مخه ځینو خلکو پوښتلي وو بیا پرې کافر
شول. 103- الله نه کومه بحیره ټاکلې، نه سائبه، نه وصیله او نه حام،
خو کافران پر الله دروغجني افتراگاني کوي او اکثر ئې تعقل نه کوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا
مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا
يَهۡتَدُونَ ١٠٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا
يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ
بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا
عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ
فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ
فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ
وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ١٠٦ فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ
أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ
ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن
شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٧ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن
يَأۡتُواْ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجۡهِهَآ أَوۡ يَخَافُوٓاْ أَن تُرَدَّ أَيۡمَٰنُۢ بَعۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡۗ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡمَعُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٠٨

104- او کله چي ورته وويل شي: هغه څه ته چي الله نازل کړي او پيغمبر ته راشئ، وايي: هغه راته بس دي چي خپل پلرونه مو پرې موندلي، آيا سره له دې چي پلرونه ئې نه په څه پوهېدل او نه په سمه لار روان ول!! 105- اې مؤمنانو! پر تاسو د خپل ځان ذمه واري ده، که په سمه لار روان وئ نو هغه څوك هيڅ ضرر نشي دررسولی چي بې لاري شوی، ستاسو ټولو بېرته گرځېدل د الله په لوري دي، نو په هغه څه به مو خبر کړي چي کول مو. 106- اې مؤمنانو! چي کله مو کوم يوه ته مرگ راوړاندي شي، نو د وصيت په وخت کې مو په خپلو کې شهادت ستاسو دوه عادل کسان دي او يا له تاسو پرته دوه نور، خو هغه وخت چي په زمکې کې سفر کوئ او ناڅاپي د مرگ مصيبت دروسي، له لمانځه وروسته ئې راتم کړئ، که په شك کې پرېوتئ نو هغوی دي د الله په نامه لوړه وکړي چي نه خو کومه بيع پرې پېرو، که څه هم خپلوان وي او نه هم الهي شهادت پټوو، يقيناً چي په دې صورت کې به موږ گناهگار وو. 107- خو که دا معلومه شوه چي دوی دواړو په گناه سره ځان مستحق گرځولی، نو دوه نور دي له هغو د دوی په ځای ودرېږي چي لومړنيو ځان پرې مستحق گڼلی، نو د الله په نامه دي لوړه وکړي چي زموږ شهادت د دوی تر شهادت ډېر حقيقي دئ او هيڅ تېری مو ندئ کړی، يقيناً چي موږ به په هغه صورت کې له ظالمانو وو. 108- دا دې ته ډېر نژدې دئ چي شهادت په خپلې حقيقي بڼې کې وړاندي کړي او له دې ووېرېږي چي د دوی له قسمونو وروسته د لوړي ترديد ونشي او له الله ووېرېږئ او واورئ او الله د فاسقانو دا قوم نه هدايت کوي.

۞يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡۖ قَالُواْ لَا عِلۡمَ لَنَآۖ
إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١٠٩ إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ
ٱذۡكُرۡ نِعۡمَتِي عَلَيۡكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذۡ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِ
تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗاۖ وَإِذۡ عَلَّمۡتُكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ
وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ وَإِذۡ تَخۡلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ بِإِذۡنِي
فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِيۖ وَتُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ
بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ كَفَفۡتُ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَنكَ
إِذۡ جِئۡتَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا
سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١١٠ وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي
وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١ إِذۡ قَالَ
ٱلۡحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ هَلۡ يَسۡتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ
عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِۖ قَالَ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١١٢
قَالُواْ نُرِيدُ أَن نَّأۡكُلَ مِنۡهَا وَتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعۡلَمَ أَن قَدۡ
صَدَقۡتَنَا وَنَكُونَ عَلَيۡهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ١١٣

109- هغه ورځ چې الله به پیغمبران راغونډ کړي او وبه وايي: څه
ځواب درکړی شو؟ وايي به: هيڅ علم ئې راسره نشته، په پټو خبرو
خو يوازې ته ښه پوه يې. 110- هغه وخت چې الله به ووايي: اې
عيسى د مريمې زويه! پر خپل ځان او پر خپلې مور دې زما هغه
نعمتونه درياد کړه چې په پاکې روح سره مې ستا ملاتړ وکړ، په
وړوکوالي او زوړوالي کې دې له خلکو سره خبرې کولې او چې کتاب،
حکمت، تورات او انجيل مې درزده کړ، او چې زما په امر سره به
دې له خټې د مارغه څېره جوړه کړه، په هغه کې به دې پو کړل او
زما په حکم سره به هغه الوتونکی مارغه شو او مورنی ړوند او برگی
به دې زما په حکم سره روغول او مړي به دې زما په اجازه ژوندي
رابره کول او چې بني اسرائيل مې له تا حصار کړل، هغه وخت چې
تا ورته ښکاره نښې راوړې خو د دوی کافرانو وويل: دا خو له
ښکاره جادو پرته بل څه نه دئ!! 111- او هغه وخت چې حواريونو
ته مې وويل: پر ما او زما پر پيغمبر ايمان راوړئ، وئې ويل: ايمان مو
راوړ او ته د دې شاهد اوسه چې موږ مسلمانان يو. 112- او کله
چې حواريونو وويل: اې عيسى د مريمې زويه! آيا ستا رب کولی شي
چې له آسمانه يوه ډکه خونچه راولېږي، وئې ويل: که ايمان لرئ نو
له الله ووېرېږئ. 113- وئې ويل: غواړو چې هم څه ترې وخورو،
هم مو زړونه ډاډه شي، هم په دې پوه شو چې تا راته رښتيا ويلي
او هم پرې شهادت ورکوونکي وو.

قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَۖ وَٱرۡزُقۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ
ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيۡكُمۡۖ فَمَن يَكۡفُرۡ بَعۡدُ
مِنكُمۡ فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴿١١٥﴾ وَإِذۡ
قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ
إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا
لَيۡسَ لِي بِحَقٍّۚ إِن كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي
وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ مَا قُلۡتُ لَهُمۡ
إِلَّا مَآ أَمَرۡتَنِي بِهِۦٓ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۚ وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ
شَهِيدًا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ
وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾ إِن تُعَذِّبۡهُمۡ فَإِنَّهُمۡ عِبَادُكَۖ وَإِن
تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوۡمُ يَنفَعُ
ٱلصَّٰدِقِينَ صِدۡقُهُمۡۚ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١١٩﴾
لِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا فِيهِنَّۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرُۢ
﴿١٢٠﴾

114- عیسی د مریمې زوی وویل: اې الله زموږ ربه! له آسمانه پر موږ
یوه ډکه خونچه رانازله کړه، چې هم زموږ د مخکنیو او وروستنیو
لپاره د اختر په توګه وي او هم ستا له لوري یوه نښه او موږ ته روزي
را چې ته تر ټولو غوره روزي ورکوونکی یې. 115- الله وفرمایل: زه ئې
درباندې نازلوونکی یم، خو که څوك له دې وروسته کافر شو نو په
داسې عذاب به ئې اخته کړم چې د عالمیانو هیڅ یو به پرې تعذیب
نکړم. 116- او کله چې الله وفرمایل: اې عیسی د مریمې زویه! آیا تا
خلکو ته ویلي وو چې ما او مور مې له الله پرته د دوو خدایانو په
توګه ونیسئ، وئې ویل: پاکي تا ته ده، ما ته نه ښایي چې هغه څه
ووایم چې حق ئې نلرم، که ما ویلي وی نو ته به بې شکه پرې پوه
وې، ته په هغه څه پوهېږې چې زما په زړه کې دي او زه په هغه څه
نه پوهېږم چې له تا سره دي، بې شکه چې ته خو په ټولو پټو خبرو
ښه پوه یې. 117- ما له هغه څه پرته چې تا ئې امر راته کړی وو بل
څه دوی ته نه دي ویلي، هغه دا چې د هغه الله عبادت وکړئ چې
هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، او زه تر هغه پر دوی شاهد وم
چې په دوی کې وم، خو کله چې تا زما کار پای ته ورساوو، ته په خپله
پر دوی څارونکی وې او ته په هر څه ښه شاهد یې. 118- که ئې
تعذیبوې نو هغوی دي بندګان دي او که ئې بخښې نو بې شکه چې
ته باحکمت عزتمن یې. 119- الله وفرمایل: دا هغه ورځ ده چې رښتینو
ته به د دوی رښتیا ګټه رسوي، دوی ته به داسې جنتونه وي چې ویالې
به ترې لاندې بهېږي، تل تر تله په هغه کې پاته کېدونکي، الله لدوی
راضي او دوی له هغه راضي، همدا ستره بریا ده. 120- د آسمانونو،
زمکې او د ټولو هغو شیانو واکمني د الله ده چې په دوی کې دي او
هغه په هر څه ښه قادر دئ.

# سُورَةُ الأَنعَامِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ
ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُونَ ١ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن
طِينٖ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلٗاۖ وَأَجَلٞ مُّسَمًّى عِندَهُۥۖ ثُمَّ أَنتُمۡ تَمۡتَرُونَ ٢
وَهُوَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ يَعۡلَمُ سِرَّكُمۡ وَجَهۡرَكُمۡ وَيَعۡلَمُ
مَا تَكۡسِبُونَ ٣ وَمَا تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ
عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ٤ فَقَدۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَسَوۡفَ يَأۡتِيهِمۡ
أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٥ أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن
قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَا لَمۡ نُمَكِّن لَّكُمۡ وَأَرۡسَلۡنَا
ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡهِم مِّدۡرَارٗا وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَنۡهَٰرَ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمۡ
فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ وَأَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ٦ وَلَوۡ
نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ كِتَٰبٗا فِي قِرۡطَاسٖ فَلَمَسُوهُ بِأَيۡدِيهِمۡ لَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧ وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٞۖ
وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ٨

# الانعام مكي 165 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ستاينه هغه الله ته ده چي آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړل او تیارې او رڼا ئې جوړه کړه، بیا هم هغه چي کافران شوي د خپل پالونکي په اړه تېروځي (او نور ورسره برابروي). 2- دی هماغه ذات دئ چي له ختې ئې راپيدا کړئ، بیا ئې د مرگ د نېټې پريکړه وکړه او نومولې نېټه له ده سره ده، خو تاسو بیا هم شك کوئ!! 3- او دی هم په آسمانونو کي معبود دئ او هم په زمکي کي، هم ستاسو په اسرارو پوهېږي او هم مو په ښکاره وو او هم مو په کړنو پوهېږي. 4- او د خپل رب د آيتونو هيڅ آيت ورته نه راځي مگر دا چي ترې ډډه کوي. 5- نو يقيناً کله چي دا حقيقت ورته راغی هغه ئې دروغ وگڼلو، نو ډېر ژر به د هغه څه حقيقي اخبار ورته راشي چي ملنډي ئې پرې وهلې. 6- آيا نه گوري چي تر دوی مخکي مو څومره داسي نسلونه هلاك کړل چي په زمکي کي مو هومره تمکين ورکړی وو چي تاسو ته مو ندئ درکړی، له آسمانه مو پرله پسې بارانونه پرې لېږل او ويالې مو داسي جوړي کړې چي ترپښو لاندي ئې بهېدلې، خو د خپلو گناهونو په سبب مو هلاك کړل او تر دوی وروسته مو نور نسلونه راپيدا کړل. 7- او که مو داسي کوم کتاب، په کاغذ کي (ليکلی) پر تا نازل کړی وی چي لاس ئې پرې راکاږلی، نو دغو کافرانو به ويل: دا خو له څرگند سحر پرته بل څه نه دئ!! 8- او وايي به: ولې يوه فرشته پرې نه نازلېږي؟ او که کومه فرشته ولېږو نو بيا خو به حتماً کار پای ته رسي، بيا به مهلت نه ورکول کېږي.

وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ
٩ وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم
مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ ٱنظُرُواْ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ١١ قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۖ قُل لِّلَّهِۚ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢
۞وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٣ قُلۡ
أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيّٗا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَهُوَ يُطۡعِمُ وَلَا
يُطۡعَمُۗ قُلۡ إِنِّيٓ أُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَسۡلَمَۖ وَلَا تَكُونَنَّ
مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٤ قُلۡ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ
عَظِيمٖ ١٥ مَّن يُصۡرَفۡ عَنۡهُ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمَهُۥۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡمُبِينُ ١٦ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن
يَمۡسَسۡكَ بِخَيۡرٖ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٧ وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ
عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١٨

9- که مو دا (رسول) يوه فرشته ګرځولی وی، نو حتماً به مو يو سړی
ترې جوړ کړی وو، او داسي به مو خبره پرې شکمنه کړې وه لکه چي
(همدا اوس) شك کوي. 10- او يقيناً تر تا په مخکنيو پيغمبرانو استهزاء
شوې، نو پر هغو چي ملنډي به ئې پرې وهلې، همغه څه واقع شول
چي استهزاء ئې پرې کوله. 11- ووايه: په زمکي کې وګرځئ، بيا وګورئ
چي د دروغ ګڼونکو پای څنګه وو؟! 12- ووايه: په آسمانونو او زمکي
کې چي څه دي، دا د چا دي؟ ووايه: د الله دي، پر ځان ئې رحمت او
مهرباني لازمه کړې، حتماً به مو د قيامت هغي ورځي ته راغونډ کړي
چي هيڅ شك پکي نشته، چا چي ځانونه زيانمن کړي ايمان نه راوړي.
13- او څه چي په شپې او ورځي کې اوسي ټول د الله دي او هغه پوه
اورېدونکی دئ. 14- ووايه: آيا له هغه الله پرته کوم مولا غوره کړم چي
د آسمانونو او زمکي پيدا کوونکی دئ او هغه (نورو ته) روزي ورکوي
او (هيڅوك) ده ته روزي نه ورکوي؟! ووايه: زه په دې ګمارل شوی يم
چي هغه لومړی کس وم چي تسليم شوی او دا چي له مشرکانو مه
کېږه. 15- ووايه: که له خپل رب سرغړاوی وکړم، نو په يقين سره د
ستري ورځي له عذابه وېرېږم. 16- څوك چي په دې ورځ ترې بچ کړی
شو، نو يقيناً چي رحم ئې پرې کړی او همدا څرګنده بريا ده. 17- او
که الله کوم کړاو دررسوي نو له ده پرته ئې بل لري کوونکی نشته او
که کومه ښېګڼه دررسوي نو هغه پر هر کار ښه قادر دئ. 18- او
هغه پر خپلو بندګانو باندي برلاسی دئ او هغه ښه باخبره حکيم دئ.

قُلۡ أَيُّ شَيۡءٍ أَكۡبَرُ شَهَٰدَةٗۖ قُلِ ٱللَّهُۖ شَهِيدُۢ بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ وَأُوحِيَ
إِلَيَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَۚ أَئِنَّكُمۡ لَتَشۡهَدُونَ أَنَّ مَعَ
ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخۡرَىٰۚ قُل لَّآ أَشۡهَدُۚ قُلۡ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَإِنَّنِي بَرِيٓءٞ
مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ١٩ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ
أَبۡنَآءَهُمُۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٠ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ
ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢١
وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَيۡنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ
كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٢٢ ثُمَّ لَمۡ تَكُن فِتۡنَتُهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا
كُنَّا مُشۡرِكِينَ ٢٣ ٱنظُرۡ كَيۡفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡۚ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢٤ وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَۖ وَجَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ
أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۚ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ
بِهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَٰدِلُونَكَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ
أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٢٥ وَهُمۡ يَنۡهَوۡنَ عَنۡهُ وَيَنۡـَٔوۡنَ عَنۡهُۖ وَإِن يُهۡلِكُونَ إِلَّآ
أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ٢٦ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُواْ يَٰلَيۡتَنَا
نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٧

19- ووايه: کوم شی به ستر شهادت ورکوونکی وي؟ ووايه: الله، زما او ستاسو ترمنځ شاهد، او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چي تاسو هم پرې انذار کړم او هغه څوك هم چي ورورسېږي، آيا تاسو په دې شهادت ورکوئ چي له الله سره نور معبودان هم شته؟! ووايه: زه خو دا شهادت نه ورکوم، ووايه: حقيقت دا دئ چي هغه يوازينی معبود دئ او زه له هغه څه بېزاره يم چي تاسو ئې شريکوئ. 20- هغه چي کتاب مو ورکړی، داسي ئې پېژني لکه خپل زامن چي پېژني، چا چي ځان تاواني کړی نو دوی ايمان نه راوړي. 21- او تر هغه به زيات ظالم څوك وي چي په دروغو ئې پر الله افتراء کړې او يا ئې د ده آيتونه تکذيب کړي، يقيناً چي داسي ظالمان نه ژغورل کېږي. 22- او هغه ورځ چي دوی ټول به راغونډ کړو، بيا به مشرکانو ته ووايو: ستاسو هغه شرکاء چېري دي چي دا گمان مو پرې کاوو (چي دوی د خدای شريکان دي)؟ 23- بيا به د دوی فتنه له دې پرته بل څه نه وي چي وايي به: په خپل رب الله مو قسم چي موږ مشرکان نه وو!! 24- وگوره! څنگه پر خپل ځان دروغ وايي او هغه څه ترې ورك دي چي (له ځانه ئې) افتراء کول. 25- او د دوی ځيني تا ته غوږ شي، په داسي حال کې چي د نه پوهېدو لپاره مو د دوی پر زړونو پرده غوړولې او د دوی په غوږونو کې مو دروندوالی ايښی، او که هره نښه وگوري ايمان پرې نه راوړي، تر هغه چي تا ته راشي، شخړه درسره کوي، دا کافران وايي چي دا خو د مخکنيو له نکلونو پرته بل څه نه دئ. □□- او دوی هم نور ترې منع کوي او هم په خپله ترې ډډه کوي او دوی له ځانه پرته بل څوك نه هلاکوي، په داسي حال کې چي نه پوهېږي. □□- او ای کاش هغه مهال ووينې چي د اور پر غاړه به ودرول شي، نو وايي به: کاش بېرته وگرځول شو او د خپل رب آيتونه دروغ ونه گڼو او له مؤمنانو وو.

بَلۡ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخۡفُونَ مِن قَبۡلُۖ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ
وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ٢٨ وَقَالُوٓاْ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا وَمَا نَحۡنُ
بِمَبۡعُوثِينَ ٢٩ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ وُقِفُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ قَالَ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۚ
قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٠ قَدۡ
خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةً
قَالُواْ يَٰحَسۡرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطۡنَا فِيهَا وَهُمۡ يَحۡمِلُونَ أَوۡزَارَهُمۡ عَلَىٰ
ظُهُورِهِمۡۚ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ٣١ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۖ
وَلَلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٣٢ قَدۡ نَعۡلَمُ إِنَّهُۥ
لَيَحۡزُنُكَ ٱلَّذِي يَقُولُونَۖ فَإِنَّهُمۡ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ٣٣ وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ فَصَبَرُواْ
عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمۡ نَصۡرُنَاۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ
وَلَقَدۡ جَآءَكَ مِن نَّبَإِيْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣٤ وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكَ
إِعۡرَاضُهُمۡ فَإِنِ ٱسۡتَطَعۡتَ أَن تَبۡتَغِيَ نَفَقٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَوۡ سُلَّمٗا فِي
ٱلسَّمَآءِ فَتَأۡتِيَهُم بِـَٔايَةٖۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمۡ عَلَى ٱلۡهُدَىٰۚ فَلَا
تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٣٥

28- داسي نه ده بلکي هغه څه ورته راڅرګند شوي چي مخکي ئې پټولو او که بېرته وګرځول شي حتماً به همغه څه ته وروګرځي چي ترې منع شوي وو او يقيناً چي دوی دروغجن دي. 29- او وئې ويل: دا نه دئ مګر همدا زموږ دنيوي ژوند او موږ بيا راژونديکېدونکي نه يو!! 30- او کاش هغه مهال وويني چي د خپل رب په وړاندي ودرول شوي، (ورته) ووايي: آيا دا يو حقيقت نه دئ؟ وبه وايي: هو؛ زموږ دي په خپل رب قسم وي، (ورته) وبه وايي: نو د خپل کفر په سبب دا عذاب وڅکئ. 31- په رښتيا چي هغو کسانو تاوان وکړ چي له الله سره مخامخېدا ئې دروغ وګڼله، تر هغه چي قيامت ناڅاپي ورته راشي، وايي به: حيف زموږ په حال، د هغه تېري په وجه چي په دې اړه مو وکړ، په داسي حال کي چي خپل پېټي (د ګناهونو) به پر خپلو شاګانو وړي، اوه! څومره بد دئ هغه څه چي پر شا ئې وړي. 32- او دنيوي ژوند خو (د آخرت په پرتله) له لوبو او ساعت تېرۍ پرته بل څه نه دئ، او د آخرت کور هغو ته ډېر غوره دئ چي تقوی کوي، نو آيا تعقل نه کوئ؟ 33- يقيناً پوهېږو چي د دوی وينا دي حتماً غمجن کوي، دوی خو تا نه تکذيبوي، بلکي دا ظالمان د الله له آيتونو انکار کوي. 34- او يقينا چي تر تا مخکي د ډېرو پيغمبرانو تکذيب شوی، او دوی په دې تکذيب او ځورونو تر هغه صبر کړی چي زموږ مرسته وررسېدلې او د الله ويناوو ته بدلوونکی نشته او يقيناً چي تا ته د پيغمبرانو د حال خبرونه درغلي. 35- که د دوی مخ اړونه درباندي سخته وي، نو که کولی شې په زمکي کي کوم سوری ولټوه يا په آسمان کي کومه زينه، چي کومه نښه (او قاطع دليل) ورته راوړې او که الله غوښتلی نو حتماً به ئې دوی ټول پر هدايت راغونډ کړي ول، نو له جاهلانو مه کېږه.

۞إِنَّمَا يَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسۡمَعُونَۘ وَٱلۡمَوۡتَىٰ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيۡهِ
يُرۡجَعُونَ ﴿٣٦﴾ وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ
قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةٗ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٧﴾ وَمَا
مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۚ
مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ﴿٣٨﴾
وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا صُمّٞ وَبُكۡمٞ فِي ٱلظُّلُمَٰتِۗ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ
يُضۡلِلۡهُ وَمَن يَشَأۡ يَجۡعَلۡهُ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٣٩﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتَكُمۡ
إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوۡ أَتَتۡكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَدۡعُونَ
إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ بَلۡ إِيَّاهُ تَدۡعُونَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُونَ
إِلَيۡهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوۡنَ مَا تُشۡرِكُونَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن
قَبۡلِكَ فَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾ فَلَوۡلَآ
إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَا تَضَرَّعُواْ وَلَٰكِن قَسَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَزَيَّنَ لَهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا
عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ
فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ﴿٤٤﴾

36- خبره دا ده چي يوازي هغه خلك (ستا) بلنه مني چي اوري، او مړه چي دي الله به ئې راپاڅوي، بیا به د ده لوري ته ورګرځول کېږي. 37- او وئې ويل: ولې د خپل رب له لوري کوم آيت (معجزه) نه پرې نازلېږي، ووايه: يقيناً چي الله د معجزې په رالېږلو قادر دئ، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 38- او نه په زمکي کي داسي هيڅ خوځېدونکی شته او نه (په هوا کي) په دواړو وزرونو الوتونکی مرغه چي ستاسو په څېر دي ټولی نه وي، په دې کتاب کي مو هيڅ څه نه دي پرېښي، بیا به د خپل رب لوري ته ورټول کړی شي. 39- او هغه چي زموږ آيتونه تکذيبوي، کاڼه او ګونګيان دي، په تيارو کي، الله چي څوك وغواړي لاروركی ئې کړي او څوك چي وغواړي په سمي لاري ئې برابر کړي. 40- ووايه: آيا پوهېږئ چي که د الله عذاب درته راشي، يا قيامت راشي، آيا له الله پرته به بل څوك (مرستي ته) دربلئ، که رښتيني يئ؟ 41- بلکي يوازي هغه به دربلئ، نو که وغواړي هغه څه به لري کړي چي تاسو ئې ورته دربلئ، او هغه څه به هېروئ چي (له الله سره ئې) شريکوئ. 42- يقيناً چي تر تا د مخه امتونو ته مو پيغمبران لېږلي وو، نو په کړاوونو او ستونزو مو اخته کړل چي زاري وکړي. 43- نو ولې ئې هغه مهال زاري ونکړه چي زموږ عذاب ورته راغی، خو زړونه ئې سخت شول او شيطان هغه څه ورته ښايسته کړل چي دوی به کول. 44- نو کله چي ئې هغه څه هېر کړل چي پند پرې ورکېدو، د هر څه دروازې مو پرې پرانيستلې، تر هغه چي په ورکړی شوو (شيانو) خوښ شول، ناڅاپي مو ونيول، نو دا مهال مأيوس شول.

فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ۚ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾ قُلْ
أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم
مَّنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ۗ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْءَايَٰتِ ثُمَّ هُمْ
يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾ قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغْتَةً أَوْ
جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا
مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ
يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلْعَذَابُ بِمَا كَانُوا۟
يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ
ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۚ قُلْ
هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾ وَأَنذِرْ بِهِ ٱلَّذِينَ
يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ ۙ لَيْسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ
لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٥١﴾ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِىِّ
يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ
حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾

45- نو د ظالمانو جرړي قطع کړی شوې او ستاینې ټولې د عالمونو
رب ته دي. 46- ووایه: آیا دې ته مو پام کړی چې که الله غوږونه
او سترګې درنه واخلي او ستاسو پر زړونو مهر ولګوي، له الله پرته
به کوم معبود وي چې بېرته ئې درکړي، وګوره! څنګه نښې بیانوو؟
(خو) دوی بیا هم ډډه کوي. 47- ووایه: آیا دې ته مو پام کړی
چې که الهي عذاب ناڅاپي یا په څرګنده توګه درته راشي، آیا له
ظالمانو پرته به بل څوك هلاك کړی شي. 48- او موږ پیغمبران نه
لېږو مګر زېری ورکوونکي او وېروونکي، نو چا چې ایمان راوړ او
(ځان ئې) اصلاح کړ، نو نه به څه وېره پرې وي او نه به غمجن
شي. 49- او هغه چې زموږ آیتونه ئې تکذیب کړل، د خپل فسق
په سبب به په عذاب اخته شي. 50- ووایه : زه نه درته وایم چې
د الله خزانې له ما سره دي او نه په غیب پوهېږم او نه دا درته
وایم چې زه فرشته یم، زه یوازې د هغه څه متابعت کوم چې راته
وحي کېږي. ووایه: آیا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آیا تفکر نه
کوئ؟ 51- او هغه کسان پرې انذار کړه چې د خپل رب په لوري
له راغونډېدو وېرېږي، (هغه رب) چې له ده پرته ئې نه کوم مولا
شته او نه کوم شفیع، ښایي تقوی او ځان ساتنه وکړي. 52- او
هغه کسان (له ځانه) مه شړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء
کوي، په داسي حال کې چې رضاء ئې لټوي، نه د دوی له حسابه
څه پرتا دي او نه ستا له حسابه څه پر دوی، نو که وئې شړې له
ظالمانو به شې.

وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لِّيَقُولُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم
مِّنۢ بَيۡنِنَآۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ٥٣ وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ
يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۖ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ
ٱلرَّحۡمَةَ أَنَّهُۥ مَنۡ عَمِلَ مِنكُمۡ سُوٓءَۢا بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ
وَأَصۡلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥٤ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ
وَلِتَسۡتَبِينَ سَبِيلُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٥٥ قُلۡ إِنِّى نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ
تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهۡوَآءَكُمۡ قَدۡ ضَلَلۡتُ إِذٗا
وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ٥٦ قُلۡ إِنِّى عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّى وَكَذَّبۡتُم بِهِۦۚ
مَا عِندِى مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦٓۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ يَقُصُّ ٱلۡحَقَّۖ
وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰصِلِينَ ٥٧ قُل لَّوۡ أَنَّ عِندِى مَا تَسۡتَعۡجِلُونَ بِهِۦ
لَقُضِىَ ٱلۡأَمۡرُ بَيۡنِى وَبَيۡنَكُمۡۗ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٥٨
۞وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِى ٱلۡبَرِّ
وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِى ظُلُمَٰتِ
ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ٥٩

53- او همداسي مو ځيني په ځينو نورو سره وآزمويل، تر څو ووايي: آيا دا همغه دي چي زموږ له منځه الله پرې پېرزوينه کړې؟! آيا الله شکر کوونکي تر هر چا ښه نه پېژني؟! 54- او کله چي هغه خلك درته راشي چي زما په آيتونو باور کوي، ورته ووايه: سلام دي پر تاسو وي، ستاسو رب پر خپل ځان مهرباني او رحمت  لازم کړی، داسي چي که له تاسو څوك په ناپوهۍ کي کوم بد کار وکړي، بيا تر دې وروسته توبه وکړي او (ځان) اصلاح کړي، نو يقيناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ. 55- همداسي آيتونه په تفصيل سره بيانوو، او دا د دې لپاره چي د مجرمينو لار ښرگنده شي. 56- ووايه: بې له شکه چي زه له دې منع شوی يم چي له الله پرته د هغه چا عبادت وکړم چي تاسو ئې عبادت کوئ، ووايه: ستاسو د هوی او هوس متابعت نه کوم، که نه نو لار ورکی به شم او له لار موندونکو به نه وم. 57- وايه: زه خو د خپل رب په ښرگند دليل (متکي) يم، (همغه) چي تاسو تکذيب کړ، له ما سره هغه څه نشته چي تاسو ئې په تلوار غواړئ، د پرېکړي واك خو يوازي له الله سره دئ، چي حق بيانوي او هغه تر ټولو غوره فيصله کوونکی دئ. 58- ووايه: که هغه څه راسره وی چي تاسو ئې په تلوار سره غواړئ نو لا دمخه به زما او ستاسو تر منځ کار پای ته رسېدلی وو، او الله، ظالمان تر هر چا ښه پېژني. 59- او له ده سره د غيب (د خزانو) کلياني دي چي له ده پرته هيڅوك ورباندي نه پوهېږي، په وچه او بحر کي چي څه شته په ټولو پوهېږي، هيڅ پاڼه نه راپرېوځي مگر دی ورباندي پوهېږي او نه د زمکي په تيارو کي کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په ښرگند کتاب کي دي نه وي.

وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا جَرَحۡتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبۡعَثُكُمۡ
فِيهِ لِيُقۡضَىٰٓ أَجَلٞ مُّسَمّٗىۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ
تَعۡمَلُونَ ٦٠ وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۖ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ
إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا يُفَرِّطُونَ ٦١ ثُمَّ رُدُّوٓاْ
إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ ٦٢ قُلۡ
مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ تَدۡعُونَهُۥ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةٗ
لَّئِنۡ أَنجَىٰنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ٦٣ قُلِ ٱللَّهُ
يُنَجِّيكُم مِّنۡهَا وَمِن كُلِّ كَرۡبٖ ثُمَّ أَنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ٦٤ قُلۡ هُوَ ٱلۡقَادِرُ
عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ أَوۡ مِن تَحۡتِ أَرۡجُلِكُمۡ
أَوۡ يَلۡبِسَكُمۡ شِيَعٗا وَيُذِيقَ بَعۡضَكُم بَأۡسَ بَعۡضٍۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ
نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَفۡقَهُونَ ٦٥ وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوۡمُكَ وَهُوَ ٱلۡحَقُّۚ
قُل لَّسۡتُ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ٦٦ لِّكُلِّ نَبَإٖ مُّسۡتَقَرّٞۚ وَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٦٧
وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ
فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ بَعۡدَ ٱلذِّكۡرَىٰ
مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٦٨

60- او دی هغه ذات دئ چي د شپې مو کار پای ته رسوي (په خوب مو ویده کوي)، او په هغه څه پوهېږي چي په ورځې کې ئې ترسره کوئ، بیا مو په همدې (ورځ کې) د دې لپاره راپاڅوي چي ټاکلې نېټه بشپړه شي، بیا د ده په لوري ستاسو بېرته ورتګ دئ، بیا به مو په هغه څه خبر کړي چي کول مو. 61- او هغه په خپلو بندګانو مسلط دئ، په تاسو باندې ساتونکې (فرشتې) رالېږي، تر هغه چي د چا مرګ ورورسېږي، نو زموږ استازي ئې روح قبض کړي پداسي حال کي چي تېری نکوي. 62- بیا به د خپل حقیقي مولا په لوري وروستل شي، پام چي حکم کول ده ته (مختص) دي، او دی تر ټولو حسابګرانو سریع دئ. 63- ووایه: څوك مو د وچي او لمدې (بحر) له تیارو ژغوري، چي په زارۍ او په پټه ئې رابلئ (او وایئ:) که مو له دې وژغوري نو حتماً به له شکر کوونکو وو. 64- ووایه: الله مو له دې او هر کړاوه ژغوري، خو بیا تاسو شرك کوئ. 65- ووایه: هغه په دې قادر دئ چي له بره مو عذاب درباندي راولېږي، یا د پښو له لاندي مو، یا مو ډلي ډلي کړي او ځینو ته د ځینو نورو د جګړو خوند وروڅکي، وګوره څنګه (په بېلي بېلي بڼې کې) آیتونه بیانوو، د دې لپاره چي دوی پوه شي. 66- او ستا قوم (دا قرآن) تکذیب کړ، په داسي حال کې چي هغه حق دئ، ووایه: زه مو وکیل (او ذمه وار) نه یم. 67- د هري خبري لپاره د ترسره کېدو یوه نېټه ده، او ژر به پوه شئ. 68- او کله چي هغه کسان وګورې چي زما په آیتونو کې خوشي لګیا وي، نو تر هغه ډډه ترې وکړه چي له دې پرته په بلي خبري لګیا شي او که شیطان دا خبره درنه هېره کړه، نو له رایادولو وروسته له دې ظالم قوم سره مه کښېنه.

وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنۡ حِسَابِهِم مِّن شَيۡءٖ وَلَٰكِن ذِكۡرَىٰ
لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ٦٩ وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَعِبٗا وَلَهۡوٗا
وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ وَذَكِّرۡ بِهِۦٓ أَن تُبۡسَلَ نَفۡسُۢ بِمَا كَسَبَتۡ
لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ وَإِن تَعۡدِلۡ كُلَّ عَدۡلٖ
لَّا يُؤۡخَذۡ مِنۡهَآۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبۡسِلُواْ بِمَا كَسَبُواْۖ لَهُمۡ شَرَابٞ
مِّنۡ حَمِيمٖ وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٧٠ قُلۡ أَنَدۡعُواْ
مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعۡقَابِنَا بَعۡدَ
إِذۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِي ٱسۡتَهۡوَتۡهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِي ٱلۡأَرۡضِ حَيۡرَانَ
لَهُۥٓ أَصۡحَٰبٞ يَدۡعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلۡهُدَى ٱئۡتِنَاۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ
ٱلۡهُدَىٰۖ وَأُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧١ وَأَنۡ أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَٱتَّقُوهُۚ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٧٢ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۖ وَيَوۡمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُۚ قَوۡلُهُ
ٱلۡحَقُّۚ وَلَهُ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۚ
وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٧٣

69- او د دوی له حســـابه پر هغو چې تقوی کوي هيڅ څه (الزام) نشته، مګر يادونه چې ښايي (په دې سره) ځان و ساتي. 70- او هغه کســـان پرېږده چې لهو و لعب ئې ځان ته دين نيولی او دنيوي ژوند دوکه کړي، او د دې لپاره پند پرې ورکړه چې څوك د خپلو لاس ته راوړنو په ســبب په داسي مصـيبت اخته نشي۔ چې له الله پرته ئې نه کوم مولا وي او نه کوم شـــفيع او که هره بدله ورکړي ترې وا نه خيســتی شي، دا خلك د خپلو کړنو په ســبب په مصـيبت اخته شـوي، دوی ته به تود څښـاك او دردناك عذاب وي، د دې لپاره چې کفر ئې کاوو. 71- ووايه: آيا له الله پرته داسي څه ته دعاء وکړو چې نه ګټه رارسولی شي او نه تاوان او له هغه وروسته چې الله هدايت کړو بېرته پر خپلو پوندو وګرځولی شــو، د هغه چا په څېر چې شــيطان په يوې بېديا کې لالهانده او حيران غورځولی وي، داسي ملګري ئې وي چې دا بلنه ورکوي: د هدايت په لوري زموږ خوا ته راشـــه! ووايه: يقيناً چې الهي لارښــوونه حقيقي لارښــوونه ده او موږ په دې ګمارل شــوي يو چې د عالمونو رب ته تسليم وو. 72- او په دې چې لمونځ اداء کړئ او له ده وېره ولرئ، او دی همغه ذات دئ چې خوا ته به ئې ورغونډ کړی شـــئ. 73- او دی هغه ذات دئ چې آســـمانونه او زمکه ئې په حقه پيدا کړي او کومه ورځ چې ورته ووايي: وشـــه! نو (له ځنډه پرته) وشي، وينا ئې حق ده او هغه ورځ به ټولواکي د ده وي چې په شپېلۍ کې پو شي، په پټ او څرګند پوه او هغه ښه باخبره د حکمت خاوند دئ.

۞وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصۡنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ
وَقَوۡمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٧٤ وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ ٧٥ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ
ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ
ٱلۡأٓفِلِينَ ٧٦ فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ
لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧ فَلَمَّا رَءَا
ٱلشَّمۡسَ بَازِغَةٗ قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ
يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨ إِنِّي وَجَّهۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّذِي
فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٧٩
وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ
أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۚ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ
شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠ وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا
تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ
سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١

74- او هغه مهال چې ابراهيم خپل پلار آزر ته وويل: آيا بتان د خدايانو په توګه نيسې؟ زه خو تا او ستا قوم په ښرګند ضلالت کې ګورم. 75- او همداسې مو ابراهيم ته د آسمانونو او ځمکې ملکوت (د ټولواکۍ نظام) ښودو چې له باور کوونکو شي. 76- نو کله چې د شپې تياره پرې راغله او ستورى ئې وليد، وئې ويل: دا مې رب دئ؟، خو کله چې پرېووت وئې ويل: پرېوتونکي نه خوښوم. 77- کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې وليده، وئې ويل: دا مې رب دئ؟، خو چې پرېوته، وئې ويل: که مې خپل رب لارښوونه ونه کړي له لارورکي قوم به شم. 78- او کله چې ئې لمر د راختو په حال کې وليد، وئې ويل: دا مې رب دئ؟ دا خو تر ټولو ستر دئ، خو چې پرېوت وئې ويل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره يم چې تاسو ئې له (خداى) سره شريکوئ. 79- يقيناً چې ما د هغه ذات لورې ته په يومخيزه توګه خپل مخ ګرځولى چې آسمانونه او ځمکه ئې پيدا کړي، او زه له مشرکانو نه يم. 80- او قوم ئې ورسره شخړه وکړه، (ورته) وئې ويل: آيا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چې په يقيني توګه ئې زه هدايت کړى يم او زه له هغه څه نه وېرېږم چې تاسوئې (له الله سره) شريکوئ، مګر (له دې وېرېږم چې) زما رب کوم څه (ضرر راته) وغواړي، زما رب په ټولو شيانو علماً احاطه کړې ده (په هر څه پوهېږي)، نو آيا پند نه اخلئ؟! 81- او څنګه به له هغه څه وېرېږم چې تاسو (له الله سره) شريك کړي، په داسې حال کې چې تاسو له دې نه وېرېږئ چې له الله سره مو هغه څه شريك کړئ چې په اړه ئې هيڅ دليل نه دئ درباندې نازل شوى، نو که پوهېږئ (ووايئ چې) له دې دواړو ډلو کومه ئې د دې وړ ده چې خوندي وي؟!

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَمْ يَلْبِسُوٓا۟ إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم
مُّهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦۚ نَرْفَعُ
دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ
وَيَعْقُوبَۚ كُلًّا هَدَيْنَاۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ
وَسُلَيْمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى
ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَۖ كُلٌّ مِّنَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًاۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا
عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ
وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ
مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦۚ وَلَوْ أَشْرَكُوا۟ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَۚ
فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا۟ بِهَا بِكَٰفِرِينَ
﴿٨٩﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ
عَلَيْهِ أَجْرًاۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾

82- چا چي ايمان راوړی او خپل ايمان ئې له ظلم سره نه وي ګډ کړی، دوی ته امن دئ او همدا دوی هدايت شـــوي دي. 83- او دا زموږ هغه دليل او حجت وو چي ابراهيم ته مو د خپل قوم په خلاف ورپه برخه کړ، چا ته چي مو خوښــه وي درجې ئې ورته لوړوو، بې شــکه چي ســتا رب پوه حکيم دئ. 84- او اسـحق او يعقوب مو پرې پېرزو کړل چي هر يو مو هدا يت کړی وو او تر دې د مخه مو نوح ته لار ښوونه کړې وه او د ده له اولاد مو داؤد، سليمان، ايوب، يو سف، موسی او هارون (هدا يت کړل) او موږ نېکانو ته همداسي بد له ورکوو. 85- او زکريا، يحيی، عيسی او الياس ته چي هر يو له صالحانو وو. 86- او اســمعيل، اليســع، يونس او لوط ته او هر يوه ته مو پر ټولو عالميانو باندي فضـيلت ورپه برخه کړ. 87- او د دوی له پلرونو، اولاد او وروڼو ځينو ته، او دوی مو غوره کړل او په مسـتقيمه لار مو هدايت کړل. 88- همدا الهي لار ښوونه ده چي له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايت کوي چي وئې وغواړي، او که ئې شرك کړی وی نو ټولي هڅي به ئې ترې ضــائع شــوې وې. 89- دا همغه ډله ده چي کتاب، حکمت او نبوت مو ورپه برخه کړ، نو که دا خلك پرې کافر شي، نو داسي خلك مي پرې ګمارلي چي نه پرې کافران کېږي. 90- دوی همغه دي چي الله هدايت کړي، نو د دوی په هداياتو پسيــ اقتداء وکړه، ووايه: په دې باندي له تاسـو کوم اجر او بدله نه غواړم، دا خو خلکو ته له پند او يادوني پرته بل څه نه دئ.

وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓ إِذۡ قَالُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٖ مِّن شَيۡءٖۗ
قُلۡ مَنۡ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِي جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورٗا وَهُدٗى لِّلنَّاسِۖ
تَجۡعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبۡدُونَهَا وَتُخۡفُونَ كَثِيرٗاۖ وَعُلِّمۡتُم مَّا لَمۡ
تَعۡلَمُوٓاْ أَنتُمۡ وَلَآ ءَابَآؤُكُمۡۖ قُلِ ٱللَّهُۖ ثُمَّ ذَرۡهُمۡ فِي خَوۡضِهِمۡ يَلۡعَبُونَ
٩١ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَلِتُنذِرَ
أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَاۚ وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۖ وَهُمۡ
عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٩٢ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا
أَوۡ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمۡ يُوحَ إِلَيۡهِ شَيۡءٞ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثۡلَ مَآ
أَنزَلَ ٱللَّهُۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ
بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ
تَسۡتَكۡبِرُونَ ٩٣ وَلَقَدۡ جِئۡتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ
وَتَرَكۡتُم مَّا خَوَّلۡنَٰكُمۡ وَرَآءَ ظُهُورِكُمۡۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمۡ
شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ أَنَّهُمۡ فِيكُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْۚ لَقَد تَّقَطَّعَ
بَيۡنَكُمۡ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٩٤

91- او هغه مهال ئې د الله د قدر په اړه سمه او حقيقي قدرونه نه ده کړې چې وئې ويل: الله په هيڅ بشر باندي څه نه دي نازل کړي، ووايه: نو هغه کتاب چا نازل کړی چې موسی راوړ، همغه چې خلکو ته رڼا او لارښود وو، همغه چې تاسو پاڼي پاڼي کړ، ځيني ئې ښکاره کوئ او ډېری ئې پټوئ، (چې په هغه سره) هغه څه درزده کړی شو چې نه تاسو پرې پوهېدئ او نه ستاسو پلرونه، ووايه: الله، بيا ئې پرېږده چې په خپلو خرافاتو کې لوبې کوي. 92- او دا هغه مبارك کتاب دئ چې نازل مو کړ، تصديقوونکی د هغو چې تر ده د مخه وو او د دې لپاره چې مرکزي ښار او په چاپېر کې چې ئې څوك دي، پرې انذار کړې او هغه چې په آخرت باور لري په دې باندي به ايمان راوړي، په داسي حال کې چې د خپلو لمونځونو حفاظت به کوي. 93- او تر هغه چا به لوی ظالم څوك وي چې پر الله د دروغو افتراء کوي او وايي چې راته وحي شوې په داسي حال کې چې وحي نه وي ورته شوې، يا وايي د هغه څه په څېر به ئې زه هم راوړم چې الله نازل کړی، او کاش ته دا ظالمان هغه مهال وګورې چې د مرګ په سکرات او سلګيو کې وي او فرشتو لاسونه وراوږده کړي (او ورته وايي:) خپله روح مو راوباسئ، نن به د هغه څه سزا درکول کېږي چې د الله په اړه مو په ناحقه ويل او د ده له آيتونو به مو لويي او سرغړاوی کولو. 94- بېشکه چې زموږ خوا ته همغسي يوازي راغلئ لکه چې لومړی ځل مو پيدا کړي وئ او هر هغه څه مو شا ته پرېښودل چې موږ دربانديي پېرزو کړي وو او اوس ستاسو هغه شفاعت کوونکي هم نه درسره وينو چې ګمان مو کړی وو دوی ستاسو په اړه زموږ شريکان دي، بې شکه چې ستاسي ترمنځ بېلتون راغی او مزعوم شفاعت کوونکي مو درنه ورك شوي.

۞إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ
ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٩٥﴾ فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ
وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنًا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانًاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡعَلِيمِ ﴿٩٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهۡتَدُواْ بِهَا فِي ظُلُمَٰتِ
ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ
أَنشَأَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ فَمُسۡتَقَرّٞ وَمُسۡتَوۡدَعٞۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ
لِقَوۡمٖ يَفۡقَهُونَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ
نَبَاتَ كُلِّ شَيۡءٖ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرٗا نُّخۡرِجُ مِنۡهُ حَبّٗا مُّتَرَاكِبٗا وَمِنَ
ٱلنَّخۡلِ مِن طَلۡعِهَا قِنۡوَانٞ دَانِيَةٞ وَجَنَّٰتٖ مِّنۡ أَعۡنَابٖ وَٱلزَّيۡتُونَ
وَٱلرُّمَّانَ مُشۡتَبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۗ ٱنظُرُوٓاْ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَيَنۡعِهِۦٓۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكُمۡ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ
وَخَلَقَهُمۡۖ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۭ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا
يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٞ وَلَمۡ تَكُن
لَّهُۥ صَٰحِبَةٞۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٠١﴾

95- یقیناً چې د دانې او زړي سپړونکی الله دئ، ژوندی له مړي راباسي او له ژوندي د مړي رااېستونکی دئ، همدا ستاسو رب دئ، نو څنګه دوکه کېږئ؟! 96- د سباوون چوونکی او شپه ئې آرامځی ګرځولې او لمر او سپوږمۍ ئې د حساب ذریعه، دا د همغه پوه غالب خدای د اندازو ټاکنه ده. 97- او دی همغه ذات دئ چې ستوري ئې ستاسو لپاره د صحرا او سیند په تیارو کې د لارې موندو ذریعه ګرځولي، بې شکه چې د هغو لپاره مو دا آیتونه په تفصیل سره بیان کړي چې پوهېږي. 98- او دا خو دی دئ چې تاسو ئې له یوه ژوي راپیدا کړئ، بیا (د هر یوه لپاره) د تقرر یوه نېټه او د پرېښودو یوه نېټه ده، یقیناً چې د هغو لپاره مو آیتونه بیان کړي چې پوهېږي. 99- او دا خو دی دئ چې له آسمانه ئې اوبه نازلې کړې او په دې سره مو د هر څه بوټی راوایست، او له دې مو شنه فصلونه راوایستل، چې له دې یوه پر بلې پرتې دانې راباسو او د خرما له ځانګو داسي وږي چې (له دروندوالي ځوړندي او زمکې ته) رانژدې وي او د انګورو، زیتونو او انارو باغونه، سره ورته او ناورته، هغه مهال ئې میوو ته وګوره چې په میوو راغلې وي او پخېدو ته ئې، بې شکه چې په دې کې هغو خلکو ته چې ایمان راوړي څرګندي نښې دي. 100- او الله ته ئې له پېریانو شریکان جوړ کړل، په داسي حال کې چې الله (هغوی) پیدا کړي دي او په ناپوهۍ سره ئې هغه ته زامن او لوڼي جوړ کړل، پاکې ده هغه ته او لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې بیانوي. 101- د آسمانونو او زمکې پیدا کوونکی، څنګه به ئې زوی وي په داسي حال کې چې مېرمن ئې نشته، او هر څه ئې پیدا کړي او په هر څه پوه دئ.

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ
وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿١٠٢﴾ لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ
ٱلۡأَبۡصَٰرَۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾ قَدۡ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن
رَّبِّكُمۡۖ فَمَنۡ أَبۡصَرَ فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ عَمِيَ فَعَلَيۡهَاۚ وَمَآ أَنَا۠
عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ﴿١٠٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلِيَقُولُواْ دَرَسۡتَ
وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ ٱتَّبِعۡ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ لَآ
إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكُواْۗ
وَمَا جَعَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظٗاۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ﴿١٠٧﴾ وَلَا
تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدۡوَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖۗ
كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرۡجِعُهُمۡ فَيُنَبِّئُهُم
بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٠٨﴾ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِن جَآءَتۡهُمۡ
ءَايَةٞ لَّيُؤۡمِنُنَّ بِهَاۚ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَا يُشۡعِرُكُمۡ أَنَّهَآ
إِذَا جَآءَتۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ أَفۡـِٔدَتَهُمۡ وَأَبۡصَٰرَهُمۡ كَمَا لَمۡ
يُؤۡمِنُواْ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَنَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿١١٠﴾

102- همدا ستاسو رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، د هر څه خالق، نو عبادت ئې کوه او هغه د هر څه کفیل دئ. 103- سترګي ئې لیدی نه شي او دی سترګي ویني، او دی ښه باخبر لطیف دئ. 104- یقیناً چي تاسو ته د خپل رب له لوري د بصیرت (اسباب او رڼاګاني) راغلي دي، نو څوک چي له بصیرته کار واخلي، د ځان په ګټه ئې دئ او څوک چي ړوند پاته شي د ځان په ضرر ئې دئ او زه درباندي څارونکی نه یم. 105- او همداراز آیتونه په بېله بېله توګه بیانوو او دا د دې لپاره چي دوی ووایي: (له چا دي حتماً) زده کړه کړې او دا د دې لپاره چي هغو خلکو ته (حقیقت) بیان کړو چي پوهېږي. 106- د هغه څه متابعت کوه چي د خپل رب له لوري درته وحي شوی، له ده پرته بل معبود نشته، او له مشرکانو ډډه وکړه. 107- او که الله غوښتلی نو دوی به شرك نه وو کړی او ته مو پر دوی څارونکی نه یې لېږلی او ته پرې کفیل او ذمه وار نه یې. 108- او هغو ته ښکنځل مه کوئ چي دوی ئې له الله پرته عبادت کوي، که نه نو دوی به هم (له شرك) ورتېر شي او الله ته به د جهالت په وجه ښکنځلي وکړي، داسي مو هر امت ته خپلي کړني ښایسته کړې، بیا به ئې د خپل رب لوري ته ورتګ وي او په هغه څه به ئې خبر کړي چي دوی کول. 109- او په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چي که کومه څرګنده نښه ورته راشي نو حتماً به پرې ایمان راوړي، ووایه: آیتونه خو له الله سره دي، او څه مو په دې پوهوي چي که هغه راشي نو دوی ایمان نه راوړي. 110- او زړونه او سترګي به ئې داسي واړوو چي د لومړي ځل په څېر ایمان پرې رانه وړي او په خپل طغیان او سرغړاوي کې ئې لالهانده پرېږدو.

۞وَلَوۡ أَنَّنَا نَزَّلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَحَشَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ
كُلَّ شَيۡءٖ قُبُلٗا مَّا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَهُمۡ يَجۡهَلُونَ ١١١ وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا شَيَٰطِينَ
ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُورٗاۚ
وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ١١٢ وَلِتَصۡغَىٰٓ إِلَيۡهِ
أَفۡـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَلِيَرۡضَوۡهُ وَلِيَقۡتَرِفُواْ مَا هُم
مُّقۡتَرِفُونَ ١١٣ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡتَغِي حَكَمٗا وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيۡكُمُ
ٱلۡكِتَٰبَ مُفَصَّلٗاۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٞ
مِّن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١١٤ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ
رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١١٥
وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن
يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ١١٦ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ
مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١١٧ فَكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ
ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَٰتِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ١١٨

111- او که مو ملائکې ورلېږلې وی او مړو ورسره خبري کړې وی او د دوی مخي ته مو هر څه راغونډ کړي وی، ایمان ئې نه راوړ، مګر دا چې الله غوښــتي وی، خو ډېری ئې نه پوهېږي. 112- او همداسي مو د هر پیغمبر لپاره له شیطانانو او انسانانو دښمنان ټاکلي، چې ځیني ئې ځینو نورو ته په دوکې سره ښایسته شوې خبري القاء کوي، او که ستا رب غوښــتي وی دا کار به ئې نشــو کولی، نو په خپلو افتراءاتو کې ئې پرېږده. 113- او دا د دې لپاره چې د هغو خلکو زړونه ورواوړي چې په آخرت ایمان نه راوړي او چې پرې راضي شي، او همغه څه ترسره کړي چې کوونکي ئې دي. 114- آیا له الله پرته بل حکم ولټوم؟ حال دا چې (الله) همغه ذات دئ چې دا مفصـــل کتاب ئې درته رالېږلی، او چا ته چې د کتاب (علم) ورکړی شوی په دې پوهېږي چې په رښتیا سره دا ستا د رب له لوري نازل شوی دئ، نو له شك کوونکو مه کېږه. 115- او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له مخي بشپړ دئ، هیڅوك ئې د پرېکړو بــدلوونکی نشيـــ کېــدی، او هغــه پوه اورېدونکی دئ. 116- او که ته د ډېری هغو خلکو اطاعت وکړې چې په زمکې کې اوسي نو د الله له لاري به دې تېرباسي، دوی خو یوازي په ګمانونو پسي روان دي او یوازي په خوشو دروغجنو خبرو کې لګیا دي. 117- یقیناً چې ســتا رب تر هر چا هغه خلك ښــه پېږني چې د ده له لاري تېروتي او دی هدایت شــوي هم تر هر چا زیات پېژني. 118- نو له هغه څه ئې وخورئ چې (د ذبحي په مهال) د الله نوم پرې یاد شوی، که په رښتیا د ده په آیتونو ایمان لرئ.

وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تَأۡكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ
لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ إِلَّا مَا ٱضۡطُرِرۡتُمۡ إِلَيۡهِۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا
لَّيُضِلُّونَ بِأَهۡوَآئِهِم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿١١٩﴾
وَذَرُواْ ظَٰهِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَبَاطِنَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡسِبُونَ ٱلۡإِثۡمَ
سَيُجۡزَوۡنَ بِمَا كَانُواْ يَقۡتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ
ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسۡقٞۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ
أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ﴿١٢١﴾ أَوَ
مَن كَانَ مَيۡتٗا فَأَحۡيَيۡنَٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهُۥ نُورٗا يَمۡشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ
كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٖ مِّنۡهَاۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ
لِلۡكَٰفِرِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا فِي كُلِّ قَرۡيَةٍ
أَكَٰبِرَ مُجۡرِمِيهَا لِيَمۡكُرُواْ فِيهَاۖ وَمَا يَمۡكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمۡ وَمَا
يَشۡعُرُونَ ﴿١٢٣﴾ وَإِذَا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ قَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ نُؤۡتَىٰ مِثۡلَ
مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِۘ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ سَيُصِيبُ
ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ
يَمۡكُرُونَ ﴿١٢٤﴾

119- او څه دربانديي شوي چې هغه څه نه خورئ چې د الله نوم پرې
ياد شوی، په داسې حال کې چې تاسو ته ئې په تفصيل سره ښودلې چې
څه ئې دربانديي حرام کړي، پرته له هغه چې ورته اړ کړی شوئ، او ډېری
خلك خو د خپلو هوسونو په غوښتنه په ناپوهۍ سره نور بې لارې کوي،
بې شکه چې ستا رب دغه تېری کوونکي تر هر چا ښه پېژني. 120- او
ښکاره او پټه ګناه پرېږدئ، يقيناً څوك چې ګناه کوي حتماً به د خپلو
کړنو سزا ورکړی شي. 121- او هغه څه مه خورئ چې د الله نوم نه وي
پرې ياد شوی، او په رښتيا چې دا فسق دئ، او شيطانان خو خپلو دوستانو
ته وسوسې (په زړه کې) وراچوي چې له تاسو سره مجادله وکړي، او که
د دوی اطاعت وکړئ نو تاسو به هم مشرکان شئ. 122- آيا هغه چې
مړ وو، بيا مو راژوندی کړ او داسې رڼا مو ورپه برخه کړه چې په هغې
سره په خلکو کې تګ کولی شي، هغه چا ته به ورته وي چې په داسې تيارو
کې وي چې ترې وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسې هغه څه ښايسته
شوي چې دوی ئې کوي. 123- او همداسې مو په هر کلي کې د هغوی
ستر ستر مجرمين داسې ګرځولي چې هلته دسيسې جوړوي، خو په دې ئې
سر نه خلاصېږي چې په حقيقت کې د ځان خلاف دسيسې کوي. 124- او
کله چې کوم آيت ورته راشي وايي: تر هغه به ايمان رانه وړو چې موږ
ته هم هغه څه راکړی شي چې د الله پيغمبرانو ته ورکړی شوي!! الله تر
هر چا زيات ښه پوهېږي چې خپل رسالت چېرې کېږدي (چا ته ئې
وسپاري)، ژر به دغو مجرمانو ته د خپلو دسيسو په وجه، د الله په نزد
کې سپکاوی او سخت عذاب ورپه برخه شي.

فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ
أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي
ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٢٥
وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسۡتَقِيمٗاۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ
يَذَّكَّرُونَ ١٢٦ *لَهُمۡ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا
كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢٧ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ قَدِ
ٱسۡتَكۡثَرۡتُم مِّنَ ٱلۡإِنسِۖ وَقَالَ أَوۡلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلۡإِنسِ رَبَّنَا
ٱسۡتَمۡتَعَ بَعۡضُنَا بِبَعۡضٖ وَبَلَغۡنَآ أَجَلَنَا ٱلَّذِيٓ أَجَّلۡتَ لَنَاۚ قَالَ
ٱلنَّارُ مَثۡوَىٰكُمۡ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ
عَلِيمٞ ١٢٨ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعۡضَ ٱلظَّٰلِمِينَ بَعۡضَۢا بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ١٢٩ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ
مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ
يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ شَهِدۡنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَاۖ وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا
وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ كَٰفِرِينَ ١٣٠

125- څوك چي الله تعالی ئې لارښوونه وغواړي نو سینه ئې اسلام
ته پرانیزي او د چا بې لاریتوب چي وغواړي نو سینه ئې ورتنګه
کړي، داسي لکه آسمان ته چي خېژي، همداراز الله پر هغو ناپاکي
تپي چي ایمان نه راوړي. 126- او دا ستا د رب مستقیمه لار ده،
یقیناً چي موږ پند اخیستونکو خلکوته آیتونه په تفصیل سره بیان
کړي. 127- دوی ته د خپل رب په خوا کي، د هغه څه په سبب
چي کول ئې، د سلامتیا ټاټوبی دئ او هغه به ئې مولا وي. 128-
او هغه ورځ چي ټول به راغونډ کړي، (او ورته وبه وایي:) اې د
پېریانو ټولیه! ډېر انسانان مو ترلاسه کړل (له ځان سره مو ملګري
کړل)، او د دوی انسانان ملګري به وایي: اې زموږ ربه! موږ خو
یوه له بل ګټه ترلاسه کړې او همغه نېټه مو راورسېده چي تا راته
ټاکلې وه، وبه وایي: اور مو ټمځی دئ، په هغه کي تلپاته، مګر دا
چي الله (بل څه) وغواړي، یقیناً چي ستا رب پوه حکم کوونکی
دئ. 129- او همداسي ځیني ظالمان د ځینو نورو ملګري کوو، د
هغه څه په وجه چي کول ئې. 130- اې د پېریانو او انسانانو
ټولیه! آیا ستاسو پیغمبران نه وو درغلي، چي زما آیتونه ئې درته
بیانول او له دغي ورځي سره له مخامخېدو ئې وېرولئ، وبه وایي:
د ځان په خلاف شهادت ورکوو، او دنیوي ژوند دوکه کړي ول، او
پر خپل ځان به د دې شهادت ورکوي چي کافران ول.

ذَٰلِكَ أَن لَّمۡ يَكُن رَّبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا
غَٰفِلُونَ ١٣١ وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا
يَعۡمَلُونَ ١٣٢ وَرَبُّكَ ٱلۡغَنِيُّ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۚ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ
وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۢ بَعۡدِكُم مَّا يَشَآءُ كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ
قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ ١٣٣ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَأٓتٖۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ
١٣٤ قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَامِلٞۖ فَسَوۡفَ
تَعۡلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ١٣٥ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ
نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ
لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ
شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ١٣٦ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٖ مِّنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَٰدِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُواْ
عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡۖ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ
١٣٧

131- دا د دې لپاره چې ستا رب په داسې حال کې په ناحقه او ظالمانه توګه کليوال نه هلاکوي چې غافل وي (پيغمبر نه وي ورلېږل شوی). 132- او هر چا ته د خپلو کړنو متناسب درجې دي او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې دوی ئې کوي. 133- او ستا رب بې نياز د رحمت خاوند دئ، که وغواړي تاسو به له منځه يوسي او له تاسو وروسته به هغه څوك (ستاسو) ځای ناستی کړي چې دی ئې غواړي، همغسې لکه چې تاسو ئې د نورو خلکو له اولاده راپيدا کړئ. 134- يقيناً هغه څه حتماً راتلونکی دئ چې تاسو ته ئې وعده درکول کېږي او تاسو (د الله) د عاجزولو توان نه لرئ. 135- ووايه: اې زما قومه! تاسو په خپل حال عمل وکړئ زه هم عمل کوونکی يم (د خپلې طريقې مطابق)، ژر به پوه شئ چې د نېکې پايلې ئمځای به د چا وي، دا يو حقيقت دئ چې ظالمان نه ژغورل کېږي. 136- او د الله لپاره ئې په هغه کښت او څارويو کې چې ده پيدا کړي، يوه برخه وټاکله او وئې ويل: دا د الله لپاره دي، د دوی د اټکل مطابق او دا ئې زموږ د شريکانو لپاره، نو هغه چې د دوی د مزعومو شريکانو لپاره وي الله ته ترې هيڅ نه رسېږي، خو هغه چې د الله لپاره وي نو د دوی مزعومو شريکانو ته رسېږي، څومره بد قضاوت کوي! 137- او همداسې ډېرى مشرکينو ته د دوی شرکاوو د خپلو زامنو وژل ښايسته کړ، د دې لپاره چې په هلاکت کې ئې وغورځوي او خپل دين ورته شکمن کړي، او که الله غوښتلی نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو دوی په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

وَقَالُواْ هَٰذِهِۦٓ أَنۡعَٰمٞ وَحَرۡثٌ حِجۡرٞ لَّا يَطۡعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ
بِزَعۡمِهِمۡ وَأَنۡعَٰمٌ حُرِّمَتۡ ظُهُورُهَا وَأَنۡعَٰمٞ لَّا يَذۡكُرُونَ ٱسۡمَ
ٱللَّهِ عَلَيۡهَا ٱفۡتِرَآءً عَلَيۡهِۚ سَيَجۡزِيهِم بِمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ١٣٨
وَقَالُواْ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ خَالِصَةٞ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ
عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِنَاۖ وَإِن يَكُن مَّيۡتَةٗ فَهُمۡ فِيهِ شُرَكَآءُۚ سَيَجۡزِيهِمۡ
وَصۡفَهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ١٣٩ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓاْ
أَوۡلَٰدَهُمۡ سَفَهَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَحَرَّمُواْ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفۡتِرَآءً عَلَى
ٱللَّهِۚ قَدۡ ضَلُّواْ وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ١٤٠ ۞وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ
جَنَّٰتٖ مَّعۡرُوشَٰتٖ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ وَٱلنَّخۡلَ وَٱلزَّرۡعَ مُخۡتَلِفًا
أُكُلُهُۥ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَٰبِهٗا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٖۚ كُلُواْ مِن
ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَءَاتُواْ حَقَّهُۥ يَوۡمَ حَصَادِهِۦۖ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ
لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ١٤١ وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ حَمُولَةٗ وَفَرۡشٗاۚ كُلُواْ مِمَّا
رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ
عَدُوّٞ مُّبِينٞ ١٤٢

138- او وئې ویل: دا څاروي او کښتونه ممنوع او حرام دي، له هغه
چا پرته ئې بل څوك نشي خوړلی چي موږ ئې غواړو، د دوی په اټکل،
او ځیني څاروي چي ملاګاني ئې ممنوع دي (د بار او سورلۍ کار نشي
ترې اخیستل کېدی)، او ځیني څاروي چي د الله نوم نه پرې یادوي، پر
الله د افتراء په توګه، حتماً به ئې د افتراءاتو په وجه مجازات کړي.
139- او وئې ویل: څه چي د دغو څارویو په ګېډو کې دي، زموږ د
نارینه وو لپاره مختص دي او پر مېرمنو مو حرام دي او که مردار شوی
وي نو ټول پکې شریك دي، حتماً به د دې توصیف او درجه بندۍ سزا
ورکړي، یقیناً چه هغه ډېر پوه د حکمت خاوند دئ. 140- یقیناً هغو
کسانو تاوان کړی چي په بې عقلۍ سره ئې خپل اولاد وژلي او هغه
څه ئې حرام ګڼلي چي الله ورروزي کړي وو، په الله باندي د افتراء په
توګه، بې شکه چي لار ئې ورکه کړې او هدایت شوي نه ول. 141- او
دی خو همغه ذات دئ چي ډول ډول باغونه ئې پیدا کړل، هسك کړی
شوي (په څېري لکه انګور) او نه هسك کړی شوي (په خپلو ستنو ولاړ)،
کجوري، کښتونه چي حاصلات ئې په خپلو کې توپیر لري، زیتون، انار،
(په رنګ او شکل کې) سره ورته او (په خوند کې) سره بېل، کله چي
حاصل ورکړي نو له میوو ئې وخورئ او د رېبلو او شکولو په مهال ئې
حق (چي الله درباندي لازم کړی) ورکړئ، او اسراف مه کوئ، یقیناً چي
الله اسراف کوونکي نه خوښوي. 142- او له څارویو باروړونکي او (پر
زمکه) آوار (تلونکي)، له هغه څه چي الله درروزي کړي وخورئ او د
شیطان په پلونو پسي مه ځئ، یقیناً چي هغه مو ښکاره دښمن دئ.

ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۖ مِّنَ ٱلضَّأۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡمَعۡزِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ
ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ
ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٤٣ وَمِنَ ٱلۡإِبِلِ
ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا
ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ
وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا
لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ
١٤٤ قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٖ يَطۡعَمُهُۥٓ
إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ
رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ
وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٤٥ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ
حَرَّمۡنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٖۖ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ وَٱلۡغَنَمِ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ
شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتۡ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلۡحَوَايَآ أَوۡ مَا ٱخۡتَلَطَ
بِعَظۡمٖۚ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِبَغۡيِهِمۡۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ١٤٦

143- اته جوړې، له مېږو دوه، او له وزو دوه، ووايه: آيا (له دغو ئې) دواړه نارينه حرام کړي که دواړه ښځينه او يا هغه چي د دغو دواړو ښځينه وو رحم پرې مشتمل او حاوي وي؟ په علم سره خبر راکړئ که رښتيني يئ. 144- او له اوښانو دوه او له غويانو دوه، ووايه: آيا (له دغو ئې) دواړه نارينه حرام کړي که دواړه ښځينه او يا هغه چي د دغو دواړو ښځينه وو رحم پرې مشتمل او حاوي وي؟ يا دا چي تاسو هغه مهال شاهد وئ چي الله د دې سپارښتنه درته کوله؟ نو تر هغه به ډېر ظالم څوك وي چي پر الله باندي د دروغو افتراء کوي، د دې لپاره چي خلك په بې علمۍ سره بې لاري کړي، يقيناً چي الله دغه ظالم وګړي نه هدايتوي. 145- ووايه: په هغه څه کي چي ما ته ئې وحي شوې له دې پرته بل حرام توکی پر هغه خوړونکي چي خوري ئې نه مومم چي يا مردار شوی وي، يا بهېدونکې وينه، يا د خنزير غوښه چي پليته ده، يا هغه ناجائزه (ذبيحه) چي له الله پرته د بل چا نوم پرې اخيستل شوی وي، خو څوك چي اړ شو، پرته له دې چي بغاوت کوونکی يا تېری کوونکی وي، نو ستا رب مهربان بخښونکی دئ. 146- او پر هغو چي يهودان شوي هر نوکداره (حيوان ) مو پرې حرام کړی وو او له غويانو او مېږو مو د دوی دواړو وازګه پرې حرامه کړې وه، مګر هغه (وازګه) چي پر ملا يا کلمو ئې نښتې وي او هغه چي له هډوکي سره خلط وي، دا هغه سزا وه چي د دوی د بغاوت په وجه مو ورکړه، او موږ رښتيني يو.

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمۡ ذُو رَحۡمَةٖ وَٰسِعَةٖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُهُۥ
عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٤٧﴾ سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ
مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ
ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ
عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا
تَخۡرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلۡ فَلِلَّهِ ٱلۡحُجَّةُ ٱلۡبَٰلِغَةُۖ فَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ
أَجۡمَعِينَ ﴿١٤٩﴾ قُلۡ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشۡهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ
حَرَّمَ هَٰذَاۖ فَإِن شَهِدُواْ فَلَا تَشۡهَدۡ مَعَهُمۡۚ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ
ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمۡ
يَعۡدِلُونَ ﴿١٥٠﴾ ۞قُلۡ تَعَالَوۡاْ أَتۡلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمۡ عَلَيۡكُمۡۖ أَلَّا
تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗاۖ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُم
مِّنۡ إِمۡلَٰقٖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكُمۡ وَإِيَّاهُمۡۖ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا
ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَۖ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا
بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿١٥١﴾

147- نو که ئې تکذیب کړي؛ ووایه: ستاسو رب د پراخ رحمت خاوند دئ، په داسي حال کي چي عذاب ئې له مجرمانو نشي رد کېدی. 148- حتماً به هغه خلك چي شرك ئې کړی ووايي: كه الله غوښـــتلی نه به موږ شرك كړی وو او نه زموږ پلرونو او نه به مو (له خپله ځانه) څه شی حرام کړی وو، همداسي تر دوی مخکنیو هم د دروغو نســـبت کړی وو، تر هغه چي زموږ عذاب ئې وڅکلو، ووا يه: آيا كوم علمي ســند درسره شــته چي موږ ته ئې راوړاندي کړئ، تاسـو خو يوازي په گمانونو پسي۔ درومئ او يوازي په خوشـو دروغجنو خبرو بوخت يئ. 149- ووايه: بشـپړ دليل خو د الله دئ، نو كه ئې غوښـتي وی ټول به ئې هدايت كړي وئ. 150- ووايه: هغه شـــاهدان مو راوړاندي کړئ چي شهادت ورکړي الله دا حرام کړي، كه ئې شهادت ورکړ، لدوی سره په دې شـــهادت كي مه ملگری کېږه او مه د هغو خلكو د هوی او هوس متابعت کوه چي زما آيتونه ئې تکذيب کړي او هغه چي په آخرت ايمان نه راوړي او له خپل رب سره (نور څه) برابروي. 151- ووايه: راشـــئ چي (درته) ولولم چي رب مو څه دربـاندي حرام کړي، هغه دا چي هيڅ څه ورسره مه شريكوئ او له مور پلار سره ښـېگڼه، خپل اولاد د لوږي په وجه مه وژنئ، موږ تاسو ته هم روزي درکوو او دوی ته هم، د فحش كارونو ته مه نژدې کېږئ، كه ئې څرگند وي او كه ئې پټ، او هغه څوك په ناحقه مه وژنئ چي الله (ئې وژل) حرام کړي، دا هغه څه دي چي حكم ئې درته کړی، ښايي تعقل وكړئ.

وَلَا تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ
وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۖ
وَإِذَا قُلۡتُمۡ فَٱعۡدِلُواْ وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰۖ وَبِعَهۡدِ ٱللَّهِ أَوۡفُواْۚ ذَٰلِكُمۡ
وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي
مُسۡتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦۚ
ذَٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ ءَاتَيۡنَا مُوسَى
ٱلۡكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى
وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ
مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ أَن تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أُنزِلَ
ٱلۡكِتَٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيۡنِ مِن قَبۡلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمۡ
لَغَٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوۡ تَقُولُواْ لَوۡ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡكِتَٰبُ لَكُنَّآ أَهۡدَىٰ
مِنۡهُمۡۚ فَقَدۡ جَآءَكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞۚ فَمَنۡ
أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنۡهَاۗ سَنَجۡزِي ٱلَّذِينَ
يَصۡدِفُونَ عَنۡ ءَايَٰتِنَا سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يَصۡدِفُونَ ﴿١٥٧﴾

152- او د يتيم مال ته مه نژدې کېږئ، مګر په هغه توګه چي تر
ټولو غوره وي، تر هغه چي تکړه توب ته ورسېږي، پيمانه او تله په
انصاف سره بشپړه کوئ، هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه ګمارو،
کله چي خبري کوئ نو عدالت کوئ، که څه هم خپلوان وي، او د الله
په ژمنو وفا وکړئ، دا هغه څه دي چي تاسو ته ئې سپارښتنه کړې،
شايي پند واخلئ. 153- او همدا زما سيده لار ده، نو متابعت ئې
وکړئ او په نورو لارو مه سر کېږئ که نه نو د ده له لاري به مو سره
بېل کړي، دا هغه څه دي چي تاسو ته ئې سپارښتنه کړې، شايي ځان
ساتنه وکړئ. 154- بيا مو موسی ته هغه کتاب ورکړ چي د غوره
(ويناوو او احکامو) له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصيل وو، (د
خلکو) لارښود او (د دوی لپاره د) رحمت (وسيله)، د دې لپاره چي
له خپل رب سره په مخامخېدو ايمان راوړي. 155- او دا مبارك کتاب
هم موږ نازل کړی، نو متابعت ئې وکړئ او ځان ساتنه وکړئ چي
رحم درباندي وکړی شي. 156- د دې لپاره چي ونه وايئ: کتاب خو
يوازي تر موږ مخکي پر دوو ډلو نازل شوی او موږ د دوی له لوست
بې خبر وو. 157- يا دا چي ووايئ: که پر موږ دا کتاب نازل شوی وی
نو حتماً به تر دوی زيات په سمه لار برابر وو، نو يقيناً چي د خپل
رب له لوري څرګنده نښه، لارښوونه او (الهي) پېرزوينه درته راغله،
نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چي د الله آيتونه تکذيبوي او ترې
ډډه کوي، حتماً به هغو ته چي زما له آيتونو ډډه کوي د همدې مخ
اړولو په وجه د بد عذاب سزا ورکړو.

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ
ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا لَمۡ
تَكُنۡ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا
مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي
شَيۡءٍۚ إِنَّمَآ أَمۡرُهُمۡ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ مَن جَآءَ
بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا
وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ قُلۡ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ دِينٗا
قِيَمٗا مِّلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي
وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ
أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِي رَبّٗا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ
شَيۡءٖۚ وَلَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ إِلَّا عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۚ
ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾
وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ
دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ
لَغَفُورٞ رَّحِيمُۢ ﴿١٦٥﴾

158- آيا يوازي د دې انتظار کوي چې يا فرشتې ورته راشي، يا ستا رب راشي يا ستا د رب ځيني نښې راشي ( څرګندي شي)؟، کله چې ستا د رب ځيني نښې راشي نو هغه چا ته به ئې ايمان هيڅ ګټه ونه رسوي چې تر دې د مخه ئې ايمان نه وو راوړی، يا ئې په خپل ايمان کې کومه ښېګڼه نه وي ترلاسه کړې، ووايه: انتظار وکړئ چې موږ هم منتظر يو. 159- يقيناً چا چې خپل دين ټوټې ټوټې کړ او ډلي ډلي شول، ته په هيڅ څه کې لدوی نه يې، بې شکه چې د دوی کار الله ته (سپارل شوی) دئ، بيا به ئې په هغه څه خبر کړي چې دوی کولو. 160- څوك چې نېکي وکړي نو ده ته ئې لس برابره بدله ده او څوك چې بدکار وکړي نو يوازي وَرته سزا به ورکول کېږي او ظلم به نه پرې کېږي. 161- ووايه: زه خو خپل رب مستقيمي لاري ته هدايت کړی يم، سم او صحيح دين ته، د حنيف ابراهيم مسلك او دين ته چې د مشرکانو له ډلي نه وو. 162- ووايه: بې شکه چې لمونځ مي، قرباني مي، ژوند مي او مرګ مي د عالميانو رب ته دي، 163- شريك ئې نشته، په دې مأمور شوی يم او زه له لومړيو مسلمانانو يم. 164- ووايه: آيا له الله پرته بل رب ولټوم، حال دا چې هغه د هر څه رب دئ، هيڅوك څه نه ترسره کوي مګر دا چې (پايله به ئې) پر ده وي، او هيڅ په شا کوونکی د بل بار نه په شا کوي، بيا د خپل رب په لوري ستاسو بېرته ګرځېدا ده، نو په هغه څه به مو خبر کړي چې اختلاف مو پکې کاوو. 165- او دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې د زمکي ځای ناستي ټاکلي يئ، او د ځينو درجې ئې پر نورو لوړي کړې، تر څو مو په هغه څه کې وآزمويي چې درکړي ئې دي، يقيناً چې ستا رب په سزا ورکولو کې سريع دئ او بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ.

## سُورَةُ الأَعۡرَافِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓصٓ ١ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيۡكَ فَلَا يَكُن فِي صَدۡرِكَ حَرَجٞ
مِّنۡهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم
مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٣
وَكَم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا بَيَٰتًا أَوۡ هُمۡ قَآئِلُونَ ٤
فَمَا كَانَ دَعۡوَىٰهُمۡ إِذۡ جَآءَهُم بَأۡسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا
ظَٰلِمِينَ ٥ فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦
فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ٧ وَٱلۡوَزۡنُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّۚ
فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٨ وَمَنۡ خَفَّتۡ
مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا
يَظۡلِمُونَ ٩ وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا
مَعَٰيِشَۗ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ١٠ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَٰكُمۡ ثُمَّ
صَوَّرۡنَٰكُمۡ ثُمَّ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ
إِبۡلِيسَ لَمۡ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ١١

# الاعراف مکي 206 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، میم، صاد، 2- تا ته لېږل شوی یو کتاب دئ، په سینه کې دي ترې تنګوالی نه وي، د دې لپاره چې انذار پرې وکړې او مؤمنانو ته پند او یادونه. 3- د هغه څه متابعت وکړئ چې ستاسو د رب له لوري درباندي نازل شوي او له ده پرته په نورو اولیاوو او پالونکو پسې مه ځئ، پند اخیستنه مو لږ ده. 4- او څومره کلیوال مو هلاك کړي، هغه چې زموږ عذاب به په داسي حال کې پرې راغی چې یا به د شپې په خوب ویده وو یا به ئې د غرمې خوب کولو؟! 5- نو وینا به ئې له دې پرته بله نه وه چې ویل به ئې: یقیناً چې موږ ظالمان وو. 6- نو حتماً به له هغو هم وپوښتو چې پیغمبران مو ورلېږلي او له پیغمبرانو به هم خامخا پوښتنه کوو. 7- نو د پوهي له مخي به قصه ورواوروو او موږ (هغه مهال ترې) غائب نه وو. 8- او په دې ورځ به حق دروندوالی وي، نو د چا چې تلل شوي درانه وختل همدا دوی بریالي دي. 9- او د چا چې تلل شوي سپك وختل نو دوی هغه دي چې ځان ته ئې له دې کبله تاوان رسولی چې زما له آیتونو سره ئې ظالمانه چلن کولو. 10- او یقیناً چې تاسو مو په زمکي کې متمکن کړئ او په دې کې مو د ژوند (ټول ضروري) اسباب درته برابر کړل، خو شکرکول مو لږ دئ. 11- او یقیناً چې موږ پیدا کړئ، بیا مو شکل او صورت درکړ، بیا مو ملائکو ته وویل چې آدم ته سجده شئ، نو له شیطان پرته ټولو سجده وکړه، چې (دی) د سجده کوونکو له ډلي نه وو.

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسۡجُدَ إِذۡ أَمَرۡتُكَۖ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي
مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ١٢ قَالَ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ
أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَٱخۡرُجۡ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ١٣ قَالَ أَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ
يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٤ قَالَ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ١٥ قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي
لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ
وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ
شَٰكِرِينَ ١٧ قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ
لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٨ وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ
وَزَوۡجُكَ ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ
فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩ فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا
وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ
ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ٢٠
وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢١ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖۚ فَلَمَّا ذَاقَا
ٱلشَّجَرَةَ بَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ
ٱلۡجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمۡ أَنۡهَكُمَا عَن تِلۡكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل
لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمَا عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٢

12- وئې فرمايل: څه شي منع کړې چې سجده ونه کړې، وئې ويل: زه
تر ده غوره يم، زه دې له اوره پيدا کړی يم او دی دې له خټې پيدا
کړی. 13- وئې ويل: له دې کوز شه، دا حق نلرې چې دلته لويي وکړې،
ووځه چې له ذليلو يې. 14- وئې ويل: تر هغې ورځې مهلت راکړه
چې (ټول له قبرونو) راپاڅول کېږي. 15- وئې فرمايل: ته له مهلت
ورکړی شوو يې. 16- وئې ويل: نو چې بې لارې دې کړم، هرومرو به
ستا په مستقيمې لارې کې دوی ته (په کمين کې) کښېنم، 17- بيا به د
دوی له مخې، له شا ئې، له ښي اړخ ئې او له کيڼ اړخ ئې ورته راځم
او ډېری به ئې شکرکوونکي ونه مومې. 18- وئې فرمايل: له دې د رټل
شوي او شړل شوي په توګه ووځه، چا چې ستا متابعت وکړ نو هرومرو
به جهنم له تاسو ټولو ډک کړم. 19- او اې آدمه! ته او مېرمن دې په
دې جنت کې مېشت شئ، نو له هره ځايه ئې چې څه غواړئ وئې
خورئ، او دې ونې ته مه نژدې کېږئ، که نه نو له ظالمانو به شئ. 20-
نو شيطان وسوسه کړل، د دې لپاره چې لدوی پټې جثې ئې ورته
بربنډې کړي او (ورته) وئې ويل: خپل رب يوازې د دې لپاره لدې ونې
منع کړي يئ چې داسې نه فرشتې شئ او تلپاته شئ. 21- او لوړه ئې
ورته وکړه چې زه مو خواخوږی يم، 22- نو په دوکې سره ئې دواړه
وغولول، کله چې ئې د (ونې) مېوه وڅکله بدنونه ئې ورته بربنډ شول
او لګيا شول په ځانونو باندې ئې د باغ پاڼې نښلولې او خپل رب ورته
غږ کړ: آيا تاسو مې له دغې ونې نه وئ منع کړي؟ او نه مې وو درته
ويلي چې شيطان مو څرګند دښمن دئ؟

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣ قَالَ ٱهۡبِطُواْ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ وَلَكُمۡ فِي
ٱلۡأَرۡضِ مُسۡتَقَرّٞ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٖ ٢٤ قَالَ فِيهَا تَحۡيَوۡنَ وَفِيهَا
تَمُوتُونَ وَمِنۡهَا تُخۡرَجُونَ ٢٥ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا
يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ
ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ٢٦ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا
لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ
إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٢٧ وَإِذَا فَعَلُواْ
فَٰحِشَةٗ قَالُواْ وَجَدۡنَا عَلَيۡهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَاۗ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٢٨ قُلۡ أَمَرَ رَبِّي
بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ
لَهُ ٱلدِّينَۚ كَمَا بَدَأَكُمۡ تَعُودُونَ ٢٩ فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ
عَلَيۡهِمُ ٱلضَّلَٰلَةُۚ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُواْ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ
وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ٣٠

23- دواړو وویل: اې زموږ ربه! په ځان مو ظلم وکړ، که بخښنه راته ونه کړې او رحم راباندې ونه کړې نو حتماً به له زیانمنو شو. 24- وئې فرمایل: کوز شئ، ځیني مو د ځینو نورو دښمنان او په زمکې کې تاسو ته ځمځی او تر یوې نېټې ګټه اخیستل دي. 25- وئې فرمایل: په دې کې به ژوند کوئ، په دې کې به مرئ او له همدې به بېرته رااېستل کېږئ. 26- اې د آدم اولاده! یقیناً چې تاسو ته مې داسي لباس درولېږو چې بدن مو پټوي او د ښایست وسیله ده او غوره ئې د تقوی لباس دئ، دا الهي آیتونه دي، ښایي پند واخلي. 27- اې د آدم اولاده! پام چې شیطان تاسو ونه غولوي، همغسې لکه چې ستاسو مور پلار ئې له جنته وایستل، جامه ئې ترې ایستله چې بدن ئې وروښیي (ورته لوڅ ئې کړي)، دی او قبیله ئې تاسو په داسي توګهویني چې تاسو ئې نشئ لیدلی، موږ شیطانان د هغو دوستان ګرځولي چې ایمان نه راوړي. 28- او کله چې د فحش کوم کار وکړي وایي: خپل پلرونه مو پرې لیدلي او الله پرې ګمارلي یو، ووایه: یقیناً چې الله په فحش باندې ګمارنه نه کوي، آیا د الله په اړه هغه څه وایئ چې نه پرې پوهېږئ؟! 29- ووایه: زما رب د قسط (عدالت کولو) امر کړی، (او دا چې) د سجدې په مهال خپله توجه سیده کړئ او په داسي حال کې ئې عبادت وکړئ چې د دین خالصوونکي وئ، لکه چې په لومړي ځل ئې پیدا کړئ بیا به هم اعاده شئ. 30- یوه ډله هدایت شوې او بله ډله داسي چې ضلالت پرې محقق شوی، دوی خو له الله پرته شیطانان خپل اولیاء ونیول په داسي حال کې چې اټکل کوي هدایت شوي دي.

۞يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا
تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٣١ قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ
أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ
ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣٢
قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ
بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا وَأَن تَقُولُواْ
عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٣ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٞۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا
يَسۡتَأۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ٣٤ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ
رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا
خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ
عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ
ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ يَنَالُهُمۡ نَصِيبُهُم مِّنَ
ٱلۡكِتَٰبِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوۡنَهُمۡ قَالُوٓاْ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ
تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا وَشَهِدُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَنَّهُمۡ
كَانُواْ كَٰفِرِينَ ٣٧

31- اې د آدم اولاده! د هري سجدې په مهال خپل زينت درسره واخلئ (زينتي لباس مو واغوندئ)، وخورئ، وڅښئ خو اسراف مه کوئ، يقيناً چي الله اسراف کوونکي نه خوښوي. 32- ووايه: څا هغه زينتي شيان چي الله خپلو بندګانو ته راايستلي او پاکيزه رزق حرام کړي؟ ووايه: دا په دنيوي ژوند کي هم د مؤمنانو لپاره دي او د قيامت په ورځ په مختصه توګه (د دوی لپاره دي)، دغسي هغو ته نښي په تفصيل سره بيانوو چي پوهېږي. 33- ووايه: حقيقت دا دئ چې زما رب د فحش کارونو څرګند او پټ ئې، ګناه، ناحقه تېری، دا چي له الله سره هغه څه شريك کړئ چي هيڅ دليل پرې نه دئ نازل شوی او دا چي الله ته هغه څه منسوب کړئ چي نه پرې پوهېږئ، تحريم کړي. 34- او هر امت ته اجل ټاکل شوی، نو کله چي د دوی اجل راورسېږي نه به يوه شېبه وروسته شي او نه به مخکې شي. 35- اې د آدم اولاده! هر کله چي ستاسو پيغمبران درشي چي تاسو ته زما آيتونه بيانوي، نو څا چي تقوی غوره کړه او ځان ئې اصلاح کړ، نو نه به څه وېره پرې وي او نه به غمجن شي. 36- او څا چي زما آيتونه تکذيب کړل او لويي ئې ترې وکړه، دوی دوزخيان دي، په هغه کي تلپاته. 37- نو تر هغه څا به ستر ظالم څوك وي چي د الله په نسبت د دروغو افتراء وکړي يا ئې آيتونه تکذيب کړي، دوی ته به د کتاب خپله برخه ورورسېږي، تر هغه چي زمونږ ملائکي ورشي، چي روح ترې قبض کړي، (ورته) وبه وايي: هغه څېري دي چي له الله پرته مو لمانځل؟وبه وايي: رانه ورك شوي او په خپل ځان به د دې شهادت ورکوي چي کافران ول.

قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي
ٱلنَّارِۖ كُلَّمَا دَخَلَتۡ أُمَّةٞ لَّعَنَتۡ أُخۡتَهَاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُواْ فِيهَا جَمِيعٗا
قَالَتۡ أُخۡرَىٰهُمۡ لِأُولَىٰهُمۡ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمۡ عَذَابٗا ضِعۡفٗا
مِّنَ ٱلنَّارِۖ قَالَ لِكُلّٖ ضِعۡفٞ وَلَٰكِن لَّا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتۡ أُولَىٰهُمۡ
لِأُخۡرَىٰهُمۡ فَمَا كَانَ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلٖ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا
كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا
تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي
سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤٠﴾ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ
وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلّٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا
لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ لَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّۖ وَنُودُوٓاْ
أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾

38- وئې ويل: د انسانانو او پېريانو په هغو ډلو کې ننوځئ چې تر تاسو مخکې په اور کې (لوېدلې) دي، کله چې يوه ډله ننوځي په خپلې سيالې ډلې به لعنت وايي، تر هغه چې ټول په کې راغونډ شي، وروستني به ئې د لومړنيو په اړه وايي: اې زمونږ ربه! دغو مونږ بې لارې کړو نو د اور دوه برابره عذاب ورکړه، وبه وايي: ټولو ته دوه برابره دئ خو نه پوهېږئ! 39- او لومړني به ئې د وروستنيو په اړه ووايي: تاسو پر مونږ هيڅ فضيلت نه لرئ، نو د خپلو کړنو له کبله دا عذاب وڅکئ. 40- يقيناً هغه چې زما آيتونه ئې تکذيب کړل او لويي ئې ترې وکړه، نه به د آسمان دروازې ورته پرانيستل شي او نه به جنت ته ننوځي، تر هغه چې اوښ د ستني په سپم ننوځي! او همداسې مجرمينو ته سزا ورکوو. 41- دوی ته به د اور فرش وي او له پاسه ئې د (اور) پرده او برستن، او همداسې ظالمانو ته سزا ورکوو. 42- او هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، (په داسې حال کې چې) مونږ هيڅوك تر خپل وس په زيات څه نه مکلف کوو، دوی جنتيان دي، په هغه کې تلپاته. 43- او په سينو کې ئې چې څه رخه وي هغه به وباسو، تردوی لاندې به ويالې بهېږي او وايي به: ستايني هغه الله ته دي چې مونږ ئې هدايت کړو، که الله زمونږ لارښوونه نه وی کړې نو په دې نه توانېدو چې هدايت شو، يقيناً چې زمونږ د رب استازو حق خبره مونږ ته راوړې وه او غږ به پرې وشي چې دا مو هغه جنت دئ چې د خپلو عملونو په سبب په ميراث درکړی شو.

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا
حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ
أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾ وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٞۚ وَعَلَى
ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٞ يَعۡرِفُونَ كُلَّۢا بِسِيمَىٰهُمۡۚ وَنَادَوۡاْ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَن
سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡۚ لَمۡ يَدۡخُلُوهَا وَهُمۡ يَطۡمَعُونَ﴿٤٦﴾ ۞وَإِذَا صُرِفَتۡ
أَبۡصَٰرُهُمۡ تِلۡقَآءَ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ قَالُواْ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ
قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٨﴾ أَهَٰٓؤُلَآءِ
ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ
عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ﴿٤٩﴾ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ
ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ
ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا
وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا
وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٥١﴾

44- او جنتيان به دوزخيانو ته غږ کړي: موږ خو هغه څه رښتيني وموندل چي زموږ رب ئې وعده راسره کړې وه، آيا تاسو هم هغه څه رښتيني وموندل چي ستاسو رب ئې وعده درسره کړې وه؟ وبه وايي: هو، نو يو غږ کوونکی به د دوی ترمنځ غږ کړي چي: په دغو ظالمانو دي لعنت وي. 45- په هغو چي د الله له لاري ئې ډډه کوله او کوږوالی ئې ورته لټولو او له آخرته ئې انکار کولو. 46- او د دوی تر منځ به حجاب وي، او پر لوړو (ئې ) داسي کسان چي هر يو به له خپلو څېرو پېژني او جنتيانو ته به غږ کړي: سلام پر تاسو! ورداخل شوي به نه وي خو طمع به ئې کوي. 47- او کله چي ئې سترګي د دوزخيانو په لور واړول شي، وايي به: اې زموږ ربه! د ظالمانو له ډلې سره مو يو ځای نکړې. 48- او اعراف وال به ځينو کسانو ته چي له څېرو ئې پېژني غږ کړي او وبه وايي: نه ستاسو ډېروالي (د مال او پلويانو) هيڅ څه درنه دفع کړی شو او نه ستاسو هغه تکبر او لويي غوښتني. 49- آيا دا همغه خلك دي چي تاسو به لوړه کوله چي الله به خپل رحمت ورپه برخه نکړي؟ (همغه چي ورته وويل شول:) جنت ته ننوځئ، په داسي حال کې چي نه به وېره درباندي راځي او نه به غمجن شئ. 50- او دوزخيان به جنتيانو ته غږ کړي چي پر موږ خو لږ اوبه يا هغه څه چي الله تاسو ته درکړي راتوی کړئ! وبه وايي: يقيناً الله دا پر کافرانو حرام کړي. 51- پر هغو چي لهو او لعب ئې ځان ته دين ګرځولی وو او دنيوي ژوند دوکه کړي ول، نو نن به ئې داسي هېر کړو لکه چي دوی له خپلي دغي ورځي سره مخامخېدا هېره کړې وه او زموږ له آيتونو ئې انکار کاوو.

وَلَقَدۡ جِئۡنَٰهُم بِكِتَٰبٖ فَصَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ عِلۡمٍ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ
يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأۡوِيلَهُۥۚ يَوۡمَ يَأۡتِي تَأۡوِيلُهُۥ يَقُولُ
ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلۡحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن
شُفَعَآءَ فَيَشۡفَعُواْ لَنَآ أَوۡ نُرَدُّ فَنَعۡمَلَ غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا نَعۡمَلُۚ قَدۡ
خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ رَبَّكُمُ
ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى
ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ
وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۢ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ
ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَا وَٱدۡعُوهُ
خَوۡفٗا وَطَمَعًاۚ إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَهُوَ
ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ
سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ
مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٥٧﴾

52- او بې شكه چې داسې كتاب مو ورته راوړ چې علماً مو مفصل بيان كړى، هغو خلكو ته لارښود او رحمت چې ايمان راوړي. 53- نو آيا له دې پرته د بل څه انتظار كوي چې تأويل او مصداق ئې ورته راشي؟! كومه ورځ چې تأويل ئې راشي هغه كسان چې تر دې د مخه ئې هېر كړى وو، وايي به: بې شكه چې زموږ د رب استازو حق وينا راوړې وه، نو آيا داسې كوم شفيع لرو چې زموږ لپاره شفاعت وكړي، يا بېرته وگرځول شو چې د خپلو مخكنيو كړنو مغاير عمل وكړو، يقيناً چې ځان ئې تاواني كړ او هغه څه ترې ورك شول چې له ځانه به ئې افتراء كول. 54- يقيناً چې ستاسو رب هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو كې پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استوى وكړه، شپه پر ورځ راكاږي (پرې پټوي ئې)، داسې چې په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې چې د ده امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چې هم خلقت (پيدايښت) ده ته دئ او هم امر (چاري سمبالول)، د عالمونو پالونكى الله چې بركتناك دئ. 55- خپل رب په زاريو او په پټه (ټيټ غږ) دروبلئ، يقيناً چې هغه تيرى كوونكي نه خوښوي. 56- او په زمكې كې د هغې له اصلاح وروسته فساد مه خوروئ او له وېرې او طمعې سره ئې دروبلئ، بې شكه چې د الله رحمت نېكانو ته ورنږدې دئ. 57- او دى هغه ذات دئ چې بادونه تر خپل رحمت (باران) مخكې د زېرې په توگه لېږي، تر هغه چې درنې وربځې اوچتې كړي، د مړه ښاټوبي په لوري ئې وخوځوو، نو په هغه سره اوبه راوورو او پدې سره هرراز مېوې راوباسو، همداراز به مړي راباسو، ښايي پند واخلئ.

وَٱلْبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذْنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِى خَبُثَ لَا يَخْرُجُ
إِلَّا نَكِدًاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَٰتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ ﴿٥٨﴾ لَقَدْ
أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ
إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾ قَالَ
ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ
بِى ضَلَٰلَةٌ وَلَٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦١﴾ أُبَلِّغُكُمْ
رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾
أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ
لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا۟ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَٰهُ
وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟
قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾ ۞ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًاۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ
مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ
ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِى سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن
رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾

58- او د پاکي زمکي نباتات د الله په حکم راوځي او هغه چي ناپاکه وي يوازي نيمګړی ترې راوځي، دغسي هغو ته نښي بيانوو چي شکر کوي. 59- يقيناً چي نوح مو د ده قوم ته ورولېږو، نو وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته هيڅ بل معبود نه لرئ، زه د ستري ورځي له عذابه درباندي وېرېږم. 60- د قوم مشرـانو ئې وويل:موږ خو تا په ښکاره ضلالت کي ګورو! 61- وئې ويل: اې زما قومه! هيڅ ضلالت راپه کي نشته، بلکي زه د رب العالمين له لوري يو استازی يم. 62- چي د خپل رب پيغامونه دررسوم، نصيحت درته کوم د الهي علم په هغه څه ښه پوهېږم چي تاسو پرې نه پوهېږئ. 63- آيا په دې تعجب کوئ چي ستاسو د رب له لوري تاسو ته ستاسو د يوه سړي په ذريعه يوه يادونه او ذکر راغلی، چي خبرداری درکړي، چي تقوی غوره کړئ او چي ترحم درباندي وشي؟! 64- نو هغه ئې تکذيب کړ او موږ دی او هغه چي له ده سره (ملګري) ول په کښتۍ کي وژغورل او هغه خلك مو غرق کړل چي زموږ آيتونه ئې تکذيبول، يقيناً چي دا يو ړوند قوم وو. 65- او عاديانو ته مو د دوی ورور هود (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل هيڅ معبود نه لرئ، آيا ځان ساتنه نه کوئ؟ 66- د قوم کافرو مشرـانو ئې وويل: موږ خو تا په سفاهت (کمعقلۍ) کي ګورو! او په تا دا ګمان کوو چي له دروغجنو يې! 67- وئې ويل: اې زما قومه! هيڅ کمعقلي راپه کي نشته، بلکي زه د رب العالمين له لوري يو استازی يم.

أُبَلِّغُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ رَبِّي وَأَنَا۠ لَكُمۡ نَاصِحٌ أَمِينٌ ٦٨ أَوَعَجِبۡتُمۡ
أَن جَآءَكُمۡ ذِكۡرٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنكُمۡ لِيُنذِرَكُمۡۚ
وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ جَعَلَكُمۡ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعۡدِ قَوۡمِ نُوحٖ وَزَادَكُمۡ فِي
ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗۖ فَٱذۡكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٦٩ قَالُوٓاْ
أَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَحۡدَهُۥ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتِنَا
بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٧٠ قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُم
مِّن رَّبِّكُمۡ رِجۡسٞ وَغَضَبٌۖ أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ
أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي
مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ٧١ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا
وَقَطَعۡنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ وَمَا كَانُواْ مُؤۡمِنِينَ ٧٢ وَإِلَىٰ
ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ
غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ
ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ
فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٧٣

68- د خپل رب پیغامونه دررسوم او زه درته يو امين ناصح يم. 69- آيا په دې تعجب کوئ چې ستاسو د رب له لوري تاسو ته ستاسو د یوه سړي په ذريعه يوه يادونه او ذكر راغلی، چې خبرداری درکړي؟! هغه درپه ياد کړئ چې د نوح له قوم وروسته ئې تاسو (د دوی) ځای ناستي کړئ او تاسو ته ئې په پیدایښت کې پراخوالی درکړ، نو د الله نعمتونه درپه ياد کړئ چې فلاح او بريا مو په برخه شي. 70- وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلی يې چې يوازې د الله عبادت وکړو او هغه څه پرېږدو چې زموږ پلرونو ئې عبادت کاوو؟ نو په څه چې موږ وېروې رائې وړه که له رښتينو يې. 71- وئې ويل: يقيناً چې ستاسو د رب له لوري عذاب او غضب دربانديې واقع شو، آيا د هغو نومونو په اړه راسره لانجه کوئ چې تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، په داسې حال کې چې الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی؟ نو انتظار وکړئ زه هم له تاسو سره په انتظار کوونکو کې يم. 72- نو دی او د ده ملگري مو په خپل رحمت سره وژغورل او د هغو خلکو جرړي مو وايستلې چې زما آيتونه ئې تکذيبول او ايمان راوړونکي نه ول. 73- او ثمودیانو ته مو د دوی ورور صالح (ورولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل هيڅ معبود نه لرئ، بې شکه چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري څرگنده نښه راغلې، دا خدايي اوښه تاسو ته يوه څرگنده نښه (معجزه) ده، نو پرې ئې ږدئ چې د الله په زمکې کې خوراك کوي او په بد نيت سره لاس مه وراوږدوئ، که نه نو په دردناك عذاب به اخته شئ.

وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى
ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ
بُيُوتًا ۖ فَٱذْكُرُوٓاْ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْاْ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾
قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ
لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قَالُوٓاْ
إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا
بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُواْ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْاْ عَنْ
أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِى دَارِهِمْ
جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ
رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾
وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ
أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن
دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

74- او هغه وخت درپه یاد کړئ چي تاسو ئې له عادیانو وروسته (د دوی) ځای ناستي کړئ او په زمکي کي ئې مېشت کړئ چي په آوارو کي ئې قصرونه جوړوئ او غرونه د کورونو لپاره توږئ (تراشئ)، نو د الله نعمتونه درپه یاد کړئ او په زمکه کي فساد کوونکي مه گرځئ. 75- د ده د قوم لويي غوښتونکو مشرانو هغو مستضعفینو ته چي ایمان ئې راوړی وو، وویل: آیا په دې پوهېږئ چي صالح د خپل رب له لوري لېږل شوی؟ دوی (ورته) وویل: موږ په هغه څه ایمان راوړی چي د ده په لاس لېږل شوی. 76- لويي غوښتونکو وویل: موږ له هغه څه منکر یو چي تاسو پرې ایمان راوړی. 77- نو اوښه ئې ژوبله کړه (او وئې وژله)، او د خپل رب له حکمه ئې سرغړونه وکړه او وئې ویل: اې صالح! هغه څه راوړه چي موږ پرې وېروې که په رښتیا له پیغمبرانو یې!، 78- نو زلزلې ونیول او په خپلو کورونو کي پړمخي (مړه) پرېوتل. 79- نو مخ ئې ترې واړاوو او وئې ویل: اې زما قومه! بې شکه چي ما د خپل رب پیغام درورساوو او نصیحت مي درته وکړ خو تاسو نصیحت کوونکي نه خوښوئ. 80- او لوط چي خپل قوم ته ئې وویل: آیا د فحش داسي کار کوئ چي په ټولو عالمیانو کي هیڅوك ترتاسو مخکي نه دئ وروړاندي شوی؟ 81- تاسو خو له ښځو پرته نارینه وو ته د شهوت په غوښتنه وردرومئ!! بلکي تاسو یو مسرف قوم یئ.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْۖ
إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ
كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًاۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ
كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًاۗ قَالَ
يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ قَدْ جَآءَتْكُم
بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْۖ فَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُواْ
ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُواْ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَاۚ
ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُواْ بِكُلِّ
صِرَٰطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِهِۦ
وَتَبْغُونَهَا عِوَجًاۚ وَٱذْكُرُوٓاْ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْۖ وَٱنظُرُواْ
كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ
ءَامَنُواْ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُواْ فَٱصْبِرُواْ حَتَّىٰ
يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَاۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾

82- او د ده د قوم ځواب له دې پرته بل څه نه وو چي: له خپل کلي ئې وباسئ، دا هغه خلك دي چي ډېر پاك پاك كېږي (ځان پاك ګڼي ښيي). 83- نو دى او د ده اهل (اتباع) مو، د ده له مېرمني پرته وژغورل، ځکه دا له وروسته پاته كېدونكو وه. 84- او پر دوى مو ځانګړى (د ډبرو) باران وورولو، نو وګوره چي د دغو مجرمينو عاقبت څنګه وو!! 85- او مدين ته مو د دوى ورور شعيب (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل هيڅ معبود نه لرئ، بې شکه چي تاسو ته ستاسو د رب له لوري څرګنده نښه راغلې، نو پيمانه او تله بشپړه کوئ او د خلکو شيان مه ورکموئ، او په زمکي کي د هغې له اصلاح وروسته فساد مه کوئ، دا درته غوره دئ که مؤمنان يئ. □□- او په لارو کي په دې موخه مه کښېنئ چي وېره خوره کړئ او د الله له لاري هغه څوك منع کړئ چي ايمان ئې راوړى او کوږوالى ورته لټوئ او هغه وخت درياد کړئ چي لږ وئ نو زيات ئې کړئ او وګورئ چي د مفسدينو پايله څنګه وه! □□- او که ستاسو يوې ډلي په هغه څه ايمان راوړى وي چي زه ورسره رالېږل شوى يم او بلي ډلي ايمان رانه وړ، ترهغه صبر وکړئ چي الله زموږ ترمنځ فيصله وکړي او هغه ترټولو غوره حَکَم (فيصله کوونکى) دئ.

۞قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفۡتَرَيۡنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنۡ عُدۡنَا فِي مِلَّتِكُم بَعۡدَ

إِذۡ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنۡهَاۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ
رَبُّنَاۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ بَيۡنَنَا
وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ٨٩ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ٩٠
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩١ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
شُعَيۡبٗا كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَاۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيۡبٗا كَانُواْ هُمُ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ٩٢ فَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰقَوۡمِ لَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُمۡ رِسَٰلَٰتِ
رَبِّي وَنَصَحۡتُ لَكُمۡۖ فَكَيۡفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٩٣ وَمَآ
أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ
يَضَّرَّعُونَ ٩٤ ثُمَّ بَدَّلۡنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلۡحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ
قَدۡ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ
٩٥

88- د ده د قوم لويي غوښتونکو سردارانو وويل: اې شعيبه! يا به تا
او هغه مؤمنان چي درسره دي حتماً له خپل کلي باسو او يا به هرومرو
زموږ مذهب ته بېرته راګرځئ، وئې ويل: که څه هم (ترې) کرکه
ولرو؟! 89- که له هغه وروسته ستاسو مسلك ته دروګرځو چي الله
ترې وژغورلو نو يقيناً چي پر الله به مو دروغجنه افتراء کړې وي، موږ
ته نه ښايي چي هغه ته وروګرځو، مګر دا چي الله زموږ رب ئې
وغواړي، زموږ رب په هر څه علماً احاطه کړې، پر الله مو توکل دئ،
اې زموږ ربه! زموږ او زموږ د قوم ترمنځ رښتينې فيصله وکړې او ته
تر ټولو غوره فيصله کوونکی يې. 90- او د قوم کافرو مشرانو ئې وويل:
که د شعيب متابعت مو وکړ بې له شکه چي تاوان کوئ. 91- نو زلزلې
ونيول او په خپلو کورونو کې پړمخي پرېوتل. 92- هغه چي شعيب ئې
تکذيب کړی وو، داسي معلومېدل لکه چي دلته مېشت نه ول، هغو
چي شعيب ئې تکذيب کړی وو په خپله زيانمن ول. 93- نو مخ ئې
ترې واړاوو او وئې ويل: اې زما قومه! يقيناً چي د خپل رب پيغامونه
مې دررسول او نصيحت مې درته وکړ، نو څنګه به (اوس) د کافر
قوم (په دې حالت) تأسف کوم؟! 94- او هيڅ کلي ته مو کوم پيغمبر
نه دئ لېږلی مګر دا چي د هغه اوسېدونکي مو په کړاوونو او ستونزو
نيولي، د دې لپاره چي زاري وکړي. 95- بيا مو د بدحالۍ ځای په
سوکالۍ بدل کړی، تر هغه چي ښېرازه شول او دا وينا ئې پيل کړه
چي: زموږ پر پلرونو هم کړاوونه او سوکالۍ راغلې وې، نو په داسي
حال کې مو ناڅاپي ونيول چي په خيال کې ئې نه ګرځېده.

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ٩٦ أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ
نَآئِمُونَ ٩٧ أَوَ أَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ
يَلۡعَبُونَ ٩٨ أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ
ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩٩ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ
أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا
يَسۡمَعُونَ ١٠٠ تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدۡ
جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ مِن
قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠١ وَمَا وَجَدۡنَا
لِأَكۡثَرِهِم مِّنۡ عَهۡدٖۖ وَإِن وَجَدۡنَآ أَكۡثَرَهُمۡ لَفَٰسِقِينَ ١٠٢ ثُمَّ
بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَظَلَمُواْ
بِهَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٠٣ وَقَالَ مُوسَىٰ
يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠٤

96- که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوا ئې درلودی نو موږ به حتماً د آسمانونو او د زمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانیستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونیول چې دوی کول. 97- آیا کلیوال له دې څان خوندي ګڼي چې د شپې شپې زموږ عذاب پرې راشي په داسي حال کې چې ویده وي؟ 98- او آیا کلیوال له دې څان خوندي ګڼي چې په غرمه کې زموږ عذاب پرې راشي په داسي حال کې چې په لوبو بوخت وي. 99- نو آیا د الله له پټ تدبیر څان مصئون ګڼي، له زیانمن قوم پرته هیڅوك د الله له پټ تدبیر څان مصئون نه بولي. 100- آیا هغو خلکو ته چې زمکه ئې له خپلو مخکنیو خاوندانو په میراث وړې، دا نه ده جوته شوې چې که وغواړو نو د خپلو ګناهونو په وجه به ئې په مصیبتونو اخته کړو او پر زړونو به ئې داسي مهر ولګوو چې بیا به نه اوري. 101- دا هغه کلي وو چې د دوی څیني قصې مو درته بیان کړې، یقیناً چې دوی ته خپلو پیغمبرانو څرګندي نښې وروړې، خو دوی په هغه څه ایمان راوړو ته تیار نه وو چې مخکې ئې تکذیب کړي وو، الله همداسي د کافرانو پر زړونو مهر لګوي. 102- او د دوی ډېری مو په خپلو ژمنو ولاړ ونه موندل برعکس د دوی ډېری مو فاسقان وموندل. 103- بیا مو لدوی وروسته موسی له خپلو آیتونو سره فرعون او د ده درباریانو ته ولېږو، چې ظلم ئې پرې وکړ، نو وګوره چې د دغو مفسدینو عاقبت څنګه وو. 104- او موسی وویل: اې فرعونه! زه په یقیني توګه د رب العالمین یو استازی یم.

حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ
مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ
بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا
هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٠٨﴾
قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن
يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ
وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾
وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ
﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن
تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحْنُ ٱلْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلْقُواْۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْاْ
سَحَرُوٓاْ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾
*وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا
يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُواْ
هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾

105- د دې وړ چې د الله په اړه له حق پرته بل څه ونه وایم، یقیناً چې تاسو ته مې ستاسو د رب له لوري څرګنده نښه راوړې، نو بني اسرائیل راسره ولېږه. 106- وئې ویل: که کومه نښه دې راوړې وي نو رائې وړه (وئې ښیه)، که رښتینی یې! 107- نو خپله عصا ئې وغورځوله، چې ناڅاپه هغه د رښتیني مار (په څېر ګرځېدلې) وه. 108- او خپل لاس ئې راوایست چې له واره لیدونکو ته تك سپین او ځلانده (ګرځېدلی) وو. 109- د فرعون د قوم درباریانو وویل: دا خو حتماً یو ډېر پوه جادوګر دئ. 110- غواړي تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه امر کوئ؟ 111- وئې ویل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او ښارونو ته اربکي ولېږه، 112- چې هر ماهر او پوه ساحر درته راولي. 113- او جادوګران فرعون ته راغلل او وئې ویل: حتماً به مو څه بدله په برخه کېږي، که برلاسي شوو؟ 114- وئې ویل: هو؛ او تاسو به خامخا له مقربینو وئ. 115- (جادوګرانو) وویل: اې موسی! ته ئې غورځوې (خپله عصا) او که موږ لومړني غورځوونکي شو (د خپلو پړو)؟ 116- وئې ویل: وئې غورځوئ، نو کله چې دوی وغورځول د خلکو سترګې ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندې کړ. 117- او موسی ته مو وحې وکړه چې خپله عصا وغورځوه، نو ناڅاپه دې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په دوکې او چل ول سره جوړ کړي وو. 118- نو حق واقع او محقق شو او هغه څه باطل او محو شول چې دوی کول. 119- دلته نو مغلوب او ذلیل شول. 120- او جادوګران په سجده پرېوتل.

قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢١ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١٢٢ قَالَ فِرۡعَوۡنُ
ءَامَنتُم بِهِۦ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكۡرٞ مَّكَرۡتُمُوهُ فِي
ٱلۡمَدِينَةِ لِتُخۡرِجُواْ مِنۡهَآ أَهۡلَهَاۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ١٢٣ لَأُقَطِّعَنَّ
أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ١٢٤
قَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ١٢٥ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ
رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتۡنَاۚ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَتَوَفَّنَا مُسۡلِمِينَ ١٢٦ وَقَالَ
ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِ فِرۡعَوۡنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوۡمَهُۥ لِيُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبۡنَآءَهُمۡ وَنَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡ وَإِنَّا
فَوۡقَهُمۡ قَٰهِرُونَ ١٢٧ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ إِنَّ
ٱلۡأَرۡضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ ١٢٨
قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبۡلِ أَن تَأۡتِيَنَا وَمِنۢ بَعۡدِ مَا جِئۡتَنَاۚ قَالَ عَسَىٰ
رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ
كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ١٢٩ وَلَقَدۡ أَخَذۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقۡصٖ مِّنَ
ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ١٣٠

121- وئې ویل: په رب العالمین مو ایمان راوړ. 122- د موسی او هارون په رب. 123- فرعون وویل: آیا له دې مخکې چې زه اجازه درکړم ایمان مو راوړ؟ دا حتماً ستاسو داسې یو پټ تدبیر دئ چې په دې ښار کې مو ترسره کړ د دې لپاره چې اوسېدونکې ئې ترې وباسئ! نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره کوم). 124- حتماً به ستاسو لاس پښې یو د بل خلاف پرې کړم، بیا به تاسو ټول پانسۍ کړم. 125- وئې ویل: یقیناً چې موږ د خپل رب لورې ته بېرته ورګرځېدونکې یو. 126- او له دې پرته په بل څه موږ نه رټې چې د خپل رب په آیتونو مو له هغه وروسته ایمان راوړ چې موږ ته راورسېدل، اې زموږ ربه! پر موږ صبر راولېږه او په داسې حال کې مو وفات کړه چې مسلمان وو. 127- او د فرعون د قوم مشرانو وویل: آیا موسی او قوم ئې پرېږدې چې په زمکې کې فساد خور کړي، تا او ستا خدایان پرېږدي؟ وئې ویل: حتماً به ئې زامن ووژنو او ښځې به ئې ژوندۍ پرېږدو، په داسې حال کې چې موږ پرې برلاسي یو. 128- موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتې وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده. 129- وئې ویل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي یو او له راتلو وروسته دې هم، (موسی ورته) وویل: امید دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د زمکې خلافت درپه برخه کړي او بیا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ. 130- او یقیناً چې فرعونیان مو په قحطۍ او د حاصلاتو په کموالي سره ونیول تر څو پند واخلي.

فَإِذَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡحَسَنَةُ قَالُواْ لَنَا هَٰذِهِۦۖ وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ
يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓۗ أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمۡ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُواْ مَهۡمَا تَأۡتِنَا بِهِۦ مِنۡ ءَايَةٖ
لِّتَسۡحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ
ٱلطُّوفَانَ وَٱلۡجَرَادَ وَٱلۡقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٖ مُّفَصَّلَٰتٖ
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيۡهِمُ ٱلرِّجۡزُ
قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَۖ لَئِن كَشَفۡتَ
عَنَّا ٱلرِّجۡزَ لَنُؤۡمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرۡسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا
كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلرِّجۡزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾
فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ
عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ
مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ
رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ
يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ﴿١٣٧﴾

131- نو کله چي به ئې ښېګڼه په برخه شوه وبه ئې ویل: دا زموږ لپاره ده، خو کله چي به کومه ستونزه وررسېده، نو موسی او د ده په ملګرو به ئې بدفالي نیوله، پام چي بدفالي ئې له الله سره ده خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 132- او وئې ویل: هره نښه چي په دې موخه موږ ته راوړې چي په هغې سره کوډې راباندې وکړې، نو درباندې ایمان راوړونکي نه یو. 133- نو طوفان، ملخان، کنې، چنګښې او وینه مو د بېلابېلو نښو (په توګه) پرې راولېږل خو دوی لویي وکړه او یو مجرم قوم وو. 134- او کله چي به پر دوی کوم اضطراب (عذاب) واقع شو وبه ئې ویل: اې موسی! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چي ته ئې پرې مختص کړی یې، که دې له موږ دا اضطراب لرې کړ ایمان درباندې راوړو او بني اسرائیل درسره لېږو. 135- خو کله چي مو لدوی دا اضطراب تر هغه نېټې لرې کړی چي وررسېدونکي ول، ناڅاپه ئې د خپلې ژمنې په ماتولو لاس پورې کړی. 136- نو انتقام مو ترې واخیست او په سیند کې مو غرق کړل، د دې لپاره چي زما آیتونه ئې تکذیبول او ترې غافل ول. 137- او هغو خلکو ته مو چي په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختیځې او لوېدیځې برخې په میراث ورکړې چي برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وینا د بني اسرائیلو په اړه له دې امله بشپړه شوه چي صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ویجاړ کړل چي فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چي دوی لوړول.

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ
أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞۚ قَالَ
إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ١٣٨ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٞ مَّا هُمۡ فِيهِ وَبَٰطِلٞ
مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٣٩ قَالَ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِيكُمۡ إِلَٰهٗا وَهُوَ
فَضَّلَكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٤٠ وَإِذۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ
يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يُقَتِّلُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ
نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ١٤١ ۞وَوَٰعَدۡنَا
مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ
لَيۡلَةٗۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا
تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٤٢ وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ
رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ
إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ
لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ
سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٤٣

138- او بني اسرائيل مو له بحره تېر کړل، نو په داسي قوم راغلل چي د خپلو بتانو په وړاندي ئې اعتکاف کولو، وئې ویل: اې موسی! موږ ته د دوی د معبودانو په څېر یو معبود وټاکه، وئې ویل: په رښتیا تاسو یو جاهل قوم یئ. 139- یقیناً دا خلك چي په کوم مذهب دي، هغه ویجاړ او خراب دئ او څه چي دوی کوي باطل دي. 140- آیا له الله پرته بل معبود درته ولټوم حال دا چي هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضیلت درکړ. 141- او هغه وخت درپه یاد کړئ چي له فرعونیانو مو وژغورلئ، چي بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځي ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کې ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو. 142- او له موسی سره مو د دېرشو شپو ژمنه کړې وه او بیا مو په لسو نورو بشپړې کړې، چي په دې سره ئې د رب وعده بشپړې څلوېښت شپې شوې، او موسی خپل ورور هارون ته وویل: په قوم کې مي نیابت وکړه، د اصلاح په کار بوخت اوسه او د مفسدینو په لار مه ځه. 143- او کله چي موسی زموږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبري وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چي درته وگورم، وئې فرمایل: هیڅکله مي لیدی نه شې، خو دې غره ته وگوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مي هم حتماً وگورې، خو کله چي د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چي راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا ته ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبري چي هیڅوك الله تعالی په خپلو سترگو نه شي لیدی)

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي
فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ١٤٤ وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي
ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا
بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ
ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٤٥ سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي
ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ
سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ
سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ١٤٦
وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡۚ هَلۡ
يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤٧ وَٱتَّخَذَ قَوۡمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعۡدِهِۦ
مِنۡ حُلِيِّهِمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٌۚ أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّهُۥ لَا يُكَلِّمُهُمۡ
وَلَا يَهۡدِيهِمۡ سَبِيلًاۘ ٱتَّخَذُوهُ وَكَانُواْ ظَٰلِمِينَ ١٤٨ وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ
أَيۡدِيهِمۡ وَرَأَوۡاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ ضَلُّواْ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ يَرۡحَمۡنَا رَبُّنَا وَيَغۡفِرۡ
لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ١٤٩

144- وئې فرمایل: اې موسی! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره
تا ته پر خلکو غوره والی درکړ، نو څه چي مي درکړل وائې خله او له
شکرکوونکو اوسه. 145- او ده ته مو په (ډبرينو) تختو کي د هر څه
(په اړه) موعظه او د هر څه (په اړه) تفصيلي ليکنه ورکړه، نو په قوت
سره ئې واخله او خپل قوم ته سپارښتنه وکړه چي په غوره توګه ئې
ترلاسه کړي، ژر به د فاسقانو ټاټوبې دروښيم. 146- حتماً به له خپلو
آيتونو هغه کسان منصرف کړم چي په زمکي کي په ناحقه لويي کوي،
که هره نښه وګوري ايمان پرې نه راوړي، که د کمال او رشد لار په نظر
ورشي د تګلاري په توګه ئې نه نيسي او که د ضلالت لار وګوري د
تګلاري په توګه ئې نيسي، دا د دې لپاره چي زما آيتونه ئې تکذيب
کړي او ترې غافل دي. 147- او هغه چي زما آيتونه او اخروي ملاقات
ئې تکذيب کړل عملونه ئې حبط شول، آيا يوازي د خپلو کړنو سزا نه
ده ورکړی شوې؟ 148- او د موسی قوم د ده (له تلو) وروسته، له خپلو
ګاڼو د سخوندر داسي جسد (د معبود په توګه غوره او ) جوړ کړ چي
ځانګړی غږ ئې وو، آيا دې ته ئې پام نه وو چي هغه ورسره خبري
نشي کولی او هيڅ لارښوونه ئې نشي کولی؟ هغه ئې (معبود) ونيولو
په داسي حال کي چي ظالمان ول. 149- او کله چي د دوی مخي ته
نسکور کړی شو او پوه شول چي يقيناً بې لاري شوي نو وئې ويل: که
زموږ رب راباندي رحم ونه کړي او بخښنه راته ونه کړي حتماً به له
زيانمنو شو.

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي
مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ
يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي
فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٥٠ قَالَ
رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ
١٥١ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي
ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ١٥٢ وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ
ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٥٣
وَلَمَّا سَكَتَ عَن مُّوسَى ٱلۡغَضَبُ أَخَذَ ٱلۡأَلۡوَاحَۖ وَفِي نُسۡخَتِهَا هُدٗى
وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ هُمۡ لِرَبِّهِمۡ يَرۡهَبُونَ ١٥٤ وَٱخۡتَارَ مُوسَىٰ قَوۡمَهُۥ سَبۡعِينَ
رَجُلٗا لِّمِيقَٰتِنَاۖ فَلَمَّآ أَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ قَالَ رَبِّ لَوۡ شِئۡتَ أَهۡلَكۡتَهُم
مِّن قَبۡلُ وَإِيَّٰيَۖ أَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَّآۖ إِنۡ هِيَ إِلَّا فِتۡنَتُكَ
تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَآءُ وَتَهۡدِي مَن تَشَآءُۖ أَنتَ وَلِيُّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا
وَٱرۡحَمۡنَاۖ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡغَٰفِرِينَ ١٥٥

150- او کله چي موسی خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك وګرځېدو وئې
ویل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نیابت وکړی، آیا د خپل رب په کار کې
مو دومره تلوار وکړ؟ الواح ئې لري وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر
ونیو او د ځان په لوري ئې راښکود، (ورور ئې) وویل: زما د مور بچیه!
قوم کمزوری وګڼلم، نژدې وو ومي وژني، نو دښمنان مه راباندي ښادوه
او د ظالم قوم له ډلي مي مه ګرځوه! 151- وئې ویل: زما ربه! ما ته
بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کي مو داخل کړې او
ته خو یقیناً چي تر ټولو رحم کوونکو زیات رحم کوونکی یې. 152- یقیناً
هغو چي سخوندر ئې (د معبود په توګه) ونیولو، د خپل رب په غضب
به اخته او په دنیوي ژوند کي به ئې ذلت په برخه شي، افتراء کوونکو ته
همداسي سزا ورکوو. 153- او هغو چي بد کارونه ئې کړي، بیا ئې له دې
وروسته توبه کړې او ایمان ئې راوړی، بې شکه چي ستا رب له دې
وروسته مهربان بخښونکی دئ. 154- او کله چي د موسی غصه سړه شوه،
هغه تختې ئې وراخیستې چي په لیکني کي ئې د هغو لپاره لارښووني
او پېرزویني وې چي وېره ئې د خپل رب لپاره وي. 155- او موسی د
خپل قوم اویا کسان زما د مقرر وخت (ملاقات) لپاره غوره کړل، خو کله
چي زلزلې ونیول، وئې ویل: اې زما ربه! کاش که غوښتلی دي وی چي
دوی او زه دي تر دې د مخه هلاك کړي وی، آیا د هغه څه په وجه مو
هلاکوې چي زموږ کمعقلو کړي؟ دا خو یوازي ستا یوه آزموینه ده، څوك
چي غواړې پرې بې لاري کوې ئې او چا ته چي دي خوښه وي هدایت
کوې ئې، ته مو مولا یې، نو موږ ته بخښنه وکړه او پر موږ رحم وکړه او
ته تر ټولو غوره بخښونکی یې.

۞وَٱكۡتُبۡ لَنَا فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِنَّا هُدۡنَآ
إِلَيۡكَۚ قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ
شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم
بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ١٥٦ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي
يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم
بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ
وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ
ٱلَّتِي كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ
وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٥٧
قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ
مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ
بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ
وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٨ وَمِن قَوۡمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ
بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ ١٥٩

156- او موږ ته په دې دنيا کې هم او په آخرت کې هم ښېګڼه وليکه (مقرره کړه)، يقيناً چې ستا لوري ته مو رجوع کړې ده، وئې فرمايل: خپل عذاب به د هغه چا په برخه کوم چې زه ئې غواړم او رحمت مي هر څه ته شامل دئ، نو حتماً به ئې د هغو لپاره وليکم چې تقوی کوي، زکات ورکوي او زما پر آيتونو ايمان راوړي. 157- هغه چې د امي رسول او پيغمبر متابعت کوي، هغه چې دوی ئې نوم په تورات او انجيل کې له ځان سره ليکلی مومي، هغه چې دوی په نېکي ګماري او له بدي ئې منع کوي او پاك شيان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئې د دوی له اوږو راکوزوي او هغه زنځيرونه (شلوي) چې د دوی په لاسونو او پښو کې لوېدلي وو، نو چا چې پر هغه ايمان راوړ، د ده مرسته ئې وکړه او په هغې رڼا پسي ولاړل چې پر ده باندي نازله شوې، همدا کسان برلاسي او بريالي دي. 158- ووايه: اې خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول يم چې د آسمانونو او زمکي واکمني د ده ده، له ده پرته چې ژوند ورکوي او وژني، بل معبود نشته، نو پر الله او په هغه نبي (باخبره) امي پيغمبر ئې ايمان راوړئ چې پر الله او کلام ئې ايمان لري، او متايعت ئې وکړئ چې هدايت شئ. 159- او د موسی د قوم يوه ډله په حقه (دخلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت قائموي.

وَقَطَّعۡنَٰهُمُ ٱثۡنَتَيۡ عَشۡرَةَ أَسۡبَاطًا أُمَمٗاۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ
إِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰهُ قَوۡمُهُۥٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ
فَٱنۢبَجَسَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ
مَّشۡرَبَهُمۡۚ وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡغَمَٰمَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَنَّ
وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۚ وَمَا ظَلَمُونَا
وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١٦٠ وَإِذۡ قِيلَ لَهُمُ ٱسۡكُنُواْ
هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ وَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَقُولُواْ حِطَّةٞ وَٱدۡخُلُواْ
ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيٓـَٰٔتِكُمۡۚ سَنَزِيدُ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٦١ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي
قِيلَ لَهُمۡ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ
يَظۡلِمُونَ ١٦٢ وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ
ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ
سَبۡتِهِمۡ شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم
بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ١٦٣

160- او دوی مو په دولسو قومي ټولیو وویشل او موسی ته مو هغه مهال وحي وکړه چې قوم ئې اوبه ترې وغوښتې، چې دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو دولس چینې ترې راوخوټېدې، داسې چې هرې قبیلې خپل اوبه خور وپېژندو او پر دوی مو ورېځې سیوری کړ او من او سلویٰ مو پرې نازل کړل، (ورته ومو ویل) د هغه رزق پاکیزه پاکیزه وخورئ چې موږ درروزي کړي او پر موږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کولو. 161- او کله چې دوی ته وویل شول: په دې کلي کې مېشت شئ او له هر ځای ئې چې غواړئ وخورئ او وایئ: بخښنه (درنه غواړو) او په دروازې سجده کوونکي ننوځئ، چې ګناهونه مو درته وبخښو، نېکانو ته به ئې حتماً زیات کړو. 162- خو د دوی ظالمانو دوی ته له ویل شوې وینا پرته بله وینا په بدل کې خپله کړه، نو په دې سبب مو پر دوی له آسمانه د اضطراب عذاب نازل کړ چې ظلم ئې کولو. 163- او د هغه کلي په اړه ترې وپوښته چې د بحر په غاړه (پروت) وو، چې د شنبې (په ورځ) به ئې تېری کاوو، چې کبان به د دوی د شنبې په ورځ له هر لوري ښکاره ورته راروان ول، او چې د شنبې ورځ به ئې نه وه نو نه به ورته راتلل، همداسې مو د دې لپاره آزمویل چې فسق ئې کاوو.

وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ
عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ١٦٤ فَلَمَّا
نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ
ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ١٦٥ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ
عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ١٦٦ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبۡعَثَنَّ
عَلَيۡهِمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَن يَسُومُهُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِۗ إِنَّ رَبَّكَ
لَسَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٦٧ وَقَطَّعۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُمَمٗاۖ
مِّنۡهُمُ ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنۡهُمۡ دُونَ ذَٰلِكَۖ وَبَلَوۡنَٰهُم بِٱلۡحَسَنَٰتِ
وَٱلسَّيِّـَٔاتِ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ١٦٨ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٞ وَرِثُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ يَأۡخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا ٱلۡأَدۡنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغۡفَرُ لَنَا وَإِن
يَأۡتِهِمۡ عَرَضٞ مِّثۡلُهُۥ يَأۡخُذُوهُۚ أَلَمۡ يُؤۡخَذۡ عَلَيۡهِم مِّيثَٰقُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن
لَّا يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ
لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦٩ وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ
وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٧٠

164- او کله چې د دوی یوې ډلې وویل: ولې هغو خلکو ته وعظ کوئ چې الله ئې هلاکوونکی یا په شدید عذاب سره تعذیبوونکی دئ، وئې ویل: ستاسو رب ته د عذر په توګه او د دې لپاره چې ښایي ځان به ترې وساتي. 165- خو کله چې دوی هغه څه هېر کړل چې پند پرې ورکېدو، هغه مو وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنیوی کاوو او ظالمان مو د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې فسق ئې کاوو. 166- نو کله چې دوی له هغه څه سرغړاوی وکړ چې ترې منع شوي ول، ورته ومو ویل: رټل شوې بیزوګانې شئ. 167- او کله چې ستا رب دا خبره په ډاګه کړې وه چې پر دوی به د قیامت تر ورځې داسې څوك مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. یقیناً چې ستا رب په عذاب ورکولو کې سریع دئ او یقیناً چې هغه مهربان بخښونکی دئ. 168- او په زمکې کې مو په ډلو ډلو خواره واره کړل، ځیني ئې صالح دي او ځیني ئې تر دې راټیټ، په ښو او بدو (شېبو) مو وآزمویل چې راوګرځي. 169- نو تر دوی وروسته داسې پاته شوني ترې پاته شول چې کتاب ئې په میراث یووړ، په داسې حال کې چې د دې خسیسي (دنیا) مال متاع به ئې (پرې) ترلاسه کولو او ویل به ئې: خدای به ئې حتماً راته وبخښي او که همداسې مال متاع بیا ورته رامخه کړي بیا ئې اخلي، آیا د کتاب دا ژمنه نه وه ترې اخیستل شوې چې د الله په اړه به له حق وینا پرته بل څه نه وایي؟ او هغه څه ئې لوستلي وو چې په دغه (کتاب) کې وو او د آخرت کور هغه چا ته غوره دئ چې تقوی کوي، آیا تعقل نه کوئ؟ 170- او هغه چې په کتاب تمسك کوي او لمونځ اقامه کوي، یقیناً چې د دغو مصلحینو اجر نه ضائع کوو.

۞وَإِذۡ نَتَقۡنَا ٱلۡجَبَلَ فَوۡقَهُمۡ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٞ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُۥ وَاقِعُۢ بِهِمۡ
خُذُواْ مَآ ءَاتَيۡنَٰكُم بِقُوَّةٖ وَٱذۡكُرُواْ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٧١
وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ
عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ ١٧٢ أَوۡ تَقُولُوٓاْ إِنَّمَآ أَشۡرَكَ
ءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةٗ مِّنۢ بَعۡدِهِمۡۖ أَفَتُهۡلِكُنَا بِمَا فَعَلَ
ٱلۡمُبۡطِلُونَ ١٧٣ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ وَلَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ١٧٤
وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱلَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ١٧٥ وَلَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنَٰهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُۥٓ
أَخۡلَدَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُۚ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلۡكَلۡبِ إِن تَحۡمِلۡ
عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ أَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَاۚ فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ١٧٦ سَآءَ مَثَلًا
ٱلۡقَوۡمُ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَأَنفُسَهُمۡ كَانُواْ يَظۡلِمُونَ ١٧٧ مَن يَهۡدِ
ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِيۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٧٨

171- او کله چې موږ غر پرې راپورته کړ، داسې لکه چې چترۍ وي او گمان ئې وکړ چې پرې راپرېوتونکی دئ، (ومو ویل:) هغه څه په زور سره (ټینگ) ونیسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه څه ئې په یاد کړئ چې په هغه کې دي، ترڅو مو ځان ساتنه په برخه شي. 172- او کله چې ستا رب د بني آدمو له ملاگانو د دوی اولاد واخیست او دوی ئې پر خپل ځان شاهد وگرځول (او ورته وئې ویل) آیا زه مو رب نه یم؟ وئې ویل: هو؛ شهادت ورکوو، دا د دې لپاره چې د قیامت په ورځ ونه وایئ: موږ له دې غافل وو. 173- او یا ونه وایئ: دا خو زموږ مخکني پلرونه ول چې شرك ئې وکړ او موږ ئې وروستني اولاد وو، آیا د هغه څه په سبب مو هلاکوې چې باطلپالو کړي. 174- همداسې آیتونه په تفصیل سره بیانوو په دې موخه چې بېرته راوگرځي. 175- او دوی ته د هغه چا قصه ولوله چې خپل آیتونه مو ورکړل، خو ترې ووت او شیطان ورپسې شو او له لارورکو شو. 176- که مو غوښتی نو په دې سره به مو لوړ کړی وو خو هغه د زمکې په لور تلپاته شو (ونښت)، او په خپل هوس پسې شو، نو مثال ئې سپي ته ورته دئ، که برید پرې کوې هم ژبه راباسي او که ئې پرېږدې هم ژبه راباسي، دا د هغو خلکو مثال دئ چې زما آیتونه ئې تکذیب کړي، نو قصې ورته بیان کړه چې فکر وکړي. 177- څومره بد دئ د هغو خلکو مثال چې زما آیتونه ئې تکذیب کړل او په خپل ځان ئې ظلم کاوو. 178- الله چې څوك هدایت کړي همدا هدایت شوی دئ او څوك چې بې لارې کړي همدا دوی زیانمن دي.

وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ لَهُمۡ قُلُوبٞ لَّا يَفۡقَهُونَ
بِهَا وَلَهُمۡ أَعۡيُنٞ لَّا يُبۡصِرُونَ بِهَا وَلَهُمۡ ءَاذَانٞ لَّا يَسۡمَعُونَ بِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ
كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٧٩ وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ
ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ
مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٨٠ وَمِمَّنۡ خَلَقۡنَآ أُمَّةٞ يَهۡدُونَ بِٱلۡحَقِّ وَبِهِۦ يَعۡدِلُونَ
١٨١ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨٢
وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ١٨٣ أَوَلَمۡ يَتَفَكَّرُواْۗ مَا بِصَاحِبِهِم مِّن جِنَّةٍۚ
إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٌ ١٨٤ أَوَلَمۡ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ وَأَنۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَدِ ٱقۡتَرَبَ
أَجَلُهُمۡۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ١٨٥ مَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَا هَادِيَ
لَهُۥۚ وَيَذَرُهُمۡ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١٨٦ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ
مُرۡسَىٰهَاۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّيۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقۡتِهَآ إِلَّا هُوَۚ ثَقُلَتۡ فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَا تَأۡتِيكُمۡ إِلَّا بَغۡتَةٗۗ يَسۡـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنۡهَاۖ
قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨٧

179- او یقیناً چي د دوزخ لپاره مو له پېریانو او انسانانو ډېر پیدا کړي، دوی زړونه لري خو پرې پوهېدل نه کوي، سترګي لري خو پرې لیدل نه کوي، غوږونه لري خو پرې اورېدل نه کوي، دوی د څارویو په څېر دي بلکي لازیات لارورکي، همدا دوی غافل او بې خبره دي. 180- او د الله غوره نومونه دي نو په دغو نومونو سره ئې دروبلئ او هغه کسان پرېږدئ چي د ده په نومونو کي الحاد کوي (په کږه ځي)، حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي. 181- او له هغو چي موږ پیدا کړي، یوه ډله ئې داسي ده چي په حق سره د (خلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت پلی کوي. 182- او هغه چي زموږ آیتونه تکذیبوي، حتماً به ئې له داسي لوري ورو ورو ونیسو چي نه پرې پوهېږي. 183- او دوی ته مهلت ورکوم، یقیناً چي زما پټ تدبیر ډېر مضبوط دئ. 184- آیا په دې کي ئې فکر نه دئ کړی چي په ملګري کي ئې هیڅ لېونتوب نشته، دی خو له یوه څرګند نذیر پرته بل څه نه دئ، 185- آیا د آسمانونو او زمکي په ټولواکۍ او په هر هغه څه کي چي الله پیدا کړي او په دې کي ئې نظر نه دئ اچولی چي ښایي د دوی اجل به رانژدې شوی وي، نو له دې وروسته به په کومي خبري ایمان راوړي؟ 186- الله چي څوك بې لاري کړي نو هیڅ لارښود به ئې نه وي او په خپل طغیان کي ئې لالهانده پرېږدي. 187- د دې نښې (قیامت) په اړه تا پوښتي چي د وقوع وخت ئې کله دئ؟ ووایه: علم ئې فقط زما له رب سره دئ، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت کي نه راڅرګندوي، په آسمانونو او زمکي کي درنه شوې، درته نه راځي مګر ناڅاپي، تا داسي پوښتي چي ګواکي ترې خبر یې، ووایه: علم ئې یوازي له الله سره دئ، خو اکثر خلك نه پوهېږي.

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ
كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ
أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨ ۞هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن
نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَجَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا لِيَسۡكُنَ إِلَيۡهَاۖ فَلَمَّا تَغَشَّىٰهَا
حَمَلَتۡ حَمۡلًا خَفِيفٗا فَمَرَّتۡ بِهِۦۖ فَلَمَّآ أَثۡقَلَت دَّعَوَا ٱللَّهَ رَبَّهُمَا
لَئِنۡ ءَاتَيۡتَنَا صَٰلِحٗا لَّنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ١٨٩ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُمَا
صَٰلِحٗا جَعَلَا لَهُۥ شُرَكَآءَ فِيمَآ ءَاتَىٰهُمَاۚ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ١٩٠ أَيُشۡرِكُونَ مَا لَا يَخۡلُقُ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ١٩١ وَلَا
يَسۡتَطِيعُونَ لَهُمۡ نَصۡرٗا وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ ١٩٢ وَإِن تَدۡعُوهُمۡ
إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمۡۚ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡ أَدَعَوۡتُمُوهُمۡ أَمۡ أَنتُمۡ
صَٰمِتُونَ ١٩٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ عِبَادٌ أَمۡثَالُكُمۡۖ
فَٱدۡعُوهُمۡ فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٩٤ أَلَهُمۡ أَرۡجُلٞ
يَمۡشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَيۡدٖ يَبۡطِشُونَ بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ أَعۡيُنٞ يُبۡصِرُونَ
بِهَآۖ أَمۡ لَهُمۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۗ قُلِ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ
كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ١٩٥

188- ووايه: نه د ځان لپاره د ګټې (رسولو) واك لرم او نه د ضرر او تاوان (دفع کولو)، مګر هغه څه چې الله ئې وغواړي او که په غيب پوهېدی نو ډېر خير او ښېګڼه به مې ترلاسه کړې وه او تاوان به نه رارسېدو، زه خو مؤمنانو ته له يوه خبرداری ورکوونکي او زېری ورکونکي پرته بل څه نه يم. 189- دی هغه ذات دئ چې تاسو ئې له يوه ژوي راپيدا کړئ او له هغه ئې جوړه ورته راپيدا کړه چې خوا ته ئې آرامښت ومومي، کله چې ئې (په خپلې غېږ کې) پټه کړه، په خفيف حمل سره حامله شوه، خو کله چې درنه شوه دواړو خپل رب ته دعاء وکړه چې که دې روغ راکړ حتماً به له شکر کوونکو وو. 190- خو کله چې ئې روغ رمټ ورکړ په هغه څه کې ئې شريکان ورته ونيول چې ده ورکړی وو، خو الله له هغه څه ډېر لوړ دئ چې دوی ئې ورسره شريکوي. 191- آيا هغه څه (ورسره) شريکوي چې هيڅ څه نه شي پيدا کولی او دوی په خپله پيدا کړی شوي؟ 192- او نه د دوی د مرستې توان لري او نه د ځان مرسته کولی شي؟ 193- او که ئې د هدايت لوري ته دروبلئ په تاسو پسې نشي درتلی، پرې برابره ده چې دروئې بلئ او که ساکت پاته شئ. 194- يقيناً هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) دربلئ، ستاسو په څېر بندګان دي، نو دروئې بلئ او هغوی دې ستاسو دعاء قبوله کړي که رښتيني يئ. 195- آيا داسې پښې ئې دي چې پرې تګ کوي؟ او يا ئې داسې لاسونه دي چې پرې نيول کوي؟ يا ئې داسې سترګې دي چې پرېويني؟ يا ئې داسې غوږونه دي چې پرې اوري؟ ورته ووايه: خپل شريکان مو دروبلئ، بيا زما په خلاف پټ تدبيرونه وکړئ او مهلت مه راکوئ.

إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩٦
وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ وَلَآ أَنفُسَهُمۡ
يَنصُرُونَ ١٩٧ وَإِن تَدۡعُوهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ لَا يَسۡمَعُواْۖ وَتَرَىٰهُمۡ
يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ وَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ١٩٨ خُذِ ٱلۡعَفۡوَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡعُرۡفِ
وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡجَٰهِلِينَ ١٩٩ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ
فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ٢٠٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ
طَٰٓئِفٞ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ ٢٠١ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ
يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ ٢٠٢ وَإِذَا لَمۡ تَأۡتِهِم بِـَٔايَةٖ قَالُواْ
لَوۡلَا ٱجۡتَبَيۡتَهَاۚ قُلۡ إِنَّمَآ أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ مِن رَّبِّيۚ هَٰذَا بَصَآئِرُ
مِن رَّبِّكُمۡ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٢٠٣ وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ
فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٢٠٤ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ فِي
نَفۡسِكَ تَضَرُّعٗا وَخِيفَةٗ وَدُونَ ٱلۡجَهۡرِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ
وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٢٠٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ
عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيُسَبِّحُونَهُۥ وَلَهُۥ يَسۡجُدُونَ۩ ٢٠٦

196- يقيناً چي زما مولا هغه الله دئ چي دا کتاب ئې نازل کړی او هغه د صالحانو پالنه او ساتنه کوي. 197- او هغه چي له ده پرته ئې دربلئ او عبادت ئې کوئ نه ستاسو مرسته کولی شي او نه د ځان مرسته. 198- او که د هدايت لوري ته ئې دروبلئ نه ئې اوري، ويني ئې چي ستا لوري ته به ګوري خو څه نه ويني!! 199- عفو اختيار کړه، په معروف ګمارنه کوه او له جاهلانو ډډه کوه. 200- او که د شيطان کومه وسوسه دي وسوسه کړي نو الله ته پنا يوسه، بې شکه چي هغه ښه پوه اورېدونکی دئ. 201- يقيناً هغه کسان چي تقوی ئې کړې، کله چي ئې د شيطانانو کوم طائف مس کړي (کوم شيطانی تلقين ورته وکړي) سملاسی متوجه شي، نو هغه وخت ئې بصيرت په برخه (او د خپلې لاري د پېژندو وړ) شي. 202- او ورونه ئې (داسي دي) چي په بې لاريتوب کې ئې راکاږي او هيڅ کمی نه کوي. 203- او کله چي ته کوم آيت ورته رانه وړې، وايي: ولې دي غوره نه کړ؟ ووايه: زه خو فقط د هغه څه متابعت کوم چي زما د رب له لوري راته وحي شوي، دا ستاسو د رب له لوري د بصيرت او پوهې وسيله او د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ. 204- او کله چي قرآن لوستل کېږي نو ورته غوږ شئ او چوپ اوسئ چي رحم درباندي وشي. 205- او (تل) سبا او ماښام، له ځان سره د خپل رب ذکر کوه، په زاريو او وېري سره او له لوړ غږ راټيټ او له غافلانو مه کېږه. 206- يقيناً هغه چي ستا د رب په خوا کې (مقرب) دي د ده له عبادت سرغړاوی او لويي نه کوي، د ده تسبيح وايي او ده ته تندی پر زمکه ږدي.

# سُورَةُ الأَنفَالِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَنفَالِۖ قُلِ ٱلۡأَنفَالُ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ
وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ
١ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ
عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢ ٱلَّذِينَ
يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ
حَقّٗاۚ لَّهُمۡ دَرَجَٰتٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَمَغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤ كَمَآ
أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
لَكَٰرِهُونَ ٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ
إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ٦ وَإِذۡ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحۡدَى ٱلطَّآئِفَتَيۡنِ
أَنَّهَا لَكُمۡ وَتَوَدُّونَ أَنَّ غَيۡرَ ذَاتِ ٱلشَّوۡكَةِ تَكُونُ لَكُمۡ وَيُرِيدُ
ٱللَّهُ أَن يُحِقَّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَيَقۡطَعَ دَابِرَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٧ لِيُحِقَّ
ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٨

## الانفال- مدني- 75 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- د غنائمو په اړه تا پوښتي، ووايه: غنائم د الله او رسـول دي، نو له الله ووېرېږئ او خپلمنځي اړيکي مو روغي کړئ او د الله او پيغمبر ئې اطاعت وکړئ که مؤمنان يئ. 2- مؤمنان خو هغه دي چې کله د الله يادونه وشي زړونه ئې ورېږدي او چې د ده آيتونه پرې ولوســـتل شي ايمان ئې ورزيات کړي او په خپل رب توکل کوي. 3- هغه چي لمونځ اقامه کوي او له هغه څه انفاق کوي چي موږ ورروزي کړي. 4- همدا دوی حقيقي مؤمنان دي، د الله په وړاندي ئې (لوړي) درجې، بخښنه او غوره رزق په برخه. 5- همغسيــ لکه چي ته ئې له خپل کور په حقه وايستلې، په داسي حال کې چي د مؤمنانو يوې ډلې کرکه درلوده. 6- د همدې حقيقت په اړه ئې له هغه وروسته له تا سره لانجه کوله چي څرگند شـــو، داسي لکه چي د مرگ په لوري بېول کېږي او دوی (ئې په خپلو ســـترگو) گوري. 7- او هغه مهال چي الله له دوو ډلو د يوې ژمنه درسره کوله چي ستاسو په برخه به شي، او تاسو دا خوښوله چي بې شـــوکته ئې ســـتاســـو په برخه شي، په داسي حال کې چي الله غوښـــتل په خپل حکم سره حق محقق کړي او د کافرانو جرړي پرې کړي. 8- تر څو حق محقق کړي او بـاطـل محو کړي، کـه څـه هم مجرمين ترې کرکه لري.

إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ
مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ ٩ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ وَلِتَطۡمَئِنَّ
بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ
١٠ إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةٗ مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ
وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ١١ إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ
إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ
كُلَّ بَنَانٖ ١٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَمَن يُشَاقِقِ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ١٣ ذَٰلِكُمۡ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ
لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ زَحۡفٗا فَلَا تُوَلُّوهُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ١٥ وَمَن يُوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ دُبُرَهُۥٓ
إِلَّا مُتَحَرِّفٗا لِّقِتَالٍ أَوۡ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٖ فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ
وَمَأۡوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ١٦

9- کله چې تاسو خپل رب ته په زاريو زاريو سره دعاء کوله او ستاسو دعاء ئې ومنله، چې زه مو په زرو يوه په بلې پسې راتلکونو فرشتو مرستـــه کوم. 10- او الله خو دا يوازې د دې لپاره گرځولې چې زېرى وي او ستاسو زړونه پرې مطمئن شي. په داسې حال کې چې بريا خو يوازې د الله له لورې وي. بې شکه چې الله باحکمت عزتمن دئ. 11- هغه وخت چې له خپل لورې ئې پرمښکې د ډاډېينې په توگه درباندې غوړولو او له آسمانه ئې اوبه درباندې ورولې چې پرې پاك مو کړي او شيطاني اضطراب له تاسو لرې کړي، زړونه مو مضبوط او په دې سره ستاسو قدمونه ټينگ کړي. 12- هغه وخت چې ستا رب فرشتو ته وحې کوله چې زه درسره يم، نو هغه کسان ثابت قدمه کړئ چې ايمان ئې راوړى، ژر به د هغو خلکو په زړونو کې وېره واچوم چې کافران شوي، نو سرونه ئې ووهئ او هر هر بند ئې ترې ووهئ. 13- دا د دې لپاره چې له الله او د ده له رسول سره ئې مخالفت وکړ او څوك چې له الله او رسول سره ئې مخالفت وکړي نو يقيناً چې الله سخت عذاب ورکوونکى دئ. 14- همدا دئ نو وئې څکئ او دا چې کافرانو ته د اور عذاب دئ. 15- اې مؤمنانو! کله چې د کافرانو له کوم لښکر سره په جگړې کې مخامخ شئ، نو شا مه وراړوئ. 16- او څوك چې په دې ورځ شا ورواړوي، مگر د جنگ په موخه لورى بدلوونکى او له بلې ډلې سره يو ځاى کېدونکى، نو يقيناً چې په الهي عذاب اخته شو او ځاى ئې دوزخ دئ، او څومره بد دئ دا د ورتلو ځاى.

فَلَمۡ تَقۡتُلُوهُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ قَتَلَهُمۡۚ وَمَا رَمَيۡتَ إِذۡ رَمَيۡتَ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ رَمَىٰ وَلِيُبۡلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡهُ بَلَآءً حَسَنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَمِيعٌ عَلِيمٞ ١٧ ذَٰلِكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُوهِنُ كَيۡدِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٨
إِن تَسۡتَفۡتِحُواْ فَقَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡفَتۡحُۖ وَإِن تَنتَهُواْ فَهُوَ خَيۡرٞ
لَّكُمۡۖ وَإِن تَعُودُواْ نَعُدۡ وَلَن تُغۡنِيَ عَنكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَوۡ
كَثُرَتۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ
ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَأَنتُمۡ تَسۡمَعُونَ ٢٠ وَلَا تَكُونُواْ
كَٱلَّذِينَ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ٢١ ۞إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ
عِندَ ٱللَّهِ ٱلصُّمُّ ٱلۡبُكۡمُ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ٢٢ وَلَوۡ عَلِمَ ٱللَّهُ
فِيهِمۡ خَيۡرٗا لَّأَسۡمَعَهُمۡۖ وَلَوۡ أَسۡمَعَهُمۡ لَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٣
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا
يُحۡيِيكُمۡۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَقَلۡبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ
تُحۡشَرُونَ ٢٤ وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ
خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢٥

172- نو تاسو دوی نه دي وژلي بلکي الله وژلي، او کله چي تا ویشتل نو تا نه دي ویشتلي بلکي الله وویشتل، د دې لپاره چي مؤمنان له خپل لوري په غوره لورېیني سره وآزمويي، بې شکه چي الله پوه اورېدونکی دئ. 18- دغه او دا چي الله د کافرانو د تدبیر سستوونکی دئ. 19- که مو فتح غوښتله، نو دا فتح خو درته راغله، او که ډډه وکړئ نو دا درته غوره ده، او که بیاراوګرځئ بیاراګرځو، او ستاسو ډله که څه هم زیاته وي کوم څه به درنه دفع نه کړی شي، او دا چي الله له مؤمنانو سره دئ. 20- اې مؤمنانو! د الله او د ده د رسول اطاعت وکړئ او په داسي حال کي مخ ترې مه اړوئ چي اورئ. 21- او د هغو خلکو په څېر مه کېږئ چي وايي: واموورېدل، په داسي حال کي چي نه اوري. 22- بې شکه چي د الله په نزد کي تر ټولو بد خوځېدونکي هغه کاڼه او ګنګیان دي چي تعقل نه کوي. 23- او که الله په دوی کي کوم خیر اوښېګڼه موندلې وی نو حتماً به ئې وراورولي وو، او که ئې وراورولي وی هرومرو به داسي په شا شوي وو چي اعراض کوونکي به وو. 24- اې مؤمنانو! کله چي الله او پیغمبر تاسو هغه څه ته بلي چي ژوند درپه برخه کوي، وئې منئ او په دې پوه شئ چي الله د سړي او د ده د زړه تر منځ حائل کېږي او دا چي د ده لوري ته به غونډ کړی شئ. 25- او له هغي فتنې او مصیبته ځان وساتئ چي یوازي ستاسي ظالمان نه پرې اخته کېږي او په دې پوه شئ چي الله سخت عذاب ورکوونکی دئ.

وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ أَنتُمۡ قَلِيلٞ مُّسۡتَضۡعَفُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ تَخَافُونَ أَن
يَتَخَطَّفَكُمُ ٱلنَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمۡ وَأَيَّدَكُم بِنَصۡرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ
ٱلطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٢٦ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ
ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمۡ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٧ وَٱعۡلَمُوٓاْ
أَنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ
٢٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَتَّقُواْ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّكُمۡ فُرۡقَانٗا
وَيُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ
ٱلۡعَظِيمِ ٢٩ وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ
أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ وَيَمۡكُرُونَ وَيَمۡكُرُ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ٣٠
وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا قَالُواْ قَدۡ سَمِعۡنَا لَوۡ نَشَآءُ لَقُلۡنَا مِثۡلَ
هَٰذَآ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣١ وَإِذۡ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ
هَٰذَا هُوَ ٱلۡحَقَّ مِنۡ عِندِكَ فَأَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ
ٱئۡتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٢ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا
كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ٣٣

26- او هغه وخت دریادکړئ چي لږ، په زمکي کي ضـعیف کړی شـوي
او کمزوري وئ، له دې وېرېدئ چي خلك مو اختطاف کړي، خو ځای
په ځای ئې کړئ، په خپل نصرت سره ئې ستا سو ملاتړ وکړ او پاکیزه
رزق ئې درکړ، د دې لپاره چي شکر وکړئ. 27- اې مؤمنانو! له الله او
رسول سره خیانت مه کوئ او په خپلو امانتونو کي خیانت مه کوئ، په
داسي حال کي چي پوهېږئ. 28- په دې پوه شـــئ چي مالونه او اولاد
مو د آزموینې وسـیله دي، او دا چي د الله خوا ته سـتر اجر دئ. 29-
اې مؤمنانو! که تقوی وکړئ؛ الله تعالی به فرقان درکړي، بدي به مو له
منځه یوسي او بخښـــنه به درته وکړي او الله د لوی فضـل خاوند دئ.
30- او کله چي کافرانو ســـتا خلاف پټ تدبیرونه نیول چي بندي دي
کړي یا دي ووژني یا دي وباسي، دوی هم پټ تدبیرونه کول او الله
هم پټ تدبیر کولو، او الله تر ټولو غوره تدبیر کوونکی دئ. 31- او کله
چي زموږ آیتونه پرې ولوســـتل شي وایي: واموورېدل، که وغواړو دې
ته ورته څه به ووایو، دا خو د مخکنیو له نکلونو پرته بل څه نه دي!!
32- او کله چي ئې وویل: الهي! که دا حقیقتاً سـتا له لوري وي نو پر
موږ له آســـمانه کاڼي راووروه، یا کوم دردناك عذاب (راباندي) راوله.
33- او الله داسي نه دئ چي دوی تعذیب کړي په داسي حال کي چي
تــه (اې پیغمبره!) لا پــه دوی کي یې او الله ئې پــه داسي حـال کي
تعذیبوونکی نه دئ چي دوی بخښنه غواړي.

وَمَا لَهُمۡ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ ٱللَّهُ وَهُمۡ يَصُدُّونَ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ
وَمَا كَانُوٓاْ أَوۡلِيَآءَهُۥٓۚ إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمۡ عِندَ ٱلۡبَيۡتِ إِلَّا مُكَآءٗ
وَتَصۡدِيَةٗۚ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ لِيَصُدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ
فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةٗ ثُمَّ يُغۡلَبُونَۗ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحۡشَرُونَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيزَ ٱللَّهُ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ
ٱلطَّيِّبِ وَيَجۡعَلَ ٱلۡخَبِيثَ بَعۡضَهُۥ عَلَىٰ بَعۡضٖ فَيَرۡكُمَهُۥ جَمِيعٗا
فَيَجۡعَلَهُۥ فِي جَهَنَّمَۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٣٧﴾ قُل لِّلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ
مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ
وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ
بَصِيرٞ ﴿٣٩﴾ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَىٰكُمۡۚ نِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ
وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٤٠﴾

34- او الله به ئې ولې په عذاب نه اخته کوي، په داسي حال کې چي
له مسجدالحرام (د خلکو) مخنیوی کوي، او دوی ئې (حقیقي)
متولیان نه دي، حقیقي متولیان خو ئې یوازي متقیان دي، خو د
دوی ډېری نه پوهېږي. 35- او د بیت الله خوا ته د دوی لمانځنه
(او عبادت) له شپېلکي او چکچکو پرته بل څه نه وي، نو په سبب
د هغه کفر چي تاسو کولو دا عذاب وڅکئ. 36- یقیناً هغه چي
کافران شوي خپل مالونه د دې لپاره لګوي چي د الله له لاري
مخنیوی وکړي، نو حتماً به ئې ولګوي، بیا به پر دوی د حسرت
باعث شي بیا به مغلوب شي، او دا کافران به د دوزخ لوري ته
غونډ کړی شي. 37- تر څو الله ناولي له پاکانو بېل کړي او ناولي یو
د بل له پاسه کېږدي او ټول سره راغونډ کړي او په دوزخ کې ئې
وغورځوي، همدا دوی زیانمن دي. 38- کافرانو ته ووایه: که ډډه
وکړي هغه څه به ورته وبخښل شي چي مخکې تېر شوي، او که
عودت وکړي نو یقیناً چي د پخوانیو طریقه تېره شوې ده. 39- او
تر هغه ورسره وجنګېږئ چي فتنه پاته نشي او دین ټول الله ته
وي، خو که ئې ډډه وکړه نو یقیناً چي الله د هغه څه ښه لیدونکی
دئ چي دوی ئې کوي. 40- او که ئې مخ واړاوو نو پوه شئ چي
الله مو مولا دئ، غوره مولا او غوره مرستندوی.

۞وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ
وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ
ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى
ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿٤١﴾ إِذۡ أَنتُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلدُّنۡيَا
وَهُم بِٱلۡعُدۡوَةِ ٱلۡقُصۡوَىٰ وَٱلرَّكۡبُ أَسۡفَلَ مِنكُمۡۚ وَلَوۡ تَوَاعَدتُّمۡ
لَٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡمِيعَٰدِ وَلَٰكِن لِّيَقۡضِيَ ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗا
لِّيَهۡلِكَ مَنۡ هَلَكَ عَنۢ بَيِّنَةٖ وَيَحۡيَىٰ مَنۡ حَيَّ عَنۢ بَيِّنَةٖۗ وَإِنَّ
ٱللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ إِذۡ يُرِيكَهُمُ ٱللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلٗاۖ وَلَوۡ
أَرَىٰكَهُمۡ كَثِيرٗا لَّفَشِلۡتُمۡ وَلَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
سَلَّمَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٤٣﴾ وَإِذۡ يُرِيكُمُوهُمۡ إِذِ
ٱلۡتَقَيۡتُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِكُمۡ قَلِيلٗا وَيُقَلِّلُكُمۡ فِيٓ أَعۡيُنِهِمۡ لِيَقۡضِيَ
ٱللَّهُ أَمۡرٗا كَانَ مَفۡعُولٗاۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمۡ فِئَةٗ فَٱثۡبُتُواْ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا
لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٤٥﴾

41- او په دې پوه شئ چي څه په غنيمت ترلاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسـکينانو او مسـافرو ده، که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چي په خپل بنده ئې د فرقان په ورځې نازل کړ، هغه ورځ چي دواړه ډلي سره مخامخ شوې، او الله په هر څه ښــه قادر دئ. 42- کله چي تاســو په نژدې څنډې کي وئ او دوی په لري څنډې کي او کاروان له تاســو کښــته، که مو په خپلو کي وعده کړې وی حتماً به مو په دې وعدې کي تخلف کړی وو، خو د دې لپاره چي الله هغه کار ترسره کړي چي کېدونکی وو، تر څو هغه څوك هلاك شي چي د بينه (عقيدې) له پلوه هلاك شــوی او هغه څوك ژوندی پاته شي چي د بينه له لحاظه ژوندی دئ او يقيناً چي الله ښــه پوه اوربدونکی دئ. 43- هغه مهال چي په خوب کي ئې تا ته لږ وښودل، که ئې ډېر درښودلي وی نو حتماً به سست شوي وئ او حتماً به مو د کار په اړه په خپلو کي لانجه کړې وه، خو الله (ترې) سلامت او روغ وساتلئ، يقيناً چي هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ. 44- او کله چي سره مخامخ شوئ دوی ئې ستاسو په سترګو کي لږ دروښودل او تاسو ئې د دوی په سترګو کي لږ، تر څو الله هغه کار سر ته ورسوي چي کېدونکی وو او کارونه خو الله ته ارجاع کېږي. 45- ای مؤمنانو! کله چي له کومي ډلي سره (په جګړې کي) مخامخ شــئ نو ټينګ شئ او الله ډېر ياد کړئ چي بريالي شئ.

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَنَٰزَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ
رِيحُكُمۡۖ وَٱصۡبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُونُواْ
كَٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بَطَرٗا وَرِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَيَصُدُّونَ
عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٤٧﴾ وَإِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ مِنَ ٱلنَّاسِ
وَإِنِّي جَارٞ لَّكُمۡۖ فَلَمَّا تَرَآءَتِ ٱلۡفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ
وَقَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكُمۡ إِنِّيٓ أَرَىٰ مَا لَا تَرَوۡنَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَۚ
وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٤٨﴾ إِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ غَرَّ هَٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمۡۗ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَإِنَّ
ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٤٩﴾ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ
﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ
﴿٥١﴾ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٥٢﴾

46- او د الله او د ده د رســـول اطاعت وکړئ او خپلمنځي لانجه مه
کوئ، که نه نو بې زړه به شئ او پرتم او شوکت به مو له منځه ولاړ
شي، او صبر وکړئ چې یقیناً الله له صابرانو سره دئ. 47- او د هغو په
څېر مه کېږئ چې له خپلو کورونو په کبر او خلکو ته د ځان ښــودنې
لپاره راووتل، او د الله له لارې مخنیوی کوي، په داسې حال کې چې الله
په هغه څه چې دوی ئې کوي محیط دئ. 48- هغه مهال چې شیطان
خپل عملونه ورته ښـــایســـته کړل او وئې ویل: نن په خلکو کې هیڅ
غالبېدونکی (دښــمن) نه لرئ، په داسې حال کې چې زه مو ملګری یم،
خو کله چې دواړو ډلو سره ولیدل په خپلو پوندو واوښـــت او وئې
ویل: زه له تاسو بې زار یم، زه هغه څه ګورم چې تاسو ئې نه ګورئ،
زه له خدایه وېرېږم، او الله خو شدیدالعقاب دئ. 49- هغه مهال چې
منافقینو او هغو چې په زړونو کې ئې بیماري وه ویل: دغه خلك خپل
دین دوکه کړي، په داسې حال کې چې څوك پر الله توکل وکړي نو یقیناً
چې الله با حکمته عزتمن دئ. 50- او کاش هغه حال وګورې چې
ملائکې د دغو کافرانو روح قبضــوي، پر مخ او شـــا ئې وهي او (ورته
وایي) د اور عذاب وڅکئ. 51- دا د هغه څه په ســـبب دي چې
ستا سو لاسونو وړاندې کړي او یقیناً چې الله په (خپلو) بندګانو ظلم
کوونکی نه دئ. 52- لکه د فرعونیانو او د هغو خلکو حال چې تر
دوی مخکې ول، چې د الله د آیتونو په اړه کافران شول او الله په خپلو
ګناهونو ونیول، بې شکه چې الله سخت عذابوونکی ځواکمن دئ.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ لَمۡ يَكُ مُغَيِّرٗا نِّعۡمَةً أَنۡعَمَهَا عَلَىٰ قَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ
مَا بِأَنفُسِهِمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٥٣﴾ كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ
وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ فَأَهۡلَكۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡ
وَأَغۡرَقۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَۚ وَكُلّٞ كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ﴿٥٤﴾ إِنَّ شَرَّ ٱلدَّوَآبِّ عِندَ
ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٥﴾ ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ
ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾ فَإِمَّا
تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٧﴾
وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوۡمٍ خِيَانَةٗ فَٱنۢبِذۡ إِلَيۡهِمۡ عَلَىٰ سَوَآءٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُحِبُّ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا
يُعۡجِزُونَ ﴿٥٩﴾ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ
ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ
لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ﴿٦٠﴾ ۞وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ
فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦١﴾

53- دا د دې لپاره چې الله تر هغه د یوه داسې نعمت بدلوونکی نه دئ چې پر کوم قوم ئې پېرزو کړی وي، چې دوی خپل نفسيـ حالت بدل نه کړي، او دا چې الله پوه اورېدونکی دئ. 54- لکه د فرعونیانو او د هغو خلکو حال چې تر دوی مخکې ول، چې د خپل رب آیتونه ئې تکذیب کړل، نو د خپلو گناهونو په ســبب مو هلاك کړل او فرعونیان مو غرق کړل، په داسې حال کې چې ټول ظالمان ول. 55- یقیناً چې د الله په نزد کې تر ټولو بد خوځېدونکې هغه کافران دي چې ایمان نه راوړي. 56- هغه چې معاهده دې ورسره کړې خو دوی هر ځلې خپله ژمنه ماتوي او پروا ئې نه لري. 57- نو که په جنگ کې دې ومونده، (د دوی په سـخت ځپلو سره) هغه هم خواره واره کړه چې تر شـا ئې دي، ښـایي (په دې سره) پند واخلي. 58- او که د کوم قوم له خیانته ووېرېدې نو په برابره توگه ئې (معاهده) وروغورځوه، یقیناً چې الله خائنان نه خوښــوي. 59- او کافران دې گمان نه کوي چې مخکې شول، یقیناً چې دوی (موږ) نشي عاجزولی. 60- او د دوی لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) چې څومره ستاسو په وس کې وي برابرکړئ، ترڅو د الله دښمن او خپل دښمن او لدوی علاوه چې تاسو ئې نه پېژنئ خو الله ئې پېژني، ووېروئ او څه چې تاســو د الله په لار کې خرخ کړئ، تاسو ته به په بشپړه توگه بېرته درکړی شي او پر تاسو به هیڅ ظلم نه کېږي. 61- او که صلحې ته متمایل شول ته هم ورته متمایل شه او پر الله توکل وکړه، یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ.

وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ
بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٢﴾ وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي
ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ
إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ
مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن
يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن
مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا
يَفۡقَهُونَ ﴿٦٥﴾ ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ
فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن
مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٦٦﴾
مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَكُونَ لَهُۥٓ أَسۡرَىٰ حَتَّىٰ يُثۡخِنَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ
تُرِيدُونَ عَرَضَ ٱلدُّنۡيَا وَٱللَّهُ يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٦٧﴾
لَّوۡلَا كِتَٰبٞ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمۡ فِيمَآ أَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ
﴿٦٨﴾ فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمۡتُمۡ حَلَٰلٗا طَيِّبٗاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ﴿٦٩﴾

62- او که وغواړي چي تا وغولوي نو يقيناً الله درته کافي دئ، دی خو هغه ذات دئ چي په خپل نصرت او په مؤمنانو سره ئې ستا ملاتړ وکړ. 63- او د دوی په زړونو کي ئې الفت واچاوو، که ټول هغه څه دي لګولي وی چي په زمکي کي دي نو داسي الفت به دي د دوی په زړونو کي نه وو اچولی خو الله په دوی کي الفت واچاوو، بې شکه چي هغه باحکمت عزتمن دئ. 64- اې پیغمبره! الله او هغه مؤمنان درته کافي دي چي ستا متابعت کوي. 65- اې پیغمبره! مؤمنان جګړي ته وهڅوه، که ستاسو شل صبرکوونکي وي نو پر دوو سوو به غالب شي او که ستاسو سل وي نو پر زرو کافرانو به غالب شي، دا ځکه چي هغوی نه پوهېږي. 66- اوس الله له تاسو ( د پېټي) سپکونه وکړه او ورته معلومه شوه چي په تاسو کي څه کمزوري شته، نو که له تاسو سل صبرکوونکي وي پر دوو سوو به برلاسي شي او که له تاسو زر وي نو د الله په حکم سره به پر دوو زرو غالب شي او الله خو له صابرانو سره دئ. 67- هیڅ پیغمبر ته نه ښايي چي اسیران ئې وي، تر هغه چي په زمکي کي مضبوط شي (د دښمن په وژلو سره)، (تاسو) د دنیوي ژوند متاع غواړئ او الله آخرت (درته) غواړي او الله باحکمت عزتمن دئ. 68- که هغه الهي ليکلی حکم نه وی چي مخکي تېر شوی نو حتماً به د هغه څه په وجه په ستر عذاب اخته شوي وئ چي ترلاسه مو کړ. 69- نو له هغه څه چي په غنيمت مو ترلاسه کړي حلال او پاکيزه ئې وخورئ، او له الله ډرئ، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي
قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ
وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٠ وَإِن يُرِيدُواْ خِيَانَتَكَ فَقَدۡ خَانُواْ ٱللَّهَ مِن
قَبۡلُ فَأَمۡكَنَ مِنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ٧١ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ
وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ
يُهَاجِرُواْ مَا لَكُم مِّن وَلَٰيَتِهِم مِّن شَيۡءٍ حَتَّىٰ يُهَاجِرُواْۚ وَإِنِ
ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ
وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٞۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٧٢ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٍۚ إِلَّا تَفۡعَلُوهُ تَكُن فِتۡنَةٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَفَسَادٞ
كَبِيرٞ ٧٣ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ
ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ
٧٤ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۢ بَعۡدُ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ مَعَكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ
مِنكُمۡۚ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ٧٥

70- اې پيغمبره! ستاسو په لاس کې چې کوم اسيران دي ورته ووايه: که
الله ته ستاسو په زړونو کې کومه ښېګڼه معلومه شي نو تر هغه څه به
غوره درکړي چې درنه اخيستل شوي او بخښنه به درته وکړي او الله
مهربان بخښونکی دئ. 71- او که له تا سره خيانت کول وغواړي نو تر
دې د مخه ئې له الله سره خيانت کړی وو، نو برلاسي ئې پرې درکړه او
الله ښه باحکمت پوه دئ. 72- يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی، هجرت
ئې کړی، په خپلو مالونو او نفسونو سره ئې د الله په لار کې جهاد کړی
او هغه چې (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (د مجاهد) مرسته ئې کړې،
دوی يو د بل اولياء دي، او هغه چې ايمان ئې راوړی، خو هجرت ئې
نه دئ کړی، تر څو چې هجرت ونه کړي له تاسو سره د دوی د دوستۍ
هيڅ اړيکه نشته او که د دين په اړه مرسته درنه وغواړي پر تاسو د
دوی مرسته فرض ده، مګر د هغه قوم په ضد چې ستاسو او د دوی
ترمنځ کوم تړون وي، او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې
کوئ. 73- او هغه چې کافران شوي ځيني ئې د ځينو نورو اولياء دي،
که دا ونه کړئ نو په زمکې کې به فتنه او ستر فساد خور شي. 74- او
هغه چې ايمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی، د الله په لار کې ئې جهاد
کړی، او هغه چې (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (دمجاهد) مرسته او
ملګرتيا ئې کړې، دوی حقيقي مؤمنان دي، دوی ته بخښنه او غوره
رزق دئ. 75- او هغه چې وروسته ئې ايمان راوړی، هجرت ئې کړی
او له تاسو سره ئې (يوځای) جهاد کړی، دوی ستاسو له ډلې دي، او د
الله په کتاب کې خپلوان ځيني پر ځينو نورو اولويت لري، يقيناً چې الله
په هر څه ښه پوه دئ.

## سُورَةُ التَّوۡبَةِ

بَرَآءَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١
فَسِيحُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ غَيۡرُ مُعۡجِزِي
ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱللَّهَ مُخۡزِي ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢ وَأَذَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى
ٱلنَّاسِ يَوۡمَ ٱلۡحَجِّ ٱلۡأَكۡبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ بَرِيٓءٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ
وَرَسُولُهُۥۚ فَإِن تُبۡتُمۡ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۖ وَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُمۡ
غَيۡرُ مُعۡجِزِي ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ٣ إِلَّا
ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ
عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلۡمُتَّقِينَ ٤ فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ
وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن
تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ
غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥ وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ
حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا
يَعۡلَمُونَ ٦

# التوبه- مدني- 129 آیتونه

1- د الله او د رسول له لوري ئې هغو مشرکینو ته د برائت اعلان دئ چې معاهده مو ورسره درلوده. 2- نو په زمکې کې تر څلورو میاشتو پورې تګ راتګ کوئ او په دې پوه شئ چې د الله ناتوانه کوونکې نه یاست، او دا چې الله د کافرانو سپکوونکی دئ. 3- او د الله او رسول له لوري ئې خلکو ته د ستر حج په ورځ اعلان دئ چې الله او رسول ئې له دغو مشرکانو بې زار دئ، بیا که توبه وکړئ نو دا درته غوره دئ، او که مخ واړوئ نو پوه شئ چې د الله عاجزوونکې نه یاست، او هغو ته چې کافران شوي د دردناك عذاب زېری ورکړه. 4- مګر د مشرکینو هغه چې معاهده مو ورسره درلوده، بیا ئې ستاسو په اړه نه د کوم څه کمی کړی او نه ئې ستاسو په خلاف د چا مرسته کړې، نو تر خپلې مودې پورې د دوی معاهده ورته بشپړه کړئ، یقیناً چې الله له داسې متقیانو سره محبت کوي. 5- نو کله چې دا محترمې میاشتې تېرې شوې نو هر ځای چې دا مشرکان مومئ وئې وژنئ، وئې نیسئ، محاصره ئې کړئ او په هر کمین ځې کې ورته کښېنئ، نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ، نو لاره ئې خوشې کړئ، بیشکه چې خدای بخښونکی مهربان دئ. 6- او که د مشرکینو کوم یو له تا پناه وغواړي نو پناه ورکړه؛ ترڅو د الله کلام واوري؛ بیا ئې خپل امن ځای ته ورسوه، دا د دې لپاره چې دوی داسې خلك دي چې نه پوهېږي.

كَيۡفَ يَكُونُ لِلۡمُشۡرِكِينَ عَهۡدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ رَسُولِهِۦٓ إِلَّا
ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ فَمَا ٱسۡتَقَٰمُواْ لَكُمۡ
فَٱسۡتَقِيمُواْ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٧ كَيۡفَ وَإِن
يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ لَا يَرۡقُبُواْ فِيكُمۡ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ
يُرۡضُونَكُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَتَأۡبَىٰ قُلُوبُهُمۡ وَأَكۡثَرُهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨
ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ
سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩ لَا يَرۡقُبُونَ فِي مُؤۡمِنٍ إِلّٗا وَلَا ذِمَّةٗۚ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُعۡتَدُونَ ١٠ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ
ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ وَنُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ
يَعۡلَمُونَ ١١ وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ
فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ
يَنتَهُونَ ١٢ أَلَا تُقَٰتِلُونَ قَوۡمٗا نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ وَهَمُّواْ
بِإِخۡرَاجِ ٱلرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۚ أَتَخۡشَوۡنَهُمۡۚ فَٱللَّهُ
أَحَقُّ أَن تَخۡشَوۡهُ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣

7- څنګه به دغو مشرکينو ته د الله او د هغه د رسول په وړاندې
کومه (د اعتبار وړ) ژمنه وي، مګر هغه چې د مسجدالحرام خوا ته
مو معاهده ورسره کړې، نو ترڅو چې تاسو ته استوار پاته کېږي
تاسو هم دوی ته استوار پاته شئ، يقيناً چې الله داسې پرهېزګاران
خوښوي. 8- څنګه (به وي)؛ په داسې حال کې چې که پر تاسو برلاسي
شي نو نه ستاسو په اړه د دوستۍ پروا لري او نه د ذمه وارۍ، په
خوله خو تاسو راضي کوي حال دا چې زړونه ئې ډډه کوي او ډېری
ئې فاسقان دي. 9- د الله په آيتونو ئې ناڅيزه بيع وپېرله نو د الله
له لارې په ډډه شول؛ يقيناً هغه څه چې دوی ئې کوي ډېر بد دي.
10- د هيڅ مؤمن په اړه نه د خپلوۍ پروا کوي او نه د ذمه وارۍ،
او همدا دوی تېری کوونکي دي. 11- نو که ئې توبه وکړه، لمونځ ئې
وکړ او زکات ئې ورکړ نو په دين کې ستاسو ورونه دي او هغو وګړو
ته آيتونه په تفصيل سره بيانوو چې پوهېږي. 12- او که ئې له خپلو
ژمنو وروسته خپلې لوړې ماتې کړې او ستاسو په دين ئې ملنډې
ووهلې نو د دغو کافرانو مشران ووژنئ، يقيناً چې دوی هيڅ د باور
وړ لوړه نه لري، ښايي (په دې توګه به) ډډه وکړي. 13- آيا له هغو
وګړو سره نه جنګېږئ چې خپل قسمونه ئې مات کړل، د پيغمبر د
ايستلو اراده ئې وکړه او دا دوی ول چې له تاسو سره ئې په لومړي
ځل (جګړه) پيل کړه، آيا ترې وېرېږئ؟ په داسې حال کې چې الله
ترټولو زيات د دې وړ دئ چې ترې ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

قَٰتِلُوهُمۡ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ بِأَيۡدِيكُمۡ وَيُخۡزِهِمۡ وَيَنصُرۡكُمۡ عَلَيۡهِمۡ
وَيَشۡفِ صُدُورَ قَوۡمٖ مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذۡهِبۡ غَيۡظَ قُلُوبِهِمۡۗ وَيَتُوبُ
ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تُتۡرَكُواْ
وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَلَمۡ يَتَّخِذُواْ مِن دُونِ
ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَلِيجَةٗۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ
﴿١٦﴾ مَا كَانَ لِلۡمُشۡرِكِينَ أَن يَعۡمُرُواْ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ
أَنفُسِهِم بِٱلۡكُفۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ وَفِي ٱلنَّارِ هُمۡ
خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ
أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٨﴾ ۞أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ
وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾

14- ورسره وجنگېږئ؛ الله به ئې ستاسو په لاس تعذيب کړي، رسوا به ئې کړي، تاسـو ته به پر دوی برى درکړي او د مؤمنانو سـينو ته به شفاء ورکړي، 15- او د دوی د زړونو غيظ به ختم کړي، او د هغه چا توبه به قبوله کړي چي دی ئې غواړي، او الله باحکمت پوه دئ. 16- آيا گمان مو کړی چي همداسي به پرېښودل شئ، حال دا چي تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چي جهاد ئې کړی او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دئ غوره کړی. او الله سـتاسـو له کړنو ښـه خبر دئ. 17- مشرکينو ته نه ښـايي چي د الله جوماتونه په داسي حال کي آباد کړي چي پر ځان د کفر گواهي ورکوي، دا هغه وگړي دي چي عملونه ئې حبط شـول او په اور کي به تلپاته وي. 18- يقيناً چي د الله جوماتونه يوازي هغه څوك آبادولی شي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ئې ايمان راوړی، لمونځ ئې کړی، زکات ئې ورکړی او له الله پرته (له هيچا) نه وېرېږي. نو ښـايي چي همدا خلك به له هدايت شـوو وي. 19- آيا د حاجيانو خړوبه کول او د مسجدالحرام آبادول مو د هغه چا په څېر گڼلي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ئې ايمان راوړی او د الله په لار کي ئې جهاد کړی؟ د الله په خوا کي برابر نه دي، او الله دا ظالم قوم نه هدايتوي. 20- هغه چي ايمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی او د الله په لار کي ئې په خپلو مالونو او نفسـونو سره جهاد کړی د الله په خوا کي تر ټولو لوړه درجه لري او همدا دوی برياليي دي.

يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ
مُّقِيمٌ ٢١ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ٢٢
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُوٓاْ ءَابَآءَكُمۡ وَإِخۡوَٰنَكُمۡ أَوۡلِيَآءَ
إِنِ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡكُفۡرَ عَلَى ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٣ قُلۡ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ
وَإِخۡوَٰنُكُمۡ وَأَزۡوَٰجُكُمۡ وَعَشِيرَتُكُمۡ وَأَمۡوَٰلٌ ٱقۡتَرَفۡتُمُوهَا
وَتِجَٰرَةٞ تَخۡشَوۡنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرۡضَوۡنَهَآ أَحَبَّ إِلَيۡكُم
مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٖ فِي سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ ٱللَّهُ
بِأَمۡرِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٤ لَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ
فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٖ وَيَوۡمَ حُنَيۡنٍ إِذۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡ كَثۡرَتُكُمۡ فَلَمۡ
تُغۡنِ عَنكُمۡ شَيۡـٔٗا وَضَاقَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ ثُمَّ
وَلَّيۡتُم مُّدۡبِرِينَ ٢٥ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ
وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٦

21- د دوی رب له خپل لوري د رحمت، رضايت او داسې جنتونو زېری ورکوي چې دوی ته په کې تلپاته نعمتونه دي. 22- په هغه کې تلپاته، يقيناً چې له الله سره ستر اجرونه دي. 23- اې مؤمنانو! که مو پلرونو او ورونو کفر تر ايمان غوره وګڼلو نو هغوی خپل دوستان مه نيسئ، او له تاسو چې هرچا لدوی سره دوستي وکړه، نو هغوی ظالمان دي. 24- ووايه: که مو پلرونه، زامن، ورونه، مېرمنې، خپلوان، راغونډ کړي مالونه مو، هغه تجارت چې د بازار له سوړوالي ئې وېرېږئ او هغه کورونه مو چې خوښوئ ئې، تاسو ته تر الله، د هغه تر پيغمبر او د ده په لار کې تر جهاد زيات محبوب وي، نو د الله پرېکړي ته انتظار وکړئ چې الله داسې فاسق قوم نه هدايتوي. 25- يقيناً چې الله په ډېرو ځايونو کې ستاسو مرسته وکړه او د حنين په ورځ هم، هغه مهال چې خپل ډېرښت حيران کړي وئ، خو هيڅ څه ئې له تاسو دفع نه کړی شو او ځمکه سره له پراخوالي ئې پر تاسو تنګه شوه، بيا (د تېښتي لپاره دښمن ته) شا اړوونکي شوئ. 26- بيا الله خپله ډاډېينه پر خپل رسول او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چې تاسو نه ليدل او هغه کسان ئې تعذيب کړل چې کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ﴿٢٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا
يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ
فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ
حَكِيمٞ ﴿٢٨﴾ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ
مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ
صَٰغِرُونَ ﴿٢٩﴾ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ
ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ
قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٣٠﴾
ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ
ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ
سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣١﴾

27- بیا له دې وروسته الله د هغه چا توبه قبوله کړه چې ده غوښتل، او الله مهربان بخښونکی دئ. 28- اې مؤمنانو! مشرکین ناولي او پلیت دي، نو له سږکال وروسته دې مسجدالحرام ته نه نژدې کیږي، او که له ناداریۍ وېرېږئ نو که الله وغواړي له خپل فضل به مو شتمن کړي، یقیناً چې الله باحکمت پوه دئ. 29- له هغو سره چې کتاب ورکړی شوی؛ خو نه پر الله ایمان لري او نه د آخرت پر ورځې، او نه هغه څه حرام ګڼي چې الله او پیغمبر ئې حرام کړي او نه حق دین ته غاړه ږدي، تر هغه وجنګېږئ چې له خپله لاسه په داسې حال کې جزیه ورکړي چې ځان ووړ ګڼي. 30- او یهودانو وویل: عزیر د خدای زوی دئ او مسیحیانو وویل: مسیح د خدای زوی دئ، دا هسې د دوی د خولو خبرې دي، له هغو کافرانو سره خپله خبره ورته کوي چې (تر دوی) مخکې ول، الله دې دوی هلاك کړي، څنګه دوکه کیږي؟!! 31- له خپلو ملایانو او پیرانو ئې له الله پرته خدایان جوړ کړل، او له مسیح د مریمې له ځوی هم، په داسې حال کې چې یوازې په دې ګمارل شوي وو چې د هغه یوازیني معبود عبادت به کوي چې له ده پرته بل معبود نشته، له هغه څه منزه دئ چې (دوی ئې ورسره) شریکوي.

يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ ۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ

وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن
سَبِيلِ ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي
نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا
مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ﴿٣٥﴾ إِنَّ
عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ يَوۡمَ
خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ
ٱلۡقَيِّمُۚ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ
كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

32- غواړي د الله نور په خپلو خولو سره مړ کړي، په داسي حال کي چي الله تر هغه لاس نه اخلي چي خپل نور بشپړ کړي که څه هم کافران (ترې) کرکه ولري. 33- دی هغه ذات دئ چي خپل پیغمبر ئې له هدایت او حق دین سره لېږلی چي پر ټولو دینونو ئې غالب کړي که څه هم مشرکان (ترې) کرکه ولري. 34- اې مؤمنانو! د احبار (ملایانو) او رهبان (پیرانو) ډېری د خلکو مالونه

په ناحقه خوري او د الله له لاري مخنيوی کوي او هغه چي سره
او سپين زر ذخيره کوي او د الله په لار کي ئې نه مصرفوي نو د
دردناك عذاب زېری ورکړه. 35- هغه ورځ چي د دوزخ په اور کي
به سرې کړی شي او بيا به ئې تندي، اړخونه او شاګاني پرې وداغل
شي، دا هغه څه دي چي د ځان لپاره مو زېرمه کړي وو، نو د هغه
څه خوند وڅکئ چي زېرمه کول مو. 36- يقيناً چي د الله خوا ته
او د الله په کتاب کي د مياشتو شمېر دولس مياشتي دئ، له همغي
ورځي چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل، څلور ئې حرامي (د
درناوي وړ) مياشتي دي، دا رغنده دين دئ، نو په دې کي پر ځان
(يو پر بل) ظلم مه کوئ، او په دغو ټولو کي له مشرکانو سره
همغسي وجنګېږئ چي په ټولو کي له تاسو سره جنګېږي، او (په
دې) پوه شئ چي الله له داسي متقيانو سره دئ.

إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
يُحِلُّونَهُۥ عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ
فَيُحِلُّواْ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٣٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ

لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم
بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨ إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ
قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩
إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ
ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ
مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا
وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ
وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

37- يقيناً چي دا ځنډونه (يوه مياشت د بلي پر ځای حلال او حرام نيول) په کفر کي زياتوالی دئ، هغه پري بې لاري کېږي چي کفر ئې کړی، يو کال ئې حلالوي او بل کال ئې حراموي، ترڅو د هغو شمېر بشپړ کړي چي الله حرامي کړي، نو په دې سره هغه څه حلال وګرځوي چي الله حرام کړي. شيطان د دوی بد عملونه ورته ښايسته کړي، او الله دا کافر وګړي نه هدايتوي. 38- اې

مؤمنانو! څه درباندي شوي چي کله درته وويل شي: د الله په
لار کي ووځئ! نو د زمکي په لور درنېږئ؟!! آيا تر آخرته د دنيا
پر ژوند راضي شوي يئ؟! د دنيوي ژوند مال متاع خو د آخرت
په پرتله له ناڅيزه شي پرته بل څه نه دي. 39- که ونه وځئ نو
په دردناك عذاب سره به مو تعذيب کړي او ستاسو په ځای به
بل قوم راوړاندي کړي، هيڅ ضرر نه شئ وررسولی او الله په هر
څه ښه قادر دئ. 40- که ئې مرسته ونه کړئ نو يقيناً چي الله
هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چي کافرانو په داسي حال کي
وايست چي د دوو دوهم وو، هغه مهال چي دواړه په يوې
ځمځي کي ول، هغه مهال چي خپل ملګري ته ئې ويل: غم مه
کوه، يقيناً چي الله له موږ سره دئ، نو الله خپله ډاډېينه پرې
نازله کړه او په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چي نه مو ليدل،
او د کافرانو شعار ئې ټيټ کړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ،
او الله باحکمت غالب دئ.

ٱنفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ لَوۡ كَانَ
عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّٱتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتۡ عَلَيۡهِمُ
ٱلشُّقَّةُۚ وَسَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسۡتَطَعۡنَا لَخَرَجۡنَا مَعَكُمۡ

يُهۡلِكُونَ أَنفُسَهُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾ عَفَا ٱللَّهُ
عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعۡلَمَ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَا
يَسۡتَـٔۡذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱرۡتَابَتۡ
قُلُوبُهُمۡ فَهُمۡ فِي رَيۡبِهِمۡ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾ ۞وَلَوۡ أَرَادُواْ ٱلۡخُرُوجَ
لَأَعَدُّواْ لَهُۥ عُدَّةٗ وَلَٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ ٱنۢبِعَاثَهُمۡ فَثَبَّطَهُمۡ وَقِيلَ
ٱقۡعُدُواْ مَعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾ لَوۡ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمۡ إِلَّا
خَبَالٗا وَلَأَوۡضَعُواْ خِلَٰلَكُمۡ يَبۡغُونَكُمُ ٱلۡفِتۡنَةَ وَفِيكُمۡ
سَمَّٰعُونَ لَهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

41- سپك او درانه ووځئ او د الله په لار کې په خپل سر او مال جهاد وکړئ، دا درته غوره دئ که پوهېږئ. 42- که نژدې متاع او لنډ سفر وی نو هرومرو په تا پسې درتلل خو واټن ورته لرې وبرېښېد، ژر ده چې د الله په نامه به لوړه کوي چې که توانېدلی حتماً درسره وتلو، خپل ځان هلاکوي، او الله پوهېږي چې یقیناً

دوی دروغجن دي. 43- الله دي درته عفو وکړي! ولې دي اجازه ورکړه؟! ترڅو هغه درته څرګند شوي وی چي رښتيني دي او دروغجن دي پېژندلي وی. 44- هغه چي پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان لري؛ دا اجازه نه درنه غواړي چي په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد ونه کړي، او الله په دغو متقيانو ښه پوه دئ. 45- يوازي هغه کسان درنه اجازه غواړي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ايمان نه لري، زړونو ئې شك کړی او په خپل شك کي لالهانده او متردد دي. 46- او که ئې وتل غوښتی نو حتماً به ئې (اړوند) سامان ورته تيار کړی وو، خو الله د دوی پاڅېدل کرکجن وګڼل نو سست او منصرف ئې کړل او (ورته) وويل شو چي له ناستو سره کښېنئ. 47- که ستاسو په ليکو کي وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزيات کړي، هرو مرو به ئې د فتنو په لټه کي په تاسو کي ځغلول کول او په تاسو کي د دوی لپاره اوربدونکي شته، الله د دغو ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

لَقَدِ ٱبۡتَغَوُاْ ٱلۡفِتۡنَةَ مِن قَبۡلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ ٱلۡأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَظَهَرَ أَمۡرُ ٱللَّهِ وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِنۡهُم مَّن يَقُولُ ٱئۡذَن لِّي وَلَا تَفۡتِنِّيٓۚ أَلَا فِي ٱلۡفِتۡنَةِ سَقَطُواْۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ

لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٤٩ إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن
تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ
وَّهُمۡ فَرِحُونَ ۝٥٠ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ
مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝٥١ قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ
بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن
يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا
مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ۝٥٢ قُلۡ أَنفِقُواْ طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا لَّن يُتَقَبَّلَ
مِنكُمۡ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ۝٥٣ وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ
مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ
ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ۝٥٤

48- يقيناً چې تر دې د مخه ئې د فتنې لټه کړې وه، او کارونه ئې درته اړولي (لاندي باندي کړي) وو، تر هغه چې حق راغی او د الله کار په داسي حال کې څرګند او غالب شو چې (دوی ترې) کرکه کوونکي ول. 49- او د دوی ځيني داسي دي چې وايي: اجازه راکړه

او په فتنې کې مې مه غورځوه! پام چې (دوی لادمخه) په فتنې کې
پرېوتي دي، او جهنم هرومرو پر دغو کافرانو احاطه کوونکی دئ.
50- که کومه ښېګڼه دروررسېږي ناراضه کوي ئې، او که کوم مصيبت
دروررسېږي نو وايي: موږ لادمخه د خپل کار (واګي په خپل لاس کې)
نيولې دي، او په داسي حال کې مخ اړوي چې خوشحالي کوونکي دي.
51- ووايه: هيڅکله له هغه پرته څه نه رارسېږي چې الله راته ليکلي،
هغه مو مولا دئ او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي. 52- ووايه:
آيا مونږ ته د دوو ښېګڼو له منځه له يوې پرته د بل څه انتظار لرئ
او مونږ خو ستاسو لپاره يا دې ته سترګي په لار يو چې الله مو له
خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زمونږ په لاس، نو انتظار
وکړئ چې مونږ هم درسره انتظار کوونکي يو. 53- ووايه: زړه نا زړه
انفاق وکړئ؛ هيڅکله به درنه قبول نشي، يقيناً تاسو فاسق وګړي
يئ، 54- او له دې چې نفقات ئې قبول شي بل څه نه دي منع کړي
مګر دې چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر وکړ، لمانځه ته
نه راځي مګر په داسي حال کې چې لټ وي او انفاق نه کوي مګر په
داسي حال کې چې کرکه کوونکي وي.

فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم
بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٥٥﴾
وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ

يَفۡرَقُونَ ﴿٥٦﴾ لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَـٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلٗا لَّوَلَّوۡاْ
إِلَيۡهِ وَهُمۡ يَجۡمَحُونَ ﴿٥٧﴾ وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَٰتِ فَإِنۡ
أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ﴿٥٨﴾
وَلَوۡ أَنَّهُمۡ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ
سَيُؤۡتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ﴿٥٩﴾
*إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا
وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦٠﴾ وَمِنۡهُمُ
ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱلنَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٞۚ قُلۡ أُذُنُ خَيۡرٖ لَّكُمۡ
يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤۡمِنُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ وَرَحۡمَةٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡۚ
وَٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦١﴾

55- نو نه دي د دوی مالونه تا حیران کړي او نه ئې اولادونه، یقیناً چي الله یوازي دا غواړي چي په دې سره ئې په دنیایي ژوند کي تعذیب کړي او په داسي حال کي ئې سا وخېژي چي کافران وي. 56- او پر الله لوړه کوي چي دوی ستاسو له ډلي دي، حال دا چي دوی ستاسي له ډلي نه دي؛

خو دوی هغه وګړي دي چې وېرېږي. 57- که ئې کوم پناه ځی، څه
سوړي یا د ننوتلو کوم ټاټوبی موندلی وی هرومرو به ئې هغه ته مخه
کړې وه په داسي حال کې چې څغستل به ئې. 58- او د دوی ځیني هغه
دي چې د صدقاتو په اړه پر تا نیوکه کوي؛ نو که څه ترې ورکړی شي
راضي کېږي او که ترې ورنه کړی شي نو ناڅاپه غصه کېږي. 59- او که
دوی په هغه څه راضي شوي وی چې الله او رسول ئې ورکړي او ویلي ئې
وی: ژر به الله له خپل فضل نه (څه) راکړي او پیغمبر ئې هم، موږ د الله
په لوري رغبت او تلوسه کوو. 60- او که دوی په هغه څه راضي شوي
وی چې الله او رسول ئې ورکړي او ویلي ئې وی: ژر به الله له خپل فضل
(څه) راکړي او پیغمبر ئې هم، موږ د الله په لوري رغبت او تلوسه کوو.
60- صدقات خو یوازې د فقیرانو، مسکینانو، پرې (ګمارل شوو)
کارکوونکو (د زکات اړوند مأمورینو)، هغه چې زړونه ئې (پرې) رانژدې
کېږي، غلامانو، پوروړو، د الله په لار کې او د مسافرانو لپاره دي، د الله له
لوري یوه فریضه، او الله باحکمت پوه دئ. 61- او د دوی ځیني هغه
دي چې پیغمبر ځوروي او وایي: دی (خو هسې یو) غوږ دئ! (ورته)
ووایه: ستاسو د ښېګنې غوږ، چې پر الله باور لري، د مؤمنانو (پر وینا)
باور کوي، او ستاسو د هغو وګړو لپاره د رحمت (باعث) چې ایمان
راوړي، او هغه چې د الله پیغمبر ځوروي دوی ته دردناک عذاب دئ.

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن
يُرْضُوهُ إِن كَانُواْ مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوٓاْ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ

وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدٗا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡخِزۡيُ
ٱلۡعَظِيمُ ٦٣ يَحۡذَرُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيۡهِمۡ سُورَةٞ تُنَبِّئُهُم
بِمَا فِي قُلُوبِهِمۡۚ قُلِ ٱسۡتَهۡزِءُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ مُخۡرِجٞ مَّا تَحۡذَرُونَ ٦٤
وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ
وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ
كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ إِن نَّعۡفُ عَن طَآئِفَةٖ مِّنكُمۡ
نُعَذِّبۡ طَآئِفَةَۢ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ مُجۡرِمِينَ ٦٦ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ
وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ بَعۡضُهُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمُنكَرِ وَيَنۡهَوۡنَ
عَنِ ٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَقۡبِضُونَ أَيۡدِيَهُمۡۚ نَسُواْ ٱللَّهَ فَنَسِيَهُمۡۚ إِنَّ
ٱلۡمُنَٰفِقِينَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٦٧ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ
وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ
وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ٦٨

62- پر الله درته لوړه کوي چي راضي مو کړي؛ حال دا چي الله او
رسول ئې ترټولو زيات د دې حقدار دي چي راضي ئې کړي که

مؤمنان وی. 63- آیا په دې نه پوهېږي چې څوك له الله او له رسول
سره ئې دښمني وکړي نو هغه ته د جهنم اور دئ چې په هغه کې
به تلپاته وي، دا ستر سپکاوی دئ. 64- منافقین له دې حذر کوي
چې کومه داسي سوره پرې نازله شي چې دوی په هغه څه خبر کړي
چې په زړونو کې ئې دي، ووایه: ملنډې (مو) ووهئ؛ یقیناً چې الله
د هغه څه راایستونکی دئ چې حذر ترې کوئ. 65- او که ئې
وپوښتې نو حتماً به وایي: هسې لګیا وو او لوبې مو کولې، ووایه: آیا
پر الله، پر آیتونو ئې او د ده پر پیغمبر مو ملنډې وهلې؟! 66- بهانې
او عذر مه وړاندې کوئ؛ یقیناً چې له خپل ایمان وروسته کافران
شوي یئ، که له یوې ډلې مو تېر شو؛ بله به له دې کبله تعذیبوو
چې مجرمان ول. 67- نارینه منافقین او ښځې منافقیني ځیني د
ځینو نورو له ډلې دي، د منکر سپارښتنه کوي، له ښېګڼو مخنیوی
کوي، خپل لاسونه (د خیر له کار او د مال له انفاق) بندوي، دوی
خدای هېر کړی او خدای دوی هېر کړي، یقیناً چې منافقین فاسقان
دي. 68- الله له نارینه منافقیونو، ښځینه منافقینو او کافرانو سره د
دوزخ د اور وعده کړې چې پکې به تلپاته وي، همدا ورته بس دئ،
الله رټلي او دوی ته تلپاته عذاب دئ.

كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا
وَأَوۡلَٰدٗا فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا
ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ
أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡخَٰسِرُونَ ٦٩ أَلَمۡ يَأۡتِهِمۡ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ
وَثَمُودَ وَقَوۡمِ إِبۡرَٰهِيمَ وَأَصۡحَٰبِ مَدۡيَنَ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتِۚ أَتَتۡهُمۡ
رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٧٠ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ
بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ
سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٧١ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۚ
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٧٢

69- لکه هغه چي ترتاسو مخکي ول چي د ځواك له مخي ترتاسو مضبوط ول او مال او اولاد ئې (ترتاسو) زيات، نو له خپلو برخو ئې ګټه واخيسته او تاسو هم له خپلو برخو همغسي ګټه واخيسته لکه چي ترتاسو مخکنيو له خپلو برخو ګټه اخيستې وه او همداسي په کي لګيا شوئ لکه چي هغوی په کي لګيا شوي وو، دوی همغه دي چي عملونه ئې په دنيا او آخرت کي هدر شول او همدا دوی زيانمن دي. 70- آيا د هغو خبر نه دئ وررسېدلی چي تر دوی مخکي ول؛ د نوح قوم، عاد، ثمود، د ابراهيم قوم، مدين وال او لاندي باندي شوي؟! چي پيغمبرانو ئې څرګندي نښي وروړې، او الله ظلم نه دئ پرې کړی بلکي دوی پر خپل ځان ظلم کاوو. 71- او باايمان نارينه او باايماني ښځي؛ ځيني ئې د ځينو نورو دوستان دي، په معروف امر کوي، له منکر ممانعت کوي، لمونځ قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت کوي، همدا کسان دي چي ډېر ژر به الله پر دوی رحم وکړي، يقيناً چي الله باحکمت عزتمن دئ. 72- الله له نارينه مؤمنانو او باايمانو ښځو سره د داسي جنتونو وعده کړې ده چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کي او په تلپاته جنتونو کي پاکيزه مېشت ځايونه، او دا الهي رضاء خو ترټولو ستره ده، همدا ستره بريا ده.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ
وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٧٣ يَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُواْ
وَلَقَدۡ قَالُواْ كَلِمَةَ ٱلۡكُفۡرِ وَكَفَرُواْ بَعۡدَ إِسۡلَٰمِهِمۡ وَهَمُّواْ بِمَا لَمۡ
يَنَالُواْۚ وَمَا نَقَمُوٓاْ إِلَّآ أَنۡ أَغۡنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضۡلِهِۦۚ فَإِن
يَتُوبُواْ يَكُ خَيۡرٗا لَّهُمۡۖ وَإِن يَتَوَلَّوۡاْ يُعَذِّبۡهُمُ ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمٗا فِي
ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَمَا لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ٧٤
*وَمِنۡهُم مَّنۡ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنۡ ءَاتَىٰنَا مِن فَضۡلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ
وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٧٥ فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضۡلِهِۦ بَخِلُواْ
بِهِۦ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعۡرِضُونَ ٧٦ فَأَعۡقَبَهُمۡ نِفَاقٗا فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَىٰ
يَوۡمِ يَلۡقَوۡنَهُۥ بِمَآ أَخۡلَفُواْ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُواْ يَكۡذِبُونَ
٧٧ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ
ٱلۡغُيُوبِ ٧٨ ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي
ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ
سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٩

73- اې نبي! له کافرانو او منافقینو سره جهاد وکړه او ځیږوالی پرې کوه، د دوی استوګنځی دوزخ دئ او دا ځومره بده پایله!! 74- د الله په نامه لوړه کوي چې ویلي ئې نه دي، حال دا چې یقیناً ئې د کفر وینا کړې، له خپلې مسلمانۍ وروسته (بېرته) کافران شوي او د هغه څه هڅه ئې کړې ده چې ورونه رسېدل، او نیوکې ئې یوازې له دې کبله وې چې الله او پیغمبر ئې دوی له خپل فضل برخمن کړل، نو که ئې توبه وکړه ورته غوره ده او که ئې مخ واړاوو نو الله به ئې په دنیا او آخرت کې په دردناك عذاب سره تعذیب کړي او په زمکې کې به ئې نه کوم دوست وي او نه کوم مرستندوی. 75- او د دوی ځینو له الله سره ژمنه وکړه چې که له خپل فضل څه ورکړي هرومرو به صدقې ورکوو او له صالحانو به وو. 76- خو کله چې ئې له خپل فضل څه ورکړل؛ بخل ئې پرې وکړ او په داسي حال کې ئې مخ واړولو چې ډډه کوونکي وو. 77- نو په پایله کې ئې داسي نفاق ورپه برخه کړ چې تر هغې ورځې به د دوی په زړونو کې وي چې ورسره مخامخ شي، له دې امله چې له الله سره ئې په کړو ژمنو کې مخالفت وکړ او له دې امله چې دروغ ئې ویل. 78- آیا په دې نه پوهېږي چې الله د دوی پر اسرارو او پټو خبرو پوهېږي او دا چې الله په غیبو ډېر ښه پوه دئ؟ 79- هغه چې د مؤمنانو پر ایثارګرو (په پراخ زړه انفاق کوونکو) نیوکې کوي او پر هغو د دې لپاره ملنډې وهي چې د خپل زیار (له حاصل علاوه) څه نه مومي، الله پر دوی تمسخر کړی او دوی ته دردوونکی عذاب دئ.

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةٗ
فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ
لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٨٠﴾ فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ
خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ
كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ﴿٨١﴾ فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا
كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٖ مِّنۡهُمۡ
فَٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِلۡخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخۡرُجُواْ مَعِيَ أَبَدٗا وَلَن تُقَٰتِلُواْ
مَعِيَ عَدُوًّاۖ إِنَّكُمۡ رَضِيتُم بِٱلۡقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٖ فَٱقۡعُدُواْ مَعَ
ٱلۡخَٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٖ مِّنۡهُم مَّاتَ أَبَدٗا وَلَا تَقُمۡ عَلَىٰ
قَبۡرِهِۦٓۖ إِنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُواْ وَهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾ وَلَا
تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَأَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي
ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٌ أَنۡ
ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُواْ مَعَ رَسُولِهِ ٱسۡتَـٔۡذَنَكَ أُوْلُواْ ٱلطَّوۡلِ مِنۡهُمۡ
وَقَالُواْ ذَرۡنَا نَكُن مَّعَ ٱلۡقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

80- بخښنه ورته وغواړه او يا بخښنه مه ورته غواړه؛ که اويا ځله هم بخښنه ورته وغواړې الله به هيڅکله بخښنه ورته ونه کړي، دا د دې لپاره چې د الله او د ده د پيغمبر په اړه ئې کفر کړی او الله داسي فاسق وګړي نه هدايتوي. 81- شا ته پرېښودل شوي (وګړي) د الله د رسول په خلاف په خپلي ناستي خوشحاله شول او له دې ئې کرکه وکړه چې د الله په لار کې په خپل مال او ځان سره جهاد وکړي او وئې ويل: په ګرمي کې مه وځئ، ووايه: د دوزخ اور تر ټولو زيات ګرم دئ؛ کاش دوی پوهېدی. 82- نو لږ دي وخاندي او ډېر دي وژاړي؛ د هغه څه سزا چې ترلاسه کول ئې. 83- نو که الله دي د دوی کومي ډلي ته وروګرځوي او د وتلو لپاره اجازه درنه وغواړي (نو ورته) ووايه: ترپايه به هيڅکله له ما سره ونه وځئ او له هيڅ دښمن سره به زما په خوا کې جهاد ونه کړئ، يقيناً چې تاسو په لومړي ځل په ناستي راضي شوئ نو (اوس هم) له وروسته شوو سره کښېنئ. 84- او چې ومري پر هيڅ يوه ئې (د جنازې) لمونځ مه کوه او پر قبر ئې مه ودرېږه، يقيناً چې دوی پر الله او پيغمبر ئې کفر کړی او په داسي حال کې مړه شوي چې فاسقان ول. 85- او د دوی مالونه او اولادونه دي تا حيران نه کړي، يقيناً چې الله يوازي دا غواړي چې په دې سره ئې په دنيا کې تعذيب کړي او په داسي حال کې ئې سا وخېژي چې کافران وي. 86- او کله چې کومه داسي سوره نازله شي چې (وايي) په الله ايمان راوړئ او د ده له پيغمبر سره يوځای جهاد وکړئ؛ نو د دوی وسي او توانمن به اجازه درنه غواړي او وايي به: موږ پرېږده چې له ناستو سره وو.

رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا
يَفۡقَهُونَ ﴿٨٧﴾ لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ
بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلۡخَيۡرَٰتُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٨٨﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٨٩﴾ وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ
ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٠﴾ لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا
عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا
نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ﴿٩١﴾ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ
مَآ أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا
يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾ ۞إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ وَهُمۡ
أَغۡنِيَآءُۚ رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلۡخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ
فَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٩٣﴾

87- په دې راضي شــول چې له وروســته پاتو ښــځو سره وي! او پر زړونو ئې مهر لګول شـــوی نو ځکه نه پوهېږي. 88- خو پيغمبر او هغه مؤمنان چې له ده سره دي په خپل مال او نفس ئې جهاد کړی، دوی ته ښــېګڼې دي او همدا دوی بريالي دي. 89- الله دوی ته داسي جنتونه تيار کړي چې ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په کې، همدا ســتره بريا ده. 90- او د کوچيانو او بانډه والو عذرکوونکي د دې لپاره راغلل چې اجازه ورکړی شي او له هغو سره کښېني چې الله او د هغه پيغمبر ئې تکذيب کړل، د دوی هغو ته به حتماً دردناک عذاب ورســېږي چې کفر ئې کړی. 91- نه پر کمزورو څه ګناه شــته، نه پر مريضـــانو او نه پر هغو چې داسي څه نه مومي چې انفاق ئې کړي؛ (خو) هغه مهال چې له الله او د هغه له پيغمبر سره ئې خواخوږي کړې وي، په داسي نېکانو (د ملامتيا) کومه لار نشـــته، او الله مهربان بخښونکی دئ. 92- او نه پر هغو چې تا ته د دې لپاره راغلل چې (پر سپرليو ئې) سپاره کړې؛ تا (ورته) وويل: داسي څه نه مومم چې تاسو پرې ســپاره کړم، (نو) په داسي حال کې ترشـا شـول چې له ســترګو ئې اوښـــکې خوټېدې، له دې غمه چې داسي څه نه مومي چې انفاق ئې کړي. 93- يقيناً چې الزام پر هغو دئ چې له تا په داسي حال کې اجازه غواړي چې شتمن دي، په دې راضي شول چې له وروسته پاتو ښځو سره وي، او الله ئې پر زړونو مهر لګولی نو ځکه نه پوهېږي.

يَعۡتَذِرُونَ إِلَيۡكُمۡ إِذَا رَجَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡۚ قُل لَّا تَعۡتَذِرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ
لَكُمۡ قَدۡ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنۡ أَخۡبَارِكُمۡۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ
وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٤﴾ سَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمۡ إِذَا ٱنقَلَبۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ
لِتُعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمۡۖ إِنَّهُمۡ رِجۡسٞۖ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ
جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٥﴾ يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ لِتَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡۖ
فَإِن تَرۡضَوۡاْ عَنۡهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَرۡضَىٰ عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾
ٱلۡأَعۡرَابُ أَشَدُّ كُفۡرٗا وَنِفَاقٗا وَأَجۡدَرُ أَلَّا يَعۡلَمُواْ حُدُودَ مَآ
أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ
مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغۡرَمٗا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَۚ عَلَيۡهِمۡ
دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ
بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ
وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي
رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩٩﴾

94- کله چې دوی ته وروګرځئ نو تاسـو ته به عذرونه وړاندې کوي، ووایه: عذرونه مه وړاندې کوئ؛ هیڅکله به باور درباندې ونه کړو، یقیناً چې الله ستاسو له حاله خبر کړي یو، او الله او د هغه پیغمبر به حتماً ســتاســو عملونه وګوري، بیا به په غیب او ښکاره پوه ذات ته وګرځول شئ، نو پر هغه څه به مو خبر کړي چې تاسو کول. 95- کله چې د دوی لوري ته وروګرځئ نو حتماً به تاسو ته د الله په نامه لوړه کوي چې ترې تېر شــئ، نو ترې ډډه وکړئ، یقیناً چې دوی پلیت دي، او استوګنځی ئې دوزخ دئ، د هغه څه سزا چې کول ئې. 96- تاسـو ته به لوړه کوي چې ترې راضي شئ، خو که ترې راضي شئ نو الله له دې فاسـق ټولي؛ نه راضي کېږي. 97- صـحرایان (بانډه وال) په کفر او نفاق کې تر ټولو کلك دي، او تر ټولو زیات د دې وړ دي چې د هغه (دین) پر پولو او حدودو پوه نه شي چې الله پر خپل پیغمبر نازل کړی، او الله باحکمت پوه دئ. 98- او د صـــحرایانو ځیني داسې دي چې هغه څه یو تاوان بولي چې انفاقوي ئې او ستاسو په اړه د حالاتو بدلېدو رابدلېدو ته ســترګې په لار دي، بد بدلون دې پر دوی وي، او الله پوه اورېدونکی دئ. 99- او د بانډه والو ځیني داسې دي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان راوړي او هغه څه چې انفاقوي ئې د الله خوا ته د نژدې والي او د پیغمبر د دعاء وسیله ګڼي، پام چې یقیناً دا ورته د نژدې والي وســیله ده، الله به ئې حتماً په خپل رحمت کې داخل کړي، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم
بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٠٠ وَمِمَّنۡ
حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مُنَٰفِقُونَۖ وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡمَدِينَةِ مَرَدُواْ عَلَى
ٱلنِّفَاقِ لَا تَعۡلَمُهُمۡۖ نَحۡنُ نَعۡلَمُهُمۡۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيۡنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَىٰ
عَذَابٍ عَظِيمٖ ١٠١ وَءَاخَرُونَ ٱعۡتَرَفُواْ بِذُنُوبِهِمۡ خَلَطُواْ عَمَلٗا
صَٰلِحٗا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ١٠٢ خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ
عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ١٠٣ أَلَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ
أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَأۡخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ وَأَنَّ ٱللَّهَ
هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٤ وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ
وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥ وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ
إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠٦

100- او د مهاجرينو او انصارو لومړني سبقت کوونکي او هغه چي په غوره توگه ئې د دوی متابعت کړی؛ الله ترې راضي شـوی او دوی ترې راضي شـوي او داسي جنتونه ئې ورته تيار کړي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، همدا ستره بريا ده. 101- او ستاسو شاوخوا کې ځيني کوچيان منافقين دي او د مدينې ځيني اوســېدونکي هم، په نفاق کې ډېر ماهران شوي، نه ئې پېژنئ، موږ ئې پېژنو، ژر به ئې دوه ځلي تعذيب کړو، بيا به د ســتر عذاب لوري ته وگرځول شي. 102- او نور چي په خپلو گناهونو ئې اعتراف کړی او يو نېك عمل ئې له کوم بل بد سره گډ کړی؛ ښــايي الله به ئې توبه قبوله کړي، بې شــکه چي الله مهربان بخښونکی دئ. 103- له مالونو ئې داسي صدقه ترلاسه کړه چي پرې پاك او تزکيه ئې کړې او دعاء ورته وکړه، يقيناً چي ستا دعاء ورته يوه ډاډېينه ده، او الله پوه اورېدونکی دئ. 104- آيا په دې نه پوهېږي چي الله له خپلو بندگانو توبې قبلوي او صـــدقې اخلي، او دا چي الله مهربان توبه قبلوونکی دئ؟ 105- او ووايه: عمل وکړئ چي الله به حتماً ســتاســو کړنه وگوري او د ده پيغمبر هم او مؤمنان هم، او حتماً به په غيب او ښکاره پوه ذات ته وروگرځول شـئ نو په هغه څه به مو خبر کړي چي کول مو. 106- او نور چي د الله حکم ته (منتظر) پرېښـــودل شـــوي؛ يا به ئې تعذيب کړي او يا به ئې توبه قبوله کړي او الله باحکمت پوه دئ.

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ
أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٠٧ لَا تَقُمۡ فِيهِ
أَبَدٗاۚ لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ
فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ١٠٨
أَفَمَنۡ أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقۡوَىٰ مِنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٍ خَيۡرٌ أَم مَّنۡ
أَسَّسَ بُنۡيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٖ فَٱنۡهَارَ بِهِۦ فِي نَارِ جَهَنَّمَۗ
وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٩ لَا يَزَالُ بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي
بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ
١١٠ ۞إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ
ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ وَعۡدًا عَلَيۡهِ
حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ
ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ١١١

107- او هغه چي يو جومات ئې د ضرر، كفر، د مؤمنانو ترمنځ د تفريق (وســيله) او هغه چا ته مورچل گرځولی چي تر دې مخكي له الله او د هغه له پيغمبر سره جنگېدلی، او حتماً په تأكيد سره لوړه كوي چي له ښېگني پرته مو د بل څه اراده نه وه كړې، او الله گواهي وركوي چي دوی له شــكه پرته دروغجن دي. 108- هيڅكله مه پكي ودرېږه، بې له شــكه چي هغه جومات تر ټولو غوره دئ چي په كي ودرېږې چي له لومړۍ ورځي د تقوی پر بنسټ جوړ شوی، په هغه كي داسي مېړني دي چي پاكېدو ته لېوالتيا لري، او الله داسي ځان پاكوونكي خو ښوي. 109- آيا هغه چي د خپلي ماڼۍ بنسټ ئې د الله (له عذابه) په ځان ساتني او رضـاء ابښــی غوره دئ او كه هغه چي بنســټ ئې د يوې داسي كندي په نړېدونكې ژۍ ابښــی چي د دوزخ په اور كي به ئې ړنگ كړي، او الله دا ظالم وگړي نه هدايتوي. 110- تل به د دوی هغه ماڼۍ چي جوړه كړې ئې ده؛ د دوی په زړونو كي د شــك (باعث) وي، مگر دا چي زړونه ئې ټوټې ټوټې شي، او الله باحكمت پوه دئ. 111- بې له شــكه چي الله له مؤمنانو د دوی ځانونه او مالونه اخيســتي دي، د دې لپاره چی جنت به ئې په برخه كېږی، نو دوی د الله په لار كي جنگېږي، وژني او وژل كېږي، رښــتينې وعده چي په تورات، انجيل او قرآن كي ئې پر ځان (منلې ده)، او تر الله به څوك په خپلي وعدې ډېر وفا كوونكی وي؟ نو پر خپل هغه پېر پلور خوښ اوسئ چي ترسره كړی مو دئ؛ او همدا ستره بريا ده.

ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ٱلرَّٰكِعُونَ
ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ
وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٢ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ
مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١١٣ وَمَا كَانَ
ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا
تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ ١١٤
وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوۡمَۢا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰهُمۡ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم مَّا
يَتَّقُونَۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ١١٥ إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ
مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦ لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ
وَٱلۡأَنصَارِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلۡعُسۡرَةِ مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ
يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّهُۥ بِهِمۡ رَءُوفٞ
رَّحِيمٞ ١١٧

112- همغه توبه کوونکي، عبادت کوونکي، ستایونکي، (د الله په لوري) سفر کوونکي، رکوع کوونکي، سجده کوونکي، پر معروف گمارونکي، له منکر منع کوونکي او د الله د حدودو ساتونکي، او دغو مؤمنانو ته زېری ورکړه. 113- پیغمبر او مؤمنانو ته دا نه ښایي چي مشرکینو ته له هغه وروسته بخښنه وغواړي چي ورته څرگنده شوه چي دوی دوزخیان دي، که څه هم خپلوان (ئې) وي. 114- او خپل پلار ته د ابراهیم بخښنه غوښتل خو یوازي د هغي وعدې له مخي وو چي له ده سره ئې د هغې ژمنه کړې وه، خو کله چي ورته جوته شوه چي هغه د الله دښمن دئ نو ترې بې زاره شو، یقیناً چي ابراهیم ډېر نرم زړی او د زغم خاوند وو. 115- او الله داسي نه دئ چي یو قوم له هغه وروسته بې لاري کړي چي هدایت ئې کړ؛ تر څو چي هغه څه ورته څرگند کړي چي (باید) ځان ترې وساتي، یقیناً چي الله په هر څه پوه دئ. 116- بې شکه چي الله هغه ذات دئ چي د آسمانونو او زمکي پاچایي د ده ده، ژوند ورکوي او وژني او تاسو ته له ده پرته نه کوم مولا او دوست شته او نه کوم مرستندوی. 117- یقیناً چي الله پر پیغمبر او هغو مهاجرینو او انصارو باندي (له پېرزویني سره) رجوع کړې چي په یوه سخت حالت کې ئې له هغه وروسته د ده متابعت کړی چي نژدې وه د دوی د یوې ډلي زړونه کاږه شي، بیا (په پېرزویني سره) پرې راوگرځېد، یقیناً چي دی پرې ډېر مهربان زړه سواند دئ.

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ
بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ
ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾ مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ
ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُواْ عَن رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُواْ بِأَنفُسِهِمْ
عَن نَّفْسِهِۦۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا
مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا
يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَٰلِحٌۚ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً
وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ
أَحْسَنَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ ۞وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ
كَآفَّةًۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِى
ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

118- او پر هغو دریو (هم) چي وروسته پاته کړی شول، تر هغه چي زمکه سره له ارتوالي ئې پرې تنگه شوه او خپل زړونه پرې تنگ شول او گمان ئې وکړ چي له الله؛ دده لوري ته (له پناه وړلو) پرته بل پناه ځی نشته، بیا له پیرزویني سره پر دوی راوگرځېد، بې شکه چي الله ډېر مهربان توبه قبلوونکی دئ. 119- اې مؤمنانو! له الله ووېرېږئ او له صادقانو سره واوسئ. 120- مدینه والو او د دوی شاوخوا بانډه والو ته نه ښایي چي د الله له رسول تر شا پاته شي او نه دا چي خپل ځانونه د ده تر ځان غوره وگڼي، دا د دې لپاره چي نه دوی ته د الله په لار کې کومه تنده رسي، نه کومه ستونزه، نه کومه لوږه، نه کومه داسي سیمه ترپښو لاندي کوي چي کافران غصه کړي او نه له دښمن کومه لاسته راوړنه ترلاسه کوي مگر دا چي په دې سره یو صالح عمل ورته لیکل کېږي، بې شکه چي الله د دغو محسنینو اجر نه ضائع کوي. 121- او نه کوم وړوکی شی مصرفوي او نه کوم لوی شی او نه له کوم ناو پوري وځي مگر دوی ته لیکل کېږي، د دې لپاره چي الله دوی ته د دوی د هغو عملونو په تناسب بدله ورکړي چي تر ټولو غوره دي. 122- او مؤمنان داسي نه دي چي ټول (د جهاد لپاره) ووځي، ولي دي د دوی له هري ډلي یو ټولگي ونه وځي، چي په دین کې پوهه ترلاسه کړي او هغه مهال چي خپل قوم ته بېرته ستنېږي انذار ئې کړي، ترڅو ځان ساتنه وکړي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَـٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ
وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾
وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَـٰذِهِۦٓ
إِيمَـٰنًا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَزَادَتْهُمْ إِيمَـٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ
﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ
رِجْسِهِمْ وَمَاتُواْ وَهُمْ كَـٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾ أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ
يُفْتَنُونَ فِى كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ
يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ
هَلْ يَرَىٰكُم مِّنْ أَحَدٍ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْ ۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم
بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ
أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم
بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُلْ حَسْبِىَ ٱللَّهُ
لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾

123- اې مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجنګېږئ چې درنږدې
دي او حتماً دي په تاسو کې زيږوالی وومومي او په دې پوه شئ
چې الله له داسي متقيانو سره (مل) دئ. 124- او کله چې کومه
سوره نازله کړی شي نو د دوی ځيني وايي: دې (سورې) ستاسو
د کوم يوه ايمان درزيات کړ؟ نو هغه چې ايمان ئې راوړی ايمان
ئې ورزيات کړ؛ په داسي حال کې چې خوشحالي کوي. 125- او
هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده؛ د دوی پر پليتي ئې پليتي
ورزياته کړه او په داسي حال کې مړه شول چې کافران ول. 126-
آيا دې ته پام نه کوي چې هر کال يو ځل يا دوه ځلې آزمويل
کېږي؛ (خو) بيا هم نه توبه کوي او نه پند اخلي. 127- او کله
چې کومه سوره نازله کړی شوې (نو) ځينو ځينو نورو ته کتلي
(او ويلي ئې دي:) آيا کوم څوك موويني، بيا تللي، الله د دې
لپاره د دوی زړونه (کاږه) ګرځولي چې دوی هغه وګړي دي چې
نه پوهېږي. 128- يقيناً چې تاسو ته ستاسو له منځه داسي
پيغمبر درغی چې څه تاسو ځوروي پر ده ګران تمامېږي، ستاسو
پر (هدايت او لارښوونې) حريص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر
زړه سواند او مهربان. 129- که ئې ډډه وکړه نو ورته ووايه: الله
راته کافي دئ، له ده پرته بل معبود نشته، په ده مي توکل وکړ،
او دی د ستر عرش واکمن دئ.

# سُورَةُ يُونُسَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ١ أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنۡ
أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ رَجُلٖ مِّنۡهُمۡ أَنۡ أَنذِرِ ٱلنَّاسَ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنَّ لَهُمۡ
قَدَمَ صِدۡقٍ عِندَ رَبِّهِمۡۗ قَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٞ مُّبِينٌ ٢ إِنَّ
رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ
عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۖ مَا مِن شَفِيعٍ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ إِذۡنِهِۦۚ ذَٰلِكُمُ
ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣ إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗاۖ
وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقًّاۚ إِنَّهُۥ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ بِٱلۡقِسۡطِۚ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ شَرَابٞ مِّنۡ حَمِيمٖ
وَعَذَابٌ أَلِيمُۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٤ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلشَّمۡسَ ضِيَآءٗ
وَٱلۡقَمَرَ نُورٗا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ مَا
خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۚ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٥ إِنَّ فِي
ٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ
لِّقَوۡمٖ يَتَّقُونَ ٦

# يونس- مكي- 109 آيتونه

1- الف، لام، راء، دا د باحكمت كتاب آيتونه دي. 2- آيا خلكو ته دا عجيبه برېښي چي د دوی د ډلي كوم سړي ته وحي ولېږو چي خلكو ته خبرداری وركړه او مؤمنانو ته د دې زېری وركړه چي د خپل رب په خوا كي ئې رښـــتينی (غوره) مقدم (مقام) دئ، كافرانو وويل: دا خو يقيناً ښرگند كوډگر دئ! 3- بېشكه چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آســـمانونه او زمكه ئې په شــــپږو ورځو كي پيدا كړل، بيا ئې په عرش استوا وكړه، چاري سمبالوي، هيڅ داسي شفاعت كوونكی نشته چي د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وكړی شي، دا ستاسي رب دئ، نو د ده عبادت وكړئ، آيا عبرت نه اخلئ؟ 4- د ده په لوري ســـتاســـو ټولو بېرته گرځېدا ده، د الله رشـتينې وعده، بې شـكه چي هغه پيدايښـت پيلوي، بيا ئې اعاده كوي، تر څو هغو ته د انصــــاف له مخي بدله وركړي چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي، او هغه چي كافران شـــوي؛ دوی ته د تودو اوبو څښــاك دئ او دردناك عذاب؛ له دې كبله چي كفر ئې كاوو. 5- دی هغه ذات دئ چي لمر ئې رڼا گرځولی او سـپوږمۍ ئې روښـانه، او هر يوه ته ئې د ټېكي ځای ټاكلی ترڅو د كلونو په شـــمېر او حســـاب پوه شـئ، الله دا نه دي پيدا كړي مگر په حقه سره، هغو وگړو ته چي پوهېږي آيتونه په تفصــــيل سره بيانوي. 6- يقيناً چي د شپې او ورځي په بدلېدو رابدلېدو او په هغه څه كي چي الله په آســــمانونو او زمكي كي پيدا كړي د هغو وگړو لپاره نښې دي چي ځان ساتنه كوي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا وَرَضُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَٱطۡمَأَنُّواْ بِهَا
وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِنَا غَٰفِلُونَ ٧ أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ بِمَا
كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
يَهۡدِيهِمۡ رَبُّهُم بِإِيمَٰنِهِمۡۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ فِي جَنَّٰتِ
ٱلنَّعِيمِ ٩ دَعۡوَىٰهُمۡ فِيهَا سُبۡحَٰنَكَ ٱللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمۡ فِيهَا سَلَٰمٞۚ
وَءَاخِرُ دَعۡوَىٰهُمۡ أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠ *وَلَوۡ يُعَجِّلُ
ٱللَّهُ لِلنَّاسِ ٱلشَّرَّ ٱسۡتِعۡجَالَهُم بِٱلۡخَيۡرِ لَقُضِيَ إِلَيۡهِمۡ أَجَلُهُمۡۖ فَنَذَرُ
ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ١١ وَإِذَا مَسَّ
ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا
عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ
لِلۡمُسۡرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٢ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ مِن
قَبۡلِكُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَمَا كَانُواْ
لِيُؤۡمِنُواْۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٣ ثُمَّ جَعَلۡنَٰكُمۡ
خَلَٰٓئِفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لِنَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ١٤

7- یقیناً هغه چي زموږ د ملاقات هیله نه لري او په دنیایي ژوند راضي شوي او پرې ډاډه شوي او هغه چي زموږ له آیتونو غافل دي؛ 8- د دوی استوګنځی اور دئ په سبب د هغه څه چي ترلاسه کول ئې. 9- بې شکه هغو چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ د دوی رب به ئې د خپل ایمان په سبب هدایت کړي، ترې لاندي به ویالې بهېږي، له نعمتونو ډك جنتونو کي، 10- په هغه کي به ئې ویناوي دا وي: پاکي تا ته ده اې الله! او هلته به ئې د استقبال وینا سلام وي، او وروستۍ وینا به ئې دا وي چي ستاینې ټولي د عالمیانو رب ته دي. 11- او که الله په تلوار سره خلکو ته شر رسولی، هغسي لکه چي دوی په تلوار سره ښېګڼه غواړي نو هرومرو به د دوی نېټه پای ته رسېدلې وه، نو هغه چي زموږ د ملاقات هیله نه لري؛ په خپل طغیان کي ئې لالهانده پرېږدو. 12- او کله چي انسان ته څه تکلیف ورسېږي، نو په داسي حال کي موږ مرستي ته بلي چي په اړخ به پرېوتی وي، یا به ناست وي، یا به ولاړ وي، خو کله چي ده ته هغه رسېدلی مصیبت لري کړو بیا به داسي درومي لکه چي موږ ئې له هغه تکلیف خلاصون ته نه وو وربللي، مسرفینو ته خپل عملونه داسي ښایسته او مزین کړی شوي. 13- او یقیناً چي تر تاسو مخکي مو ډېر پېړۍ وال هغه مهال هلاك کړل چي ظلم ئې وکړ، او پیغمبرانو ئې څرګندي نښي وروړې خو دوی (دې ته تیار) نه ول چي ایمان راوړي، همداسي مجرمین مجازات کوو، 14- بیا مو تاسو تر دوی وروسته په زمکي کي ځای ناستي کړئ چي وګورو څنګه عمل کوئ.

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا
ٱئۡتِ بِقُرۡءَانٍ غَيۡرِ هَٰذَآ أَوۡ بَدِّلۡهُۚ قُلۡ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أُبَدِّلَهُۥ
مِن تِلۡقَآيِٕ نَفۡسِيٓۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنۡ
عَصَيۡتُ رَبِّي عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ١٥ قُل لَّوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوۡتُهُۥ
عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَدۡرَىٰكُم بِهِۦۖ فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرٗا مِّن
قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٦ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا
أَوۡ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٧ وَيَعۡبُدُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ
شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١٨ وَمَا كَانَ
ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَٱخۡتَلَفُواْۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ
لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡ فِيمَا فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٩ وَيَقُولُونَ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ
ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۖ فَقُلۡ إِنَّمَا ٱلۡغَيۡبُ لِلَّهِ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ
ٱلۡمُنتَظِرِينَ ٢٠

15- او کله چي زموږ ښکاره آیتونه پرې ولوستل شي؛ هغه چي زموږ د ملاقات هیله نه لري وايي: له دې پرته کوم بل قرآن راوړه یا ئې بدل کړه! ووایه: ما ته نه ښایي چي له خپلي خوا ئې بدل کړم، زه خو یوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي، یقیناً چي زه خو د یوې ستري ورځي له عذابه وېرېږم که له خپل رب سرغړاوی وکړم. 16- ووایه: که الله غوښتي وی نو نه به مي پر تاسو لوستی وو او نه به ئې پرې پوه کړي وئ، زه خو تر دې د مخه یو عمر په تاسو کي پاته شوی یم، آیا تعقل نه کوئ؟! 17- نو تر هغه چا به ډېر ظالم څوك وي چي پر الله ئې دروغ وتړل او یا ئې د هغه آیتونه دروغ وګڼل؟! یقیناً چي دا مجرمین نه بریالي کېږي. 18- او له الله پرته د هغه څه عبادت کوي چي نه ضرر وررسولی شي او نه ګټه او وايي: دوی خو د الله په وړاندي زموږ شفاعت کوونکي دي! ووایه: آیا الله د آسمانونو او زمکي په داسي څه خبروئ چي دی پرې نه پوهېږي؟! پاکي ده ورته، او لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شریکوي. 19- او خلك خو یوازي یو امت وو، بیا ئې په خپلو کي اختلاف وکړ او که ستا د رب له لوري مخکنۍ وینا نه وی نو حتماً به ئې د دوی ترمنځ په هغه څه کي فیصله کړې وه چي اختلاف په کي کوي. 20- او وايي: ولي د خپل رب له لوري کوم آیت (ښکارنده نښه) نه دئ پرې نازل شوی؟ نو ووایه: غیب خو یوازي الله ته دئ، نو انتظار وکړئ چي زه هم ستاسو په څنګ کي له منتظرینو یم.

وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةٗ مِّنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُمۡ إِذَا لَهُم مَّكۡرٞ فِيٓ
ءَايَاتِنَاۚ قُلِ ٱللَّهُ أَسۡرَعُ مَكۡرًاۚ إِنَّ رُسُلَنَا يَكۡتُبُونَ مَا تَمۡكُرُونَ
﴿٢١﴾ هُوَ ٱلَّذِي يُسَيِّرُكُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا كُنتُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ
وَجَرَيۡنَ بِهِم بِرِيحٖ طَيِّبَةٖ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتۡهَا رِيحٌ عَاصِفٞ
وَجَآءَهُمُ ٱلۡمَوۡجُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُاْ
ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ لَئِنۡ أَنجَيۡتَنَا مِنۡ هَٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ
ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ أَنجَىٰهُمۡ إِذَا هُمۡ يَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۗ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَا بَغۡيُكُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۖ مَّتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ
ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُكُمۡ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٣﴾ إِنَّمَا مَثَلُ
ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ
ٱلۡأَرۡضِ مِمَّا يَأۡكُلُ ٱلنَّاسُ وَٱلۡأَنۡعَٰمُ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذَتِ ٱلۡأَرۡضُ
زُخۡرُفَهَا وَٱزَّيَّنَتۡ وَظَنَّ أَهۡلُهَآ أَنَّهُمۡ قَٰدِرُونَ عَلَيۡهَآ أَتَىٰهَآ أَمۡرُنَا
لَيۡلًا أَوۡ نَهَارٗا فَجَعَلۡنَٰهَا حَصِيدٗا كَأَن لَّمۡ تَغۡنَ بِٱلۡأَمۡسِۚ كَذَٰلِكَ
نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَىٰ دَارِ ٱلسَّلَٰمِ
وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٢٥﴾

21- او کله چي خلکو ته له هغه وروسته چي کړاو وررسېدلی د کومي پېرزویني (خوند) وروڅکو (ګورې به چي) ناڅاپه به ئې زموږ په آیتونو کي د پټ تدبیر (اراده) وي، ووایه: الله په پټ تدبیر کي تر ټولو ډېر تېز دئ. یقیناً چي زموږ استازي ستاسو پټ تدبیرونه لیکي. 22- دی هغه ذات دئ چي تاسي په وچه او بحر کي بیایي، تردې چي تاسي په بېړۍ‌کي وئ او بېړۍ له سورو سره یوځای له ښکلې وږمې سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېزه سیلۍ ورباندي راشي او له هر لوري څپې ورباندي راتاو شي او ګمان وکړي چي محاصره شول، (دغه مهال) الله ته پداسي حال کي دعاء کوي چي په خپل دیانت کي ورته مخلص شوي وي او وایي: که دي لدې وژغورلو نو حتماً به شکر کوونکي وو، 23- خو کله چي نجات ورکړو بیا د خپل تعهد خلاف په ناحقه په زمکي کي سرکښي کوي. اې خلکو! په یقین سره چي ستاسي سرکښي ستاسي په ضرر ده، (دا نعمت) د دنیوی ژوند یوه متاع ده، بیا مو زمونږ لوري ته راتګ دئ او په هغه څه به مو خبر کړو چي تاسو کول. 24- حقیقت دا دئ چي د دنیایي ژوند مثال د هغو اوبو په څېر دئ چي له آسمانه مو نازلي کړې، چي په دې سره د زمکي هغه راټوکېدونکي چي خلك او څاروي ئې خوري ګډ وډ راشنه شي، تر هغه چي زمکي خپله شېرازه کېدا ترلاسه کړه او ښه ښایسته شوه او اوسېدونکو ئې ګمان وکړ چي له هغې پر ګټې اخیستو قادر دي؛ نابېره زموږ امر په شپه یا ورځ کي ورته راشي نو داسي ئې وګرځوو لکه رېبل شوی کښت، ګواکي پرون (دا کښت دلته ولاړ) نه وو، همداسي خپل آیتونه هغو وګړو ته بیانوو چي فکر کوي.
25- او الله د امن استوګنځي په لور بلنه ورکوي او هغه څوك سمي لاري ته هدایت کوي چي دی ئې غواړي،

۞لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ ٱلۡحُسۡنَىٰ وَزِيَادَةٞۖ وَلَا يَرۡهَقُ وُجُوهَهُمۡ قَتَرٞ وَلَا
ذِلَّةٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٦ وَٱلَّذِينَ
كَسَبُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ جَزَآءُ سَيِّئَةِۭ بِمِثۡلِهَا وَتَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ مَّا لَهُم مِّنَ
ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۖ كَأَنَّمَآ أُغۡشِيَتۡ وُجُوهُهُمۡ قِطَعٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مُظۡلِمًاۚ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٧ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُهُمۡ
جَمِيعٗا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ مَكَانَكُمۡ أَنتُمۡ وَشُرَكَآؤُكُمۡۚ
فَزَيَّلۡنَا بَيۡنَهُمۡۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم مَّا كُنتُمۡ إِيَّانَا تَعۡبُدُونَ ٢٨ فَكَفَىٰ
بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ إِن كُنَّا عَنۡ عِبَادَتِكُمۡ لَغَٰفِلِينَ
٢٩ هُنَالِكَ تَبۡلُواْ كُلُّ نَفۡسٖ مَّآ أَسۡلَفَتۡۚ وَرُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ
ٱلۡحَقِّۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٣٠ قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ
مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ
فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١ فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ
ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ٣٢ كَذَٰلِكَ
حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ فَسَقُوٓاْ أَنَّهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٣٣

26- هغو ته چي نېکي ئې کړې وي؛ ښايسته (بدله) ده او څه زياتوالی، او مخونه به ئې نه تور گرد پټوي او نه سپکاوی، دوی جنتيان دي، تلپاته په هغه کې. 27- او هغو چي بد کارونه ئې کړي د هري بدي سزا به هغې ته ورته وي او سپکاوی به (وزر پرې) خوروي، له الله به هيڅ ساتونکی ورته نه وي، داسي به وي لکه چي مخونه ئې د تيارې شپې په (تيارو) ټوټو پټ شوي وي، دوی دوزخيان دي چي په هغه کې به تلپاته وي. 28- او کومه ورځ چي ټول راغونډ کړو، بيا هغو ته چي شرك ئې کړی ووايو: په خپل خپل ځای پاته شئ تاسو هم او ستاسو شريکان هم. نو ترمنځ به ئې بېلوالی راولو او شريکان به ئې ووايي: تاسو زموږ عبادت نه کولو. 29- او الله زموږ او ستاسو ترمنځ د گواه په توگه کافي دئ چي موږ ستاسو له عبادته بې خبر وو. 30- دلته به هر کس خپل مخکي لېږل شوي (عملونه) په ښکاره توگه ومومي، او د خپل حقيقي مولا په لوري به وگرځول شي او ټول هغه به ترې ورك شي چي په درواغو ئې (ځان ته معبودان) گرځولي ول. 31- ووايه! له آسمان او زمکي څوك تاسو ته رزق او روزي درکوي؟ او د دغو غوږونو او سترگو مالك څوك دئ؟ او څوك دئ چي ژوندی له مړي او مړی له ژوندي راپيدا کوي؟ او د کارونو تدبير څوك کوي؟ حتماً به ووايي: الله، نو ووايه: آيا (له انکار) ځان ساتنه نه کوئ؟ 32- نو همدا الله ستاسو حقيقي رب دئ، نو له حق وروسته له ضلالت پرته بل څه دي؟ نو په کوم لوري گرځول کېږئ؟! 33- همداسي ستا د رب وينا (پرېکړه) د هغو خلکو په اړه محققه شوه چي سرغړاوی ئې کړی، داسي چي ايمان به نه راوړي.

قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۚ قُلِ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ
ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣٤﴾ قُلۡ هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن
يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّۚ قُلِ ٱللَّهُ يَهۡدِي لِلۡحَقِّۗ أَفَمَن يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ أَحَقُّ
أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لَّا يَهِدِّيٓ إِلَّآ أَن يُهۡدَىٰۖ فَمَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٥﴾
وَمَا يَتَّبِعُ أَكۡثَرُهُمۡ إِلَّا ظَنًّاۚ إِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ ٱلۡحَقِّ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَا كَانَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ أَن يُفۡتَرَىٰ مِن دُونِ
ٱللَّهِ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ
فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٣٧﴾ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّثۡلِهِۦ
وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٣٨﴾ بَلۡ كَذَّبُواْ
بِمَا لَمۡ يُحِيطُواْ بِعِلۡمِهِۦ وَلَمَّا يَأۡتِهِمۡ تَأۡوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن
قَبۡلِهِمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٩﴾ وَمِنۡهُم مَّن يُؤۡمِنُ بِهِۦ
وَمِنۡهُم مَّن لَّا يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤٠﴾ وَإِن كَذَّبُوكَ
فَقُل لِّي عَمَلِي وَلَكُمۡ عَمَلُكُمۡۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعۡمَلُ وَأَنَاْ بَرِيٓءٞ
مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٤١﴾ وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ وَلَوۡ
كَانُواْ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٢﴾

34- ووایه: آیا ستاسو له شریکانو داسي څوک شته چي پیدایښت پیل کړي بیا ئې اعاده کړي؟ ووایه: الله هغه ذات دئ چي پیدایښت پیلوي بیا ئې اعاده کوي، نو څنګه دوکه کېږئ. 35- ووایه: آیا ستاسو له شریکانو داسي څوک شته چي د حق لوري ته لارښوونه کوي؟ ووایه: الله هغه ذات دئ چي د حق لوري ته لارښوونه کوي، نو آیا هغه چي د حق لوري ته لارښوونه کوي تر ټولو زیات د دې وړ دئ چي متابعت ئې وشي او که هغه چي لار نه مومي مګر دا چي لارښوونه ئې وشي؟ نو څه دي تاسو ته؟ څنګه حکم کوئ؟ 36- او د دوی ډېری له ګمان پرته د بل څه متابعت نه کوي، یقیناً چي ګمان (هیڅوک) د حقیقت له کومي برخي نه بې نیازه کوي، یقیناً چي الله په هغه څه ښه پوه دئ چي دوی ئې کوي. 37- او دا قرآن داسي نه دئ چي له الله پرته دې (څوک) په دروغو جوړ کړی شي، خو لیکن د هغه څه تصدیقوونکی دئ چي ترې مخکي وو او د کتاب تفصیلي بڼه، چي هیڅ شك پکي نشته؛ د عالمیانو د رب له لوري. 38- آیا وایي چي له ځانه ئې جوړ کړی؟ ووایه: نو د دې په څېر خو یوه سوره راوړئ؛ او له الله پرته ټول هغه دروبلئ چي توانېدی شئ، که رښتیني یئ! 39- بلکي هغه څه ئې تکذیب کړ چي د هغه په پوهې ئې احاطه ونه کړی شوه او تأویل ئې ورنه غی، همداسي تر دوی مخکنیو تکذیب کړ، نو وګوره چي د ظالمانو پایله څه وه. 40- او د دوی ځیني هغه دي چي ایمان پرې راوړي او ځیني هغه دي چي ایمان نه پرې راوړي، او ستا رب پر دغو مفسدینو ښه پوه دئ. 41- او که تا تکذیب کړي نو ووایه: زما لپاره زما عمل او تاسو ته ستاسو عمل، تاسو له هغه څه بې زار یئ چي زه ئې کوم او زه له هغه څه بې زار یم چي تاسو ئې کوئ. 42- او د دوی ځیني هغه دي چي تا ته غوږ نیسي، نو آیا ته کاڼو ته څه وراورولی شې که څه هم تعقل نشي کولی؟

وَمِنۡهُم مَّن يَنظُرُ إِلَيۡكَۚ أَفَأَنتَ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَلَوۡ كَانُواْ لَا
يُبۡصِرُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ ٱلنَّاسَ شَيۡـٔٗا وَلَٰكِنَّ ٱلنَّاسَ
أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٤٤﴾ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ كَأَن لَّمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ
مِّنَ ٱلنَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ بَيۡنَهُمۡۚ قَدۡ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ
وَمَا كَانُواْ مُهۡتَدِينَ ﴿٤٥﴾ وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ
نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ ٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ ﴿٤٦﴾
وَلِكُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولٞۖ فَإِذَا جَآءَ رَسُولُهُمۡ قُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ
لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾
قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي ضَرّٗا وَلَا نَفۡعًا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۗ لِكُلِّ أُمَّةٍ
أَجَلٌۚ إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَلَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٤٩﴾
قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَتَىٰكُمۡ عَذَابُهُۥ بَيَٰتًا أَوۡ نَهَارٗا مَّاذَا يَسۡتَعۡجِلُ
مِنۡهُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٥٠﴾ أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ ءَامَنتُم بِهِۦٓۚ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ
كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ
ٱلۡخُلۡدِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٥٢﴾ ۞وَيَسۡتَنۢبِـُٔونَكَ
أَحَقٌّ هُوَۖ قُلۡ إِي وَرَبِّيٓ إِنَّهُۥ لَحَقّٞۖ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٥٣﴾

43- او د دوی ځیني هغه دي چي تا ته ګوري، نو آیا ته ړندو ته لارښوونه کولی شې که څه هم نه ویني؟ 44- یقیناً چي الله پر خلکو هیڅ ظلم نه کوي خو خلك پر خپل ځان ظلم کوي. 45- او هغه ورځ چي ټول راغونډ کړو؛ داسي به وي لکه چي د ورځي یو ساعت ئې ځنډ کړی؛ په خپلو منځونو کي به یو بل سره پېژني، بې شکه چي هغه وګړي زیانمن شول چي د الله ملاقات ئې دروغجن ګڼلو او هدایت کېدونکي نه ول. 46- او که تا ته ځیني هغه (عذابونه) دروښیو چي لدوی سره مو د هغوی ژمنه کړې ده او یا (تر دې د مخه) تا وفات کړو نو زموږ په لوري ئې بېرته ګرځېدا ده او پر هغه څه الله ښه شاهد دئ چي دوی ئې کوي. 47- او هر امت ته یو رسول دئ، او کله چي رسول ئې ورشي نو د دوی تر منځ به په انصاف سره پرېکړه کېږي او پر دوی به ظلم نه کېږي. 48- او وایي: دا وعده به کله ترسره کېږي که رښتیني یئ؟ 49- ووایه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو اختیار)، پرته له هغه څه چي الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چي د دوی اجل راورسېږي نه یوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکي کېږي. 50- ووایه: پام مو دئ چي که د ده عذاب د شپې یا ورځي له لوري درشي؛ نو مجرمین به له ده نه څه په تلوار غواړي؟ 51- آیا کله چي واقع شي نو ایمان به پرې راوړئ؟ آیا اوس په داسي حال کي چي (تر دې د مخه) تاسو په تلوار غوښتو؟! 52- بیا به هغو کسانو ته چي ظلم ئې کړی وویل شي: د تلپاته عذاب خوند وڅکئ! آیا له هغه پرته چي تاسو کول کومه سزا درکړی شوې؟ 53- او دا خبره درنه پوښتي چي آیا دا حق دئ؟ ووایه: هو؛ زما په خپل رب قسم چي دا له شکه پرته حق دئ، او تاسو عاجزوونکي نه یئ.

وَلَوۡ أَنَّ لِكُلِّ نَفۡسٖ ظَلَمَتۡ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ لَٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ وَأَسَرُّواْ
ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۖ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِ وَهُمۡ لَا
يُظۡلَمُونَ ٥٤ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ وَعۡدَ
ٱللَّهِ حَقّٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٥ هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ
وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٥٦ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن
رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٧ قُلۡ
بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ
٥٨ قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزۡقٖ فَجَعَلۡتُم مِّنۡهُ حَرَامٗا
وَحَلَٰلٗا قُلۡ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمۡۖ أَمۡ عَلَى ٱللَّهِ تَفۡتَرُونَ ٥٩ وَمَا ظَنُّ
ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ
عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٦٠ وَمَا تَكُونُ فِي
شَأۡنٖ وَمَا تَتۡلُواْ مِنۡهُ مِن قُرۡءَانٖ وَلَا تَعۡمَلُونَ مِنۡ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا
عَلَيۡكُمۡ شُهُودًا إِذۡ تُفِيضُونَ فِيهِۚ وَمَا يَعۡزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن
مِّثۡقَالِ ذَرَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصۡغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ
أَكۡبَرَ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٦١

54- او که هر هغه کس ته چې ظلم ئې کړی د زمکې هر څه (په واك
کې) وی نو هرومرو به ئې په بدل کې ورکړي وی، او کله چې عذاب وګوري
نو (خپله) پښېماني به پټوي، او د دوی تر منځ به په انصاف سره پرېکړه
وشي او پر دوی به ظلم نه کېږي. 55- پام چې یقیناً ټول هغه څه چې
په آسمانونو او زمکې کې دي د الله دي، پام چې بې شکه د الله وعده حق
ده خو ډېری خلك نه پوهېږي، 56- دا خو فقط هغه دئ چې ژوندي
کول او وژل کوي او د ده په لوري بېرته ګرځول کېږئ. 57- اې خلکو!
یقیناً چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري یوه موعظه او د هغه څه لپاره
درمل درغی چې په سینو کې دي او مؤمنانو ته لارښود او پېرزوینه. 58-
ووایه: نو په همدې؛ د الله په فضل او پېرزوینې دي خوشحاله شي، دا تر
هغه ډېر غوره دئ چې دوی ئې غونډوي. 59- ووایه: آیا پوهېږئ الله
چې څه له رزق تاسو ته نازل کړي، هغه چې تاسو ځینې ترې حرام او
ځینې حلال ګرځولي، ووایه: آیا الله د دې اجازه درکړې او که پر الله باندې
افتراء کوئ؟ 60- او د قیامت د ورځې په اړه د هغو وګړو ګمان څنګه
دئ چې پر الله باندې دروغ تړي، یقیناً چې الله پر خلکو د فضل خاوند
دئ خو ډېری ئې شکر نه کوي. 61- او ته په هیڅ کوم حالت کې نه یې،
او نه د دې قرآن کوم آیت تلاوت کوې، او نه تاسو کوم کار کوئ مګر دا
چې موږ درباندې شاهد یو؛ هغه مهال چې په کې مشغولېږئ، او ستا له
رب؛ نه د ذرې په اندازه (کوم څیز) نه په زمکې کې پټېدی شي او نه په
آسمان کې او نه له دې کوم وړوکی او یا لوی داسې څیز شته چې په څرګند
کتاب کې دي نه وي (لیکل شوی).

أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ٦٣ لَهُمُ ٱلۡبُشۡرَىٰ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ
ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ لَا تَبۡدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ٦٤ وَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّ ٱلۡعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًاۚ هُوَ
ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٥ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي
ٱلۡأَرۡضِۗ وَمَا يَتَّبِعُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُرَكَآءَۚ إِن
يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ٦٦ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ
لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ٦٧ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ هُوَ
ٱلۡغَنِيُّۖ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنۡ عِندَكُم مِّن
سُلۡطَٰنِۭ بِهَٰذَآۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٦٨ قُلۡ إِنَّ
ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ٦٩ مَتَٰعٞ فِي
ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلۡعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا
كَانُواْ يَكۡفُرُونَ ٧٠

62- پام چې بې شکه د الله دوستان داسې دي چې نه څه وېره پرې شته او نه به غمجن شي. 63- هغه چې ایمان ئې راوړی او ځان ساتنه ئې کوله. 64- دوی ته په دنیایي ژوند کې او په آخرت کې زېري دي، د الله په ویناوو کې تبدیلي نه راځي، همدا ستره بریا ده. 65- او د دوی وینا دې تا غمجن نه کړي، یقیناً چې عزت ټول د الله (په واك کې) دئ، هغه پوه اورېدونکی دئ. 66- پام چې یقیناً هغه څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي (ټول) د الله دي، او هغه چې له الله پرته (بل څه مرستي ته) وربلي د شریکانو متابعت نه کوي، دوی له گمان پرته د بل څه متابعت نه کوي، او نه دي مگر دا چې خوشې (دروغجني) خبري کوي، 67- دی هغه ذات دئ چې شپه ئې درته گرځولې ده چې په کې آرام وکړئ او ورځ ئې لیدونکې (د لیدو وسیله) یقیناً چې په دې کې د هغو وگړو لپاره ښرگندې نښې دي چې اوري. 68- وئې ویل: الله (ځانته) زوی نیولی! پاکي ده هغه ته، هغه بې نیاز دئ، ټول هغه څه د ده دي چې په آسمانونو کې دي او په زمکې کې دي، په دې اړه هیڅ دلیل درسره نشته، آیا د الله په اړه هغه څه وایئ چې نه پرې پوهېږئ؟!! 69- ووایه: یقیناً هغه چې پر الله باندې دروغ تړي بریالي به نشي. 70- په دنیا کې برخمن کېدا ده، بیا ئې بېرته گرځېدا زموږ په لور ده، بیا به د سخت عذاب خوند وروڅکو په سبب د دې چې کفر ئې کاوو.

*وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ
عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ
أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ ثُمَّ ٱقۡضُوٓاْ
إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ٧١ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَمَا سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ
إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٧٢ فَكَذَّبُوهُ
فَنَجَّيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ خَلَٰٓئِفَ وَأَغۡرَقۡنَا ٱلَّذِينَ
كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَاۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٧٣ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ
بَعۡدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا
كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبۡلُۚ كَذَٰلِكَ نَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٧٤ ثُمَّ
بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ٧٥ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا
قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ ٧٦ قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا
جَآءَكُمۡۖ أَسِحۡرٌ هَٰذَا وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ٧٧ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا
لِتَلۡفِتَنَا عَمَّا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَمَا نَحۡنُ لَكُمَا بِمُؤۡمِنِينَ ٧٨

71- او د نوح خبره پرې واوروه چې خپل قوم ته ئې وويل: اې زما قومه! که زما دريځ او د الله په آيتونو پند درکول درباندې سخت وي نو پر الله مې توکل کړی، نو تاسو خپل کار او خپل شريکان راغونډ کړئ؛ بيا دې ستاسو کار درباندې مغشوش نه وي، بيا ئې زما په اړه ترسره کړئ او مهلت مه راکوئ. 72- او که ډډه وکړئ نو هيڅ اجر نه درنه غواړم، زما اجر يوازې پر الله دئ او زه ګمارل شوی يم چې له غاړه اېښودونکو وم. 73- نو تکذيب ئې کړ او موږ دی او هغه چې له ده سره په بېړۍ کې ول وژغورل، او وارثان مو کړل او هغه مو غرق کړل چې زموږ آيتونه ئې تکذيب کړل، نو وګوره چې د انذار کړی شوو پايله څنګه وه؟!! 74- بيا مو تر ده وروسته خپل خپل قوم ته پيغمبران ولېږل چې څرګندې نښې ئې ورووړې خو دوی په هغه څه ايمان نه راوړو چې تر دې د مخه ئې تکذيب کړي وو، همداسې د تېري کوونکو پر زړونو مهر لګوو. 75- بيا مو تر دوی وروسته موسی او هارون له خپلو آيتونو سره د فرعون او د ده د درباريانو په لور ولېږل چې د (خپلې) لويې په لټه کې شول او مجرم وګړي ول. 76- نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ويل: يقيناً چې دا څرګند جادو دئ! 77- موسی وويل: آيا د دغه حق په اړه چې درته راغلی (داسې) وايئ؟ آيا دا جادو دئ؟ په داسې حال کې چې جادوګران نه برياليي کېږي. 78- وئې ويل: آيا موږ ته د دې لپاره راغلی يې چې له هغه څه مو واړوې چې خپل پلرونه مو پرې موندلي او په زمکې کې ستاسو دواړو برلاسی وي او موږ درباندې باور کوونکي نه يو.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ ٧٩ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ
قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ ٨٠ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ
مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ
ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٨١ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ
٨٢ فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٞ مِّن قَوۡمِهِۦ عَلَىٰ خَوۡفٖ مِّن
فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِمۡ أَن يَفۡتِنَهُمۡۚ وَإِنَّ فِرۡعَوۡنَ لَعَالٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِنَّهُۥ
لَمِنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٨٣ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوۡمِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ
فَعَلَيۡهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسۡلِمِينَ ٨٤ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا رَبَّنَا
لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٨٥ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ٨٦ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا
بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٧ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ
زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا
ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ
ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ٨٨

79- او فرعون وویل: هر ښــه پوه کوډګر راته راولئ. 80- نو کله چې
کوډګران راغلل؛ موسی ورته وویل: هغه څه وغورځوئ چې تاســو ئې
غورځوونکي يئ! 81- نو کله چې ئې وغورځول؛ موسی وویل: څه چې
تاسو راوړل، (دا خو) جادو دئ، یقیناً چې الله به ئې شنډ کړي، یقیناً
چې الله د مفســـدینو کړنه نه رغوي. 82- او الله په خپلو اوامرو سره
حق محقق کوي که څه هم مجرمين (ترې) کرکه ولري. 83- نو پر
موسی د ده د قوم له ځينو زامنو پرته چا ایمان رانه وړ، د فرعون او د
دوی د مشرانو له دې وېرې چې تعذيب به ئې کړي، یقیناً چې فرعون
د زمکې پر سر يو متکبر او باغي وو او هغه له مسرــفينو وو. 84- او
موسی وویل: اې زما قومه! که مو پر الله ایمان راوړی وي نو پرې توکل
وکړئ که مســـلمانان يئ، 85- نو وئې ویل: پر الله مو توکل دئ، اې
زموږ ربه! د دغه ظالم قوم لپاره مو د آزمېښــت وسـيله ونه ګرځوې،
86- او په خپل رحمت سره مو له دې کافر قوم وژغورې. 87- او
موسی او د ده ورور ته مو وحي وکړه چې د خپل قوم لپاره په مصرــ
کې څو کورونه تيار کړئ او خپل کورونه قبله وګرځوئ او لمونځ اقامه
کړئ او مؤمنانو ته زېری ورکړه. 88- او موسی وویل: اې زموږ ربه! تا
فرعون او د ده دربارپانو ته د دنیايي ژوند داسي د زينت وســائل او
مالونه ورکړي چې په نتيجه کې ئې ستا له لاري (خلك) بې لاري کوي،
اې زموږ ربه! پر مالونو ئې تباهي ولګوه او پر زړونو ئې داسي سختي
چې د دردناك عذاب تر ليدو پوري ایمان رانه وړي.

قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٨٩﴾ ۞وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ
فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ
أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ
ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ
﴿٩١﴾ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا
مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ
ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ
يَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾ فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ
يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا
تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ
كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ
ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾

89- وئي ویل: یقیناً چي ستاسو دعاء قبوله شوه، نو ثابت قدم اوسئ
او د هغو په لار مه ځئ چي نه پوهېږي. 90- او بني اسرائیل مو له
سینده تېر کړل، نو فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په قصد
ورپسې شول، تر هغه چي غرقېدا راګېر کړ، وئې ویل: په دې ایمان
راوړم چي له هغه معبود پرته بل معبود نشته چي بني اسرائیلو پرې
ایمان راوړی او زه (د الله په وړاندي) له غاړه ایښودونکو یم!! 91-
اوس! او په داسي حال کي چي مخکي دي سرکښي کوله او له مفسدینو
وې؟!! 92- نو نن به دي بدن وژغورو تر څو هغو کسانو ته (د عبرت)
نښه وې چي له تا وروسته (راځي او پاته) دي او د خلکو ډېری زما
له آیتونو غافل دي!! 93- او یقیناً چي بني اسرائیل مو په غوره
استوګنځي کي مېشت کړل او له پاکیزه رزق مو روزي ورکړه، نو تر
هغه ئې اختلاف ونه کړ چي (څه) علم ئې په برخه شو، یقیناً چي
ستا رب به د قیامت په ورځ په هغه څه کي د دوی تر منځ پرېکړه
کوي چي دوی په کي اختلاف کولو. 94- نو که د هغه څه په اړه په
شك کي یې چي ستا لوري ته مو درلېږلی نو له هغو وپوښته چي تر تا
د مخه ئې کتاب لوستلو، بې شکه چي تا ته ستا د رب له لوري حق
درغلی نو له شك کوونکو مه اوسه! 95- او له هغو مه اوسه چي د
الله آیتونه ئې تکذیب کړل که نه نو له زیانمنو به وې. 96- یقیناً هغه
چي ستا د رب وینا پر دوی ثابته شوې ایمان نه راوړي؛ 97- تر هغه
چي دردناك عذاب وګوري، که څه هم هره څرګنده نښه ورته راشي.

فَلَوۡلَا كَانَتۡ قَرۡيَةٌ ءَامَنَتۡ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوۡمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُواْ
كَشَفۡنَا عَنۡهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ
٩٨ وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَأٓمَنَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ كُلُّهُمۡ جَمِيعًاۚ أَفَأَنتَ تُكۡرِهُ
ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ٩٩ وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تُؤۡمِنَ إِلَّا
بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَجۡعَلُ ٱلرِّجۡسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعۡقِلُونَ ١٠٠ قُلِ ٱنظُرُواْ
مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا
يُؤۡمِنُونَ ١٠١ فَهَلۡ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثۡلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ
قُلۡ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُنتَظِرِينَ ١٠٢ ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيۡنَا نُنجِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٣ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ
مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٤ وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٥ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ
فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٦

98- نو ولې بل داسې کلی نه دئ لیدل شوی چې (د عذاب له پرېکړې وروسته ئې) ایمان راوړلو ګټه وررسولې وي؟ مګر د یونس قوم چې کله ئې ایمان راوړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنیایي ژوند کې ترې لرې کړ او تر یوه وخته مو له خپلو پېرزوینو برخمن کړل. 99- او که ستا رب غوښتي وی نو ټولو هغو (خلکو) به په ګډه ایمان راوړی وو چې په زمکې کې اوسېږي، نو آیا ته خلك دې ته اړباسې چې ایمان راوړونکي شي؟! 100- او هیڅوك نشي کولی چې ایمان راوړي مګر د الله په إذن، او پلیتي ئې پر هغو تپلې چې تعقل نه کوي. 101- ووایه: وګورئ چې په آسمانونو او زمکې کې څه دي؟ او هغه قوم چې ایمان نه راوړي آیتونه او انذارونه څه ګټه وررسولی شي؟! 102- نو آیا د هغو خلکو له (سختو) ورځو پرته د بل څه انتظار لري چې تر دوی مخکې تېر شوي؟ ووایه: نو انتظار وکړئ چې موږ هم له تاسو سره د منتظرینو په لړ کې یو. 103- بیا به خپل رسولان او هغه چې ایمان ئې راوړی وژغورو، همداسې پر موږ د مؤمنانو ژغورنه لازمي حق دئ. 104- ووایه: اې خلکو! که زما د دین په اړه په شك کې یئ نو زه د هغه څه عبادت نه کوم چې تاسو ئې له الله پرته عبادت کوئ، خو لیکن د هغه الله عبادت کوم چې ستاسو سا وباسي، او پر دې ګمارل شوی یم چې له مؤمنانو وم، 105- او پر دې چې خپل مخ د دین لوري ته په بشپړه توګه واړوه او له مشرکینو مه اوسه، 106- او له الله پرته داسې چا ته دعاء (د مرستې بلنه) مه کوه چې نه ګټه دررسولی شي او نه تاوان دررسولی شي، او که دا کار وکړې نو ته به هغه مهال له ظالمانو وې.

وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ
فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ
ٱلرَّحِيمُ ١٠٧ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ
فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ
عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِوَكِيلٖ ١٠٨ وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَٱصۡبِرۡ
حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ١٠٩

## سُورَةُ هُودٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ كِتَٰبٌ أُحۡكِمَتۡ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتۡ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ١
أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ٢ وَأَنِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ
رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُمَتِّعۡكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤۡتِ
كُلَّ ذِي فَضۡلٖ فَضۡلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ
كَبِيرٍ ٣ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٤ أَلَآ إِنَّهُمۡ
يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ
مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٥

107- او که الله کوم زیان درورسوي نو له ده پرته ئې بل لري کوونکی نشته، او که د کومي ښېگڼې اراده درته وکړي نو د ده د فضل هیڅ ټموونکی نشته، له خپلو بندگانو ئې چي چا ته خوښه شيوررسوي ئې او هغه مهربان بخښونکی دئ. 108- ووایه: اې خلکو! یقیناً چي ستاسو د رب له لوري حق (دین) درته راغی، نو څوك چي په سمه لار روان شي نو بې شکه چي د ځان لپاره په سمه لار درومي، او څوك چي بې لاري شي نو د خپل ځان په ضرر بې لاري کېږي، او زه پر تاسو څارندوی نه یم. 109- او د هغه څه متابعت وکړه چي وحي ئې درته کېږي او تر هغه صبر وکړه چي الله (وروستۍ) پرېکړه وکړي، او هغه تر ټولو غوره پرېکړه کوونکی دئ.

## هود- مکي سوره- 123 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، راء ؛ داسي کتاب چي آیتونه ئې د ډېر باخبره باحکمت ذات له لوري کوټلي او بیا سپړل شوي. 2- دا چي له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، یقیناً چي زه د ده له لوري درته گواښونکی او زېری ورکوونکی یم. 3- او له خپل پالونکي رب بخښنه وغواړئ بیا د هغه لوري ته مخه کړئ چي تر ټاکلې نېټې غوره برخمن کېدا در په برخه کړي او هر فضلمن ته خپل خپل فضیلت ورکړي او که مخ واړوئ نو یقیناً چي زه د ستري ورځي له عذابه درباندي وېرېږم. 4- بېرته گرځېدا مو د الله په لوري ده او هغه په هر څه ښه قادر دئ. 5- پام چي دوی خپلي سینې تاووي چي ترې پټ ئې کړي، پام چي کله خپلي جامې واغوندي هم ئې په هر هغه څه پوهېږي چي دوی ئې پټوي او هم هغه څه چي څرگندوي ئې، یقیناً چي هغه د سینو په شته وو پوه دئ.

۞وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا
وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ۝٦ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ
لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ
مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ
مُّبِينٞ ۝٧ وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ لَّيَقُولُنَّ
مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم
مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٨ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ
نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ۝٩ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ
ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ
۝١٠ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ
وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ۝١١ فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ
بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ
مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ۝١٢

6- او په زمکي کې هيڅ داسي خوځېدونکی نشته چي روزي ئې د الله پر ذمه نه وي او هم ئې د تقرر په نېټې پوه دئ او هم د پرېښـودو په نېټې، ټول په يوه څرګند کتاب کې دي. 7- او دی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او عرش ئې پر اوبو وو، تر څو تاسـو وآزمويي چي کوم يو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ، او که ته ووايې چي تاسـو به له خپلي مړيني وروسـته هرومرو را پاڅئ نو هغه چي کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!! 8- او که عذاب تر يوې ټاکلې نېټې ترې وځنډوو حتماً وايي: څه ئې ټموي؟ پام چي په کومه ورځ ورته راشي په هيڅ توګه به ترې اوړ ېدونکی نه وي او هغه څه به پرې محقق شي چي ملنډې ئې پرې وهلې. 9- او که انسـان ته له خپلي خوا د کومي پېرزويني خوند وروڅکو بيا ئې ترې لري کړو، يقيناً چي (په دې صورت کې) دی حتماً ډېر مأيوس او نا شکره وي.10- او که له هغه وروسـته چي کړاو وررسـېدلی؛ ده ته د نعمتونو خوند وروڅکو، حتماً وايي چي سـتونزي رانه ولاړې، بې شـکه چي هغه ډېر خوښـي کوونکی او ډېر فخر کوونکی دئ. 11- مګر هغه چي صـبر ئې وکړ او نېك عملونه ئې وکړل؛ دوی ته بخښنه ده او ستر اجر. 12- نو شايي ته له هغه څه چي تا ته ئې وحي کېږي د ځينو پرېښـودونکی يې يا دي سـينه پر دې تنګېږي چي وايي: ولې کومه خزانه نه ده پرې نازله شـوې يا کومه فرشـته ورسره نه ده راغلې؟! ته خو يوازي يو خبرداری ورکوونکی يې، او الله پر هر څه وکيل (څارندوی) دئ.

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ
مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمۡ
يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا
هُوَۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٤﴾ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا
نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا
وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ
وَيَتۡلُوهُ شَاهِدٞ مِّنۡهُ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامٗا وَرَحۡمَةًۚ
أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ
مَوۡعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُۚ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٧﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ
كَذِبًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ
ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ ٱلَّذِينَ
يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ
كَٰفِرُونَ ﴿١٩﴾

13- آیا وایي چي له ځانه ئې (په درواغو) جوړ کړی؟، ووایه: د دې
په څېر لس له ځانه جوړ شوي سورتونه راوړئ او له الله پرته چي هر
څوك راوستی شئ (مرستي ته ئې) دروبلئ که رښتيني يئ. 14- نو که
ئې ستاسو بلني ته ځواب درنه کړ نو پوه شئ چي دا د الله په علم
سره نازل شوی، او دا چي له ده پرته بل معبود نشته، نو آیا تاسو
مسلمانېدونکي يئ؟ 15- څوك چي دنیایي ژوند او سینګار ئې غواړي
په همدې کي ئې عملونه ورته بشپړوو؛ داسي چي دوی ته به په کي
کمی نه کېږي، 16- دوی هغه دي چي په آخرت کي به له اوره پرته
بل څه ورته نه وي، او ټول هغه څه ئې حبط او هدر شوي چي په
دنیا کي ئې جوړ کړي ول او هغه څه ئې باطل دي چي کول ئې. 17-
نو آیا هغه څوك چي د خپل رب له لوري په څرګندي نښې (متکي)
وي او د ده له لوري يو ګواه هم ورپسې شي او ترې وړاندي د موسی
کتاب د لارښود او رحمت په توګه (شاهد) وي، دوی ایمان پرې
راوړي؟ او له دغو ډلو چي څوك پرې کافر کېږي نو موعد (وعده
ځای) ئې اور دئ، نو په اړه ئې په شك کي مه اوسه، يقيناً چي هغه
ستا د رب له لوري حق دئ خو لیکن ډېری خلك ایمان نه راوړي. 18-
او تر هغه چا به ډېر ظالم څوك وي چي پر الله ئې دروغجنه افتراء
کړې، دوی به د خپل رب په وړاندي حاضر کړی شي او ګواهان به
ووایي: دا همغه کسان دي چي د خپل رب په اړه ئې درواغ ويل، پام
چي پر دغو ظالمانو د الله لعنت دئ، 19- هغه چي د الله له لاري ډډه
کوي او کوږوالی ورته غواړي او دوی له آخرت منکر دي.

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ
ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ
ٱلسَّمۡعَ وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ
ٱلۡأَخۡسَرُونَ ﴿٢٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ
إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾ ۞مَثَلُ
ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ
مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمۡ
نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ
عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ ﴿٢٦﴾ فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا
نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا
بَادِيَ ٱلرَّأۡيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلِۭ بَلۡ نَظُنُّكُمۡ
كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي
وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ
لَهَا كَٰرِهُونَ ﴿٢٨﴾

20- دوی نه په زمکې کې عاجزوونکي (برلاسي کېدونکي) ول او نه ئې له
الله پرته هیڅ مرستیالان ول، عذاب به ورته دوه برابره شي، نه پر
اورېدو توانېدل او نه ئې لیدنه کولی شوه، 21- دوی همغه دي چې
ځان ئې زیانمن کړ او هغه څه ترې ورك شول چې په درواغو ئې
رامنځته کول، 22- نو له شکه پرته همدا دوی به په آخرت کې زیانمن
وي. 23- یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او د
خپل رب په وړاندې سر ټیټوي دوی جنتیان دي په هغه کې تلپاته. 24-
د دغو دواړو ډلو مثال داسې دئ لکه ړوند او کوڼ او سترګه ور او
اورېدونکی، آیا د مثال له پلوه سره برابر دي؟! نو آیا پند نه اخلئ؟ 25-
او یقیناً چې نوح مو د ده د قوم لوري ته ولېږو، (وینا ئې دا وه:) اې
زما قومه! زه درته څرګند خبرداروونکی یم، 26- په دې چې له الله پرته
د بل چا عبادت مه کوئ، زه د یوې دردوونکې ورځې له عذابه درباندې
وېرېږم، 27- نو د ده د قوم هغو مشرانو چې کفر ئې (غوره) کړی وو
وویل: موږ خو تا یوازې د ځان په څېر یو بشر ګورو او چا چې ستا
متابعت کړی له هغو ئې پرته بل څوك نه وینو چې زموږ پرېوتي او بې
وزلي دي، (هغه هم) بې سوچه، او پر موږ ستاسو کوم فضیلت مو هم
نه ترسترګو کېږي، بلکې د دروغجنو ګمان درباندې کوو. 28- وئې ویل:
اې زما قومه! آیا دې ته مو پام دئ چې که زه د خپل رب له لوري په
بیِّن او روښانه دریځ وم، او ما ته ئې له خپل لوري پېرزوینه راپه برخه
کړې وي او پر تاسو ئې لیدا ناشونې وي، آیا تاسو په داسې حال کې پرې
اړ کولی شو چې کرکه کوونکي یئ؟

وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠
بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمًا
تَجۡهَلُونَ ﴿٢٩﴾ وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا
تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ
ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن
يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ
﴿٣١﴾ قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن
كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ
أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ
لَكُمۡ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ
﴿٣٤﴾ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ
مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ﴿٣٥﴾ وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤۡمِنَ مِن قَوۡمِكَ إِلَّا
مَن قَدۡ ءَامَنَ فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ
بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴿٣٧﴾

29- او اې زما قومه! له تاسو کوم مال هم نه پرې غواړم، زما اجر له الله پرته پر بل چا نه دئ، او زه د هغو رټونکی هم نه یم چې ایمان ئې راوړی، یقیناً چې دوی له خپل رب سره مخامخېدونکي دي، خو زه تاسو داسې وګڼې ګورم چې جهالت کوئ، 30- او اې زما قومه! که ئې ورټم نو څوک به مې د الله په وړاندې مرسته وکولی شي؟ آیا پند نه اخلئ؟ 31- او نه دا درته وایم چې د الله خزانې راسره دي او نه په غیب پوهېږم او نه د هغو خلکو په اړه چې تاسو په سپکه سترګه ورته ګورئ دا وایم چې الله به هیڅ خیر ورپه برخه نه کړي، الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې د دوی په سینو کې دي، (که دا خبرې وکړم نو) په دې صورت کې به زه له ظالمانو وم. 32- وئې ویل: اې نوح! یقیناً چې له موږ سره دې شخړه وکړه او شخړه دې راسره ښه ډېره کړه، نو که له رښتینو یې هغه څه راوړه چې موږ ته ئې وعده راکوې. 33- وئې ویل: یوازې الله به ئې درته راوړي که ئې وغوښتل او تاسو عاجزوونکي نه یئ، 34- او زما خواخوږي به ګټه درونه رسوي که وغواړم چې نصیحت درته وکړم او الله دا وغواړي چې تاسو بې لارې کړي، هغه مو رب دئ او د ده په لورې به ورګرځول کېږئ. 35- آیا وایي چې دا ئې له ځانه جوړ کړی؟ ووایه: که دا مې له ځانه جوړ کړی وي نو دا جرم به مې پر ما وي، او زه له هغه جرم بې زار یم چې تاسو ئې کوئ. 36- او نوح ته وحي وشوه چې ستا د قوم له هغو (وګړو) پرته چې ایمان ئې راوړی؛ نور به هیڅکله ایمان رانه وړي، نو پر هغه څه مه نهیلی کېږه چې دوی ئې کوي. 37- او زموږ تر نظر لاندې او زموږ د وحي (مطابق) هغه بېړۍ جوړه کړه او د هغو په اړه مه راسره بږغېږه چې ظلم ئې کړی، یقیناً چې دوی غرقېدونکي دي.

وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ
إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوۡفَ
تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾
حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ
ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ
مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾ ۞وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡر۪ىٰهَا
وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٤١﴾ وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ
كَٱلۡجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي مَعۡزِلٖ يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا
تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٖ يَعۡصِمُنِي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ
قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيۡنَهُمَا ٱلۡمَوۡجُ
فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ ﴿٤٣﴾ وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي
وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا
لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَنَادَىٰ نُوحٞ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي
وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾

38- او د بېړۍ په جوړولو لګیا وو، او کله چې به د ده د قوم د مشرانو
کوم ټولګی پرې تېرېدو خندا به ئې پرې کوله، ده (به ورته) وویل: که
تاسو پر موږ خاندئ نو موږ به داسې درباندې وخاندو لکه چې تاسو
(نن) راباندې خاندئ. 39- ژر به پوه شئ چې چا ته به داسې عذاب
ورپه برخه شي چې سپك به ئې کړي او تلپاته عذاب به پرې راپرېوځي.
40- تر هغه چې زموږ حکم راغی او تنور وخوټېدو ومو ویل: له هر
یوه دوه ګونې جوړه په کې سپاره کړه، او خپله کورنۍ هم خو له هغه
پرته چې په اړه ئې لا دمخه وینا شوې او هغه هم چې ایمان ئې راوړی.
او له لږو پرته چا پرې ایمان رانه وړ. 41- او وئې ویل: په کې سپاره
شئ، هم ئې روانېدا د الله په نامه ده او هم ئې تمېدا، یقیناً چې زما
رب حتماً مهربان بخښونکی دئ. 42- او هغې د غرونو په څېر څپو کې
بېول او نوح خپل زوی ته په داسې حال کې بږغ کړ چې هغه ګوښی (له
نورو بېل) وو: اې زما زوی ګیه! له موږ سره سپور شه او له کافرانو
سره مه کېږه، 43- وئې ویل: کوم غره ته به پناه یوسم چې له اوبو
مې وساتي، وئې ویل: نن د الله له حکم هیڅ ساتونکی نشته مګر (هغه
چا ته چې) رحم پرې وکړي، او څپه ئې ترمنځ حائل شوه او له
غرقېدونکو شو. 44- او وویل شول: اې زمکې! خپلې اوبه غوړپ (تېرې)
کړه او اې آسمانه! درتم شه، او اوبه کښېناستې او کار پای ته ورسېد
او پر جودي کښېناسته او وویل شو: پر دې ظالم قوم دې ورکاوی
(لعنت، رټنه او مرګ) وي. 45- او نوح خپل رب ته بږغ (لوږ) کړ او
وئې ویل: اې زما ربه! زما زوی خو زما له کورنۍ وو، او ستا وعده
رښتینې ده، او ته تر ټولو غوره حکم کوونکی یې،

قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا
تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ
ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ
عِلۡمٞۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾ قِيلَ
يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ
وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾ تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ
ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ
هَٰذَاۖ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ
يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُفۡتَرُونَ
﴿٥٠﴾ يَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِي
فَطَرَنِيٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ
يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ وَلَا
تَتَوَلَّوۡاْ مُجۡرِمِينَ ﴿٥٢﴾ قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ
ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٣﴾

46- وئې فرمايل: اې نوح! هغه ستا له ټبره نه دئ، هغه يو ناصالح شى دئ، نو له ما د هغه څه په اړه مه پوښته چې نه پرې پوهېږې، زه د دې وعظ درته کوم چې (داسې نه چې) له جاهلانو شې! 47- وئې ويل: اې زما ربه! زه له دې پناه دروړم چې د هغه څه غوښتنه درنه وکړم چې نه پرې پوهېږم، او كه بخښنه را ته و نه کړې او پېرزوينه راباندې ونه کړې له زيانمنو به شم. 48- وويل شول: اې نوح! زما له لورې له سلامتيا او هغو بركتونو سره كوز شه چې پر تا او هغه ډلو (نازل شوى) دئ چې له تاسره دي. او ځيني ډلي داسې دي چې (د دنيا له متاع به ئې) برخمن کړو بيا به زموږ په دردوونكي عذاب اخته شي. 49- دا هغه غيبي خبري دي چې تا ته مو وحي کړې، نه ته تر دې مخکې پرې پوهېدې او نه ستا قوم، نو صبر وکړه چې يقيناً نېکه پايله د متقيانو ده. 50- او د عاد په لوري (مو) د دوى ورور هود (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته، تاسو يوازې افتراء كوونكي يئ، 51- اې زما قومه! له تاسو هيڅ بدله پرې نه غواړم، زما بدله يوازې پر هغه ده چې زه ئې پيدا كړى يم، نو آيا تعقل نه كوئ؟ 52- او اې زما قومه! له خپل رب بخښنه وغواړئ، بيا ورته مخه كړئ؛ ترڅو آسمان درباندې په شېبو شېبو ورېدونكى ولېږي (پرانيزي) او ځواك مو لازيات ځواكمن کړي، او جنايتكاران مه جوړېږئ. 53- وئې ويل: اې هوده! موږ ته دې كومه څرګنده نښه نه ده راوړې، او موږ ستا په وينا د خپلو معبودانو پرېښودونكي نه يو، او پر تا ايمان راوړونكي هم

نه يو،

إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعْتَرَىٰكَ بَعْضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٍۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ
وَٱشْهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ
لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا
هُوَ ءَاخِذُۢ بِنَاصِيَتِهَآۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقَدۡ
أَبۡلَغۡتُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ
وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴿٥٧﴾ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا
نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ
غَلِيظٖ ﴿٥٨﴾ وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ
أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٥٩﴾ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ
أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ﴿٦٠﴾ *وَإِلَىٰ ثَمُودَ
أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ هُوَ
أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ
رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ﴿٦١﴾ قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ

أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾

54- له دې پرته بل څه نه وايو چې زموږ ځينو معبودانو وهلې او شړولې يې، وئې ويل: زه الله گواه نيسم او تاسو هم گواه اوسئ چې زه له ټولو هغو بې زار يم چې تاسو ئې (له الله سره) شريکوئ، 55- له ده پرته، نو ټول په گډه زما په ضد پټ تدبير وکړئ بيا مهلت مه راکوئ، 56- يقيناً چې ما پر خپل رب او ستاسو رب الله باندې توکل کړی، هيڅ داسې خوزېدونکی نشته چې دی ئې د تندي د وېښتانو نيوونکی نه وي، يقيناً چې زما رب په سمې لارې دئ، 57- نو که مو مخ واړاوو (نو) ما هغه څه په يقيني توگه دررسول چې ستاسو په لورې له هغه سره لېږل شوی يم، زما رب به له تاسو پرته بل قوم ځای ناستی کړي او هيڅ ضرر نه شئ وررسولی، يقيناً چې زما رب په هر څه ساتونکی دئ. 58- او کله چې زموږ حکم راغی؛ په خپل رحمت سره مو هود او هغه چې له ده سره ول او ايمان ئې راوړی وو وژغورل، او له سخت عذابه مو وژغورل. 59- او دا (همغه) عاد دئ چې د خپل رب له آيتونو ئې انکار وکړ او له خپلو پيغمبرانو ئې سرغړاوی وکړ او د هر جابر او سرکښ متابعت ئې وکړ. 60- هم په دې دنيا کې لعنت ورپسې شو او هم د قيامت په ورځ، پام چې عاديانو د خپل رب په اړه کفر وکړ، پام چې د هود قوم عاد ته ورکاوی او لرې والی دئ. ▯▯- د ثمودیانو لورې ته مو د دوی ورور صالح (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود نه لرئ، ده له زمکې راپاڅولئ او په همدې کې ئې آباد او استوگن کړئ، نو بخښنه ترې وغواړئ بيا د ده لورې ته مخه کړئ، يقيناً چې زما رب د دعاگانو منونکی نژدې دئ. ▯▯- وئې ويل: اې صالح! ته خو تر دې دمخه په موږ کې داسې وې چې هيله درته کېده، آيا له

دې مو منع کوې چې د هغه څه عبادت وکړو چې زموږ پلرونو لمانځل، او موږ خو په يقيني توګه د هغه څه په اړه په شکمني بد ګمانۍ کې يو چې ته مو ورته بلې.

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ
رَحۡمَةٗ فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيۡرَ
تَخۡسِيرٖ ﴿٦٣﴾ وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا
تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ
قَرِيبٞ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ
وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ
ٱلۡعَزِيزُ ﴿٦٦﴾ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ
جَٰثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ
أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾ وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ
قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا
رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۚ قَالُواْ

لَا تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ﴿٧٠﴾ وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ
فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ﴿٧١﴾

**63-** وئې ويل: اې زما قومه! آيا پام مو دئ چې که زه د خپل رب له لوري په بين او روښانه دريځ وم، او ما ته ئې له خپل لوري پېرزوينه راپه برخه کړې وي، نو څوك به مې د الله په وړاندې مرسته وکړی شي که ئې سرغړاوی وکړم؟ نو ما ته له زيانمنولو پرته بل څه نه شئ زياتولی. **64-** اې زما قومه! دا اوښه د الله (له لوري) ده، تاسو ته د يوې نښې په توگه، نو پرې ئې ږدئ چې د الله په زمکې کې وڅرېږي، او هيڅ تاوان مه وررسوئ که نه نو په نژدې عذاب به اخته شئ. **65-** نو ټپي ئې کړه، نو (ورته) وئې ويل: په خپل استوگنځي کې يوازې درې ورځې خوند واخلئ، دا داسې ژمنه ده چې دروغجنه کېدی نه شي. **66-** نو کله چې زموږ حکم راغی؛ په خپل رحمت سره مو صالح او هغه کسان چې له ده سره ول او ايمان ئې راوړی وو وژغورل او د دې ورځې له سپکاوي هم، يقيناً چې ستا رب عزتمن ځواکمن دئ. **67-** او هغه چې ظلم ئې کړی وو لوړې چيغې ونيول نو په خپلو استوگنځيو کې پرمخې پرېوتل. **68-** داسې لکه چې له سره هلته نه وي اوسېدلي، واورئ چې ثمودیانو د خپل رب په اړه کفر وکړ، واورئ چې ثمودیانو ته ورکاوی دئ. **69-** او يقيناً چې زموږ استازو ابراهيم ته زېری راوړ، سلام ئې پرې واچاوو، ده هم ورته سلام ووايو، او له څه ځنډه پرته ئې وريت شوی سخوندر راوړ، **70-** خو چې د دوی لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي ناآشنا ئې وگڼل او ترې ووېرېدو،

وئې ويل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي يو، 71- مېرمن ئې ولاړه وه او وئې خندل، نو د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب زېرى مو ورکړ،

قَالَتْ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٌ وَهَٰذَا بَعْلِى شَيْخًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ
عَجِيبٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓا۟ أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۖ رَحْمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ
عَلَيْكُمْ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَٰهِيمَ
ٱلرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ ٱلْبُشْرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِى قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ
أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَآ ۖ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ
وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ
بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ
يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ
بَنَاتِى هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ
مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾ قَالُوا۟ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِى بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ
وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوْ أَنَّ لِى بِكُمْ قُوَّةً أَوْ ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ
شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾ قَالُوا۟ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ ۖ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ

بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا
مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ﴿٨١﴾

72- وئې ويل: واى واى، آيا په داسي حال کې به زوى زېږوم چي په خپله بوډۍ او خاوند مي بوډا دئ! دا خو عجيبه خبره ده؟! 73- وئې ويل: آيا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې د دې کور اوسېدونکو! بې شکه چي هغه ستايل شوى د عظمت خاوند دئ. 74- نو کله چي له ابراهيمه وېره وتښتېده او زېرى پرې وشو نو له مونږ سره ئې د لوط د قوم په اړه چېږ چاړ پيل کړ، 75- يقيناً چي ابراهيم د ډېر زغم خاوند، ډېر نرم زړى او انابت کوونکى وو، 76- اې ابراهيمه! له دې تېر شه، خبره دا ده چي ستا د رب پرېکړه شوې او دوى ته داسي عذاب راتلونکى دئ چي نه رد کېږي. 77- او کله چي زمونږ استازي لوط ته ورغلل، پرې غمجن شو او د دوى په راتلو ئې سينه تنگه شوه او وئې ويل: دا خو ډېره سخته ورځ ده. 78- او قوم ئې په منډه منډه ورته راغى او تر دې مخکي ئې هم بدکارونه کول، وئې ويل: اې زما قومه! دا مي لوڼي دي، دوى درته پاکي او حلالي دي، له الله ووېرېږئ او د مېلمنو په اړه مي شرم او سپکاوى مه رااړوئ، آيا په تاسو کې کوم عقلمن کس نشته؟! 79- وئې ويل: ښه پوهېږې چي ستا د لوڼو په اړه (د څه کولو) حق نه لرو او ته ښه پوهېږې چي مونږ څه غواړو! 80- وئې ويل: کاش پر تاسو مي زور بر وى او يا مي د مضبوطي اسرې پناه ترلاسه وى! 81- وئې ويل: اې لوطه! مونږ ستا د رب استازي يو، هيڅکله لاس نه شي دروړى، د شپې په يوې برخي کې دي کورنۍ روانه کړه، هيڅوک مو شا

ته ونه ګوري، مګر مېرمن دي، يقيناً چي دې ته به همغه څه رسي چي
هغو (نورو) ته رسي، بې شکه چي د دوی لپاره ئاکل شوی مهال سباوون
دئ، آيا سباوون نژدې نه دئ؟!

فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً
مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ مِنَ
ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾ ۞وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ
ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُواْ ٱلْمِكْيَالَ
وَٱلْمِيزَانَۖ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ
مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ وَيَٰقَوْمِ أَوْفُواْ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِۖ وَلَا
تَبْخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْاْ فِي ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾
بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَۚ وَمَآ أَنَاْ عَلَيْكُم
بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُواْ يَٰشُعَيْبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ
ءَابَآؤُنَآ أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِيٓ أَمْوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلْحَلِيمُ
ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي
وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًاۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ

أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا ٱلْإِصْلَٰحَ مَا ٱسْتَطَعْتُۚ وَمَا تَوْفِيقِىٓ
إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾

82- نو کله چي زمونږ حکم صادر شو دا سيمه مو لاندي باندي کړه او د پخو خټو ډبري مو پرله پسې پرې وورولې، 83- هغه چي ستا د رب خوا ته په نښه شوې وې او همداسي ورځ له دغو ظالمانو هم لري نه ده. 84- او د مدين (والو) په لوري مو د دوی ورور شعيب (ولېږو)، وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چي له ده پرته بل معبود درته نشته، او په پيمانې او تلې کې کمی مه کوئ، زه خو تاسو په ښه حالت کې گورم، او زه د راتاوېدونکي عذاب له ورځي درباندي وېرېږم. 85- او اې زما قومه! پيمانه او تله په انصاف سره بشپړوئ او د خلکو شيان مه کموئ او په زمکي کې فساد خوروونکي مه کېږئ. 86- د الله له لوري پاته شوې (جائز برخه) درته غوره ده که مؤمنان يئ، او زه درباندي څارندوی نه يم. 87- وئې ويل: اې شعيبه! آيا ستا لمونځ دي په دې گماري چي موږ د هغه څه لمانځنه پرېږدو چي زموږ پلرونو لمانځل، يا په خپلو مالونو کې داسي تصرف پرېږدو چي په خپله ئې غواړو، يقيناً چي ته خو ډېر هوښيار او په سمه لار روان انسان يې. 88- وئې ويل: اې زما قومه! پام مو دئ چي که زه د خپل رب له لوري په روښانه دريځ وم او له خپل لوري ئې غوره رزق راپه برخه کړی وي، او زه نه غواړم په هغه څه کې ستا سو مخالفت وکړم چي زه مو ترې منع کوم، زه خو تر هغه چي توانېږم

له اصـــلاح پرته بل څه نه غواړم، توفيق (بريا) مي يوازي د الله په مرستـــي (پوري تړلی) دئ، پر هغه مي توکل دئ او د ده په لوري مي رجوع ده.

وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ
نُوحٍ أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ وَمَا قَوۡمُ لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ٨٩
وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ وَدُودٞ ٩٠ قَالُواْ
يَٰشُعَيۡبُ مَا نَفۡقَهُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفٗاۖ
وَلَوۡلَا رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ٩١ قَالَ يَٰقَوۡمِ
أَرَهۡطِيٓ أَعَزُّ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ ظِهۡرِيًّاۖ إِنَّ
رَبِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ٩٢ وَيَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي
عَٰمِلٞۖ سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَمَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ
وَٱرۡتَقِبُوٓاْ إِنِّي مَعَكُمۡ رَقِيبٞ ٩٣ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ
فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٩٤ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَا بُعۡدٗا
لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ ٩٥ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا

وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ وَمَآ
أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ ﴿٩٧﴾

89- او اې زما قومه! زما مخالفت دي تاسو دې پړاو ته ونه رسوي چي په داسي څه اخته شئ چي د نوح قوم پرې اخته شو، يا د هود قوم، يا د صالح قوم، او د لوط قوم خو ډېر درنه لري نه دئ. 90- او له خپل رب بخښنه وغواړئ بيا د ده لوري ته مخه کړئ، يقيناً چي زما رب مهربان محبت کوونکی دئ. 91- وئې ويل: اې شعيبه! په ډېرو هغو خبرو نه پوهېږو چي ته ئې کوې او موږ خو تا په خپلو منځو کي کمزوری مومو او که ستا ټبر نه وی نو حتماً به مو سنګسار کړی وې او ته راباندي ګران نه يې. 92- وئې ويل: اې زما قومه! آيا زما ټبر تر الله هم درته ډېر ګران او مهم دئ، او هغه مو د شا ته غورځولي په څېر ګرځولی، يقيناً چي زما رب په هغه څه احاطه لري چي تاسو ئې کوئ. 93- او اې زما قومه! تاسو په خپلي خپلي کړنلاري عمل وکړئ او زه هم عمل کوونکی يم، ډېر ژر به پوه شئ چي څوك په داسي عذاب اخته کېږي چي سپك به ئې کړي او څوك دروغجن دئ؟ او انتظار وکړئ چي زه هم له تاسو سره انتظار کوونکی يم. 94- او کله چي زموږ امر راورسېد، په خپل رحمت سره مو شعيب او هغه مؤمنان وژغورل چي له ده سره ول او ظالمان يوې اوچتي چيغي ونيول، نو په خپلو استوګنځيو کي پړمخي مړه پرېوتل. 95- داسي لکه چي (له سره) هلته نه وو اوسېدلي، واوره چي مدين والو ته همغسي ورکوالی ورپه برخه شو لکه چي ثموديان ورك شول. 96- او يقيناً چي موسی مو له خپلو

آیتونو او څرګند حجت سره ولېږو،97- د فرعون او د ده د درباريانو
په لوري، چي هغوی د فرعون د حکم متابعت وکړ، په داسي حال کي
چي د فرعون حکم سم او صحيح نه وو،
يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ
﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ
﴿٩٩﴾ ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيْكَ ۖ مِنْهَا قَآئِمٌ وَحَصِيدٌ
﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنَٰهُمْ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ ۖ فَمَآ أَغْنَتْ عَنْهُمْ
ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِى يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ لَّمَّا جَآءَ أَمْرُ رَبِّكَ ۖ
وَمَا زَادُوهُمْ غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿١٠١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلْقُرَىٰ
وَهِىَ ظَٰلِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُۥٓ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّمَنْ
خَافَ عَذَابَ ٱلْءَاخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ
مَّشْهُودٌ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴿١٠٤﴾ يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ
نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ فَمِنْهُمْ شَقِىٌّ وَسَعِيدٌ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى
ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ
ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ

﴿١٠٧﴾ *وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ
ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴿١٠٨﴾

98- د قيامت په ورځ به د خپل قوم مخکښي کوي او په اور کې به ئې ننباسي، د ننوتو څومره بد ننوتځی، 99- او په دې دنيا کې هم لعنت ورپسې کړی شو او د قيامت په ورځ هم، د څومره بد انعام انعام ورکوونه! 100- دا د دغو کليو (اړوند) خبري دي چي قصه ئې درته کوو، ځيني ئې ولاړ دي او ځيني ئې ربېل شوي، 101- او موږ ظلم نه دئ پرې کړی، ليکن دوی په خپله پر خپل ځان ظلم وکړ، نو کله چي ستا د رب حکم راغی نو خپلو هغو معبودانو هيڅ گټه نه وررورسوله چي له الله پرته ئې مرستي ته وربلل، او له تباهۍ پرته ئې بل څه ورته زيات نه کړل، 102- او ستا د رب نيونه همداسي وي؛ کله چي کلي په داسي حال کې نيسي چي ظالمان وي، بې شکه چي د ده عذاب سخت دردوونکی دئ. 103- يقيناً چي په دې کې هغه چا ته څرگنده نښه ده چي د آخرت له عذابه وېرېږي، دا هغه ورځ ده چي خلك به ورته راغونډ کړی شي، او دا ورځ ليدل کېدونکې ده. 104- او نه ئې ځنډوو مگر تر شمېرلې (لنډي) نېټې. 105- کله چي (دا ورځ) راشي نو هيڅوك به د ده له اجازې پرته خبري نشي کولی، نو ځيني به ئې بد بخته وي او ځيني ئې بختور، 106- نو هغه چي بدبخت شوي په اور کې به وي چي په هغه کې به ئې چيغي او ځگېروي وي (داسي لکه د خرو هنگېدا او کورېدا)، 107- تلپاته په هغه کې، تر هغه چي آسمانونه او زمکه دوام کوي، مگر کله چي ستا رب ئې وغواړي، يقيناً چي ستا رب د هغه کار ښه تر سره کوونکی دئ چي اراده ئې وکړي. 108- او هغه چي بختور شوي نو په جنت

کې به وي؛ تلپاته په هغه کې، تر هغه چې آسمانونه او زمکه دوام کوي، مگر کله چې ستا رب ئې وغواړي، داسي ورکړه چې (لړی ئې) نه پرې کېدونکې ده.

فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ
ءَابَآؤُهُم مِّن قَبْلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ نَصِيبَهُمْ غَيْرَ مَنقُوصٍ ﴿١٠٩﴾ وَلَقَدْ
ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن
رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١١٠﴾ وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا
لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَٰلَهُمْۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١١﴾ فَٱسْتَقِمْ
كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْاْۚ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ
﴿١١٢﴾ وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن
دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ
ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ
ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ وَٱصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ
﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ
ٱلْفَسَادِ فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ

ظَلَمُواْ مَآ أُتۡرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهۡلِكَ
ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا مُصۡلِحُونَ ﴿١١٧﴾

**109**- نو د هغه څه په اړه په شك کې مه پرېوځه چې دا خلك ئې لمانځي، لمانځنه ئې فقط همغسې ده لکه چې د دوی پلرونو تر دې د مخه لمانځنه کوله، او موږ دوی ته خپله برخه بشپړه له کمښت پرته ورکوو. **110**- او يقيناً چې موسی ته مو کتاب ورکړ چې په هغه کې اختلاف وکړی شو، او که ستا د رب مخکنۍ وينا نه وی نو هرومرو به د دوی تر منځ پرېکړه شوې وه، او يقيناً چې دوی په دې اړه په دوکه کوونکي شك کې دي، **111**- او يقيناً چې ستا رب به د دوی هر يوه ته د دوی عملونه په بشپړه توګه ورکړي، يقيناً چې هغه د دوی په کړنو ښه خبر دئ. **112**- نو هم ته همغسې استقامت وکړه لکه چې ګمارل شوی يې او هم هغه چې له تا سره ئې يو ځای (خپل رب ته) مخه کړې، او سرغړاوی مه کوئ، يقيناً چې دی د هغه څه ښه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ، **113**- او د ظالمانو په لوري تمايل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ، په داسې حال کې چې له الله پرته هيڅ اولياء نه لرئ، بيا به مو هيڅوك مرسته ونه کړی شي. **114**- او د ورځې په دواړو خواوو کې او (ورپسې نژدې) د شپې ځيني برخي کې لمونځ کوه، يقيناً چې ښېګڼې بدي له منځه وړي، دا د پند اخيستونکو لپاره پند دئ، **115**- او صبر وکړه چې يقيناً الله د نېکانو اجر نه ضائع کوي. **116**- نو ولې تر تاسو مخکنيو پيړيو کې داسې عقلمن نه ول چې په زمکې کې ئې د فساد مخنيوی کولی، مګر ډېر لږ ئې چې ومو ژغورل، او هغو چې

ظلم ئې کولو د هغه څه متابعت ئې وکړ چې په هغه کې ئې عیش عشرت په برخه کېدو، او جنایتکاران ول. 117- او ستا رب داسې نه دئ چې کلي په داسې حال کې تباه کړي چې استوګن ئې مصلحین وي.

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةًۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ ١١٨ إِلَّا
مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ
مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١١٩ وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ
مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ
لِلۡمُؤۡمِنِينَ ١٢٠ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنَّا
عَٰمِلُونَ ١٢١ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ١٢٢ وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ وَمَا رَبُّكَ
بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٢٣

## سُورَةُ يُوسُفَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ١ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا
لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢ نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ
أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ٣
إِذۡ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبٗا وَٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَ رَأَيۡتُهُمۡ لِي سَٰجِدِينَ ٤

118- او که ستا رب غوښتی نو (له ټولو) خلکو به ئې یو (متحد) امت جوړ کړی وو، خو تل به په خپلو کې سره مختلف وي، 119- مګر هغه چې ستا رب پرې رحم کړی، او د همدې لپاره ئې پیدا کړي، او ستا د رب وینا پای ته رسېدلې چې دوزخ به هرومرو له پېریانو او خلکو ګډ ډکوم. 120- او د پیغمبرانو له (اړوند) خبرو چې د هري یوې قصه درته کوو په دې سره ستا زړه مضبوطوو، او په دې کې تا ته حق راغلی او د مؤمنانو لپاره موعظه او پند. 121- او هغو ته چې ایمان نه راوړي ووایه: تاسو په خپلې کړنلاري عمل وکړئ؛ موږ هم عمل کوونکي یو، 122- او انتظار وکړئ چې موږ هم منتظر یو. 123- او د آسمانونو او زمکې غیب الله ته دي او ټول کارونه ده ته راجع کېږي، نو عبادت ئې وکړه او توکل پرې وکړه او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

## يوسف- مکي سوره- 111 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، راء؛ دا د دې روښانوونکي او څرګند کتاب آیتونه دي. 2- موږ هغه د عربي قرآن په توګه نازل کړی، ترڅو تاسو په ښه شان پرې پوه شئ. 3- ستا په لور د دې قرآن په وحي سره، موږ ترټولو غوره قصې درته کوو، په داسي حال کې چې تر دې مخکې (د نورو په شان له هغو) بې خبره وې، 4- کله چې یوسف خپل پلار ته وویل: پلار جانه! یولس ستوري او لمر او سپوږمۍ (مې په خوب کې) ځان ته د سجدې په حال کې ولیدل.

قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقۡصُصۡ رُءۡيَاكَ عَلَىٰٓ إِخۡوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيۡدًاۖ إِنَّ
ٱلشَّيۡطَٰنَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ٥ وَكَذَٰلِكَ يَجۡتَبِيكَ رَبُّكَ
وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ
يَعۡقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبَّكَ
عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦ ۞لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ
٧ إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّ
أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٨ ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يَخۡلُ
لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ٩ قَالَ
قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ
بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ١٠ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَ۫نَّا
عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ١١ أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ
وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ١٢ قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ
أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ١٣ قَالُواْ لَئِنۡ أَكَلَهُ
ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ١٤

5- وئې ویل: زویکه! خپل خوب دي وروڼو ته مه تېروه، داسي نه چي ستا په ضد کوم پټ تدبیر ونیسي، یقیناً چي شیطان د انسان ښکاره دښمن دئ. 6- او همداسي به ستا پالونکی رب تا غوره کړي او د احادیثو (خبرو) تأویل (ښه او دقیق تعبیر) به درزده کړي او خپلي پېرزویني به پر تا او د یعقوب پر کورنۍ داسي بشپړي کړي لکه چي پخوا ئې ستا پر نیکونو ابراهیم او اسحاق بشپړي کړې، بې شکه چي ستا رب باحکمت پوه دئ. 7- د یوسف او د ده د وروڼو په قصې کي پوښتونکو ته روښانه نښي دي. 8- کله چي دوی وویل: یقیناً چي یوسف او ورور ئې زموږ پلار ته تر موږ ډېر ګران او محبوب دي، په داسي حال کي چي موږ (ډېر او پیاوړې) ډله یو، په دې کي شك نشته چي پلار مو په ښکاره اشتباه کي دئ. 9- یوسف ووژنئ او یا ئې په کومي زمکي کي وغورځوئ، تر څو د خپل پلار پاملرنه درته وزګاره شي او تر دې وروسته صالح ټولی شئ، 10- د دوی یوه ویونکي وویل: یوسف مه وژنئ، که (د ده په ضد څه) کوونکي یئ نو د یوه کوهي په تیاره سوړي کي ئې وغورځوئ، چي کوم کاروان ئې ترلاسه کړي، 11- وئې ویل: پلاره! ولي د یوسف په اړه پر موږ باور نه کوې، حال دا چي موږ ئې خواخوږي یو؟ 12- سبا ئې له موږ سره ولېږه چي (د مېوو په ونو کي) وخري او لوبي وکړي او موږ ئې حتماً ښه ساتونکي یو، 13- وئې ویل: که ئې درسره بوځئ دا مي غمجن کوي او وېرېږم چي لېوه به ئې وخوري او تاسو به ترې غافله وئ، 14- وئې ویل: که لېوه ئې په داسي حال کي وخوري چي موږ یوه (پیاوړې) ډله یو، نو موږ به په دې صورت کي تاواني (بلا وهلي) یو.

فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجۡمَعُوٓاْ أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ وَأَوۡحَيۡنَآ
إِلَيۡهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿١٥﴾ وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ
عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ﴿١٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ
عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ
﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ كَذِبٖۚ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ
أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ
﴿١٨﴾ وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ
هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَرَوۡهُ
بِثَمَنِۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَالَ
ٱلَّذِي ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ أَكۡرِمِي مَثۡوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن
يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا
وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٢٢﴾

15- نو کله چې ئې له ځان سره بوت او په دې سلا شول چې د يوه کوهي په تيارې سوړې کې ئې واچوي او ده ته مو وحي وکړه چې په داسي حال کې به ئې په خپل دې کار خبر کړې چې دوی به ئې احساس هم نه کوي. 16- او ماښام په ژړا خپل پلار ته راغلل، 17- وئې ويل: اې زموږ پلاره! موږ لاړو چې يو له بله د مخکې کېدو زغاسته وکړو او يوسف مو له خپلو شيانو سره پرېښود، نو لېوه وخوړ، او ته به راباندې باور کوونکی نه يې که څه هم موږ رښتيني يو، 18- او کميس ئې په دروغجني ويني لړلی راوړ، وئې ويل: داسي نه ده؛ خپلو نفسونو کوم کار درته ښايسته کړی، نو (زما دې) ښکلی صبر وي او په هغه څه کې خو له الله مرسته غوښتل کېږي چې تاسو ئې بيانوئ. 19- او يو کاروان راغی او خپل اوبه راوړونکی ئې ولېږو او هغه هم خپله بوکه (په څاه کې) کښته کړه، وئې ويل: اې! زېری زېری، دا دئ يو زلمی او هغه ئې د مال متاع په توګه پټ کړ، په داسي حال کې چې الله د دوی په کړنو ښه پوه دئ، 20- او په ناڅيزه بيع؛ څو درهمو ئې وپلورو او د ده په اړه زاهدان ول. 21- او هغه چا چې دی ئې د مصر (له بازاره) وپېرلو خپلې مېرمني ته وويل: مېشت ځای ئې ورته عزتمن کړه، يا به ګټه راورسوي او يا به ئې خپل زوی وګڼو، په دې توګه مو يوسف ته په زمکې کې تمکين ورکړ او چې تأويل الاحاديث ورزده کړو، او الله په خپل کار برلاسی دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي، 22- او کله چې پوخوالي ته ورسېد حکم او علم مو ورکړ او (ټولو) نېکانو ته همداسي بدله ورکوو.

وَرَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيۡتِهَا عَن نَّفۡسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلۡأَبۡوَٰبَ
وَقَالَتۡ هَيۡتَ لَكَۚ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ
لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا
بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنۡ
عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٢٤﴾ وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن
دُبُرٖ وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلۡبَابِۚ قَالَتۡ مَا جَزَآءُ مَنۡ أَرَادَ بِأَهۡلِكَ
سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسۡجَنَ أَوۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَٰوَدَتۡنِي عَن
نَّفۡسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٖ
فَصَدَقَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن
دُبُرٖ فَكَذَبَتۡ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ
مِن دُبُرٖ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيۡدِكُنَّۖ إِنَّ كَيۡدَكُنَّ عَظِيمٞ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ
أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ وَٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ
﴿٢٩﴾ ۞وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن
نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٠﴾

23- او هغې مېرمنې چې دی ئې په کور کې اوسېدو، نفسي غوښتنه ئې ترې وکړه، دروازې ئې وتړلې او وئې ویل: ژر شه، درته تیاره یم، هغه وویل: پناه خدای ته، هغه مې رب دئ، زما مېشت ځای ئې راته ښه او ښایسته کړ، یقیناً چې ظالمان نه ژغورل کېږي، 24- یقیناً چې هم هغې د ده تلوسه وکړه او که ده د خپل رب برهان نه وی لیدلی حتماً ئې د هغې تلوسه کوله، په دې توګه مو فحشاء او بدکاري ترې وګرځوله، بې شکه چې هغه زموږ له مخلصو بندګانو وو، 25- (هغې غوښتل لاس ورواچوي، دی ترې وتښتېدو)، دواړو د دروازې په لوري منډې کړې، له شا ئې کمیس وروشکولو، په دروازې کې ئې د ښځې خاوند وموند، (مېرمنې ئې) وویل: د هغه چا سزا به له دې پرته بل څه وي چې بندي شي او یا دردناك عذاب (ئې په برخه شي) چې غوښتل ئې ستا مېرمنې ته سپکاوی ورواړوي؟! 26- ده وویل: دې له ما نفساني غوښتنه درلوده، د کورنۍ له غړو یوه شاهد داسې شهادت ورکړ: که ئې کمیس له مخې غوڅ شوی وي، نو دې رښتیا ویلي او دی دروغجن دئ27- خو که کمیس ئې له شا غوڅ شوی وي نو بیا خو دې دروغ ویلي او دی رښتینی دئ، 28- چې وئې لیدل کمیس ئې له شا غوڅ شوی، نو خاوند ئې مېرمنې ته وویل: دا د تاسو (ښځو) له مکرونو دئ، ستاسو مکرونه ډېر ستر دي، 29- یوسفه! له دې تېر شه او ته اې ښځې! د خپلې ګناه معافي وغواړه، یقیناً چې خطاء شوې یې!! 30- او د ښار ځینو ښځو وویل: د عزیز مېرمنې له خپل مریي نفسي غوښتنه کړې، یقیناً چې مینې لېواله کړې، موږ ئې په څرګندې غلطۍ کې ګڼو،

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَـًٔا وَءَاتَتْ
كُلَّ وَٰحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ ٱخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ
أَكْبَرْنَهُۥ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَآ
إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِى لُمْتُنَّنِى فِيهِ ۖ وَلَقَدْ
رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَٱسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ
لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَىَّ
مِمَّا يَدْعُونَنِىٓ إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّى كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ
وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱسْتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنْهُ
كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا رَأَوُا۟
ٱلْءَايَٰتِ لَيَسْجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجْنَ فَتَيَانِ ۖ قَالَ
أَحَدُهُمَآ إِنِّىٓ أَرَىٰنِىٓ أَعْصِرُ خَمْرًا ۖ وَقَالَ ٱلْءَاخَرُ إِنِّىٓ أَرَىٰنِىٓ أَحْمِلُ فَوْقَ
رَأْسِى خُبْزًا تَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ مِنْهُ ۖ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِۦٓ ۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ
ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٣٦﴾ قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا
بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِى رَبِّىٓ ۚ إِنِّى تَرَكْتُ مِلَّةَ
قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾

31- نو کله چي ئې د دوی مکرجني خبري واورېدې پیغام ئې ورولېږو او د تکیې ځای ئې ورته برابر کړ او د دوی هري یوې ته ئې چاړه (په لاس کې) ورکړه او (یوسف ته ئې) وویل: د دوی مخي ته ورووځه، نو کله چي ئې هغه ولید، تر خپل ګمان ئې لوړ وموند او خپل لاسونه ئې غوڅ کړل او وئې ویل: پاکي الله ته ده، دا خو انسان نه بلکي له یوې قدرمني او درنې فرشتې پرته بل څه نه دئ، 32- (هغې) وویل: دا همغه څوك دئ چي تاسو پرې ملامتولم، هو؛ ما ترې د زړه مراد وغوښتو او ده ځان لري وساتو، که هغه څه ونه کړي چي زه ئې پرې ګمارم، نو هرو مرو به زنداني شي او حتماً به خوار او سپك شي، 33- (یوسف) وویل: زما ربه! تر هغه څه چي دوی مي وربولي زندان راته غوره دئ او که ته د دوی مکرونه رانه وانه ړوې دوی ته به مایل او د جاهلانو له ډلي به شم، 34- نو رب ئې دعاء قبوله کړه او د دوی مکر ئې ترې وګرځاوو، بې شکه چي هغه پوه اورېدونکی دئ، 35- بیا د څرګندو نښو له لیدو وروسته (دا ورته غوره) وبرېښېده چي څه موده ئې بندي کړي. 36- او له ده سره (په یو وخت) دوه زلمي غلامان هم زندان ته ننوتل، یوه ئې وویل: زه په خوب کي ځان داسي ګورم چي انګور زبېښم او بل (ورته) وویل: زه په خوب کي ځان داسي ګورم چي پر خپل سر ډوډۍ وړم او مارغان ئې خوري، موږ د دې خوبونو په تعبیر پوه کړه، ته راته د نېکانو له ډلي معلومېږې، 37- هغه وویل: لابه هغه خواړه چي (معمولاً هره ورځ) درکول کېږي درته نه وي راغلي چي تعبیر به ئې درته ووایم، دا د هغه علم یوه برخه ده چي زما پالونکي رب راښودلی، ما د هغه قوم دین پرېښود چي پر الله ایمان نه لري او پر آخرت کافران شوي.

وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ
أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى
ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ ﴿٣٨﴾ يَٰصَٰحِبَيِ
ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا
تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ
أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ
إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ
﴿٤٠﴾ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا
ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي
فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٖ مِّنۡهُمَا ٱذۡكُرۡنِي
عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجۡنِ
بِضۡعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ
يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖۖ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ أَفۡتُونِي فِي رُءۡيَٰيَ إِن كُنتُمۡ لِلرُّءۡيَا تَعۡبُرُونَ ﴿٤٣﴾

38- او د خپلو نيکونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب د دين متابعت مي وکړ، موږ ته نه ښايي چي له الله سره کوم څه شريك کړو، دا پر موږ او پر ټولو خلکو د خدای يو فضل او پېرزوينه ده؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي، 39- د زندان ملګرو! آيا ډول، ډول اربابان غوره دي او که يو غالب خدای چي (پر ټولو کائناتو) مسلط دئ؟ 40- له ده پرته خو تاسو د داسي څه عبادت کوئ چي هسي څو نومونه دي چي تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هيڅ دليل ورته نه دئ نازل کړی، حکم (صادرول) خو يوازي الله ته دئ، امر ئې کړی چي له ده پرته د هيچا عبادت مه کوئ، سم او سيده دين همدا دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي. 41- اې د زندان ملګرو! ستاسو يو تن به (آزاد شي او بيا به) د خپل بادار د شرابو ساقي شي او بل به په دار وځړول شي او مرغان به ئې د سر غوښي شکوي، دا دئ هغه کار تر سره شو چي تاسو ئې پوښتنه کوله. 42- بيا ئې د دوی دواړو هغه يوه ته چي ګومان ئې کاوو آزاد به شي؛ داسي وويل: خپل بادار (د مصر پاچا) ته زما يادونه وکړه، خو شيطان د ده وريادول ترې هېر کړل، نو تر څو کلونو په زندان کي پاته شو. 43- او پا چا وويل: زه په خوب کي اوه څوربي غواوي ګورم چي اوه ډنګري غواوي ئې وخوري او اوه شنه وږي او اوه نور وچ، درباريانو! ما د خپل خوب په تعبير خبر کړئ که د خوبونو په تعبير پوهېږئ.

قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٍۖ وَمَا نَحۡنُ بِتَأۡوِيلِ ٱلۡأَحۡلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ
ٱلَّذِي نَجَا مِنۡهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأۡوِيلِهِۦ فَأَرۡسِلُونِ
﴿٤٥﴾ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفۡتِنَا فِي سَبۡعِ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ
سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖ لَّعَلِّيٓ أَرۡجِعُ إِلَى
ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا فَمَا
حَصَدتُّمۡ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا تَأۡكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأۡتِي
مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ سَبۡعٞ شِدَادٞ يَأۡكُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا
تُحۡصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَامٞ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ
يَعۡصِرُونَ ﴿٤٩﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ
ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي
بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن
نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ
ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا
يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾

44- هغوی وویل: دا هسې د خیالاتو ګېډۍ ده (ګډ وډ خوبونه دي) او موږ د دغو خیالي خوبونو په تعبیر نه پوهېږو. 45- او له هغو دوو یوه ژغورل شوي کس، چې له څه مودې وروسته خبره ورپه یاد شوې وه، وویل: زه به مو پرې خبر کړم، ما (د یوسف د لیدو لپاره) ولېږئ!، 46- (هغه وویل): اې رښتینی یوسفه! د اوه څوربو غواوو چې اوه ډنګري غواګانې ئې وخوري او اوه شنو وږیو او اوه وچو وږیو په تعبیر مو خبر کړه، ښایي هغو خلکو ته ورستون شم، هیله ده چې پرې پوه شي. 47- وئې ویل: تر اووو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې ترلاسه کوئ په خپلو وږیو کې ئې پرېږدئ مګر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، 48- بیا به له دې وروسته اوه نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخیره کړي مو وي، مګر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. 49- بیا به له دې وروسته داسې کال راشي چې په هغه کې به پر خلکو بارانونه وورېږي او په هغه کې به (خلك د مېوو) عصاره وباسي. 50- او پاچا وویل: ما ته ئې راولئ؛ خو کله چې (د پاچا) قاصد ورغی، وئې ویل: بادار ته دې ستون شه او وئې پوښته چې د هغو ښځو حال به څنګه وي چې خپل لاسونه ئې پرې کړل؟ که څه هم زما پالونکی رب د دوی په هغه مکر ډېر ښه پوهېږي، 51- (پاچا) وویل: هغه وخت چې تاسو له یوسف د زړه مراد غوښتی وو، خبره مو څنګه وه؟! هغوی وویل: خدای ته پناه وړو! موږ په هغه کې هیڅ بدي نه ده لیدلې، د مصر د عزیز ښځې وویل: اوس حقیقت څرګند شو، ما ترې د زړه مراد وغوښت او هغه یقیناً چې له رښتینو دئ، 52- (زما دا اعتراف) د دې لپاره دئ چې پوه شي په غیاب کې مې خیانت ورسره نه دئ کړی او د دې لپاره چې (پوهېږم) خدای د خائنانو تدبیرونه نه هدایتوي.

۞وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ
رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ لِنَفۡسِيۖ
فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ﴿٥٤﴾ قَالَ ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ
خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ﴿٥٥﴾ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي
ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا
نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾ وَجَآءَ إِخۡوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَعَرَفَهُمۡ وَهُمۡ
لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمۡ قَالَ ٱئۡتُونِي بِأَخٖ لَّكُم
مِّنۡ أَبِيكُمۡۚ أَلَا تَرَوۡنَ أَنِّيٓ أُوفِي ٱلۡكَيۡلَ وَأَنَا۠ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِن
لَّمۡ تَأۡتُونِي بِهِۦ فَلَا كَيۡلَ لَكُمۡ عِندِي وَلَا تَقۡرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ
سَنُرَٰوِدُ عَنۡهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتۡيَٰنِهِ ٱجۡعَلُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ
فِي رِحَالِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَعۡرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ
﴿٦٢﴾ فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ
مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾

53- او زه خپل ځان نه سپینوم، په دې کې شك نشته چې نفس د بدۍ
په لور ډېر هڅوونکی دئ، مګر هغه چې زما پالونکی خدای پرې
ورحمېږي، بې شکه چې زما پالونکی رب ډېر مهربان بخښونکی دئ.
54- او پاچا وویل: هغه ما ته راولئ چې ځان ته ئې مختص کړم، خو
کله چې ئې خبري ورسره وکړې وئې ویل: ته (له همدې) نننۍ ورځې
زموږ په دربار کې واکمن امین یې، 55- ده وویل: ما (یوازي) د دولت
د خزانو پر چارو وګماره، باور وکړه چې ښه او پوه ساتونکی به وم، 56-
او په دې توګه مو یوسف په هغه ملك کې متمکن کړ، چې هر ځای او
په هر ډول ئې غوښتل مېشت کېدی شو، چا ته چې مو خوښه شي
خپل رحمت او پېرزوینه ورپه برخه کوو او موږ د نېکانو اجر او بدله
نه ضائع کوو. 57- او د هغو لپاره چې ایمان ئې راوړی او پرهیزګاري
ئې کوله، اخروي اجر او بدله تر دې هم ډېره غوره ده. 58- د یوسف
وروڼه راغلل او د ده محضر ته ننوتل، داسي چې ده وپېژندل خو دوی
ونه پېژاندو، 59- او چې کله ئې په خپلو بارونو سمبال کړل ورته وئې
ویل: خپل هغه ورور هم راولئ چې له پلاره مو (ورور) دئ، نه ګورئ
چې زه ډکې پیمانې ورکوم او ښه مېلمه پال یم؟ 60- خو که ئې ما
ته را نه ولئ؛ نو نه به له ما سره تاسو ته کومه پیمانه وي او نه به ما
ته رانژدې کېږئ. 61- هغوی وویل: له پلاره به ئې حتماً د ده (د لېږلو)
غوښتنه وکړو او موږ هرومرو د دې کار کوونکي یو. 62- او خپلو
(مؤظفو) زلمیانو ته ئې وویل: د دوی هغه مال (په پټه) د دوی په پېټو
کې کېږدئ، داسي چې کور ته د ستنېدو پر مهال پرې پوه شي، ترڅو
بېرته راوګرځي. 63- نو کله چې خپل پلار ته ستانه شول وئې ویل:
پلاره! له موږ یوه پیمانه وسپمول شوه، نو خپل ورور مو راسره ولېږه
تر څو (بشپړي) پیمانې ترلاسه کړو، موږ به ئې هرو مرو ساتونکي یو.

قَالَ هَلْ ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ
فَٱللَّهُ خَيْرٌ حَٰفِظًاۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ٦٤ وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمْ
وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِيۖ هَٰذِهِۦ
بِضَٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَاۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ
بَعِيرٍۖ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ٦٥ قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُۥ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ
مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمْۖ فَلَمَّآ ءَاتَوْهُ
مَوْثِقَهُمْ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ٦٦ وَقَالَ يَٰبَنِيَّ لَا
تَدْخُلُواْ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُواْ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍۖ وَمَآ أُغْنِي
عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُۖ
وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ٦٧ وَلَمَّا دَخَلُواْ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ
أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِي عَنْهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِي
نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَاۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَٰهُ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٦٨ وَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ
إِلَيْهِ أَخَاهُۖ قَالَ إِنِّيٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ٦٩

64- وئې ويل: آيا د ده په اړه داسي باور درباندي وکړم لکه مخکي چي مي د ده د ورور په اړه باور درباندي کړی وو؟ (همدا او بل څه نه؟) خدای خورا ښه ساتونکی دئ او هغه تر هر رحم کوونکي زيات مهربانه دئ. 65- خو کله چي ئې خپل پېټي پرانيستل؛ نو خپله بضاعه (جنس) ئې وموندو چي ورگرځول شوی، وئې ويل: اې پلاره! نور نو څه غواړو؟ دا هم زموږ بضاعه (جنس) چي بېرته راکړی شوی، (پرېږده چي بيا ولاړ شو) او خپله کورنۍ له لوړي وژغورو، د خپل ورور ساتنه وکړو او د يوه اوښ (بار) پيمانه رازياته کړو، دا خو يوه آسانه پيمانه ترلاسه کول دي!! 66- وئې ويل: تر هغه به ئې درسره ونه لېږم چي کلکه الهي ژمنه راسره وکړئ چي بېرته به ئې رارسوئ مگر دا چي محاصره او ايسار کړی شئ او چي کله ئې کلك قول ورکړ، وئې ويل: پر هغه څه چي موږ ئې وايو الله وکيل او ذمه وار دئ. 67- وئې ويل: زامنو! له يوې دروازې (ښار ته) مه ننوځئ، له مختلفو دروازو ورننوځئ او زه (په دې وينا سره) د الله کومه پرېکړه درنه نه شم دفع کولی، د پرېکړو واك خو يوازي له الله سره دئ، پر هغه مي توکل دئ او هر توکل کوونکی بايد پر هغه توکل وکړي. 68- او کله چي (مصر ته) هماغسي ننوتل چي خپل پلار ورته ويلي وو، هغه د الله هيڅ پرېکړه نه ترې دفع کوله، دا خو د يعقوب په زړه کي هسي له يوې هيلي پرته بل څه نه وو چي تر سره ئې کړه او يقيناً چي دی د هغه علم خاوند وو چي موږ ورښودلی وو، خو ډېری خلك نه پوهېږي. 69- او کله چي د يوسف محضر ته ننوتل؛ خپل سکه ورور

ئې په خپل ځنګ کې کښېناوو او وئې ويل: زه ستا هماغه (ورك شوی) ورور يم، پر هغه څه چې دوی کول مه مأيوس کېږه!

فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ
مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم
مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ نَفْقِدُ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ
حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا جِئْنَا
لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن
كُنتُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ
جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ
أَخِيهِ ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ۚ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا
كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ نَرْفَعُ
دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾ ۞ قَالُوٓا۟ إِن
يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ
وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ

﴿٧٧﴾ قَالُوٓاْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبٗا شَيۡخٗا كَبِيرٗا فَخُذۡ أَحَدَنَا
مَكَانَهُۥٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٧٨﴾

70- او چي كله ئې دوى په سامان سمبال كړل، نو د اوبو لوښى ئې د خپل ورور په پېټي كې كېښود، بيا جارچي غږ كړ: كاروانيانو! تاسي حتماً غله ياست! 71- دوى مخ ورواړاوو او وئې ويل: څه شى لټوئ؟ 72- ورته وئې ويل: شاهي پيمانه لټوو، هر څوك چي هغه راوړي د يوه اوښ بار د هغه شو او زه د دې ذمه وار يم. 73- دوى وويل: په خداى قسم، تاسي پوهېږئ چي موږ د دې لپاره نه يو راغلي چي په زمكه كې فساد وكړو او موږ غله نه يو. 74- ورته وئې ويل: كه چېري درواغجن وئ نو جزاء به ئې څه وي؟ 75- وئې وويل: جزاء به ئې دا وي چي د چا په پېټي كې پيدا شو هغه به په بدل كې اخيستل كېږي، موږ ظالمانو ته داسي سزا وركوو. 76- نو د خپل ورور تر پېټي مخكي ئې (دنورو) له پېټو پيل كړه، بيا ئې د ورور له پېټي راوايسته، داسي مو يوسف ته تدبير وروښود، خپل ورور ئې د پاچا د دين له مخي نه شو نيولى، مگر دا چي الله غوښتي وى، د هغه چا درجې لوړوو چي موږ ئې غواړو او د هر پوهندوى پر سر بل ښه پوه شته. 77- (ورونو) ئې وويل: كه ده (نن) غلا كړې، نو سكه ورور ئې تر ده د مخه غلا كړې!! يوسف دا خبره په خپل زړه كې وساتله او (له ځان سره ئې) وويل: تاسو په ډېر بد مقام او حالت كې يئ او الله تعالى ستاسو د وينا په حقيقت ښه پوه دئ. 78- (د يوسف ورونو) وويل:

عاليقدره! رښتيا درته وايو چي دی ډېر عمر خوړلی سپين ږيری پلار لري، د ده په ځای زموږ يو تن په اسارت ونيسه، موږ دي له نېکانو بولو.

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأۡخُذَ إِلَّا مَن وَجَدۡنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا
لَّظَٰلِمُونَ ٧٩ فَلَمَّا ٱسۡتَيۡـَٔسُواْ مِنۡهُ خَلَصُواْ نَجِيّٗاۖ قَالَ كَبِيرُهُمۡ أَلَمۡ
تَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ أَبَاكُمۡ قَدۡ أَخَذَ عَلَيۡكُم مَّوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبۡلُ
مَا فَرَّطتُمۡ فِي يُوسُفَۖ فَلَنۡ أَبۡرَحَ ٱلۡأَرۡضَ حَتَّىٰ يَأۡذَنَ لِيٓ أَبِيٓ أَوۡ
يَحۡكُمَ ٱللَّهُ لِيۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨٠ ٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيكُمۡ
فَقُولُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدۡنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمۡنَا وَمَا
كُنَّا لِلۡغَيۡبِ حَٰفِظِينَ ٨١ وَسۡـَٔلِ ٱلۡقَرۡيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا وَٱلۡعِيرَ
ٱلَّتِيٓ أَقۡبَلۡنَا فِيهَاۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٨٢ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ
أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٌۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِيَنِي بِهِمۡ جَمِيعًاۚ
إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٨٣ وَتَوَلَّىٰ عَنۡهُمۡ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ
يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ٨٤ قَالُواْ تَٱللَّهِ
تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوۡ تَكُونَ مِنَ

ٱلۡهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾

79- وئې ويل: خدای ته پناه (وړم) چي له هغه چا پرته بل څوك په اسارت ونيسو چي خپله متاع مو ورسره موندلې، په هغه صورت کي خو به د ظالمانو له ډلي وو. 80- نو کله چي ترې ناهيلي شول، د پټو خبرو لپاره گوښې ته (له خلکو بېل) شول، مشر ئې وويل: مگر دې ته مو پام نه دئ چي خپل پلار مو د الله په نامه ژمنه درنه اخيستې؟ او تر دې د مخه مو چي د يوسف په اړه تېری کړی وو؟ زه خو به تر هغه دا زمکه هيڅکله پرې نږدم چي يا مي پلار اجازه راکړي او يا الله تعالی زما په اړه کومه پرېکړه وکړي او هغه تر ټولو غوره حکم کوونکی دئ. 81- پلار ته مو ورشئ او ورته ووايئ: اې زموږ پلاره! زوی دي غلا وکړه، دا شهادت مو له هغه پرته په بل څه نه دئ ولاړ چي موږ په خپله پرې پوه شوي يو، او موږ خو په غياب کي (د ده) څارونکي نه وو. 82- له هغه کلي چي په کي وو او له هغه کاروانه چي په کي راغلو پوښتنه وکړه، ډاډه اوسه چي موږ رښتيني يو. 83- وئې ويل: داسي نه ده؛ بلکي ستاسو نفسونو کوم کار درته ښايسته کړی، نو (زما دي) غوره صبر وي، امېد دئ چي الله تعالی ټول راته راولي، بې شکه چي هغه باحکمت پوه دئ. 84- او لدوی ئې مخ واړاوو او وئې ويل: وای افسوس د يوسف په حال! له غمه ئې د سترگو تور سپين شو، او هغه د غمونو زغمونکی وو، 85- (زامنو) ورته

ويل: په خدای قسم؛ تل يوسف دومره يادوې چي غم ځپلی شې او يا به
هلاك شې. 86- وئې ويل: زه خو خپل غم او خفگان خدای ته ژاړم او د
الهي علم په هغه څه پوهېږم چي تاسي پرې نه پوهېږئ.

يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن
رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ
٨٧ فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَيۡهِ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا
ٱلضُّرُّ وَجِئۡنَا بِبِضَٰعَةٖ مُّزۡجَىٰةٖ فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ وَتَصَدَّقۡ
عَلَيۡنَآۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ ٨٨ قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا
فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ٨٩ قَالُوٓاْ أَءِنَّكَ
لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ
إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ
٩٠ قَالُواْ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ٩١
قَالَ لَا تَثۡرِيبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ٩٢ ٱذۡهَبُواْ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ
بَصِيرٗا وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩٣ وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ

أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴿٩٤﴾ قَالُواْ تَٱللَّهِ
إِنَّكَ لَفِي ضَلَٰلِكَ ٱلْقَدِيمِ ﴿٩٥﴾

87- زما زامنو! لاړشئ! یوسف او د هغه ورور ولټوئ او د خدای
له رحمته مه ناهیلي کېږئ، دخدای له رحمته له کافري ډلي پرته
بل څوك نه ناهیله کېږي. 88- کله چي د ده محضر ته ننوتل؛ نو
وئې ویل: عالیقدره! موږ او زموږ کورنۍ کړاوونو ځپلي یو، له
ناڅیزي متاع سره راغلي یو، پوره پیمانه را او (څه) د صدقې په
توګه راکړه، بې شکه چي خدای صدقه ورکوونکو ته اجر او بدله
ورکوي. 89- وئې ویل: آیا پوهېږئ چي تاسو له یوسف او ورور
سره ئې په ناپوهۍ کي څه وکړل؟ 90- هغوی وویل: آیا په رښتیا
ته یوسف یې؟ وئې ویل: هو! زه یوسف یم او دا مي ورور دئ،
یقیناً چي خدای پر موږ احسان وکړ، څوك چي تقوی غوره کړي
او صبر وکړي، نو خدای هیڅکله د دغو نېکانو اجر نه ضائع کوي.
91- هغوی وویل: پر خدای قسم چي الله تا ته پر موږ غوره والی
درکړی او یقیناً چي موږ خطاء کوونکي وو. 92- وئې ویل: نن هیڅ
پړه دربانديي نشته، خدای دي بخښنه درته وکړي او هغه تر هر
رحم کوونکي زیات مهربان دئ. 93- زما دا کمیس یوسئ او زما د
پلار پرمخ ئې وغوړوئ، لیدونکی به شي او خپله ټوله کورنۍ ما ته
راولئ. 94- کله چي کاروان له (مصره) لري شو؛ نو پلار ئې وویل:

كه مي بې عقله ونه گڼئ زه خو (نن) د يوسف (خوږ) بوی احساسوم! 95- ورته وئې ويل: په خدای قسم چې ته په خپلې پخوانۍ اشتباه کې يې (زاړه خيالونه دې غلطوي)!

فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلۡبَشِيرُ أَلۡقَىٰهُ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ فَٱرۡتَدَّ بَصِيرٗاۖ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا ٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَآ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوۡفَ أَسۡتَغۡفِرُ لَكُمۡ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُواْ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَبَوَيۡهِ وَقَالَ ٱدۡخُلُواْ مِصۡرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدٗاۖ وَقَالَ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأۡوِيلُ رُءۡيَٰيَ مِن قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا رَبِّي حَقّٗاۖ وَقَدۡ أَحۡسَنَ بِيٓ إِذۡ أَخۡرَجَنِي مِنَ ٱلسِّجۡنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ مِنۢ بَعۡدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بَيۡنِي وَبَيۡنَ إِخۡوَتِيٓۚ إِنَّ رَبِّي لَطِيفٞ لِّمَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾ *رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِي مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ أَنتَ وَلِيِّۦ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ تَوَفَّنِي مُسۡلِمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ

ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۖ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ أَجۡمَعُوٓاْ أَمۡرَهُمۡ وَهُمۡ
يَمۡكُرُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾

96- نو کله چي زېرى ورکوونکی قاصد راورسېد، د ده پر مخ ئې وغوړاوو ناڅاپه ئې سترګي رڼې شوې، وئې ويل: نه مي وو درته ويلي چي د الله له لوري د راکړی شوي علم په وجه په هغه څه پوهېږم چي تاسو پرې نه پوهېږئ. 97- وئې ويل: پلاره! زموږ د ګناهونو بخښنه راته وغواړه، يقيناً چي موږ خطا کاران وو. 98- وئې ويل: ژر به له خپل رب بخښنه درته وغواړم، بې شکه چي هغه مهربان بخښونکی دئ. 99- نو کله چي د يوسف محضر ته ننوتل، مور او پلار ئې په خپلې خوا کې کښېنول او وئې ويل: که خدای کول په ډاډ او امن سره مصر ته داخل شئ. 100- او خپل مور او پلار ئې تخت ته لوړ کړل او ورته په سجده شول او وئې ويل: مهربانه پلاره! دا هماغه زما د پخواني خوب تعبير دئ چي پالونکي رب رښتينی کړ او له ما سره ئې هغه مهال هم احسان وکړ چي له زندانه ئې وايستم او تاسو ئې له بېديا دلته راوستلئ، وروسته له هغه چي شيطان زما او زما د وروڼو تر منځ شخړه راولاړه کړه، بې شکه چي زما پالونکی رب د هر څه لپاره چي وغواړي لطيف دئ، (په لطافت او دقت سره ورته رسي) يقيناً چي هغه باحکمت پوه دئ. 101- زما پالونکيه! پاچاهي دي راکړه او تأويل الاحاديث دي رازده کړ، د آسمانونو او زمکي خالقه! ته مي په دنيا او آخرت کې مولا يې، ما مسلمان وفات کړه او له صالحانو سره مي يو ځای کړه. 102- دا د غيب خبري دي چي په وحي سره ئې تا ته درښيو

او ته هغه مهال د دوی په څنګ کې نه وې چې په خپل کار متفق شول په داسي حال کې چې پټ تدبیر ئې جوړولو. 103- ډېری خلك داسي دي چې که ته هر څومره تلوسه وکړې ایمان نه راوړي.

وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ وَكَأَيِّن
مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَاوَهُمْ عَنْهَا
مُعْرِضُونَ ﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾
أَفَأَمِنُوٓاْ أَن تَأْتِيَهُمْ غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ
بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ أَدْعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ
بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِىۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾
وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰٓۗ
أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن
قَبْلِهِمْۗ وَلَدَارُ ٱلْءَاخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠٩﴾ حَتَّىٰٓ
إِذَا ٱسْتَيْـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُواْ جَآءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّىَ
مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١١٠﴾ لَقَدْ كَانَ فِى
قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُوْلِى ٱلْأَلْبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَىٰ وَلَٰكِن

تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١١١﴾

104- او ته كومه بدله نه ترې غواړې، دا خو عالمیانو ته له پند پرته بل څه نه دئ. 105- او په آسمانونو او زمكې كې څومره داسې نښې، نښانې شته چې دوی پرې تېرېږي خو دوی مخ ترې اړوي. 105- او ډېری ئې پر الله ایمان نه راوړي؛ مگر دا چې شرك كوونكي وي. 106- آیا له دې ځان خوندي گڼي چې د كوم الهي عذاب سیوری پرې وغوړېږي او یا قیامت په داسې حال كې ناڅاپه پرې راشي چې بې خبره وي. 107- ووایه: همدا مې لار ده، د الله لور ته په بصیرت سره بلنه وركوم، زه هم او هغه هم چې زما متابعت كوي او زه له مشركانو نه یم. 108- او تر تا مخكې مو چې له كلیوالو څوك لېږلي او وحي مو ورته كړې له سړو پرته بل څوك (فرشتې) نه ول؛ آیا د زمكې پر مخ نه دي گرځېدلي او نه ئې دي لیدلي چې تر دوی د مخكنیو پایله څنگه وه؟ او د استوگنې اخروي ځای خو د هغو لپاره ډېر غوره دئ چې تقوی ئې كوله، آیا تعقل نه كوئ؟ 109- تر هغه چې پیغمبران ناهیلي شوي او انگېرلې ئې ده چې درواغجن انتظار تېر ایستي دي، ناڅاپه زموږ نصرت او مرسته وررسېدلې او هغه څوك ژغورل شوی چې موږ غوښتل او زموږ عذاب له مجرمینو نشي ایسارېدی. 111- یقیناً چې د دوی په قصو كې عقلمنو ته ځانگړی پند او عبرت دئ، دا هسې له ځانه

جوړه شوې وینا نه ده، بلکې تر ځان د مخکنیو تصدیق او تأیید دئ او د هر څه تفصیل او د ایمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

## سُورَةُ الرَّعۡدِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ١ ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ
كُلّٞ يَجۡرِى لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم
بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ٢ وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا
رَوَٰسِىَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِى
ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ٣ وَفِى ٱلۡأَرۡضِ
قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ
صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِى ٱلۡأُكُلِۚ
إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٤ ۞وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ
قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِى خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِىٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ
فِيهَا خَٰلِدُونَ ٥

## الرعد- مکي سوره- 43 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، میم، راء، دا د همغه کتاب آيتونه دي، او څه چي ستا د رب له لوري درته نازل شوي رښتيني دي خو ډېرى وګړي ايمان نه راوړي. 2- هغه الله چي آسمانونه ئې له داسي ستنو پرته لوړ کړل چي تاسو ئې وينئ، بيا پر عرش برابر شو، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړل، هر يو له ټاکلې نېټې سره سم درومي، کارونه سنبالوي، آيتونه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چي د خپل رب په ملاقات يقين وکړئ. 3- او دى همغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه او په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، او په هغې کي ئې د هري مېوې دوه ګوني جوړه پيدا کړه، شپه پر ورځ راکاږي، يقيناً چي په دې کي د تفکر کوونکو وګړو لپاره نښي دي. 4- او په زمکي کي څنګ په څنګ پرتې ټوټې دي او د انګورو باغونه او کښتونه او د کجورو ګډبنستې او بېل بنستې ونې چي په يو ډول اوبو خړوبېږي، په داسي حال کي چي ځينو ته مو پر ځينو نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکړى، يقيناً چي په دې کي د تعقل کوونکو لپاره څرګندي نښي دي. 5- او که ته تعجب کوې نو د دوى وينا عجيبه ده چي (وايي) که خاوري شوي وو نو آيا په نوي پيدايښت کي به (بيا راپيدا) کېږو؟ دوى همغه دي چي د خپل رب په اړه ئې کفر وکړ، او دوى همغه دي چي زنځيرونه ئې په غاړو کي دي، او دوى دوزخيان دي، په هغه کي تلپاته.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ
ٱلْمَثُلَٰتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ
لَشَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٦﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ
مِّن رَّبِّهِۦٓ ۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿٧﴾ ٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ
كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَىْءٍ عِندَهُۥ
بِمِقْدَارٍ ﴿٨﴾ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْكَبِيرُ ٱلْمُتَعَالِ ﴿٩﴾ سَوَآءٌ
مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ
بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ
خَلْفِهِۦ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ
يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوْمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥ ۚ وَمَا
لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا
وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ
بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا
مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴿١٣﴾

6- او له تا په تلوار سره تر ښېګڼې د مخه بدي (عذاب) غواړي، په داسې حال کې چې تر دوی وړاندې د عذابونو بېلګې تېرې شوې، او يقيناً چې ستا رب د خلکو په اړه د بخښنې خاوند دئ د دوی له ظلمونو سره سره، او يقيناً چې رب دې حتماً کلك تعذيبوونکی دئ. 7- او هغه چې کفر ئې کړی وايي: ولې د ده د رب له لوري کومه ښکاره نښه نه پرې نازلېږي؟! يقيناً چې ته خو يوازې يو خبرداری ورکوونکی يې او هر قوم ته يو لارښود وي. 8- الله په هغه څه پوهېږي چې هره ښځينه ئې (په خپل رحم کې) وړي، او په هغه څه هم چې رحِمونه ئې کموي او په هغه څه هم چې زياتوي ئې، او هر څه د ده خوا ته په يوه (خاص) مقدار کې دي. 9- په ناڅرګند او څرګند پوه، ستر د لوړ شأن خاوند ذات. 10- که ستاسو څوك خبره پټوي او څوك ئې څرګندوي، او که څوك په شپه کې ځان پټوي او په ورځې کې (څرګند) درومي يو برابر دي. 11- ده ته په مخکې او تر شا ئې پرله پسې راتلونکې ټولګي دي چې د الله په حکم ئې ساتنه او څارنه کوي، يقيناً چې الله هغه څه نه بدلوي چې د يوه قوم په برخه شوي تر هغه چې دوی خپل ځاني حالت بدل کړي، او کله چې الله د کوم ولس په اړه د مصيبت اراده وکړي نو هيڅ ستنېدا ئې نشته او له ده پرته هيڅ مرستندوی نه لري. 12- دی همغه ذات دئ چې برېښنا د وېرې او طمعې په توګه درښيي او درنې ورېځې راپيدا کوي. 13- او تالنده ئې له ستاينې سره تسبيح وايي او فرشتې ئې له وېرې، او تندرونه (ټکه) رالېږي او هغه څوك پرې اخته کوي چې دی ئې غواړي، په داسې حال کې چې دوی د الله په اړه جدل کوي او هغه د نيونې او عذاب له پلوه ډېر شديد دئ.

لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۚ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ
إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ
ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ١٤ وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَظِلَٰلُهُم بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ۩ ١٥ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ
لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ
تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ
فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ
١٦ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ
زَبَدٗا رَّابِيٗاۖ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٖ زَبَدٞ
مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ
جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ
ٱلۡأَمۡثَالَ ١٧ لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ
لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ
لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ١٨

14- رښتينې بلنه د ده ده، او هغه چي له ده پرته نور وربلي په هيڅ څه سره به اجابت ورته ونه کړي، مګر (حال ئې) هغه چا ته ورته دئ چي د اوبو لوري ته لاس غزوي چي (په خپله ئې) خولې ته ورسېږي، خو هغه وررسېدونکې نه دي، او د کافرانو دعاء خو هسي په تېروتني کي دعاء ده. 15- او الله ته هر هغه څه چي په آسمانونو او زمکي کي دي او د دوی سيوري هم، په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي. 16- ووايه: د آسمانونو پالونکی څوك دئ؟ ووايه: الله، ووايه: نو بيا له ده پرته مو داسي اولياء نيولي چي نه ځان ته د ګټي "رسولو" خاوند دي او نه د ضرر؟ ورته ووايه: آيا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آيا تياره او رڼا سره برابره ده؟ آيا الله ته ئې داسي شريکان (په خپل ذهن کي) جوړ کړي چي (څه ئې) پيدا کړي وي لکه الله چي پيدا کړي؟ نو پيدايښت پرې مشتبه او شکمن شوی؟ ووايه: الله د هر څه خالق دئ او دی يوازينی قهار رب دئ. 17- له آسمانه ئې اوبه راکوزي کړې نو خوړونه په خپلي خپلي اندازې وبهېدل، بيا سېل تلونکي ځګونه پر سر واخيستل، او پر هغه څه هم دې ته ورته ځګ وي چي د ګاڼو او سامان (جوړولو) په لټه کي اور پرې بلوي، الله د حق او باطل (مثالونه) همدا رنګه بيانوي، نو دا ځګ چي دئ په وچېدو سره له منځه ځي، او هغه چي خلکو ته ګټه رسوي په زمکي کي پاته کېږي، الله په دې توګه متلونه تېروي. 18- هغو ته چي د خپل رب بلنه ئې ومنله ښکلې (پايله او بدله) ده، او هغه چي د ده منته ئې ونه کړه (داسي حالت به ئې وي چي) که په زمکي کي ټول څه او همدومره نور ورسره يوځای د دوی په برخه وي په بدل کي به ئې ورکړي، دا همغه ډله ده چي بده محاسبه به ئې په برخه وي او استوګنځی ئې دوزخ دئ، او څومره بد ځمځی!!

۞أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰٓ ۚ إِنَّمَا
يَتَذَكَّرُ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ
ٱلْمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ
رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ
وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ
بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ
يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ
عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ
وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ أُو۟لَٰٓئِكَ
لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ
وَفَرِحُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٌ ﴿٢٦﴾
وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ
يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَطْمَئِنُّ
قُلُوبُهُم بِذِكْرِ ٱللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

19- آیا هغه څوك چې پوهېږي هغه څه حق دي چې ستا د رب له لوري درته نازل شوي؛ د هغه چا په څېر دئ چې ړوند وي؟ یقیناً چې یوازې عقلمن پند اخلي؛ 20- هغه چې په الهي ژمني وفا کوي او دا تړون نه ماتوي. 21- او هغه چې (ټولي) هغه اړیکي وصلوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او له خپل رب وېرېږي او له بد حساب ترهه لري. 22- او هغه چې د خپل رب د رضاء په لټه کې ئې صبر وکړ او په پټه او ښکاره توگه ئې هغه څه انفاق کړل چې موږ ورروزي کړي او په ښېگڼي سره بدي دفع کوي، دوی همغه دي چې د آخرت (غوره) ځمځی به ئې پایله وي، 23- داسي تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي او د دوی صالح پلرونه، مېرمني او اولاد هم، او ملائکي به له هري دروازې پرې ورننوځي، 24- (او وایي به) پر تاسو دي د هغه صبر له امله سلام وي چې وموکړ، نو څومره غوره دئ دا وروستنی ځمځی. 25- او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې کړې او هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکي کې فساد کوي، دوی ته لعنت دئ او دوی ته بد ټاټوبی دئ. 26- دا الله دئ چې چا ته وغواړي روزي ورته پراخوي او تنگوي ئې، او (دوی) په دنیایي ژوند ښاد شول، حال دا چې دنیایي ژوند د آخرت په پرتله له (ناڅیزي) متاع پرته بل څه نه دئ. 27- او هغه چې کفر ئې کړی وایي: ولي د خپل رب له لوري کوم آیت نه دئ پرې نازل شوی؟ ووایه: یقیناً چې الله هغه څوك بې لاري کوي چې دی ئې وغواړي او هغه څوك د ځان لوري ته هدایت کوي چې (ده ته) ورگرځېدلی. 28- هغه چې ایمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه مطمئن کېږي، پام چې د الله په ذکر او یادولو سره زړونه مطمئن کېږي.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴿٢٩﴾
كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ
ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ
إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾ وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ
ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ
جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ
جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ
تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ
ٱلۡمِيعَادَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ
كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنۡ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ
كُلِّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلۡ سَمُّوهُمۡۚ أَمۡ تُنَبِّـُٔونَهُۥ
بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَم بِظَٰهِرٖ مِّنَ ٱلۡقَوۡلِۗ بَلۡ زُيِّنَ لِلَّذِينَ
كَفَرُواْ مَكۡرُهُمۡ وَصُدُّواْ عَنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنۡ هَادٖ ﴿٣٣﴾ لَّهُمۡ عَذَابٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ
وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ﴿٣٤﴾

29- هغه چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، دوی ته سپېڅلی (ژوند او رزق) دئ او غوره مېشتځی. 30- همداسې مو په هغه امت کې استازی کړې چې یقیناً تر دوی وړاندې نور امتونه تېر شوي وو، تر څو هغه څه پرې ولولې چې تا ته مو وحې کړي، په داسې حال کې چې د رحمن ذات په اړه کفر کوي. ووایه: هغه مې رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، پر ده مې توکل کړی او د ده لوري ته مې ورتګ دئ. 31- او که څه هم داسې کوم قرآن وی چې غرونه پرې خوزېدی شوی، ځمکه پرې ټوټې ټوټې کېدی شوی او مړي پرې په خبرو راتلی شوی، (بیا به هم دوی انکار کاوو)، بلکې ټولې چارې د الله په واك کې دي، آیا هغه چې ایمان ئې راوړی له دې ندي ناهیلي شوي چې که الله غوښتی نو حتماً به ئې ټول خلك هدایت کړي ول، کافران به تل داسې وي چې یا به د خپلو کړنو له کبله مخامخ په پرېکنده عذاب اخته کېږي او یا به ئې کورونو ته څېرمه راپرېوځي، تر هغه چې د الله د وعدې نېټه راورسي. یقیناً چې الله له (خپلې) وعدې نه په شا کېږي. 32- او یقیناً چې تر تا مخکې پیغمبرانو باندې استهزاء شوې، نو موږ هغو کسانو ته چې کافران شوي وو مهلت ورکړ، بیا مو ونیول، نو وګوره چې دا څنګه عذاب وو. 33- نو آیا هغه چې د هر ساکښ پر کړنې مواظب دئ (په وړاندې ئې پر پیغمبرانو ملنډې وهې؟!) او (همدغه) الله ته ئې شریکان جوړ کړي!! ووایه: وئې نوموئ، آیا په هغه څه ئې خبروئ چې دی ئې په ځمکې کې نه پېژني، او که هسې دا وینا د یوې سطحې خبرې په توګه کوئ؟ بلکې کافرانو ته خپل مکر ښایسته کړی شوی او له لارې اړول شوي، او الله چې څوك بې لارې کړي نو هیڅ لارښود ئې نشته. □□- دوی ته په دنیا کې عذاب دئ او د آخرت عذاب تر ټولو سخت دئ، او د الله په وړاندې ئې هیڅ ساتونکی نشته.

۞مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ أُكُلُهَا
دَآئِمٞ وَظِلُّهَاۚ تِلۡكَ عُقۡبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْۖ وَّعُقۡبَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ٣٥
وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَۖ وَمِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ
مَن يُنكِرُ بَعۡضَهُۥۚ قُلۡ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ
إِلَيۡهِ أَدۡعُواْ وَإِلَيۡهِ مَـَٔابِ ٣٦ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ وَلَئِنِ
ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن
وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ ٣٧ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ أَزۡوَٰجٗا
وَذُرِّيَّةٗۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ لِكُلِّ أَجَلٖ
كِتَابٞ ٣٨ يَمۡحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثۡبِتُۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ٣٩
وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ
ٱلۡبَلَٰغُ وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ ٤٠ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ
أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ
٤١ وَقَدۡ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗاۖ يَعۡلَمُ مَا
تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٖۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلۡكُفَّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ٤٢

35- د هغه جنت مثال چي متقيانو ته ئې وعده ورکړی شوې (داسي دئ چي) لاندي ئې ويالې بهېږي، خواړه (مېوې) ئې تلپاته دي او سيوری ئې هم، دا د هغو وګړو پايله ده چي تقوی ئې وکړه، او د کافرانو پايله اور دئ. 36- او هغه چي کتاب مو ورکړی پر هغه څه خوښي کوي چي تا ته نازل کړی شوي، او د دغو ډلو ځيني داسي دي چي ځيني برخي ئې نه خوښوي، ووايه: ما ته امر شوی چي د الله عبادت وکړم او څوك ورسره شريك نه کړم، د ده لوري ته بلنه کوم او د ده لوري ته مي ورګرځېدا ده. 37- او همداسي مو د عربي حکم په توګه نازل کړ، او که له هغه وروسته چي څه علم په لاس درغلی د دوی د هوی او هوس متابعت وکړې نو نه به د الله له عذابه کوم حامي وموميې او نه کوم ساتونکی. 38- او يقيناً چي تر تا د مخه مو داسي پيغمبران لېږلي چي مېرمني او اولاد مو ورپه برخه کړي ول، او هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي کومه نښه راوړي مګر د الله په إذن، د هري نېټې لپاره يوه ځانګړې ليکنه ده. 39- الله چي څه وغواړي له منځه ئې وړي او ثابتوي ئې، او اصلي کتاب د ده په خوا کې دئ. 40- او که تا ته ځيني هغه څه دروښيو چي وعده ئې ورسره کوو او يا وفات دي کړو، نو يقيناً چي ابلاغ ستا پر ذمه دئ او حساب زموږ پر ذمه. 41- آيا وئې نه ليدل چي موږ دې زمکي ته وردرومو او له ژيو ئې راکموو، او دا خو الله دئ چي پرېکړي کوي په داسي حال کې چي حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته او هغه سريع حساب کوونکی دئ. 42- او يقيناً چي هغو پټ تدبيرونه وکړل چي تر دوی مخکي ول، نو پټ تدبيرونه خو ټول له الله سره دي، په هغه څه پوهېږي چي هر ساکښ ئې ترلاسه کوي، او کافران به ډېر ژر پوه شي چي د استوګنځي غوره پايله د چا په برخه ده.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسۡتَ مُرۡسَلٗاۚ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا
بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

## سُورَةُ إِبۡرَاهِيمَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى
ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿١﴾ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ
شَدِيدٍ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۢ
بَعِيدٖ ﴿٣﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ
فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
﴿٤﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ
إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ
شَكُورٖ ﴿٥﴾

43- او هغه چي کفر ئې کړی وايي: ته پيغمبر نه يې! ووايه: زما او ستاسو ترمنځ الله د ګواه په توګه کافي دئ او هغه چي د کتاب علم ورکړی شوی.

## ابراهيم- مکي سوره- 52 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف لام، راء، دا هغه کتاب دئ چي ستا په لوري مو نازل کړ چي خلك د دوی د رب په حکم سره له تيارو د نور لوري ته وباسې، د ستايل شوي عزتمن ذات لاري ته، 2- هغه الله چي د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي، افسوس د کافرانو په حال د شديد عذاب له کبله، 3- هغه چي له دنيوي ژوند سره د آخرت په پرتله زياته مينه کوي، او د الله له لاري ډډه کوي او کوږوالی ورته لټوي، دوی (له حق) په لري واټن بې لاری کې دي. 4- او هيڅ رسول مو د خپل قوم له ژبي پرته په بله توګه نه دئ لېږلی، د دې لپاره چي دوی ته ئې (په واضح توګه) بيان کړي، نو د الله چي چا ته خوښه وي بې لاري کوي ئې او د هغه چا لارښوونه کوي چي غواړي ئې، او هغه باحکمت عزتمن دئ. 5- او يقيناً چي موسی مو له خپلو آيتونو سره ولېږو چي خپل قوم دي له تيارو د نور لوري ته وباسه او (د پند په توګه) د الهي ورځو يادونه ورته وکړه، يقيناً چي په دې کې حتماً د هر تکړه صبر کوونکي شاکر لپاره ښکاره نښي دي.

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ
أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ
وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم
بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٦ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ
لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ ٧ وَقَالَ
مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ
لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ٨ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ
نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ
جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَقَالُوٓاْ
إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ
مُرِيبٖ ٩ ۞قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۖ يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ
أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن
تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ١٠

6- او هغه مهال چې موسی خپل قوم ته وویل: د الله پېرزوینه درباندې درياده کړئ چې له فرعونيانو ئې وژغورلئ، بد بد عذابونه ئې درکول، او ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې، او په دې کې مو د خپل رب لويه آزموينه وه. 7- او هغه مهال چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زيات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو يقيناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ. 8- او موسی وويل: که تاسو او ټول هغه چې په زمکې کې دي کفر وکړئ نو يقيناً چې الله ستايل شوی بې نياز دئ. 9- آيا د هغو خبر نه دئ دررسېدلی چې تر تاسو مخکې ول، د نوح قوم، عاد او ثمود او هغه چې تر دوی وروسته ول، چې له الله پرته ئې هيڅوك نه پېژني، پيغمبرانو ئې څرګندې نښې ورته وروړې، نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او وئې ويل: موږ له هغه څه انکار کړی چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، او موږ د هغه څه په اړه په شکمنې بدګمانۍ کې يو چې تاسو مو وربلئ، 10- پيغمبرانو ئې وويل: آيا د الله په اړه شك کوئ چې د آسمانونو او زمکې پيدا کوونکی دئ؟ تاسې دې ته بلې چې ځينې ګناهونه مو درته وبخښې او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي؟! وئې ويل: تاسو يوازې زموږ په څېر انسانان يئ، غواړئ له هغه څه مو واړوئ چې زموږ پلرونو لمانځل، نو څرګند دليل راته راوړئ.

قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم
بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ وَمَا
لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ
ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى
مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾
وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِى
وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ وَٱسْتَفْتَحُوا۟ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾
مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا
يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأْتِيهِ ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ
وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿١٧﴾ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ
أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ٱشْتَدَّتْ بِهِ ٱلرِّيحُ فِى يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَّا
يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا۟ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

11- خپلو پيغمبرانو ئې ورته وويل: موږ نه يو مگر ستاسو په څېر بشر، خو الله له خپلو بندگانو پر هغه چا پېرزوينه کوي چې دی ئې غواړي، او موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له اجازې پرته تاسو ته کوم دليل او نښه راوړو، او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي. 12- او ولې به موږ پر الله توکل نه کوو حال دا چې موږ ته ئې خپلې لارې راوښودې، او هرومرو به په هغه څه صبر کوو چې موږ پرې ځوروئ، او توکل کوونکي بايد پر الله توکل وکړي. 13- او کافر شوو خپلو پيغمبرانو ته وويل: يا به مو هرو مرو له خپلې زمکې باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او مذهب ته راگرځئ، نو رب ئې دوی ته وحي وکړه چې دا ظالمان به هرو مرو هلاك کړو، 14- او لدوی وروسته به تاسو په همدې زمکې کې حتماً مېشت کوو، دا د هغه چا لپاره دي چې زما له مقام ووېرېدو او زما له وعيد او گواښ ووېرېدو. 15- او د فتح او پرېکړې غوښتنه ئې وکړه او هر سرکښ دښمن تباه شو، 16- تر شا ئې دوزخ دئ او د نو په اوبو به خړوبه کړی شي، 17- غوړپوي به ئې خو داسي به نه وي چې په آسانۍ ئې له ستوني تېري کړي، له هر لوري به مرگ وردرومي خو دی به مړ کېدونکی نه وي، او تر شا به ئې پرېړ (سخت) عذاب وي. 18- د هغو مثال چې د خپل رب په اړه ئې کفر کړی؛ عملونه ئې د داسي ايرو په څېر دي چې د بادريې په ورځ سخته سيلۍ پرې راشي، د خپلو لاسته راوړنو په هيڅ څه به برلاسي نشي، همدا ژور لارورکتوب دئ.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّۚ إِن يَشَأْ
يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ
﴿٢٠﴾ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا
كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن
شَيْءٍۚ قَالُواْ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ
صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾ وَقَالَ ٱلشَّيْطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلْأَمْرُ
إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْۖ وَمَا
كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوْتُكُمْ فَٱسْتَجَبْتُمْ لِيۖ
فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ أَنتُم
بِمُصْرِخِيَّ إِنِّي كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ
لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾ وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْۖ
تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ﴿٢٣﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً
طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾

19- آیا نه ګورې چې الله آســمانونه او زمکه په حقه پیدا کړي، که وغواړي له منځه به مو یوسي او نوي خلك به راپیدا کړي. 20- او دا الله ته ګران او درووند کار نه دئ. 21- او ټول به الله ته څرګند (غونډ) شي، نو کمزوري به هغو ته چې لويي ئې غوښــته ووايي: يقيناً موږ ستاسو اتباع وو، نو آیا تاسو د الله له عذابه کوم څه رانه دفع کوونکي یئ؟ وبه وايي: که الله موږ هدایت کړي وی نو حتماً به مو تاســو ته لارښــوونه کړې وه، موږ ته برابره ده چې که زګېروی وکړو او یا صــبر وکړو هیڅ خلاصی راته نشــته. 22- او کله چې د دې کار د پای ته رســېدو پرېکړه وشي شــیطان به ووايي: يقيناً چې الله له تاســو سره رښتینې ژمنه کړې وه او ما چې ژمنه درسره کړې وه درنه په شا شوم، او پر تا سو مي هیڅ راز واکمني نه وه، مګر دومره چې تا سو ته بلنه درکړم او راسره ومو منله، نو ما مه ملامتوئ، او خپل ځان ملامت کړئ، نه زه ســتاســو د چیغو اورېدونکی یم او نه تاســو زما د چیغو اورېدونکي، يقيناً چې زه ســتاســو له هغه مخکني شرك منکر یم چې (له الله) سره مو شریکولم. يقيناً چې دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ. 23- او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د الله په حکم سره به داسي جنتونو ته ننایســتی شي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، هلته به ئې هر کلی په ســلام سره وي. 24- آیا پام دي نه دئ چې الله د ســپېڅلې کلمې مثال څنګه بیان کړی، د هغې پاکې ونې په څېر چې جرړي ئې مضــبوطي دي او څانګي ئې د آسمان (په غېږ) کې،

تُؤۡتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ بِإِذۡنِ رَبِّهَاۗ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ
لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٢٥ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ
خَبِيثَةٍ ٱجۡتُثَّتۡ مِن فَوۡقِ ٱلۡأَرۡضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٖ ٢٦ يُثَبِّتُ
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ
وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ٢٧ ۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى
ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ كُفۡرٗا وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ ٱلۡبَوَارِ ٢٨
جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ٢٩ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ
عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ ٣٠ قُل
لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ
سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ٣١
ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ
لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ ٣٢ وَسَخَّرَ
لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ٣٣

25- د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، الله خلکو ته دا مثالونه بیانوي چې پند واخلي، 26- او ناپاکه کلمه هغه پلیت بوټي ته ورته ده چې د زمکې له سره ایستل شوی، هیڅ ټیکاو ئې نشته، 27- الله مؤمنان په دنیوي ژوند کې هم په مضبوطې وینا سره ټینګ او ثابت ساتي او په آخرت کې هم، او ظالمان بې لارې کوي او همغه څه کوي چې غواړي ئې. 28- آیا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې د الله نعمت ئې په کفر بدل کړ او خپل قوم ئې د هلاکت ټاټوبي ته کوز کړ، 29- دوزخ ته؛ چې ورننوځي به، او څومره بد قرارځی! 30- او الله ته ئې سیالان جوړ کړل د دې لپاره چې د ده له لارې (خلك) منحرف کړي، ووایه: متمتع شئ چې ګرځېدا مو د اور په لوري ده. 31- زما هغو بندګانو ته چې ایمان ئې راوړی ووایه چې (د لمانځه) اړیکه ټینګه کړي، او له هغو څه په پټه او ښکاره انفاق کړي چې ورروزي کړي مو دي، تر دې د مخه چې داسې ورځ راشي چې نه پېر پلور په کې شته او نه دوستي. 32- الله هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړل، له آسمانه ئې اوبه رانازلې کړې او په دې سره ئې دا مېوې راوایستې، تاسو ته د روزي په توګه، کښتۍ ئې درته مسخره کړې چې د ده په حکم سره په بحر کې درومي، او نهرونه ئې درته مسخر کړل. 33- او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړل؛ د دوو تلونکو په توګه، او شپه او ورځ ئې درته مسخر کړې،

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا
تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ ٣٤ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ رَبِّ
ٱجۡعَلۡ هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ٣٥
رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ وَمَنۡ
عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٦ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي
بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ
لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ٣٧ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا
يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٣٨ ٱلۡحَمۡدُ
لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ
ٱلدُّعَآءِ ٣٩ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ
دُعَآءِ ٤٠ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ
٤١ وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعۡمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ
لِيَوۡمٖ تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ٤٢

34- او هر هغه څه ئې درکړل چې ترې ومو غوښـــتل، او که د الله نعمتونه و شمېرئ نو شمېرلی ئې نشئ، يقيناً چې انسان ډېر ظالم او ډېر ناسپاس دئ. 35- او هغه مهال چې ابراهيم وويل: اې زما ربه! دا ښـــار خوندي کړې، او ما او زما اولاد له دې په ډډه کړې چې بتان ولمانځو، 36- اې زما ربه! يقيناً چې دوی ډېری وګړي بې لاري کړل، نو چا چې زما متابعت وکړ هغه زما له ډلي دئ او چا چې زما سرغړاوی وکړ نو بې شـکه چې ته مهربان بخښـونکی يې. 37- اې زموږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني، ســـتا د محترم کور خوا ته په داسي بېديا کې مېشـــت کړل چې بې بوټي ده، اې زموږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړي، د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چې شـــکر پر ځای کړي. 38- اې زموږ ربه! يقيناً چې ته په هر هغه څه پوهېږې چې موږ ئې پټوو يا ئې ښکاره کوو او پر الله خو نه څه په آسمان کې پټ پاته کېږي او نه په زمکې کې، 39- ستاينه هغه الله ته ده چې ما ته ئې په زړښـت کې اسـمعيل او اسـحاق راپه برخه کړل، بې شکه چې زما رب د دعاګانو اورېدونکی دئ، 40- اې زما ربه! لمونځ کوونکی مي کړې او اولاد مي هم، اې زموږ ربه! او دعاء مي قبوله کړې!! 41- باري خدايه! ما ته بخښنه وکړې، او زما مور پلار ته او مؤمنانو ته د حســـاب قائمېدو په ورځ. 42- او د الله په اړه دا ګمان مه کوه چې له هغه څه به غافل وي چې دا ظالمان ئې کوي، يقيناً چې يوازي هغي ورځي ته ئې ځنډوي چې ســـترګي په کې (له ډېره هيبته) ټېغي او رډي شي،

مُهۡطِعِينَ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ
هَوَآءٞ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوۡمَ يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ
ظَلَمُواْ رَبَّنَآ أَخِّرۡنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ
ٱلرُّسُلَۗ أَوَلَمۡ تَكُونُوٓاْ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٖ
﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمۡ فِي مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ
كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدۡ مَكَرُواْ
مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ
ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ رُسُلَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ
عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٖ ﴿٤٧﴾ يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ
وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ
يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ
وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجۡزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَٰغٞ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ وَلِيَعۡلَمُوٓاْ
أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٥٢﴾

43- داسې ځغاستونکي به وي چې سرونه به ئې هسك پاته وي، نظر به ئې نه ورته راګرځي، زړونه به ئې (له سینو) په وتو وي. 44- او خلك له هغې ورځې ووېروه چې عذاب به ورته راشي، نو هغه چې ظلم ئې کړی؛ وايي به: اې زموږ ربه! تر يوې ټاکلې نژدې نېټې مو وځنډوه چې ستا بلنه ومنو او د پيغمبرانو متابعت وکړو، آيا تاسو هغه نه يئ چې تر دې د مخه مو لوړه کړې وه چې هيڅ زوال به مو په برخه نشي؟! 45- او د هغو په استوګنځيو کې مېشت شوئ چې پر ځان ئې ظلم کړی وو، او درته معلومه شوه چې څه چلن مو ورسره وکړ او (ګڼ شمېر تاريخي) مثالونه مو درته بيان کړل، 46- او يقيناً چې دوی خپل پټ تدبيرونه وکارول، او دا په داسې حال کې چې د دوی مکر (او پايلې ئې) د الله په خوا او واك کې دي، که څه هم د دوی تدبيرونه داسې وي چې غرونه پرې له منځه ځي. 47- نو د الله په اړه دا ګمان مه کوه چې له خپلو پيغمبرانو سره له خپلو وعدو تر شا کېدونکی دئ، يقيناً چې الله غچ اخيستونکی عزتمن دئ. 48- هغه ورځ چې دا زمکه به له دې پرته په بلې زمکې بدله شي او آسمانونه هم، او (ټول به) د يوازيني ډېر برلاسي الله په وړاندې راڅرګند شي. 49- او په دې ورځ به مجرمين ګورې چې په زولنو کې يو له بل سره تړل شوي دي. 50- کميسونه ئې د زړېو (نانزړو) او اور به ئې پر مخونو غوړېږي، 51- د دې لپاره چې الله هر ساكښ ته د خپلو لاسته راوړنو بدله ورکړي، يقيناً چې الله ژر حساب کوونکی دئ. 52- دا د خلکو لپاره يو ابلاغ دئ او دا د دې لپاره چې په دې سره خبرداری ورکړی شي، او د دې لپاره چې پوه شي هغه له شکه پرته يوازينی معبود دئ او د دې لپاره چې عقلمن وګړي پند واخلي.

# سُورَةُ الحِجْرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ١ رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ٢ ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ
ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٣ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا
كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ٤ مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ٥
وَقَالُواْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ٦ لَّوۡ مَا
تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ٧ مَا نُنَزِّلُ
ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ٨ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا
ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ
ٱلۡأَوَّلِينَ ١٠ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ١١
كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٢ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَقَدۡ
خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ
فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ ١٤ لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ
قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ ١٥

# الحجر- مکي سوره- 99 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، راء، دا د کتاب او څرګند قرآن آیتونه دي. 2- هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. 3- پرېږ ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هیلي ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي. 4- او هیڅ کلی مو نه دئ تباه کړی مګر په داسي حال کې چې معلومه (لیکلې) نېټه ئې وه. 5- نه هیڅ ولس له خپلې نېټې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی. 6- او وئې ویل: اې هغه چې دا د پند (کتاب) پرې نازل شوی، یقیناً چې ته مجنون یې، 7- ولي موږ ته فرشتې نشې راوستی که له رښتینو یې؟ 8- ملائکي نه لېږو مګر په حقه سره او هغه مهال به دوی له مهلته برخمن نه وي. 9- یقیناً دا موږ یو چې دا د پند کتاب مو نازل کړی او موږ ئې هرو مرو ساتونکي یو. 10- او یقیناً چې تر تا د مخه مو په لومړنیو ډلو کې پیغمبران لېږلي، 11- او هیڅ پیغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چې استهزاء ئې پرې کوله. 12- همداسي ئې د دغو مجرمینو په زړونو کې ننباسو، 13- ایمان به نه پرې راوړي، په داسي حال کې چې د لومړنیو تګلاره تېره شوې. 14- او که د آسمان کومه داسي دړه مو ورته پرانیستې وی چې دوی په کې لوړ ختلی، 15- حتماً به ئې ویلي وو: زموږ سترګې بې سده شوې بلکې موږ هغه وګړي یو چې کوډې پرې شوې.

وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ١٦ وَحَفِظۡنَٰهَا
مِن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ ١٧ إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ
مُّبِينٞ ١٨ وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن
كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡزُونٖ ١٩ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسۡتُمۡ لَهُۥ
بِرَٰزِقِينَ ٢٠ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ
مَّعۡلُومٖ ٢١ وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ٢٢ وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ
وَنَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ٢٣ وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ وَلَقَدۡ
عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَـٔۡخِرِينَ ٢٤ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحۡشُرُهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ
٢٥ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٦ وَٱلۡجَآنَّ
خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ٢٧ وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي
خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ٢٨ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ
وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٢٩ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
كُلُّهُمۡ أَجۡمَعُونَ ٣٠ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ٣١

16- او بې شکه چې په آسمان کې مو ستوري پيدا کړل او هغه مو ليدونکو
ته ښايسته کړ. 17- او هغه مو له هر رټل شوي شيطانه خوندي کړی،
18- مګر هغه چې په غلا سره څه واوري نو څرګنده لمبه ورپسې شي.
19- او زمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې
کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل. 20- او تاسو ته مو په هغې
کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه ته هم چې تاسي ورته روزي
ورکوونکي نه يئ. 21- او هيڅ داسي شی نشته چې خزانې ئې له موږ سره
نه وي او نه ئې نازلوو مګر په معلومې اندازې سره. 22- او بادونه مو
ولېږل چې القاح کوونکي دي، بيا مو له آسمانه اوبه نازلې کړې او په تاسو
مو وڅښلې، او تاسو ئې ذخيره کوونکي نه یاست. 23- او دا خو فقط موږ
يو چې ژوندي کول او مړه کول کوو او (د هر څه) وارث موږ يو، 24- او
يقيناً چې ستاسو پر مخکنيو هم پوه شوي يو او له شکه پرته پر وروستنيو
هم پوه يو. 25- او يقيناً چې ستا رب به ئې په خپله راغونډوي، بې شکه
چې هغه ډېر پوه باحکمت دئ. 26- او يقيناً چې انسان مو د کړنګېدونکي
توکي، له بوی ناکې توري خټې پيدا کړ27- او جن مو تر دە د مخه له بې
لوګي اوره. 28- او هغه مهال چې ستا رب فرشتو ته وويل: زه هرومرو
د کړنګېدونکي توکي، له بوی ناکې خټې د يوه بشر پيدا کوونکی يم. 29- او
کله چې مي برابر کړ او د خپلې روح سا مي په کې پو کړه نو هغه ته
سجده کوونکي شئ. 30- نو ټولو فرشتو په ګډه سجده وکړه، 31- له
ابليس پرته چې سرغړاوی ئې وکړ له دې چې له سجده کوونکو سره شي.

قَالَ يَـٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمۡ
أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَـٰلٍ مِّنۡ حَمَإٍ مَّسۡنُونٍ ﴿٣٣﴾
قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلدِّينِ ﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ
ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي
لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ
ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ عِبَادِي
لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ
جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ
جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ﴿٤٤﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّـٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ ٱدۡخُلُوهَا
بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ
سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا
بِمُخۡرَجِينَ ﴿٤٨﴾ *نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ
عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ﴿٥٠﴾ وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾

32- وئې ویل: اې ابلیسه! وجه ئې څه وه چې له سجده کوونکو سره یو ځای نشې؟ 33- وئې ویل: زه (تیار) نه یم چې داسې بشر ته سجده وکړم چې د کړنګېدونکې توکې، له بوی ناکې ختې دې پیدا کړی. 34- وئې ویل: له دې ځایه ووځه، چې ته رټل شوی یې، 35- او پر تا به د قیامت تر ورځې لعنت وي. 36- وئې ویل: زما ربه! نو تر هغې ورځې مهلت را چې بیا به راپاڅول کېږي، 37- وئې ویل: نو ته له مهلت ورکړی شوو یې، د همغې معلومې نېټې تر ورځې. 39- وئې ویل: زما ربه! له دې کبله چې بې لارې دې کړم هرومرو به په زمکې کې هر څه ورته مزین او سینګار شوي کړم او حتماً به دوی ټول بې لارې کړم، 40- مګر د دوی له منځه ستا مخلص بندګان، 41- وئې ویل: همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقیمه لار ده، 42- یقیناً چې زما پر بندګانو دې هیڅ برلاسی او سلطه نشته، مګر پر هغو لارورکو ئې چې ستا متابعت وکړي، 43- او یقیناً چې دوزخ د دوی ټولو موعد دئ، 44- چې اوه دروازې ئې دي، د هرې دروازې لپاره د دوی یوه وېشل شوې برخه ده. 45- یقیناً چې متقیان به په جنتونو او چینو کې وي، 46- (ورته وبه ویل شي:) په سلامتیا سره خوندي ورننوځئ، 47- او په سینو کې ئې چې کومه کینه او رخه وه هغه به ترې وباسو، د ورونو په څېر یو بل ته مخامخ پر تختونو ناست، 48- نه به ئې ستومانې په برخه کېږي او نه به ترې ایستل کېدونکې وي. 49- زما بندګانو ته خبر ورکړه چې یقیناً زه مهربان بخښونکی یم، 50- او دا چې زما عذاب سخت دردوونکی عذاب دئ. 51- او د ابراهیم د مېلمنو له حاله ئې خبر کړه،

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُواْ
لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن
مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن
مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ
﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ
قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا
ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ
ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ
بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾
فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ
مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ
ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ مُّصۡبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهۡلُ
ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ
﴿٦٨﴾ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ أَوَ لَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ
﴿٧٠﴾

52- هغه مهال چي خوا ته ئې داخل شـول نو وئې ويل: سـلام؛ وئې
ويل: موږ خو له تاسو وېرېدونكي يو، 53- وئې ويل: مه وېرېږه، موږ
تا ته د يوه پوه زوی زېری دركوو. 54- وئې ويل: آيا په داسي حال كي
زېری راكوئ چي زړښـت مي په برخه شـوی، نو په څه توگه زېری
راكوئ؟، 55- وئې ويل: په رښـتيا سره زېری دركوو، نو له ناهيلو مه
كېږه، 56- وئې ويل: له لارورکو پرته به بل څوك وي چي د خپل رب
له رحمته مأيوس كېږي. 57- وئې ويل: اې ا ستازو! ستاسو مأموريت
څه دئ؟ 58- وئې ويل: د يوه مجرم او بدكار قوم په لوري لېږل شوي
يو، 59- د لوط له کورنۍ پرته چي موږ د دوی ټولو ژغورونكي يو،
60- مگر مېرمن ئې چي د دې په اړه مو دا پرېكړه مقدره كړې چي
له وروسته پاتو به وي. 61- او كله چي د لوط ټبر ته ا ستازي ورغلل،
62- وئې ويل: تاسو خو ناآشنا وگړي يئ! 63- وئې ويل: داسي نه ده
بلكي هغه څه مو درته راوړي چي دوی په كي شـك كولو، 64- او له
حق سره درته راغلي يو او موږ رښـتيني يو، 65- نو د شـپې په يوې
برخي كي خپل كهول تر مخ روان كړه او ته ئې تر شا ورپسې شه، او
ستاسو هيڅ يو دي شا ته نه گوري او همغه لوري ته ولاړ شئ چي
پرې گمارل كېږئ، 66- او ده ته مو د دې كار پرېكړه واوروله چي د
دغو جرړي به سبا سهار قطع كېږي. 67- او د ښار اوسېدونكي خوښي
كوونكي ورغلل، 68- وئې ويل: دا كسـان مي مېلمانه دي نو سـپكاوی
مه راباړوئ، 69- او له الله ووېرېږئ او مه مي شرموئ، 70- وئې ويل:
آيا ته مو له داسي وگړو نه وې منع كړی؟

قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ٧١ لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي
سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ٧٢ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ ٧٣ فَجَعَلۡنَا
عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٍ ٧٤ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُتَوَسِّمِينَ ٧٥ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٖ مُّقِيمٍ ٧٦ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٧٧ وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ
٧٨ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ ٧٩ وَلَقَدۡ كَذَّبَ
أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٨٠ وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا
مُعۡرِضِينَ ٨١ وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ٨٢
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ٨٣ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ٨٤ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا
بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ ٨٥ إِنَّ رَبَّكَ
هُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ٨٦ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي
وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ٨٧ لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا
مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ٨٨ وَقُلۡ
إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلۡمُبِينُ ٨٩ كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ٩٠

71- وئې ويل: که د کوم کار (نکاح) کولو اراده لرئ نو دغه دي زما لوڼي، 72- ستا په عمر لوړه چې دوی په يقيني توګه په خپلې بې سدۍ (بدمستۍ) کې لالهانده دي، 73- نو په سباوون کې هغې لوړې چيغې ونيول، 74- نو موږ ئې لوړې ورلاندې کړې او پر دوی مو د پخې شوې ختې ډبرې وورولې. 75- يقيناً چې په دې کې د فراست خاوندانو ته څرګندې نښې دي، 76- او يقيناً چې دا ښار د تګ راتګ په عامه لار پروت دئ، 77- او په رښتيا چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده. 78- او يقيناً چې ايکه وال ظالمان ول، 79- نو انتقام مو ترې واخيست او رښتيا خبره دا ده چې دا دواړه سيمې په څرګنده توګه ټولو ته مخامخ پرتې وې. 80- او يقيناً چې حجروالو پيغمبران تکذيب کړل، 81- او موږ خپل آيتونه وروړاندې کړل خو دوی ترې اعراض کوونکې شول، 82- او له غرونو به ئې کورونه تراشل چې خوندي وي، 83- نو په سباوون کې يوې لوړې چيغې ونيول 84- او خپلو لاس ته راوړنو هيڅ څه ترې دفع نکړی شو. 85- او زمکه، آسمانونه او د دوی په منځ کې هر څه مو نه دي پيدا کړي مګر په حق سره، او يقيناً چې (د قيامت) هغه (ټاکلی) ساعت هرومرو راتلونکی دئ، نو په غوره مخ اړولو سره مخ (ترې) واړوه. 86- بې شکه چې ستا رب ښه پوه پيدا کوونکی دئ. 87- او يقيناً چې تا ته مو تکرار شوي اوه ګوني (د فاتحې سوره) او ستر قرآن درکړی. 88- او سترګې دي د هغه څه په لوري مه اړوه چې د دوی ځينې مو ترې متمتع او برخمن کړي او مه پرې غمجن کېږه، او وزر دي مؤمنانو ته کوز ساته. 89- او ووايه: يقيناً چې زه څرګند نذير يم، 90- د هغسي (يوه عذاب) چې پر وېشونکو مو نازل کړ،

ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلۡقُرۡءَانَ عِضِينَ ٩١ فَوَرَبِّكَ لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩٢
عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٣ فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٤ إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ٩٥ ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ
ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٩٦ وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ
صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ٩٧ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ
٩٨ وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ٩٩

## سُورَةُ النَّحۡلِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١
يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ
أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ٢ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ
بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ
خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٤ وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا
تَأۡكُلُونَ ٥ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ
٦

91- هغه چي قرآن ئې (په برخو برخو) ووېشو، 92- نو ستا په رب
لوړه چي هرو مرو به ټول وپوښتو، 93- له هغه څه چي دوی
کولو. 94- نو هغه څه په جهر سره څرګند کړه چي پرې ګمارل
کېږي، او له مشرکانو اعراض وکړه، 95- یقیناً موږ د دغو استهزاء
کوونکو په وړاندي درته کفایت کوو، 96- هغه چي له الله سره
نور معبودان شریکوي، نو ژر به پوه شي. 97- او یقیناً چي موږ په
دې پوهېږو چي ستا سینه پر هغه څه تنګېږي چي دوی ئې وایي،
98- نو د خپل رب له ستایني سره (په تسبیح) لګیا اوسه، او تر
هغه د خپل رب عبادت کوه چي یقین (مرګ) درته راشي.

## النحل- مکي سوره- 128 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- د الله فرمان رارسېدلی نو په تلوار سره ئې مه غواړئ، هغه ته پاکي ده
او له هغه څه لوړ دئ چي دوی ئې ورسره شریکوي. 2- ملائکي د خپل
فرمان له وحي سره په خپلو بندګانو کې هغه چا ته کوز لېږي چي دی ئې
وغواړي، په دې توګه چي دا خبرداری ورکړئ چي له ما پرته بل معبود
نشته، نو له ما ووېرېږئ. 3- آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړل، لوړ
دئ له هغه څه چي ورسره شریکوي ئې، 4- انسان ئې له نطفې پیدا کړ
او هغه څرګند جګړمار شو. 5- او څاروي ئې پیدا کړل چي په هغوی کې
درته د تودوخي توکي دي او نوري ګټې او له ځینو ئې خواړه کوئ، 6- او
په هغوی کې تاسو ته ښکلا ده هغه مهال چي بېرته ئې راولئ او هغه
مهال چي بهر ئې بیایئ،

وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ
ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٧ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ
وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٨ وَعَلَى
ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ
٩ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ
شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ ١٠ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ
وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ
لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١١ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ
وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ
يَعۡقِلُونَ ١٢ وَمَا ذَرَأَ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥٓۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ١٣ وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ
لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَاۖ
وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ
تَشۡكُرُونَ ١٤

7- او ستاسو درانه بارونه تر داسي ښارونو پر (خپلي) شا وړي چي وررسېدونکي نه یئ مګر د ځان په زحمت (کي اچولو) سره، یقیناً چي ستاسو رب مهربان رؤف دئ، 8- او آسونه، کچري او خره ئې پیدا کړل چي پرې سپاره شئ او د ښایست په توګه، او هغه څه پیدا کوي چي تاسو نه پرې پوهېږئ. 9- او سیده لار پر الله ده، او ځیني ئې کږې دي او که ئې غوښتي وی نو تاسو ټول به ئې هدایت کړي وئ. 10- او دی هغه ذات دئ چي له آسمانه ئې اوبه نازلي کړې، چي یوه برخه ئې ستاسو څښاك او یوه برخه ئې وني او بوټي دي چي تاسو (څاروي په کي) څروئ، 11- په همدې سره تاسو ته نباتات، زیتون، د خرما وني، او انګور او د مېوو ډول ډول راشنه کوي، یقیناً چي په دې کي هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چي تفکر کوي. 12- او شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر او تابع کړل، او ستوري د ده په حکم مسخر او تابع دي، یقیناً چي په دې کي هغو وګړو ته ښکاره نښي دي چي تعقل کوي. 13- او هغه څه چي رنګونه او ډولونه ئې بېل بېل دي؛ په زمکي کي ئې تاسو ته خواره کړل، بې شکه چي په دې کي د هغو وګړو لپاره ښکاره نښه ده چي پند اخلي. 14- او دی همغه دئ چي بحر ئې درته مسخر کړ چي تازه غوښه ترې وخورئ او داسي ګاڼې ترې راوباسئ چي اغوندئ ئې، او په هغه کي کښتۍ ګورې چي څیروونکې (د اوبو) دي، او دا د دې لپاره چي فضل ئې ولټوئ او د دې لپاره چي شکر وکړئ.

وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ
تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَٰمَٰتٍۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾ أَفَمَن يَخْلُقُ
كَمَن لَّا يَخْلُقُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا
تُحْصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا
تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ
يُخْلَقُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْوَٰتٌ غَيْرُ أَحْيَآءٍۖ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٢١﴾
إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ
وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا
يُعْلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ
رَبُّكُمْ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوٓاْ أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍۗ أَلَا سَآءَ مَا
يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَٰنَهُم مِّنَ
ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ
حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

15- او په زمکې کې ئې لنګرونه (غرونه) واچول چې تاسو ونه لړزوي، او نهرونه او داسې لارې چې (له يوې سيمې بلې ته) لار پيدا کړئ. 16- او نښې، او په ستورو سره خو دوی لار مومي. 17- نو آيا هغه چې پيدايښت کوي د هغه په څېر دئ چې څه نشي پيدا کولی؟ نو آيا پند نه اخلئ؟!! 18- او که د الله پېرزوينې وشمارئ نو شمېرنه به ئې بشپړه نه کړی شئ، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ. 19- او الله په هغه څه هم پوهېږي چې پټوئ ئې او په هغه څه هم چې څرګندوئ ئې، 20- او هغه چې له الله پرته ئې (مرستې ته) وربلې هيڅ څه نشي پيدا کولی او دوی په خپله پيدا کړی شوي، 21- مړه او ناژوندي دي او په دې نه پوهېږي چې کله به راپاڅول شي. 22- ستاسو اله يوازينی معبود دئ، نو هغه چې پر آخرت ايمان نه راوړي زړونه ئې منکر دي او دوی لويي غوښتونکي دي، 23- يقيناً چې الله هرومرو په هغه څه هم پوهېږي چې دوی ئې پټوي او په هغه څه هم چې دوی ئې څرګندوي، بې شکه چې الله لويي غوښتونکي نه خوښوي، 24- او کله چې دوی ته وويل شي: ستاسو رب څه رالېږلي؟ وايي: د لومړنيو افسانې!! 25- په دې سره به دوی د قيامت په ورځ هم خپل پېټي پر شا وړي او هم د هغو ځينې پېټي چې دوی په ناپوهۍ سره بې لارې کړي، پام چې بد دئ هغه څه چې دوی ئې پر شا وړي. 26- يقيناً چې هغو هم پټ تدبيرونه وکړل چې تر دوی مخکې ول، او الله د دوی ماڼيو ته د بنسټونو له لوري ورغی؛ نو چتونه پر دوی د پاسه پرېوتل، او عذاب له هغه لوري ورته راغی چې تصور ئې نشو کولی.

ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُخۡزِيهِمۡ وَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ
تُشَٰٓقُّونَ فِيهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ إِنَّ ٱلۡخِزۡيَ ٱلۡيَوۡمَ وَٱلسُّوٓءَ
عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٧ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡۖ
فَأَلۡقَوُاْ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعۡمَلُ مِن سُوٓءِۭۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٢٨ فَٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَلَبِئۡسَ
مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ٢٩ *وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ
قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ
خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣٠ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ
ٱلۡمُتَّقِينَ ٣١ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ
عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٣٢ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ
أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ أَمۡرُ رَبِّكَۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن
قَبۡلِهِمۡۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٣٣
فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٤

27- بیا به ئې د قیامت په ورځ سپك او رسوا كړي او (ورته) وبه وايي: زما هغه شریکان چېرې دي چې د هغوی په اړه مو شخړې کولې، هغه چې علم ئې په برخه شوی وبه وايي: بې شکه چې نن پر کافرانو سپکاوی او بد حالت (مسلط) دئ. 28- هغه چې ملائکې ئې په داسې حال کې سا باسي چې پر ځان ظلم کوونکي ول، نو سلام به اچوي (د تسلیمۍ په توگه او وايي به) موږ هیڅ بد کار نه کولو، داسې نه ده بلکې الله په یقیني توگه په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو کول. 29- نو د دوزخ په دروازو ورننوځئ؛ تلپاته په هغه کې، نو څومره بد دئ د تکبر کوونکو مېشت ځی!! 30- او کله چې هغو ته وویل شي چې تقوی ئې کړې: ستاسو رب څه نازل کړي؟ وايي: يو خير (غوره پيغام)، هغو ته چې ښېگڼې کوي په دې دنیا کې ښېگڼه ده، او د آخرت کور خو ډېر غوره دئ، او څومره غوره دئ د دغو متقیانو استوگنځی، 31- داسې تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي، ترې لاندې ویالې بهېږي، دوی ته به په هغوی کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي، الله دغو متقیانو ته په دې توگه بدله ورکوي. 32- هغه چې ملائکې ئې په داسې حال کې روح قبضوي چې پاك دي، (ورته) وايي به: سلام پر تاسو، جنت ته ننوځئ د هغه څه له امله چې تاسو کول. 33- آیا له دې پرته د بل څه انتظار نه کوي چې فرشتې ورشي یا د الله امر، هغو هم داسې وکړل چې تر دوی د مخه ول، او الله پر دوی ظلم ونه کړ بلکې دوی پر خپل ځان ظلم کاوو، 34- نو د لاسته راوړنو بده پایله ئې په برخه شوه، او هغه عذاب پرې محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖ
نَّحۡنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ
ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ٣٥ وَلَقَدۡ
بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ
فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ
فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦ إِن تَحۡرِصۡ
عَلَىٰ هُدَىٰهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَن يُضِلُّۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّٰصِرِينَ ٣٧ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن
يَمُوتُۚ بَلَىٰ وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ
٣٨ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي يَخۡتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ
كَانُواْ كَٰذِبِينَ ٣٩ إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ
كُن فَيَكُونُ ٤٠ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ
لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ٤١ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٤٢

35- او هغو چې شرك ئې كړى وويل: كه الله غوښتى نو نه به موږ له
ده پرته د بل چا عبادت كړى وو او نه زموږ پلرونو، او نه به مو له ده
پرته په خپل سر كوم شى حرام كړى وو، تر دوى مخكنيو همداسې
وكړل، نو آيا پر پيغمبرانو له ښكاره (پيغام) رسولو پرته بله ذمه والې
شته؟! 36- او يقيناً چې په هر امت كې مو يو پيغمبر مبعوث كړى (له
دې پيغام سره چې) د الله عبادت وكړئ او له طاغوتانو ډډه وكړئ، نو
د دوى ځيني داسې وو چې الله هدايت كړل او ځيني ئې هغه چې
ضلالت پرې محقق شو، نو په زمكې كې وګرځئ او وګورئ چې د تكذيب
كوونكو پايله څنګه وه!! 37- كه د دوى د لارښوونې حرص او تلوسه
وكړې نو (پوه شه چې) يقيناً الله هغه څوك نه هدايتوي چې بې لارې
كوي ئې، او دوى هيڅ مرستندويان نه لري. 38- او په خپلو كلكو
قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وكړه چې الله به هيڅلكه هغه
څوك راژوندى نه كړي چې مري!! داسې نه ده بلكې دا د الله پر ذمې
يوه رښتينې وعده ده، خو ډېرى خلك نه پوهېږي، 39- دا د دې لپاره
ده چې دوى ته هغه څه څرګند كړي چې په هغه كې ئې اختلاف كاوو
او تر څو كافران وپوهېږي چې دوى دروغجن ول. 40- كله چې د يوه
څه اراده وكړو نو زموږ وينا يوازې دا وي چې ورته وايو: وشه! نو
(هغه له ځنډه پرته) وشي. 41- او هغو چې د الله په لار كې ئې له هغه
وروسته هجرت كړى چې ظلم پرې شوى، هرومرو به ئې په دنيا كې په
غوره توګه ځاى پر ځاى كړو او د آخرت اجر خو تر ټولو ستر دئ، كاش
پوهېدى. 42- همغه چې صبر ئې وكړ او پر خپل رب توكل كوي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن
كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ
لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾ أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ
ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ
لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوۡ
يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ
مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٖ يَتَفَيَّؤُاْ ظِلَٰلُهُۥ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدٗا
لِّلَّهِ وَهُمۡ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
مِن دَآبَّةٖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ
وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ۩ ﴿٥٠﴾ ۞وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا
هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ
ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ
ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ
إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾

43- او تر تا د مخه مو نه دي لېږلي مگر هغه سړي چي وحي مو ورته کوله، نو که نه پوهېږئ اهل الذکر (د يادښت خاوندان يا د تورات عالمان) وپوښتئ. 44- له څرگندو نښو او کتابونو سره، او تا ته مو دا ذکر او پند درلېږلی ترڅو خلکو ته روښانه کړې چي څه ورته نازل شوي او د دې لپاره چي تفکر وکړي. 45- نو آيا هغه چي بد بد مکرونه ئې کارولي له دې ئې ځان خوندي کړی چي الله ئې په زمکي کي ښخ کړي يا په داسي توگه عذاب پرې راشي چي تصور ئې نشي کولی، 46- يا ئې د تگ راتگ په دوران کي ونيسي په داسي توگه چي برلاسي کېدونکي نه وي، 47- يا ئې پر وېرولو سربېره ونيسي، نو بې شکه چي ستاسو رب مهربان رؤف دئ. 48- آيا هر هغه څه ته ئې نه دي کتلي چي الله پيدا کړي، هغه چي سيوري ئې الله ته د سجدې په توگه له ښي او کيڼ لوري راتاوېږي، په داسي حال کي چي دوی الله ته انقياد کوونکي وي. 49- او الله ته هم د آسمانونو او زمکي هر څه سجده کوي، که دا کوم خوځېدونکی وي او يا فرشتې، په داسي حال کي چي دوی تکبر نه کوي، 50- له ځانه بر له خپل پالونکي رب وېرېږي او همغه څه کوي چي پرې گمارل کېږي. 51- او الله وفرمايل: دوه گوني معبودان مه نيسئ، حقيقت دا دئ چي دی يوازينی معبود دئ، نو يوازي له ما ووېرېږئ، 52- او څه چي په آسمانونو او زمکي کي دي د ده دي، او دا (په ټول عالم کي) ساري او جاري دين د ده دئ، نو آيا له الله پرته له بل چا وېرېږئ؟ 53- او د نعمتونو کوم څه چي ستاسو په برخه شوي نو د الله له لوري دي، بيا چي کله کوم کړاو درورسېږي نو ده ته زارۍ کوئ، 54- بيا چي کله دا کړاو درنه دفع کړي ناڅاپه ستاسو يوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي،

لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَجۡعَلُونَ
لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ
تَفۡتَرُونَ ﴿٥٦﴾ وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ
﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ﴿٥٨﴾
يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ
يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ
بِٱلۡأٓخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوۡءِۖ وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوۡ
يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلۡمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيۡهَا مِن دَآبَّةٖ وَلَٰكِن
يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ لَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ سَاعَةٗ وَلَا
يَسۡتَقۡدِمُونَ ﴿٦١﴾ وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكۡرَهُونَۚ وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ
ٱلۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ﴿٦٢﴾
تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ
فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦٣﴾ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ
إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾

55- تر څو د هغه څه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي، نو برخمن شئ، ژر
به پوه شئ. 56- او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي يوه برخه داسې چا
ته ټاکي چې نه يې پېژني، قسم په الله چې هرومرو به د هغه څه په اړه
وپوښتی شئ چې افتراء کول مو، 57- او الله ته لوڼې ټاکي، په داسې حال کې
چې ده ته (له دې عيبه) پاکي ده، او دوی ته هغه څه دي چې زړه يې
غواړي، 58- او چې کله يې کوم يوه ته د نجلۍ (د زېږېدو) زيرى ورکړى
شي نو مخ يې تك تور شي په داسې حال کې چې غمونه به زغمي، 59- د دې
بد زېري له کبله له قوم پټېږي، (او وايي:) آيا په سپکاوي سره يې وساتي او
که يې تر خاورو لاندې کړي!! څومره بده ده هغه پرېکړه چې دوی يې
کوي!! 60- بد صفت خو له هغو سره وږ دئ چې په آخرت ايمان نه راوړي،
او الله ته لوړ لوړ صفتونه دي، او هغه باحکمت عزتمن دئ. 61- او که الله
خلك د دوی د ظلم په سبب نيولی نو پر (زمکې) به يې هيڅ خزنده نه وو
پرېښی، خو تر ټاکلې نېټې يې ځنډوي، نو کله چې د دوی اجل راورسېږي
نه يوه گړۍ وروسته کېدی شي او نه وړاندې کېدی. 62- او الله ته هغه څه
منسوبوي چې دوی ترې کرکه لري، او ژبې يې په درواغو (د ځان داسې)
ستاينه کوي چې گواکې ښه والی د دوی په برخه دئ، هرومرو اور دوی ته
دئ او دوی به (تر نورو مخکې) ورووړاندې کړی شوي وي. 63- په الله قسم
چې يقيناً تر تا مخکنيو امتونو ته مو استازي لېږلي، نو شيطان خپلې کړنې
ورته ښايسته کړې، نو نن به يې هغه متولي او همځنگی وي او دردناك
عذاب به يې په برخه وي. 64- او پر تا مو دا کتاب يوازې د دې لپاره نازل
کړی چې دوی ته هغه څه څرگند کړې چې اختلاف يې په کې کړی، او د
هغو لپاره لارښوونه او رحمت چې ايمان راوړي.

وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٥﴾ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةًۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا
فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾ وَمِن
ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرًا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾ وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ
ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ
فَٱسۡلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ
فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾ وَٱللَّهُ
خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا
يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٍ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ
عَلَىٰ بَعۡضٍ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ
أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٧١﴾ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم
مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً
وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ
يَكۡفُرُونَ ﴿٧٢﴾

65- او الله له آسمانه داسي اوبه نازلې کړې چې په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړينې وروسته بيا راژوندۍ کړه، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره ځرګنده نښه ده چې اوري. 66- او يقيناً چې تاسو ته په څارويو کې د عبرت (درس) دئ، له هغو خالصو شيدو ئې تاسو ته څښاك درکوو چې څښونکو ته خوندوري دي، د دوی له نسه؛ د خوشايو او وينې له منځه. 67- او د خرما او انګورو له ميوو چې ترې شراب او غوره رزق ترلاسه کوئ، يقيناً چې په دې کې هغو خلکو ته نښه ده چې تعقل کوي. 68- او ستا رب موچۍ ته وحي وکړه چې په ځينو غرونو، ځينو ونو او ځينو هغو ځايونو کې کورونه جوړ کړه چې (خلك) ئې لوړ جوړوي، 69- بيا هر ډول مېوې وخوره او د خپل رب پر لارو منقاد درومه، له ګېډې ئې داسې څښاك راوځي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او په هغه کې د خلکو لپاره شفاء (درملنه) ده، يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته ځرګنده نښه ده چې تفکر کوي. 70- او دا خو الله دئ چې تاسو ئې پيدا کړئ بيا مو وفات کوي، او ستاسو ځينې تر ټولو ناکاره عمر ته رد کړی شي، داسې چې له پوهې وروسته په څه نه پوهېږي، بې شکه چې الله قدرتمن پوه دئ. 71- او الله ستاسو ځينو ته پر ځينو نورو د رزق له پلوه فضيلت ورکړی، نو هغه چې فضيلت ورکړی شوی هغو ته د خپل رزق ورکوونکي نه دي چې د دوی په واك کې (مريان يا وينزې) دي، داسې چې دوی په کې برابر وي، نو آيا د الله له نعمتونو انکار کوي؟! 72- او الله تاسو ته ستاسو له خپلې نوعې جوړې پيدا کړې او ستاسو له جوړو ئې اولاد او لمسي درته پيدا کړل، او پاکيزه رزق ئې درکړ، نو آيا دوی سره له دې په باطل ايمان راوړي او د الله د نعمتونو په اړه کفران کوي؟!!

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾ فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٧٤﴾ ۞ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبۡدٗا مَّمۡلُوكٗا
لَّا يَقۡدِرُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَمَن رَّزَقۡنَٰهُ مِنَّا رِزۡقًا حَسَنٗا فَهُوَ يُنفِقُ مِنۡهُ
سِرّٗا وَجَهۡرًاۖ هَلۡ يَسۡتَوُۥنَۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ
﴿٧٥﴾ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلَيۡنِ أَحَدُهُمَآ أَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلَىٰ
شَيۡءٖ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوۡلَىٰهُ أَيۡنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأۡتِ بِخَيۡرٍ هَلۡ يَسۡتَوِي
هُوَ وَمَن يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٧٦﴾ وَلِلَّهِ غَيۡبُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَآ أَمۡرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمۡحِ ٱلۡبَصَرِ أَوۡ هُوَ
أَقۡرَبُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٧٧﴾ وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ
بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ
وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾ أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ
مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٧٩﴾

73- او له الله پرته د هغه څا عبادت کوي چې نه د آســمانونو او
زمکي د کوم رزق واك ورته لري او نه توانېدی شي. 74- الله تعالی
ته مثالونه مه بيانوئ، يقيناً چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.
75- الله د هغه مملوك بنده مثال بيانوي چې پر هيڅ څه نه
توانېږي، او هغه چې له خپل لوري مو غوره رزق ورکړی چې
هغه په پټه او په ډاګه ترې انفاق کوي، آيا دا دواړه سره برابر
دي؟ ستاينې ټولي الله ته دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 76- او
الله د هغو دوو ســړو مثال بيانوي چې يو ئې ګونګ دئ پر هيڅ
څه نه توانېږي او هغه د خپل بادار د شا پېټی دئ، چې هر لوري
ته ئې مخامخ کړي کوم خير (او ګټه) به رانه وړي،آيا دی او هغه
څوك سره برابرېدی شي چې په انصــاف سره امر کوي او هغه پر
مســتقيمي لاري برابر (روان) دئ. 77- او د آســمانونو او زمکي د
پټو (امورو) علم له الله سره دئ، او د قيامت کار خو يوازي د
ســترګي د يوه رپ په څېر دئ او تر دې هم زيات لنډ، يقيناً چې
الله پر هر څه قادر دئ. 78- او الله تاســو د خپلو ميندو له ګېډې
راوايستئ په داسي حال کې چې په هيڅ څه نه پوهېدئ، او تا سو
ته ئې غوږ، سترګي او زړونه جوړ کړل، ښايي شکر وکړئ. 79- آيا
د آســـمان په فضـــاء کې ئې دغو مرغانو ته پام نه دئ کړی چې
مســخر کړی شــوي، له الله پرته ئې هيڅوك نه ټموي، يقيناً چې په
دې کې د هغو وګړو لپاره څرګندي نښي دي چې ايمان لري.

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن
جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ
إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ
حِينٖ ﴿٨٠﴾ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ
ٱلۡجِبَالِ أَكۡنَٰنٗا وَجَعَلَ لَكُمۡ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلۡحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ
تَقِيكُم بَأۡسَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ
تُسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٢﴾ يَعۡرِفُونَ
نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٣﴾ وَيَوۡمَ
نَبۡعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا ثُمَّ لَا يُؤۡذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ وَلَا
هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلۡعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ
عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾ وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ شُرَكَآءَهُمۡ
قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدۡعُواْ مِن دُونِكَۖ
فَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلَ إِنَّكُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوۡمَئِذٍ
ٱلسَّلَمَۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٨٧﴾

80- او الله تاسو ته ستاسو له کورونو استوګنځي جوړ کړي، او تاسو ته ئې د څارویو له پوستکو داسي کورونه (کیږدۍ) جوړي کړې چي هم ئې د خپل سفر په ورځو کې سپك مومئ او هم د خپل اقامت په ورځو کې، او د پسونو له وړیو، د اوښانو له وړیو او د وزو له وېښتانو (وزغنو) اثاث (پوښـاك او فرش) او تر یوې نېټې برخمن کېدا. 81- او الله تاسـو ته له هغه څه چي پیدا کړي ئې دي سـیوري جوړ کړي، او له غرونو ئې تاســو ته ســمڅي جوړي کړې دي، او داسي جامې ئې درته جوړي کړې دي چي له تودوخي مو ساتي او داسي جامې چي په جګړو کې مو ســاتي، همداسي خپل نعمتونه درباندي بشــپړوي چي مســلمان شــئ (غاړه کېږدئ). 82- خو که ئې مخ واړاوو نو پر تا له څرګند پیغام رسولو پرته بله ذمه والي نشته. 83- د الله نعمتونه پېژني خو بیا انکار ترې کوي، او د دوی ډېری کافران دي. 84- او هغه ورځ چي له هري ډلي یو ګواه راپاڅوو، بیا به نه هغو ته اجازه ورکړی شي چي کفر ئې کړی او نه به له (الهي) عتاب د ځان ژغورني غوښــتنه ترې کېږي. 85- او کله چي ظلم کوونکي عذاب وګوري نو نه به ترې ســپك کړی شي او نه به مهلت ورکول کېږي. 86- او کله چي مشرـك شــوي خپل شریکان (جعلي معبودان) وګوري وبه وایي: دا زموږ هغه شریکان ول چي له تا پرته مو لمانځل، نو خبره به ورغبرګه کړي چي بې شــكه تاســو دروغجن یئ، 87- او الله ته به په دې ورځ (خپله) تسلیمي وړاندي کړي او هغه څه به ترې ورك شي چي له ځانه ئې په دروا‌غو جوړول،

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابٗا فَوۡقَ
ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ ﴿٨٨﴾ وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدًا
عَلَيۡهِم مِّنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَجِئۡنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَنَزَّلۡنَا
عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ
لِلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٨٩﴾ ۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي
ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ
لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا
تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ
كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي
نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا
بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ
بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾
وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ
وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

88- هغـه چي کفر ئې کړی او د الله لـه لاري ئې مخنيوی کړی عذابونه به ئې يو د بل د پاسه ورته زيات کړو د هغو فسادونو له کبله چي دوی کول. 89- او کومه ورځ چي په هري ډلي کي د دوی له منځه پر دوی يو گواه راپاځوو، او تا پر دغو خلکو د يوه گواه په توگه راولو، او پرتا مو دا کتاب نازل کړی چي د هر څه لپاره څرگندونکی دئ او د مسلمانانو لپاره لارښود، رحمت او زېری. 90- يقيناً چي الله د عدل، احســـان او خپلوانو ته د ورکړي امر کوي، او له فحشــاء، منکراتو او بغاوت ممانعت کوي، تاســو ته د دې لپاره وعظ کوي چي ښــايي پند واخلئ. 91- او کله چي ژمنه کوئ نو په الهي ژمني وفا وکړئ او قسمونه د هغوی له ټينگښت وروسته مه ماتوئ، په داسي حال کي چي الله مو پر خپل ځان وکيل او گواه نيولی، يقيناً چي الله په هغه څه پوهېږي چي تاســـو ئې کوئ. 92- او د هغي ښــځي په څېر مه کېږئ چي خپل وريښـــلی تار ئې له مضبوطولو وروسته ټوټې ټوټې کړ، خپل قسمونه په خپلو منځونو کي د غولولو وســـيله مه گرځوئ، په دې موخه چي يوه ډله تر بلي زياته گټونکې شي، يقيناً چي الله تاســـو پرې آزمويي، او يقيناً چي الله به هرومرو تاسو ته د قيامت په ورځ هغه څه څرگند کړي چي اختلاف مو په کي کولو. 93- او که الله غوښتی نو تاسو به ئې واحد امت گرځولي وئ خو ليکن هغه څوك بې لاري کوي چي دی ئې وغواړي او هغه هدايتوي چي دی ئې وغواړي، او هرومرو به له هغه څه وپوښتی شئ چي تاسو کولو.

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا
وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَكُمۡ عَذَابٌ
عَظِيمٞ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ
خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٩٥﴾ مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُ وَمَا عِندَ
ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ
فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٩٧﴾ فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ
ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيۡسَ لَهُۥ سُلۡطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ
يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلۡطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوۡنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ
مُشۡرِكُونَ ﴿١٠٠﴾ وَإِذَا بَدَّلۡنَآ ءَايَةٗ مَّكَانَ ءَايَةٖ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ
قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مُفۡتَرِۭۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلۡ نَزَّلَهُۥ
رُوحُ ٱلۡقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلۡحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدٗى
وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ﴿١٠٢﴾

94- او خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسیله مه ګرځوئ چې په نتیجه کې ئې کوم قدم له مضبوطېدا وروسته وښویېږي، او د هغه څه له کبله د کړاو خوند وڅکئ چې د الله له لارې مو مخنیوی وکړ، او ستر عذاب مو په برخه شي. 95- او پر الهي ژمنو لږکی بیع (قیمت) مه پېرئ، یقیناً هغه څه چې د الله په خوا کې دي درته غوره دي که پوهېږئ، 96- هغه څه چې له تاسو سره دي ختمېږي او هغه څه چې له الله سره دي پاته کېدونکي دي، او هرومرو به هغو ته چې صبر ئې وکړ د دوی د هغه غوره عمل له مخې بدله ورکړو چې کاوو ئې. 97- چا چې نېک کار وکړ، که نارینه وي او که ښځه، خو چې هغه مؤمن وي، نو پاکیزه ژوندون به ور په برخه کړو او د دوی د هغه غوره عمل له مخې به بدله ورکړو چې کاوو ئې. 98- نو کله چې قرآن لولې الله ته له رټل شوي شیطان پناه یوسه، 99- یقیناً چې هغه داسې دئ چې پر هغو کسانو هیڅ سلطه نه لري چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. 100- بې شکه چې د ده سلطه یوازې پر هغو ده چې له ده سره دوستي پالي او هغه چې د ده له کبله مشرکان شوي. 101- او کله چې یو آیت د بل پرځای بدل کړو، په داسې حال کې چې الله په هغه څه ښه پوه دئ چې نازلوي ئې، (هغوی) وایي: ته افتراء کوونکی یې، داسې نه ده؛ بلکې د دوی ډېری نه پوهېږي. 102- ووایه: روح القدس هغه په حقه ستا د رب له لوري نازل کړی تر څو هغه وګړي پرې مضبوط کړي چې ایمان ئې راوړی او مسلمانانو ته لارښوونه او زېری وي.

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي
يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ١٠٣ إِنَّ
ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ١٠٤ إِنَّمَا يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ١٠٥ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ
إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن
مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ
عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٦ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى
ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٠٧ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ١٠٨ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ
١٠٩ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ
وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٠

103- او يقيناً په دې پوهېږو چې دوی وايي: خبره له دې پرته بله نه ده چې يو انسان ئې ورزده کوي، دا په داسي حال کې چې د هغه چا ژبه غير عربي ده چې دوی ورته گوته نيسي او دا خو څرگنده عربي ده. 104- يقيناً هغه چې د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي الله ئې لارښوونه نه کوي او دوی ته دردناك عذاب دئ. 105- يوازي هغه وگړي له ځانه درواغ جوړوي چې د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي، او همدا دوی دروغجن دي. 106- چا چې له خپل ايمان وروسته د الله په اړه کفر کړی، مگر هغه چې په زور اړ کړی شوی؛ په داسي حال کې چې زړه ئې پر ايمان ډاډه دئ، خو هغه چې کفر ته ئې سينه پرانيستې، نو پر دوی د الله له لوري غضب دئ او دوی ته ستر عذاب دئ. 107- دا له دې کبله چې دوی د دنيا ژوند پر آخرت غوره وگڼلو او د دې لپاره چې الله دا کافر وگړي نه هدايتوي. 108- دا هغه وگړي دي چې الله د دوی پرزړونو، غوږونو او سترگو مهر لگولی او همدا دوی غافلان دي، 109- شك نشته چې همدا دوی به په آخرت کې زيانمن وي. 110- بيا يقيناً چې ستا رب د هغو وگړو په اړه له شکه پرته ډېر مهربان بخښونکی دئ چې په آزمېښتونو کې له اچول کېدو وروسته ئې هجرت کړی، بيا ئې جهاد او صبر کړی.

*يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا
عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ١١١ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ
ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ
بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ
يَصۡنَعُونَ ١١٢ وَلَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡهُمۡ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ
ٱلۡعَذَابُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ١١٣ فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا
وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١١٤ إِنَّمَا حَرَّمَ
عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۖ
فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١١٥ وَلَا
تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا حَرَامٞ
لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ
لَا يُفۡلِحُونَ ١١٦ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١٧ وَعَلَى ٱلَّذِينَ
هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ
وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ١١٨

111- هغه ورځ چې هر څوك به په داسې حال کې راشي چې له ځانه د دفاع لپاره به مجادله کوي او هر چا ته به هغه څه په بشپړه توګه ورکړی شي چې کړي ئې وو او پر دوی به ظلم نه کېږي. 112- او الله د هغه کلي مثال بیان کړ چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځایه تازه او پرېمانه ورته راتو، خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله د لوږې او وېرې په جامو د پټېدو خوند وروڅاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول. 113- او یقیناً چې دوی ته د دوی له منځه یو پیغمبر ورغی، چې هغه ئې تکذیب کړ، نو ځکه په داسې حال کې عذاب ونیول چې ظالمان ول. 114- نو هغه حلال او پاك رزق وخورئ چې الله درروزي کړی، او د الله د نعمت شکر وکړئ که په رښتینې توګه د هغه عبادت کوئ. 115- یقیناً خبره یوازې دا ده چې پر تاسو ئې مړزګه، وینه، د خوګ غوښه او هغه څه حرام کړي چې د غیر الله نوم پرې اخیستل کېږي، نو که څوك مضطر شو په داسې حال کې چې نه بغاوت کوونکی وي او نه تېری کوونکی، نو یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ. 116- او د هغه څه په اړه دروغ مه وایئ چې ستاسو ژبې ئې څرنګوالی بیانوي، چې دا حلال دئ او دا حرام دئ، چې په دې توګه پر الله په درواغو له ځانه افتراء وکړئ، یقیناً هغه چې پر الله دروغجنه افتراء کوي فلاح (بریا) نشي موندلی. 117- (حاصل ئې) یوه قلیله متاع ده او دوی ته دردناك عذاب دئ، 118- او پر هغو چې یهودان شوي وو هغه څه مو حرام کړل چې مخکې مو تاته بیان کړل، او موږ ظلم نه دئ پرې کړی بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ
وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٌ ١١٩ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ
كَانَ أُمَّةٗ قَانِتٗا لِّلَّهِ حَنِيفٗا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٠ شَاكِرٗا
لِّأَنۡعُمِهِۚ ٱجۡتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٢١ وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي
ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٢٢ ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ
إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٣
إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبۡتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ وَإِنَّ رَبَّكَ
لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١٢٤ ٱدۡعُ
إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي
هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ
أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥ وَإِنۡ عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُواْ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبۡتُم
بِهِۦۖ وَلَئِن صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ خَيۡرٞ لِّلصَّٰبِرِينَ ١٢٦ وَٱصۡبِرۡ وَمَا صَبۡرُكَ
إِلَّا بِٱللَّهِۚ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُ فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ
١٢٧ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحۡسِنُونَ ١٢٨

119- يقيناً چې ستا رب د هغو وګړو په اړه چې په ناپوهۍ سره ئې بد کار کړي، بیا ئې له دې وروسته توبه کړې او سمونه ئې کړې (خپل عمل ئې اصلاح کړی)، یقیناً چې ستا رب تر دې وروسته حتماً ډېر مهربان بخښونکی دئ. 120- یقیناً چې ابراهیم (په یوازې سر) یو امت وو، الله ته مطیع، حق ته یومخیزه مائل او داسې نه وو چې له مشرکینو شي، 121- د نعمتونو ئې شاکر، غوره ئې کړ او مستقیمې لارې ته ئې هدایت کړ، 122- او په دنیا کې مو ښېګڼه ورپه برخه کړه او هغه به په آخرت کې حتماً د صالحانو په ډلې کې وي، 123- بیا مو تا ته وحي وکړه چې د حنیف ابراهیم د ملت متابعت وکړه او هغه د مشرکینو له ډلې نه وو. 124- یقیناً چې سبت (شنبه او احترام ئې) پر هغو (لازم) ګرځول شوی وو چې اختلاف ئې په کې کړی وو، او یقیناً چې ستا رب به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو. 125- د خپل رب لارې ته په حکمت او نېکې موعظې سره بلنه ورکړه، او په داسې توګه مجادله ورسره کوه چې تر ټولو غوره وي، یقیناً چې ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چې د ده له لارې تېروتې او هغه پر هدایت شوو هم ښه پوه دئ. 126- او که تېری دربانديې وشو نو همغسې تېری پرې وکړئ چې پر تاسو شوی، او که صبر وکړئ دا یقیناً صابرانو ته غوره دئ. 127- او صبر وکړه، او صبر دې نه دئ مګر د الله په توفیق سره، او پر دوی مه غمجن کېږه، او له هغو پټو تدبیرونو ئې مه زړه تنګی کېږه چې دوی ئې کوي، 128- یقیناً چې الله له هغو سره مل دئ چې تقوی (ځان ساتنه) ئې وکړه او هغه چې محسنین (احسان کوونکي) دي.

# سُورَةُ الإِسۡرَاءِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى
ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ
هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١ وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى
لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلٗا ٢ ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا
مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ٣ وَقَضَيۡنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
فِي ٱلۡكِتَٰبِ لَتُفۡسِدُنَّ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَّتَيۡنِ وَلَتَعۡلُنَّ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤
فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثۡنَا عَلَيۡكُمۡ عِبَادٗا لَّنَآ أُوْلِي بَأۡسٖ
شَدِيدٖ فَجَاسُواْ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِۚ وَكَانَ وَعۡدٗا مَّفۡعُولٗا ٥ ثُمَّ رَدَدۡنَا
لَكُمُ ٱلۡكَرَّةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَمۡدَدۡنَٰكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ
أَكۡثَرَ نَفِيرًا ٦ إِنۡ أَحۡسَنتُمۡ أَحۡسَنتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡۖ وَإِنۡ أَسَأۡتُمۡ
فَلَهَاۚ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ لِيَسُـُٔواْ وُجُوهَكُمۡ وَلِيَدۡخُلُواْ
ٱلۡمَسۡجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوۡاْ تَتۡبِيرًا ٧

## الاسراء- مکي سوره- 111 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- پاکي ده هغه ذات ته چې یوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام (محترم جومات) تر هغه مسجد الاقصی (لرې جومات) پورې بوت چې مونږ ئې شاو خوا ور برکتي کړې، تر څو ځیني خپل آیتونه وروښیو، یقیناً چې هغه ښه لیدونکی اورېدونکی دئ. 2- او موسی ته مو هغه کتاب ورکړ او هغه مو بني اسرائیلو ته لارښود وګرځاوو، (له دې لارښوونې سره) چې له ما پرته هیڅ وکیل مه نیسئ، 3- د هغو اولاد چې له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل، یقیناً چې هغه یو شاکر بنده وو. 4- په دې کتاب کې مو بني اسرائیلو ته پرېکړه واوروله چې دوه ځلې به په زمکې کې فساد کوئ او ستره لویي او کبر به کوئ، 5- نو کله چې د دوی دواړو لومړۍ وعده راورسېږي؛ خپل داسې بندګان به درباندې راولېږو چې شدید او پیاوړي جنګیالي دي، چې (ستاسو) کورونو ته به ننوځي، او دا یوه ترسره کېدونکې وعده ده. 6- بیا به تاسو ته پر دوی بری درکړو او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړو او تاسو به د شمېر له پلوه زیات کړو. 7- که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د ځان لپاره به مو وي، نو کله چې دوهمه وعده راشي (موخه به ئې دا وي چې) ستاسو مخونه سپېره کړي، او مسجد الاقصی ته همغسې ننوځي لکه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه ښه نسکور کړي چې پرې برلاسي شي.

عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يَرۡحَمَكُمۡۚ وَإِنۡ عُدتُّمۡ عُدۡنَاۚ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ
لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ وَيُبَشِّرُ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَبِيرٗا ﴿٩﴾ وَأَنَّ
ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٠﴾ وَيَدۡعُ
ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴿١١﴾ وَجَعَلۡنَا
ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ
لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ وَكُلَّ
شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ تَفۡصِيلٗا ﴿١٢﴾ وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ
وَنُخۡرِجُ لَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ كِتَٰبٗا يَلۡقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ
بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ﴿١٤﴾ مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ
وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ وَمَا كُنَّا
مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ﴿١٥﴾ وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا
مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ﴿١٦﴾ وَكَمۡ
أَهۡلَكۡنَا مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ
خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿١٧﴾

8- ښايي ستاسو رب رحم درباندي وکړي، او که بېرته وګرځېدئ موږ هم راګرځو، او دوزخ مو د کافرانو لپاره حصاروونکی (زندان) ګرځولی. 9- یقیناً چي دا قرآن هغه څه ته لارښوونه کوي چي تر ټولو سمه او سیده ده، او هغو مؤمنانو ته زېری ورکوي چي نېك عملونه کوي، (دا زېری) چي ستر اجر به ئې په برخه شي. 10- او دا چي هغو ته دردناك عذاب دئ چي پر آخرت ایمان نه لري. 11- او انسان د شر په اړه داسي دعاء کوي لکه د خیر په اړه ئې دعاء، او انسان ډېر عجول (تلواري) دئ. 12- او شپه او ورځ مو دوه څرګندي نښي وګرځولې، نو د شپې نښه مو له منځه یووړه او ورځ مو لید مهال وګرځوله، د دې لپاره چي د خپل رب فضل ولټوئ او د دې لپاره چي د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ، او هر څه مو په تفصیل سره بیان کړي. 13- او هر انسان ته مو د ده بختلیك د ده په غاړه کې غوټه کړی او د قیامت په ورځ به ئې ده ته د یوه داسي پرانیستي کتاب په توګه راوباسو چي ورسره مخامخ به شي، 14- خپل کتاب دي ولوله، نن ستا خپل نفس پر تا باندي د حسابوونکي په توګه کافي دئ. 15- څوك چي په سمه لار ولاړ شي نو د ځان لپاره په سمه لار درومي او څوك چي بې لاري شي نو د ځان په ضرر بې لاري کېږي، او هیڅ په شا کوونکی د بل پېټی نه په شا کوي، او موږ تر هغه تعذیبوونکي نه یو چي کوم پیغمبر مبعوث کړو. 16- او کله چي د کوم کلي د تباه کولو اراده وکړو نو مترفینو ته ئې امر وکړو، او هغوی هلته سرغړاوی وکړي، نو د دوی په اړه (د عذاب) وینا محققه شي او په ځانګړي ورانېدو سره ئې وران کړو. 17- او له نوح وروسته مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك کړل، او ستا رب د خپلو بندګانو پر ګناهونو د باخبر او لیدونکي ذات په توګه کافي دئ.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعَاجِلَةَ عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ
جَعَلۡنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصۡلَىٰهَا مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ﴿١٨﴾ وَمَنۡ أَرَادَ
ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم
مَّشۡكُورٗا ﴿١٩﴾ كُلّٗا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنۡ عَطَآءِ رَبِّكَۚ وَمَا
كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ﴿٢٠﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ فَضَّلۡنَا بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٖۚ وَلَلۡأٓخِرَةُ أَكۡبَرُ دَرَجَٰتٖ وَأَكۡبَرُ تَفۡضِيلٗا ﴿٢١﴾ لَّا تَجۡعَلۡ
مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَقۡعُدَ مَذۡمُومٗا مَّخۡذُولٗا ﴿٢٢﴾ *وَقَضَىٰ رَبُّكَ
أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ
أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا
قَوۡلٗا كَرِيمٗا ﴿٢٣﴾ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ
ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾ رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ
إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا ﴿٢٥﴾ وَءَاتِ ذَا
ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ
ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا
﴿٢٧﴾

18- څوك چې عاجله (ژر ترلاسه كېدونكې) غواړي، د دوى هغه چا ته چې اراده مو ورته وشي په دنيا كې هغه څه وركوو چې موږ ئې غواړو، بيا ئې جهنم په برخه كړو، چې د بدګڼل شوي او رټل شوي په توګه به ورننوځي، 19- او چا چې آخرت وغوښت او له هغه سره وړ هڅه ئې ورته وكړه، په داسې حال كې چې مؤمن وي، نو دوى هغه وګړي دي چې د هڅې قدروَنه ئې كېږي. 20- هر يوه ته دا (نعمتونه) ورپه برخه كوو، او دا ټول ستا د رب له وركړې دي، او ستا د رب د وركړې مخنيوى نشي كېدى، 21- وګوره چې څنګه مو ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت وركړى، او آخرت خو هم د درجو له پلوه ستر دئ او هم د فضيلت له پلوه ستر. 22- د الله تر څنګ بل څوك معبود مه ګرځوه كه نه نو سپېره ګڼل شوى او يوازې پاته شوى به شې. 23- او ستا رب پرېكړه كړې چې له ده پرته د هيچا عبادت مه كوئ او له مور او پلار سره ښېګڼه كوئ، كه د دوى يو يا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسېږي نو أُف هم مه ورته وايه، او مه ئې رټه، او محترمانه وينا ورته كوه. 24- او د پېرزوينې او مهربانۍ ټيټ وزر ورته غوړوه او وايه: اې زما ربه! داسې رحم پرې وكړه لكه چې زه ئې په وړكتوب كې (په مهربانۍ سره) وپاللم. 25- ستاسو رب په هغه څه ښه پوه دئ چې ستاسو په زړونو كې دي، كه صالح وئ نو يقيناً چې هغه د ورګرځېدونكو (توبه كونكو) لپاره بخښونكى دئ. 26- او خپلوانو ته خپل خپل حق وركړه، او مسكين او مسافر ته هم، او خوشې خوشې لګښتونه مه كوه، 27- يقيناً چې خوشې لګښت كوونكي د شيطان وروڼه دي او شيطان د خپل رب په وړاندې ناشكره دئ.

وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا
مَّيۡسُورٗا ﴿٢٨﴾ وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ
ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ
وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٣٠﴾ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ
خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا ﴿٣١﴾
وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقۡتُلُواْ
ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا
لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ﴿٣٣﴾ وَلَا
تَقۡرَبُواْ مَالَ ٱلۡيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ أَشُدَّهُۥۚ وَأَوۡفُواْ
بِٱلۡعَهۡدِۖ إِنَّ ٱلۡعَهۡدَ كَانَ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٤﴾ وَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ إِذَا كِلۡتُمۡ وَزِنُواْ
بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلٗا ﴿٣٥﴾ وَلَا تَقۡفُ مَا
لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ
مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن
تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ﴿٣٨﴾

28- او که لدوی دي اعراض کاوو (له څه ورکولو دي مخ اړاوو) د خپل رب د یوې پېرزویني په لټه کې چې هیله ئې کوې، نو دوی ته پسته خبره وکړه. 29- مه دي لاسونه تر خپلي غاړي تړلي ساته (بخل مه کوه) او مه ئې په بشپړ پرانیستو سره پرانیزه، داسي چې (سبا ته) ملامت ګنل شوی او حسرت کوونکی کښېنې. 30- یقیناً ستا رب چې چا ته وغواړي رزق پراخوي او (چا ته چې وغواړي) تنګوي ئې، یقیناً چې هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه لیدونکی دئ. 31- او خپل اولاد د لوږي له وېري مه وژنئ، موږ دوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، بې شکه چې د دوی وژل لویه ګناه او خطاء ده، 32- زنا ته مه نژدې کېږئ چې دا یوه بې حیایي او کرکجنه طریقه ده، 33- او هغه څوك مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه سره، او څوك چې په مظلومیت سره ووژل شو نو موږ د ده خپلوانو ته (د قصاص) واك ورکړی، نو هغه دي په وژلو کې تېری نه کوي، ځکه (د الله له لوري ئې) مرسته شوې، 34- او د یتیم مال ته مه نژدې کېږئ، مګر په هغه توګه چې ترټولو غوره وي، تر څو خپل پوخوالي ته ورسېږي، او په ژمنو وفا وکړئ، دا ځکه چې د ژمنو خامخا پوښتنه کېږي. 35- او کله چې څه پیمانه کوئ نو پیمانه بشپړه کړئ او په سمي تلي تلل وکړئ، دا غوره دئ او د پایلي له مخي ډېر ښه. 36- او په هغه څه پسي مه ځه چې پرې نه پوهېږې، دا ځکه چې غوږ، سترګې او زړه داسي دي چې د هر یوه پوښتنه کېږي. 37- او په زمکې کې په کبر او نخرو مه درومه، ځکه ته خو نه زمکه سورۍ کولی شې او نه په خپل لوړوالي کې د غرونو څوکو ته رسېدی شې. 38- د دې هر یوه بدوالی ستا د رب په خوا کې کرکجن دئ.

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا
ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ٣٩ أَفَأَصۡفَىٰكُمۡ رَبُّكُم
بِٱلۡبَنِينَ وَٱتَّخَذَ مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنَٰثًاۚ إِنَّكُمۡ لَتَقُولُونَ قَوۡلًا عَظِيمٗا ٤٠
وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ٤١
قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ
سَبِيلٗا ٤٢ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ٤٣ تُسَبِّحُ لَهُ
ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ
بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ٤٤
وَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ جَعَلۡنَا بَيۡنَكَ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ
حِجَابٗا مَّسۡتُورٗا ٤٥ وَجَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ
ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۚ وَإِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِ وَحۡدَهُۥ وَلَّوۡاْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِمۡ
نُفُورٗا ٤٦ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَسۡتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذۡ يَسۡتَمِعُونَ إِلَيۡكَ وَإِذۡ هُمۡ
نَجۡوَىٰٓ إِذۡ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ٤٧ ٱنظُرۡ
كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَالَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ٤٨ وَقَالُوٓاْ
أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ٤٩

39- دا د حکمت هغه برخي دي چي ستا رب درته وحي کړې، او له الله سره بل معبود مه گرځوه که نه نو په دوزخ کي به ملامت شوی او رټل شوی وغورځول شې. 40- نو آيا خپل رب (تاسو) په زامنو سره ستايلي يئ او له فرشتو ئې (ځان ته) لوڼي نيولې دي؟!! يقيناً چي تاسو ستره (غلطه) خبره کوئ!! 41- او يقيناً چي په دې قرآن کي مو د دې لپاره پوره وضاحت وکړ چي پند واخلي خو قرآن دوی ته له کرکي پرته بل څه ورزيات نه کړ. 42- ووايه: که له الله سره نور معبودان وی، همغسي چي دوی ئې وايي؛ نو هرومرو به ئې د عرش وال په لور لټه کوله، 43- پاك والی ئې دئ او له هغه څه ډېر ډېر لوړ دئ چي دوی ئې وايي، 44- اوه آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي؛ ده ته تسبيح وايي، داسي څه نشته چي له ستايني سره د ده په تسبيح لگيا نه وي، خو تاسو ئې په تسبيح نه پوهېږئ، بې شکه چي هغه بخښونکی حليم دئ. 45- او کله چي قرآن لولې ستا او د هغو خلکو تر منځ پټوونکې پرده رامنځته کوو چي پر آخرت ايمان نه راوړي. 46- او پر زړونو ئې داسي غلاف جوړوو چي پرې پوه نشي او غوږونو کي ئې دروندوالی، او کله چي په قرآن کي خپل رب په يووالي سره ياد کړې نو هغوی له کرکي سره په شا واوړي. 47- موږ په هغه څه ښه پوه يو چي دوی هغه مهال پرې اورېدا کوي چي تا ته غوږ نيسي، او هغه مهال چي دوی نجوی کوي، هغه وخت چي دا ظالمان وايي: تاسو فقط د يوه مسحور (جادو وهلي) سړي متابعت کوئ، 48- وگوره چي څنگه مثالونه درته بيانوي! نو په همدې سره تېروتي، او هيڅ لار نه مومي. 49- او وئې ويل: کله چي موږ هډوکي شو او وراسته شو، آيا موږ به بيا په يوه نوي پيدايښت کي راپاڅېدونکي يو؟

۞ قُلْ كُونُوا۟ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِى
صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ
فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن
يَكُونَ قَرِيبًا ﴿٥١﴾ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِۦ وَتَظُنُّونَ
إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٥٢﴾ وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ
ٱلشَّيْطَـٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ كَانَ لِلْإِنسَـٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا
﴿٥٣﴾ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ
وَمَآ أَرْسَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعْضٍ ۖ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ
زَبُورًا ﴿٥٥﴾ قُلِ ٱدْعُوا۟ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمْلِكُونَ
كَشْفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴿٥٦﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ
يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُۥ
وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ ۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴿٥٧﴾ وَإِن مِّن
قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا
شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَـٰبِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾

50- ووايه! تيږي شئ يا اوسپنه، 51- او يا بل داسي څه چي ستاسو په سينو کي درته ستر برېښي، حتماً به ووايي: څوك مو بېرته راپيدا کوي؟ ووايه! هغه ذات چي د لومړي ځل لپاره ئې تاسو راپيدا کړئ، خو ډېر ژر ده چي دوی به خپل سرونه تاته خوځوي او وايي به: دا به کله وي؟ ووايه: ښايي نژدې وي. 52- هغه ورځ چي تاسو به وربلي، نو د ده له ستايني سره به د منني ځواب ورکوئ او گمان به کوئ چي يوازي لنډه موده ځنډېدلي يئ. 53- او زما بندگانو ته ووايه: هغه څه ووايي چي تر ټولو غوره وي، يقيناً چي شيطان د دوی تر منځ د شخړو باعث وسوسې راولاړوي، يقيناً چي شيطان د انسان ښکاره دښمن دئ. 54- ستاسو رب ډېر ښه درباندي پوه دئ، که وغواړي پېرزوينه به درباندي وکړي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي، او ته مو پر دوی وکيل او ذمه وال نه يې لېږلی. 55- او ستا رب په هغو چي په آسمانونو او زمکي کي دي ښه پوه دئ، او يقيناً چي ځينو پيغمبرانو ته مو پر ځينو نورو فضيلت ورکړی، او داؤد ته مو زبور ورکړ. 56- ووايه: له الله تعالی پرته چي (پر چا د معبود) گمان کوئ؛ دروئې بلئ، هغوی نه له تاسو د ضرر دفع کولو توان لري او نه ئې د بدلولو، 57- هغه چي دوی ئې مرستي ته وربلي؛ هر يو ئې چي الله ته ډېر نژدې وي په خپله د الله دربار ته د تقرب وسيله لټوي، د هغه رحمت ته ئې سترگي دي او له عذابه ئې وېره لري، بې شکه چي ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چي وېره ترې وشي. 58- او هيڅ کلی داسي نه دئ چي يا ئې موږ د قيامت له ورځي وړاندي هلاکوونکي نه يو او يا په شديد عذاب سره تعذيبوونکي، دا په کتاب کي ليکل شوي.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرۡسِلَ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلۡأَوَّلُونَۚ وَءَاتَيۡنَا
ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبۡصِرَةٗ فَظَلَمُواْ بِهَاۚ وَمَا نُرۡسِلُ بِٱلۡأٓيَٰتِ إِلَّا تَخۡوِيفٗا
٥٩ وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ
أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ
وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ
ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ
طِينٗا ٦١ قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ
يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٗا ٦٢ قَالَ ٱذۡهَبۡ فَمَن
تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءٗ مَّوۡفُورٗا ٦٣ وَٱسۡتَفۡزِزۡ
مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ
وَشَارِكۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِ وَعِدۡهُمۡۚ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا
غُرُورًا ٦٤ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٞۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ
وَكِيلٗا ٦٥ رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِي ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ
مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ٦٦

59- او له دې پرته بل څه موږ د څرګندو نښو (معجزو) له لېږلو منع نه کړو چې مخکنيو هغه تکذيب کړې، او ثمودیانو ته مو اوښـــه د ليدل کېدونکې نښې په توګه ورکړه چې ظلم ئې پرې وکړ، او څرګندې نښــــې نه لېږو مګر د وېرولو لپاره. 60- او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ســـتا رب پر دغو خلکو احاطه کړې، او هغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښـــود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې، او په قرآن کې (ياده شــوې) هغه لعنت شــوې ونه او وېروو ئې، نو (دغو خبرو) يوازې د دوی ستر طغيان لا زيات کړ. 61- او کله چې مو فرشتو ته وويل: آدم ته سجده وکړئ؛ نو له ابليس پرته نورو (ټولو) سجده وکړه، (هغه) وويل: آيا هغه چا ته سجده وکړم چې له خټې دې پيدا کړی؟! 62- وئې ويل: آيا پوهېږې چې که تر قيامته مې وځنډوې نو دغه چې پر ما دې غوره والی ورکړ؛ زامن به ئې له لږو پرته ټول هرومرو تباه کړم، 63- وئې ويل: ځه؛ د دوی هر څوك چې ستا متابعت وکړي جهنم به ستاسو سزا وي، پوره او وافره سزا. 64-په خپل غږ سره د دوی هغه څوك وښويوه چې له وسه دې پوره وي، او خپل سپاره او پلي پرې وهځوه، او په مالونو او اولادونو کې ئې ورسره شريك شــه، او ژمنې ورسره وکړه، شــيطان خو يوازې غولوونکې ژمنې ورسره کوي. 65- يقيناً چې زما پر بندګانو دې هيڅ برلاسی او ســـلطه نشته، او ستا رب د وکيل په توګه کافي دئ. 66- ستاسو رب هغه دئ چې کښتۍ په بحر کې درته خوځوي، چې فضل ئې ولټوئ، يقيناً چې هغه پر تاسو ډېر مهربان دئ.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا
نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمۡ أَن
يَخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ ٱلۡبَرِّ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗا ثُمَّ لَا
تَجِدُواْ لَكُمۡ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمۡ أَمِنتُمۡ أَن يُعِيدَكُمۡ فِيهِ تَارَةً أُخۡرَىٰ
فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفٗا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغۡرِقَكُم بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ
لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعٗا ﴿٦٩﴾ *وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ
وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ
عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا ﴿٧٠﴾ يَوۡمَ نَدۡعُواْ كُلَّ أُنَاسِۭ
بِإِمَٰمِهِمۡۖ فَمَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَقۡرَءُونَ كِتَٰبَهُمۡ
وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلٗا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ
أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ﴿٧٢﴾ وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ
إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴿٧٣﴾ وَلَوۡلَآ أَن
ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذٗا لَّأَذَقۡنَٰكَ
ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرٗا
﴿٧٥﴾

67- او کله چې په بحر کې کوم ربړ دروررسېږي؛ له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چې (مرستي ته ئې) دربلئ، خو چې کله مو وچې ته وژغوري نو ډډه کوئ او انسان ډېر ناسپاس دئ، 68- آیا له دې خوندي شوي یئ چې د وچې په ژۍ کې مو ښخ کړي او یا تونده سیلۍ درباندي راولېږي، بیا هیڅ وکیل درته ونه مومئ، 69- او آیا له دې خوندي شوي یئ چې یو ځل بیا مو بېرته وروګرځوي او ستاسو د ناسپاسۍ له کبله د باد تونده سیلۍ درباندي راولېږي او غرق مو کړي او بیا د دغې سزا په وجه پر مونږ کوم نیوونکی ونه مومئ. 70- او یقیناً چې موږ د آدم اولاد ته کرامت ور په برخه کړ او په وچه (زمکه) او بحر کې مو حمل کړ (د حمل وسائل مو ورته پیدا کړل)، پاکیزه رزق مو ورکړ او دوی ته مو په ډېرو هغو فضیلت ورکړ چې موږ پیدا کړي. 71- هغه ورځ چې هره ډله خلك به د خپل مشر په نامه راوبلو، نو چا ته چې خپله عملپاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي نو دوی به خپل کتاب لولي او پر دوی به د (خرما د زړي د) نري تار په اندازه هم ظلم نه کېږي. 72- او څوك چې دلته (په دې دنیا کې) ړوند وو، هغه به په آخرت کې هم ړوند او تر دې زیات تېروتی او لارورکی وي. 73- او نژدې وه په فتنه کې دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چې تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چې د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې، 74- او که مو مضبوط کړی نه وې نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، 75- چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګه وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ وَإِذٗا لَّا
يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلٗا ٧٦ سُنَّةَ مَن قَدۡ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن
رُّسُلِنَاۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحۡوِيلًا ٧٧ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ
إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا
٧٨ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ
مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ٧٩ وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِي مُدۡخَلَ صِدۡقٖ وَأَخۡرِجۡنِي
مُخۡرَجَ صِدۡقٖ وَٱجۡعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلۡطَٰنٗا نَّصِيرٗا ٨٠ وَقُلۡ جَآءَ
ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ٨١ وَنُنَزِّلُ مِنَ
ٱلۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٞ وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا
خَسَارٗا ٨٢ وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا
مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسٗا ٨٣ قُلۡ كُلّٞ يَعۡمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمۡ
أَعۡلَمُ بِمَنۡ هُوَ أَهۡدَىٰ سَبِيلٗا ٨٤ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِۖ قُلِ
ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٥ وَلَئِن
شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيۡنَا
وَكِيلًا ٨٦

76- او تلوار ئې کاوو چي له دې زمکي دي پښــې ســپکي کړي او ترې ودي باسي، او په دې صــورت کي به دوی هم له تا وروســـته نه وو ځنډېدلي مگر لنډه موده. 77- دا زموږ د هغو پیغمبرانو په اړه سـنت دئ چي تر تا د مخه مو لېږلي ول او زموږ سنت ته هيڅ بدلون نشې موندلی. 78- د لمر له زواله د شـــپې تر پخېدو پوري لمونځ کوه او په سـباوون کي د قرآن قرائت، يقيناً چي د سـباوون قرآن وېَنه مشـهوده وي (آثار ئې ترســترگو کېږي). 79- او د شــپې په يوې برخي کي تهجد کوه (پر لمانځه بې خوبي گاله) ســتا لپاره اضــافي (کار)، هيله ده چي ستا رب دي په ستايل شوي مقام راپاځوي. 80- او ووايه: اې زما ربه! په رښتيني ننوتو سره مي ننباسه او په رښتيني وتو سره مي وباسه، او له خپل لوري مرســتندوی واك را، 81- او ووايه: حق راغی او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چي باطل له منځه تلونکی دئ. 82- او د قرآن داسي څه نازلوو چي هغه مؤمنانو ته درملنه او پېرزوينه ده، او ظالمانو ته له تاوان پرته بل څه نه زياتوي. 83- او کله چي پر انســـان (د کوم نعمت) پېرزوينه وکړو اعراض کوي او خپل څنگ اړوي، او چي شر (کړاو) وررســـېږي نو نـاهيلی وي، 84- ووايـه: هر څوك پر خپلي کړنلاري عمل کوي، او ستاسو رب پر هغه چا ښه پوه دئ چي لار ئې تر ټولو ســمه ده. 85- د روح په اړه تا پوښـتي، ووايه چي روح زما د رب کار دئ او تاسي ته (پدې اړه ډېره) کمه پوهه درکړل شــوې. 86- او که وغواړو هغه څه به له منځه يوســو چي تا ته مو وحي کړي بيا به زموږ په خلاف ځان ته کوم وکيل ونه مومې،

إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرٗا ٨٧ قُل لَّئِنِ
ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا
يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ٨٨ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا
لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا
كُفُورٗا ٨٩ وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ
يَنۢبُوعًا ٩٠ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ
خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ٩١ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا
أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ٩٢ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن
زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا
كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٣
وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ
ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ٩٤ قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ
مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا ٩٥ قُلۡ كَفَىٰ
بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ٩٦

87- مگر ستا د رب له لوري كومه پېرزوينه، يقيناً پر تا باندي د هغه فضل ډېر ستر دئ. 88- ووايه: كه ټول انسانان او پېريان پر دې راغونډ شي چي د دې قرآن په څېر (كوم كتاب) راوړي، هغه ته ورته (كتاب) نشي راوړلی كه څه هم ځيني ئې د ځينو نورو ملاتړي شي. 89- او يقيناً چي په دې قرآن كې مو خلكو ته هر راز مثالونه بيان كړي، خو ډېری خلك يوازي له ناسپاسۍ ډډه نه كوي. 90- او وئې ويل: تر هغه درباندي ايمان نه راوړو چي له زمكې كومه چينه راته ونه بهوې. 91- او يا دي د خرما او انگورو داسي باغ نه وي چي په منځ كې ئې ويالې رواني كړې. 92- او يا لكه څنگه چي گمان كوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائكې موږ ته مخامخ راحاضر كړې 93- او يا دي د سرو سپينو زرو كور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دي هم تر هغه نه منو چي كوم داسي ليكلی كتاب راته راوړې چي موږ ئې لوستی شو، ووايه: سبحان الله! مگر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! 94- او د هدايت له راتلو وروسته، خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه كړل چي ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توگه مبعوث كړی؟ 95- ووايه: كه په زمكې كې ملائكې اوسېدی او ډاډمنه گرځېدی، نو هرومرو به مو له آسمانه پر دوی يوه ملائكه د پيغمبر په توگه لېږلې وه. 96- ووايه: الله زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توگه كافي دئ، يقيناً چي هغه د خپلو بندگانو په اړه ښه باخبر او ليدونكی دئ.

وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُمۡ أَوۡلِيَآءَ مِن
دُونِهِۦۖ وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ عُمۡيٗا وَبُكۡمٗا
وَصُمّٗاۖ مَّأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا ٩٧ ذَٰلِكَ
جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا
أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدًا ٩٨ ۞أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا
لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ٩٩ قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ
خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّيٓ إِذٗا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ
قَتُورٗا ١٠٠ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ فِرۡعَوۡنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰمُوسَىٰ
مَسۡحُورٗا ١٠١ قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا ١٠٢
فَأَرَادَ أَن يَسۡتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ فَأَغۡرَقۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعٗا ١٠٣
وَقُلۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ لِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱسۡكُنُواْ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ
ٱلۡأٓخِرَةِ جِئۡنَا بِكُمۡ لَفِيفٗا ١٠٤

97- او الله چي څوك هدايت كړي هدايت شوى همدا دئ، او څوك چي بې لاري كړي نو له ده پرته به هيڅ اولياء ورته ونه مومې، او د قيامت په ورځ به ئې پر خپلو مخونو (پراته) ړانده، گونگي او كاڼه راغونډ كړو، تم ځى به ئې جهنم وي، هر كله چي تت شي لمبې به ورته زياتي كړو، 98- دا د دوى سزا ده له دې كبله چي زما له آيتونو ئې انكار كاوو او ويل ئې: كله چي هډوكي او وراسته شو آيا بيا به په نوي پيدايښت كي راپاڅول كېږو؟! 99- آيا دې ته ئې ونه كتل چي هغه الله چي آسمانونه او زمكه ئې پيدا كړي پر دې قادر دئ چي دوى ته ورته راپيدا كړي، او دوى ته ئې داسي اجل ټاكلى چي هيڅ شك په كي نشته، نو ظالمانو پوازي له كفران ډډه ونه كړه. 100- ووايه: كه تاسو زما د رب د رحمت خزانو واكمن وى نو د انفاق له وېري به مو بخل كولو، او انسان ډېر كنجوس دئ. 101- او يقيناً چي موسى ته مو نه ځرگندوونكي آيتونه (نښي) وركړل، نو له بني اسرائيلو وپوښته، چي كله ورغى نو فرعون ورته وويل: اې موسى! زه په كوډو د اخته شوي گمان درباندي كوم، 102- وئې ويل: ته ښه پوهېدلى يې چي دا د بصيرت رڼا د آسمانونو او زمكي له پالونكي رب پرته بل چا نه ده رالېږلې، او اې فرعونه! زه درباندي گمان كوم چي تباه شوى يې، 103- نو وئې غوښتل چي له زمكي ئې پښې ورسپكي كړي نو دى او ټول هغه مو غرق كړل چي ورسره ول، 104- او تر ده وروسته مو بني اسرائيلو ته وويل: په دې زمكي كي مېشت شئ، نو كله چي د آخرت وعده راورسېږي ټول به په گډه راولو.

وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ وَبِٱلۡحَقِّ نَزَلَۗ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿١٠٥﴾
وَقُرۡءَانٗا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٖ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا ﴿١٠٦﴾
قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ
عَلَيۡهِمۡ يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِۤ سُجَّدٗا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ
وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ
خُشُوعٗا۩ ﴿١٠٩﴾ قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ
ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ
ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ
شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ﴿١١١﴾

## سُورَةُ الكَهۡفِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾
قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرًا حَسَنٗا ﴿٢﴾ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ﴿٣﴾ وَيُنذِرَ
ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ﴿٤﴾

105- او په حقه مو نازل کړی او په حقه نازل شوی، او ته مو یوازې یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی یې، 106- او قرآن مو ټوك ټوك کړ، ترڅو ئې په ځنډ ځنډ سره پر خلکو ولولې او په ځانګړې کوزولو سره مو راکوز کړ. 107- ووایه: یا ایمان پرې راوړئ یا ایمان مه راوړئ (ستاسو خپله خوښه) یقیناً هغه چې تر دې وړاندې علم ورکړی شوی کله چې پرې ولوستل شي د سجدې په توګه زنو ته ټیټېږي، 108- او وایي: زموږ رب ته پاکوالی دئ، یقیناً چې زموږ د رب وعده حتماً ترسره کېدونکې ده، 109- په داسې حال کې زنو ته نسکورېږي چې ژاړي، او ترهه ئې زیاتوي. 110- ووایه! یا الله دروبولئ یا رحمن ته دعاء وکړئ، په هر یوه چې ئې دربولئ، ده ته ښایسته او غوره نومونه دي او مه دې دعاء په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه، (بلکې) د دواړو ترمنځ وسط لار غوره کړه. 111- او ووایه: ستاینې هغه الله ته دي چې نه ئې زوی نیولی، نه په ملك کې کوم شریك ورته شته او نه د ناتوانۍ له امله کوم مرستیال ورته شته او په لوی یادولو سره ئې ستر ګڼه.

## الکهف- مکي سوره- 110 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ستاینې هغه الله ته دي چې پر خپل بنده ئې دا کتاب نازل کړ او هیڅ کوږوالی ئې نه دئ ورته پرېښی، 2- چې سم او پوخ دئ، تر څو د خپل شدید عذاب خبرداری ورکړي او هغو مؤمنانو ته چې نېك عملونه کوي د دې زېری ورکړي چې غوره اجر به ئې په برخه شي، 3- تر ابده په هغه کې پاته کېدونکي، 4- او هغه وګړي وویروي چې وایي: الله زوی نیولی،

مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ
أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبٗا ٥ فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ
ءَاثَٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ٦ إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى
ٱلۡأَرۡضِ زِينَةٗ لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗا ٧ وَإِنَّا لَجَٰعِلُونَ
مَا عَلَيۡهَا صَعِيدٗا جُرُزًا ٨ أَمۡ حَسِبۡتَ أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ
وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ٩ إِذۡ أَوَى ٱلۡفِتۡيَةُ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ
فَقَالُواْ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةٗ وَهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ أَمۡرِنَا رَشَدٗا ١٠
فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ فِي ٱلۡكَهۡفِ سِنِينَ عَدَدٗا ١١ ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ
لِنَعۡلَمَ أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ أَحۡصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓاْ أَمَدٗا ١٢ نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ
نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ١٣
وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ١٤ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا
ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ
أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ١٥

5- په داسي حال کي چي نه دوی پرې څه علم لري او نه ئې پلرونه، ستره (غلطه) وينا ده چي له خولو ئې وځي، دوی له درواغو پرته بل څه نه وايي. 6- نو ښايي ته به په دوی پسي د دې اندېښنې او تأسف له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوونکی شې چي پر دې وينا (قرآن) ايمان نه رواړي، 7- يقيناً چي موږ ټول هغه څه چي پر زمکه دي د هغې سينګار ګرځولي، تر څو دوی پرې وآزمويو چي کوم يو ئې د عمل له پلوه غوره دئ، 8- او موږ له ټولو هغو شيانو تش ډاګ جوړوونکي يو چي د پاسه ئې دي. 9- آيا ګمان دي کړی چي اصحاب کهف او رقيم (پر ډبري يوه ليکنه) زموږ له عجيبو نښو ول؟ 10- هغه مهال چي دغو ځلميانو هغي سمڅي ته پناه يووړه او وئې ويل: اې زموږ ربه! له خپل لوري رحمت راباندي وکړه او زموږ په کار کي لارښوونه راپه برخه کړه. 11- نو څو کاله مو په سمڅي کي د دوی غوږونه دپ کړل، 12- بيا مو راپاڅول چي وګورو له دواړو ډلو کومه يوه ئې د دوی د پاته کېدا د مودې ښه شمېرونکې ده!! 13- موږ د دوی قصه په رښتينې توګه درته بيانوو، دوی يوه داسي ډله وه چي په خپل رب ئې ايمان راوړ او لازيات مو هدايت کړل، 14- او د دوی زړونه مو ورمضبوط کړل، هغه مهال چي پاڅېدل او وئې ويل: زموږ رب همغه دئ چي د آسمانونو او زمکي رب دئ، له ده پرته به هيڅ معبود ونه ځانځو، يقيناً چه هغه مهال به مو خوشې او پوچه خبره کړې وي، 15- زموږ دغه قوم خو له ده پرته نور معبودان غوره کړي! ولي کوم څرګند دليل نه پرې وړاندي کوي؟! نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چي پر الله دروغجنه افتراء کوي؟!

وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ
لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ١٦
۞وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ
وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ
مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ
لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ١٧ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ
ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ
ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ١٨
وَكَذَٰلِكَ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيۡنَهُمۡۚ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡۖ
قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۚ قَالُواْ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ
فَٱبۡعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمۡ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ
أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ
أَحَدًا ١٩ إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي
مِلَّتِهِمۡ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ٢٠

16- او که لدوی او هغه څه چې دوی ئې له الله پرته لمانځې ګوښه او بېل شئ نو هغې سمڅې ته پناه یوسئ چې ستاسو رب خپل رحمت دربانديې خور کړي او ستاسو په کار کې د آسانتیا اسباب درته مهیا کړي. 17- او لمر به ګورې چې کله راخېژي د دوی له سمڅې ښې لورې ته کږېږي، او چې پرېوځي دوی کیڼ لورې ته پرېږدي، او دوی د سمڅې په پراخې برخې کې ول، دا د الله آیتونه دي، الله چې څوك هدایت کړی نو همدا هدایت شوی دئ، او څوك چې بې لارې کړي نو هیڅ لارښود دوست به ورته ونه مومې. 18- او ویښ به ئې بولې په داسې حال کې چې دوی ویده دي، او په ښې لورې او کیڼ لورې ئې اړوو راړوو، او سپی ئې په درشل کې (داسې پروت دئ چې) څنګلې ئې غوړولې دي، که پرې ورښکاره شوې (ودې لیدل) نو په تېښته به لدوی مخ اړوې او د دوی له هیبته به ستا زړه ډك شوی وو. 19- همداسې مو راپاڅول چې په خپلو منځونو کې یو بل وپوښتي؛ د دوی یوه ویونکي وویل: څومره (دلته) تم شوئ، (ځینو) وویل: یوه ورځ او یا د ورځې یوه برخه تم شوي یو، (نورو) وویل: ستاسو رب په هغې مودې ښه پوه دئ چې تم شوي یئ، نو یو کس مو له دغو سکو سره ښار ته ولېږئ او هغه څوك دي ولټوي چې د خوراکې توکو له پلوه ډېر پاکیزه وي، نو تاسو ته دې له هغه خواړه راوړي او حتما دې دقت او احتیاط کوي او هیڅوك باید پر تاسو خبر نه کړي، 20- که دوی دربانديې برلاسي شي نو یا به مو رجم کړي ( د ډبرو په ویشتلو سره به مو ووژني) او یا به مو خپل مذهب ته ورواړوي او په دې صورت کې به هیڅکله ونه ژغورل شئ.

وَإِذِ ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ
لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ﴿١٦﴾
۞وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ
وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ
مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ
لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ﴿١٧﴾ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ
ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ
ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ﴿١٨﴾
وَكَذَٰلِكَ بَعَثۡنَٰهُمۡ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيۡنَهُمۡۚ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ كَمۡ لَبِثۡتُمۡۖ
قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۚ قَالُواْ رَبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثۡتُمۡ
فَٱبۡعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمۡ هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ
أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ
أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي
مِلَّتِهِمۡ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴿٢٠﴾

21- او همداسي مو (خلك) پرې خبر کړل، تر څو پوه شي چي د الله وعده رښتینې ده او دا چي په (راتلو د) قیامت کي هیڅ شك نشته، هغه مهال چي په خپلو منځونو کي ئې د خپل کار په اړه شخړه کوله نو (ځینو ئې) وویل: کومه ماڼۍ پرې جوړه کړئ، د دوی رب ښه پرې پوهېږي، هغو چي د دوی اړوند کار کي برلاسي شول وئې ویل: حتماً کوم مسجد پرې جوړوو، 22- وايي به: درې ول څلورم ئې د دوی سپی وو او وايي به: پنځه ول شپږم ئې د دوی سپی وو، دا هسي په تیاره کي کاڼي ویشتل دي او وايي به: اوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووایه: زما رب د دوی له شمېره ښه خبر دئ، یوازي لږ کسان ئې پېژني، د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو له هیچا د دوی په اړه پوښتنه مه کوه. 23- او د هیڅ څه په اړه مه وایه چي زه ئې سبا کوونکی یم، 24- مګر دا چي (ووایې) که الله وغواړي، او که دي هېره شوه نو خپل رب یاد کړه، او ووایه: هیله ده زما رب مي تر دې لازيات رشد او هدایت ته نژدې (کار ته) هدایت کړي. 25- او (وئې ویل) په خپلي سمځي کي درې سوه کاله پاته شول او نه ئې پرې زيات کړل، 26- ووایه: الله په هغې (مودې) ښه پوه دئ چي (هلته) پاته شول، د آسمانونو او زمکي د غیبو (علم) له ده سره دئ، ښه لیدونکی ئې او ښه اورېدونکی، نه دوی ته له ده پرته کوم ولي (ملاتړی) شته او نه ئې په خپل حکم (حاکمیت) کي څوك شریك کړی. 27- هغه څه تلاوت کړه چي ستا د رب له کتاب تا ته وحي شوي، د ویناوو ئې بدلوونکی نشته او له ده پرته به هیڅ پناه ځی ونه مومې.

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ
وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ
مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ
ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا
لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ
كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ
أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ
مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ﴿٣١﴾
*وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ
وَحَفَفۡنَٰهُمَا بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ﴿٣٢﴾ كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ
أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ
فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ﴿٣٤﴾

28- د هغو په څنګ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعاء کوي، په داسي حال کې چې رضاء ئې لټوي او لدوی دي ستا سترګي بل پلو وانه وړي، د دنیوي ژوند د زینتونو په لټه کې، او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر غافل کړی او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زیاتی او افراط دئ. 29- او ووایه: دا ستاسو د رب له لوري یو حقیقت دئ، نو څوك چې غواړي ایمان دي راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دي شي، بې شکه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسي اور تیار کړی چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې کله د مرستي لپاره غږ کړي نو په داسي اوبو به ئې غږ ته ځواب ویلی شي چې خوټېدونکې، توري او بویناکې دي او مخونه وریتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی، 30- او بې شکه هغو چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضائع کوو چې د عمل له مخي ښه وي. 31- دوی هغه وګړي دي چې داسي تلپاتې جنتونه به ئې په برخه وي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، د سرو زرو په لاس وندو به سینګار کړی شي او د نریو او پرېړو ورېښمو شنې جامې به اغوندي په داسي حال کې چې پر تختونو به تکیه کوونکي وي، څومره غوره ثواب او ښایسته مقر او ټمځی!! 32- او د هغو دوو سړیو مثال ورته تېر کړه چې یوه ته ئې موږ دوه د انګورو داسي باغونه ورکړي وو چې د خرما په ونو مو احاطه کړي وو او د باغونو په منځ کې مو کرونده ورته برابره کړې وه، 33- دواړو باغونو به خپله بشپړه مېوه ورکوله او هیڅ څه به ئې نه ترې کمول، او د دوی په منځ کې مو نهر وبهاوو، 34- او مېوې ئې په برخه وې، نو په داسي حال کې چې له خپل ملګري سره ئې خبري کولې هغه ته ئې وویل: زه تر تا د مال او پلویانو له پلوه وړاندي او عزتمن یم،

وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا
٣٥ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا
مِّنۡهَا مُنقَلَبٗا ٣٦ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي
خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا ٣٧ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ
ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ٣٨ وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ
مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالٗا وَوَلَدٗا ٣٩
فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرٗا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانٗا
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدٗا زَلَقًا ٤٠ أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرٗا فَلَن
تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبٗا ٤١ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ
مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ
بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ٤٢ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٞ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا
كَانَ مُنتَصِرًا ٤٣ هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٞ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ عُقۡبٗا
٤٤ وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ
ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ٤٥

35- او خپل باغ ته په داسي حال کې ننوت چي پر خپل ځان ئې ظلم کولو، وئې ويل: گمان نه کوم چي دا به کله هم له منځه ولاړ شي، 36- او گمان نه کوم قيامت به راشي او که د خپل رب لوري ته وروگرځول شم نو حتماً به تر دې غوره د ورگرځېدو ځای ومومم. 37- ملگري ئې د خبرو په ترڅ کې ورته وويل: آيا د هغه چا په اړه کافر شوی يې چي له خاوري، بيا ئې له نطفې پيدا کړې او بيا ئې د يوه بشپړ سړي په څېر برابر کړې؟! 38- خو زه (وايم) همغه الله مي رب دئ او له خپل رب سره هيڅوك نه شريکوم، 39- کله چي خپل باغ ته ننوتې ولې دي ونه ويل: دا همغه څه دي چي الله غوښتي، هيڅ توان د الله له مرستي پرته نشته، که ته مي د مال او اولاد له پلوه تر ځان کم گڼې، 40- نو هيله ده چي زما رب ستا تر باغ غوره شی راته راکړي، او کېدی شي ستا پر باغ له آسمانه داسي آفت نازل کړي چي په نتيجه کې ئې ښوی ډاگ شي، 41- يا ئې اوبه (په زمکې کې) ژوري ننوځي او ته ئې هيڅکله د ترلاسه کولو توان ونه مومې، 42- او مېوه ئې (په آفت) مبتلا شوه، نو داسي شو چي په خپل هغه لگښت ئې لاسونه سره موښل چي پر باغونو ئې کړی وو، او (اوس ئې باغونه داسي ليدل چي) پر خپلو څپريو او چجو رانسکور شوي او ويل ئې: کاش له خپل رب سره مي هيڅوك نه وی شريك کړی، 43- او نه ئې له الله پرته داسي ډله درلوده چي مرسته ئې وکړي او نه ئې په خپله د ځان مرسته کولی شوی. 44- همدلته څرگنده شوه چي ولايت او مرسته حقيقي الله ته مختص ده، هغه هم د ثواب ورکولو له پلوه غوره دئ او هم د پايلو ټاکلو له پلوه غوره. 45- د دنيايي ژوند مثال ورته تېر کړه چي داسي دئ لکه هغه اوبه چي موږ ئې له آسمانه راورووو او په همدې سره د زمکي بوټي گڼ گڼ راوټوکېږي، او (ژر) داسي مات مات شي چي باد ئې الوځوي، او الله په هر څه توانمن دئ،

ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ
عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا ٤٦ وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ
بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ أَحَدٗا ٤٧ وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ
صَفّٗا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن
نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ٤٨ وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ
مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ
صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا
يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ٤٩ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ
إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ
وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا
٥٠ ۞مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ
وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ٥١ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ
ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا
٥٢ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا
مَصۡرِفٗا ٥٣

46- دا مال او اولاد د دنيايي ژوند زينت دئ او پاته شوي صالح عملونه ستا د رب په وړاندي هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د طمعي او هيلي له پلوه. 47- او هغه ورځ چي غرونه روان کړو او زمکه به بربنډه گورې، او دوی به راغونډ کړو، داسي چي هيڅ يو ئې پرې نږدو، 48- او ليکه ليکه به ستا رب ته وروړاندي کړی شي، يقيناً چي موږ ته همغسي راغلئ لکه چي په لومړي ځل مو پيدا کړي وئ، خو تاسو گمان کولو چي هيڅکله به د وعدې تر سره کېدو کومه نېټه درته ونه ټاکو، 49- او کتاب به کېښودی شي، نو مجرمين به گورې چي له هغه څه وېرېدونکي دي چي په دې (کتاب) کې دي، او وايي به: افسوس پر موږ! دا څنگه کتاب دئ! نه ئې ووړ (عمل) پرېښی او نه ستر مگر هغه ئې درج کړی، او هر هغه څه به حاضر ومومي چي کړي ئې ول، او ستا رب به پر هيچا ظلم نه کوي. 50- او هغه مهال چي ملائکو ته مو وويل: د آدم لپاره سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه پرته له ابليس، چي هغه د پېريانو له ډلي وو او د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ، نو آيا تاسو هغه او اولاد ئې له ما پرته اولياء او مرستيالان نيسئ، حال دا چي هغه مو دښمن دئ؟!! د ظالمانو څومره کرغېړنه او بده بدلوَنه. 51- نه مو د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال شاهدان گرځولي ول او نه په خپله د دوی د پيدايښت پر مهال، او نه موږ بې لاري کوونکي مرستندوی نيسو، 52- او هغه ورځ چي وايي: زما هغه شريکان دروبلئ چي (همدا) گمان (مو پرې) کولو، نو ورو به ئې بلي خو اجابت به ئې نشي کولی او د دوی تر منځ به د دوزخ دائمي کنده حائل کړو، 53- او مجرمان به اور وگوري او گمان به وکړي چي په کې لوېدونکي دي، او له هغه به د څنگ ته کېدا ځای ونه مومي.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَكَانَ
ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ
جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّهُمۡ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ
أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ قُبُلٗا ﴿٥٥﴾ وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ
وَمُنذِرِينَۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّۖ
وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَمَآ أُنذِرُواْ هُزُوٗا ﴿٥٦﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ
رَبِّهِۦ فَأَعۡرَضَ عَنۡهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتۡ يَدَاهُۚ إِنَّا جَعَلۡنَا عَلَىٰ
قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۖ وَإِن تَدۡعُهُمۡ إِلَى
ٱلۡهُدَىٰ فَلَن يَهۡتَدُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ ٱلۡغَفُورُ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۖ لَوۡ
يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُواْ لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلۡعَذَابَۚ بَل لَّهُم مَّوۡعِدٞ لَّن
يَجِدُواْ مِن دُونِهِۦ مَوۡئِلٗا ﴿٥٨﴾ وَتِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰٓ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ
وَجَعَلۡنَا لِمَهۡلِكِهِم مَّوۡعِدٗا ﴿٥٩﴾ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبۡرَحُ
حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبٗا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجۡمَعَ
بَيۡنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ سَرَبٗا ﴿٦١﴾

54- او یقیناً چي په دې قرآن کې مو د خلکو لپاره ډول ډول مثالونه وړاندي کړل، او انسان تر هر څه زیات جګړاوو دئ. 55- او دا خلك یوازي دې خبري له ایمان راوړلو او له خپل رب بخښني غوښتلو منع کړل چي د مخکنیو دود ورته راشي او یا عذاب مخامخ ورته راشي. 56- او پیغمبران یوازي د مبشرینو او منذرینو په توګه لېږو، او هغه چي کفر ئې کړی د باطل په مرسته جدل کوي د دې لپاره چي حق پرې راوپرځوي، او زما آیتونه او هغه څه ئې تر ملنډو لاندي نیولي چي خبرداری پرې ورکول کېږي، 57- او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چي د خپل رب په آیتونو سره پند ورکړی شي او هغه ډډه ترې وکړي او هغه څه هېر کړي چي لاسونو ئې وړاندي کړي، یقیناً چي موږ د دوی پر زړونو پرده غوړولې چي پرې پوه نشي او په غوږونو کې ئې دروندوالی، او که د هدایت لوري ته ئې وبلې نو په دې حالت کې به تر ابده هیڅکله هدایت نشي، 58- او ستا رب د رحمت خاوند بخښونکی دئ، که ئې دوی د خپلو کړنو له کبله نیولی نو ژر به ئې عذاب ورپه برخه کړی وو، خو د دوی لپاره د وعدې (د تحقق) داسي ځای ټاکل شوی چي له هغه پرته کومه ملجأ نشي موندلی. 59- او دا هغه کلي دي چي هلاك مو کړل، هغه مهال چي ظلم ئې وکړ او د دوی د هلاکت لپاره مو خاصه نېټه ټاکلې وه. 60- او کله چي موسی خپل زلمکي ته وویل: تر هغه به له تلو تم نشم چي د دوو سیندونو یو ځای کېدو سیمي ته ورسېږم یا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) دروممم. 61- نو کله چي د دواړو یوځای کېدو سیمي ته ورسېدل؛ نو دواړو خپل کب هېر کړ، چي په سیند کې ئې خپله لار ونیوله او ولاړ.

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا
نَصَبٗا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيۡتَ إِذۡ أَوَيۡنَآ إِلَى ٱلصَّخۡرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ
وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ
عَجَبٗا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِۚ فَٱرۡتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصٗا ﴿٦٤﴾
فَوَجَدَا عَبۡدٗا مِّنۡ عِبَادِنَآ ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن
لَّدُنَّا عِلۡمٗا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا
عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٦٧﴾ وَكَيۡفَ
تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ
صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن
شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ﴿٧٠﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي
ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَاۖ قَالَ أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا إِمۡرٗا
﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي
بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ﴿٧٣﴾ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا
لَقِيَا غُلَٰمٗا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا زَكِيَّةَۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٖ لَّقَدۡ جِئۡتَ
شَيۡـٔٗا نُّكۡرٗا ﴿٧٤﴾

62- نو کله چي تېر شول خپل ځلمکي ته ئي وويل: غرمنی (خوراك) مو راته راوړه؛ په رښتيا چي له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه، 63- وئې ويل: په ياد دي دي کله چي هغي لويي ډبري ته مو پنا يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسي شيطان رانه هېر کړ چي يادونه ئې (درته) وکړم، او په عجيبه توګه ئې په سيند کي خپله لار ونيوله. 64- وئې ويل: همدا هغه څه دئ چي موږ ئې غواړو، پر خپلو پلونو ګام په ګام په شا وګرځېدل. 65- نو زموږ له بندګانو ئې داسي يو بنده وموند چي له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو څه علم ورزده کړی وو. 66- موسی ورته وويل: آيا کېدی شي د دې لپاره ستا متابعت وکړم چي د هغه رشد او پوهي څه رازده کړې چي تا ته ئې علم درکړی شوی؟ 67- هغه ورته وويل: ته زما په ملګرتيا کي صبر نشې کولی، 68- څنګه به په هغه څه صبر وکړې چي پرې خبر نه يې؟ 69- وئې ويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کي به له تا سرغړاوی ونه کړم. 70- وئې ويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې يادونه درته وکړم. 71- نو دواړه وخوزېدل، تر هغه چي په هغي کښتۍ کي سپاره شول چي سوری ئې کړه، وئې ويل: آيا د دې لپاره دي سوری کړه چي سپرلۍ ئې غرق کړې، يقيناً چي په ستر (نادر) کار دي لاس پوري کړ، 72- وئې ويل: آيا نه مي وو ويلي چي ته زما په ملګرتيا کي صبر نشې کولی؟ 73- وئې ويل: ما پر خپلي هېرېدا مه نيسه، او زما په کار کي سختي مه راسره کوه. 74- نو وخوزېدل، تر هغه چي له يوه ځوانکي سره مخامخ شول، نو هغه ئې ووژلو، وئې ويل: آيا يو بې ګناه کس دي ووژلو، پرته له دې چي د کوم کس په بدل کي وژل شوی وي، يقيناً چي ډېر ناآشنا کار دي وکړ،

۞قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ٧٥ قَالَ إِن
سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي
عُذۡرٗا ٧٦ فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ
أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ
لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ٧٧ قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِي وَبَيۡنِكَۚ
سَأُنَبِّئُكَ بِتَأۡوِيلِ مَا لَمۡ تَسۡتَطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ٧٨ أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ
فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ يَعۡمَلُونَ فِي ٱلۡبَحۡرِ فَأَرَدتُّ أَنۡ أَعِيبَهَا وَكَانَ
وَرَآءَهُم مَّلِكٞ يَأۡخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصۡبٗا ٧٩ وَأَمَّا ٱلۡغُلَٰمُ فَكَانَ
أَبَوَاهُ مُؤۡمِنَيۡنِ فَخَشِينَآ أَن يُرۡهِقَهُمَا طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗا ٨٠ فَأَرَدۡنَآ أَن
يُبۡدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيۡرٗا مِّنۡهُ زَكَوٰةٗ وَأَقۡرَبَ رُحۡمٗا ٨١ وَأَمَّا ٱلۡجِدَارُ
فَكَانَ لِغُلَٰمَيۡنِ يَتِيمَيۡنِ فِي ٱلۡمَدِينَةِ وَكَانَ تَحۡتَهُۥ كَنزٞ لَّهُمَا وَكَانَ
أَبُوهُمَا صَٰلِحٗا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبۡلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسۡتَخۡرِجَا
كَنزَهُمَا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ وَمَا فَعَلۡتُهُۥ عَنۡ أَمۡرِيۚ ذَٰلِكَ تَأۡوِيلُ مَا
لَمۡ تَسۡطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرٗا ٨٢ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ قُلۡ
سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا ٨٣

75- وئې ویل: آیا نه مي وو درته ویلي چي ته زما په ملګرتیا کې صبر نشې کولی؟ 76- وئې ویل: که مي له دې وروسته د کوم څه پوښتنه درنه وکړه نو بیا مي په مصاحبت کې مه درسره نیسه، یقیناً چي (هغه مهال به) زما له لوري د معذورتیا پړاو ته رسېدلی یې. 77- نو وخوزېدل، تر هغه چي د یوه کلي اوسېدونکو ته ورغلل، له کلیوالو ئې د خوراك غوښتنه وکړه، هغوی له دې ډډه وکړه چي مېلمانه ئې کړي، بیا دواړو هلته یو داسي دېوال وموند چي غوښتل ئې نسکور شي، نو هغه ئې ټینګ ودراوو، وئې ویل: که دي غوښتي وی نو په دې کار به دي اجوره ترلاسه کړې وه، 78- وئې ویل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، ژر به د هغو کارونو په حقیقت تا پوه کړم چي صبر دي پرې ونه کړی شو. 79- اما هغه کښتۍ چي وه نو هغه د ځینو مسکینانو وه چي په سیند کې به ئې کار کولو، نو ما وغوښتل چي عیبجنه ئې کړم، او (دا ځکه چي) ترې وړاندي داسي پاچا وو چي هره کښتۍ ئې غصبوله. 80- او هغه ځوانکی داسي وو چي پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ (خضر او د هلك پلار او مور) ووېرېدو چي داسي نه په خپل کفر او طغیان سره دوی دواړه تنګ کړي، 81- نو اراده مو وکړه چي د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزویني له پلوه نژدې په عوض کې ورکړي. 82- او هغه دېوال چي وو نو هغه په ښار کې د دوو یتیمو هلکانو وو او ترې لاندي د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چي دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقیقت وو چي تا پرې صبر ونشو کړی.

83- د ذو القرنین په اړه تا پوښتي، ووایه: ژر به ئې څه یادونه دراوروم.

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ﴿٨٤﴾ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا
﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ
وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۗ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ
فِيهِمۡ حُسۡنٗا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ
فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً
ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا
بَلَغَ مَطۡلِعَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلَىٰ قَوۡمٖ لَّمۡ نَجۡعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا
سِتۡرٗا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَۖ وَقَدۡ أَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرٗا ﴿٩١﴾ ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾
حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا يَكَادُونَ
يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ﴿٩٣﴾ قَالُواْ يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ
فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا
﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ
وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ
قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارٗا قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا ﴿٩٦﴾
فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا ﴿٩٧﴾

84- یقیناً چي موږ هغه ته په ځمکې کې تمکین ورکړی وو او هر ډول اسباب مو ورکړي ول، 85- نو د یوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو، 86- تر هغه چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، هغه ئې داسې وموند چي په تور رنگه خټینه چینې کې پرېوځي، او د هغې خوا ته ئې یو قوم وموند، ومو ویل: اې ذو القرنینه! یا ئې تعذیب کړه یا د دوی په اړه نېك چلن غوره کړه، 87- وئې ویل: اما هغه چي ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذیب کړو بیا به د خپل رب لوري ته گرځول کېږي او هغه به ئې په ځانگړي بد عذاب اخته کړي. 88- او هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلې سپارښتنې آسانه وینا وکړو. 89- بیا (د بل کار) په اسبابو پسې شو، 90- تر هغه چي د لمر د ختو حد ته ورسېد، هغه ئې داسې وموند چي پر یوه داسې قوم راخېژي چي له هغه مو هیڅ پرده نه وه ورته جوړه کړې، 91- همداسې وو، او موږ یقیناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چي له ده سره ول. 92- بیا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو، 93- تر هغه چي د دوو غرونو منځ ته ورسېد، تر هغو وړاندې ئې داسې قوم وموند چي دې ته نژدې نه وو چي په کومې وینا وپوهېږي. 94- وئې ویل: اې ذوالقرنینه! یقیناً چي یأجوج او مأجوج په دې ځمکې کې فساد خوروونکي دي، آیا کېدی شي چي تا ته څه خراج (مالیه) د دې لپاره درکړو چي زموږ او دوی تر منځ کوم سد او مانع جوړ کړې. 95- وئې ویل: زما رب چي څه زما په واك کې راکړي هغه (ډېر او) غوره دي، نو په افرادي قوت سره زما ملتیا وکړئ چي ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم، 96- د اوسپنې ټوټې راته راوړئ، تر دې چي د دواړو لوړو څوکې ئې سره (وصل او برابري کړې)؛ وئې ویل: (اور) پو کړئ، تر دې چي هغه ئې اور (ته ورته سرې) وگرځولې، وئې ویل: ما ته ویلې شوي زېړ (مس) راوړئ چي پرې توی ئې کړم، 97- نو نه په دې توانېدل چي پرې وخېژي او نه ئې په سوري کولو توانېدل.

قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ
رَبِّي حَقّٗا ﴿٩٨﴾ ۞وَتَرَكۡنَا بَعۡضَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ يَمُوجُ فِي بَعۡضٖۖ وَنُفِخَ فِي
ٱلصُّورِ فَجَمَعۡنَٰهُمۡ جَمۡعٗا ﴿٩٩﴾ وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡكَٰفِرِينَ عَرۡضًا
﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتۡ أَعۡيُنُهُمۡ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكۡرِي وَكَانُواْ لَا يَسۡتَطِيعُونَ
سَمۡعًا ﴿١٠١﴾ أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ
أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلٗا ﴿١٠٢﴾ قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم
بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا ﴿١٠٣﴾ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ
يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ
رَبِّهِمۡ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَزۡنٗا ﴿١٠٥﴾
ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمۡ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ﴿١٠٦﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتۡ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلۡفِرۡدَوۡسِ
نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبۡغُونَ عَنۡهَا حِوَلٗا ﴿١٠٨﴾ قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ
مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا
بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ﴿١٠٩﴾ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ
إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا
يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ﴿١١٠﴾

98- وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده، نو کله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر کړي، او زما د رب وعده رښتینې ده، 99- او په دې ورځ به پرېږدو چې ځیني ئې د ځینو نورو ( په لیکو) کې د څپو په څېر ننوځي، او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به یو ځای راغونډ کړو. 100- او په دې ورځ به دوزخ کافرانو ته مخامخ وروړاندي کړو، 101- هغو ته چې سترګي ئې زما د پند په وړاندي پوښل شوې وې او د اورېدو وس ئې نه وو. 102- آیا دغو کافر شوو داسي انګېرلې چې له ما پرته ئې زما بندګان (حقیقتاً) اولیاء (مرستیالان) نیولي؟، موږ دغو کافرانو ته دوزخ مېلمستون ګرځولی. 103- ووایه: آیا پر هغو مو خبر نه کړم چې عملاً تر ټولو تاوانیان دي. 104- هغه چې د دنیا په ژوند کې ئې هڅه بې لاري وه خو دوی داسي انګېرله چې ښه کار کوي، 105- دوی همغه دي چې د خپل رب د آیتونو او له هغه سره د مخامخ کېدو په اړه ئې کفر کړی وو، نو عملونه ئې حبط شول، نو د قیامت په ورځ به هیڅ وزن ورنه کړو. 106- همداسي ده، سزا به ئې جهنم وي، له دې کبله چې کفر ئې کړی وو او زما آیتونه او زما پیغمبران ئې تر استهزاء (لاندي) نیولي ول. 107- یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د دوی میلمستون به د فردوس جنتونه وي، 108- تلپاته په هغه کې داسي چې له هغه به (بل لوري ته) اوړېدا نه غواړي. 109- ووایه: که سمندر زما د رب د کلماتو (د لیکلو) لپاره رنګ شي، نو سمندر به له هغه وړاندي ختم شي چې زما د رب کلمې تمامي شي، که څه هم دې ته ورته (سمندرونه) د مرستي په توګه راوړو. 110- ووایه: یقیناً چې زه فقط ستاسو په څېر یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ، نو څوك چې د خپل رب د ملاقات هیله او طمع لري نو نېك عمل دي وکړي او د خپل رب په عبادت کې دي هیڅوك نه شریکوي.

## سُورَةُ مَرۡيَمَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كٓهيعٓصٓ ١ ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ٢ إِذۡ نَادَىٰ
رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا ٣ قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ
ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيّٗا ٤ وَإِنِّي خِفۡتُ
ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ
وَلِيّٗا ٥ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦
يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ يَحۡيَىٰ لَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ مِن قَبۡلُ
سَمِيّٗا ٧ قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا
وَقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ ٱلۡكِبَرِ عِتِيّٗا ٨ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ
هَيِّنٞ وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ تَكُ شَيۡـٔٗا ٩ قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل
لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٖ سَوِيّٗا ١٠
فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنَ ٱلۡمِحۡرَابِ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ أَن سَبِّحُواْ
بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ١١

## مريم- مکي سوره- 98 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کاف، هاء، ياء، عين، صاد، 2- ستا د رب د پېرزويني يادونه ده پر خپل بنده زکريا، 3- هغه مهال چې خپل رب ته ئې په ټيټ غږ غږ کړ، 4- وئې ويل: اې زما ربه! هډوکي مي سست شول، سر مي له زړښت وځلېدو، او اې زما ربه! تا ته په دعاء کې بې بخته نه وم، 5- او يقيناً چې زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو (پر حال) ووېرېدم، او مېرمن مي شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري يو وارث را په برخه کړه، 6- چې زما وارث هم شي او د يعقوب د ټبر وارث هم. او زما ربه! د رضايت وړ ئې کړه. 7- اې زکريا! يقيناً چې موږ د يوه داسي بچي زېرى درکوو چې نوم به ئې يحيى وي، چې تر دې وړاندې مو ده ته همنومى نه دئ گرځولى. 8- وئې ويل: اې زما ربه! څنگه به مي بچى په برخه کېږي حال دا چې مېرمن مي شنډه ده او زه د زړښت له وروستي پړاوه اوښتى يم. 9- وئې ويل: همداسي به وي، ستا رب ويلي چې دا راته آسان (کار) دئ، او يقيناً چې ته مي تر دې وړاندې داسي پيدا کړې چې هيڅ څه نه وې. 10- وئې ويل: زما ربه! يوه نښه (ئې) راته وټاکه، وئې ويل: نښه دي دا ده چې (هغه مهال به) بشپړې درې شپې له خلکو سره خبرې نشې کولى. 11- نو خپل قوم ته له معبد راووت او په اشارې سره ئې هغوى ته وويل: سبا او ماښام تسبيح وايئ.

يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢ وَحَنَانٗا
مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا
عَصِيّٗا ١٤ وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا
١٥ وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا
شَرۡقِيّٗا ١٦ فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا
فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧ قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن
كُنتَ تَقِيّٗا ١٨ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا زَكِيّٗا
١٩ قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا
٢٠ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞۖ وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ
وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ وَكَانَ أَمۡرٗا مَّقۡضِيّٗا ٢١ ۞فَحَمَلَتۡهُ فَٱنتَبَذَتۡ بِهِۦ
مَكَانٗا قَصِيّٗا ٢٢ فَأَجَآءَهَا ٱلۡمَخَاضُ إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ قَالَتۡ
يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسۡيٗا مَّنسِيّٗا ٢٣ فَنَادَىٰهَا مِن
تَحۡتِهَآ أَلَّا تَحۡزَنِي قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيّٗا ٢٤ وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ
بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا ٢٥

12- اې يحيى! كتاب په مضبوطۍ سره ونيسه، او په وړكتوب كې مو
حكمت ورپه برخه كړ، 13- او زموږ له لوري د نرمښت او پاكيزګۍ
خاوند، او متقي وو، 14- او له خپل پلار او مور سره ښېګڼه كوونكى او
ظالم او سركښ نه وو، 15- او پر ده دې هغه مهال سلام وي چې
وزېږېدو او هغه ورځ چې مري او هغه مهال چې بيا به ژوندى
راپاځول شي. 16- او په كتاب كې د مريمې د هغه مهال خبره ياده كړه
چې له خپل ټبر شرقي لوري ته ګوښې شوه، 17- نو پرده ئې د دوى
مخې ته جوړه كړه، نو موږ خپل روح (جبرئيل) وروليږو چې كټ مټ
د يوه انسان په څېر ورڅرګند شو، 18- وئې ويل: زه رحمن رب ته له
تا پناه وړم كه (له الله) وېرېدونكى يې. 19- وئې ويل: زه ستا د رب
استازى يم چې تا ته پاكيزه بچى درپه برخه كړم، 20- وئې ويل: څنګه
به مې بچى په برخه كېږي حال دا چې نه د كوم انسان لاس راباندې
لګېدلى او نه بدكاره يم؟، 21- وئې ويل: همداسې ده، ستا رب ويلي
چې دا (كار) راته آسان دئ، او د دې لپاره چې خلكو ته ئې يوه نښه
وګرځوو او زموږ له لوري يوه پېرزوينه، او دا ترسره كېدونكى كار دئ.
22- نو (پر خپل ماشوم) اميدواره شوه او لرې ځاى ته ورسره لاړه.
23- نو د زېږون درد د خرما د ونې ستې ته بوتله، وئې ويل: كاش تر
دې وړاندې مړه شوې وى او هېره شوې خاطره وى، 24- نو له لاندې
ئې پرې غږ كړ چې مه غمجنه كېږه، يقيناً چې ستا رب تر تا لاندې
لښتى جوړ كړى، 25- او د خرما ستې وخوزوه چې تازه پخې كجورې
درباندې توى كړي،

فَكُلِي وَٱشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًاۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِيٓ إِنِّي
نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهِۦ
قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥۖ قَالُواْ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخْتَ
هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ
إِلَيْهِۖ قَالُواْ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّي عَبْدُ
ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا
كُنتُ وَأَوْصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَتِي
وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ
وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَۖ قَوْلَ ٱلْحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ
يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍۖ سُبْحَٰنَهُۥٓۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا
فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُۚ
هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٣٦﴾ فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْۖ فَوَيْلٌ
لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾ أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ
يَأْتُونَنَاۖ لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلْيَوْمَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

26- نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګې سړې کړه، او که د انسانانو
کوم يو وګورې وورايه: ما رحمن رب ته د روژې نذر کړی، نو نن په
هيڅ توګه له هيڅ انسان سره خبري نه کوم، 27- نو په داسې حال
کې ئې خپل قوم ته وروړ چې (په غېږ کې ئې) پورته کړی وو، وئې
ويل: اې مريمې! يقيناً چې ډېر بدغونی (له چټې وتلی) کار دې کړی،
28- اې د هارون خورې! نه دې پلار بد سړی وو او نه دې مور بد
لمنه وه، 29- نو هغه ته ئې ګوته ونيوله، (خلکو) وويل: څنګه له
هغه چا سره خبري وکړو چې د زانګو ماشوم وي؟! 30- (بچي) وويل:
يقيناً چې زه د الله بنده يم، ما ته ئې کتاب راپه برخه کړی او زه ئې
پيغمبر ګرځولی يم، 31- او زه ئې بابرکته ګرځولی يم، هر چېرې چې
وم، او ما ته ئې د لمانځه او زکات سپارښتنه کړې، تر هغه چې ژوندی
وم، 32- او د خپلې مور په اړه نېکې کوونکی او زه ئې جبر کوونکی او
بدبخته نه يم ګرځولی، 33- او (د الله له لورې) پر ما سلام دئ هغه
ورځ چې وزېږېدم، او هغه ورځ چې مرم او هغه ورځ چې بېرته به
ژوندی راپاڅول کېږم. 34- همدا عيسی د مريمې زوی دئ، هغه حقه
وينا چې (دوی) شك په کې کوي، 35- الله ته نه ښايي چې کوم (څوك
د) زوی (په توګه) ونيسي، ده ته (له دې عيبه) پاکي ده، کله چې د
کوم کار پرېکړه وکړي نو ورته وايي: وشه؛ نو هغه کېږي، 36- او
يقيناً چې الله هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، نو د ده عبادت
وکړئ، مستقيمه لار همدا ده. 37- نو دغو ډلو په خپل منځ کې
اختلاف وکړ، نو افسوس د هغو په حال چې کفر ئې وکړ، د يوې
سترې ورځې د ليدو پر مهال، 38- کله چې موږ ته راځي څومره ښه
اورېدونکي به وي او څومره ښه ليدونکي! خو دا ظالمان نن په
ښکاره ګمراهۍ کې دي.

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ
٣٩ إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ٤٠ وَٱذۡكُرۡ فِي
ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا ٤١ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ
تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ شَيۡـٔٗا ٤٢ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ
جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا سَوِيّٗا ٤٣
يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ٤٤
يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ
وَلِيّٗا ٤٥ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ
لَأَرۡجُمَنَّكَۖ وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا ٤٦ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ
إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ٤٧ وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ
رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا ٤٨ فَلَمَّا ٱعۡتَزَلَهُمۡ وَمَا
يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا نَبِيّٗا
٤٩ وَوَهَبۡنَا لَهُم مِّن رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيّٗا ٥٠ وَٱذۡكُرۡ
فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ٥١

39- او د حسرت له هغې ورځې خبرداری ورکړه چې د کار پرېکړه به وشي، په داسې حال کې چې دوی په غفلت کې دي او دوی ایمان نه راوړي، 40- یقیناً چې موږ به د زمکې او څه چې ورباندې دي وارث شو او (ټول) زموږ لوري ته راګرځول کېږي. 41- او په کتاب کې د ابراهیم یادونه وکړه، یقیناً چې هغه رښتینی نبي وو، 42- هغه مهال چې خپل پلار ته ئې وویل: ګرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت کوې چې نه اوري او نه ویني او نه کوم څه (ضرر) درنه دفع کولی شي, 43- اې ګرانه پلاره! یقیناً چې ما ته داسې علم راپه برخه شوی چې تا ته نه دئ درکړی شوی، نو زما متابعت وکړه چې سمه لار دروښیم، 44- اې زما ګرانه پلاره! د شیطان عبادت مه کوه، یقیناً چې شیطان د رحمن رب په وړاندې سرغړوونکی دئ، 45- اې زما ګرانه پلاره! یقیناً چې زه له دې وېرېږم چې د رحمن رب له لوري په عذاب اخته شې او د شیطان ملګری شې. 46- وئې ویل: اې ابراهیمه! آیا زما له معبودانو تېر شوی (څنګ ته شوی) یې؟ که دډه ونه کړې نو حتماً به دې رجم (سنګسار) کړم، او د تل لپاره له ما لرې شه، 47- وئې ویل: سلام پر تا! حتماً به تا ته له خپل رب بخښنه وغواړم، یقیناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، 48- زه له تاسو او له هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ لرې کېږم، او خپل رب ته دعاء کوم؛ هیله ده چې خپل رب ته په دعاء کې کمبخته نه وم. 49- نو کله چې لدوی او له هغه څه چې دوی له الله پرته لمانځل ګوښه شو موږ اسحاق او یعقوب ورپه برخه کړل، او هر یو مو پیغمبر وګرځاوو، 50- او دوی ټولو ته مو خپله پېرزوینه ورپه برخه کړه او د رښتینې ژبې لوړه یادونه مو ورته وټاکله. 51- او په کتاب کې د موسی یادونه وکړه چې غوره شوی وو او نبي استازی وو،

وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن
رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا ﴿٥٣﴾ وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ
كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ
وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ﴿٥٥﴾ وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ
كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ
ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ وَمِن
ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ
ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗاۤ وَبُكِيّٗا۩ ﴿٥٨﴾ ۞فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ
خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ إِلَّا
مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا
يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ﴿٦٠﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ
إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ﴿٦١﴾ لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ
رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ﴿٦٢﴾ تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا
مَن كَانَ تَقِيّٗا ﴿٦٣﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَۖ لَهُۥ مَا بَيۡنَ أَيۡدِينَا وَمَا
خَلۡفَنَا وَمَا بَيۡنَ ذَٰلِكَۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيّٗا ﴿٦٤﴾

52- او موږ د طور له ښي اړخ ورغږ کړل او د نجوی لپاره مو رانژدې کړ، 53- او د خپلې پېرزوینې له مخې مو د ده ورور هارون د نبي په توګه ورپه برخه کړ. 54- او په کتاب کې د اسمعیل یادونه وکړه چې یقیناً په ژمنو کې رښتینی وو او نبي استازی وو، 55- او خپل ټبر به ئې پر لمانځه او زکات ګمارو، او د خپل رب په وړاندې د رضایت وړ وو. 56- او په کتاب کې د ادریس یادونه وکړه چې ډېر رښتینی پیغمبر وو، 57- او لوړ مقام ته مو ورساوو. 58- دوی له هغو انبیاءو دي چې الله پرې پېرزوینه کړې، د آدم او د هغو له اولاد چې له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل، او د ابراهیم او اسرائیل له اولاد؛ او له هغو چې هدایت مو کړل او غوره مو کړل. کله چې د رحمن رب آیتونه پرې تلاوت کېدل نو سجده کوونکي او ژړېدونکي به (پر زمکه) پرېوتل. 59- بیا لدوی وروسته هغه خلف (بد ځای ناستي) ورپسې شول چې لمونځ ئې ضائع کړ او د نفسي غوښتنو متابعت ئې وکړ نو خود به له ورکاوي سره مخامخ کېږي. 60- مګر هغه چې توبه ئې وکړه، ایمان ئې راوړ او نېك عمل ئې وکړ، چې دوی به جنت ته ننوځي او هیڅ ظلم به نه پرې کېږي. 61- هغه تلپاته جنتونه چې رحمن رب ئې خپلو بندګانو ته په غیاب کې وعده ورکړې، یقیناً چې د هغه وعده حتماً راتلونکې (ترسره کېدونکې) ده، 62- په هغه کې به بېهوده خبره نه اوري (یوازې) سلام سلام به اوري، او دوی ته به خپل رزق سبا او ماښام ورپه برخه وي، 63- دا همغه جنت دئ چې په خپلو بندګانو کې ئې هغه چا ته په میراث ورکوو چې متقي وي. 64- او موږ یوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو، ټول هغه څه د ده دي چې زموږ تر مخ دي او څه چې زموږ تر شا دي او څه چې د دواړو تر منځ دي، ستا رب هېروونکی نه دئ.

رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ
هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ﴿٦٥﴾ وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوۡفَ أُخۡرَجُ
حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَ لَا يَذۡكُرُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ يَكُ شَيۡـٔٗا
﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحۡضِرَنَّهُمۡ حَوۡلَ جَهَنَّمَ
جِثِيّٗا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمۡ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ عِتِيّٗا
﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحۡنُ أَعۡلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمۡ أَوۡلَىٰ بِهَا صِلِيّٗا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا
وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْ
وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيّٗا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ
قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ خَيۡرٞ مَّقَامٗا
وَأَحۡسَنُ نَدِيّٗا ﴿٧٣﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَحۡسَنُ أَثَٰثٗا
وَرِءۡيٗا ﴿٧٤﴾ قُلۡ مَن كَانَ فِي ٱلضَّلَٰلَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَدًّاۚ حَتَّىٰٓ
إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلۡعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ
شَرّٞ مَّكَانٗا وَأَضۡعَفُ جُندٗا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ هُدٗىۗ
وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٞ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

65- د آسمانونو، زمکي او هغه څه رب چي د دوی تر منځ دي، نو عبادت ئې کوه او پر عبادت ئې صبر کوه، آيا کوم همنومی ورته پېژنې؟! 66- او دا انسان وايي: آيا کله چي ومرم نو هرومرو به (له قبره) ژوندی راوځم؟! 67- آيا دا انسان دا نه يادوي چي موږ تر دې وړاندي په داسي حال کي پيدا کړ چي هيڅ شی نه وو، 68- نو ستا په رب لوړه چي حتماً به دوی او شيطانان راغونډ کړو بيا به ئې د دوزخ چاپېر په گونډو پراته حاضر کړو، 69- بيا به له هري ډلي هغه ترې راوباسو چي د رحمن رب په وړاندي تر ټولو په سرکښۍ کي شديد وي، 70- بيا موږ پر هغو ډېر ښه پوه يو چي په دې کي د غورزېدو له پلوه ډېر وړ دي. 71- او ستاسو هر يو به ورننوتونکی وي، ستا پر رب ده؛ حتماً ترسره کېدونکې پرېکړه، 72- بيا به هغه کسان وژغورو چي تقوی ئې کړې او ظالمان به پر گونډو پراته په کي پرېږدو. 73- او کله چي زموږ آيتونه پرې تلاوت شي هغه کسان چي کفر ئې کړی هغو ته چي ايمان ئې راوړی وايي: کومه ډله د مقام له پلوه غوره ده او د جلسو له پلوه ښايسته او ډولي. 74- او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دې وړاندي هلاك کړل چي سامان او ظاهري حالت ئې ډېر ښايسته وو. 75- ووايه: څوك چي په ضلالت کي وي نو رحمن رب يو ډول پراخي ورپه برخه کوي، تر هغه چي يا عذاب او يا د قيامت هغه څه وگوري چي وعده ئې ورسره کېږي، نو حتماً به پوه شي چي څوك د مقام له پلوه بد دئ او د لښکر له پلوه کمزوری. 76- او الله هغو کسانو ته لازياته لارښوونه کوي چي د هدايت لار ئې نيولې، او صالح پاته شوني د الله خوا ته هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د پايلو له پلوه غوره.

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ
ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ
وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾
وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ۚ
سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ
أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَـٰطِينَ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ
عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَـٰنِ
وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ
ٱلشَّفَـٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ
ٱلرَّحْمَـٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ
يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ ٱلْأَرْضُ وَتَخِرُّ ٱلْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوْا۟
لِلرَّحْمَـٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لِلرَّحْمَـٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ
مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَـٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَّقَدْ
أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾

77- آیا هغه دي ولید چي زما له آیتونو ئې انکار وکړ او وئې ویل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!، 78- آیا له غیبو خبر شوی او که له رحمن رب ئې کومه ژمنه ترلاسه کړې؟!، 79- داسي نه ده؛ حتماً به هغه څه ولیکو چي دی ئې وایي او په ځانګړي پراخولو سره به عذاب ورته پراخ کړو، 80- او هغه څه به په میراث ترې واخلو چي دی ئې وایي او موږ ته به یوازی او ګوښی راشي. 81- او له الله پرته ئې داسي معبودان ونیول چي دوی ته د عزت او قوت سبب شي، 82- داسي نه ده؛ حتماً به د دوی له عبادت انکار کوي او د دوی ضد او دښمن به شي. 83- آیا پام دي نه دئ چي موږ شیطانان کافرانو ته ورلېږلي چي په وار وار ئې هڅوي، 84- نو تلوار مه پرې کوه، یقیناً چي موږ (شېبې) په ښو شمېرلو سره ورته شمېرو. 85- هغه ورځ چي متقیان به د رحمن رب لوري ته د (درنو) پلاوو په توګه راغونډ کړو، 86- او مجرمین به د ترږو څناورو په څېر د دوزخ په لور وخوزوو، 87- د شفاعت توان به له هغه چا پرته بل څوك نه لري چي له رحمن رب ئې کومه ژمنه او فرمان ترلاسه کړی وي. 88- او وئې ویل: رحمن خدای (ځان ته) زوی ټاکلی، 89- یقیناً چي دا یوه ډېره بده او بېهوده وینا ده چي تاسو (په خوله) راوړه، 90- له دې خبري نژدې ده آسمانونه ټوټې ټوټې شي، زمکه وچوي او غرونه وران او رانسکور شي، 91- چي رحمن خدای ته د زوی ادعاء کوي، 92- حال دا چي له رحمن خدای سره نه ښایي چي ځان ته کوم زوی غوره کړي، 93- د آسمانونو او زمکي هر څه د ده په وړاندي د بنده په توګه رادرومي!! 94- او یقیناً چي پر ټولو ئې احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي. 95- او هر یو به د قیامت په ورځ یوازي یوازي ورشي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ﴿٩٦﴾
فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ﴿٩٧﴾
وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ
لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴿٩٨﴾

## سُورَةُ طه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طه ﴿١﴾ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾ إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ
﴿٣﴾ تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ﴿٤﴾ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى
ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ﴿٥﴾ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا
وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ﴿٦﴾ وَإِن تَجۡهَرۡ بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى ﴿٧﴾
ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٨﴾ وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ
﴿٩﴾ إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم
مِّنۡهَا بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ
﴿١١﴾ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ﴿١٢﴾

96- یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته (په زړونو کې) مینه او دوستي پیدا کړي. 97- نو موږ ستا پر ژبه آسان کړ چې متقیانو ته زېری پرې ورکړې او سرټمبه وګړو ته خبرداری ورکړې. 98- او ځومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دوی وړاندي هلاك کړل، آیا د دوی د کوم یوه (ځه نښه) احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

## طٰهٰ- مکي سوره- 135 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- طاء، هاء-، 2- پر تا مو دا کتاب د دې لپاره نه دئ لېږلی چې په مصیبت او مشقت کې پرېوځې، 3- مګر هغه چا ته یادونه چې وېرېږي. 4- د هغه چا له لوري لېږنه چې زمکه او لوړ لوړ آسمانونه ئې پیدا کړي. 5- هغه رحمن رب چې پر عرش ئې استوی کړې، 6- ټول هغه څه د ده دي چې په آسمانونو او زمکي کې او د دوی تر منځ دي، او هغه څه چې تر خاورو لاندي دي، 7- که خبره په لوړ غږ وکړې، نو بیشکه چې الله تعالی په سري او خفي ټولو پوهېږي. 8- هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته، غوره نومونه ئې دي. 9- آیا د موسی قصه دررسېدلې، 10- هغه مهال چې اور ئې ولید او خپل اهل (ټبر) ته ئې وویل: تم شئ، ما یو اور ولید، ښایي کومه لمبه به تاسو ته ترې راوړم یا به د اور خوا ته کومه لارښوونه ومومم. 11- نو کله چې ورغی؛ پرې غږ شو: اې موسی! 12- یقیناً چې زه ستا رب یم، نو پڼې دي وباسه، یقیناً چې ته د طویٰ په سپېڅلي ناو کې یې،

وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ١٣ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠
فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤ إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا
لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ١٥ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ
بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ ١٦ وَمَا تِلۡكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ١٧ قَالَ هِيَ
عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيۡهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخۡرَىٰ
١٨ قَالَ أَلۡقِهَا يَٰمُوسَىٰ ١٩ فَأَلۡقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسۡعَىٰ ٢٠ قَالَ خُذۡهَا
وَلَا تَخَفۡۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلۡأُولَىٰ ٢١ وَٱضۡمُمۡ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ
تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخۡرَىٰ ٢٢ لِنُرِيَكَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا
ٱلۡكُبۡرَى ٢٣ ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ٢٤ قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي
صَدۡرِي ٢٥ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ٢٦ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةً مِّن لِّسَانِي ٢٧ يَفۡقَهُواْ
قَوۡلِي ٢٨ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرًا مِّنۡ أَهۡلِي ٢٩ هَٰرُونَ أَخِي ٣٠ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ
أَزۡرِي ٣١ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ٣٢ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ٣٣ وَنَذۡكُرَكَ
كَثِيرًا ٣٤ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا ٣٥ قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ
٣٦ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ٣٧

13- او يقيناً چې ما غوره كړې؛ نو هغه څه ته غوږ شه چې تا ته وحې كېږي. 14- يقيناً چې زه هغه الله يم چې له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت كوه او زما د يادولو لپاره لمونځ كوه. 15- يقيناً د قيامت ګړۍ راتلونكې ده، غواړم د دې لپاره ئې پټ وساتم چې هر كس ته د هغه څه (مطابق) بدله وركړى شي چې كوي ئې، 16- نو هغه څوك دې تا ترې منع نه كړي چې ايمان نه پرې راوړي او د خپل هوس متابعت كوي؛ كه نه نو هلاك به شې. 17- او اې موسى! دا په ښي لاس كې دې څه دي؟ 18- وئې ويل: دا مې عصا ده، پرې تكيه كوم، او خپلو مېږو ته پاڼې پرې راڅنډم، او نور حاجتونه ورته لرم، 19- وئې ويل: اې موسى! وئې غورځوه، 20- نو كله چې ئې وغورځوله ناڅاپه داسې مار شوه چې ځغلېده، 21- وئې ويل: دروائې خله! او مه وېرېږه، لومړنى حالت به ئې وراعاده كړو، 22- او خپل لاس دې له تخرګ سره جوخت كړه چې له كوم داغ پرته تك سپين راووځي، د يوې بلې نښې په توګه، 23- تر څو ځيني ستر ستر آيتونه مو دروښيو، 24- د فرعون لوري ته ولاړ شه چې يقيناً هغه طغيان كړى. 25- وئې ويل: اې زما ربه! سينه مې راته پرانيزه، 26- كار مې راته آسانه كړه، 27- د ژبې عقده (غوټه) مې راته وسپړه، 28- چې په خبري مې پوه شي، 29- او له خپل ټبره يو مرستندوى راته وټاكه، 30- زما ورور هارون، 31- په هغه سره مې ملا مضبوطه كړه، 32- او زما په كار كې ئې راسره شريك كړه، 33- چې ډېر دې په تسبيح لګيا وو 34- او ډېر دې ياد كړو، 35- يقيناً چې ته مو ښه ليدونكى يې. 36- وئې ويل: اې موسى! يقيناً چې غوښتني دې دركړى شوې، 37- او يقيناً چې يو ځل بيا مو هم پر تا پېرزوينه كړې وه،

إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ ٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ فَٱقۡذِفِيهِ فِي
ٱلۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ ٱلۡيَمُّ بِٱلسَّاحِلِ يَأۡخُذۡهُ عَدُوّٞ لِّي وَعَدُوّٞ لَّهُۥۚ وَأَلۡقَيۡتُ
عَلَيۡكَ مَحَبَّةٗ مِّنِّي وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَيۡنِيٓ ﴿٣٩﴾ إِذۡ تَمۡشِيٓ أُخۡتُكَ فَتَقُولُ
هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ مَن يَكۡفُلُهُۥۖ فَرَجَعۡنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا
وَلَا تَحۡزَنَۚ وَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا فَنَجَّيۡنَٰكَ مِنَ ٱلۡغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونٗاۚ فَلَبِثۡتَ
سِنِينَ فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ ثُمَّ جِئۡتَ عَلَىٰ قَدَرٖ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَٱصۡطَنَعۡتُكَ
لِنَفۡسِي ﴿٤١﴾ ٱذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكۡرِي ﴿٤٢﴾ ٱذۡهَبَآ
إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ
﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا
تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأۡتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ
فَأَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبۡهُمۡۖ قَدۡ جِئۡنَٰكَ بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكَۖ
وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡنَآ أَنَّ ٱلۡعَذَابَ عَلَىٰ
مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ
أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلۡقُرُونِ ٱلۡأُولَىٰ
﴿٥١﴾

38- هغه مهال چې ستا مور ته مو د هغه څه وحي وکړه چې په اشارې سره ښودل کېږي، 39- چې په صندوق کې ئې واچوه، بیا ئې په سیند کې وغورځوه، چې سیند ئې په ساحل کې وغورځوي، چې زما او د ده دښمن ئې واخلي، او له خپل لوري مې محبت درباندې وغوړاوو، او چې زما تر نظر لاندې ستا روزنه وشي، 40- هغه مهال چې ستا خور تلله او ویل ئې: آیا داسې څوك دروښیم چې پالنه ئې وکړي؟، نو د خپلې مور لوري ته مو ستون کړې چې سترګې ئې یخې شي او غمجنه نه وي، او یو کس دې ووژلو، نو له اندېښنو مو وژغورلې، او په ډول ډول آزموینو مو وآزمویلې، نو څو کاله په مدین والو کې پاته شوې، بیا اې موسی! د تقدیر مطابق (دلته) راغلې. 41- او د ځان لپاره مې جوړ کړې، 42- ته او ورور دې زما له آیتونو سره ولاړ شئ او زما په یادونې کې سستي مه کوئ. 43- فرعون ته ورشئ چې یقیناً هغه سرکښي کړې ده، 44- او پسته وینا ورته وکړئ، ښایي پند واخلي او یا ووېرېږي. 45- دواړو وویل: اې زموږ ربه! موږ له دې وېرېږو چې تېری راباندې وکړي او یا طغیان (لازیات) کړي. 46- وئې ویل: مه وېرېږئ، زه درسره یم، اورم او وینم، 47- نو ورشئ او ووایئ: موږ ستا د رب استازي یو نو بني اسرائیل راسره ولېږه او (نور ئې) مه تعذیبوه، یقیناً چې ستا د رب له لوري مو څرګنده نښه درته راوړې، او پر هغه چا دې سلام وي چې په هدایت پسې درومي، 48- یقیناً چې موږ ته وحي شوې چې عذاب د هغه چا په برخه کېږي چې (حق) تکذیب کړي او مخ (ترې) واړوي. 49- وئې ویل: اې موسی! نو دا ستاسو رب څوك دئ؟ 50- وئې ویل: زموږ رب هغه دئ چې هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت ورکړی بیا ئې لارښوونه (ورته) کړې، 51- وئې ویل: نو د مخکنیو نسلونو به څه حال وي،

قَالَ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٖۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ٱلَّذِي
جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ
أَنۡعَٰمَكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ ۞مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ
وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ ﴿٥٥﴾ وَلَقَدۡ أَرَيۡنَٰهُ
ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ أَجِئۡتَنَا لِتُخۡرِجَنَا مِنۡ أَرۡضِنَا
بِسِحۡرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٖ مِّثۡلِهِۦ فَٱجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ
مَوۡعِدٗا لَّا نُخۡلِفُهُۥ نَحۡنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانٗا سُوٗى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ
ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحۡشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحٗى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ كَيۡدَهُۥ ثُمَّ
أَتَىٰ ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيۡلَكُمۡ لَا تَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا
فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٖۖ وَقَدۡ خَابَ مَنِ ٱفۡتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم
بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن
يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ﴿٦٣﴾
فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ﴿٦٤﴾

52- وئي ويل: د دې علم زما له رب سره په كتاب كې (ليكلى) دئ، زما
رب نه تېروځي او نه ئې (څه) هېرېږي، 53- هغه چې زمكه ئې تاسو ته
زانگو گرځولې او په هغې كې ئې لارې درته پرانيستې دي، او له آسمانه
ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې
راوايستلې، 54- وخورئ او خپل څاروي وڅروئ، يقيناً چې په دې كې
عقلمنو ته ښكاره ښكارندي نښې دي، 55- له همدې مو پيدا كړئ او همدې ته
مو بيا ورگرځوو او له همدې مو يو ځل بيا راباسو. 56- او يقيناً چې خپل
ټول آيتونه مو وروښودل خو هغه تكذيب كړل او سرغړاوى ئې وكړ. 57-
وئي ويل: اې موسى! آيا د دې لپاره راغلى يې چې په خپلو كوډو سره
موږ له خپلې زمكې (هېواد) وباسې؟، 58- نو هرومرو به دې ته ورته
كوډې درته راوړو، نو زموږ او ستا ترمنځ يوه داسې نېټه وټاكه چې نه
موږ ترې شا ته شو او نه ته، يو مناسب ځاى، 59- وئي ويل: نېټه مو د
جشن ورځ ده او دا چې خلك دې غرمه راغونډ كړى شي. 60- نو فرعون
مخ واړاوو (او ولاړ) او خپل تدبيرونه ئې راغونډ كړل او (بېرته) راغى.
61- موسى ورته وويل: افسوس پر تاسو، پر الله دروغجنه افتراء مه كوئ
كه نه نو په عذاب به مو اخته او تباه كړي او هغه څوك سپېره او نامراده
شو چې افتراء ئې وكړه. 62- نو د خپل مأموريت په اړه په خپلو منځونو
كې په شخړه بوخت شول او د راز خبره ئې پټه كړه، 63- وئي ويل: دا
دواړه خو يقيناً چې جادوگران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له
خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه يوسي!!
64- نو خپل تدبيرونه راغونډ كړئ بيا يوه ليكه راوړاندي شئ او يقيناً نن
به هغه څوك بريالى وي چې برلاسى شي.

قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ
أَلْقُوا۟ ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾
فَأَوْجَسَ فِى نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ
﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِى يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓا۟ ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا۟ كَيْدُ سَـٰحِرٍ ۖ
وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا
بِرَبِّ هَـٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ
لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم
مِّنْ خِلَـٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ
عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَـٰتِ وَٱلَّذِى
فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَـٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ
ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَـٰيَـٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ وَٱللَّهُ
خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ
فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ
لَهُمُ ٱلدَّرَجَـٰتُ ٱلْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّـٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ
خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾

65- وئې ویل: اې موسی! یا ئې ته وغورځوه او یا به موږ هغه شو چې لومړی ئې غورځوي، 66- وئې ویل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه مهال د دوی د سحر له کبله د دوی پړې او عصاګانې داسې ورته وبرېښېدې چې ګواکې ځغلي. 67- نو موسی په خپل زړه کې وېره احساس کړه، 68- ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې، 69- او هغه شی وغورځوه چې ستا په لاس کې دئ، چې هغه څه ښوی تېر کړي چې دوی جوړ کړي، یقیناً هغه څه چې دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ، او جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی. 70- نو کوډګر په سجده پرېوتل (او) وئې ویل: د هارون او موسی پر رب مو ایمان راوړ. 71- وئې ویل: آیا تر دې وړاندې چې اجازه درکړم ده ته مو ایمان راوړ؟ یقیناً چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی!! نو هرومرو به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې یوه د بل خلاف پرې کوم او حتماً به تاسو د خرما په ستنو پانسي کوم او تاسو به هرومرو پوه شئ چې څوك په موږ کې د عذابولو له پلوه شدید دئ او څوك د ډېر پایښت خاوند. 72- وئې ویل: هیڅکله به تا تر هغو څرګندو دلائلو او ښو چې زموږ په برخه شوي او پر هغه چا چې موږ ئې پیدا کړي یو؛ غوره ونه ګڼو، نو هغه پرېکړه وکړه چې ته ئې کوونکی یې، یقیناً چې ته یوازې د دنیوي ژوند په اړه پرېکړه کولی شې، 73- یقیناً چې موږ پر خپل رب ایمان راوړی، چې زموږ خطاګانې او هغه جادو راوبخښي چې تا ورته اړ کړو، او الله تر ټولو غوره او تر ټولو زیات د پایښت خاوند دئ، 74- یقیناً هغه څوك چې خپل رب ته د مجرم په توګه وړاندې شي نو داسې دوزخ به ئې په برخه شي چې نه به په کې مري او نه به ژوند کولی شي، 75- او څوك چې د مؤمن په توګه وروړاندې شي په داسې حال کې چې نېك عملونه ئې کړي وي نو هغوی ته لوړې لوړې درجې دي، 76- داسې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې ویالې بهېږي، په هغه کې به تلپاته وي، او دا د هغه چا بدله ده چې ځان ئې پاك کړ.

وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي
ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ٧٧ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُودِهِۦ
فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ٧٨ وَأَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ
٧٩ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ
جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ٨٠ كُلُواْ مِن
طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۖ وَمَن
يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ٨١ وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ
وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ٨٢ ۞وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ
٨٣ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ٨٤ قَالَ فَإِنَّا
قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ٨٥ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ
قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا حَسَنًاۚ
أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن
رَّبِّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ٨٦ قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا
وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى
ٱلسَّامِرِيُّ ٨٧

77- او يقيناً چي موسى ته مو وحي وکړه چي زما بندګان (د شپې مهال) روان کړه، نو په سيند کې وچه لار ورته پرانيزه، مه له نيول کېدو وېرېږه او مه (له بله پلوه) وېرېږه. 78- نو فرعون له خپلو لښکرو سره ورپسې شو، نو د سيند اوبو راونغاړل همغسي چي راوئې نغاړل، 79- او فرعون خپل قوم بې لاري کړ او هدايت ئې نه کړ. 80- اې بني اسرائيلو! يقيناً چي له خپل دښمن مو وژغورلئ د طور د ښي (يا بختور) لوري وعده مو درسره وکړه، او پر تاسو مو من او سلوى نازل کړل، 81- له هغو پاکيزه وو چي درروزي مو کړل وخورئ او تېرى مه په کې کوئ، که نه نو زما غضب به درباندي راپرېوځي، او پر چا چي زما غضب پرېوځي هغه له شکه پرته کوز وغورځېدو. 82- او زه د هغه چا په اړه ډېر بخښونکى يم چي توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ، صالح عمل ئې وکړ او بيا (همداسي) په سمه لار ولاړ. 83- او اې موسى! څه شي تر خپل قوم راګړندى کړې؟ 84- وئې ويل: دا دي دوى راپسې دي، او اې زما ربه! د دې لپاره مي ستا لوري ته تلوار وکړ چي (له ما) راضي شې، 85- وئې فرمايل: يقيناً چي له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل، 86- نو موسى خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو، وئې ويل: اې زما قومه! آيا خپل رب د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آيا (د وعدې دا) موده درباندي اوږده شوه، يا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب درباندي راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ!! 87- وئې ويل: موږ په خپلي خوښي او واك سره ستا له وعدې نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د ګاڼو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول،

فَأَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٞ فَقَالُواْ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ
مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ
لَهُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هَٰرُونُ مِن قَبۡلُ يَٰقَوۡمِ
إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓاْ أَمۡرِي
﴿٩٠﴾ قَالُواْ لَن نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾
قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذۡ رَأَيۡتَهُمۡ ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِۖ أَفَعَصَيۡتَ
أَمۡرِي ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبۡنَؤُمَّ لَا تَأۡخُذۡ بِلِحۡيَتِي وَلَا بِرَأۡسِيٓۖ إِنِّي خَشِيتُ
أَن تَقُولَ فَرَّقۡتَ بَيۡنَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَمۡ تَرۡقُبۡ قَوۡلِي ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا
خَطۡبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ
قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي نَفۡسِي ﴿٩٦﴾
قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ
مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ
لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ
ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾

88- نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوایسته چې رمباړه ئې وه او وئې ویل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ چې هېر کړی ئې دئ، 89- آیا دې ته ئې نه کتل چې هیڅ خبره نه ورګرځوي او نه دوی ته د کومې ګټې واك لري او نه د څه تاوان، 90- او یقیناً چې هارون تر دې وړاندې ورته ویلې وو: اې زما قومه! یقیناً چې په دې سره وآزمویل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ، 91- وئې ویل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو چې موسی راوګرځي. 92- وئې ویل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې ومونډل 93- او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آیا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ 94- وئې ویل: اې زما د مور بچیه! تر ږیرې او تر سر مې مه نیسه، زه له دېووېرېدم چې ته به (راته) ووایې: په بني اسرائیلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وینا خیال دې ونه کړ!! 95- وئې ویل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ 96- وئې ویل: هغه څه مې ترسترګو شول چې د نورو ترسترګو نه شول، نو د پیغمبر له آثارو مې یو موټ ترلاسه کړل، بیا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښایسته کړ، 97- وئې ویل: نو دورومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخی ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بیا به ئې د ایرو په څېر په سیند کې وشیندو، 98- خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې.

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا
ذِكۡرٗا ٩٩ مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ١٠٠
خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ١٠١ يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ
وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ١٠٢ يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا
عَشۡرٗا ١٠٣ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن
لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ١٠٤ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡجِبَالِ فَقُلۡ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسۡفٗا
١٠٥ فَيَذَرُهَا قَاعٗا صَفۡصَفٗا ١٠٦ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجٗا وَلَآ أَمۡتٗا ١٠٧
يَوۡمَئِذٖ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُۥۖ وَخَشَعَتِ ٱلۡأَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمَٰنِ
فَلَا تَسۡمَعُ إِلَّا هَمۡسٗا ١٠٨ يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ
ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ١٠٩ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ
وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ١١٠ ۞وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ
خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ١١١ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ
فَلَا يَخَافُ ظُلۡمٗا وَلَا هَضۡمٗا ١١٢ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا
وَصَرَّفۡنَا فِيهِ مِنَ ٱلۡوَعِيدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ أَوۡ يُحۡدِثُ لَهُمۡ ذِكۡرٗا ١١٣

99- همداراز تا ته د هغو (پېښو) قصې بيانوو چې وړاندې تېرې شوې او يقيناً چې له خپل لوري مو تا ته يو ذكر دركړی، 100- څوك چې ترې ډډه وكړي نو د قيامت په ورځ به يو پېټی پر شا وړي، 101- تلپاته په هغه کې، د قيامت په ورځې به ئې بار څومره بد وي، 102- هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پو شي او مجرمين به په دې ورځ داسې راغونډ کړو چې شنه شنه به (اوښتي) وي، 103- په خپلو منځونو کې به پټه پټه دا خبره کوي چې يوازې لس ورځې ځنډېدلي يئ!! 104- موږ په هغه څه ښه پوه يو چې دوی ئې وايي هغه مهال چې د تګلارې له پلوه غوره به ئې وايي: يوازې يوه ورځ ځنډېدلي يئ. 105- او د غرونو په اړه تا پوښتي، ووايه: زما رب به ئې د دوړو په څېر خواره واره کړي، 106- او د آوار ډاګ په څېر به ئې پرېږدي، 107- نه به كوم پېچومی په کې ګورې او نه لوړه ژوره، 108- په دې ورځ به په بلونکي پسې داسې درومي چې کوږوالی به ئې نه وي، او د رحمن رب په وړاندې به غږونه تت شي، نو له کښهار (د پښو څپا) پرته به بل څه نه اورې. 109- په هغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مگر د هغه چا چې خدای اجازه وركړي او د ده په وينا راضي شي، 110- هر هغه څه ورته معلوم دي چې د دوی مخې ته دي يا ئې شا ته دي او دوی علماً پرې احاطه نشي کولی. 111- او مخونه د مدبر ژوندي رب په وړاندې خاضع او تسليم دي او يقيناً هغه څوك نامراد شو چې د ظلم پېټی ئې پر شا کړ، 112- او څوك چې نېك عملونه وكړي؛ په داسې حال کې چې مؤمن وي؛ نو نه به له ظلم وېره لري او نه له حق تلفي. 113- همداسې مو د عربي قرآن په توګه نازل کړ او په هغه کې مو ډول ډول تنبيهات بيان کړل چې ځان ساتنه وکړي او يا دوی ته پند اخيستنه رامنځته کړي.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۗ وَلَا تَعۡجَلۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مِن قَبۡلِ أَن
يُقۡضَىٰٓ إِلَيۡكَ وَحۡيُهُۥۖ وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدۡ عَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ
ءَادَمَ مِن قَبۡلُ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ﴿١١٥﴾ وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ
ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ
هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ ﴿١١٧﴾
إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعۡرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُاْ فِيهَا وَلَا
تَضۡحَىٰ ﴿١١٩﴾ فَوَسۡوَسَ إِلَيۡهِ ٱلشَّيۡطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلۡ أَدُلُّكَ عَلَىٰ
شَجَرَةِ ٱلۡخُلۡدِ وَمُلۡكٖ لَّا يَبۡلَىٰ ﴿١٢٠﴾ فَأَكَلَا مِنۡهَا فَبَدَتۡ لَهُمَا
سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ
رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾ ثُمَّ ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾ قَالَ
ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي
هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنۡ أَعۡرَضَ
عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ
﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾

114- نو حقيقي ټولواك الله د لوړ شأن خښتن دئ، او پر قرآن تر هغه وړاندي تلوار مه کوه چي تا ته ئې وحي بشپړه شي، او ووايه: اې زما ربه! علم مي زيات کړې. 115- او يقيناً چي تر دې وړاندي مو آدم ته حکم کړی وو؛ نو هېر ئې کړ او د عزم خاوند مو ونه موند. 116- او هغه مهال چي ملائکو ته مو وويل: د آدم لپاره سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه، له ابليس پرته چي ډډه ئې وکړه، 117- نو ومو ويل: اې آدمه! يقيناً چي دا ستا او ستا د مېرمني دښمن دئ، نو داسي نه چي له جنته مو وباسي که نه نو په مشقت کي به پرېوځې. 118- يقيناً چي په دې کي به تا ته دا درپه برخه وي چي نه به وږی کېږې او نه به بربنډ کېږې، 119- او ته به نه په کي تږی کېږې او نه به دي گرمي کېږي. 120- نو شيطان ورته وسوسه وکړه، وئې ويل: اې آدمه! آيا د پايښت وني او داسي واکمنۍ ته دي لارښوونه وکړم چي له منځه نه ځي؟! 121- نو دواړو (مېوه) ترې وخوړه، نو خپل بدنونه ورته څرگند شول، نو په دې ئې پيل وکړ چي پر خپل ځان د جنت پاڼې ونښلوي، او آدم له خپل رب سرغړاوی وکړ نو (له سمي لاري ئې) تېروتنه وکړه. 122- بيا خپل رب غوره کړ، (له مهربانۍ سره) پرې راوگرځېدو، او هدايت ئې کړ. 123- وئې ويل: دواړه په گډه له دې کوز شئ، ځيني د ځينو نورو لپاره دښمن، نو که زما له لوري کوم هدايت درغی نو چا چي زما د لارښووني متابعت وکړ نو نه به بې لاري شي او نه بدبخت، 124- او چا چي زما له ذکره اعراض وکړ، نو د تنگسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو. 125- وئې ويل: اې زما ربه! ولي دي ړوند حشر کړم په داسي حال کي چي سترگه ور وم.

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦
وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ
أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ١٢٧ أَفَلَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ
يَمۡشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ١٢٨ وَلَوۡلَا
كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامٗا وَأَجَلٞ مُّسَمّٗى ١٢٩ فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ
مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوبِهَاۖ
وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ١٣٠ وَلَا
تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا
لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ ١٣١ وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ
وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ١٣٢
وَقَالُواْ لَوۡلَا يَأۡتِينَا بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّهِۦٓۚ أَوَلَمۡ تَأۡتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي ٱلصُّحُفِ
ٱلۡأُولَىٰ ١٣٣ وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم بِعَذَابٖ مِّن قَبۡلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ
أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخۡزَىٰ ١٣٤
قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ فَتَرَبَّصُواْۖ فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ أَصۡحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ
ٱلسَّوِيِّ وَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ١٣٥

126- وئې فرمايل: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر كړل، نو همداسي به نن هېر كړى شې. 127- او همداسي به هغه چا ته سزا وركړو چي اسراف او تېرى ئې وكړ او د خپل رب په آيتونو ئې ايمان رانه وړ، او د آخرت عذاب حتماً ډېر شديد او ډېر پايښت لرونكى دئ. 128- نو آيا دا نه ده ورته ښكاره شوې چي تر دوى وړاندي مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك كړل چي دوى ئې په استوګنځيو كي ګرځي، يقيناً چي په دې كي عقلمنو ته څرګندي نښي دي، 129- او كه ستا د رب وينا وړاندي نه وى (ويل شوې) او ټاكل شوې نېټه نه وى نو حتماً به لازم شوى وو (الهي عذاب). 130- نو په هغه څه چي دوى ئې وايي صبر وكړه او له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه؛ تر لمر راختو مخكي او تر لوېدو ئې مخكي او د شپې په يوې برخي كي تسبيح وايه او د ورځي په اطراف كي؛ چي راضي شې. 131- او خپلي سترګي د هغه څه لوري ته مه اړوه چي د دوى ځينو ډلو ته مو ورپه برخه كړي، دا د دنيوي ژوند د سينګار اسباب دي چي دوى په كي آزمويو، او ستا د رب رزق ډېر غوره او زيات پاتېدونكى دئ. 132- او خپل اهل او عيال پر لمانځه وګماره او پرې كلك اوسه، كوم رزق نه درنه غواړو، موږ تا ته روزي دركوو، او (نېكه) پايله د تقوى (د خاوندانو) ده. 133- او وئې ويل: ولي د خپل رب له لوري كومه څرګنده نښه نه راته راوړي، آيا دوى ته هغه ښكارندويه نښي نه دي راغلې چي په مخكنيو صحيفو كي وې؟! 134- او كه موږ تر ده وړاندي په عذاب سره هلاك كړي وى نو حتماً به ئې ويلي وو: ولي دي موږ ته يو پيغمبر راونه لېږو چي ستا د آيتونو متابعت مو كړى وى؛ مخكي تر دې چي ذليل او سپك شو. 135- ووايه: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وكړئ، ژر به پوه شئ چي څوك د سمي لاري خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!!

## سُورَةُ الأَنبيَاءِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمۡ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ مُّعۡرِضُونَ ١ مَا
يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّن رَّبِّهِم مُّحۡدَثٍ إِلَّا ٱسۡتَمَعُوهُ وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ
٢ لَاهِيَةٗ قُلُوبُهُمۡۗ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا
بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡۖ أَفَتَأۡتُونَ ٱلسِّحۡرَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ٣ قَالَ رَبِّي
يَعۡلَمُ ٱلۡقَوۡلَ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٤ بَلۡ
قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمِۭ بَلِ ٱفۡتَرَىٰهُ بَلۡ هُوَ شَاعِرٞ فَلۡيَأۡتِنَا بِـَٔايَةٖ كَمَآ
أُرۡسِلَ ٱلۡأَوَّلُونَ ٥ مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآۖ أَفَهُمۡ
يُؤۡمِنُونَ ٦ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ
أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٧ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا
يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ٨ ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ
فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٩ لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ
إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٠

# الانبياء- مکي سوره- 112 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- دغو خلکو ته خپل حساب ورنژدې شوی، حال دا چې دوی په غفلت
کې (پراته) اعراض کوونکي دي. 2- د خپل رب له لوري چې کوم نوی ذکر
(پند) دوی ته راغلی په داسي حال کې ئې اوري چې لوبې (ورسره) کوي.
3- زړونه ئې (په همدې لوبو کې) بوخت، او دغو چې ظلم ئې کړی دا د
راز خبره ئې په پټه (یوه بل ته) وکړه چې آیا دا ستاسو په څېر له بشر
پرته بل څه دئ؟ آیا سحر ته (تسلیمېدونکي) درومئ په داسي حال کې
چې د بصیرت خاوندان یئ؟! 4- وئې ویل: زما رب د آسمان او زمکې په
هري خبري پوهېږي او هغه پوه اورېدونکی دئ. 5- بلکې وئې ویل: دا څه
پرېشان خوبونه دي، بلکې له ځانه ئې جوړ کړی، بلکې هغه یو شاعر دئ،
که نه نو د لومړنیو لېږل شوو په څېر دي کومه څرګنده نښه (معجزه)
موږ ته راوړي!! 6- تر دوی وړاندي هیڅ داسي قوم ایمان نه دئ راوړی
چې موږ هلاك کړ نو آیا دوی به ایمان راوړي؟!! 7- او تر تا وړاندي مو
له سړو پرته (ځوك) نه دي لېږلي چې وحي مو ورته کوله، نو که نه
پوهېږئ د ذکر (تورات) خاوندان وپوښتئ، 8- او دوی مو داسي جسدونه
نه وو ګرځولي چې خوراك نه کوي او تلپاته هم نه ول، 9- بیا مو خپله
ژمنه ورسره رښتینې کړه او دوی او هغه خلك مو وژغورل چې غوښتل
مو، او تېری کوونکي مو هلاك کړل. 10- یقیناً چې تاسو ته مو داسي کتاب
نازل کړ چې په هغه کې ستاسو ذکر او یادونه شوې نو آیا تعقل نه کوئ؟

وَكَمۡ قَصَمۡنَا مِن قَرۡيَةٖ كَانَتۡ ظَالِمَةٗ وَأَنشَأۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ
١١ فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأۡسَنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَرۡكُضُونَ ١٢ لَا تَرۡكُضُواْ
وَٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتۡرِفۡتُمۡ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡـَٔلُونَ ١٣
قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ١٤ فَمَا زَالَت تِّلۡكَ دَعۡوَىٰهُمۡ حَتَّىٰ
جَعَلۡنَٰهُمۡ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ١٥ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا
بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ١٦ لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوٗا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّآ إِن
كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٧ بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ
زَاهِقٞۚ وَلَكُمُ ٱلۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُونَ ١٨ وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا
يَسۡتَحۡسِرُونَ ١٩ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ٢٠ أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ
ءَالِهَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ٢١ لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ
لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢ لَا يُسۡـَٔلُ عَمَّا
يَفۡعَلُ وَهُمۡ يُسۡـَٔلُونَ ٢٣ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ قُلۡ هَاتُواْ
بُرۡهَٰنَكُمۡۖ هَٰذَا ذِكۡرُ مَن مَّعِيَ وَذِكۡرُ مَن قَبۡلِيۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٱلۡحَقَّۖ فَهُم مُّعۡرِضُونَ ٢٤

11- او څومره هغه کلي (وال) مو مات کړل چي ظالمان ول، او ترې وروسته مو د نورو قوم پیدا کړ، 12- نو کله چي ئې زموږ عذاب احساس کړ ناڅاپه ترې تښتېدل. 13- مه تښتئ او هغه څه ته ستانه شئ چي په هغه کي مو سوکالي په برخه شوې وه او خپلو استوګنځیو ته؛ چي وپوښتی شئ!! 14- وایي به: زموږ پر حال افسوس! یقیناً چي موږ ظالمان وو. 15- نو تر هغه به ئې تل دا وینا وه چي موږ رېبل شوي مړاوي (یخ او ساړه) کړل. 16- او آسمان، زمکه او څه چي د دوی په منځ کي دي د لوبي کوونکو په توګه مو نه دي پیدا کړي، 17- که مو غوښتی چي د بېهوده مشغولتیا په توګه ئې ونیسو نو له خپل لوري به مو (همداسي) نیولی وو که (د داسي کار) کوونکي وی، 18- بلکي پر باطل د حق ګوزار کوو نو سر ئې وروځپي، نو همدا مهال هغه له منځه تلونکی شي، او تاسو ته د هغه څه له کبله افسوس دئ چي بیانوئ ئې. 19- او هغه څه ټول د ده دي چي په آسمانونو او زمکي کي دي، او هغه چه له ده سره دي نه ئې له بندګۍ څان لوړ ګڼي او نه ستومانه کېږي. 20- شپه او ورځ په تسبیح لګیا وي او نه سستېږي. 21- آیا داسي زمکني خدایان ئې نیولي چي هغوی مړي راژوندي کوي؟ 22- که په دوی دواړو (آسمان او زمکي) کي له الله پرته نور خدایان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستایلو د عرش پالونکي الله ته پاکي ده. 23- له هغه څه؛ نه پوښتل کېږي چي دی ئې کوي او دوی پوښتل کېږي. 24- آیا له ده پرته ئې نور معبودان نیولي؟ووایه: خپل دلیل وړاندي کړئ، دا د هغه ذکر دئ چي له ما سره دئ او د هغه ذکر چي له ما وړاندي وو، بلکي د دوی ډېری حق نه پېژني، نو ځکه دوی اعراض کوونکي دي،

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ
إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ
عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ
﴿٢٧﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ
ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ﴿٢٨﴾ ۞وَمَن يَقُلۡ مِنۡهُمۡ إِنِّيٓ
إِلَٰهٞ مِّن دُونِهِۦ فَذَٰلِكَ نَجۡزِيهِ جَهَنَّمَۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ
﴿٢٩﴾ أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا
فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٠﴾
وَجَعَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِهِمۡ وَجَعَلۡنَا فِيهَا فِجَاجٗا
سُبُلٗا لَّعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ﴿٣١﴾ وَجَعَلۡنَا ٱلسَّمَآءَ سَقۡفٗا مَّحۡفُوظٗاۖ وَهُمۡ
عَنۡ ءَايَٰتِهَا مُعۡرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ
وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٖ
مِّن قَبۡلِكَ ٱلۡخُلۡدَۖ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلۡخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفۡسٖ
ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗۖ وَإِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ﴿٣٥﴾

25- او تر تا وړاندي مو هیڅ پیغمبر نه دئ لیږلی مګر دا چي هغه ته مو وحي کوله چي له ما پرته بل معبود نشته نو زما عبادت وکړئ. 26- او وئې ویل: رحمن خدای یو زوی نیولی! پاکي ده ورته (له دې عیبه)، بلکي (هغوی) عزتمن بندګان دي، 27- په وینا کي ترې وړاندي والی نه کوي، او دوی د ده په امر کار کوي، 28- په هغه څه پوهېږي چي د دوی وړاندي او وروسته دي او شفاعت نه کوي مګر د هغه چا چي ترې راضي وي، په داسي حال کي چي له هیبته ئې وېرېږي. 29- او که د دوی کوم څوك ووایي چي زه له ده پرته معبود یم نو دا به هغه وي چي د دوزخ سزا به ورکړو، ظالمان همداسي مجازات کوو. 30- آیا کافرانو دې ته پام نه دئ کړی چي آسمانونه او زمکه سره نښتي ول، نو موږ سره بېل کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟! 31- او په زمکي کي مو لنګرونه (غرونه) وګرځول (جوړ کړل) چي دوی ونه خوځوي، او په هغې کي مو ارتې لاري جوړي کړې چي لار ومومي، 32- او آسمان مو خوندي چت وګرځولو دا په داسي حال کي چي دوی ئې له آیتونو اعراض کوونکي دي، 33- او دی هغه ذات دئ چي شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې پیدا کړل، داسي چي هر یو په یوه فلك کي لامبو وهي (خوځي). 34- او تر تا وړاندي مو هیڅ انسان ته تلپاته پایښت نه دئ ګرځولی، نو آیا که ته ومرې دوی به تلپاته وي؟ 35- هر نفس د مرګ خوند څکونکی دئ، او په شر او خیر مو د یوې فتنې په توګه آزمویو، او زما لوري ته راګرځول کیږئ،

وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا
ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ هُمْ كَٰفِرُونَ ٣٦
خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍۚ سَأُوْرِيكُمْ ءَايَٰتِى فَلَا
تَسْتَعْجِلُونِ ٣٧ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ
صَٰدِقِينَ ٣٨ لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن
وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ٣٩ بَلْ
تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ
يُنظَرُونَ ٤٠ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ
سَخِرُواْ مِنْهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ٤١ قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم
بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَٰنِۚ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ
٤٢ أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَاۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ
أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ ٤٣ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰٓؤُلَآءِ
وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُۗ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِى
ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآۚ أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ٤٤

36- او کله چې کافران تا ويني له استهزاء پرته بل څه نه دربانديکوي، (وايي) آيا دا همغه دئ چې ستاسو د معبودانو يادونه کوي په داسي حال کې چې دوی په خپله د رحمن رب د يادوني کافران دي، 37- انسان له تلوار او عجلې پيدا شوی، ژر به خپل آيتونه دروښيم، نو عجله مه کوئ. 38- او وايي: دا وعده به کله وي که رښتيني يئ؟ 39- کاش کافران پوهېدلي وی چې هغه مهال به نه له خپلو مخونو اور دفع کولی شي او نه له خپلو شاګانو او نه به ئې مرسته کېدی شي. 40- بلکې ناڅاپي به ورته راشي نو حيران به ئې کړي، نو نه به ئې پر ردولو توانېدی شي او نه به مهلت ورکول کېږي. 41- او يقيناً چې تر تا وړاندنيو پيغمبرانو باندي هم ملنډې ووهل شوې، نو پر هغو چې د دوی په اړه ئې ملنډې وهلې وې همغه څه (عذاب) محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې. 42- ووايه: څوك مو له رحمن رب د شپې او ورځې له لوري ساتي، بلکې دوی د خپل رب له يادوني ډډه کوونکي دي. 43- آيا له موږ پرته داسي معبودان لري چې وئې ساتي، نه د ځان مرسته کولی شي او نه زموږ ملتيا ورسره شته، 44- بلکې دوی او د دوی پلرونه مو دومره متمتع کړل چې موده پرې اوږده شوه، نو آيا دې ته نه ګوري چې موږ په داسي حال کې زمکې ته رادرومو چې له څنډو ئې راکموو، نو آيا دوی به برلاسي وي؟

قُلۡ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلۡوَحۡيِۚ وَلَا يَسۡمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ
٤٥ وَلَئِن مَّسَّتۡهُمۡ نَفۡحَةٞ مِّنۡ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا
كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٤٦ وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا
تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ
وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ٤٧ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلۡفُرۡقَانَ
وَضِيَآءٗ وَذِكۡرٗا لِّلۡمُتَّقِينَ ٤٨ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَهُم
مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشۡفِقُونَ ٤٩ وَهَٰذَا ذِكۡرٞ مُّبَارَكٌ أَنزَلۡنَٰهُۚ أَفَأَنتُمۡ لَهُۥ
مُنكِرُونَ ٥٠ *وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ
عَٰلِمِينَ ٥١ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ
لَهَا عَٰكِفُونَ ٥٢ قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ٥٣ قَالَ لَقَدۡ
كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٥٤ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ
أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ٥٥ قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٥٦ وَتَٱللَّهِ
لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم بَعۡدَ أَن تُوَلُّواْ مُدۡبِرِينَ ٥٧

45- وواېه: زه يوازې په وحې سره تاسو ته خبرداری درکوم، او کوڼ
بلنه نه اوري کله چې انذار کړی شي. 46- او که ستا د رب د عذاب
تاو او بړاس ورورسېږي حتماً به وايي: ای وای! افسوس پر موږ، يقيناً
چې موږ ظالمان وو. 47- او د قيامت د ورځې د انصاف تلې به کېږدو
نو پر هيڅا به هيڅ ظلم نه کېږي، او که د سپيلني د دانې په مقدار
څه (عمل) وي نو رابه ئې وړو. او موږ د محاسبه کوونکو په توګه کافي
يو. 48- او يقيناً چې موسى او هارون ته مو فرقان، رڼا او د متقيانو
لپاره ذکر او پند ورکړ، 49- د هغو لپاره چې له خپل رب په غياب کې
وېرېږي په داسې حال کې چې د قيامت له نښتې وېرېدونکي دي. 50-
او دا مبارك ذکر دئ چې نازل مو کړ، نو آيا تاسو ترې انکار کوونکي
يئ؟ 51- او يقيناً چې ابراهيم ته مو تر دې وړاندې د ده رشد او
لارښوونه ورپه برخه کړه، او موږ پرې پوه وو، 52- هغه مهال چې
خپل پلار او خپل قوم ته ئې وويل: دا انځورونه (بتان) څه دي چې
تاسو ئې ملانځونکي يئ؟ 53- وئې ويل: خپل پلرونه مو داسې موندلي
چې د هغوی ملانځونکي ول، 54- وئې ويل: يقيناً چې تاسو او ستاسو
پلرونه په ښکاره بې لارۍ کې يئ، 55- وئې ويل: آيا موږ ته دې حق
راوړی او که له لوبې کوونکو يې، 56- وئې ويل: بلکې ستاسو رب د
آسمانونو او زمکې هغه رب دئ چې دغه ئې پيدا کړي او زه پر دې له
ګواهي ورکوونکو يم، 57- او پر الله قسم چې ستاسو د بتانو څه
بندوبست به کوم، له هغه وروسته چې تاسو مخ واړوئ او تر شا شئ،

فَجَعَلَهُمۡ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمۡ لَعَلَّهُمۡ إِلَيۡهِ يَرۡجِعُونَ ٥٨ قَالُواْ
مَن فَعَلَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٩ قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتًى
يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ٦٠ قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ
ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ ٦١ قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا
يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ٦٢ قَالَ بَلۡ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمۡ هَٰذَا فَسۡـَٔلُوهُمۡ إِن كَانُواْ
يَنطِقُونَ ٦٣ فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ فَقَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ
٦٤ ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمۡ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ
٦٥ قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا
يَضُرُّكُمۡ ٦٦ أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا
تَعۡقِلُونَ ٦٧ قَالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ
٦٨ قُلۡنَا يَٰنَارُ كُونِي بَرۡدٗا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ٦٩ وَأَرَادُواْ بِهِۦ
كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَخۡسَرِينَ ٧٠ وَنَجَّيۡنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلۡأَرۡضِ
ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا لِلۡعَٰلَمِينَ ٧١ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ
نَافِلَةٗۖ وَكُلّٗا جَعَلۡنَا صَٰلِحِينَ ٧٢

58- نو له ستر پرته ئې هغوی ټوټې ټوټې کړل، د دې لپاره چې هغه ته به رجوع وکړي. 59- وئې ویل: چا زموږ له معبودانو سره دا کار کړی؟ یقیناً چې هغه له ظالمانو دئ. 60- وئې ویل: اورېدلې مو دي چې یو زلمی ئې یادونه کوي، هغه ته ابراهیم ویل کېږي. 61- وئې ویل: د خلکو د سترگو په وړاندې ئې راولئ چې خلك ئې شاهد شي (د ابراهیم مجازات وگوري). 62- وئې ویل: اې ابراهیمه! آیا زموږ له معبوادانو سره دا کار تا کړی؟ 63- وئې ویل: بلکې دا کار خو د دوی دغه ستر بت کړی، نو دوی وپوښتئ که خبرې کولی شي!! 64- نو خپلو نفسونو ته ئې رجوع وکړه او وئې ویل: یقیناً چې تاسو په خپله ظالمان یئ، 65- بیا ئې سرونه نسکور او ټیټ کړی شول، (او وئې ویل:) یقیناً چې ته پوهېږې چې دوی خبرې نشي کولی، 66- وئې ویل: نو آیا له الله پرته داسې څه لمانځئ چې نه کومه گټه دررسولی شي او نه ضرر دررسولی شي؟!! 67- افسوس پر تاسو او پر هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ! نو آیا تعقل نه کوئ؟! 68- وئې ویل: وئې سوزوئ او د خپلو معبودانو ملتیا وکړئ که (د کوم کار) کوونکې یئ. 69- ومو ویل: اې اوره! پر ابراهیم سوړ او سلامتي شه، 70- او هغوی د پټ تدبیر اراده ورته وکړه نو موږ تر ټولو ډېر تاوانیان کړل، 71- او دی او لوط مو هغې سیمې ته وژغورل چې په هغې کې مو د عالمیانو لپاره برکتونه اچولي، 72- او ده ته مو په اضافي توگه اسحاق او یعقوب ورپه برخه کړل او هر یو مو له صالحینو وگرځولو.

وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ فِعۡلَ ٱلۡخَيۡرَٰتِ
وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِۖ وَكَانُواْ لَنَا عَٰبِدِينَ ٧٣ وَلُوطًا
ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗا وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَت تَّعۡمَلُ
ٱلۡخَبَٰٓئِثَۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَٰسِقِينَ ٧٤ وَأَدۡخَلۡنَٰهُ فِي
رَحۡمَتِنَآۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٧٥ وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ
فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ٧٦
وَنَصَرۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ
فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٧٧ وَدَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ إِذۡ يَحۡكُمَانِ فِي
ٱلۡحَرۡثِ إِذۡ نَفَشَتۡ فِيهِ غَنَمُ ٱلۡقَوۡمِ وَكُنَّا لِحُكۡمِهِمۡ شَٰهِدِينَ
٧٨ فَفَهَّمۡنَٰهَا سُلَيۡمَٰنَۚ وَكُلًّا ءَاتَيۡنَا حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَسَخَّرۡنَا
مَعَ دَاوُۥدَ ٱلۡجِبَالَ يُسَبِّحۡنَ وَٱلطَّيۡرَۚ وَكُنَّا فَٰعِلِينَ ٧٩ وَعَلَّمۡنَٰهُ
صَنۡعَةَ لَبُوسٖ لَّكُمۡ لِتُحۡصِنَكُم مِّنۢ بَأۡسِكُمۡۖ فَهَلۡ أَنتُمۡ
شَٰكِرُونَ ٨٠ وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةٗ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦٓ إِلَى
ٱلۡأَرۡضِ ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيۡءٍ عَٰلِمِينَ ٨١

73- او له دوی مو داسي مشران جوړ کړل چي زما په امر سره ئې
(د خلکو) لارښوونه کوله، او دوی ته مو د نېکو کارونو کولو، لمونځ
قائمولو او زکات ورکولو وحي وکړه، او دوی زما عبادت کوونکي ول.
74- او لوط چي حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او له هغه کلي
مو وژغورو چي پليت پليت کارونه ئې کول، يقيناً چي هغوی د
فاسقانو يو بد قوم وو، 75- او په خپل رحمت کي مو ننه ايست،
يقيناً چي هغه له صالحانو وو. 76- او نوح چي تر دې وړاندي ئې
(د دعاء لپاره) غږ کړ، نو موږ د ده دعاء قبوله کړه، نو دی او د ده
ټبر مو له هغه ستر کړاو وژغورل. 77- او د هغه قوم له (شره) مو
(د ده د ژغورني) مرسته ورسره و کړه چي زما آيتونه ئې تکذيبول،
يقيناً چي دوی يو بد قوم وو نو ځکه مو ټول غرق کړل. 78- او داؤد
او سليمان چي کله ئې د هغه کښت په اړه پرېکړه کوله چي د هغه
قوم د مېږو رمه په کي ننوته (او هغه ئې تباه کړ)، موږ ئې د پرېکړي
شاهد وو، 79- نو سليمان مو پرې پوه کړ او هر يوه ته مو حکمت
او علم ورپه برخه کړی وو، داؤد ته مو هم غرونه داسي مسخر کړي
وو چي تسبيح به ئې ويله او هم مارغان، او کوونکي ئې موږ وو
80- او هغه ته مو د داسي پوښاك (زغري) جوړول ورزده کړل چي
تاسو د خپلو جګړو (په مهال) ساتي، نو آيا شکر کوونکي يئ؟ 81- او
سليمان ته مو توند باد مسخر کړ چي د ده په امر به هغي سيمي
ته خوځېدو چي برکت مو ورکړی او موږ په هر څه پوه يو.

وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعۡمَلُونَ عَمَلٗا دُونَ
ذَٰلِكَۖ وَكُنَّا لَهُمۡ حَٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾ ۞وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي
مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ
فَكَشَفۡنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرّٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ
رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ
وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ كُلّٞ مِّنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾ وَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ فِي رَحۡمَتِنَآۖ
إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ
أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ
سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ
وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَزَكَرِيَّآ إِذۡ
نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرۡنِي فَرۡدٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾
فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ يَحۡيَىٰ وَأَصۡلَحۡنَا لَهُۥ زَوۡجَهُۥٓۚ إِنَّهُمۡ
كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ
لَنَا خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾

82- او له شيطانانو هغه چي د ده لپاره به ئې (په سیند کي) غوټې وهلې، او پر دې سربېره به ئې نور کارونه کول، او موږ د دوی ساتونکي وو. 83- او ایوب چي خپل رب ته ئې (د دعاء لپاره) غږ کړ چي یقیناً ما ته کړاو رارسېدلی او ته تر ټولو رحم کوونکو زیات مهربان یې، 84- نو موږ د ده دعاء قبوله کړه او په کوم کړاو چي اخته وو هغه مو ترې لري کړ، او ده ته مو د ده خپله کورنۍ او مثل ئې ورسره یو ځای ورپه برخه کړ، د خپلي پېرزویني له مخي او عبادت کوونکو ته د پند او یادوني په توګه. 85- او اسمعیل، ادریس او ذالکفل، چي هر یو ئې له صابرانو وو، 86- او موږ په خپل رحمت کي ننایستل، یقیناً چي له صالحانو ول. 87- او هغه کب وال چي کله غضبناك روان شو او ګمان ئې وکړ چي مونږ به هیڅکله تنګي پرې رانه ولو، نو په تیارو کي ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نشته، پاکي تا ته ده، یقیناً چي زه له ظالمانو وم!! 88- نو د ده دعاء مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسي ژغورو. 89- او زکریا چي خپل رب ته ئې (د دعاء په توګه) غږ کړ: اې زما ربه! ما یوازي مه پرېږده او ته تر ټولو غوره وارث یې. 90- نو د ده دعاء مو قبوله کړه او یحیی مو ورپه برخه کړ او د ده مېرمن مو ورته ورغوله، یقیناً چي دوی په ښېګڼو کي تلوار کولو او له رغبت او وېري سره ئې موږ ته دعاء کوله، او زموږ په وړاندي خشوع کوونکي ول.

وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا
وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٩١ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠
رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ٩٢ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا
رَٰجِعُونَ ٩٣ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا
كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ٩٤ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ
أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ٩٥ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ
وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ ٩٦ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ
ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ
كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٩٧ إِنَّكُمۡ وَمَا
تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ٩٨
لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ مَّا وَرَدُوهَاۖ وَكُلّٞ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٩٩ لَهُمۡ
فِيهَا زَفِيرٞ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ١٠٠ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم
مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ ١٠١

91- او هغه (مېرمن) چې د خپل عورت او عفت ساتنه ئې وکړه، نو موږ خپله روح په کې پو کړه، او موږ دا او د دې زوی د عالمیانو لپاره یوه ښکاره نښه وګرځوله. 92- یقیناً چې همدا ستاسو امت دئ، یوازینی امت؛ او زه مو رب یم؛ نو زما عبادت وکړئ. 93- او په خپلو منځونو کې ئې خپل کار (ملت او دین) ټوټې ټوټې (بېل بېل) کړ، ټول زموږ په لور راګرځېدونکي دي، 94- نو چا چې نېك عملونه وکړل په داسي حال کې چې هغه مؤمن وي نو د هڅې ناسپاسي به ئې نه کېږي، او موږ ئې ورته لیکونکي یو. 95- او پر یوه داسي کلي چې موږ هلاك کړی دا حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي، 96- تر هغه چې یأجوج او مأجوج پرانیستل شي، په داسي حال کې چې له هري لوړي به راکوزېږي. 97- او هغه رښتینې وعده به رانږدې شوې وي، نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګي رډې رډې پاته شي چې کفر ئې کړی (وایي به) افسوس زموږ په حال؛ یقیناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکې ظالمان وو. 98- یقیناً چې تاسو به او هغه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ د دوزخ سون وئ، تاسو به ورننوتونکي وئ، 99- که دوی معبودان وی نو نه به ورننوتل، او ټول به په کې تلپاته وي، 100- هلته به ئې زګېروی او کوکاري وي او دوی به په هغه کې څه نشي اورېدی. 101- یقیناً هغه چې زموږ له لوري لا له وړاندي حسنی (ښېګڼه) ورته ټاکل شوې، ترې لري کړی شوي،

لَا يَسۡمَعُونَ حَسِيسَهَاۖ وَهُمۡ فِي مَا ٱشۡتَهَتۡ أَنفُسُهُمۡ خَٰلِدُونَ
١٠٢ لَا يَحۡزُنُهُمُ ٱلۡفَزَعُ ٱلۡأَكۡبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا
يَوۡمُكُمُ ٱلَّذِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ١٠٣ يَوۡمَ نَطۡوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ
ٱلسِّجِلِّ لِلۡكُتُبِۚ كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ
إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٠٤ وَلَقَدۡ كَتَبۡنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعۡدِ ٱلذِّكۡرِ
أَنَّ ٱلۡأَرۡضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ١٠٥ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغٗا
لِّقَوۡمٍ عَٰبِدِينَ ١٠٦ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧ قُلۡ
إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ
١٠٨ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ ءَاذَنتُكُمۡ عَلَىٰ سَوَآءٖۖ وَإِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٌ
أَم بَعِيدٞ مَّا تُوعَدُونَ ١٠٩ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَيَعۡلَمُ
مَا تَكۡتُمُونَ ١١٠ وَإِنۡ أَدۡرِي لَعَلَّهُۥ فِتۡنَةٞ لَّكُمۡ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ
حِينٖ ١١١ قَٰلَ رَبِّ ٱحۡكُم بِٱلۡحَقِّۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ
عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ١١٢

## سُورَةُ الحَجِّ

102- د ډېرو کښېکار به ئې نه اوري، او دوی به په تلپاتې توګه په هغه څه کې وي چې زړه ئې غواړي. 103- هغه لویه وېره به ئې غمجن نه کړي، ملائکې به (له دې وینا سره) د دوی ملاقات کوي چې: دا ستاسو همغه ورځ ده چې وعده ئې درکول کېده. 104- هغه ورځ چې آسمان به داسې راونغاړو لکه د لیکل شوو پاڼو نغاړل، لکه چې لومړی پیدایښت مو پیل کړ بیا به ئې اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه یوه ژمنه ده، یقیناً چې موږ ئې کوونکي یو. 105- او یقیناً چې تر تورات وروسته مو په زبور کې هم ولیکل چې ځمکه به زما صالح بندګان په میراث وړي. 106- یقیناً چې په دې کې عابدو وګړو ته یو (اغېزمن) تبلیغ دئ. 107- او ته مو نه ئې لېږلی مګر د ټول عالَم لپاره رحمت. 108- ووایه: یقیناً چې له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته دا وحي کېږي چې ستاسو معبود یوازینی معبود دئ، نو آیا تاسو مسلمانېدونکي یئ؟ 109- نو که ئې مخ واړاوو نو ووایه: په سمه توګه مې درته اعلان کړه، او نه پوهېږم هغه څه به نژدې وي چې وعده ئې درسره کېږي او که لرې! 110- یقیناً چې هغه هم په څرګندې وینا پوهېږي او هم په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ. 111- او زه نه پوهېږم، ښایي دا به ستاسو لپاره یوه آزموینه وي او تر یوې نېټې برخمن کېدا. 112- وئې ویل: اې زما ربه! رښتینې پرېکړه وکړه، او زموږ مهربان رب د هغه څه په وړاندې د استعانت مرجع دئ چې تاسو ئې وایئ.

## الحج- مکي او مدني سوره- 78 آیتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ
١ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ
ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ
وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ٢ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي
ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ٣ كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ
مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٤ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن
تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ
مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى
ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ
وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ
شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ
وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ٥

د ډېر مهربان رحم كوونكي الله په نامه

1- اې خلكو! له خپل رب وويرېږئ، يقيناً چي د قيامت د ورځي زلزله ستره پېښه ده، 2- هغه ورځ چي هره تی وركوونكې به ګورې چي هغه څه له ياده باسي.چي تی ئې وركړی او هره حامله به خپل بچی ضائع كوي او خلك به بې سده ګورې خو دوی به بې سده نه وي بلكي د الله عذاب به سخت وي. 3- او له خلكو ځيني د الله په اړه له پوهي پرته جدل كوي او په هر سركښ شيطان پسي درومي، 4- پر ده لازم شوې چي څوك ورسره دوستي وكړي نو هغه به ئې بې لاري كړي او د دوزخ د عذاب په لوري به ئې بوځي. 5- اې خلكو! كه د بيا ژوندون په اړه په شك كې يئ، نو موږ خو له خاوري راپيدا كړئ، بيا له نطفې، بيا له علقې، بيا له ژوول شوې يوې ټوټې غوښي چي انځور شوې او نه انځور شوې وي، ترڅو تاسو ته وښيو او څه چي وغواړو تر يوې نېټې ئې په رحم كې ځای پر ځای كوو، بيا مو د ماشوم په څېر راباسو، بيا (همداسي ستاسو پالنه كوو) تر څو خپل قوت ته ورسېږئ او ستاسو ځيني ومري او ځيني مو تر ټولو لوېدلي عمر ته ورسېږي، هومره چي له پوهېدو وروسته په څه نه پوهېږي او زمكه ګورې چي وچه كلكه ده، خو كله چي اوبه پرې نازل كړو، وخوځېږي، وده وكړي او هر راز سمسور بوټي راوټوكوي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٞ ٦ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن
فِي ٱلۡقُبُورِ ٧ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا
هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٨ ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ
لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٩
ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ١٠ وَمِنَ
ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ
وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١١ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ
وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ١٢ يَدۡعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ
أَقۡرَبُ مِن نَّفۡعِهِۦۚ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ ١٣ إِنَّ ٱللَّهَ
يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ١٤ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن
يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ فَلۡيَمۡدُدۡ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ
لۡيَقۡطَعۡ فَلۡيَنظُرۡ هَلۡ يُذۡهِبَنَّ كَيۡدُهُۥ مَا يَغِيظُ ١٥

6- دا له دې کبله چې الله په خپله حق دئ، او دا چې هغه مړي
راژوندي کوي، او دا چې هغه پر هر څه ښه قادر دئ، 7- او دا چې
(د قيامت) هغه نېټه حتماً راتلونکې ده، هيڅ شك په کې نشته، او
دا چې الله به هغه راپاځوي چې په قبرونو کې دي. 8- او د خلکو
ځيني هغه دي چې د الله په اړه له کومي پوهي، هدايت او روڼ
کتاب پرته مجادله کوي، 9- په داسي حال کې چې د خپل اړخ اړوونکی
وي، ترڅو د الله له لاري (خلك) تېرباسي، هغه ته په دنيا کې سپکاوی
دئ او د قيامت په ورځ به د اور عذاب وروڅکو، 10- دا د همغه
څه له کبله چې ستا لاسونو وړاندي لېږلي او دا ځکه چې الله پر
بندگانو ظلم کوونکی نه دئ. 11- او له خلکو ځيني داسي دي چې
په يوې ژۍ کې د الله عبادت کوي، نو که کومه ښېگڼه وروړسېږي په
هغې ډاډه شي او که د آزمويني (کومه ستونزه) وروړسېږی خپل مخ
اړوي، دنيا او آخرت ئې تاواني شو او دا څرگنده تباهي ده. 12- له
الله پرته هغه څا ته دعاء کوي چې نه ضرر وررسولی شي او نه گټه
وررسولی شي، همدا ژوره لارورکتيا ده، 13- هغه (مرستي ته) وربلي
چې تاوان ئې تر گټې ډېر نژدې دئ، څومره بد مولا او څومره بد
ملگری. 14- يقيناً چې الله هغه وگړي چې ايمان ئې راوړی او صالح
عملونه ئې کړي په داسي جنتونو کې ننباسي چې ترې لاندي ويالې
بهېږي، يقيناً چې الله همغه څه کوي چې وئې غواړي. 15- څوك چې
گمان کوي الله به ئې په دنيا او آخرت کې مرسته ونه کړي نو په کوم
پړي سره دي د آسمان لوري ته لوړ شي بيا دې وشلوي او ودي گوري
چې د ده تدبير هغه څه له منځه وړي چې دی ئې غصه کړی؟

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ ءَايَٰتِۢ بَيِّنَٰتٖ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ ١٦ إِنَّ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلۡمَجُوسَ
وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ١٧ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسۡجُدُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلۡجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ
وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٞ مِّنَ ٱلنَّاسِۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُۗ وَمَن يُهِنِ
ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكۡرِمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ۩ ١٨ ۞هَٰذَانِ
خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي رَبِّهِمۡۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ
مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ١٩ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي
بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ٢٠ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ٢١ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن
يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ٢٢
إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ
وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٢٣

16- او همداسي مو د څرګندو نښو په توګه نازل کړ او دا چي الله
هغه څوك هدايتوي چي دی ئې غواړي. 17- يقيناً هغه چي ايمان
ئې راوړی، هغه چي يهودان شوي، صابئين، نصارا، مجوسيان او هغه
چي شرك ئې کړی، الله به حتماً د قيامت په ورځ د دوی تر منځ
پربکړه کوي، يقيناً چي الله پر هر څه شاهد دئ. 18- آيا پام دي نه
دئ چي الله ته ټول هغه څه سجده کوي چي په آسمانونو او زمکي
کي دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، وني، حيوانات او ډېری خلك،
او په ډېرو ئې عذاب محقق شوی، او الله چي څوك سپك کړي نو
هغه هيڅ عزت ورکوونکی نه لري، يقيناً چي الله همغه څه کوي چي
وئې غواړي. 19- دا دوه متخاصمي ډلي دي چي د خپل رب په اړه
ئې شخړه وکړه، نو هغه چي کفر ئې کړی د اور جامې به ورته
وسکښل (بياتي کړی) شي، د سرونو له پاسه به ئې سرې اوبه پرې توی
شي، 20- داسي چي په هغوی سره به ئې د خېټو هر څه او پوستکي
خوړين (ويلي) کړی شي، 21- او د دوی لپاره به د اوسپنو ګورزونه
وي، 22- کله چي له ډېره غمه وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه
کړی شي، (له دې وينا سره چي) د اور عذاب وڅکئ. 23- يقيناً چي
الله به هغه کسان چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي داسي
جنتونو ته ننباسي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، په هغوی کي به دوی
د سرو زرو په بنګړو او ملغلرو سينګار کړی شي، او هلته به ئې
جامې د ورېښمو وي،

وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ٢٤
إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسۡجِدِ
ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ
وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ٢٥ وَإِذۡ
بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ بَيۡتِيَ
لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ٢٦ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ
بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ
عَمِيقٖ ٢٧ لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٖ
مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ فَكُلُواْ مِنۡهَا
وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ ٱلۡفَقِيرَ ٢٨ ثُمَّ لۡيَقۡضُواْ تَفَثَهُمۡ وَلۡيُوفُواْ
نُذُورَهُمۡ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ٢٩ ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ
حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيۡرٞ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦۗ وَأُحِلَّتۡ لَكُمُ
ٱلۡأَنۡعَٰمُ إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡۖ فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ
وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ ٣٠

24- او د پاکيزه پاکيزه خبرو په لوري ئې لارښوونه وشوه او ستايل شوې لاري ته هدايت شول. 25- يقيناً هغه چي کفر ئې کړی او د الله له لاري او له هغه مسجدالحرام مخنيوی کوي چي ټولو خلکو ته مو يو ډول گرځولی، که په کې استوگن وي او که له بهره راتلونکی، او که څوك په دې کې په ظالمانه توگه د کږېدو اراده وکړي دردناك عذاب به وروڅکو. 26- او هغه مهال چي ابراهيم ته مو د بيت الحرام ځای وټاکو (ورته ومو ويل) له ما سره هيڅ څه مه شريکوه، او زما کور د طواف کوونکو، قيام کوونکو او رکوع او سجده کوونکو لپاره پاك وساته، 27- او په خلکو کې د حج اعلان وکړه، چي پلي او پر ډنگرو ډنگرو اوښو سپاره به له لري لري لارو درته راځي، 28- تر څو ځان ته د گټو شاهد وي او په څو معلومو ورځو کې د الله نوم پر هغو بوده وو څارويو ياد کړي چي ورروزي کړي ئې دي، نو په خپله ترې وخورئ او پر بدحال فقير ئې وخورئ. 29- بيا دي خپلي خيري وځنډي، خپل نذرونه دي ترسره کړي او د بيت العتيق (آزادي خوني) طواف دي وکړي. 30- همدا؛ او څوك چي د الهي حرمتونو درناوی وکړي نو همدا د خپل رب خوا ته ورته غوره دئ، او دا څاروي تاسو ته حلال کړی شوي مگر هغه چي (په قرآن کې ئې) تاسو ته يادونه کېږي، نو له دغو پليتو بُتانو ډډه وکړئ او له دروغجني وينا اجتناب وکړئ.

حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيۡرَ مُشۡرِكِينَ بِهِۦۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ ٱلطَّيۡرُ أَوۡ تَهۡوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٖ سَحِيقٖ ﴿٣١﴾
ذَٰلِكَۖ وَمَن يُعَظِّمۡ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقۡوَى ٱلۡقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمۡ
فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ
أُمَّةٖ جَعَلۡنَا مَنسَكٗا لِّيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ
ٱلۡأَنۡعَٰمِۗ فَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَلَهُۥٓ أَسۡلِمُواْۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُخۡبِتِينَ ﴿٣٤﴾
ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ عَلَىٰ مَآ أَصَابَهُمۡ
وَٱلۡمُقِيمِي ٱلصَّلَوٰةِ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَٱلۡبُدۡنَ جَعَلۡنَٰهَا
لَكُم مِّن شَعَٰٓئِرِ ٱللَّهِ لَكُمۡ فِيهَا خَيۡرٞۖ فَٱذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَا
صَوَآفَّۖ فَإِذَا وَجَبَتۡ جُنُوبُهَا فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡقَانِعَ وَٱلۡمُعۡتَرَّۚ
كَذَٰلِكَ سَخَّرۡنَٰهَا لَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٣٦﴾ لَن يَنَالَ ٱللَّهَ
لُحُومُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ ٱلتَّقۡوَىٰ مِنكُمۡۚ كَذَٰلِكَ
سَخَّرَهَا لَكُمۡ لِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُحۡسِنِينَ
﴿٣٧﴾ *إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ
كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

31- الله ته مخه کوونکي په داسي حال کې چي د ده په اړه مشرکین نه وي، او څوك چي د الله په اړه شرك وکړي نو دا داسي ده لکه چي له آسمانه راپرېوځي نو بیا ئې یا مارغان وتښتوي او یا ئې باد پر سر واخلي او په ژوري کندي کې ئې وغورځوي. 32- همدا؛ او څوك چي د الهي نښو درناوی وکړي نو دا د زړونو د تقوی له کبله ده، 33- په دې کې تاسو ته تر یوې ټاکلې نېټې ګټې (ترلاسه کول) دي بیا ئې (د قربانۍ غوره) ځای د بیت العتیق په لوري دئ. 34- او د هري ډلي لپاره مو د قربانۍ ځانګړې طریقه ټاکلې، چي د الله نوم د هغو بوده څارویو (د حلالولو په مهال) یاد کړي چي وررروزي کړي ئې دي، نو ستاسو معبود یوازینی معبود دئ نو هغه ته تسلیم اوسئ، او دې تواضع کوونکو ته زېری ورکړه، 35- هغه چي کله د الله یادونه وشي نو زړونه ئې پوړېږي او پر وررسېدلو مصیبتونو صبر کوونکي او د لمانځه قائموونکي او له هغه څه انفاق کوونکي چي موږ وررروزي کړي. 36- او (د قربانۍ) اوښان مو تاسو ته د شعائر الله په ضمن کې ټاکلي، په همدې کې ستاسو لپاره ښېګڼه ده، نو په داسي حال کې د الله نوم پرې یاد کړئ (حلال ئې کړئ) چي ولاړ وي، نو کله چي ئې ډډې پر زمکې ولګېږي، بیا هم په خپله ترې وخورئ او هم ئې پر قانع او طمع کوونکي وخورئ، همداسي مو تاسو ته مسخر کړي چي شکر وکړئ. 37- نه ئې غوښې الله ته رسي او نه ئې ویني، بلکې ستاسو تقوی وررسي، همداسي مو تاسو ته مسخر کړي چي الله د هغې لارښوونې په بدل کې په لویې یاد کړئ چي تاسو ته ئې درپه برخه کړې او دغو محسنینو ته زېری ورکړه. 38- یقیناً چي الله له هغو وګړو دفاع کوي چي ایمان ئې راوړی، یقیناً چي الله هیڅ خائن او ناسپاسه انسان نه خوښوي.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ
٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ
وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ
وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ
مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي
ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ
عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٤١ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَتۡ
قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ وَثَمُودُ ٤٢ وَقَوۡمُ إِبۡرَٰهِيمَ وَقَوۡمُ لُوطٖ ٤٣
وَأَصۡحَٰبُ مَدۡيَنَۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰۖ فَأَمۡلَيۡتُ لِلۡكَٰفِرِينَ ثُمَّ
أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ٤٤ فَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَا
وَهِيَ ظَالِمَةٞ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ
مَّشِيدٍ ٤٥ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ
بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن
تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ٤٦

39- هغو ته اجازه ورکړی شوې چي په خلاف ئې جنګ کېږي، د دې
لپاره چي پر هغوی ظلم شوی او يقيناً چي الله د دوی پر نصرت او
بريا ښه توانا دئ. 40- هغه چي له کوم حق پرته له خپلو کورونو
ايستل شوي، (له دې پرته ئې کوم جرم نه وو چي) ويل ئې: زموږ رب
الله دئ!! او که د خلکو ځيني په ځينو نورو سره د دفع کولو الهي
سنت نه وی نو حتماً به د راهبانو عبادت ځايونه، د نصاراوو معبدونه،
د يهودو معبدونه او د مسلمانانو جوماتونه چي د الله نوم په کې زيات
زيات يادېږي ټول وران شوي وو، او الله به هرو مرو هغو ته نصرت
ورکوي چي د ده ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن دئ. 41-
هغه چي که په زمکي کې تمکين ورکړو، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په
معروف ګمارل او له منکراتو مخنيوی کوي او د چارو پايله الله ته ده.
42- او که تا تکذيب کړي نو يقيناً چي تر دوی وړاندي د نوح قوم،
عاد او ثمود (خپل خپل پيغمبران) تکذيب کړل، 43- او د ابراهيم قوم
او د لوط قوم، 44- او مدين والو، او موسی تکذيب کړی شو، نو دغو
کافرانو ته مو مهلت ورکړ بيا مو ونيول، نو (وګوره چي) زما بدلول
څنګه وو؟ 45- او څومره کلي چي ظالمان وو او هلاك مو کړل، نو دا
ئې په خپلو چتونو راپريوتي کلي او وزګار پاته څاګان او ټينګي ماڼۍ.
46- نو آيا په زمکي کې نه دي ګرځېدلي چي داسي زړونه ئې په برخه
شي چي پرې تعقل کوي او داسي غوږونه چي پرې اوري، خبره دا ده
چي سترګي نه ړندېږي بلکي هغه زړونه ړندېږي چي په سينو کې دي.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا
عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ
أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلۡ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡاْ
فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا
مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٖ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلۡقَى ٱلشَّيۡطَٰنُ فِيٓ
أُمۡنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ
ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٢﴾ لِّيَجۡعَلَ مَا يُلۡقِي ٱلشَّيۡطَٰنُ فِتۡنَةٗ
لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِي
شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ
فَيُؤۡمِنُواْ بِهِۦ فَتُخۡبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمۡۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ
إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي مِرۡيَةٖ مِّنۡهُ
حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغۡتَةً أَوۡ يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾

47- او په تلوار سره له تا عذاب غواړي حال دا چي الله له خپلي وعدې
هيڅکله نه ترشا کېږي، او يقيناً چي ستا د رب په وړاندي يوه ورځ داسي
ده لکه هغه زر کلونه چي تاسو ئې ګڼئ، 48- او ځومره کلي چي فرصت
مو ورکړ سره له دې چي ظالم ول، بيا مو ونيول او بېرته ګرځېدا خو زما
په لوري ده. 49- ووايه: اې خلکو! زه خو تاسو ته يوازي يو ښکاره
خبرداری درکوونکی يم، 50- نو چا چي ايمان راوړ او نېك عملونه ئې وکړل
دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ 51- او هغه چي زما د آيتونو په اړه
ئې د بې وسه کوونکو په څېر هڅه وکړه دوی دوزخيان دي. 52- او تر
تا وړاندي مو هيڅ رسول او نبي نه دئ لېږلی مګر داسي چي کله ئې تمنا
(هيله) کړې شيطان د هغه په تمنا کې خلل اچونه کړې، نو الله هغه څه
له منځه وړي چي شيطان ئې اچوي بيا خپل آيتونه مضبوطوي، او الله
باحکمت پوه دئ. 53- تر څو هغه څه چي شيطان ئې اچوي د هغو
لپاره چي په زړونو کې ئې بيماري ده او د سخت زړو لپاره يوه آزموينه
وګرځوي، او يقيناً چي دا ظالمان په ژور عناد او بېلتون کې دي. 54- او تر
څو هغه چي علم ئې په برخه شوی پر دې پوه شي چي دا حق ستا د
رب له لوري دئ؛ نو ايمان پرې راوړي او زړونه ئې ورته خضوع وکړي او
يقيناً چي الله هغه کسان سمي لاري ته هدايتوي چي ايمان ئې راوړی.
55- او هغه چي کفر ئې کړی تل به د دې په اړه په شك کې وي؛ تر هغه
چي د قيامت نېټه ناڅاپه ورشي او يا د شنډې (بې خيره) ورځي عذاب
ورشي،

ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوۡ مَاتُواْ لَيَرۡزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَإِنَّ
ٱللَّهَ لَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٥٨﴾ لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥۗ
وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٞ ﴿٥٩﴾ ۞ذَٰلِكَۖ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا
عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيۡهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ
﴿٦٠﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي
ٱلَّيۡلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ
مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ
﴿٦٢﴾ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَتُصۡبِحُ ٱلۡأَرۡضُ
مُخۡضَرَّةًۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ﴿٦٣﴾ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا
فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٦٤﴾

56- په دې ورځ به واكمني (يوازي) د الله وي، د دوی تر منځ به
پرېكړه كوي، نو هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي
له نعمتونو ډكو جنتونو كې به وي، 57- او هغه چې كفر ئې كړی
او زما آيتونه ئې تكذيب كړي نو دوی ته به سپكوونكی عذاب وي.
58- او هغه چې د الله په لار كې ئې هجرت كړی، بيا يا وژل شوي
يا مړه شوي، الله به حتماً غوره رزق وركړي او يقيناً چې الله تر
ټولو غوره روزي وركوونكی دئ. 59- حتماً به ئې داسي ننوتځای ته
ننباسي چې پرې راضي كېږي، او يقيناً چې الله د زغم خاوند پوه
دئ، 60- همدا؛ او څوك چې د تېري داسي غچ واخلي چې پر ده
شوی، بيا تېری پرې وشي، الله به حتماً نصرت وركړي، يقيناً چې الله
عفو كوونكی بخښونكی دئ. 61- دا له دې كبله چې الله شپه په
ورځ كې ننباسي او ورځ په شپې كې ننباسي او د دې لپاره چې الله
ليدونكی اورېدونكی دئ. 62- دا له دې كبله چې همدا الله حق دئ
او هغه چې له ده پرته ئې وربلي همدا باطل دئ او د دې لپاره
چې همدا الله ستر لوړ دئ. 63- آيا دې ته دي پام نه دئ چې الله
له آسمانه اوبه راكوزي كړې او (په دې سره) زمكه زرغونه شوه،
يقيناً چې الله ښه باخبره لطيف دئ، 64- څه چې په آسمانونو كې
دي او څه چې په زمكي كې دي د ده دي، او يقيناً چې همدا الله
ستايل شوی غني دئ.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى
ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ۗ
إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ
يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا
مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَٰزِعُنَّكَ فِى ٱلْأَمْرِ ۚ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ
لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَٰدَلُوكَ فَقُلِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا
تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ ٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ
تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ
ذَٰلِكَ فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ
ٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ۗ وَمَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ تَعْرِفُ
فِى وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ
عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

65- آیا پام دي نه دئ چي الله ټول هغه څه تاسو ته مسخر کړي چي په
زمکي کي دي، او کښتۍ هم چي د ده په امر په سمندر کي درومي، او
آسمان ټموي چي پر زمکي راپرېوځي، مګر د ده په إذن سره، یقیناً چي
الله د خلکو په اړه مهربان رؤف دئ. 66- او دی هغه ذات دئ چي تاسو
ئې راژوندي کړئ بیا مو مړوي بیا مو راژوندي کوي، یقیناً چي انسان ډېر
ناسپاسه دئ. 67- هر امت ته مو خپل خپل منسك (د عبادت طریقه)
ټاکلې چي دوی پرې عمل کوي، نو په دې کار کي دي له تاسره شخړه نه
کوي، او د خپل رب لوري ته بلنه کوه، یقیناً چي ته په سمي لارښووني
یې، 68- او که جدل درسره وکړي نو ووایه: الله په هغه څه ښه پوهېږي
چي تاسو ئې کوئ. 69- الله به ستاسو تر منځ د قیامت په ورځ د هغه
څه په اړه پرېکړه کوي چي تاسو په کي اختلاف کولو، 70- آیا نه پوهېږې
چي الله پر هغه څه پوهېږي چي په آسمان او زمکي کي دي، یقیناً چي دا
په یوه کتاب کي (لیکل شوي) دي، یقیناً چي دا الله ته آسان دي. 71- او
له الله پرته د داسي څه عبادت کوي چي نه (الله) کوم دلیل ورته نازل
کړی او نه دوی کوم علم پرې لري، او دغو ظالمانو ته هیڅ مرستندوی
نشته. 72- او کله چي زموږ څرګند آیتونه پرې ولوستل شي د هغو کسانو
په څېرو کي به کرکه وګورې چي کفر ئې کړی، نژدې وي هغو ته لاس
واچوي چي زموږ آیتونه پرې لولي، ووایه: آیا تر دې مو په لازیات بد څه
خبر کړم؟ هغه اور چي الله ئې له کافرانو سره وعده کړې، او (له یوه
حالته بل ته) څومره بده ګرځېدنه!!

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ
شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ مَا قَدَرُواْ
ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٧٤ ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ
ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٞ ٧٥ يَعۡلَمُ مَا
بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ٧٦ يَـٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ
لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ۩ ٧٧ وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ
ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ
أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا
لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ
فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ
فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ٧٨

## سُورَةُ المُؤۡمِنُونَ

73- اې خلکو! يو مثال ويل شوی، ورته غوږ شئ: بې شکه څوک چې
تاسي له الله پرته خپلي مرستي ته دربلئ، يو مچ هم نه شي پيدا
کولی، که څه هم ورته راغونډ شي، او که دا مچ څه ترې وتښتوي نه
ئې شي ترې ژغورلی، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، 74- د
الله قدرونه ئې لکه څنګه چې له ده سره ښايي نه ده کړې، بې شکه
چې الله ځواکمن عزتمن دئ. 75- الله له فرشتو هم استازي غوره کوي
او له خلکو هم، يقيناً چې الله ليدونکی اورېدونکی دئ، 76- په هغه
څه چې د دوی په وړاندي دي او په هغه څه چې د دوی تر شا دي
پوهېږي، او کارونه د الله لوري ته ګرځول کېږي. 77- اې هغو چې
ايمان ئې راوړی! رکوع وکړئ، سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ،
او د ښېګڼي کارونه وکړئ چې بريالي شئ، 78- او د الله لپاره داسي
جهاد وکړئ چې له الهي جهاد سره ښايي، ده غوره کړئ، او په دين
کې ئې پر تاسو کومه تنګسه او ستونزه نه ده اېښې، ستاسو د پلار
ابراهيم ملت، ده تر دې وړاندي او په دې (دين) کې مسلمانان
ونومولئ، چې پيغمبر پر تاسو شاهد وي او تاسو پر خلکو شاهد وئ،
نو لمونځ قائم کړئ، زکات ورکړئ او له الله سره خپلي اړيکي مضبوطي
کړئ، هغه مو مولا دئ، څومره غوره مولا او څومره غوره
مرستندوی.

## المؤمنون- مکي سوره- 118 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ٢
وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ٣ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ
٤ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ٥ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا
مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ٦ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ٧ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ
رَٰعُونَ ٨ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ٩ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡوَٰرِثُونَ ١٠ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ١١ وَلَقَدۡ
خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي
قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ
فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا
ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤ ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ
لَمَيِّتُونَ ١٥ ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تُبۡعَثُونَ ١٦ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا
فَوۡقَكُمۡ سَبۡعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلۡخَلۡقِ غَٰفِلِينَ ١٧

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- يقيناً چي دا مؤمنان بريالي شول، 2- هغه چي په خپل لمانځه کي خشوع کوونکي دي، 3- او هغه چي له بېهوده (خوشي کار او خبري) ډډه کوونکي دي، 4- او هغه چي د زکات ترسره کوونکي دي، 5- او هغه چي د خپلو عورتونو ساتونکي دي، 6- مګر پر خپلو جوړو او وينځو چي په دې سره دوی پړه او ملامت نه دي، 7- نو څوك چي سربېره پر دې لټوي نو هغوی تېری کوونکي دي، 8- او هغه چي د خپلو امانتونو او ژمنو پالونکي دي، 9- او هغه چي د خپلو لمونځونو ساتنه کوي، 10- همدا دوی هغه وارثان دي، 11- چي فردوس په ميراث وړي، په هغه کي به تلپاته وي. 12- او يقيناً چي انسان مو د ختې له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، 13- بيا مو يوه نطفه وګرځاوو په يوه مضبوط ځای کي، 14- بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، بيا مو دا علقه د غوښي يوه ټوټه جوړه کړه، بيا مو د غوښي دا بوټۍ هډوکي وګرځول، بيا مو دا هډوکي په غوښي وپوښل، بيا مو په يوه بل جوړښت کي پيدا کړ، نو مبارك دئ دا تر ټولو غوره پيدا کوونکی الله. 15- بيا تاسو له دې وروسته حتماً مرئ، 16- بيا تاسو حتماً د قيامت په ورځ راپاڅول کېږئ. 17- او يقيناً چي ستاسو له پاسه مو اوه لاري پيدا کړې دي او موږ له پيدايښت غافل نه يو.

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٖ فَأَسۡكَنَّٰهُ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابِۭ
بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ١٨ فَأَنشَأۡنَا لَكُم بِهِۦ جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ
لَّكُمۡ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٞ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ١٩ وَشَجَرَةٗ تَخۡرُجُ مِن
طُورِ سَيۡنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهۡنِ وَصِبۡغٖ لِّلۡأٓكِلِينَ ٢٠ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ
لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ كَثِيرَةٞ وَمِنۡهَا
تَأۡكُلُونَ ٢١ وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ٢٢ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا
إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا
تَتَّقُونَ ٢٣ فَقَالَ ٱلۡمَلَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ
مِّثۡلُكُمۡ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ
مَّا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ٢٤ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلُۢ بِهِۦ جِنَّةٞ
فَتَرَبَّصُواْ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٖ ٢٥ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ٢٦
فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ أَنِ ٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ
ٱلتَّنُّورُ فَٱسۡلُكۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ
عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡۖ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ٢٧

18- او له آسمانه مو په ټاکلې اندازه اوبه وورولې او په ځمکې کې مو استوګنې کړې، او يقيناً چې موږ ئې پر له منځه وړلو قادر يو، 19- نو په دې سره مو تاسو ته د کجورو او انګورو داسې باغونه راوټوکول چې په هغوی کې تاسو ته ډېرې مېوې دي او خوراك ترې کوئ. 20- او هغه ونه چې په طور سينا کې راوځي چې له غوړيو او د خوړونکو لپاره له کتغ (خوړو) سره راټوکېږي. 21- او يقيناً چې په څارويو کې تاسو ته د عبرت ننښې دي، هغه څه ئې دربانديې څښو چې په نسونو (تيو) کې ئې دي، او په دوی کې تاسو ته ډېرې (نورې) ګټې دي او ترې خوراك کوئ، 22- او پر دوی او کښتيو بارېږئ. 23- او يقيناً چې نوح مو د خپل قوم لورې ته ولېږو چې وئې ويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ چې له ده پرته بل معبود درته نشته، آيا (له شرکه) ځان ساتنه نه کوئ؟ 24- نو د ده د قوم هغو مشرانو چې کفر ئې کړی وو وويل: دا خو ستاسو په څېر له يوه انسان پرته بل څه نه دئ، غواړې پر تاسو فضيلت او غوره والی ترلاسه کړي، او که الله غوښتی نو هرومرو به ئې کومه فرشته راکوزه کړې وه، دا خو مو په خپلو لومړنيو پلرونو کې (له هيڅا) نه وه اورېدلې، 25- يقيناً چې دی خو له داسې سړي پرته بل څه نه دئ چې پېری پرې ناست وي، نو تر يوې مودې ورته انتظار وکړئ. 26- وئې ويل: اې زما ربه! پر هغو بريا را چې زه ئې تکذيب کړم، 27- نو هغه ته مو وحي وکړه چې زموږ تر نظر لاندې او زموږ له وحي سره سم هغه کښتۍ جوړه کړه، نو کله چې زموږ حکم راشي او هغه تنور وخوټېږي نو په هغې کې د هر يوه دوه ګونې جوړه ننباسه او خپل ټبر هم؛ له هغه ئې پرته چې په اړه ئې د عذاب وينا شوې، او د هغو په اړه له ما سره خبره مه کوه چې ظلم ئې کړی، يقيناً چې هغوی غرقېدونکې دي،

فَإِذَا ٱسۡتَوَيۡتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلۡفُلۡكِ فَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي
نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُل رَّبِّ أَنزِلۡنِي مُنزَلٗا مُّبَارَكٗا وَأَنتَ
خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ وَإِن كُنَّا لَمُبۡتَلِينَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ أَنشَأۡنَا
مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرۡسَلۡنَا فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ أَنِ ٱعۡبُدُواْ
ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَتۡرَفۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مَا
هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يَأۡكُلُ مِمَّا تَأۡكُلُونَ مِنۡهُ وَيَشۡرَبُ مِمَّا
تَشۡرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنۡ أَطَعۡتُم بَشَرٗا مِّثۡلَكُمۡ إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾
أَيَعِدُكُمۡ أَنَّكُمۡ إِذَا مِتُّمۡ وَكُنتُمۡ تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخۡرَجُونَ ﴿٣٥﴾
۞هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ
وَنَحۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا
وَمَا نَحۡنُ لَهُۥ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا
قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ
غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قُرُونًا
ءَاخَرِينَ ﴿٤٢﴾

28- نو کله چي ته او هغه چي له تا سره دي پر کښتۍ سم سپاره شئ نو ووایه: ستاینې هغه الله ته دي چي له ظالم قوم ئې وژغورلو، 29- او ووایه: اې زما ربه! په مبارك ځاتوبي کي مي کوز کړې او ته تر ټولو غوره کوزوونکی یې، 30- یقیناً چي په دې کي ځرگندي نښي دي او یقیناً چي موږ آزمویونکي وو. 31- بیا مو تر دوی وروسته د نورو یو نسل راپیدا کړ، 32- نو په دوی کي مو د دوی له منځه استازی ولېږو، (له دې پیغام سره) چي د الله عبادت وکړئ، له ده پرته معبود درته نشته، آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ 33- او د ده د قوم هغو مشرانو چي کفر ئې کړی وو او د آخرت لیدنه ئې دروغجنه گڼلې وه او موږ په دنیایي ژوند کي سوکالي ورپه برخه کړې وه؛ وویل: دا خو له دې پرته بل څه نه دئ چي ستاسو په څېر یو انسان دئ، له همغه څه خوري چي تاسو ئې خورئ او له همغه څه څښي چي تاسو ئې څښئ، 34- او که تاسو د ځان په څېر د یوه انسان اطاعت وکړئ یقیناً چي هغه مهال به حتماً زیانمن یئ، 35- آیا تاسو ته دا وعده درکوي چي کله ومرئ او خاوري او هډوکي شئ بیا به ( ژوندي له زمکي) راوځئ؟!! 36- لریوالی دئ، لریوالی دئ هغه څه ته چي وعده ئې درکول کېږي، 37- یقیناً چي دا (ژوند) خو زموږ له همدې دنیایي ژوند پرته بل څه نه دئ، چي مرو او ژوندي کېږو، او بیاراپاڅېدونکي نه یو!! 38- یقیناً چي دی له هغه سړي پرته بل څوك نه دئ چي پر الله په درواغو افتراء کوي او موږ د ده لپاره ایمان راوړونکي نه یو. 39- وئې ویل: اې زما ربه! پر هغو بریا را چي زه ئې تکذیب کړم، 40- وئې فرمایل: له لږ وخت تېرېدو وروسته به پښېمانه شي، 41- نو هغې چیغې په رښتیني توگه ونیول، نو دوی مو شاوړي (د سېل د سر ځگ او خاشاك) وگرځول، نو دغه ظالم قوم ته دي لریوالی (ړټنه او شړنه) وي. 42- بیا مو تر دوی وروسته نور نسلونه راپیدا کړل،

مَا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا تَتۡرَاۖ
كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُۖ فَأَتۡبَعۡنَا بَعۡضَهُم بَعۡضًا وَجَعَلۡنَٰهُمۡ
أَحَادِيثَۚ فَبُعۡدًا لِّقَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿٤٤﴾ ثُمَّ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَٰرُونَ
بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ
قَوۡمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لِبَشَرَيۡنِ مِثۡلِنَا وَقَوۡمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ
﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ
لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ﴿٤٩﴾ وَجَعَلۡنَا ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً وَءَاوَيۡنَٰهُمَآ إِلَىٰ
رَبۡوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ
صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً
وَأَنَاْ رَبُّكُمۡ فَٱتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ زُبُرًاۖ كُلُّ حِزۡبِۭ بِمَا
لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرۡهُمۡ فِي غَمۡرَتِهِمۡ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾ أَيَحۡسَبُونَ أَنَّمَا
نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمۡ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ بَل لَّا
يَشۡعُرُونَ ﴿٥٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ خَشۡيَةِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ
هُم بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمۡ لَا يُشۡرِكُونَ ﴿٥٩﴾

43- هیڅ امت؛ نه له خپلې ټاکلې نېټې وړاندې کېږي او نه وروسته کېږي. 44- بیا مو خپل پیغمبران په پرله پسې توګه ولېږل، هر کله چې کوم امت ته خپل پیغمبر ورغلی هغه ئې تکذیب کړی، نو ځیني مو په ځینو نورو پسې کړل او قصې مو ترې جوړې کړې، نو لعنت او رټنه دې وي هغه قوم ته چې ایمان نه راوړي. 45- بیا مو موسی او د ده ورور هارون له خپلو آیتونو او څرګند حجت سره ولېږل، 46- د فرعون او د ده د درباریانو لوري ته، نو د (مزید) لویي لټه ئې وکړه، حال دا چې (د قوم) لوړ پوړي (مشران او لویان) وګڼي ول. 47- نو وئې ویل: آیا د ځان په څېر د دوو انسانانو لپاره ایمان راوړو؛ په داسي حال کې چې قوم ئې زموږ مریان دي، 48- نو دواړه ئې تکذیب کړل چې په پایله کې ئې له هلاك شوو شول. 49- او یقیناً چې موسی ته مو کتاب ورکړ چې دوی هدایت شي. 50- او د مریمې زوی او د ده مور مو یوه څرګنده نښه وګرځول، او د داسي لوړې زمکې په لوري مو پناه ورکړه چې د قرار (ټیکاو) خاونده وه او چینې ئې درلودې. 51- اې پیغمبرانو! پاکیزه پاکیزه وخورئ او نېك عمل وکړئ، یقیناً چې زه په هغه څه ښه پوهېږم چې تاسو ئې کوئ. 52- او یقیناً چې دا ستاسو واحد امت دئ او زه مو رب یم نو له ما ووېرېږئ. 53- نو خپل کار (د دین دغه مهمه چاره) ئې په خپلو منځونو کې په ټوټو ټوټو ووېشو، هر ټولی پر هغه څه خوشحال شول چې ورسره وو، 54- نو په خپلې بې سدۍ کې ئې تر یوه وخته پرېږده. 55- آیا داسي انګېري چې په کوم مال او اولاد مو د دوی مرسته کړې ده، 56- په دې سره دوی ته په ښېګڼو کې تلوار کوو؟ داسي نه ده بلکې دوی شعور نه لري (نه پوهېږي). 57- یقیناً هغه چې د خپل رب له هیبته وېرېدونکي دي، 58- او هغه چې د خپل رب پر آیتونو ایمان راوړونکي دي، 59- او هغه چې د خپل رب په اړه شرك نه کوي،

وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ أَنَّهُمۡ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ رَٰجِعُونَ ﴿٦٠﴾
أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَهُمۡ لَهَا سَٰبِقُونَ ﴿٦١﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفۡسًا
إِلَّا وُسۡعَهَاۖ وَلَدَيۡنَا كِتَٰبٞ يَنطِقُ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٢﴾ بَلۡ
قُلُوبُهُمۡ فِي غَمۡرَةٖ مِّنۡ هَٰذَا وَلَهُمۡ أَعۡمَٰلٞ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمۡ لَهَا
عَٰمِلُونَ ﴿٦٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذۡنَا مُتۡرَفِيهِم بِٱلۡعَذَابِ إِذَا هُمۡ يَجۡـَٔرُونَ ﴿٦٤﴾
لَا تَجۡـَٔرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾ قَدۡ كَانَتۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ
عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾ مُسۡتَكۡبِرِينَ بِهِۦ
سَٰمِرٗا تَهۡجُرُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَلَمۡ يَدَّبَّرُواْ ٱلۡقَوۡلَ أَمۡ جَآءَهُم مَّا لَمۡ يَأۡتِ
ءَابَآءَهُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ أَمۡ لَمۡ يَعۡرِفُواْ رَسُولَهُمۡ فَهُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَمۡ
يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةُۢۚ بَلۡ جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ وَأَكۡثَرُهُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴿٧٠﴾
وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلۡحَقُّ أَهۡوَآءَهُمۡ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ بَلۡ
أَتَيۡنَٰهُم بِذِكۡرِهِمۡ فَهُمۡ عَن ذِكۡرِهِم مُّعۡرِضُونَ ﴿٧١﴾ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ خَرۡجٗا
فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيۡرٞۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ لَتَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ
مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ
﴿٧٤﴾

60- او هغه چې په داسې حال کې د خپلې ورکړې شیان ورکوي چې زړونه ئې له دې کبله پوړېدونکي وي چې د خپل رب په لوري ستنېدونکي دي، 61- همدا دوی په ښېګڼو کې تلوار کوي او ژر وررسېدونکي دي. 62- او هیڅوك نه ګمارو مګر د ده له خپل وس سره سم، او له موږ سره داسې کتاب دئ چې د حق مطابق وینا کوي او پر دوی به ظلم نه کېږي. 63- بلکې د دوی زړونه له دې په غفلت کې دي او له دغو پرته ئې داسې کړني دي چې دوی ئې ترسره کوونکي دي، 64- تر هغه چې د دوی مترفین (د سوکالۍ خاوندان) مو په عذاب اخته کړي، ناڅاپه دوی نارې وهلې دي، 65- نن نارې مه وهئ، یقیناً چې نن زموږ له لوري ستاسو مرسته نه کېږي، 66- یقیناً چې (تر دې وړاندې) زما آیتونه درباندې لوستل کېدل خو تاسو پر خپلو پوندو اوښتئ، 67- په داسې حال کې چې د هغه په اړه تکبر کوونکي، د شپې له پلوه جلسې کوونکي وئ او لرې کېدئ به. 68- نو آیا په دغې وینا کې ئې غور (سوچ) نه دئ کړی، یا دا چې داسې څه ورته راغلي چې لومړنیو پلرونو ته ئې نه وو ورغلي؟ 69- یا دا چې خپل پیغمبر ئې سم نه دئ پېژندلی نو له همدې کبله د ده انکار کوونکي دي، 70- یا وایي چې ده ته جنون (لېونتوب) لاحق شوی، بلکې دوی ته ئې حق راوړی خو د دوی ډېری له حق کرکجن دي. 71- او که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او زمکه او هر هغه څه به تباه شي چې په دوی کې دي، خو موږ د دوی ذکر وروړی خو دوی له خپل ذکر اعراض کوونکي دي. 72- آیا کومه خرڅه (بدله) ترې غواړې، په داسې حال کې چې ستا د رب خرڅه غوره ده او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ، 73- او یقیناً چې ته ئې سمې لارې ته بلې، 74- او یقیناً هغه چې پر آخرت ایمان نه راوړي له دغې لارې څنګ ته کېدونکي دي.

۞وَلَوۡ رَحِمۡنَٰهُمۡ وَكَشَفۡنَا مَا بِهِم مِّن ضُرّٖ لَّلَجُّواْ فِي طُغۡيَٰنِهِمۡ
يَعۡمَهُونَ ٧٥ وَلَقَدۡ أَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ وَمَا
يَتَضَرَّعُونَ ٧٦ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا ذَا عَذَابٖ شَدِيدٍ
إِذَا هُمۡ فِيهِ مُبۡلِسُونَ ٧٧ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ
وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ٧٨ وَهُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ
فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٧٩ وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ
ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٨٠ بَلۡ قَالُواْ مِثۡلَ مَا قَالَ
ٱلۡأَوَّلُونَ ٨١ قَالُوٓاْ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ
٨٢ لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ٨٣ قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٤
سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٨٥ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ
٨٧ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ
إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٨ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ ٨٩

75- او که رحم پرې وکړو او هغه کړاو ترې لرې کړو چې دوی پرې اخته دي نو هرو مرو به په خپل طغیان او سرغړاوې کې ټینګار کوي په داسې حال کې چې لالهانده به وي، 76- او یقیناً چې په عذاب مو اخته کړل خو نه ئې خپل رب ته عاجزي وکړه او نه زاري کوي. 77- تر هغه چې داسې ور پرې پرانیزو چې سخت عذاب وال وي نو هغه مهال به دوی په کې ناهیلي وي. 78- او دی همغه ذات دئ چې تاسو ته ئې غوږونه، سترګې او زړونه راپیدا کړل، ډېر لږ شکر کوئ، 79- دی همغه ذات دئ چې تاسو ئې په زمکې کې خواره کړئ او د ده لوري ته ورغونډ کېږئ. 80- او دی هغه ذات دئ چې ژوندي کول او مړول کوي، د شپې او ورځې یوه په بلې پسې راتله د ده له لوري دي، نو آیا تعقل نه کوئ؟! 81- بلکې همغسې څه ئې وویل چې لومړنیو ویلي وو، 82- وئې ویل: آیا کله چې ومرو او خاوري او هډوکې شو، آیا موږ به حتماً راپاڅول کېږو؟!! 83- یقیناً چې د دې وعده خو موږ ته هم راکړی شوې او تر دې وړاندې زموږ پلرونو ته هم، دا خو د وړاندینیو له قصو پرته بل څه نه دئ. 84- ووایه: زمکه او هغه څه چې په هغې کې دي د چا دي، که پوهېږئ)؟ 85- حتماً به ووایي: د الله دي، ووایه: نو آیا پند نه اخلئ؟ 86- ووایه: د اوو آسمانونو خاوند او د ستر عرش خاوند څوک دئ؟ 87- حتماً به ووایي: د الله دي، ووایه: نو آیا نه وېرېږئ؟ 88- ووایه: هغه څوک دئ چې د هر څه واکمني ئې په لاس کې ده او هغه پناه ورکوي او د ده خلاف پناه نشي ورکول کېدی؛ که پوهېږئ؟ 89- حتماً به ووایي: د الله دي، ووایه: نو له کومه کوډې درباندې کېږي؟

بَلۡ أَتَيۡنَٰهُم بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٖ
وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا
بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ
وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٩٢﴾ قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا
يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجۡعَلۡنِي فِي ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾ وَإِنَّا عَلَىٰٓ
أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمۡ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ
ٱلسَّيِّئَةَۚ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنۡ
هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحۡضُرُونِ ﴿٩٨﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا
جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ صَٰلِحٗا
فِيمَا تَرَكۡتُۚ كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَاۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ إِلَىٰ
يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿١٠٠﴾ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ
وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿١٠١﴾ فَمَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا
كَٰلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

90- بلکې موږ حق ورته راوړ او يقيناً چې دوی دروغجن دي. 91- نه الله کوم زوی نيولی او نه د هغه خوا ته کوم بل معبود شته، که داسې وی نو هر معبود به هغه څه له منځه وړي وو چې پيدا کړي ئې دي (يا به ئې له ځان سره بل لورې ته وړي ول) او حتماً به ځيني پر ځينو نورو برلاسي شوي وو، الله ته له هغه څه پاکي ده چې دوی ئې بيانوي، 92- په غيب او څرګند پوه، له هغه څه لوړ دئ چې دوی ئې (ورسره) شريکوي. 93- ووايه: اې زما ربه! که هغه څه راوښيې چې له دوی سره ئې وعده کېږي، 94- نو زما ربه! په دې ظالم قوم کې مې (پاته) ونه ګرځوې. 95- او يقيناً چې موږ پر دې قادر يو چې هغه څه دروښيو چې وعده ئې ورسره کوو. 96- بدي په هغه څه دفع کړه چې تر ټولو غوره وي، موږ په هغه څه ښه پوه يو چې دوی ئې بيانوي، 97- او ووايه: اې زما ربه! د شيطانانو له وسوسو پناه دروړم، 98- او له دې پناه دروړم چې خوا ته مې حاضر شي. 99- تر هغه چې د دوی کوم يوه ته مرګ ورشي نو وايي: اې زما ربه! بېرته مې وګرځوئ، 100- چې په هغه څه کې نېك عمل وکړم چې (تر شا مې) پرېښي، نه نه، دا (هسې) يوه وينا ده چې هغه ئې ويونکی دئ، او تر دوی آخوا تر هغې ورځې چې (له قبرونو به) راپاڅول کېږي يو برزخ (پرده) دئ. 101- نو کله چې په شپېلۍ کې پو شي بيا به په دې ورځ نه د دوی تر منځ خپلوي وي او نه به يو بل پوښتی شي. 102- نو د چا چې تلل شوي درانه وختل همدا دوی بريالي دي 103- او د چا چې تلل شوي سپك وختل نو همدا دوی خپل ځانونه تاواني کړل، په دوزخ کې به تلپاته وي. 104- اور به ئې مخونه وريت (بې پوسته) کړي او دوی به په کې بربنډ ژامي وي،

أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾ قَالُواْ رَبَّنَا
غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ﴿١٠٦﴾ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ
عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ﴿١٠٧﴾ قَالَ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُۥ كَانَ
فَرِيقٞ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ
ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم مِّنۡهُمۡ
تَضۡحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّي جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾
قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ
يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ﴿١١٣﴾ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ
تَعۡلَمُونَ ﴿١١٤﴾ أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا
تُرۡجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ
ٱلۡكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا
حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ
وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١١٨﴾

## سُورَةُ النُّورِ

105- آيا زموږ آيتونه نه درباندي لوستل کېدل په داسي حال کې چي تاسو به هغه تکذيبول؟ 106- وئې ويل: اې زموږ ربه! زموږ بدمرغي راباندي غالبه شوه او موږ لاروركي وګړي وو، 107- اې زموږ ربه! له دې (دوزخ) مو وباسه! نو كه بېرته (خپل مخكني كفر او عصيان) ته وروګرځېدو نو موږ به ظالمان وو، 108- وئې ويل: په دې (دوزخ) كې پتېه خوله كښېنئ او خبري مه راسره كوئ. 109- يقيناً چي زما د بندګانو يوه ډله داسي وه چي ويل به ئې: اې زموږ ربه! ايمان مو راوړ نو موږ ته بخښنه وكړه او رحم راباندي وكړه؛ يقيناً چي ته تر ټولو رحم كوونكو غوره يې، 110- نو تاسو تر هغه تر ملنډو لاندي نيولي ول چي زما يادوَنه ئې درنه هېره كړه او په دوی پوري مو خندل، 111- يقيناً چي ما نن دوی ته دا بدله وركړه چي همدا دوی به برياليي وي، له دې كبله چي صبر ئې وكړ. 112- وئې ويل: په زمكې كې څو كلونه پاته شوئ؟ 113- وئې ويل: يوه ورځ يا د يوې ورځې يوه برخه پاته شوو، نو شمېرونكي وپوښته، 114- وئې ويل: يوازي لږ (لنډه موده) پاته شوي يئ؛ كاش تاسو پوهېدی. 115- آيا داسي مو انګېرلې ده چي موږ عبث او بېهوده پيدا كړي يئ او دا چي زموږ لوري ته به نه راګرځول كېږئ؟!! 116- نو حقيقي ټولواك (له دې عيبه ډېر) لوړ دئ، له ده پرته بل معبود نشته، او هغه د پرتمين عرش رب دئ. 117- او څوك چي د الله خوا كې بل معبود لمانځي؛ د دې (لمانځني) په اړه هيڅ برهان او حجت نه لري، له دې پرته بل څه نه دي چي حساب ئې له خپل رب سره دئ، حقيقت دا دئ چي كافران نه برياليي كېږي. 118- او ووايه: اې زما ربه! بخښنه (راته) وكړه، رحم (راباندي) وكړه او يقيناً چي ته تر ټولو رحم كوونكو غوره يې.

## النور- مدني سوره- 64 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُورَةٌ أَنزَلۡنَٰهَا وَفَرَضۡنَٰهَا وَأَنزَلۡنَا فِيهَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لَّعَلَّكُمۡ
تَذَكَّرُونَ ١ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ
وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢ ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ
إِلَّا زَانِيَةً أَوۡ مُشۡرِكَةٗ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوۡ مُشۡرِكٞۚ وَحُرِّمَ
ذَٰلِكَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٣ وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ
بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥ وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ
شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ٦ وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧ وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ
إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٨ وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ
مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٩ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ
تَوَّابٌ حَكِيمٌ ١٠

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- يوه ځانګړې سوره چي موږ نازله کړې او موږ فرض کړې ده او په هغې کي مو څرګندونکې نښې نازلې کړې چي پند واخلئ. 2- زناکاره ښځه او زناکار نارينه؛ د دوی هر يو سل درې ووهئ، او د الله په دين کي دي تاسو د دوی په اړه زړه سوی نه نيسي، که پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لرئ، او د دوی عذاب دي د مؤمنانو يوه ډله وګوري. 3- دا زاني يوازي زناکاره يا مشرکه ښځه نکاح کوي، او دا زناکاره ښځه يوازي زناکار او مشرك ئې په نکاح کوي، او دا پر مؤمنانو حرام کړی شوي. 4- او هغه چي پاك لمنې ښځې تورنوي، بيا څلور شاهدان نشي راوړی، اتيا درې ئې ووهئ او هيڅکله ئې ګواهي مه قبلوئ، او همدا دوی فاسقان دي. 5- خو هغه نه چي له دې وروسته ئې توبه وکړه او اصلاح ئې وکړه (د ځان او د هغه تور)، نو يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ. 6- او هغه چي خپلې مېرمني تورنوي په داسي حال کي چي له ځان پرته (نور) شاهدان نه لري نو د يوه ئې ګواهي دا ده: څلور ځلي الله شاهد نيول چي دی يقيناً له رښتينو دئ 7- او پنځم ئې دا چي که دی له دروغجنو وي نو پر ده دي د الله لعنت وي، 8- او له هغې (مېرمني) دا (خبره) عذاب دفع کوي چي څلور ځلي الله شاهد ونيسي چي يقيناً دی له دروغجنو دئ 9- او پنځم ئې دا چي که دی له رښتينو وي نو پر دې دي د الله غضب وي. 10- او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی او دا چي الله باحکمت توبه قبلوونکی دئ (آيا پوهېږئ چي څه به کېدل؟)

إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٌ مِّنكُمۡۚ لَا تَحۡسَبُوهُ شَرًّا لَّكُمۖ بَلۡ
هُوَ خَيۡرٌ لَّكُمۡۚ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم مَّا ٱكۡتَسَبَ مِنَ ٱلۡإِثۡمِۚ وَٱلَّذِي
تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١١﴾ لَّوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ ظَنَّ
ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمۡ خَيۡرٗا وَقَالُواْ هَٰذَآ إِفۡكٞ مُّبِينٞ ﴿١٢﴾
لَّوۡلَا جَآءُو عَلَيۡهِ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَۚ فَإِذۡ لَمۡ يَأۡتُواْ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُوْلَٰٓئِكَ
عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ فِي
ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ لَمَسَّكُمۡ فِي مَآ أَفَضۡتُمۡ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾ إِذۡ
تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ
وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ ﴿١٥﴾ وَلَوۡلَآ إِذۡ سَمِعۡتُمُوهُ قُلۡتُم
مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبۡحَٰنَكَ هَٰذَا بُهۡتَٰنٌ عَظِيمٞ ﴿١٦﴾
يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُواْ لِمِثۡلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧﴾ وَيُبَيِّنُ
ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ
ٱلۡفَٰحِشَةُ فِي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَٱللَّهُ
يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ
ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴿٢٠﴾

11- يقيناً هغه چي دا دروغجنه خبره ئې رامنځته کړه ستاسو يوه ډله وه، د ځان لپاره ئې شر او تاوان مه انګېرئ، بلکي هغه تاسو ته خير (ګټور) دئ، د دوی هر سړي ته د ده د کړني په کچه د ګناه (برخه) ده، او د دوی هغه چي لويه برخه ئې پر خپلي ذمې اخيستې ده هغه ته ستر عذاب دئ. 12- ولي داسي نه وه چي کله مو هغه واورېده نو نارينه مؤمنانو او ښځينه مؤمنانانو پر خپل ځان (مؤمنانو) نېك ګمان ونه کړ او وئې نه ويل چي دا ښرګند دروغجن تور دئ؟ 13- ولي ئې پر دې (ادعاء) څلور شاهدان رانه وستل، نو کله چي ئې شاهدان رانه وستل نو همدا دوی د الله په وړاندي دروغجن دي، 14- او که په دنيا او آخرت کي پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی نو د هغه څه له کبله به په ستر عذاب اخته شوي وئ چي په کي بوخت شوئ. 15- هغه مهال چي په خپلو ژبو مو اخيستو او په خپلو خولو مو هغه څه ويل چي هيڅ علم مو پرې نه لرلو، او هغه مو آسان (او عادي کار) ګڼلو حال دا چي هغه د الله په وړاندي ستر (جرم) دئ، 16- او هغه مهال چي تاسو واورېد ولي مو ونه ويل چي موږ ته هيڅکله نه ښايي چي په دې خبري تکلم وکړو، سبحان الله! دا ستر بهتان دئ، 17- الله تاسو ته نصيحت کوي چي هيڅکله دې ته ورته (کار ته) ونه ګرځئ که مؤمنان يئ، 18- او الله تاسو ته دا آيتونه بيانوي، او الله باحکمت پوه دئ، 19- يقيناً هغه چي دا خوښوي چي په ايمان لرونکو کي فحشاء خوره کړي دوی ته په دنيا او آخرت کي دردناك عذاب دئ، او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ. 20- او که د الله فضل او رحمت درباندي نه وی او دا چي الله مهربان رأفت کوونکی دئ (آيا پوهېږئ چي څه به کېدل؟)

*يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ
خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ
عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي
مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٢١﴾ وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ
وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ
وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ
فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٢٣﴾ يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ
أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٤﴾ يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ
ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ ﴿٢٥﴾ ٱلۡخَبِيثَٰتُ
لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ
لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَـٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٢٦﴾
يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ
وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾

21- اې هغو چي ایمان ئې راوړی! د شیطان په پلونو پسي مه درومئ، او څوك چي د شیطان په پلونو پسي ولاړ شي نو هغه ئې په فحشاء او منکر گماري، او که پر تاسو د الله فضل او د ده رحمت نه وی نو ستاسو هیڅ یو به هیڅکله نه وو پاك شوی؛ خو الله هغه څوك پاکوي چي دی ئې وغواړي، او الله پوه اورېدونکی دئ. 22- او ستاسو فضلمن او وسمن دي له دې لوړه نه کوي چي خپلوانو، مسکینانو او د الله د لاري مهاجرینو ته څه ورکړي، او حتماً دي عفو وکړي او مخ دي واړوي (سترگي دي پرې پټې کړي)، آیا دا نه خوښوئ چي الله تاسو ته بخښنه وکړي؟ او الله مهربان بخښونکی دئ. 23- یقیناً هغه چي پاك لمنې، صاف زړې مؤمناني تورنوي په دنیا او آخرت کې لعنت شوي او دوی ته ستر عذاب دئ. 24- هغه ورځ چي د دوی ژبې، لاسونه او پښې به پر هغه څه د دوی خلاف شهادت ورکوي چي دوی کول. 25- په دې ورځ به الله د دوی رښتینې سزا په بشپړه توگه ورکړي او دوی به پوه شي چي الله ښکاره حق دئ. 26- دا پلیتي مېرمني د دغو پلیتو نارینه وو لپاره دي او دا پلیتان د دغو پلیتو مېرمنو لپاره، او دا پاکاني د دغو پاکانو لپاره دي او دا پاکان د دغو پاك لمنو مېرمنو لپاره، دوی له هغه څه مبراء دي (لمن ئې پاکه ده) چي دوی (تور لگوونکي) ئې وایي، دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ. 27- اې مؤمنانو! داسي کورونو ته مه ننوځئ چي ستاسو خپل کورونه نه وي، تر هغه چي موافقه (اجازه) وغواړئ او پر خاوندانو (استوگنو) ئې سلام واچوئ، همدا درته غوره دئ، ښایي پند واخلئ،

فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن
قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
عَلِيمٞ ٢٨ لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ
مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ
٢٩ قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ
أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٣٠ وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ
يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ
إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبۡدِينَ
زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآئِهِنَّ
أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ
أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ
مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا
يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ
جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣١

28- او که په هغه کې هیڅوك ونه مومئ نو تر هغه مه ورننوځئ
چې اجازه درکړی شي، او که درته وویل شي: ستانه شئ، نو ستانه
شئ، همدا درته ښه پاکیزه (طریقه) ده، او الله په هغه څه ښه
پوهېږي چې تاسو ئې کوئ. 29- په دې کې څه گناه درباندې نشته
چې داسې کورونو ته (له اجازې پرته) ننوځئ چې نااستوگن وي او
په هغه کې ستاسو لپاره کومه مال متاع وي، او الله په هغه څه
چې تاسو ئې ښرگندوئ او په هغه څه چې تاسو ئې پټوئ ښه
پوهېږي. 30- مؤمنانو ته ووایه چې د خپلو سترگو (کتل) راکم
کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، یقیناً چې الله په
هغه څه ښه خبر دئ چې دوی ئې کوي. 31- او باایمانه ښځو ته
ووایه چې د خپلو سترگو (کتل) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او
خپله گاڼه ښرگنده نه کړي، مگر هغه ئې چې ښرگنده وي او خپل
ټکري دې په خپل گرېوان واچوي او خپله گاڼه دې له خپلو مېړونو،
خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو
زامنو، خپلو وروڼو، وربېرونو، خوریيو، خپلو ښځو، خپلو وینځو،
هغو ترلاس لاندې سړو چې بې شهوته دي او له هغو ماشومانو
پرته چې د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښرگندوي او
خپلې پښې دې داسې (پر زمکه) نه وهي چې هغه گاڼه ئې معلومه
شي چې پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه
وکړئ چې بریالي شئ.

وَأَنكِحُواْ ٱلۡأَيَٰمَىٰ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنۡ عِبَادِكُمۡ وَإِمَآئِكُمۡۚ إِن
يَكُونُواْ فُقَرَآءَ يُغۡنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٣٢ وَلۡيَسۡتَعۡفِفِ
ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغۡنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَٱلَّذِينَ يَبۡتَغُونَ
ٱلۡكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَكَاتِبُوهُمۡ إِنۡ عَلِمۡتُمۡ فِيهِمۡ خَيۡرٗاۖ وَءَاتُوهُم
مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ ءَاتَىٰكُمۡۚ وَلَا تُكۡرِهُواْ فَتَيَٰتِكُمۡ عَلَى ٱلۡبِغَآءِ إِنۡ أَرَدۡنَ
تَحَصُّنٗا لِّتَبۡتَغُواْ عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَمَن يُكۡرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعۡدِ
إِكۡرَٰهِهِنَّ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٣ وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖ وَمَثَلٗا مِّنَ
ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٣٤ ۞ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ
ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ
وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي
ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ
عَلِيمٞ ٣٥ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا
بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ٣٦

32- او خپل بې واده (نارينه او ښځې) او خپل بې واده صالح مريان او وينځې واده کړئ، که فقيران وي الله به ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او الله پوه د وسعت خاوند دئ، 33- او هغه چې واده نه مومي تر هغه دې عفت غوره کړي چې الله ئې په خپل فضل سره شتمن کړي، او ستاسو په لاس کې هغه (مريان او وينځې) چې د مکاتبت غوښتنه کوي نو مکاتبت ورسره وکړئ که کومه ښېګڼه په کې وګورئ، او د الله له هغه مال څه ورکړئ چې تاسو ته ئې درکړی، او د دنيايي ګټې په لټه کې خپلې وينځې بدلمنۍ ته مه اړباسئ، (خاصتاً) که هغوی پاك لمنې غواړي، او څوك چې هغوی اړباسي نو يقيناً چې الله د دوی له اړ کېدو وروسته (ورته) مهربان بخښونکی دئ. 34- او يقيناً چې تاسو ته مو څرګندوونکې آيات، او د هغو بېلګه چې تر تاسو وړاندې تېر شوي او متقيانو ته موعظه او پند نازل کړل. 34- الله د آسمانونو او زمکې نور دئ، د نور مثال ئې داسې دئ لکه يو کوښئ (تاخچه)، چې په هغه کې يو څراغ وي، دا څراغ په يوې شيشې کې وي، دا شيشه داسې وي لکه يو ځلانده ملغلرې ته ورته ستوری، سون ئې د زيتون له داسې مبارکې ونې په برخه کېږي چې نه شرقي وي او نه غربي، چې تېل ئې نژدې وي (په خپله) روښانه شي که څه هم اور نه وي وررسېدلی، رڼا پر رڼا، الله خپل نور ته هغه څوك هدايتوي چې دی ئې غواړي، او الله د خلکو لپاره مثالونه بيانوي او الله په هر څه ښه پوه دئ. 36- په داسې کورونو کې چې الله حکم کړی چې لوړ دې شي او په هغه کې دې د ده نوم ياد شي، ده ته په هغوی کې سبا او ماښام تسبيح کوي،

رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ
ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ٣٧ لِيَجۡزِيَهُمُ
ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ
بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٣٨ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ
ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ
حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ٣٩ أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ
مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ
إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ
مِن نُّورٍ ٤٠ أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٖۖ كُلّٞ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا
يَفۡعَلُونَ ٤١ وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ٤٢ أَلَمۡ
تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزۡجِي سَحَابٗا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيۡنَهُۥ ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ رُكَامٗا فَتَرَى
ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٖ فِيهَا مِنۢ بَرَدٖ
فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصۡرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُۖ يَكَادُ سَنَا بَرۡقِهِۦ
يَذۡهَبُ بِٱلۡأَبۡصَٰرِ ٤٣

37- داسي مېړني چي نه ئې تجارت د الله له ياده او د لمانځه له قائمولو او د زکات له ورکړي غافلوي او نه پېر پلور، له داسي ورځي وېرېږي چي زړونه او سترگي په کي اوړي. 38- د دې لپاره چي الله د دوی د کړنو د ډېر غوره په پرتله ورته اجر ورکړي او له خپل فضل لازيات ورپه برخه کړي، او الله هغه چا ته بې حسابه رزق ورکوي چي دی ئې وغواړي. 39- او هغه چي کفر ئې کړی اعمال ئې داسي دي لکه په يوې وچي بيديا کي يو سراب (ځلوبې) چي تږی د اوبو گمان پرې کوي تر هغه چي ورشي څه ئې ونه مومي او الله د هغه خوا ته ومومي نو حساب ئې وربشپړ کړي او الله ژر حساب کوونکی دئ. 40- او يا لکه په ژور سمندر کي هغه تيارې چي له پاسه ئې څپې سر په سر وي، او ترې بره ورېځ، تيارې يوه د بلي د پاسه، که خپل لاس راوباسي نشي کولی وئې گوري، او چا ته چي الله رڼا نه وي ورپه برخه کړې نو هيڅ رڼا به ئې په برخه نشي. 41- آيا نه يې متوجه شوی چي الله داسي دئ چي څه په آسمانونو او زمکي کي دي او دا وزر غوړولي مرغان ده ته تسبيح وايي، هر يو پر خپلي لمانځني او خپلي تسبيح پوه شوی، او الله په هغه څه پوهېږي چي دوی ئې کوي. 42- او د آسمانونو او زمکي واکمني د الله ده، او د الله لوري ته ورگرځېدا ده. 43- آيا نه گورې چي الله ورېځي روانوي، بيا ئې په خپلو کي سره پيوست کوي، بيا ئې سر په سر کوي، نو د باران څاڅکي به گورې چي له منځه ئې راوځي، او په آسمان کي د يخ له غرونو ږلۍ وروي او هغه چا ته ئې رسوي چي دی ئې وغواړي او له هغه چا ئې بلي خوا ته وړي چي دی ئې غواړي، نژدې وي چي د برېښنا رڼا ئې سترگي له منځه يوسي.

يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ
خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖۖ فَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ بَطۡنِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن
يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ
إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٤٥﴾ لَّقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖۚ وَٱللَّهُ
يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٦﴾ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ
وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ
بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ
مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ﴿٤٩﴾ أَفِي
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ
بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى
ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾ ۞وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَئِنۡ
أَمَرۡتَهُمۡ لَيَخۡرُجُنَّۖ قُل لَّا تُقۡسِمُواْۖ طَاعَةٞ مَّعۡرُوفَةٌۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا
تَعۡمَلُونَ ﴿٥٣﴾

44- الله شپه او ورځ اړووي راړووي، يقيناً چې په دې کې سترګورو ته حتماً عبرت دئ، 45- او الله هر خوځېدونکى له اوبو پيدا کړى، چې ځيني ئې په سينه خوځي او ځيني ئې پر دوو پښو درومي او ځيني ئې په څلورو پښو درومي، الله هغه څه پيدا کوي چې دى ئې غواړي، يقيناً چې الله په هر څه قادر دئ. 46- يقيناً چې څرګندوونکي آيتونه مو نازل کړل او الله هغه څوک مستقيمي لارې ته هدايتوي چې دى ئې غواړي. 47- او وايي: پر الله او پر پيغمبر مو ايمان راوړى او اطاعت مو کړى، بيا د دوى يوه ډله له دې وروسته مخ اړووي او دا کسان مؤمنان نه دي، 48- او کله چې د الله او د هغه د رسول لورې ته وبلل شي چې د دوى تر منځ پرېکړه وکړي ناڅاپه د دوى يوه ډله ډډه کوي، 49- او که پرېکړه د دوى په حق کې وي نو داسې ورته راځي چې غاړه اېښودونکي وي، 50- آيا په زړونو کې ئې بيماري ده، يا په شك کې پرېوتي، يا له دې وېرېږي چې الله او د ده رسول به ظلم پرې وکړي؟!! بلکې همدا دوى ظالمان دي. 51- يقيناً کله چې مؤمنان د الله او د ده د رسول لورې ته د دې لپاره وبلل شي چې د دوى تر منځ پرېکړه وکړي، نو د دوى وينا له دې پرته بل څه نه وي چې وايي: وامو ورېده او اطاعت مو وکړ، او همدا ډله بختور دي. 52- او چا چې د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړ او له الله ووېرېدو او (د هغه) له (مخالفت) ئې ځان ساتنه وکړه، نو همدغه کسان بريالي دي. 53- په خپلو کلکو قسمونو سره ئې د الله په نامه لوړه وکړه چې که امر ورته وکړې نو حتماً به (د جهاد لپاره) ووځي، ووايه: لوړه مه کوئ، پېژندل شوى اطاعت دئ (ستاسو دنده)، يقيناً چې الله په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ،

إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٥٤﴾ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ
مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ
وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي
شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾
وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُونَ ﴿٥٦﴾ لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ
وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٥٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
لِيَسۡتَـٔۡذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَبۡلُغُواْ
ٱلۡحُلُمَ مِنكُمۡ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٖۚ مِّن قَبۡلِ صَلَوٰةِ ٱلۡفَجۡرِ وَحِينَ
تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعۡدِ صَلَوٰةِ ٱلۡعِشَآءِۚ
ثَلَٰثُ عَوۡرَٰتٖ لَّكُمۡۚ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ وَلَا عَلَيۡهِمۡ جُنَاحُۢ
بَعۡدَهُنَّۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيۡكُم بَعۡضُكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٥٨﴾

54- ووايه: د الله او پيغمبر اطاعت وکړئ، نو که ئې مخ واړاوو نو پر ده خپل اېښودل شوی مسئوليت او پر تاسو خپل اېښودل شوی مسئوليت، او که ئې اطاعت وکړئ هدايت به شئ، او پر پيغمبر له څرګند تبليغ پرته بل څه نشته. 55- له تاسو چې چا ايمان راوړی او نېك عملونه ئې کړي، له هغوی سره الله وعده کړې چې حتماً به د زمکې خلافت داسې دوی ته سپاري لکه چې تر دوی مخکنيو ته ئې خلافت سپارلی وو، هرومرو به هغه دين ته تمکين او اقتدار ورکوي چې د دوی لپاره ئې غوره کړی، او حتماً به د دوی خوف په امن بدلوي، ( داسې حالت به راولم چې) زما عبادت به کوي او هيڅ څه به له ما سره نه شريکوي. او څوك چې له دې وروسته ناسپاسي وکړي نو همدا دوی فاسقان دي. 56- او لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او د پيغمبر اطاعت وکړئ چې رحم درباندې وشي. 57- د هغو په اړه چې کفر ئې کړی دا ګمان مه کوه چې په زمکې کې عاجزوونکي (د مسابقې ګټونکي) دي، حال دا چې د دوی مېشت ځی اور دئ او څومره بد ټاټوبی. 58- اې مؤمنانو! حتماً دې هغه کسان درې ځلې (درې وخته) له تاسو اجازه غواړي چې ستاسو تر لاس لاندې (مريان او وينځې يا خادمان) دي او هغه چې لا ځوانۍ ته نه دي رسېدلې: د سحر له لمانځه وړاندې، او هغه مهال چې د غرمې له لوري خپلې جامې باسئ او د ماخستن تر لمانځه وروسته، ستاسو د خلوت درې وختونه، تر دې آخوا پر تاسو او پر هغوی کومه ګناه نشته، پر تاسو راګرځېدونکي يو په بل پسې، الله همداسې تاسو ته آيتونه بيانوي، او الله باحکمت پوه دئ.

وَإِذَا بَلَغَ ٱلْأَطْفَٰلُ مِنكُمُ ٱلْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُواْ كَمَا ٱسْتَـْٔذَنَ
ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦۗ وَٱللَّهُ
عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ وَٱلْقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرْجُونَ
نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ
مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٍۖ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ
عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ
وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُواْ مِنۢ
بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ
إِخْوَٰنِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَٰمِكُمْ أَوْ
بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَٰلِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمْ
أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوْ صَدِيقِكُمْۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
أَن تَأْكُلُواْ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًاۚ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ
أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةًۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ
ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْأَيَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾

59- او کله چې ستاسو واړه ځوانۍ ته ورسېږي نو همغسې دې اجازه غواړي لکه چې تر دوی وړاندينيو اجازه غوښته، الله همداسې خپل آيتونه تاسو ته بيانوي، او الله باحکمت پوه دئ، 60- او د ښځو هغه پر ځای ناستې (سپينې سرې) چې د واده هيله نه لري نو په دې کې هيڅ گناه پرې نشته چې خپلې (ځينې) جامې ايسته کړي (په دې شرط چې) د زينت نه ښکاره کوونکې وي، او که حياء کول وغواړي ورته غوره دئ، او الله پوه اوربېدونکی دئ. 61- نه پر ړانده کومه گناه شته او نه پر گوډ کومه گناه شته او نه پر ناروغ کومه گناه شته او نه پر تاسو چې له خپلو کورونو څه وخورئ يا د خپلو پلرونو له کورونو يا د خپلو ميندو له کورونو يا د خپلو ورونو له کورونو يا د خپلو خويندو له کورونو يا د خپلو ترونو له کورونو يا د خپلو پلرنيو ترندو له کورونو يا د خپلو مورنيو ترندو له کورونو او له هغو چې کيلياني ئې ستاسو په واك کې دي يا د خپل دوست (له کور)، پر تاسو نه پر دې څه گناه شته چې په گډه خوراك وکړئ يا بېل بېل، او کله چې کومو کورونو ته ننوځئ نو پر خپلو ځانونو د الله له لوري د مبارکې او پاکې کلمې د يوې تحفې په توگه سلام واچوئ، الله په دې توگه تاسو ته آيتونه بيانوي چې تعقل وکړئ.

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُواْ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ
أَمۡرٖ جَامِعٖ لَّمۡ يَذۡهَبُواْ حَتَّىٰ يَسۡتَـٔۡذِنُوهُۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ أُوْلَـٰٓئِكَ
ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ فَإِذَا ٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِبَعۡضِ شَأۡنِهِمۡ فَأۡذَن
لِّمَن شِئۡتَ مِنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمُ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٦٢ لَّا
تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضٗاۚ قَدۡ يَعۡلَمُ
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمۡ لِوَاذٗاۚ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ
أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا
فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قَدۡ يَعۡلَمُ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ وَيَوۡمَ يُرۡجَعُونَ إِلَيۡهِ
فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ٦٤

## سُورَةُ الفُرۡقَانِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ١
ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ
شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ٢

62- مؤمنان خو يوازي هغه دي پر الله او د هغه پر پيغمبر ئې ایمان راوړی او کله چي له ده سره پر کوم ډله ایز کار بوخت وي تر هغه نه درومي چي اجازه ترې وغواړي، يقيناً هغه چي له تا اجازه غواړي همدا دوی پر الله او د هغه پر پيغمبر ایمان لري، نو که ئې د خپلو ځينو چارو لپاره له تا اجازه وغوښته چا ته چي ستا خوښه وي اجازه ورکړه او له الله بخښنه ورته وغواړه، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ، 63- په خپلو منځونو کې د پيغمبر دعاء (بلنه) داسي مه ګرځوئ لکه ستاسو د ځينو بلنه نورو ته، يقيناً چي الله ستاسو هغه کسان پېژني چي پټ پټ (يو د بل په سيوري کې) وځي، نو هغه چي د ده له امره مخالفت کوي له دې دي ووېرېږي چي کومه فتنه به ئې په برخه شي يا کوم دردناك عذاب به وروړسېږي. 64- پام چي يقيناً هر هغه څه د الله دي چي په آسمانونو او زمکې کې دي، يقيناً په هغه څه پوهېږي چي تاسو پرې (لګيا) يئ او په کومه ورځ چي د هغه لوري ته ورګرځول کېږي نو په هغه څه به ئې پوه کړي چي کول ئې، او الله په هر څه ښه پوه دئ.

## الفرقان- مکي سوره- 77 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- مبارك دئ هغه ذات چي دا فرقان ئې پر خپل بنده نازل کړ چي د عالميانو لپاره يو نذير وي، 2- هغه چي د آسمانونو او زمکې پاچايي د ده ده، نه ئې زوی نيولی (چي د ده ځای ناستی شي) او نه ئې په واکمنۍ کې کوم شريك شته او هر څه ئې پيدا کړل او ځانګړې اندازه ئې ورته وټاکله.

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا
يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا
حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ٣ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٌ
ٱفۡتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَۖ فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا
٤ وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ بُكۡرَةٗ
وَأَصِيلٗا ٥ قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ
إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٦ وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ
ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ
مَعَهُۥ نَذِيرًا ٧ أَوۡ يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٞ يَأۡكُلُ
مِنۡهَاۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ٨ ٱنظُرۡ
كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَٰلَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ٩
تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَيَجۡعَل لَّكَ قُصُورَۢا ١٠ بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلسَّاعَةِۖ
وَأَعۡتَدۡنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ١١

3- او له ده پرته ئې داسي معبودان ځانته غوره کړل چي نه څه پیدا کولی شي "بر عکس" دوی په خپله پیدا کړی شوي، نه ځانته د څه تاوان واك او اختیار لري او نه د څه ګټي او نه د مرګ واك لري او نه د ژوند او نه د بیا خوربدو (بیا پیدایښت). 4- او هغو چي کفر ئې کړی وویل: او دا خو له داسي درواغو پرته چي له ځانه ئې جوړ کړی بل څه نه دئ، او نورو وګړو په هغه کي مرسته ورسره کړې، یقیناً چي د یوه (ستر) ظلم او درواغ مرتکب شول. 5- او وئې ویل: د وړاندینیو قصې دي چي د لیکلو لټه ئې کړې، بیا سبا او ماښام پرې لوستل کېږي، 6- ووایه: هغه ذات نازل کړی چي په ټولو هغو اسرارو پوهېږي چي په آسمانونو او زمکي کي دي، یقیناً چي هغه مهربان بخښونکی دئ. 7- او وئې ویل: ولي وي، 8- یا ئې کومه خزانه په واك کي نه پرېوځي، یا ئې د مېوو داسي بڼ نشته چي مېوې ترې وخوري، او دې ظالمانو وویل: تاسو یوازي د یوه جادو شوي سړي متابعت کوئ. 9- وګوره چي څنګه مثالونه ئې درته بیان کړي، چي په همدې سره لارورکي شول او د هیڅ لاري (په موندلو) نشي توانېدی، 10- مبارك دئ هغه ذات چي که وغواړي تر دې به غوره څه درپه برخه کړي؛ داسي جنتونه چي ترې لاندي ئې ویالې بهېږي او ماڼۍ به درپه برخه کړي. 11- (داسي نه ده) بلکي (د قیامت) ساعت ئې دروغ ګڼلی، او هغه چا ته مو لمبه ناك اور چمتو کړی چي دا ساعت ئې دروغجن ګڼلی،

إِذَا رَأَتۡهُم مِّن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ سَمِعُواْ لَهَا تَغَيُّظٗا وَزَفِيرٗا ﴿١٢﴾ وَإِذَآ
أُلۡقُواْ مِنۡهَا مَكَانٗا ضَيِّقٗا مُّقَرَّنِينَ دَعَوۡاْ هُنَالِكَ ثُبُورٗا ﴿١٣﴾ لَّا
تَدۡعُواْ ٱلۡيَوۡمَ ثُبُورٗا وَٰحِدٗا وَٱدۡعُواْ ثُبُورٗا كَثِيرٗا ﴿١٤﴾ قُلۡ أَذَٰلِكَ
خَيۡرٌ أَمۡ جَنَّةُ ٱلۡخُلۡدِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۚ كَانَتۡ لَهُمۡ جَزَآءٗ
وَمَصِيرٗا ﴿١٥﴾ لَّهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ
وَعۡدٗا مَّسۡـُٔولٗا ﴿١٦﴾ وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ
فَيَقُولُ ءَأَنتُمۡ أَضۡلَلۡتُمۡ عِبَادِي هَٰٓؤُلَآءِ أَمۡ هُمۡ ضَلُّواْ ٱلسَّبِيلَ
﴿١٧﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ
مِنۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِن مَّتَّعۡتَهُمۡ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ نَسُواْ ٱلذِّكۡرَ
وَكَانُواْ قَوۡمَۢا بُورٗا ﴿١٨﴾ فَقَدۡ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا
تَسۡتَطِيعُونَ صَرۡفٗا وَلَا نَصۡرٗاۚ وَمَن يَظۡلِم مِّنكُمۡ نُذِقۡهُ
عَذَابٗا كَبِيرٗا ﴿١٩﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ
لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشُونَ فِي ٱلۡأَسۡوَاقِۗ وَجَعَلۡنَا بَعۡضَكُمۡ
لِبَعۡضٖ فِتۡنَةً أَتَصۡبِرُونَۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرٗا ﴿٢٠﴾

12- کله چې دوی هغه له لرې ځایه وګوري د غضب او ځوږ غږ به ئې واوري، 13- او کله چې د هغه په یوه تنګ ځای کې په زنځیرونو تړل شوي وغورځول شي نو هلته به مرګ ته بلنه ورکوي، 14- (ورته وبه ویل شي:) نن یوازې یو مرګی مه دربلئ ډېر مرګي دروبلئ، 15- ووایه: آیا دا (حالت) غوره دئ او که هغه تلپاته جنت چې متقیانو ته ئې وعده ورکړې شوې چې همدا به ئې بدله او پای ځی وي؟ 16- دوی ته به په هغه کې هر هغه څه وي چې غواړي ئې، په داسې حال کې چې تلپاته به وي، دا ستا د رب پر ذمه یوه غوښتل شوې ژمنه ده. 17- او هغه ورځ چې (الله تعالی) دوی او هغه چې دوی له الله پرته ملانځل راغونډ کړي او ووایي: آیا تاسو زما دغه بندګان بې لارې کړل او که دوی په خپله لار ورکه کړې وه؟ 18- وبه وایې: پاکي تا ته ده، موږ ته نه ښایي چې له تا پرته کوم دوستان ونیسو، خو تا دوی او د دوی پلرونه دومره متمتع (له دنیایي متاع برخمن) کړل چې دا ذکر (قرآن) ئې هېر کړ او هلاك شوي وګړي ول، 19- نو یقیناً چې تاسو ئې په هغه څه کې تکذیب کړئ چې تاسو ئې وایئ، نو نه به په ردولو توانېدی شئ او نه د ملاتړ (په ترلاسه کولو)، او له تاسو چې څوك ظلم وکړي ستر عذاب به وروڅکو. 20- او تر تا وړاندې مو له پیغمبرانو یوازې داسې څوك لېږلي چې خواړه ئې خوړل او په بازارونو کې ګرځېدل، او ستاسو ځینې مو د ځینو نورو لپاره آزمېښت ګرځولي آیا صبر کوئ؟ او ستا رب لیدونکی دئ.

۞وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ لِقَآءَنَا لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ
نَرَىٰ رَبَّنَاۗ لَقَدِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ وَعَتَوۡ عُتُوّٗا كَبِيرٗا ﴿٢١﴾ يَوۡمَ
يَرَوۡنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرَىٰ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُجۡرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجۡرٗا
مَّحۡجُورٗا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ
مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا وَأَحۡسَنُ مَقِيلٗا
﴿٢٤﴾ وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴿٢٥﴾
ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ لِلرَّحۡمَٰنِۚ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرٗا
﴿٢٦﴾ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ
ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ﴿٢٧﴾ يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ﴿٢٨﴾ لَّقَدۡ
أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ
خَذُولٗا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ
مَهۡجُورٗا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا مِّنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَۗ
وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيٗا وَنَصِيرٗا ﴿٣١﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ
عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ
تَرۡتِيلٗا ﴿٣٢﴾

21- او هغو چي زموږ د ملاقات هيله نه لري؛ وويل: ولې پر موږ
فرښتې نه نازلېږي او خپل رب نه ګورو، يقيناً چي د خپل ځان په اړه
ئې د لوی والي احساس وکړ، او په ستري سرکښۍ سره ئې سرکښي وکړه.
22- هغه ورځ چي فرښتې وګوري مجرمينو ته به په دې ورځ کوم ښه
زېری نه وي او دوی به وايي: آيا داسي پرده (شته) چي مخ نيونکې
وي؟ 23- او د دوی هغو کړنو ته به ورووړاندي شو چي دوی کړې وې
نو خورې ورې دوړې به ئې کړو. 24- جنتيان به په دې ورځ هم د
مېشت ځي له پلوه په غوره حال کې وي او هم د آرامتيا (او غرمني
خوب) له پلوه. 25- او هغه ورځ چي آسمان په ورېځو سره ټوټې ټوټې
شي او فرښتې ډلي ډلي نازلي کړی شي، 26- په دې ورځ به واکمني (په
بشپړه توګه) د رحمن رب وي، او دا به پر کافرانو يوه سخته ورځ وي،
27- او هغه ورځ چي ظالمان به خپل لاسونه چيچي او وايي به: کاش
له پيغمبر سره مي (د يو ځای تلو) کومه لار غوره کړې وی، 28- وای
وای پر ما، کاش فلانی مي زړه ته نژدې دوست نه وی نيولی، 29- يقيناً
چي زه ئې له هغه وروسته له ذکر بې لاري کړم چي راته راغی، او دا
شيطان خو د انسان غولوونکی او يوازي پرېښودونکی دئ. 30- او
پيغمبر وويل: اې زما ربه! يقيناً چي زما قوم دا قرآن د يوه متروك شي
په توګه نيولی. 31- او همداسي مو د هر نبي لپاره د مجرمينو له ډلي
دښمنان ټاکلي، او ستا رب د لارښود او مرستندوی په توګه کافي دئ.
32- او هغو چي کفر ئې کړی وو وويل: ولې ټول قرآن (په بشپړه توګه)
او يوواري نه دئ پرې نازل شوی، داسي مو د دې لپاره کړي چي ستا
زړه پرې مضبوط کړو، او ورو ورو مو ټوك ټوك (درباندي) لوستلی.

وَلَا يَأۡتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَأَحۡسَنَ تَفۡسِيرًا ٣٣
ٱلَّذِينَ يُحۡشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُوْلَٰٓئِكَ شَرّٞ مَّكَانٗا
وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ٣٤ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَا مَعَهُۥٓ
أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرٗا ٣٥ فَقُلۡنَا ٱذۡهَبَآ إِلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ تَدۡمِيرٗا ٣٦ وَقَوۡمَ نُوحٖ لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ
أَغۡرَقۡنَٰهُمۡ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ لِلنَّاسِ ءَايَةٗۖ وَأَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا
أَلِيمٗا ٣٧ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَأَصۡحَٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونَۢا بَيۡنَ ذَٰلِكَ
كَثِيرٗا ٣٨ وَكُلّٗا ضَرَبۡنَا لَهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَۖ وَكُلّٗا تَبَّرۡنَا تَتۡبِيرٗا ٣٩ وَلَقَدۡ
أَتَوۡاْ عَلَى ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِيٓ أُمۡطِرَتۡ مَطَرَ ٱلسَّوۡءِۚ أَفَلَمۡ يَكُونُواْ
يَرَوۡنَهَاۚ بَلۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ نُشُورٗا ٤٠ وَإِذَا رَأَوۡكَ إِن
يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِي بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا ٤١ إِن كَادَ
لَيُضِلُّنَا عَنۡ ءَالِهَتِنَا لَوۡلَآ أَن صَبَرۡنَا عَلَيۡهَاۚ وَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ
حِينَ يَرَوۡنَ ٱلۡعَذَابَ مَنۡ أَضَلُّ سَبِيلًا ٤٢ أَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ
إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيۡهِ وَكِيلًا ٤٣

33- او تا ته کوم مثال (د متل په بڼې کې اعتراض) نه وړاندې کوي مګر دا چې حقيقت او غوره تفسير او تعبير (ئې) درته راوړو. 34- هغه چې پر خپل مخ به د دوزخ لورې ته ورغونډ کړی شي، دوی د دريځ له پلوه ډېر بد او د تګلارې له پلوه ډېر لاروړکې دي. 35- او يقيناً چې موسی ته مو هغه کتاب ورکړ او د ده ورور هارون مو ورسره مرستيال وګرځاوو، 36- دواړو ته مو وويل: هغه وګړو ته ورشئ چې زموږ آيتونه ئې تکذيب کړي، نو تباه تباه مو کړل. 37- او د نوح قوم چې کله ئې پيغمبران تکذيب کړل نو غرق مو کړل او د خلکو لپاره مو (د عبرت) نښه وګرځول، او دغو ظالمانو ته مو دردوونکی عذاب تيار کړی، 38- او عاد، ثمود او اصحاب الرس (د زاړه کوهي خاوندان) او د دغو تر منځ ډېر نسلونه، 39- هر يوه ته مو (د مخکنيو) مثالونه بيان کړل او هر يو مو هلاك هلاك کړ، 40- او يقيناً چې پر هغه قوم ئې ګزر شوی چې بد باران پرې وورول شو، آيا هغه به ئې نه وي ليدلی؟! بلکې د بيا راژوندې کېدو هيله ئې نه درلوده. 41- او کله چې تا وګوري نو تر ملنډو او استهزاء لاندې دې نيسي، (وايي:) آيا دا همغه څوك دئ چې الله د رسول په توګه لېږلی؟!! 42- که مو صبر نه وی کړی نو نژدې وه چې له خپلو معبودانو ئې بې لارې کړې وی، او کله چې عذاب وګوري نو ژر به پوه شي چې څوك ډېر بې لارې وو. 43- آيا هغه ته دې پام نه دئ کړی چې خپله هوی او هوس ئې ځان ته اله (معبود) ګرځولی، نو آيا ته پرې وکيل يې؟

أَمۡ تَحۡسَبُ أَنَّ أَكۡثَرَهُمۡ يَسۡمَعُونَ أَوۡ يَعۡقِلُونَۚ إِنۡ هُمۡ إِلَّا
كَٱلۡأَنۡعَٰمِ بَلۡ هُمۡ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمۡ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيۡفَ مَدَّ
ٱلظِّلَّ وَلَوۡ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنٗا ثُمَّ جَعَلۡنَا ٱلشَّمۡسَ عَلَيۡهِ دَلِيلٗا
﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضۡنَٰهُ إِلَيۡنَا قَبۡضٗا يَسِيرٗا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ
ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا وَٱلنَّوۡمَ سُبَاتٗا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورٗا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ
أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَىۡ رَحۡمَتِهِۦۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ
طَهُورٗا ﴿٤٨﴾ لِّنُحۡـِۧىَ بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗا وَنُسۡقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقۡنَآ أَنۡعَٰمٗا
وَأَنَاسِىَّ كَثِيرٗا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَٰهُ بَيۡنَهُمۡ لِيَذَّكَّرُواْ فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ
ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٥٠﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَبَعَثۡنَا فِى كُلِّ قَرۡيَةٖ نَّذِيرٗا ﴿٥١﴾
فَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدۡهُم بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ﴿٥٢﴾ ۞وَهُوَ
ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ
وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ
ٱلۡمَآءِ بَشَرٗا فَجَعَلَهُۥ نَسَبٗا وَصِهۡرٗاۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرٗا ﴿٥٤﴾
وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمۡ وَلَا يَضُرُّهُمۡۗ وَكَانَ ٱلۡكَافِرُ
عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرٗا ﴿٥٥﴾

44- آیا داسي انګېرې چي د دوی ډېری اوري او تعقل کوي؟ دوی خو فقط داسي دي لکه څاروي، بلکي تر دې هم زیات لار ورکي. 45- آیا نه ګورې چي ستا رب څنګه سیوری غزولی، او که ئې غوښتي وی هغه به ئې په ټپه درولی وو، بیا مو لمر پرې دلیل کړ، 46- بیا مو خپل لوري ته په آسانه غونډولو سره راغونډ کړ. 47- او دی همغه ذات دئ چي شپه ئې درته پوښاك، خوب ئې دمه، او ورځ ئې د پاڅون او خوځښت مهال ګرځولې. 48- او دی هغه ذات دئ چي تر خپل رحمت (باران) وړاندي ئې بادونه د زېري په توګه ولېږل، او له آسمانه مو پاکي اوبه رانازلي کړې، 49- چي په همدې سره مړ ښار (مړه زمکه) راژوندی کړو او ډېر هغه حیوانات او خلك پرې خړوبه کړو چي موږ پیدا کړي. 50- او یقیناً چي د دوی تر منځ مو وګرځاوو چي پند واخلي، نو د خلکو اکثریت یوازي له کفران ډډه ونه کړه. 51- او که مو غوښتی نو حتماً به مو په هر کلي کي یو نذیر مبعوث کړی وو، 52- نو د دغو کافرانو اطاعت مه کوه او په همدې (قرآن) سره د دوی په وړاندي د ستر جهاد مجاهده وکړه. 53- او دی هغه ذات دئ چي دوه سمندرونه ئې داسي پرېښي چي دا ئې خوږ او خوندور دئ او دا (بل) ئې مالګین او تریو، او د دوی تر منځ ئې داسي پرده او مانع اچولې چي (د دوی د ګډېدو) مخنیوی کوي. 54- او دی هغه ذات دئ چي له اوبو ئې یو انسان پیدا کړ بیا ئې هغه ته نسب او خسرګنۍ وټاکله، او ستا رب ښه توانمن دئ، 55- او له الله پرته داسي معبودان لمانځي چي نه ګټه وررسولی شي او نه تاوان وررسولی شي او دا کافر د خپل رب په خلاف (د هر معارض) ملاتړی دئ.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٥٦ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ
أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ٥٧ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ
ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا
٥٨ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ
ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ٥٩ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ
ٱسۡجُدُواْۤ لِلرَّحۡمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ أَنَسۡجُدُ لِمَا تَأۡمُرُنَا وَزَادَهُمۡ
نُفُورٗا۩ ٦٠ تَبَارَكَ ٱلَّذِي جَعَلَ فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَجَعَلَ فِيهَا
سِرَٰجٗا وَقَمَرٗا مُّنِيرٗا ٦١ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ خِلۡفَةٗ
لِّمَنۡ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوۡ أَرَادَ شُكُورٗا ٦٢ وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلَّذِينَ
يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ هَوۡنٗا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمٗا
٦٣ وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمۡ سُجَّدٗا وَقِيَٰمٗا ٦٤ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا
ٱصۡرِفۡ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ٦٥ إِنَّهَا
سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ٦٦ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ
يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ٦٧

56- او ته مو یوازې یو زېرى وركوونكى او خبردارى وركوونكى لېږلى يې، 57- ووایه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوك وغواړي د خپل رب لوري ته (د تلو لپاره) لار غوره كړي. 58- او پر هغه ژوندي (رب) توكل وكړه چې نه مري او له ستاینې سره ئې تسبيح وايه، او هغه د خپلو بندګانو د ګناهونو په اړه د ښه باخبر په توګه كافي دئ، 59- هغه چې آسمانونه او زمكه ئې او هغه څه چې په دوى كې دي په شپږو ورځو كې پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استوى وكړه، همغه رحمن (رب) نو له خبير (رب) ئې غوښتنه وكړه. 60- او كله چې دوى ته وويل شي: رحمن رب ته سجده وكړئ؛ وايي: رحمن څه دئ؟! آيا هغه څه ته سجده وكړو چې ته مو پرې ګمارې؟! او كركه ئې ورزياته كړي. 61- مبارك دئ هغه ذات چې په آسمان كې ئې څرګند ځلي (ستوري) رامنځته كړي او په هغه كې ئې روڼ څراغ او روښانه سپوږمۍ پيدا كړې. 62- او دى هغه ذات دئ چې شپه او ورځ ئې يوه د بلې ځاى ناسته كړې، هغه چا ته چې د پند اخيستو اراده لري يا د شكر كولو اراده لري. 63- او د رحمن رب هغه بندګان چې پر زمكه آرام آرام درومي او كله چې جاهلان ورسره مخامخ خبرې كوي وايي: (تاسو ته) سلام، 64- او هغه چې خپل رب ته شپه د سجده كوونكو او قيام كوونكو په توګه تېروي، 65- او هغه چې وايي: اې زموږ ربه! د دوزخ عذاب رانه لرې ساته، يقيناً چې عذاب ئې تل ملزم (او په انسان پسې نښتى) وي، 66- يقيناً چې دا بد ځمځى او استوګنځى دئ، 67- او هغه چې كله انفاق كوي نو نه اسراف كوي او نه كنجوسي (بخل) كوي، او د دې (دواړو) تر منځ پر اعتدال قائم وي،

وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ
ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ
أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا
﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ
ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَن تَابَ
وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾ وَٱلَّذِينَ لَا
يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا
ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا وَعُمۡيَانٗا ﴿٧٣﴾ وَٱلَّذِينَ
يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا
لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ
فِيهَا تَحِيَّةٗ وَسَلَٰمًا ﴿٧٥﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا
﴿٧٦﴾ قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ
فَسَوۡفَ يَكُونُ لِزَامَۢا ﴿٧٧﴾

## سُورَةُ الشُّعَرَاءِ

68- او هغه چي د الله تر څنګ بل معبود نه ګڼي او نه هغه ساکښ
وژني چي الله ئې له حق پرته وژل حرام کړي، او نه زنا کوي، او څوک
چي دا وکړي نو د (خپلې) ګناه بدله به ومومي، 69- د قیامت په ورځ
به عذاب ورته دوه برابره شي او په هغه کې به تلپاته سپك وي، 70-
مګر هغه چي توبه ئې وکړه، ایمان ئې راوړ، او نېك عمل ئې وکړ، چي
الله به د دوی بدي په ښېګڼو بدلې کړي او الله مهربان بخښونکی دئ.
71- او چا چي توبه وکړه او صالح عمل ئې وکړ نو یقیناً چي هغه د
الله لوري ته ورګرځي په سمه توګه ورګرځېدا سره، 72- او هغه چي
دروغجنه ګواهي نه ورکوي، او کله چي پر عبثو چارو تېرېږي د درنو
او عزتمنو په څېر ترې تېرېږي، 73- او هغه چي کله د خپل رب په
آیتونو سره نصیحت ورته وشي نو کاڼه او ړانده نه پر ې پاته کېږي،
74- او هغه چي وایي: اې زموږ ربه! له خپلو مېرمنو او اولادونو د
سترګو سوړوالی راپه برخه کړه، او د متقیانو لپاره مو مخکښ او امام
کړې، 75- دوی هغه دي چي لوړي لوړي ماڼۍ به په بدل کي ورکړی
شي، د هغه صبر له کبله چي دوی کړی او په هغې کي به ښه راغلاست
او سلام پرې اچول کېږي، 76- تلپاته په هغه کي، غوره تمځی او غوره
استوګنځی. 77- ووایه: که ستاسو دعاء نه وی نو (پوهېږئ چي) زما
رب به له تاسو سره څه کړي وو؟ یقیناً چي تاسو (دا عذاب) تکذیب
کړ نو حتماً به (درسره جوخت او) لازم شي.

## الشعراء- مکي سوره- 227 آیتونه

طسٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَٰخِعٞ نَّفۡسَكَ
أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ۝٣ إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ
فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ۝٤ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ
ٱلرَّحۡمَٰنِ مُحۡدَثٍ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهُ مُعۡرِضِينَ ۝٥ فَقَدۡ كَذَّبُواْ
فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٦ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى
ٱلۡأَرۡضِ كَمۡ أَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ۝٧ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ۝٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ۝٩ وَإِذۡ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئۡتِ ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝١٠
قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَۚ أَلَا يَتَّقُونَ ۝١١ قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ
۝١٢ وَيَضِيقُ صَدۡرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرۡسِلۡ إِلَىٰ هَٰرُونَ ۝١٣
وَلَهُمۡ عَلَيَّ ذَنۢبٞ فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ۝١٤ قَالَ كَلَّاۖ فَٱذۡهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآۖ
إِنَّا مَعَكُم مُّسۡتَمِعُونَ ۝١٥ فَأۡتِيَا فِرۡعَوۡنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٦ أَنۡ أَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ۝١٧ قَالَ أَلَمۡ نُرَبِّكَ
فِينَا وَلِيدٗا وَلَبِثۡتَ فِينَا مِنۡ عُمُرِكَ سِنِينَ ۝١٨ وَفَعَلۡتَ فَعۡلَتَكَ
ٱلَّتِي فَعَلۡتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝١٩

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- طاء، سين، ميم، 2- دا د مبين کتاب آيتونه دي، 3- ښايي ته به له دې کبله ځان هلاکوې چي دوی نه مؤمنان کېږي، 4- که وغواړو داسي آيت به له آسمان پرې نازل کړو چي غاړي به ئې ورته کږې شي، 5- او د رحمن رب له لوري چي هر نوی ذکر ورته راځي دوی ترې ډډه کوونکي وي، 6- نو يقيناً چي دوی تکذيب کړ نو حتماً به د هغه څه څرنګوالی ورته معلوم شي چي دوی پرې استهزاء کوله. 7- آيا زمکي ته ئې نه دي کتلي چي څومره غوره غوره جوړې مو په کي راټوکولې دي؟! 8- يقيناً چي په دې کي يوه څرګنده نښه ده، او د دوی ډېری باور کوونکي نه دي، 9- او يقيناً چي ستا رب مهربان عزتمن دئ. 10- او هغه مهال چي ستا رب موسی ته غږ کړ چي د دې ظالم قوم لوري ته راشه، 11- د فرعون قوم ته، آيا (له بدو پايلو) نه وېرېږي؟، 12- وئې ويل: اې زما ربه! زه وېرېږم چي دروغجن به مي وګڼي، 13- سينه مي تنګېږي، ژبه مي (سمه) نه خوځېږي، نو د هارون لوري ته (دا رسالت) ولېږه، 14- او د دوی پر ما د يوې ګناه (الزام) دئ، وېرېږم چي وبه مي وژني. 15- وئې ويل: نه داسي نه ده، دواړه زما له آيتونو سره ولاړ شئ، يقيناً چي موږ درسره اورېدونکي يو، 16- نو فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: يقيناً چي موږ د رب العالمين استازي يو، 17- (له دې پيغام سره ) چي بني اسرائيل راسره ولېږه. 18- وئې ويل: آيا په خپلي (خوا) کي مو د يوه ماشوم په توګه ونه پاللې، او د خپل عمر څو کلونه دي زموږ په خوا کي تېر نه کړل، 19- او خپل هغه کار دي هم وکړ چي ودي کړ، حال دا چي هغه وخت ته هم (زموږ په څېر) د کافرانو له ډلي وې!!

قَالَ فَعَلۡتُهَآ إِذٗا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ٢٠ فَفَرَرۡتُ مِنكُمۡ لَمَّا خِفۡتُكُمۡ
فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمٗا وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢١ وَتِلۡكَ نِعۡمَةٞ تَمُنُّهَا
عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٢٢ قَالَ فِرۡعَوۡنُ وَمَا رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٣
قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ٢٤ قَالَ
لِمَنۡ حَوۡلَهُۥٓ أَلَا تَسۡتَمِعُونَ ٢٥ قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ
٢٦ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِيٓ أُرۡسِلَ إِلَيۡكُمۡ لَمَجۡنُونٞ ٢٧ قَالَ رَبُّ
ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ٢٨ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ
إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ٢٩ قَالَ أَوَلَوۡ جِئۡتُكَ بِشَيۡءٖ
مُّبِينٖ ٣٠ قَالَ فَأۡتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٣١ فَأَلۡقَىٰ عَصَاهُ
فَإِذَا هِيَ ثُعۡبَانٞ مُّبِينٞ ٣٢ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِيَ بَيۡضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ٣٣
قَالَ لِلۡمَلَإِ حَوۡلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٞ ٣٤ يُرِيدُ أَن يُخۡرِجَكُم مِّنۡ
أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِۦ فَمَاذَا تَأۡمُرُونَ ٣٥ قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ وَٱبۡعَثۡ فِي
ٱلۡمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ٣٦ يَأۡتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٖ ٣٧ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ
لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ٣٨ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ٣٩

20- وئې ويل: هغه کار مي کړی، خو په داسي حال کي چي زه له لار ورکو وم، 21- نو کله چي له تاسو ووېرېدم نو درنه وتښتېدم، نو زما رب حکمت راپه برخه کړ او زه ئې له پيغمبرانو وگرځولم، 22- او دغه نعمت چي ته ئې پر ما منت بړدې له دې کبله دئ چي بني اسرائيل دې په مريبتوب نيولي. 23- فرعون وويل: او دا رب العالمين څه او څوك دئ؟ 24- وئې ويل: د آسمانونو او زمکي رب او د هر هغه څه رب چي په دې دواړو کي دي، که يقين کوونکي يئ، 25- (فرعون) هغو ته چي د ده شاوخوا کي ول وويل: آيا نه اورئ؟ 26- وئې ويل: همغه ستاسو رب او ستاسو د لومړنيو پلرونو رب، 27- وئې ويل: يقيناً چي ستاسو لوري ته دا لېږل شوی پيغمبر حتماً لېونی دئ!! 28- وئې ويل: همغه د مشرق او مغرب رب او د هر هغه څه رب چي د دوی تر منځ دي، که تاسو تعقل وکړئ، 29- وئې ويل: که له ما پرته دي بل اله ونيو نو حتماً به دي له (نورو) زندانيانو سره يوځای کړم. 30- وئې ويل: که څه هم ځرگنده نښه دروړاندي کړم؟! 31- هغه وويل: رائې وړه که له رښتينو يې! 32- نو خپله عصا ئې وغورځوله چي ښکاره مار (ترې جوړ) شو 33- او خپل لاس ئې راوايست چي ليدونکو ته ځلانده وو. 34- (فرعون) په خپلي خوا کي درباريانو ته وويل: دا خو ډېر پوه جادوگر دئ، 35- غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ 36- وئې ويل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کي راغونډوونکي (جارچيان او اربکي) وگماره، 37- تر څو ټول پوه ماهر جادوگران درته راولي. 38- کوډگران د معلومي ورځي ميقات ته راغونډ کړی شول، 39- او خلکو ته وويل شول: آيا تاسو هم غونډېدونکي يئ؛

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ
قَالُواْ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ
وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُواْ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ
﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْاْ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُواْ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ
﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِىَ
ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ
وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ
ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ
وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ قَالُواْ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ
إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ
أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾ ۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم
مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ
لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ
﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾
كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾

40- تر څو د دغو سحره وو متابعت وکړو که غالب شول؟ 41- نو کله چې
جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که موږ برلاسي شوو نو آیا موږ ته به
حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! 42- وئې ویل: هو! او په هغه صورت
کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربینو په ډله کې وئ!! 43- موسی ورته وویل:
څه چې (د جادو ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! 44- نو خپل پړي
او عصاګاني ئې وغورځول او وئې ویل: د فرعون په عزت قسم چې موږ
هرو مرو غالبېدونکي یو!! 45- نو موسی خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه
ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، 46- نو جادوګران په سجده
پرېوتل، 47- او وئې ویل: پر رب العالمین مو ایمان راوړ، 48- د موسی او
هارون پر رب. 49- (فرعون) وویل: آیا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم
تاسو ایمان راوړ؟!! په دې کې شك نشته چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې
جادو ئې درښودلی، نو ژر به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو
پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم. 50- (دوی) وویل:
باك نشته، موږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي یو، 51- طمع مو دا ده
چې زموږ رب به زموږ خطاګاني له دې کبله راته وبخښي چې لومړني ایمان
راوړونکي شوو. 52- او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان په شپه کې
روان کړه، (دوی وړاندي او ته ئې تر شا)، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي،
53- نو فرعون ښارونو ته اربکي ولېږل، 54- (او وئې ویل) : دا یو لږکی ټولګی
دئ، 55- او دا دوی دي چې زموږ غصه ئې راپارولې، 56- او یقیناً چې موږ
یو محتاط ټولی یو. 57- نو له باغونو او چینو مو وایستل، 58- او له خزانو
او غوره استوګنځیو، 59- همداسي؛ او بني اسرائیلو ته مو په میراث ورکړل.
60- نو د لمرخاته پر مهال ورپسې شول،

فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآۖ
إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ
ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ
ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا
ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ
رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذۡ قَالَ
لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا
عَٰكِفِينَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ
أَوۡ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ
أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ ﴿٧٦﴾
فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾ ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ
﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ﴿٨٠﴾
وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي
يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾

61- او کله چې دواړو ډلو یو بل سره ولیدل د موسی ملګرو وویل: شك نشته چې موږ وموندل شوو، 62- وئې ویل: داسي نه ده؛ یقیناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار راښیي، 63- نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سیند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، 64- هغه ځای ته مو هغه نور هم رانژدې کړل، 65- او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، 66- بیا مو هغه نور غرق کړل. 67- یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول، 68- او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ. 69- او د ابراهیم قصه ورواوروه، 70- کله چې هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل: دا څه دي چې تاسو ئې لمانځئ؟ 71- وئې ویل: څه بُتان لمانځو چې ورته اعتکاف کوونکي کېږو، 72- وئې ویل: آیا کله چې دعاء کوئ ستاسو (دعاء) اوري؟ 73- یا ګټه او یا تاوان دررسولی شي؟ 74- وئې ویل: نه؛ بلکې خپل پلرونه مو داسي موندلي چې همداسي ئې کول! 75- وئې ویل: آیا پوهېږئ؛ هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ، 76- تاسو او ستاسو وړاندیني پلرونه، 77- هغوی زما دښمنان دي، مګر رب العالمین، 78- هغه چې زه ئې پیدا کړم او ما هدایتوي، 79- او هغه چې خوراك او څښاك راکوي، 80- او کله چې ناروغ شم شفا راکوي، 81- او هغه چې ما مړوي (وژني) بیا مې راژوندی کوي، 82-او هغه چې دا طمع (ترې) لرم چې د قیامت په ورځ زما خطاګاني راوبخښي. 83- اې زما ربه! حکمت راپه برخه کړه او له صالحانو سره مې یو ځای کړه،

وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ
ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ
يُبۡعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ مَالٞ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ
سَلِيمٖ ﴿٨٩﴾ وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِلۡغَاوِينَ ﴿٩١﴾
وَقِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلۡ يَنصُرُونَكُمۡ
أَوۡ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبۡكِبُواْ فِيهَا هُمۡ وَٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبۡلِيسَ
أَجۡمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُواْ وَهُمۡ فِيهَا يَخۡتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَٰلٖ
مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذۡ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلۡمُجۡرِمُونَ
﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٖ ﴿١٠١﴾ فَلَوۡ أَنَّ لَنَا كَرَّةٗ
فَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ
ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمۡ
رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ
أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾
۞قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾

84- او په وروستنيو کې رښتينې ژبه (رښتينې يادوَنه) راته وګرځوه، 85- او
د نعيم جنت له وارثانو مې کړه، 86- او زما پلار ته بخښنه وکړه يقيناً چې
هغه له لارورکو وو، 87- او په هغه ورځ مې مه رسوا کوه چې بيا راپاڅول
کېږي، 88- هغه ورځ چې نه مال ګټه رسولی شي او نه زامن، 89- مګر هغه
چا ته چې له روغ زړه سره راشي. 90- او جنت به متقينو ته نژدې کړی
شي، 91- او دوزخ به لارورکو ته څرګند کړی شي، 92- او ورته وبه ويل شي:
هغه چې تاسو له الله پرته لمانځل چېرې دي؟ 93- آيا ستاسو مرسته کولی
شي يا د ځان مرسته کولی شي؟ 94- نو هم به دوی په کې نسکور کړی شي
او هم دا لارورکي، 95- او هم د شيطان ټولې لښکرې، 96- په داسې حال کې
چې په خپلو کې به شخړه کوي، 97- (وبه وايي:) قسم په خدای چې مونږ
په څرګند ضلالت او بې لارې کې وو، 98- چې تاسو مو له رب العالمين سره
برابرګرځولې وئ، 99- مونږ بل چا نه يو بې لارې کړي مګر دغو مجرمينو،
100- اوس نه شفاعت کوونکي لرو، 101- او نه کوم خواخوږی دوست،
102- نو که موږ ته بېرته ستنېدا راپه برخه شوه نو له مؤمنانو به وو. 103-
يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول، 104-
او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ. 105- د نوح قوم پيغمبران تکذيب
کړل، 106- هغه مهال چې د دوی ورور نوح ورته وويل: آيا ځان ساتنه نه
کوئ؟ 107- زه درته امين استازی يم، 108- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت
وکړئ. 109- او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر يوازې پر رب
العالمين دئ، 110- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 111- وئې ويل:
آيا ايمان درته راوړو په داسې حال کې چې پربوتي (ټيټ وزمي) ستا متابعت
کوي؟!!

قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ
تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿١١٥﴾
قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمَرۡجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ
قَوۡمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفۡتَحۡ بَيۡنِي وَبَيۡنَهُمۡ فَتۡحٗا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ
أَغۡرَقۡنَا بَعۡدُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ
﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتۡ عَادٌ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذۡ
قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ
رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبۡنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةٗ تَعۡبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ
مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُونَ ﴿١٢٩﴾ وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾
فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِيٓ أَمَدَّكُم بِمَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٣٢﴾
أَمَدَّكُم بِأَنۡعَٰمٖ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ
عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٣٥﴾ قَالُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ أَوَعَظۡتَ أَمۡ لَمۡ تَكُن مِّنَ
ٱلۡوَٰعِظِينَ ﴿١٣٦﴾

112- وئې ويل: په هغه څه چي دوی کولو زه څه پوهېږم، 113- د دوی محاسبه خو یوازي زما د رب پر ذمه ده، کاش (تاسو) پوهېدئ، 114- او زه د مؤمنانانو شړونکی نه یم، 115- زه فقط یو څرګند نذیر یم. 116- وئې ویل: اې نوح! که دېده ونه کړې حتماً به له سنګسار شوو شې. 117- وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چي زه خپل قوم تکذیب کړم، 118- نو زما او د دوی تر منځ کومه پرېکړه وکړه او ما او هغه مؤمنان چي له ما سره دي وژغوره. 119- نو موږ دی او هغه چي له ده سره ول په ډکي کښتۍ کي وژغورل، 120- بیا مو پاته (وګړي) غرق کړل. 121- یقیناً چي په دې کي ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول، 122- او یقیناً چي ستا رب مهربان عزتمن دئ. 123- عادیانو پیغمبران تکذیب کړل، 124- هغه مهال چي د دوی ورور هود ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ 125- زه درته امین استازی یم، 126- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 127- او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازي پر رب العالمین دئ. 128- آیا په هري لوړي په داسي حال کي یو ځلی جوړوئ چي خوشي به لګیا یئ، 129- او داسي ماڼۍ غوره کوئ چي ګواکي تلپاته یئ، 130- او کله چي (چا ته) لاس اچوئ نو د جابرانو په توګه لاس اچوئ. 131- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، 132- او له هغه چا ووېرېږئ چي په داسي څه ئې ستاسو مرسته کړې چي پرې پوهېږئ، 133- په څارویو او زامنو سره ئې ستاسو مرسته وکړه، 134- او په باغونو او چینو سره، 135- یقیناً چي زه د لويي ورځي له عذاب درباندي وېرېږم. 136- وئې ویل: راته یو شاني ده چي که وعظ راته وکړې او که له واعظانو نه وې،

إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ
فَأَهۡلَكۡنَٰهُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٣٩﴾
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذۡ
قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ﴿١٤٣﴾
فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ
إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتۡرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي
جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٖ وَنَخۡلٖ طَلۡعُهَا هَضِيمٞ ﴿١٤٨﴾ وَتَنۡحِتُونَ
مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا
تُطِيعُوٓاْ أَمۡرَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا
يُصۡلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلۡمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا
بَشَرٞ مِّثۡلُنَا فَأۡتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِۦ
نَاقَةٞ لَّهَا شِرۡبٞ وَلَكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ
فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ
﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

137-يقيناً چې دا د لومړنيو (وړاندينيو خلکو) خوی (دود دستور) دئ، 138- او موږ تعذيب کېدونکي نه يو، 139- نو هغه ئې تکذيب کړ نو موږ هلاك کړل، يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول، 140- او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ. 141- ثموديانو پيغمبران تکذيب کړل، 142- هغه مهال چې د دوی ورور صالح ورته وويل: آيا ځان ساتنه نه کوئ؟ 143- زه درته امين استازی يم، 144- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 145- او له تاسو هيڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر يوازې پر رب العالمين دئ. 146- آيا په هغه څه کې به خوندي پرېښودی شئ چې دلته دي، 147- په باغونو او چينو کې، 148- په کښتونو او د خرما په داسې ونو کې چې وږي ئې له ډکوالي ځوړند دي، 149- او د کبرجنو په توګه په ځينو غرونو کې ځيني کورونه تراشئ، 150- نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، 151- او د مسرفينو د امر اطاعت مه کوئ، 152- هغه چې په زمکې کې فسادونه کوي او رغونه او اصلاح نه کوي. 153- وئې ويل: يقيناً چې ته له هغو يې چې کوډې پرې شوې، 154- ته نه يې مګر زموږ په څېر يو انسان، نو کومه نښه راوړه که له رښتينو يې. 155- وئې ويل: دا يوه اوښه ده چې ځانګړی اوبه خور ئې دئ او تاسو ته د يوې معلومې ورځې اوبه خور، 156- او تاوان مه وررسوئ که نه نو د يوې سترې ورځې عذاب به مو ونيسي، 157- نو هغه ئې ټپي کړه چې په نتيجه کې ئې پښېمان شول، 158- نو هغه عذاب ونيول، يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول، 159- او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٦٠ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ أَخُوهُمۡ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ
١٦١ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٦٢ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٦٣ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ
عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٤ أَتَأۡتُونَ ٱلذُّكۡرَانَ
مِنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٥ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۚ
بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٌ عَادُونَ ١٦٦ قَالُواْ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ
ٱلۡمُخۡرَجِينَ ١٦٧ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلۡقَالِينَ ١٦٨ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهۡلِي
مِمَّا يَعۡمَلُونَ ١٦٩ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ١٧٠ إِلَّا عَجُوزٗا فِي
ٱلۡغَٰبِرِينَ ١٧١ ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ١٧٢ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ فَسَآءَ
مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٣ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ١٧٤
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ١٧٥ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ
١٧٦ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ شُعَيۡبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ١٧٧ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٧٨
فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ١٧٩ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا
عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٠ ۞أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ
١٨١ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ١٨٢ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ
وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ١٨٣

160- د لوط قوم پیغمبران تکذیب کړل، 161- هغه مهال چې د دوی ورور لوط ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ 162- زه درته امین استازی یم، 163- نو له الله وویرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 164- او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ. 165- آیا تاسو له (ټولو) نړۍ والو؛ نارینه وو ته (د جنسي نژدېکت په موخه) درومئ، 166- او خپلې هغه مېرمنې پرېږدئ چې ستاسو رب درته پیدا کړې دي؟ نه، بلکې تاسو سرکښ وګړي یئ، 167- وئې ویل: اې لوطه! که ډډه ونه کړې حتماً به له اخراج شوو شې. 168- وئې ویل: یقیناً چې زه ستاسو (د دې) عمل (په وړاندې) له کرکه کوونکو یم. 169- اې زما ربه! ما او زما ټبر له هغه څه وژغورې چې دوی ئې کوي، 170- نو دی او د ده ټول ټبر مو وژغورو، 171- له یوې بوډۍ پرته چې په وروسته پاته شوو کې وه، 172- بیا مو نور ویجاړ (هلاك) کړل، 173- او خاص باران مو پرې ووراوو، نو څومره بد دئ د دغو انذار کړی شوو باران!! 174- یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول، 175- او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ. 176- ایکه والو پیغمبران تکذیب کړل، 177- هغه مهال چې شعیب ورته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ؟ 178- زه درته امین استازی یم، 179- نو له الله وویرېږئ او زما اطاعت وکړئ. 180- او له تاسو هیڅ اجر نه پرې غواړم، زما اجر یوازې پر رب العالمین دئ. 181- پیمانه پوره پوره ورکوئ او له کموونکو مه کېږئ، 182- په سمې تلې سره تلل وکړئ، 183- او د خلکو شیان مه کموئ، او په زمکې کې فساد خوروونکي مه کېږئ،

وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ
ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ
ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ
عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ
ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِىٍّ
مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن
يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ
ٱلْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ
سَلَكْنَٰهُ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ
ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُواْ
هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَءَيْتَ إِن
مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾

184- او له هغه ذات ووېرېږئ چي تاسو او لومړني نسلونه ئې پيدا کړيځ. 185- وئې ويل: يقيناً چي ته له هغو يې چي کوډي پرې شوې، 186- او ته نه يې مګر زموږ په څېر يو انسان، او موږ دا ګمان درباندي کوو چي ته حتماً له دروغجنو يې، 187- نو له آسمانه پر موږ کومه ټوټه راپرې باسه که له رښتينو يې!! 188- وئې ويل: زما رب په هغه څه ښه پوه دئ چي تاسو ئې کوئ، 189- نو دی ئې تکذيب کړ او د سيوري ورځې عذاب ونيول، يقيناً دا د يوې ستري ورځې عذاب وو. 190- يقيناً چي په دې کي ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول، 191- او يقيناً چي ستا رب مهربان عزتمن دئ. 192- او دا يقيناً چي د رب العالمين له لوري لېږنه ده، 193- روح الامين نازل کړی، 194- ستا پر زړه باندي چي له منذِرينو وې، 195- په څرګندي عربي ژبي کي، 196- او يقيناً چي دا په لومړنيو کتابونو کي دئ، 197- آيا دا ورته يوه څرګنده نښه نه ده چي د بني اسرائيلو علماء پرې پوهېږي؟ 198- او که پر ځينو غيرعربو مو نازل کړی وی، 199- او دوی ته ئې لوستلی؛ (بيا به هم) پر هغه باور کوونکي نه ول، 200- همداسي مو د مجرمينو په زړونو کي ننايستی، 201- تر هغه ايمان نه پرې راوړي چي دردناک عذاب وګوري، 202- نو ناڅاپي به ورته راشي، په داسي حال کي چي دوی به بې خبره وي، 203- نو وايي به: آيا موږ ته به فرصت راکړی شي!! 204- نو آيا زموږ عذاب په تلوار سره غواړي؟! 205- آيا پام دي شوی چي که څو کلونه ئې (له دنيايي متاع) برخمن کړو، 206- بيا هغه څه ورشي چي وعده ئې ورسره کېږي،

مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا
لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكۡرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ
ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمۡ وَمَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمۡ عَنِ
ٱلسَّمۡعِ لَمَعۡزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ
لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا
تَعۡمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ
تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ
﴿٢٢٠﴾ هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ
أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ﴿٢٢٢﴾ يُلۡقُونَ ٱلسَّمۡعَ وَأَكۡثَرُهُمۡ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ وَٱلشُّعَرَآءُ
يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمۡ تَرَ أَنَّهُمۡ فِي كُلِّ وَادٖ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمۡ
يَقُولُونَ مَا لَا يَفۡعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
وَذَكَرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱنتَصَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ
ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

## سُورَةُ النَّمۡلِ

207- نو هغه څه چې دوی پرې برخمن کېدل څه به لدوی دفع کړي؟
208- او موږ هیڅ کلی نه دئ هلاك کړی مګر دا چې انذار کوونکې ئې
ول، 209- د پند په توګه؛ او موږ ظلم کوونکي نه وو. 210- او شیطانانو
نه دئ راکوز کړی، 211- او دوی ته نه ښایي او نشي توانېدی، 212-
یقیناً چې دوی ئې له اورېدو هم ګوښه کړی شوي. 213- نو له الله
سره بل معبود مه دربله، که نه نو له معذَبینو به شې، 214- او نژدې
خپلوان دي انذار کړه، 215- او خپل وزر هغو مؤمنانو ته کوز ساته
چې ستا متابعت ئې کړی، 216- او که ئې سرغړاوی درنه وکړ ووایه:
زه له هغه څه بې زار یم چې تاسو ئې کوئ، 217- او پر مهربان عزتمن
رب توکل کوه، 218- همغه چې تا ګوري، هغه مهال هم چې ته
ودرېږې، 219- او په سجده کوونکو کې ستا ګښته پورته کېدا هم، 220-
یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ. 221- آیا خبر مو کړم چې شیطانان
پر چا راکوزېږي، 222- پر هر ګنهګار دروغجن، 223- غوږ ږدي په
داسي حال کې چې ډېری ئې دروغجن دي. 224- او دا شاعران خو (هغه
دي چې) لارورکي ئې متابعت کوي، 225- آیا نه ګورې چې په هر ناو
کې لالهانده وي، 226- او دوی هغه څه وایي چې نه ئې کوي. 227-
په استثنی د هغو چې ایمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي، الله ئې
ډېر یاد کړی او وروسته له هغه چې ظلم پرې شوی غچ ئې اخیستی،
او ظالمان به ډېر ژر پوه شي چې په کومي کندي کې به نسکور کړی
شي!

## النمل- مکي سوره- 93آیتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡقُرۡءَانِ وَكِتَابٖ مُّبِينٍ ١ هُدٗى وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ
٢ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ
٣ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُمۡ يَعۡمَهُونَ
٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡعَذَابِ وَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ
٥ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلۡقُرۡءَانَ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ٦ إِذۡ قَالَ مُوسَىٰ
لِأَهۡلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا سَـَٔاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ ءَاتِيكُم بِشِهَابٖ
قَبَسٖ لَّعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ٧ فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي
ٱلنَّارِ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٨ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا
ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩ وَأَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ
وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفۡ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ
ٱلۡمُرۡسَلُونَ ١٠ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسۡنَۢا بَعۡدَ سُوٓءٖ فَإِنِّي غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ١١ وَأَدۡخِلۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖۖ فِي
تِسۡعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ١٢ فَلَمَّا
جَآءَتۡهُمۡ ءَايَٰتُنَا مُبۡصِرَةٗ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١٣

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- طا، سين، دا د دې قرآن آيتونه دي او د يوه ښکاره کتاب، 2- مؤمنانو ته لارښوونه او زېرى، 3- هغو ته چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او پر آخرت يقين کوي، 4- يقيناً هغه چې پر آخرت ايمان نه راوړي؛ دوى ته مو خپل خپل عملونه ښايسته کړي نو دوى لالهاند دي، 5- دوى همغه دي چې بد عذاب ئې په برخه دئ او دوى به په آخرت کې لازيات زيانمن وي. 6- او يقيناً چې تا ته دا قرآن د يوه باحکمت ذات له لوري درکول کېږي. 7- هغه مهال چې موسى خپل ټبر ته وويل: ما يو اور وليد، له هغه به يا حتماً کوم خبر درته راوړم يا په موټ کې نيول شوې لمبه، چې ځان تود کړئ، 8- نو کله چې ورغى ورغږ شو چې هغه هم مبارک کړى شوى چې په اور کې دئ او هغه هم چې شاوخوا کې ئې دئ، او پاکي د عالمونو رب الله ته ده، 9- اې موسى! خبره دا ده چې يقيناً زه باحکمت عزتمن الله يم، 10- او عصا دي وغورځوه، او کله چې ئې هغه داسي وليده لکه چې خوځنده مار وي نو په داسي حال کې ئې (په تېښته) مخ ترې واړاوو چې شا ئې ور اړولې وه او شا ته ئې ونه کتل، اې موسى! مه وېرېږه، يقيناً چې زما خوا ته پيغمبران نه وېرېږي، 11- مگر هغه چې ظلم ئې وکړ، بيا ئې له بدو وروسته نېکي په بدل کې وکړه، نو يقيناً چې زه مهربان بخښونکى يم. 12- او لاس دي په گرېوان کې دننه کړه، چې له داغ پرته به تک سپين راووځي، په نهو نښو کې د فرعون او د هغه د قوم په لوري، يقيناً چې دوى فاسق وگړي دي، 13- نو کله چې زموږ ښکاره سترگي پرانيستونکې نښې ورغلې وئې ويل: دا ښکاره جادو دئ!!

وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ١٤ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ عِلۡمٗاۖ وَقَالَا
ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّنۡ عِبَادِهِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٥ وَوَرِثَ
سُلَيۡمَٰنُ دَاوُۥدَۖ وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمۡنَا مَنطِقَ ٱلطَّيۡرِ وَأُوتِينَا
مِن كُلِّ شَيۡءٍۖ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡمُبِينُ ١٦ وَحُشِرَ لِسُلَيۡمَٰنَ
جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ وَٱلطَّيۡرِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ١٧ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ
عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ مَسَٰكِنَكُمۡ لَا
يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ١٨ فَتَبَسَّمَ
ضَاحِكٗا مِّن قَوۡلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ
أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَدۡخِلۡنِي
بِرَحۡمَتِكَ فِي عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٩ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيۡرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ
أَرَى ٱلۡهُدۡهُدَ أَمۡ كَانَ مِنَ ٱلۡغَآئِبِينَ ٢٠ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابٗا شَدِيدًا أَوۡ
لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ٢١ فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيدٖ فَقَالَ
أَحَطتُ بِمَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ وَجِئۡتُكَ مِن سَبَإِۭ بِنَبَإٖ يَقِينٍ ٢٢

14- نو په داسي حال کې ئې د ظلم او کبر له کبله انکار ترې وکړ چي زړونو ئې پرې باور کړی وو، نو وګوره چي د دغو مفسدينو پايله څنګه وه. 15- او يقيناً چي داؤد او سليمان ته مو څانګړی علم ورکړ، او دواړو وويل: ستاينه هغه الله ته ده چي موږ ته ئې پر خپلو ډېرو مؤمنو بندګانو فضيلت راکړ، 16- او سليمان د داؤد وارث شو، او وئې ويل: اې خلکو! د مرغانو وينا راښودل شوې، او هر څه راکړی شوي، يقيناً چي دا ښکاره فضيلت دئ، 17- او سليمان ته د انسانانو، پېريانو او مرغانو خپلې لښکري داسي راغونډې کړی شوې چي دوی منضبط کړی شوي وو، 18- تر هغه چي (سليمان او لښکري ئې) د مېږيو درې ته ورسېدل، يوې مېږۍ وويل: اې مېږيو! خپلو استوګنځيو ته ننوځئ، داسي نه چي سليمان او د ده لښکري تاسو تر پښو لاندې کړي په داسي حال کې چي هغوی به نه پوهېږي. 19- نو د دې د وينا له کبله خندېدونکی موسکی شو او وئې ويل: اې زما ربه! دا (توفيق) راپه برخه کړه چي ستا د هغو نعمتونو شکر وکړم چي پر ما او زما پر پلار مور دې پېرزو کړي، او چي هغه نېك عمل وکړم چي ته ئې خوښوې او په خپل رحمت سره مې په خپلو صالح بندګانو کې داخل کړې. 20- نو د مرغانو پلټنه ئې وکړه او وئې ويل: پر ما څه شوي چي هُدهُد نه ګورم او که هغه غائب دئ؟ 21- حتماً به ئې په سخت عذاب سره تعذيب کړم، يا به ئې ذبح (حلال) کړم يا به هرو مرو ما ته څرګند دليل وړاندې کوي، 22- نو درنګ ئې وکړ له ډېر څنډ پرته او وئې ويل: په هغه څه مې علماً احاطه کړې چي تا پرې احاطه نه ده کړې او له سبا مې يو يقيني خبر درته راوړی،

إِنِّي وَجَدتُّ ٱمۡرَأَةٗ تَمۡلِكُهُمۡ وَأُوتِيَتۡ مِن كُلِّ شَيۡءٖ وَلَهَا عَرۡشٌ
عَظِيمٞ ٢٣ وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ
وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ فَهُمۡ لَا
يَهۡتَدُونَ ٢٤ أَلَّا يَسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي يُخۡرِجُ ٱلۡخَبۡءَ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُخۡفُونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ٢٥ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ۩ ٢٦ ۞قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ٢٧ ٱذۡهَب بِّكِتَٰبِي هَٰذَا فَأَلۡقِهۡ إِلَيۡهِمۡ ثُمَّ تَوَلَّ عَنۡهُمۡ
فَٱنظُرۡ مَاذَا يَرۡجِعُونَ ٢٨ قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ إِنِّيٓ أُلۡقِيَ إِلَيَّ
كِتَٰبٞ كَرِيمٌ ٢٩ إِنَّهُۥ مِن سُلَيۡمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ
ٱلرَّحِيمِ ٣٠ أَلَّا تَعۡلُواْ عَلَيَّ وَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ٣١ قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلۡمَلَؤُاْ أَفۡتُونِي فِيٓ أَمۡرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمۡرًا حَتَّىٰ تَشۡهَدُونِ ٣٢
قَالُواْ نَحۡنُ أُوْلُواْ قُوَّةٖ وَأُوْلُواْ بَأۡسٖ شَدِيدٖ وَٱلۡأَمۡرُ إِلَيۡكِ فَٱنظُرِي
مَاذَا تَأۡمُرِينَ ٣٣ قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا
وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۚ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ٣٤ وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم
بِهَدِيَّةٖ فَنَاظِرَةُۢ بِمَ يَرۡجِعُ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٣٥

23- ما داسي وموندل چې يوه مېرمن ئې واکمني کوي او هر څه ورکړی
شوي او ستر تخت ئې وو، 24- دا او د دې قوم مې داسي وموندل چې
له الله پرته ئې لمر ته سجده کوله، او شيطان خپل عملونه ورته ښايسته
کړي وو او له لاري ئې تېر ايستي وو نو دوی نه هدايت کېږي. 25- چې
هغه الله ته سجده ونه کړي چې په آسمانونو او زمکي کې پټ (شيان او
اسرار) رابرسېره کوي، او په هغه څه هم پوهېږي چې تاسو ئې پټوئ او
په هغه څه هم چې تاسو ئې ښکاره کوئ، 26- هغه الله چې له ده پرته
بل معبود نشته؛ د ستر عرش رب. 27- وئې ويل: ژر به وگورو چې رښتيا
دي ويلي که له دروغجنو يې، 28- زما دا ليك يوسه، دوی ته ئې ورواچوه،
بيا ترې شا ته شه، او وگوره چې څه ته رجوع کوي (څه تصميم نيسي)،
29- وئې ويل: اې درباريانو! يقيناً چې ما ته يو مهم ليك راغورځول شوی،
30- هغه د سليمان له لوري دئ، او هغه داسي دئ چې (وايي) د هغه
الله په نامه چې ډېر زيات رحم کوونکی مهربان دئ، 31- (وايي) چې زما
په وړاندي لويي مه کوئ او تسليم شوي راته راشئ. 32- (ملکې) وويل:
اې درباريانو! په دې کار کې مي مشوره راکړئ، زه خو تر هغه د کوم کار
پرېکړه نه کوم چې تاسو راته حاضر شئ! 33- هغوی وويل: موږ ځواکمن
يو او کلك جنگيالي، او کار تا ته محول دئ، نو وگوره چې څه امر کوې!!
34- وئې ويل: يقيناً چې کله دا پاچايان کوم کلي ته ننوځي تباه ئې کړي
او عزتمن ئې ذليل کړي، او همداسي کوي، 35- او زه دوی ته د يوې
هديې لېږونکې يم، بيا د دې ناظره چې استازي له څه سره راگرځي.

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُمۚ
بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ تَفۡرَحُونَ ٣٦ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ
لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٣٧ قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ
أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ٣٨ قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ
ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ وَإِنِّي عَلَيۡهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٞ
٣٩ قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ
إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي لِيَبۡلُوَنِيٓ
ءَأَشۡكُرُ أَمۡ أَكۡفُرُۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي
غَنِيّٞ كَرِيمٞ ٤٠ قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرۡشَهَا نَنظُرۡ أَتَهۡتَدِيٓ أَمۡ تَكُونُ مِنَ
ٱلَّذِينَ لَا يَهۡتَدُونَ ٤١ فَلَمَّا جَآءَتۡ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرۡشُكِۖ قَالَتۡ كَأَنَّهُۥ هُوَۚ
وَأُوتِينَا ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهَا وَكُنَّا مُسۡلِمِينَ ٤٢ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعۡبُدُ مِن
دُونِ ٱللَّهِۖ إِنَّهَا كَانَتۡ مِن قَوۡمٖ كَٰفِرِينَ ٤٣ قِيلَ لَهَا ٱدۡخُلِي ٱلصَّرۡحَۖ فَلَمَّا
رَأَتۡهُ حَسِبَتۡهُ لُجَّةٗ وَكَشَفَتۡ عَن سَاقَيۡهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ صَرۡحٞ مُّمَرَّدٞ مِّن قَوَارِيرَۗ
قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي وَأَسۡلَمۡتُ مَعَ سُلَيۡمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٤٤

36- نو کله چې سلیمان ته راغی وئې ویل: آیا په مال سره مې مدد کوئ؟! حال
دا چې څه الله راکړي تر هغه ډېر غوره دي چې تاسو ته ئې درکړي، نه؛ بلکې تاسو
پر خپلې هدیې خوښي کوئ، 37- دوی ته ورستون شه، هرومرو به له داسې
لښکرو سره ورشو چې دوی به ئې د مقابلې توان نه لري، او حتماً به په داسې
حال کې دوی ترې وباسو چې دوی به ذلیل او سپك وي. 38- وئې ویل: اې
درباریانو! ستاسو کوم یو به د هغې تخت تر هغه وړاندې ما ته راوړي چې دوی
تسلیم شوي راشي؟ 39- یوه پیاوړي پېري وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم
چې ته له خپله ځایه پورته شې، او زه پرې توانمن او امین یم، 40- هغه چا چې
د کتاب څه علم (هم) ورسره وو وویل: زه به ئې تر هغه وړاندې راوړم چې د
سترګې آخري لید دې درته راشي، نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای پر
ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومې آزمويي،
آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم، او څوك چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او
څوك چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن غني (بې نیاز) دئ. 41- وئې ویل: تخت
ئې ورته ناآشنا غوندې کړئ، چې وګورو هدایت کېږي او که له هغو ګرځي چې
نه هدایت کېږي، 42- کله چې راغله ورته وویل شول: آیا ستا تخت دغسې دئ؟
وئې ویل: داسې دئ لکه چې همغه وي، او تر دې وړاندې پوهه راکړی شوې، او
موږ مسلمان شوي یو، 43- او له هغه څه ئې راوګرځوله چې له الله پرته ئې
لمانځو، یقیناً چې هغه له کافرو وګړو وه، 44- ورته وویل شو: دې ماڼۍ ته ننوځه،
کله چې ئې هغه ولیده د اوبو د حوض ګمان ئې پرې وکړ او خپلې پونډۍ ئې
لوڅې کړې، وئې ویل: دا خو یوه ماڼۍ ده چې فرش ئې د شیشو دئ، وئې ویل:
اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم کړی، او (اوس) له سلیمان سره یو
ځای د عالمونو رب الله ته منقاد شوې یم.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ فَإِذَا
هُمۡ فَرِيقَانِ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ لِمَ تَسۡتَعۡجِلُونَ
بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِۖ لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُواْ ٱطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَۚ قَالَ طَٰٓئِرُكُمۡ عِندَ
ٱللَّهِۖ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تُفۡتَنُونَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ
يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ
لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ
وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا
يَشۡعُرُونَ ﴿٥٠﴾ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ
وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥١﴾ فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ بِمَا ظَلَمُوٓاْۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٥٢﴾ وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ
يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾ وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ وَأَنتُمۡ
تُبۡصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ
بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ﴿٥٥﴾

45- او يقيناً چي ثمودیانو ته مو د دوی ورور صالح ورولیږو چي د الله عبادت وکړئ، نو ناڅاپه دوی دوه ډلي شول چي په خپلو کي په شخړه بوخت شول، 46- وئې ویل: اې زما قومه! ولي بدي تر نېکي وړاندي په تلوار سره غواړئ، ولي له الله بخښنه نه غواړئ چي رحمت درباندي وشي؟! 47- وئې ویل: موږ پر تا او پر هغو چي له تا سره دي بدفالي نېولې (د بدمرغي سبب مو ګڼو)، وئې ویل: بدمرغي مو له الله سره ده، بلکي تاسو داسي وګړي یئ چي آزمویل کېږئ، 48- او په ښار کي نه ډلمشران ول چي په زمکي کي ئې فسادونه کول او رغونه ئې نه کوله، 49- وئې ویل: د الله په نامه لوړه وکړئ چي د شپې له لوري به پر ده او د ده پر ټبر یرغل کوو؛ بیا به ئې وارث ته وایو چي موږ د ده د ټبر د هلاکت په وخت کي حاضر نه وو او یقیناً چي موږ رښتیني یو، 50- نو دوی هم یو پټ تدبیر وکړ او موږ هم په داسي حال کي یو پټ تدبیر وکړ چي دوی بې خبره ول، 51- نو وګوره چي د دوی د پټ تدبیر پایله څنګه وه، څنګه مو دوی او د دوی ټول قوم ویجاړ ویجاړ کړل!! 52- او دا دي د دوی کورونه چي له دې کبله تش پاته دي چي ظلم ئې وکړ، یقیناً چي په دې کي د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چي پوهېږي، 53- او هغه مو وژغورل چي ایمان ئې راوړ او پرهېزګاري ئې کوله. 54- او لوط چي کله ئې خپل قوم ته وویل: آیا دې فحش کار ته په داسي حال کي وړاندي کېږئ چي تاسو (یو بل ته) ګورئ، 55- آیا تاسو له ښځو پرته نارینه وو ته د شهوت په موخه وړاندي کېږئ، بلکي تاسو په جهالت کي پرېوتونکي وګړي یئ،

۞فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوٓاْ ءَالَ لُوطٖ مِّن
قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ٥٦ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا
ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَٰهَا مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٥٧ وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِم مَّطَرٗاۖ
فَسَآءَ مَطَرُ ٱلۡمُنذَرِينَ ٥٨ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ
ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓۗ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا يُشۡرِكُونَ ٥٩ أَمَّنۡ خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ
حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ مَّا كَانَ لَكُمۡ أَن تُنۢبِتُواْ شَجَرَهَآۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ
ٱللَّهِۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ يَعۡدِلُونَ ٦٠ أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا وَجَعَلَ
خِلَٰلَهَآ أَنۡهَٰرٗا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ وَجَعَلَ بَيۡنَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ حَاجِزًاۗ
أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٦١ أَمَّن يُجِيبُ
ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ
ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢ أَمَّن يَهۡدِيكُمۡ
فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَمَن يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ
رَحۡمَتِهِۦٓۗ أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٦٣

56- نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې د لوط پلويان
له خپل کلي وباسئ، يقيناً چې دوی داسي وګړي دي چې ځان پاك
پاك کوي، 57- نو دی مو وژغورو او د ده ټبر؛ د ده له مېرمني پرته
چې له وروسته پاته شوو مو مقدره کړې وه، 58- او ځانګړی باران
مو پرې ووراوو، نو څومره بد دئ د انذار کړی شوو باران!! 59-
ووايه: ستايني الله ته دي او سلام پر هغو بندګانو چې غوره کړي ئې
دي، آيا الله غوره دئ که هغه چې دوی ئې (له الله سره) شريکوي؟!!
60- هغه څوك دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل؟ او له آسمانه
ئې تاسو ته اوبه راکوزي کړې، بيا ئې په هغه سره سمسور باغونه را
شنه کړل (هغه چې) تاسو ته (ممکنه) نه وه چې ونه ئې را شنه
کړئ، آيا له الله سره بل معبود شته؟ بلکي دوی هغه خلك دي چې
(له حق) انحراف کوي، 61- هغه څوك دئ چې زمکه ئې تم ځای
وګرځوله او د هغې په منځ کې ئې نهرونه جوړ کړل، او هغې ته ئې
لنګرونه (غرونه) پيدا کړل، او د دوو سمندرونو (تريو او خوږ)
ترمنځ ئې حجاب او پرده راپيدا کړه، آيا له الله سره بل معبود شته؟
بلکي د دوی اکثر نه پوهېږی. 62- هغه څوك دئ چې د مضطر او
بې وزلي (دعاء) مني کله چې ئې (مرستي ته) راوبلي، او ستونزي
ختموي او تاسو د زمکي خليفه ګرځوي، آيا له الله سره بل معبود
شته؟ لږ پند اخلئ. 63- هغه څوك دئ چې د وچي او لمدې (بيديا
او سمندر) په تيارو کې تاسو ته لارښيي او هغه چې بادونه تر خپل
رحمت (باران) وړاندي د زېري په توګه رالېږي؟ آيا له الله سره بل
معبود شته؟ الله له هغه څه لوړ دئ چې (له ده سره) ئې شريکوي،

أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۗ
أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٦٤ قُل لَّا
يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ
يُبۡعَثُونَ ٦٥ بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّنۡهَاۖ بَلۡ
هُم مِّنۡهَا عَمُونَ ٦٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبٗا وَءَابَآؤُنَآ
أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ٦٧ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ
إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨ قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٦٩ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُن فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا
يَمۡكُرُونَ ٧٠ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٧١ قُلۡ
عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي تَسۡتَعۡجِلُونَ ٧٢ وَإِنَّ
رَبَّكَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُونَ ٧٣
وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٤ وَمَا مِنۡ
غَآئِبَةٖ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٍ ٧٥ إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ
يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ٧٦

64- هغه څوك دئ چي پيدايښت شروع كوي بيا ئې اعاده كوي او هغه چي تاسو ته له آسمان او زمكي روزي دركوي؟ آيا له الله سره بل معبود شته؟ ورته ووايه: خپل برهان او دليل راوړئ كه رښتيني يئ. 65- ووايه: له الله تعالی پرته د آسمانونو او زمكي هيڅوك په غيب نه پوهېږي او پدې هم نه پوهېږي چي څه وخت به بيا راژوندي كړی شي. 66- بلكي د آخرت په اړه د دوی علم پاته راغلی، بلكي دوی ترې په شك كي دي؛ بلكي ترې ړانده دي. 67- او هغو چي كفر ئې كړی ووېل: آيا كله چي موږ او زموږ پلرونه خاوري شو آيا موږ به (له قبرونو ژوندي) راايستل كېږو؟ 68- يقيناً چي د دې خبري وعده هم له موږ سره شوې او هم تر دې وړاندي زموږ له پلرونو سره، دا د لومړنيو له نكلونو پرته بل څه نه دي. 69- ووايه: په زمكي كي وګرځئ او وګورئ چي د مجرمينو پايله څنګه وه!! 70- پر دوی مه خواشينی كېږه او د دوی له پټو توطئو تنګوالی مه احساسوه، 71- او وايي: دا وعده به كله وي كه رښتيني يئ؟ 72- ووايه: ښايي د هغه څه به ځيني برخي درنژدې شوې وي چي په تلوار سره ئې غواړئ. 73- او يقيناً چي ستا رب پر خلكو د فضل خاوند دئ خو د دوی ډېری شكر نه كوي، 74- او يقيناً چي ستا رب په هغه څه ښه پوهېږي چي د دوی سينې ئې پټوي او هغه څه چي دوی ئې څرګندوي. 75- او په آسمان او زمكي كي داسي هيڅ غائب (له سترګو پټ) شی نشته چي په يوه څرګند كتاب كي دي نه وي. 76- يقيناً چي دا قرآن بني اسرائيلو ته د هغو (حقائقو) ډېری بيانوي چي دوی اختلاف په كي كوي،

وَإِنَّهُۥ لَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٧٧ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُم بِحُكۡمِهِۦۚ
وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٨ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ٧٩
إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ
٨٠ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ
بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ٨١ ۞وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ
دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ٨٢
وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ فَوۡجٗا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ يُوزَعُونَ
٨٣ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبۡتُم بِـَٔايَٰتِي وَلَمۡ تُحِيطُواْ بِهَا عِلۡمًا
أَمَّاذَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٨٤ وَوَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمۡ لَا
يَنطِقُونَ ٨٥ أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِيَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٨٦ وَيَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ
مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۚ وَكُلٌّ أَتَوۡهُ
دَٰخِرِينَ ٨٧ وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ
صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ ٨٨

77- او یقیناً دا د مؤمنانو لپاره لارښود او رحمت دئ. 78- یقیناً چې ستا رب په خپل حکم سره د دوی تر منځ پرېکړه کوي، او هغه پوه عزتمن دئ، 79- نو پر الله توکل وکړه، یقیناً چې ته په ښکاره حق (متمسك) یې. 80- یقیناً چې ته نه مړو ته اورول کولی شې او نه کڼو ته هغه مهال بلنه اورولی شې چې مخ واړوي؛ په داسي حال کې چې تر شا کېدونکي وي. 81- او ته له ضلالت د ړندو (د ایستلو) لارښود نه یې، ته یوازې هغه چا ته اورول کولی شې چې زموږ پر آیتونو ایمان راوړي او دوی مسلمانان دي. 82- او کله چې د دوی په اړه دغه وینا تحقق ومومي له زمکې به داسي خوځېدونکی ژوی ورته راوباسو چې لدوی سره به دا خبري کوي چې خلکو زما پر آیتونو باور نه کولو. 83- او هغه ورځ چې له هر امت د هغو کسانو فوځ فوځ راپاڅوو چې زموږ آیتونه تکذیبوي، نو دوی به (په ډلو ډلو کې) یو ځای کړی شي. 84- تر هغه چې راشي (او ورته) ووایي: آیا زما آیتونه مو تکذیب کړل، په داسي حال کې چې علماً مو احاطه نه وه پرې کړې، یا هغه څه وو چې تاسو کول؟ 85- او په سبب د هغه ظلم چې دوی کاوو وینا به پرې محققه شي نو دوی به خبري نشي کولی. 86- آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې شپه مو داسي ګرځولې چې آرام په کې وکړي او ورځ لید مهال، یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته حتماً ښکارندي نښي دي چې ایمان راوړي. 87- او هغه ورځ چې په شپېلۍ کې پو شي نو ټول هغه به په وېره کې شي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، مګر هغه چې الله ئې وغواړي، او هر یو به عاجزي کوونکی ورته راشي. 88- او غرونه به ګورې چې د ولاړ ګمان به پرې کوې حال دا چې هغه به د وریځو د خوځېدو په څېر خوځي، د الله هغه جوړونه چې هر څه ئې استوار (او مضبوط) کړی، یقیناً چې دی په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا وَهُم مِّن فَزَعٖ يَوۡمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾
وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتۡ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ هَلۡ تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي
حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَيۡءٖۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنۡ
أَتۡلُوَاْ ٱلۡقُرۡءَانَۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلۡ
إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ
فَتَعۡرِفُونَهَاۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٣﴾

## سُورَةُ القَصَصِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طسٓمٓ ﴿١﴾ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ
مُوسَىٰ وَفِرۡعَوۡنَ بِٱلۡحَقِّ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ فِرۡعَوۡنَ عَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَجَعَلَ أَهۡلَهَا شِيَعٗا يَسۡتَضۡعِفُ طَآئِفَةٗ مِّنۡهُمۡ يُذَبِّحُ أَبۡنَآءَهُمۡ
وَيَسۡتَحۡيِۦ نِسَآءَهُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٤﴾ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى
ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةٗ وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴿٥﴾

89- چا چې ښېګڼه وکړه نو تر هغې غوره به ئې په برخه شي او دوی به د دغې ورځې له وېرې خوندي وي، 90- او چا چې بدي وکړه هغوی به پړمخې په اور کې واچول شي، آیا له هغه پرته بله بدله درکول کېږي چې تاسو کول؟ 91- یقیناً چې زه فقط پر دې ګمارل شوی یم چې د دغه ښار د رب عبادت وکړم هغه چې ده محترم ګرځولی، (هغه رب) چې هر څه د ده دي، او ګمارل شوی یم چې له غاړه اېښودونکو وم، 92- او دا چې قرآن تلاوت کړم، نو څوك چې په سمه لار روان شي یقیناً چې د ځان په ګټه په سمه لار تللی او څوك چې بې لارې شي نو ووایه: زه خو یوازې له منذِرینو (یو منذِر) یم. 93- او ووایه: ستاینې ټولې الله ته دي، ژر به خپل آیتونه داسې دروښیي چې تاسو به ئې پېژنئ، او ستا رب له هغه څه غافل نه دئ چې تاسو ئې کوئ.

## القصص- مکي سوره- 88 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- طاء سین، میم. 2- دا د ښکاره کتاب آیتونه دي. 3- د موسی او فرعون ځینې خبرونه په رښتینې توګه پرتا لولو د هغو خلکو لپاره چې ایمان راوړي. 4- یقیناً چې فرعون په زمکې کې کبر او لویي وکړه او د هغې اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، یقیناً چې دی له مفسدینو وو. 5- او غواړو پر هغو پېرزوینه وکړو چې په زمکې کې ئې د بې وزلۍ لټه کېږي او پېشوایان ئې کړو او (د ټولو شتمنیو) وارثان ئې کړو،

وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا
مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ
أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا
تَحْزَنِيٓ ۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧﴾ فَٱلْتَقَطَهُۥٓ
ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ
وَجُنُودَهُمَا كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ ﴿٨﴾ وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ
عَيْنٍ لِّي وَلَكَ ۖ لَا تَقْتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا
وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا ۖ إِن كَادَتْ
لَتُبْدِي بِهِۦ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ
﴿١٠﴾ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِۦ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا
يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾ ۞ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ
أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ
نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ
وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾

6- او پر زمکي کې تمکین ورپه برخه کړو او لدوی فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښیو چې ترې وېرېدل. 7- او د موسی مور ته مو وحي وکړه چې تی ورکړه او کله چې پرې ووېرېدې نو سیند ته ئې وغورځوه، مه وېرېږه او مه غمجنه کېږه، موږ ئې حتماً بېرته ستا خوا ته راګرځوونکي او د پیغمبرانو له ډلې ئې ګرځوونکي یو. 8- نو فرعونیانو ترلاسه کړ، تر څو ئې دښمن شي او د اندېښنو سبب، یقیناً چې فرعون، هامان او لښکري ئې اشتباه کوونکي ول، 9- او د فرعون مېرمني وویل: زما او ستا لپاره یو د سترګو یخوالی دئ، مه ئې وژنئ، ښایي ګټه راورسوي یا ئې په زوی ولیـ ونیسو او دا په داسي حال کې چې دوی نه پوهېدل. 10- او د موسی د مور زړه بې قراره شو، که د دې لپاره چې له مؤمنانو وي؛ د دې زړه مو نه وی مضبوط کړی، نو نژدې وه چې څرګنده ئې کړي، 11- او د ده خور ته ئې وویل: ورپسې شه! نو له ګوښې ګوښې ئې داسي تر سترګو لاندي نیولی وو چې هغوی پرې نه پوهېدل، 12- او تر دې مخکي مو تی ورکوونکې پرې منع کړې وې، نو وئې ویل: آیا داسي کورنۍ دروښیم چې درته وئې پالي او خواخوږي ئې وي؟ 13- نو په دې توګه مو خپلي مور ته راوګرځاوو چې سترګي ئې پرې سړې شي، غمجنه نه وي او پوه شي چې د الله وعده رښتینې ده خو ډېری خلك نه پوهېږي.

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسۡتَوَىٰٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٤ وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ
فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ
فَٱسۡتَغَٰثَهُ ٱلَّذِي مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِي مِنۡ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ
فَقَضَىٰ عَلَيۡهِۖ قَالَ هَٰذَا مِنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوّٞ مُّضِلّٞ مُّبِينٞ
١٥ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓۚ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٦ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا
لِّلۡمُجۡرِمِينَ ١٧ فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي
ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَسۡتَصۡرِخُهُۥۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيّٞ مُّبِينٞ
١٨ فَلَمَّآ أَنۡ أَرَادَ أَن يَبۡطِشَ بِٱلَّذِي هُوَ عَدُوّٞ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ
أَتُرِيدُ أَن تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسَۢا بِٱلۡأَمۡسِۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن
تَكُونَ جَبَّارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ
١٩ وَجَآءَ رَجُلٞ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلۡمَلَأَ
يَأۡتَمِرُونَ بِكَ لِيَقۡتُلُوكَ فَٱخۡرُجۡ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ٢٠ فَخَرَجَ
مِنۡهَا خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢١

14- او کله چې پوخوالي ته ورسېد او تکړه شو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو. 15- او ښار ته هغه مهال ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل وو (د شپې او یا د غرمې په مهال په خوب ویده ول)، نو دوه سړي ئې داسي په کې وموندل چې په جګړې سره بوخت دي، دا یو ئې د ده له خپلي قبیلې او هغه بل ئې د ده د دښمن (له خېله)، نو هغه چا چې د ده له قبیلې وو د ده د دښمن په خلاف مرستي ته ورناړې کړې، نو موسی په څپېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ویل: دا د شیطان کار وو، یقیناً چې هغه ښرګند بې لاري کوونکی دښمن دئ. 16- وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم وکړ، بخښنه راته وکړه، نو بخښنه ئې ورته وکړه، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ. 17- وئې ویل: اې زما ربه! د دې لپاره چې پر ما دي پېرزوینه وکړه، نو (له دې وروسته به) هیڅکله د مجرمینو ملاتړی نه شم. 18- نو په ښار کې ئې په داسي حال کې شپه تېره کړه چې وېره ئې درلوده او څار ئې کاوو، ناڅاپه هغه چا بیا ورناړې کړې چې پرون ئې مرسته ترې غوښتې وه، موسی ورته وویل: یقیناً چې ته ښکاره بې لاري او دوکه شوی یې، 19- نو کله چې ئې وغوښتل د دواړو (ګډ) دښمن ته لاس واچوي، (هغه) وویل: آیا غواړې ما هم هغسي ووژنې لکه چې پرون دي یو کس ووژلو؟ له دې پرته بل څه نه غواړې چې ته هم په دې زمکې کې یو (بل) جابر شې، نه غواړې چې د مصلحینو له ډلې وې!! 20- د ښار له لرې برخي یو سړی په منډه راغی، وئې ویل: اې موسی! درباریان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چې ودې وژني، ووځه! زه دي له خواخوږو یم. 21- نو په داسي حال کې له وېري سره له ښاره ووت چې څار ئې کاوو، وئې ویل: اې زما ربه! له دغه ظالم قومه مې وژغوره!

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلۡقَآءَ مَدۡيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهۡدِيَنِي سَوَآءَ
ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ وَجَدَ عَلَيۡهِ أُمَّةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ
يَسۡقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمۡرَأَتَيۡنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَاۖ
قَالَتَا لَا نَسۡقِي حَتَّىٰ يُصۡدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيۡخٞ كَبِيرٞ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ
لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ
فَقِيرٞ ﴿٢٤﴾ فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي
يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ
ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتۡ
إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ
ٱلۡأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَٰتَيۡنِ
عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٖۖ فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ
وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ قَضَيۡتُ
فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿٢٨﴾

22- او کله چي ئې د مدين په لوري مخه کړه وئې ويل: هيله ده رب مي په سمي لاري بوځي، 23- او کله چي د مدين اوبو ته ورسېد؛ يوه ډله خلك ئې پرې وموندل چي (خپل څاروي ئې) خړوبول او لدوی آخوا ئې دوې ښځي ترسترګو شوې چي (خپل څاروي ئې) ايسارول، (ورته) وئې ويل: ستاسو څه حال (او مشکل) دئ؟ (دواړو) ورته وويل: تر څو چي شپانه نه وي وتلي موږ (خپل څاروي) نه شو خړوبولی، پلار مو ډېر سپين ږيری دئ، 24- نو د دوی رمه ئې خړوبه کړه او پخواني سيوري ته ستون شو، وئې ويل: اې زما ربه! پر ما چي دي کومي پېرزويني کړې وې، نن ورته محتاج يم. 25- (له همدې دعاء سره سم) له هغو دوو نجونو يوه په حياء حياء کې راغله، وئې ويل: زما پلار دي غواړي چي زموږ د رمې خړوبولو په بدل کې څه درکړي، نو کله چي هغه ته ورغی او ټوله قصه ئې ورته وکړه، هغه (ورته) وويل: نور نو له ظالمانو ژغورل شوی يې، 26- يوې (لور ئې) وويل: پلاره! دا په نوکرۍ ونيسه، تر ټولو غوره کس چي په نوکرۍ ئې نيسې هغه دئ چي پياوړی او امين وي، 27- وئې ويل: غواړم يوه لور مي تا ته په نکاح درکړم خو په دې شرط چي اته کاله به له ما سره د اجورې په مقابل کې تېروې او که لس کلونه دي بشپړ کړل نو دا به ستا پېرزوينه وي، نه غواړم چي زياتی درباندي وکړم، که خدای کول ما به له صالحينو ومومې، 28- وئې ويل: همدا دي زما او ستا ترمنځ (ژمنه) وي، په دې دواړو کې هره موده چي مي (دلته) تېروله (اختيار به ئې زما وي او) تېری به راباندي نه کېږي، (وئې ويل:) په هغه څه چي وايو ئې الله شاهد او وکيل دئ.

۞فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ
ٱلطُّورِ نَارٗاۖ قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم
مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ٢٩ فَلَمَّآ
أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ مِنَ
ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٠ وَأَنۡ أَلۡقِ
عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ
يَٰمُوسَىٰٓ أَقۡبِلۡ وَلَا تَخَفۡۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلۡأٓمِنِينَ ٣١ ٱسۡلُكۡ يَدَكَ فِي
جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖ وَٱضۡمُمۡ إِلَيۡكَ جَنَاحَكَ
مِنَ ٱلرَّهۡبِۖ فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦٓۚ
إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٣٢ قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسٗا
فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ٣٣ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ مِنِّي لِسَانٗا
فَأَرۡسِلۡهُ مَعِيَ رِدۡءٗا يُصَدِّقُنِيٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ٣٤ قَالَ
سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجۡعَلُ لَكُمَا سُلۡطَٰنٗا فَلَا يَصِلُونَ
إِلَيۡكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآۚ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلۡغَٰلِبُونَ ٣٥

29- او کله چې موسی دا موده بشپړه کړه او له خپلې کورنۍ سره وخوځېدو، د طور په یوه اړخ کې ئې اور ترسترګو شو، خپلې کورنۍ ته ئې وویل: تم شئ! زما یو اور ترسترګو شو، یا به کوم خبر (او احوال) ترې درته راوړم او یا د اور کومه سکروټه چې تاوده شئ. 30- نو کله چې ورغی؛ د ناو له ښي اړخه د یوې بختورې سیمې له یوې ونې پرې غږ شو؛ چې اې موسی! زه د عالمونو پالونکی رب یم، 31- او دا چې عصا دې وغورځوه، چې کله ئې هغه داسې ولیدله چې د تېز مار په څېر خوځېږي، شا ئې واړوله، په تېښته شو او تر شا ئې نه کتل، (الله وفرمایل) اې موسی! مخ راواړوه او مه وېرېږه، یقیناً چې ته خوندي یې، 32- لاس دې په ګرېوان کې دننه کړه، سپین له داغه پرته به راووځي او د وېرې په حالت کې دې وزرونه (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، د فرعون او د ده د درباریانو په وړاندې دا ستا د رب له لورې دوه نښې او دلائل دي، دوی له شکه پرته فاسق وګړي دي. 33- وئې ویل: اې زما ربه! ما د دوی یو کس وژلی، نو وېرېږم چې وبه مې وژني، 34- او زما ورور هارون تر ما ژبه ور او فصیح دئ، نو له ما سره ئې د مرستیال په توګه ولېږه چې زما تصدیق کوي، یقیناً چې زه له دې وېرېږم چې دروغجن به مې وګڼي، 35- وئې ویل: مټ به دې په خپل ورور سره مضبوط کړم او تاسو دواړو ته به داسې ځواک درپه برخه کړم چې دوی دررسېدلی نه شي، زما د آیتونو په سبب به تاسو او ستاسو پلویان او متابعین برلاسي وي.

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ
مُّفۡتَرٗى وَمَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٦ وَقَالَ مُوسَىٰ
رَبِّيٓ أَعۡلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلۡهُدَىٰ مِنۡ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ
عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٣٧ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي فَأَوۡقِدۡ لِي
يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجۡعَل لِّي صَرۡحٗا لَّعَلِّيٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ
مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣٨ وَٱسۡتَكۡبَرَ هُوَ
وَجُنُودُهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ إِلَيۡنَا لَا يُرۡجَعُونَ
٣٩ فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ
عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٤٠ وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَيَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ٤١ وَأَتۡبَعۡنَٰهُمۡ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗۖ
وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلۡمَقۡبُوحِينَ ٤٢ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى
ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَهۡلَكۡنَا ٱلۡقُرُونَ ٱلۡأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ
وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ٤٣

36- نو کله چې موسی څرګندې نښې وروړې وئې ویل: دا خو له
ځانه جوړ شوې جادو پرته بل څه نه دي او دا مو د خپلو مخکنیو
پلرونو په وېناوو کې نه وې اورېدلې. 37- او موسی وویل: زما رب
هغه څوک ډېر ښه پېژني چې د ده له لوري له لارښوونو سره راغلی
او هغه چې د (آخرت) غوره مېشت ځای به ئې په برخه وي.
حقیقت دا دئ چې ظالمان نه بریالي کېږي. 38- او فرعون وویل:
اې درباریانو! ستاسو لپاره له ځانه پرته بل معبود نه پېژنم، نو اې
هامانه! خټه په اور راته پخه کړه او لوړه ماڼۍ راته جوړه کړه
چې د موسی د معبود لوري ته لوړ شم او یقیناً چې زه ئې له
دروغجنو ګڼم. 39- او ده او لښکرو ئې په ځمکې کې په ناحقه لویي
وغوښته او ګمان ئې وکړ چې زموږ لوري ته به نه راګرځول کېږي.
40- نو دی او د ده لښکري مو ونیول او سیند ته مو وغورځول،
نو وګوره چې د ظالمانو پایله څنګه وه؟! 41- او لدوی مو داسې
ډله جوړه کړه چې د اور په لوري بلنه ورکوي او د قیامت په ورځ
به ئې (هیڅوك) مرسته ونه کړی شي. 42- او په دې دنیا کې مو
لعنتونه ورپسې کړل او د قیامت په ورځ به له قبیح او رذیل ګڼل
شوو وي. 43- او یقیناً چې موسی ته مو له هغه وروسته کتاب
ورکړ چې مخکني پېړۍ وال مو هلاك کړل، خلکو ته د بصیرت
اسباب، لارښود او رحمت؛ ترڅو پند واخلي.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلۡغَرۡبِيِّ إِذۡ قَضَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلۡأَمۡرَ وَمَا
كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأۡنَا قُرُونٗا فَتَطَاوَلَ عَلَيۡهِمُ
ٱلۡعُمُرُۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيٗا فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ تَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَا
وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذۡ نَادَيۡنَا
وَلَٰكِن رَّحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٖ مِّن
قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوۡلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا
قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَيَقُولُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ
ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ
عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓۚ أَوَ لَمۡ يَكۡفُرُواْ بِمَآ
أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ
كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبٖ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ
مِنۡهُمَآ أَتَّبِعۡهُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ
فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ
بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

44- او ته هغه مهال په غربي اړخ کې نه وې چې موسی ته مو کار سپارلو او له شاهدانو هم نه وې. 45- خو موږ د پېړيو پېړيو نسلونه راپيدا کړل او اوږده عمرونه پرې تېر شول، او ته په مدين کې هم مېشت نه وې چې زموږ آيتونه پرې ولولې خو موږ د پيغمبر لېږونکي وو. 46- او ته د طور په اړ خ کې هم نه وې چې موږ غږ کړ خو ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه ترڅو هغه قوم انذار کړې چې تر تا د مخه هيڅ خبرداری ورکوونکی نه دئ ورغلی، تر څو پند واخلي. 47- او که دا نه وی چې کله دوی ته د هغه څه له امله کوم مصيبت ورورسېږي چې په خپلو لاسونو ئې ترسره کړي نو وايي به: اې زموږ ربه! ولې دي کوم پيغمبر راونه لېږو چې ستا د آيتونو متابعت مو کړی وی او له مؤمنانو شوي وی؟! 48- نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ويل: ولې ده ته هم موسی ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آيا تر دې د مخه په هغه څه کافران نشول چې موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ويل: دوه کوډي (سحر) چې يو د بل ملاتړ کوي، او وئې ويل: موږ له هر يوه انکار کوونکي يو. 49- ووايه: د الله له لوري داسي کتاب راوړئ چې تر دې دواړو ښه لارښود وي چې متابعت ئې وکړم که رښتيني يئ. 50- نو که ئې ستا بلنه ونه منله نو پوه شه چې دوی د خپل هوی او هوس متابعت کوي، او تر هغه چا به زيات بې لاري څوك وي چې له الهي لارښووني پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی، يقيناً چې الله داسي ظالم وګړي نه هدايتوي.

۞وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ ٱلۡقَوۡلَ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ
ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ قَالُوٓاْ
ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبۡلِهِۦ مُسۡلِمِينَ ﴿٥٣﴾
أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ
ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ أَعۡرَضُواْ
عَنۡهُ وَقَالُواْ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ لَا
نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾ إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
يَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿٥٦﴾ وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ
ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَ لَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا
ءَامِنًا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ
مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ
وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبۡعَثَ
فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا
وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴿٥٩﴾

51- او يقيناً چي دا وينا مو په پرله پسې توګه ورته کړې ده؛ په دې هيله چي پند واخلي. 52- هغه چي تر دې د مخه کتاب ورپه برخه شوی هغوی ايمان پرې راوړي، 53- او کله چي پرې ولوستی شي وايي: ايمان مو پرې راوړی، بې شکه چي دا زموږ د رب له لوري حقيقت دئ، يقيناً چي موږ تر دې د مخه منقاد او غاړه ايښودونکي وو. 54- دوی ته به له دې امله خپل اجر دوه ځلي ورکړی شي چي صبر ئې وکړ او په ښېګڼې سره بدي دفع کوي، او له هغه څه چي موږ ورروزي کړي انفاق کوي. 55- او کله چي چټې خبره واوري مخ ترې اړوي او وايي: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، پر تاسو دي سلام وي، موږ جاهلان نه غواړو. 56- يقيناً چي ته هغه څوك نشې هدايتولی چي خوښ دي دئ، خو الله چي هر څوك وغواړي هدايتوي ئې، او هغه هدايتېدونکي ډېر ښه پېژني. 57- او وئې ويل: که له تا سره د لارښوونې متابعت وکړو له خپل ټاټوبي تښتول کېږو! آيا دوی ته مو داسې حرم يو خوندي ټاټوبی نه کړ چي هغه ته د هر څه مېوې راوړل کېږي؛ زموږ له لوري د رزق او روزي په توګه؟!! خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 58- او له کليو مو څومره هغه ترې هلاك کړل چي په خپل معيشت کې له پولو واوښتل، نو دا ئې د دوی مېشت ځي چي لدوی وروسته مېشتيا په کې نه وه مګر ډېره لږه، او موږ (ئې) په مېراث وړونکي وو. 59- او ستا رب تر هغه د کليو هلاکوونکی نه دئ چي په مرکزي برخي کې ئې يو پيغمبر ونه لېږي چي زما آيتونه پرې ولولي، او موږ د کليو هلاکوونکي نه يو مګر دا چي اوسېدونکي ئې ظالمان وي.

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ
ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ٦٠ أَفَمَن وَعَدۡنَٰهُ وَعۡدًا حَسَنٗا
فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعۡنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ هُوَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ٦١ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ
كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٦٢ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ
ٱلَّذِينَ أَغۡوَيۡنَآ أَغۡوَيۡنَٰهُمۡ كَمَا غَوَيۡنَاۖ تَبَرَّأۡنَآ إِلَيۡكَۖ مَا كَانُوٓاْ إِيَّانَا
يَعۡبُدُونَ ٦٣ وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ
لَهُمۡ وَرَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ لَوۡ أَنَّهُمۡ كَانُواْ يَهۡتَدُونَ ٦٤ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ
فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبۡتُمُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٦٥ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ يَوۡمَئِذٖ
فَهُمۡ لَا يَتَسَآءَلُونَ ٦٦ فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا
فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلۡمُفۡلِحِينَ ٦٧ وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ
وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ
٦٨ وَرَبُّكَ يَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٦٩ وَهُوَ ٱللَّهُ
لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأُولَىٰ وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَإِلَيۡهِ
تُرۡجَعُونَ ٧٠

60- او (له راز راز ) شیانو چې څه تاسو ته درکړی شوي دا ټول د دنیوي ژوند متاع او د ښایست (اسباب) دي، او څه چې له الله سره دي هغه غوره او تر ټولو زیات پاته کېدونکي دي، نو آیا تعقل نه کوئ؟! 61- نو آیا هغه چې د غوره وعدې ژمنه مو ورسره کړې چې هغه به ورسره مخامخ کېدونکی وي؛ د هغه چا په څېر دئ چې د دنیوي ژوند متاع مو ورپه برخه کړې، بیا به هغه د قیامت په ورځ له حاضر کړی شوو وي؟! 62- او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وایي: زما هغه شریکان چېرې دي چې (زما د شریکانو) ګمان مو (پرې) کاوو؟ 63- هغه کسان چې (الهي) وینا ئې په اړه ترسره شوې وایي به: اې زموږ ربه! دا همغه دي چې موږ بې لارې کړي ول، همغسې مو بې لارې کړي ول چې موږ په خپله بې لارې شوي وو، ستا په وړاندې (ترې) بې زاره کېږو، دوی زموږ عبادت نه کاوو. 64- او وبه ویل شي: خپل شریکان (مرستې ته) دروبلئ! نو وروبه ئې بلې خو دوی ته به ځواب نه ورکوي او عذاب به وګوري (او وبه وایي) ای کاش چې لار ئې موندلې وی. 65- او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وایي: پیغمبرانو ته مو څه ځواب ورکړ؟ نو په دې ورځ به خبرې ترې ورکې شي او یو به بل نشي پوښتی. 66- او هغه چې توبه ئې وکړه، ایمان ئې راوړ او صالح عمل ئې وکړ نو هیله ده چې له بریالیو وي. 67- او ستا رب چې څه غواړي پیدا کوي ئې او غوره کوي ئې، اختیارول (ئې) لدوی سره نه دي، پاکي الله ته ده او لوړ دئ له هغه څه چې دوی ئې (ورسره) شریکوي. 69- او ستا رب په هغه څه هم پوهېږي چې د دوی سینې ئې پټوي او په هغه څه هم چې څرګندوي ئې. 70- دی هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، ستاینه مخکې او وروسته ده ته ده، او حکم (صادرول) د ده (کار) دئ او د ده لورې ته ګرځول کېږئ.

قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلَّيۡلَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ
مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِضِيَآءٍۚ أَفَلَا تَسۡمَعُونَ ٧١ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ
إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرۡمَدًا إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَنۡ إِلَٰهٌ
غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم بِلَيۡلٍ تَسۡكُنُونَ فِيهِۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٧٢ وَمِن
رَّحۡمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن
فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٧٣ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ
شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ٧٤ وَنَزَعۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا
فَقُلۡنَا هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلۡحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٧٥ ۞إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡۖ
وَءَاتَيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلۡعُصۡبَةِ أُوْلِي ٱلۡقُوَّةِ
إِذۡ قَالَ لَهُۥ قَوۡمُهُۥ لَا تَفۡرَحۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَرِحِينَ ٧٦ وَٱبۡتَغِ
فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ
وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ وَلَا تَبۡغِ ٱلۡفَسَادَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٧٧

71- وواېه: آیا دې ته مو پام شوی چې که الله دا شپه د قیامت تر ورځې درباندې تلپاته کړي، له الله پرته بل معبود څوك دئ چې رڼا درته راوړي؛ نو آیا نه اورئ؟! 72- وواېه: آیا دې ته مو نه دي کتلي چې که الله دا ورځ د قیامت تر ورځې درباندې تلپاته کړي، له الله پرته بل معبود څوك دئ چې شپه درته راوړي چې پکې آرام وکړئ، آیا نه ګورئ؟! 73- او د خپلې پېرزوینې له امله ئې شپه او ورځ درته جوړه کړه چې پکې آرام وکړئ او چې د ده فضل ولټوئ او ترڅو شکر وکړئ. 74- او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وايي: زما هغه شریکان چېرې دي چې (زما د شریکانو) ګمان مو (پرې) کاوو؟ 75- او له هرې ډلې به یو ګواه راوباسو او وبه وایو: خپل دلائل راوړاندې کړئ، نو پوه به شي چې حق د الله په خوا دئ او هغه څه به ترې ورك شي چې له ځانه ئې په دروغو جوړول. 76- یقیناً چې قارون د موسی له قومه وو، چې پر دوی ئې تېری وکړ، له خزانو مو دومره ورکړې وې چې کونجیانې به ئې یوې ځواکمنې ډلې ته درنې وې، کله چې خپل قوم ورته وویل: (په دې) مه ویاړه، یقیناً چې الله ویاړونکي نه خوښوي، 77- په هغه څه کې چې الله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنیوي برخه دې هم مه هېروه او همغسې (له نورو سره) ښېګڼه کوه چې الله له تا سره ښېګڼه کړې او په ځمکې کې فساد مه لټوه، یقیناً چې الله مفسدین نه خوښوي.

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓۚ أَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَهۡلَكَ
مِن قَبۡلِهِۦ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مَنۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرُ جَمۡعٗاۚ وَلَا
يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٧٨﴾ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ فِي زِينَتِهِۦۖ
قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا يَٰلَيۡتَ لَنَا مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ قَٰرُونُ
إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٖ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَيۡلَكُمۡ ثَوَابُ
ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّمَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗاۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ
﴿٨٠﴾ فَخَسَفۡنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلۡأَرۡضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٖ يَنصُرُونَهُۥ
مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصۡبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوۡاْ
مَكَانَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ يَقُولُونَ وَيۡكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ
مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُۖ لَوۡلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا لَخَسَفَ بِنَاۖ
وَيۡكَأَنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾ تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا
لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ
﴿٨٣﴾ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا
يُجۡزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٨٤﴾

78- وئې ويل: له دې پرته بل څه نه دي چي ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغي پوهي او هنر نتيجه ده چي زه ئې لرم، آيا په دې نه پوهېدو چي الله تر ده د مخه ډېر داسي خلك هلاك کړل چي زور ئې تر ده زيات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له مجرمانو د دوی د گناهونو (د څرنگوالي او املونو) پوښتنه نه کېږي. 79- نو د خپل قوم په وړاندي له خپل شأن او شوکت سره راووت، هغو چي د دنيوي ژوند په لټه کي ول وئې ويل: کاش زموږ هم دغه حالت وی چي د قارون په برخه شوی! يقيناً چي دی د لويي برخي خاوند دئ، 80- او هغو چي علم ئې په برخه شوی وو وويل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله هغه چا ته چي ايمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی (تر دې ډېر) غوره دئ او دا خو يوازي د صابرانو په برخه کېدی شي، 81- نو دی او د ده کور مو په زمکه کي ښخ کړل، نو له الله پرته ئې نه کومه ډله وه چي مرسته ئې وکړي او نه له انتقام اخيستونکو وو، 82- او هغه چي پرون ئې د ده د مقام او مرتبې تمنا کوله داسي شول چي ويل ئې: او هو ! خبره خو دا وه چي په حقيقت کي دا الله دئ چي له خپلو بندگانو هر چا ته چي وغواړي رزق ورته پراخوي او تنگوي، که دا نه وی چي الله پر موږ احسان وکړ نو موږ به ئې هم په زمکي کي ننايستي وو، او هو! حقيقت خو دا دئ چي کافران هيڅکله نه شي ژغورل کېدی. 83- دا اخروي کور خو د هغه چا لپاره ټاکو چي په زمکي کي نه لويي غواړي او نه فساد، او غوره پايله د متقيانو ده. 84- څوك چي له ښېگڼي سره راشي نو ده ته به تر هغې غوره ورپه برخه شي، او څوك چي له بدو کړنو سره راشي نو بدعملو ته به له خپلو کړنو پرته د بل څه سزا نه ورکول کېږي.

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٖۚ قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ مَن
جَآءَ بِٱلۡهُدَىٰ وَمَنۡ هُوَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٨٥ وَمَا كُنتَ تَرۡجُوٓاْ أَن
يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبُ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرٗا
لِّلۡكَٰفِرِينَ ٨٦ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعۡدَ إِذۡ أُنزِلَتۡ إِلَيۡكَۖ
وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٨٧ وَلَا تَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ
إِلَٰهًا ءَاخَرَۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ لَهُ ٱلۡحُكۡمُ
وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٨

## سُورَةُ العَنكَبُوتِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ
٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ
وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٣ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن
يَسۡبِقُونَاۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ٤ مَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ أَجَلَ
ٱللَّهِ لَأٓتٖۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٥ وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ
لِنَفۡسِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦

85- یقیناً چا چې پر تا دا قرآن فرض کړی حتماً تر موعود مقامه ستا رسوونکی دئ، ووایه: زما رب هغه څوك ښه پېژني چې له لارښووني سره راغلی او هغه چې په څرګندي بې لارۍ کې دئ. 86- او ته داسي نه وې چې د کتاب درتلو ته دي هیله کوله، مګر ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه، نو د کافرانو ملاتړی مه شه. 87- او دوی دي تا د الله له آیتونو له هغه وروسته منع نه کړي چې درته نازل کړی شول، او د خپل رب لوري ته بلنه ورکړه او له مشرکانو مه شه. 88- او له الله سره بل معبود مه بله (مه ملانځه)، له ده پرته بل معبود نشته، هر څه هلاکېدونکي دي مګر د ده ذات، حکم ده ته دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

## العنکبوت- مکي سوره- 69 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

**1**- الف، لام، میم، **2**- آیا خلکو داسي انګېرلې چې کله ووایي ایمان مو راوړی نوپرې به ښودی شي او وبه نه آزمویل شي؟! **3**- حال دا چې یقیناً موږ هغه وآزمویل چې تر دوی وړاندي ول، نو الله به هرو مرو هغه معلوم کړي چې رښتیني دي او حتماً به دروغجن معلوم کړي. **4**- آیا هغو چې بد عملونه کوي داسي ئې انګېرلې چې تر موږ به وړاندي شي، څومره بد دئ هغه قضاوت چې دوی ئې کوي. **5**- هغه چې د الله د ملاقات هیله لري نو یقیناً چې الهي ټاکلې نېټه هرومرو راتلونکې ده، او هغه پوه اورېدونکی دئ. **6**- او چا چې جهاد وکړ نو د خپل ځان لپاره جهاد کوي، یقیناً چې الله له ټولو عالمیانو بې نیاز دئ،

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ
وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٧ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ
بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗاۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ
فَلَا تُطِعۡهُمَآۚ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٨
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُدۡخِلَنَّهُمۡ فِي ٱلصَّٰلِحِينَ ٩
وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ جَعَلَ فِتۡنَةَ
ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِۖ وَلَئِن جَآءَ نَصۡرٞ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا
مَعَكُمۡۚ أَوَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَعۡلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٠
وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ ١١ وَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبِعُواْ سَبِيلَنَا وَلۡنَحۡمِلۡ خَطَٰيَٰكُمۡ وَمَا
هُم بِحَٰمِلِينَ مِنۡ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَيۡءٍۖ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٢
وَلَيَحۡمِلُنَّ أَثۡقَالَهُمۡ وَأَثۡقَالٗا مَّعَ أَثۡقَالِهِمۡۖ وَلَيُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
عَمَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ١٣ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ
أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامٗا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ١٤

7- او هغه چي ایمان ئې راوړ او نېك عملونه ئې وکړل حتماً به د دوی
بدغوني ترې وپوښو او حتماً به د هغه ډېر غوره عمل په پرتله بدله
ورکړو چي دوی کاوو. 8- او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د نېك
چلن سپارښتنه وکړه، او که هغوی ستا په اړه دا هڅه وکړي چي له ما
سره هغه څه شریك کړې چي نه پرې پوهېږې نو اطاعت ئې مه کوه،
راګرځېدا مو زما په لوري ده، نو زه به مو پر هغه څه خبر کړم چي
تاسو کول. 9- او هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي
حتماً به ئې د صالحانو په صف کې داخل کړم. 10- او د خلکو ځیني
داسي دي چي وايي: پر الله مو ایمان راوړی، خو کله چي د الله په اړه
وځورول شي د خلکو فتنه داسي ګڼي لکه د الله عذاب، او که ستا د
رب له لوري نصرت راشي حتماً وايي: یقیناً چي موږ له کوم شك پرته
له تاسو سره وو، آیا الله په هغه څه ښه پوه نه دئ چي د عالمیانو سینو
کې دي؟!! 11- او الله به حتماً هغه معلوم کړي چي ایمان ئې راوړی او
حتماً به منافقین معلوم کړي. 12- او هغو چي کفر ئې کړی هغو ته
چي ایمان ئې راوړی وویل: زموږ د تګلاري متابعت وکړئ او موږ دي
ستاسو د ګناهونو پېټی (پر خپلو اوږو) واخلو، په داسي حال کې چي
دوی ئې د هیڅ ګناه پېټی (پر خپلو اوږو) وړونکي نه دي، یقیناً چي
دوی حتماً دروغجن دي، 13- او حتماً به خپل درانه پېټي (پر اوږو)
وړي او ډېر نور پېټي له خپلو پېټو سره، او حتماً به د قیامت په ورځ
له هغه څه وپوښتی شي چي دوی افتراء کول. 14- او یقیناً چي نوح
مو د خپل قوم په لوري ولېږو، چي په دوی کې پنځوس کم زر کاله پاته
شو، نو په داسي حال کې چي ظالمان ول طوفان ونیول،

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٥
وَإِبۡرَٰهِيمَ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُۖ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ
لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١٦ إِنَّمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا
وَتَخۡلُقُونَ إِفۡكًاۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ
لَكُمۡ رِزۡقٗا فَٱبۡتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزۡقَ وَٱعۡبُدُوهُ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓۖ
إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١٧ وَإِن تُكَذِّبُواْ فَقَدۡ كَذَّبَ أُمَمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡۖ
وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٨ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ كَيۡفَ يُبۡدِئُ
ٱللَّهُ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١٩ قُلۡ سِيرُواْ
فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ بَدَأَ ٱلۡخَلۡقَۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشۡأَةَ
ٱلۡأٓخِرَةَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٢٠ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ
وَيَرۡحَمُ مَن يَشَآءُۖ وَإِلَيۡهِ تُقۡلَبُونَ ٢١ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي
ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا
نَصِيرٖ ٢٢ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يَئِسُواْ
مِن رَّحۡمَتِي وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢٣

15- نو دی او کښتۍ وال مو وژغورل او دا مو د عالمیانو لپاره یوه ځرګنده نښه وګرځوله. 16- او ابراهیم چي خپل قوم ته ئې وویل: د الله عبادت وکړئ او ترې ووېرېږئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، 17- له الله پرته فقط څه بتان لمانځئ او څه دروغ جوړوئ، یقیناً هغه چي له الله پرته ئې لمانځئ رزق درته په واك کي نه لري، نو رزق د الله په خوا کي ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او شکر ورته وکړئ، د هغه لوري ته بېرته ګرځول کېږئ، 18- او که تکذیب کوئ نو هغو ولسونو هم تکذیب وکړ چي تر تاسو وړاندي ول، او پر پیغمبر له ځرګند تبلیغ پرته بله ذمه واري نشته. 19- آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي الله څنګه پیدایښت پیلوي او بیا ئې (پر له پسې) اعاده کوي، یقیناً چي دا الله ته آسان دئ، 20- ووایه: په زمکي کي وګرځئ او وګورئ چي پیدایښت ئې څنګه پیل کړی، او الله به بیا د آخرت (د ورځي) په بیا راپاڅولو سره راپاڅول کوي، یقیناً چي الله په هر څه توانمن دئ، 21- هغه تعذیبوي چي دی ئې غواړي او پر هغه پېرزوینه کوي چي دی ئې غواړي، او د ده لوري ته ورګرځول کېږئ، 22- او تاسو نه په زمکي کي ناتوانه کوونکي یئ او نه په آسمان کي، او له الله پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم مرستندوی. 23- او هغه چي د الله په آیتونو او له هغه سره په مخامخ کېدو باندي کافران شوي، همدا دوی زما له رحمته مأیوس شوي، او همدې ډلي ته دردناك عذاب دئ.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقۡتُلُوهُ أَوۡ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ
ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ
إِنَّمَا ٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡثَٰنٗا مَّوَدَّةَ بَيۡنِكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ
ٱلدُّنۡيَاۖ ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٖ وَيَلۡعَنُ
بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ
﴿٢٥﴾ ۞فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٞۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَجَعَلۡنَا فِي
ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَجۡرَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ إِنَّكُمۡ
لَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ
﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقۡطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأۡتُونَ فِي
نَادِيكُمُ ٱلۡمُنكَرَۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتِنَا
بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي
عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٣٠﴾

24- نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې وئې ویل:
وئې وژنئ یا ئې وسوزوئ، نو الله له اوره وژغورو، یقیناً چې په دې
کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې ایمان لري، 25- او وئې
ویل: له الله پرته یوازې څه بتان مو (خپل معبودان) نیولي، په دنیایي
ژوند کې د خپلمنځۍ مینې له کبله، بیا به د قیامت په ورځ ستاسو
ځیني له ځینو نورو انکار کوي او ستاسو ځیني به پر ځینو نورو
لعنت وایي، او مېشتځی به مو اور وي او هیڅ مرستندویان به نه
لرئ. 26- نو لوط پرې ایمان راوړ، او وئې ویل: زه د خپل رب لوري
ته هجرت کوونکی یم، یقیناً چې هغه باحکمت عزتمن دئ، 27- او
ده ته مو اسحاق او یعقوب ورپه برخه کړل او د ده په اولاد کې مو
نبوت او کتاب (یو امتیاز) وګرځاوو او د ده اجر مو په دنیا کې ورکړ،
او یقیناً چې هغه به په آخرت کې حتماً له صالحانو وي. 28- او لوط
چې کله ئې خپل قوم ته وویل: یقیناً چې تاسو د هغه فحش (کرکجن
کار) مرتکب کېږئ چې په نړۍ والو کې هیچا هغه ته پر تاسو وړاندې
والی نه دئ کړی، 29- آیا تاسو له نارینه وو سره (جنسي) نژدېکت
کوئ او لار قطع کوئ او په خپلو مجلسونو کې د دې کرکجن کار
مرتکب کېږئ، نو د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې
وئې ویل: که ریښتینی یې نو د الله عذاب راته راوړه! 30- وئې ویل:
اې زما ربه! پر دې مفسدو وګړو بریا را!

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُوٓاْ إِنَّا مُهۡلِكُوٓاْ أَهۡلِ
هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِۖ إِنَّ أَهۡلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ ٣١ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطٗاۚ
قَالُواْ نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَن فِيهَاۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ
كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٢ وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ
بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗاۖ وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ
وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٣٣ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ
أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٣٤
وَلَقَد تَّرَكۡنَا مِنۡهَآ ءَايَةَۢ بَيِّنَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ٣٥ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ
أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ
وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٣٦ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ
ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ٣٧ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَقَد
تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ
فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ٣٨

31- او کله چي زموږ استازي ابراهيم ته له زېري سره ورغلل وئې ويل: يقيناً چي موږ د دې کلي ويجاړوونکي يو، يقيناً چي استوګن ئې ظالمان ول، 32- وئې ويل: په دې کې خو د لوط غوندي (شخصيت) دئ، هغوی وويل: موږ هغه ښه پېژنو چي په (دې کلي) کې دي، حتماً به دی او د ده ټبر وژغورو، له مېرمني ئې پرته چي هغه له وروسته پاته کېدونکو ده. 33- او کله چي زموږ استازي لوط ته ورغلل؛ د دوی (د ورتلو) له کبله خوابدی شو او د دوی له کبله زړه تنګی شو، وئې ويل: مه وېرېږه او مه غمجن کېږه، موږ حتماً ستا او ستا د اهل ژغورونکي يو، ستا له مېرمني پرته چي هغه له وروسته پاته کېدونکو ده، 34- يقيناً چي موږ د دې کلي پر استوګنو له آسمانه د لړزوونکي عذاب نازلوونکي يو، له دې کبله چي دوی سرغړاوی کاوو، 35- او يقيناً چي له دې کلي مو د هغو وګړو لپاره څرګنده (د عبرت) نښه پرېښوده چي تعقل کوي. 36- او د مدين لوري ته د دوی ورور شعيب (مو ولېږو) چي وئې وويل: اې زما قومه! د الله عبادت وکړئ او د آخرت ورځې ته طمع ولرئ او په زمکې کې فساد کوونکي مه ګرځئ. 37- نو هغه ئې تکذيب کړ چي په پايله کې ئې سختي جړکوونکې (زلزلې) ونيول، نو په خپلو کورونو کې پر ګونډو پرېوتي شول. 38- او عاد او ثمود چي له استوګنځيو ئې درته جوته شوې، او شيطان خپل عملونه ورته ښايسته کړل نو له لاري ئې واړول، په داسي حال کې چي سترګور ول.

وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ٣٩ فَكُلًّا أَخَذۡنَا
بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ
أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ
أَغۡرَقۡنَاۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
يَظۡلِمُونَ ٤٠ مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ
كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ
ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٤١ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ
مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٤٢ وَتِلۡكَ
ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ٤٣
خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ
لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٤ ٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَأَقِمِ
ٱلصَّلَوٰةَۖ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ
ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَصۡنَعُونَ ٤٥

39- او قارون، فرعون او هامان، چې موسی له څرګندو نښو سره ورغی، خو دوی په زمکې کې د خپلې لويي لټه وکړه، په داسې حال کې چې وړاندې کېدونکې نه ول. 40- نو هر يو مو د خپلې ګناه له کبله ونيو، نو د دوی ځينې هغه ول چې تونده سيلۍ مو پرې ولېږله، ځينې ئې هغه چې لوړې چيغې ونيول، ځينې ئې هغه چې په زمکې کې مو خسف کړل او ځينې ئې هغه چې غرق مو کړل، په داسې حال کې چې الله ظلم نه پرې کولو بلکې دوی په خپله پر خپل ځان ظلم کولو. 41- د هغو خلکو چې له الله پرته نور مرستندويان نيسي مثال د هغې غڼې په څېر دئ چې ځان ته ئې کور ونيو، دا په داسې حال کې چې تر ټولو سست کور د غڼې کور دئ، کاش پوهېدی. 42- يقيناً چې الله پوهېږي چې دوی له ده پرته کوم (د اعتناء وړ) شی نه وربلې، او دی باحکمت عزتمن دئ. 43- او دا هغه مثالونه دي چې خلکو ته ئې بيانوي، دا په داسې حال کې چې له پوهانو پرته بل څوک نه پرې پوهېږي، 44- الله آسمانونه او زمکه په سمه توګه پيدا کړي، يقيناً چې په دې کې د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده. 45- د دې کتاب هغه برخه لوله چې تا ته ئې وحي شوې او لمونځ قائم کړه، يقيناً چې لمونځ د فحشاء او منکر مخنيوی کوي او د الله يادونه ډېره ستره ده، او الله په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ.

۞وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ
ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡۖ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَأُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ
وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمۡ وَٰحِدٞ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ٤٦ وَكَذَٰلِكَ
أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يُؤۡمِنُونَ
بِهِۦۖ وَمِنۡ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤۡمِنُ بِهِۦۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا
ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٧ وَمَا كُنتَ تَتۡلُواْ مِن قَبۡلِهِۦ مِن كِتَٰبٖ وَلَا
تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَۖ إِذٗا لَّٱرۡتَابَ ٱلۡمُبۡطِلُونَ ٤٨ بَلۡ هُوَ ءَايَٰتُۢ
بَيِّنَٰتٞ فِي صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا
ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٩ وَقَالُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَٰتٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ
إِنَّمَا ٱلۡأٓيَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ٥٠ أَوَ لَمۡ
يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥١ قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيۡنِي
وَبَيۡنَكُمۡ شَهِيدٗاۖ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ وَكَفَرُواْ بِٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٥٢

46- او له اهل کتاب سره له دې پرته چې تر ټولو غوره وي په بله توګه مجادله مه کوئ، مګر د دوی له هغو سره چې ظلم ئې کړی، او ووایئ: پر هغه څه مو ایمان راوړی چې موږ ته نازل شوی او تاسو ته نازل شوی، او زموږ معبود او ستاسو معبود یو دئ او موږ ورته تسلیم یو، 47- او همداسي مو دا کتاب پر تا نازل کړی، نو هغه چې کتاب مو ورکړی ایمان پرې راوړي، او د دغو خلکو ځیني داسي دي چې ایمان پرې راوړي، او زموږ له آیتونو یوازي کافران انکار کوي. 48- او ته داسي نه وې چې تر دې وړاندي دي کوم کتاب لوستو او نه دي هغه په خپل ښي لاس لیکلو، په هغه صورت کي به باطلپال په شك کي پرېوتي ول، 49- بلکي دا د هغو په سینو کي د څرګندو آیتونو مجموعه ده چې علم ورکړی شوی، او زما له آیتونو یوازي ظالمان انکار کوي. 50- او وئې ویل: ولي د ده د رب له لوري څرګندي نښي نه دي پرې نازلي شوې؟ ووایه: یقیناً چې نښي خو له الله سره دي، او زه یوازي یو څرګند نذیر یم، 51- آیا دا ورته کفایت نه کوي چې موږ پر تا هغه کتاب نازل کړی چې پر دوی لوستل کېږي، یقیناً چې په دې کي د ایمان راوړونکو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذکر دئ. 52- ووایه: زما او ستاسو ترمنځ الله د شاهد په توګه کافي دئ، په هر هغه څه پوهېږي چې په آسمانونو او زمکي کي دي، او هغه چې په باطل ئې ایمان راوړی او د الله په اړه ئې کفر کړی همدا دوی زیانمن دي.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَوۡلَآ أَجَلٞ مُّسَمّٗى لَّجَآءَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ
وَلَيَأۡتِيَنَّهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٥٣ يَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَإِنَّ
جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلۡكَٰفِرِينَ ٥٤ يَوۡمَ يَغۡشَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِن فَوۡقِهِمۡ
وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۡ وَيَقُولُ ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٥٥ يَٰعِبَادِيَ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ٥٦ كُلُّ نَفۡسٖ
ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ٥٧ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ٥٨ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ
يَتَوَكَّلُونَ ٥٩ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ
وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١
ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ
شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ
ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ
لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣

53- او په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي، او که ټاکلې نېټه نه وی نو حتماً به دا عذاب ورته راغلی وو، او حتماً به په داسي حال کې ناڅاپي وربانديي راشي چي دوی به بې خبره وي، 54- په تلوار سره له تا د عذاب غوښتنه کوي په داسي حال کې چي جهنم حتماً پر دغو کافرانو راتاوېدونکی دئ، 55- هغه ورځ چي عذاب به دوی له بره ئې او د پښو له لاندي ئې وپوښي، او وبه وايي: هغه څه وڅکئ چي تاسو کول. 56- اې زما هغو بندګانو چي ايمان ئې راوړی! زما زمکه پراخه ده، نو يوازي زما عبادت وکړئ، 57- هر نفس د مرګ (د خوند) څکونکی دئ، بيا زما لوري ته راګرځول کېږئ، 58- او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ هرومرو به ئې د جنت په داسي دنګو ماڼيو کې مېشت کړو چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، څومره غوره دئ د دغو عمل کوونکو اجر، 59- هغه چي صبر ئې وکړ او پر خپل رب توکل کوي. 60- او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي (پر خپلو اوږو) نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، 61- او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پيدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووايي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږي، 62- دا خو الله دئ چي په خپلو بندګانو کې هغه چا ته روزي پراخوي چي دی ئې غواړي او يا ئې ورته محدوده او تنګه کوي، يقيناً چي الله په هر څه ښه پوه دئ، 63- او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلي مړيني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووايي: الله؛ ووايه: ستايني ټولې الله ته دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

وَمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ لَهِىَ
ٱلْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ
مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾
لِيَكْفُرُوا۟ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا۟ ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟
أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ
يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى
ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُۥٓ ۚ أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ مَثْوًى
لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ
ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

## سُورَةُ الرُّومِ

### بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ
سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِى بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ
يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ ٱللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَآءُ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾

64- او د دې دنیا دا ژوند له لهو (خوشې مشغولتیا) او لعب (لوبې) پرته بل څه نه دئ، او یقیناً چې د آخرت کور داسې دئ چې همدا (واقعي) ژوندون دئ، کاش پوهېدی!! 65- کله چې په کښتۍ کې سپاره شي نو په داسې حال کې الله مرستې ته رابلي چې ده ته د خپل دیانت خالصوونکي دي، خو کله چې هغوی د وچې لورې ته وژغوري ناڅاپه بیا شرك کوي. 66- د دې لپاره چې د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي او چې متمتع شي، نو ژر به پوه شي. 67- آیا وئې نه لیدل چې موږ خوندي او باامنه حرم جوړ کړ، په داسې حال کې چې د دوی شاوخوا ته خلك تښتول کېږي، نو آیا پر باطل ایمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟! 68- او تر هغه به لوی ظالم څوك وي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء وکړه؛ یا ئې حق له هغه وروسته تکذیب کړ چې ورته راغی؟! آیا دغو کافرانو ته په جهنم کې یو استوګنځی نه دئ (مناسب)؟ 69- او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې وروښیو او یقیناً چې الله له دغو محسنینو سره دئ.

## الروم- مکي سوره- 60 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، میم، 2- روم مغلوب شو، 3- په دغې نژدې سیمې کې، او دوی به له خپلې مغلوبېدا وروسته ژر غالب شي، 4- په څو کلونو کې، کارونه وړاندې او وروسته د الله په واك کې دي، او دغه ورځ به مؤمنان خوشحالي کوي، 5- د الله د نصرت له کبله، هغه چا ته بری ورکوي چې دی ئې غواړي، او دی مهربان عزتمن دئ.

وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعۡلَمُونَ ٦ يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ
هُمۡ غَٰفِلُونَ ٧ أَوَ لَمۡ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۗ وَإِنَّ
كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ بِلِقَآيِٕ رَبِّهِمۡ لَكَٰفِرُونَ ٨ أَوَ لَمۡ يَسِيرُواْ فِي
ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ أَشَدَّ
مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَأَثَارُواْ ٱلۡأَرۡضَ وَعَمَرُوهَآ أَكۡثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا
وَجَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظۡلِمَهُمۡ وَلَٰكِن
كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ٩ ثُمَّ كَانَ عَٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ ٱلسُّوٓأَىٰٓ
أَن كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ بِهَا يَسۡتَهۡزِءُونَ ١٠ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ
ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ١١ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ
يُبۡلِسُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ١٢ وَلَمۡ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمۡ شُفَعَٰٓؤُاْ
وَكَانُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ كَٰفِرِينَ ١٣ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ
يَتَفَرَّقُونَ ١٤ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي
رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ١٥

6- د الله وعده ده، الله له خپلي ژمني نه په شا کېږي خو اکثر خلك نه پوهېږي. 7- د دنيايي ژوند په ځينو ښکارندو (اړخونو) پوهېږي په داسي حال کي چي دوی له آخرته غافل دي. 8- آيا له ځان سره ئې فکر نه دئ کړی چي الله آسمانونه او زمکه او څه چي د دوی په منځ کي دي له حق او ټاکلې نېټې پرته (په بله توگه) نه دي پيدا کړي او د خلکو ډېری د خپل رب له ملاقات انکار کوي. 9- آيا په زمکي کي نه دي گرځېدلي چي ليدلې ئې وی د هغو پايله څنگه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی د قوت له پلوه ډېر مضبوط ول او زمکه ئې تر هغه زياته سپړلې (ودانه کړې) وه چي دوی سپړلې، او پيغمبرانو ئې ښکارندي نښي وروړې، نو الله پر دوی ظلم نه کاوو بلکي دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو، 10- بيا د هغو کسانو عاقبت او پايله بده وه چي بدي ئې وکړه، له دې کبله چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل او استهزاء ئې پرې کوله. 11- الله هغه ذات دئ چي پيدايښت پيلوي بيا ئې اعاده کوي، بيا (ټول) د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ. 12- او هغه ورځ چي (د قيامت) دغه گړۍ قائمه شي مجرمين به نهيلي شي. 13- او دوی ته به له خپلو شرکاوو (هيڅ) شفاعت کوونکي نه وي، او له خپلو شرکاوو به انکار کوونکي وي. 14- او هغه ورځ چي (د قيامت) دغه گړۍ قائمه شي دوی به په دې ورځ سره بېل بېل شي. 15- نو هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی به په داسي باغ کي وي چي (پرې) خوشحاله به کړی شي.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ
فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴿١٦﴾ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ
تُصۡبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ
تُظۡهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ
ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴿١٩﴾ وَمِنۡ
ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾
وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ
إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ
يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَٱخۡتِلَٰفُ أَلۡسِنَتِكُمۡ وَأَلۡوَٰنِكُمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡعَٰلِمِينَ
﴿٢٢﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبۡتِغَآؤُكُم مِّن
فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦ
يُرِيكُمُ ٱلۡبَرۡقَ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَيُحۡيِۦ
بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٢٤﴾

16- او هغه چي کفر ئې کړی او زما آیتونه او د آخرت ملاقات ئې تکذیب کړي نو دوی به عذاب ته حاضر کړی شوي وي. 17- نو تسبیح ویل دي الله ته؛ هغه مهال هم چي ماښام ته ننوځئ او هغه مهال هم چي سباوون ته ننوځئ، 18- او په آسمانونو او زمکې کې ستاینه (ویل) ده ته (مختص) دي، او بیگا هم او هغه مهال هم چي ماسپښین ته ننوځئ، 19- ژوندی له مړي راباسي او مړی له ژوندي، او زمکه له خپلي مړیني وروسته بیا راژوندۍ کوي، او همداسي به تاسو هم راایستل کېږئ. 20- او دا د ده له آیتونو دئ چي تاسو ئې له خاوري پیدا کړئ، نو بیا ناڅاپه تاسو داسي بشر شوئ چي خورېږئ. 21- او د آیتونو ئې یوه ښرگنده نښه دا ده چي تاسو ته ئې په خپله له تاسو داسي جوړې راپیدا کړې چي خوا ته ئې آرامښت ومومئ، او ستاسو تر منځ ئې مینه او پیرزوینه راپیدا کړه، یقیناً چي په دې کې هغو وگړو ته ښرگندي نښې دي چي تفکر کوي. 22- او د آیتونو ئې یوه (ښرگنده نښه) د آسمانونو او زمکې پیدایښت او ستاسو د ژبو او رنگونو اختلاف (بېلوالی) دئ، یقیناً چي په دې کې پوهانو ته ښرگندي نښې دي. 23- او د آیتونو ئې یوه (ښرگنده نښه) په شپه او ورځ کې ستاسو خوب او د ده د فضل لټونه مو ده، یقیناً چي په دې کې د هغو وگړو لپاره ښرگندي نښې دي چي اوري. 24- او د آیتونو ئې یوه (ښرگنده نښه) دا ده چي برېښنا د ویري او طمعي په توگه دربښیي او له آسمان اوبه نازلوي او په دې سره زمکه له خپلي مړیني وروسته راژوندۍ کوي، یقیناً چي په دې کې هغو وگړو ته ښرگندي نښې دي چي تعقل کوي.

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ
دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَـٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ
وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ
ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل
لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا رَزَقْنَـٰكُمْ
فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ
نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟
أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِى مَنْ أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن
نَّـٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ
ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَـٰكِنَّ
أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ ۞ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا۟
ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟
دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

25- او د آیتونو ئې یوه ( څرګنده نښه) دا ده چې آسمان او زمکه د ده په حکم قائم دي، بیا کله چې تاسو له زمکې وروبلي ناڅاپه به راوځئ. 26- او هغه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د ده دي، ټول ورته منقاد دي. 27- او دی هغه ذات دئ چې پیدایښت پیلوي بیا ئې اعاده کوي او دا (اعاده ئې) ده ته ډېر آسان دئ، او په آسمانونو او زمکې کې لوړ لوړ مثالونه ده ته دي او دی باحکمت عزتمن دئ. 28- تاسو ته په خپله ستاسو یو مثال بیانوي: آیا په هغه څه کې چې تاسو ته ئې درروزي کړي داسي شریکان مو شته چې ستاسو لاسونه ئې مالك وي (ستاسو مملوك او مریی وي) نو تاسو په هغه کې سره برابر وئ؛ داسي ترې وېرېږئ لکه له خپلو ځانونو وېره؟!! همداسي هغو وګړو ته آیتونه په تفصیل سره بیانوو چې تعقل کوي. 29- بلکې هغو چې ظلم ئې کړی له کومي پوهي پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی. نو هغه به څوك هدایت کړي چې الله بې لاري کړی او هیڅ مرستندویان ئې نشته. 30- نو خپل مخ دي په یو مخیزه (بشپړه) توګه د دین لوري ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چې خلك ئې پرې (فطرتاً) پیدا کړي، د الله پیدایښت ته هیڅ بدلون نشته، همدا سم او مضبوط دین دئ خو ډېری خلك نه پوهېږي. 31- د ده لوري ته انابت کوونکي او ترې ووېرېږئ او لمونځ قائم کړئ او له مشرکینو مه کېږئ، 32- له هغو چې خپل دین ئې شیندلی دئ او ډلي ډلي شوي وو، هره ډله پر هغه څه خوښ چې ورسره ول.

وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوۡاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنۡهُ
رَحۡمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنۡهُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ
فَتَمَتَّعُواْ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ
بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشۡرِكُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَآ أَذَقۡنَا ٱلنَّاسَ رَحۡمَةً فَرِحُواْ بِهَاۖ وَإِن
تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ إِذَا هُمۡ يَقۡنَطُونَ ﴿٣٦﴾ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ
ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ
يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٧﴾ فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ
خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَآ
ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم
مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ﴿٣٩﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي
خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ هَلۡ مِن
شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَيۡءٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ﴿٤٠﴾ ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ
لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤١﴾

33- او کله چي خلکو ته کوم کړاو ورسېږي خپل رب ته په داسي حال کي دعاء کوي چي د ده لوري ته انابت کوونکي وي، بیا کله چي له خپل لوري کوم رحمت وروڅکي ناڅاپه د دوی یوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي. 34- د دې لپاره چي د هغه څه په اړه ناسپاسي وکړي چي دوی ته ئې ورکړي، نو متمتع شئ چي ژر به (ئې په پایلي) پوه شئ، 35- آیا پر دوی مو کوم داسي دلیل نازل کړی چي دوی ته د هغه څه په اړه وینا کوي چي دوی پرې شرك کوي؟! 36- او کله چي خلکو ته کوم رحمت وروڅکو پرې خوښ شي، او که د هغه څه له کبله کومه ستونزه وروړسېږي چي د دوی لاسونو وړاندي کړي ناڅاپه دوی ناهیلي کېږي. 37- آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي الله هر چا ته چي وغواړي روزي پراخوي او تنګوي، یقیناً چي په دې کي هغو وګړو ته څرګندي نښي دي چي ایمان لري. 38- نو د خپلوۍ خاوند، مسکین او مسافر ته د هغه حق ورکړه، دا هغو ته غوره دئ چي د الله رضاء غواړي، او همدا دوی بریالي دي. 39- او له سود مو چي څه د دې لپاره ورکړي چي د خلکو په مال کي وده وکړي نو د الله په وړاندي وده نه کوي، او له زکات مو چي څه د الله د رضاء په تکل ورکړي نو همدا دوی (څو ځلي) زیاتوونکي دي. 40- الله هغه ذات دئ چي تاسي ئې پیدا کړئ، بیا ئې تاسو ته روزي درکړه، بیا تاسي مړه کوي، بیا مو بېرته راژوندي کوي، آیا ستاسي له شریکانو داسي څوك شته چي له دې کارونو کوم یو وکړی شي؟! پاکي ده الله ته او هغه لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې ورسره شریکوي. 41- د هغه څه له کبله چي د خلکو لاسونو حاصل کړي په وچه او سمندر کي فساد راڅرګند شو، د دې لپاره چي دوی ته د ځینو هغو عملونو خوند وروڅکو چي دوی کړي په دې هیله چي راوګرځي.

قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلُۚ كَانَ
أَكۡثَرُهُم مُّشۡرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ ٱلۡقَيِّمِ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ
لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۖ يَوۡمَئِذٖ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيۡهِ كُفۡرُهُۥۖ
وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِأَنفُسِهِمۡ يَمۡهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَمِنۡ
ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرۡسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٖ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحۡمَتِهِۦ وَلِتَجۡرِيَ
ٱلۡفُلۡكُ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدۡ
أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوۡمِهِمۡ فَجَآءُوهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمۡنَا مِنَ
ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيۡنَا نَصۡرُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٧﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ
ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَيَبۡسُطُهُۥ فِي ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ يَشَآءُ وَيَجۡعَلُهُۥ
كِسَفٗا فَتَرَى ٱلۡوَدۡقَ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ
عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيۡهِم مِّن
قَبۡلِهِۦ لَمُبۡلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ كَيۡفَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ
بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾

42-ووایه: په زمکې کې وګرځئ او وګورئ چې د هغو پایله څنګه وه چې تر دې وړاندې ول، د دوی ډېری مشرکان ول. 43- نو خپل مخ دې د سم دین لوري ته برابر کړه؛ تر دې وړاندې چې هغه ورځ راشي چې د الله له لوري ئې بېرته ستنول نشته، په دې ورځ به بېل بېل شي. 44- چا چې کفر کړی نو پر ده به د خپل کفر بده پایله (مسلطه) وي، او چا چې کوم نېك عمل وکړ نو د خپلو ځانونو لپاره د آرامښت تیاری کوي. 45- تر څو هغو ته چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي له خپل فضل بدله ورکړي، یقیناً چې هغه کافران نه خوښوي. 46- او د آیتونو ئې یوه (څرګنده نښه) دا ده چې بادونه د زېري ورکوونکو په توګه لېږي او د دې لپاره چې خپل رحمت دروڅکي او چې کښتۍ د ده په حکم رواني شي او چې د ده فضل ولټوئ او ښایي شکر وکړئ. 47- او یقیناً چې تر تا وړاندې مو داسي پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته لېږلي چې څرګندي نښي ئې وروړې، نو له هغو مو انتقام واخیست چې جرمونه ئې کړي ول او د مؤمنانو مرسته زموږ پر ذمه ده. 48- الله همغه ذات دئ چې دغه سیلۍ رالېږي چې ورېځي خوځوي، بیا ئې څنګه چې غواړي په آسمان کې ئې خورې او ټوټې ټوټې کړي، بیا ګورې چې له منځه ئې څاڅکي راوځي او چې کله ئې خپلو هغو بندګانو ته ورسوي چې دی ئې غواړي؛ ناڅاپه (پرې) خوشحالېږي، 49- په داسي حال کې چې تر دې وړاندې چې پرې ووربږي ناهیلي ول. 50- نو د الله د رحمت آثارو ته وګوره چې څنګه زمکه له مړیني ئې وروسته راژوندۍ کوي، یقیناً چې همدا ذات د مړو ژوندی کوونکی دئ، او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ.

وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا فَرَأَوۡهُ مُصۡفَرّٗا لَّظَلُّواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ يَكۡفُرُونَ
٥١ فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ
مُدۡبِرِينَ ٥٢ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا
مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ٥٣ ۞ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن
ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ
ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ٥٤ وَيَوۡمَ تَقُومُ
ٱلسَّاعَةُ يُقۡسِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖۚ كَذَٰلِكَ كَانُواْ
يُؤۡفَكُونَ ٥٥ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَٱلۡإِيمَٰنَ لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِي
كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡبَعۡثِۖ فَهَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡبَعۡثِ وَلَٰكِنَّكُمۡ كُنتُمۡ
لَا تَعۡلَمُونَ ٥٦ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ
يُسۡتَعۡتَبُونَ ٥٧ وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ
مَثَلٖۚ وَلَئِن جِئۡتَهُم بِـَٔايَةٖ لَّيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا
مُبۡطِلُونَ ٥٨ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٥٩
فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ٱلَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ٦٠

51- او كه داسي سيلۍ ولېږو چي په نتيجه كي ئې (خپل فصل) ژېړ ومومي نو حتماً به تر هغه وروسته داسي شي چي كفر كوي. 52- نو ته دغو مړو ته اورول نشې كولی، او دغو گونگيانو ته هم هغه مهال بلنه نشې اورولی چي په داسي حال كي مخ واړوي چي ترشا كېدونكي وي. 53- او ته د دغو ړندو داسي لارښود نه يې چي (حتماً به ئې) له لاروركتيا (ژغورې)، ته يوازي هغه ته اورول كولی شې چي زموږ په آيتونو په داسي حال كي ايمان راوړي چي مسلمان (غاړه اېښودونكي) وي. 54- الله هغه ذات دئ چي تاسو ئې له كمزوري (حالت) پيدا كړئ، بيا ئې له كمزورۍ وروسته قوت درپه برخه كړ، بيا ئې له قوت وروسته كمزوري او زوړوالی (مقدر) كړ، څه چي غواړي پيدا كوي ئې، او هغه توانمن پوه دئ. 55- او هغه ورځ چي هغه ساعت ترسره شي؛ مجرمين به قسمونه خوري چي له يوې گنټې پرته نه دي تم شوي، همداسي دروغ ته هڅول كېدل، 56- او هغه چي علم وركړی شوی وايي به: يقيناً چي د الله د كتاب له مخي د پاڅون تر ورځي تم شوي يئ، نو همدا د پاڅون ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. 57- نو په دې ورځ به هغو ته چي ظلم ئې كړی نه به ئې خپل معذرت گټه وررسولی شي او نه به ترې وغوښتل شي چي معافي وغواړي. 58- او يقيناً چي خلكو ته مو په دې قرآن كي هر ډول مثالونه بيان كړل، او كه كومه ښكاره نښه ورته راوړې؛ هغه چي كفر ئې كړی حتماً به وايي: تاسو فقط باطلي خبري كوئ، 59- الله همداسي د هغو پر زړونو مهر لگوي چي نه پوهېږي. 60- نو صبر وكړه، يقيناً چي د الله وعده رښتينې ده او هغه خلك دي تا سپك ونه مومي چي باور نه كوي.

# سُورَةُ لُقۡمَانَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ هُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّلۡمُحۡسِنِينَ
٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ
٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥ وَمِنَ
ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ
وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ٦ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا
وَلَّىٰ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَا كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ
أَلِيمٍ ٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ٨
خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٩ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ
فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ
كَرِيمٍ ١٠ هَٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ
ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ١١

## لقمان- مكي سوره- 34 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، ميم، 2- دا د باحکمت کتاب آيتونه دي، 3- د نېکانو لپاره لارښود او رحمت، 4- هغو ته چې لمونځ قائموي، زکات ورکوي او دوی همغه دي چې پر آخرت يقين کوي، 5- دوی د خپل رب له لوري لارښووني باندې (سمبال) دي او همدا دوی بريالي دي. 6- او ځيني خلك (داسي دي چې) چټي خبري پېري د دې لپاره چې (خلك) په ناپوهۍ سره د الله له لاري بې لاري کړي او ملنډې پرې وهي، دوی همغه دي چې رسوا کوونکی عذاب ئې (په برخه) دئ، 7- او کله چې زموږ آيتونه پرې ولوستل شي د لويي په لته کې داسي شا اړوي لکه چې هغه ئې نه وي اورېدلي، لکه چې په غوږونو کې ئې دروندوالی وي. نو د دردوونکي عذاب زېری ورکړه. 8- يقيناً هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، دوی ته له نعمتونو ډك جنتونه دي، 9- تلپاتي په هغه کې، د الله رښتينې وعده، او هغه باحکمته عزتمن دئ. 10- آسمانونه او زمکه ئې له داسي ستنو پرته پيدا کړل چې تاسو ئې ليدی شئ، او په زمکي کې ئې داسي لنگرونه واچول چې تاسو ونه لړزوي، او په هغې کې ئې ډول ډول خوځېدونکي (ژوي) خواره کړل، او له آسمانه مو اوبه نازلې کړې نو په دې سره مو په (زمکي) کې ډول ډول غوره جوړې راوټوکولې، 11- دا د الله پيدايښت دئ؛ نو راوښيئ چې له ده پرته (نورو) څه پيدا کړي؟ بلکي ظالمان په څرگند بې لاريتوب کې دي.

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِۚ وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا
يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾ وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَٰنُ
لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ
﴿١٣﴾ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ
فِي عَامَيۡنِ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَإِن جَٰهَدَاكَ
عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا
فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ
فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾ يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ
مِّنۡ خَرۡدَلٖ فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ أَوۡ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ
بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ﴿١٦﴾ يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ
بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ
عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿١٧﴾ وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ
مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ﴿١٨﴾ وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ
وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ ﴿١٩﴾

12- او يقيناً چې لقمان ته مو دا حكمت ورپه برخه كړ چې الله ته شكر كوه، او څوك چې شكر كوي نو د خپل ځان (د ګټې) لپاره شكر كوي، او چا چې ناسپاسي وكړه نو الله ستايلى بې نياز دئ، 13- او هغه مهال (درپه ياد كړه) چې لقمان خپل زوى ته په داسې حال كې چې وعظ ئې ورته كولو وويل: اې زما ګرانه زويه! له الله سره (څوك) مه شريكوه، يقيناً چې شرك لوى ظلم دئ، 14- او انسان ته مو د والدينو په اړه د ښېګڼې سپارښتنه وكړه، مور ئې دى په پرله پسې سستيو ګاللو سره حمل كړ، او بېلول ئې په دوو كلونو كې وو، دا سپارښتنه چې زما او د خپلو والدينو شكر كوه، بېرته ستنېدا زما په لوري ده، 15- او كه دوى دواړو ستا په اړه دا هڅه كوله چې له ما سره داسې څه شريك كړې چې د هغه په اړه علم نه لرې نو اطاعت ئې مه كوه، او په دنيايي چارو كې په ښه توګه مصاحبت ورسره كوه، او د هغه چا متابعت كوه چې زما لوري ته ئې انابت كړى، بيا مو بېرته ګرځېدا زما په لوري ده نو په هغه څه به مو خبر كړم چې تاسو كول. 16- اې زما ګرانه زويه! حقيقت دا دئ چې كه د سپيلني د دانې په مقدار څه وي او هغه په كومې ډبرې كې يا په آسمانونو او يا په زمكې كې وي نو الله به ئې راحاضر كړي، يقيناً چې الله باخبره لطيف دئ. 17- اې زما ګرانه زويه! لمونځ قائموه، په ښېګڼې ګمارنه كوه او له منكر ممانعت كوه، او په هغه څه (كړاوونو) صبر كوه چې دررسي، يقيناً چې دا له همتناكو كارونو دئ. 18- اننګې دې خلكو ته مه كږوه او په زمكې كې په نخرو نخرو مه درومه، يقيناً چې الله هر فخر كوونكى كبرجن نه خوښوي، 19- او په خپل تګ كې اعتدال كوه او خپل ږغ راټيټ كړه؛ يقيناً چې تر ټولو كركجن ږغ د خره ږغ دئ.

أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي
ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ٢٠ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ
مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ
ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ٢١ ۞وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ
إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ
عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٢٢ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ
فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٢٣ نُمَتِّعُهُمۡ
قَلِيلٗا ثُمَّ نَضۡطَرُّهُمۡ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٖ ٢٤ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٢٥ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ
ٱلۡحَمِيدُ ٢٦ وَلَوۡ أَنَّمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ مِن شَجَرَةٍ أَقۡلَٰمٞ وَٱلۡبَحۡرُ يَمُدُّهُۥ
مِنۢ بَعۡدِهِۦ سَبۡعَةُ أَبۡحُرٖ مَّا نَفِدَتۡ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ
٢٧ مَّا خَلۡقُكُمۡ وَلَا بَعۡثُكُمۡ إِلَّا كَنَفۡسٖ وَٰحِدَةٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ
بَصِيرٌ ٢٨

20- آیا پام مو نه دئ کړی چي یقیناً الله تاسو ته ټول هغه څه مسخر کړي چي په آسمانونو کي دي او ټول هغه څه چي په زمکي کي دي، او پر تاسو ئې خپل نعمتونه په څرګنده او پټه توګه بشپړ کړي، او له خلکو ځیني له علم، هدایت او روڼ کتاب پرته د الله په اړه مجادله کوي. 21- او کله چي ورته وویل شي: د هغه څه متابعت وکړئ چي الله رالېږلي؛ وایي: نه؛ بلکي د هغه څه متابعت کوو چي خپل پلرونه مو پرې موندلي، آیا که څه هم شیطان دوی د لمبه ناك عذاب لوري ته بلي؟! 22- او څوك چي خپل مخ (ځان) الله ته تسلیم کړي په داسي حال کي چي نېك وي نو یقیناً چي په مضبوطي کړۍ ئې منګولي ټینګي کړې دي، او د کارونو پایله الله ته (راجع کېدونکې) ده. 23- او څوك چي کفر وکړي نو د ده کفر دي تا غمجن نه کړي، بېرته ګرځېدا زموږ په لوري ده، نو په هغه څه به ئې خبر کړو چي کول ئې، یقیناً چي الله د سینو په شته وو ښه پوه دئ، 24- لږ به ئې متمتع کړو بیا به ئې د سخت عذاب لوري ته اړ کړو. 25- او که دوی وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي؛ حتماً به وو وایي: الله، (ورته) ووایه: الحمد لله (ټولي ستایني الله ته دي)، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 26- او څه چي په آسمانونو او زمکي کي دي (ټول) د الله دي، یقیناً چي الله ستایل شوی بې نیاز دئ. 27- او که په زمکي کي چي کومي ونې دي؛ (دا ټولي) قلمونه وي او سمندر ئې په داسي حال کي (د قلم) رنګ شي چي له ټامبېدو وروسته ئې اوه نور سمندرونه وي نو د الله کلمې به پای ته ونه رسېږي، یقیناً چي الله باحکمت عزتمن دئ. 28- ستاسو پیدایښت او پاځون نه دئ مګر داسي لکه د یوه نفس، یقیناً چي الله لیدونکی اورېدونکی دئ.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ
ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ
خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ
وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ
بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ
شَكُورٍ ﴿٣١﴾ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ
فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ
كَفُورٍ ﴿٣٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ
عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا
تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴿٣٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ
عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِى
نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِى نَفْسٌۢ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ
ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌۢ ﴿٣٤﴾

## سُورَةُ السَّجْدَةِ

29- آيا نه ګورې چې الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي، او لمر او سپوږمۍ ئې داسې مسخر کړي چې هر يو ئې تر ټاکلې نېټې درومي او دا چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. 30- دا له دې کبله چې همدا الله حق دئ او هغه څه چې له ده پرته ئې لمانځي (مرستې ته ئې بلي) باطل دي، او دا چې همدا الله ستر لوړ دئ. 31- آيا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله له فضل سره په بحرونو کې خوځي، تر څو ځيني خپل آيتونه دروښيي، يقيناً چې په دې کې هر صبر کوونکي شکور (بنده) ته ځرګندې نښې دي، 32- او کله چې ئې څپې د چتر په څېر وپوښي، (څپې ئې احاطه کړي، نو هغه مهال) الله پداسې حال کې مرستې ته بلي چې په دين کې ورته مخلص وي، خو چې کله ئې د وچې په لوري وژغوري (په نتيجه کې به ئې ګورې چې يوازې) د دوی ځيني منځ لاري وي، او زموږ له آيتونو انکار نه کوي مګر هر ناشکر عهد ماتوونکی. 33- اې خلکو! د خپل رب پروا وکړئ او له هغې ورځې ووېرېږئ چې نه به کوم پلار د خپل زوی بدله ورکولی شي او نه به کوم زوی د خپل پلار د څه بدلې ورکوونکی وي، يقيناً چې د الله وعده حق ده، نو نه دې دنيايي ژوند تاسو دوکه کړي او نه دې غولوونکی (شيطان) تاسو د الله په اړه وغولوي. 34- يقيناً چې (د قيامت) د نېټې علم له الله سره دئ، هغه باران ورووي او په هغه څه علم لري چې د ميندو په رحم کې وي، او هيڅوك نه پوهېږي چې سبا به څه ترلاسه کړي، او نه پوهېږي چې په کومې زمکې کې به مري، يقيناً چې الله ښه باخبره پوه دئ.

## السجده- مکي سوره- 30 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ أَمۡ
يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۚ بَلۡ هُوَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن
نَّذِيرٖ مِّن قَبۡلِكَ لَعَلَّهُمۡ يَهۡتَدُونَ ٣ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ مَا لَكُم
مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ وَلَا شَفِيعٍۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٤ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ سَنَةٖ
مِّمَّا تَعُدُّونَ ٥ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٦
ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٖ ٧
ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ
مِن رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا
تَشۡكُرُونَ ٩ وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۢۚ
بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ١٠ ۞قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ
ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ١١

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- الف، لام، میم، 2- په دې کې کوم شك نشته چې د دې کتاب لېږنه د رب العالمین له لوري ده، 3- آیا وایي: ده (له ځانه) افتراء کړی؟ داسي نه ده؛ بلکې هغه په رښتینې توګه ستا د رب له لوري دئ، تر څو هغه وګړي (پرې) انذار کړې چې تر تا وړاندي کوم نذیر نه وو ورغلی، هیله ده چې هدایت به شي. 4- الله هغه (ذات) دئ چې آسمانونه، زمکه او هر څه چې په دوی کې دي په شپږو ورځو کې ئې پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، له ده پرته نه کوم مولا درته شته او نه کوم شفاعت کوونکی، نو آیا پند نه اخلئ؟! 5- له آسمانه تر زمکې پوري (اوامر لېږي چې پرې) چارې سمبالوي، بیا په داسي ورځ کې د ده لوري ته بر درومي چې مقدار ئې د هغو زرو کلونو په اندازه دئ چې تاسو ئې شمېرئ. 6- همدا په پټ او څرګند پوه مهربان عزتمن دئ، 7- همغه چې هر هغه څه ئې ښکلی جوړ کړی چې ده پیدا کړی، او د انسان پیدایښت ئې له خټې پیل کړ، 8- بیا ئې د ده نسل د سپکو اوبو له خلاصې وګرځاوو، 9- بیا ئې برابر کړ او خپله روح ئې په کې پو کړه، او تاسو ته ئې غوږونه، سترګې او زړونه جوړ کړل، لږ دئ هغه شکر چې تاسو ئې کوئ! 10- او وئې ویل: آیا کله چې په زمکې کې ورك (او خاوري) شو بیا به په نوي پیدایښت کې وو؟! بلکې دوی د خپل رب د ملاقات په اړه کافران دي، 11- ووایه: د مرګ هغه فرشته ستاسو روح قبض کوي چې پر تاسو ګمارل شوې، بیا د خپل رب په لوري ګرځول کېږئ.

وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلۡمُجۡرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَآ
أَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَٱرۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ١٢ وَلَوۡ
شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ
جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ١٣ فَذُوقُواْ بِمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ
يَوۡمِكُمۡ هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمۡۖ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ بِمَا كُنتُمۡ
تَعۡمَلُونَ ١٤ إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِهَا خَرُّواْ سُجَّدٗا
وَسَبَّحُواْ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ۩ ١٥ تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمۡ
عَنِ ٱلۡمَضَاجِعِ يَدۡعُونَ رَبَّهُمۡ خَوۡفٗا وَطَمَعٗا وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ
يُنفِقُونَ ١٦ فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ
بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٧ أَفَمَن كَانَ مُؤۡمِنٗا كَمَن كَانَ فَاسِقٗاۚ لَّا
يَسۡتَوُۥنَ ١٨ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ جَنَّٰتُ
ٱلۡمَأۡوَىٰ نُزُلَۢا بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٩ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ فَمَأۡوَىٰهُمُ
ٱلنَّارُۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَآ أُعِيدُواْ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمۡ ذُوقُواْ
عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢٠

12- او كاش هغه مهال وګورې چې مجرمين د خپل رب په وړاندې د خپلو سرونو کوز نيوونکي وي (او وايي): اې زموږ ربه! ومو ليدل، واموورېدل، نو بېرته مو ستانه کړه چې نېك عمل وکړو، يقيناً چې باور کوونکي يو!! 13- او که مو غوښتي وی نو هر کس ته به مو د ده لارښوونه ورپه برخه کړې وه، خو زما له لوري دغه وينا محققه شوه چې حتماً به دوزخ له پېريانو او خلکو يو ځايي ډکوم. 14- نو د هغه څه له کبله ئې وڅکئ چې د خپلې دغې ورځې ملاقات مو هېر کړی وو، يقيناً چې موږ هېر کړي يئ، او تلپاته عذاب د هغه څه له کبله وڅکئ چې تاسو کول. 15- يقيناً چې زموږ پر آيتونو يوازې هغه وګرې ايمان راوړي چې کله پند پرې ورکړی شي سجده کوونکي پرېوځي او د خپل رب له ستايني سره د هغه تسبيح کوي، په داسې حال کې چې لويي غوښتونکي نه وي. 16- اړخونه ئې له بسترونو لرې وي او له وېرې او طمعې سره خپل رب بلي، او له هغه څه چې موږ ورروزي کړي انفاق کوي. 17- نو هيڅوك په هغو د سترګو يخولو (نعمتونو او څرنګوالي ئې) نه پوهېږي چې ورته مخفي کړی شوي، د هغه څه بدله چې دوی کول، 18- نو آيا هغه چې مؤمن دئ د هغه په څېر به وي چې فاسق دئ؟! نشي سره برابرېدی، 19- اما هغه چې ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي؛ نو دوی ته به د جنت مېشت ځی وي، د هغه څه (په بدل کې) يوه مېلمستيا چې دوی کول، 20- او هغه چې فسق ئې کړی نو مېشت ځی ئې دوزخ دئ، کله چې وغواړي ترې ووځي بېرته به ورستانه کړی شي او ورته وبه ويل شي: د هغه اور عذاب وڅکئ چې تاسو تکذيبولو.

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ دُونَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ لَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ
إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ
فَلَا تَكُن فِي مِرۡيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦۖ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدٗى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
﴿٢٣﴾ وَجَعَلۡنَا مِنۡهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا لَمَّا صَبَرُواْۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا
يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفۡصِلُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ
فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَ لَمۡ يَهۡدِ لَهُمۡ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّنَ
ٱلۡقُرُونِ يَمۡشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمۡۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٍۚ أَفَلَا يَسۡمَعُونَ
﴿٢٦﴾ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَسُوقُ ٱلۡمَآءَ إِلَى ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡجُرُزِ فَنُخۡرِجُ بِهِۦ
زَرۡعٗا تَأۡكُلُ مِنۡهُ أَنۡعَٰمُهُمۡ وَأَنفُسُهُمۡۚ أَفَلَا يُبۡصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ
مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡفَتۡحُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلۡ يَوۡمَ ٱلۡفَتۡحِ لَا يَنفَعُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِيمَٰنُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ
وَٱنتَظِرۡ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

## سُورَةُ الأَحۡزَابِ

21- او هرو مرو به تر لوی عذاب وړاندي ووړ (رالنډ دنیایي) عذاب وروڅکو؛ تر څو راوګرځي. 22- او تر هغه چا به ستر ظالم څوک وي چې د خپل رب پر آیتونو پند ورکړی شي (خو) بیا دی ترې ډډه وکړي، یقیناً چې موږ له دغو مجرمینو انتقام اخیستونکي یو. 23- او یقیناً چې موسی ته مو هغه کتاب ورکړ، نو د مخامخېدو په اړه ئې په شك كې مه اوسه، او هغه مو د بني اسرائیلو لپاره لارښود وګرځاوو، 24- او لدوی مو ځیني داسي امامان وګرځول چې زموږ د امر مطابق ئې (د خلکو) لارښوونه کوله، (دا) هغه مهال چې دوی صبر وکړ او زموږ پر آیتونو ئې باور کولو. 25- یقیناً چې همدا ستا رب به د قیامت په ورځ د دوی تر منځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کولو. 26- آیا دوی ته دې (حقیقت) لارښوونه ونه کړه چې تر دوی وړاندي مو څومره هغه نسلونه هلاك كړل چې دوی ئې په استوګنځیو کې ګرځي، یقیناً چې په دې کې (ډېري) څرګندي نښي دي، آیا نه ئې اوري؟! 27- او آیا نه ئې دي لیدلي چې موږ اوبه د شاړي زمکې په لوري بیایو او په دې سره داسي کښت (بوټي) راباسو چې ځیني ئې هم د دوی څاروي خوري او هم دوی په خپله، نو آیا نه ګوري؟! 28- او وایي: که رښتیني یئ دا فتح به کله وي؟ 29- ووایه: د دې فتحي په ورځ به هغو ته د دوی ایمان ګټه ونه رسوي چې کفر ئې کړی او نه به مهلت ورکړی شي، نو له دوی ډډه وکړه او انتظار وکړه چې دوی هم منتظر دي.

## الاحزاب- مکي سوره- 73 آیتونه

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَۚ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ١ وَٱتَّبِعۡ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا ٢ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ
وَكِيلًا ٣ مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلۡبَيۡنِ فِي جَوۡفِهِۦۚ وَمَا جَعَلَ
أَزۡوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي تُظَٰهِرُونَ مِنۡهُنَّ أُمَّهَٰتِكُمۡۚ وَمَا جَعَلَ
أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ قَوۡلُكُم بِأَفۡوَٰهِكُمۡۖ وَٱللَّهُ
يَقُولُ ٱلۡحَقَّ وَهُوَ يَهۡدِي ٱلسَّبِيلَ ٤ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ
أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمۡ تَعۡلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي
ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمۡۚ وَلَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٞ فِيمَآ أَخۡطَأۡتُم بِهِۦ
وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتۡ قُلُوبُكُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ٥
ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ وَأُوْلُواْ
ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ إِلَّآ أَن تَفۡعَلُوٓاْ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِكُم مَّعۡرُوفٗاۚ كَانَ ذَٰلِكَ
فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ٦

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې نبي! د الله پروا لره او د کافرانو او منافقینو اطاعت مه کوه، یقیناً چې الله ښه باحکمت پوه دئ. 2- او د هغه څه متابعت کوه چې ستا د رب له لوري درته وحي کېږي، یقیناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ. 3- او پر الله توکل کوه چې الله د وکیل (ذمه وال) په توګه کافي دئ. 4- الله د هیڅ سړي په ټټر کې دوه زړونه نه دي ګرځولي، او ستاسو هغه مېرمني ئې ستاسو میندي نه دي ګرځولې چې ترې ظهار کوئ (ورته وایئ چې زما د مور په څېر شوې)، او ستاسو زوی بوللي ئې ستاسو زامن نه دي ګرځولي، دا ستاسو د خپلو خولو وینا ده، او الله حقه وینا کوي او هغه سمه لار ښیي، 5- خپلو پلرونو ته منسوب ئې دروبلئ (د خپلو پلرونو په نامه ئې یاد کړئ)، همدا د الله په وړاندي ډېره عادلانه ده، او که ئې پلرونه نه پېژنئ نو په دین کې ستاسو ورونه او ستاسو دوستان دي، او په هغه څه کې کومه ګناه درباندي نشته چې په کې خطاء شئ، لیکن په هغه څه کې (ګناه شته) چې ستاسو زړونو ئې قصد کړی وي، او الله مهربان بخښونکی دئ. 6- مؤمنانو ته دا نبي د دوی تر خپلو ځانونو لومړی توب لري، او مېرمني ئې د دوی میندي دي، او د الله په کتاب کې مؤمن او مهاجر خپلوان ځیني تر ځینو نورو لومړی توب لري، مګر دا چې له خپلوانو سره مو په معروفه توګه کومه ښېګڼه وکړئ، همدا په دې کتاب کې لیکل شوي.

وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ
وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿٧﴾
لِّيَسۡـَٔلَ ٱلصَّٰدِقِينَ عَن صِدۡقِهِمۡۚ وَأَعَدَّ لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿٨﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ
جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا
تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ
وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ
ٱلظُّنُونَا۠ ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ﴿١١﴾
وَإِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ﴿١٢﴾ وَإِذۡ قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ
لَا مُقَامَ لَكُمۡ فَٱرۡجِعُواْۚ وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ
بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ بِعَوۡرَةٍۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ﴿١٣﴾ وَلَوۡ
دُخِلَتۡ عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُواْ ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ
بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ﴿١٤﴾ وَلَقَدۡ كَانُواْ عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ لَا يُوَلُّونَ
ٱلۡأَدۡبَٰرَۚ وَكَانَ عَهۡدُ ٱللَّهِ مَسۡـُٔولٗا ﴿١٥﴾

7- او هغه مهال چې له انبیاوو مو د دوی ترون واخیست، له تا، له نوح، ابراهیم، موسی او عیسی د مریمې زوی، او لدوی مو کلك ترون واخیست، 8- تر څو له رښتینو د دوی د رښتینولۍ پوښتنه وکړي، او کافرانو ته ئې ځانګړی دردوونکی عذاب تیار کړی. 9- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوینه درياد کړئ چې لښکري درته راغلې نو موږ سیلۍ پرې ولېږله او داسې لښکري چې تاسو ونه لیدلې، او الله د هغه څه ښه لیدونکی وو چې تاسو کول، 10- هغه مهال چې له بره مو هم دربانديې راغلل او ستاسو له کوز لوري هم، او هغه مهال چې سترګې تتې شوې وې او زړونه ستونو ته رسېدلي وو او د الله په اړه مو ډول ډول ګمانونه کول، 11- همدلته مؤمنان وآزمویل شول او په سختې لړزېدا سره ولړزول شول، 12- او هغه مهال چې منافقینو او هغو چې په زړونو کې ئې مرض دئ ویل: الله او د ده رسول له یو ډول غولولو پرته د بل څه وعده نه وه راسره کړې، 13- او هغه مهال چې د دوی یوې ډلې وویل: اې د یثرب استوګنو! د تمېکې ځای درته نشته؛ نو بېرته ستانه شئ، او د دوی یوې لويې ډلې په داسې حال کې له پیغمبر اجازه غوښتله چې ویل ئې: یقیناً چې زموږ کورونه نامحفوظ دي، حال دا چې نامحفوظ نه ول، له تېښتې پرته ئې بل څه نه غوښتل، 14- او که له اطراف ئې پرې ورننوتې وی بیا فتنه ترې غوښتل شوې وی؛ حتماً به ورغلي وو او د هغې په اړه به له معمولي درنګ پرته نه وو تم شوي. 15- په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې له الله سره ژمنه کړې وه چې شا به نه اړوي، او الهي ژمنه خو داسې ده چې پوښتنه ئې کېږي.

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلۡفِرَارُ إِن فَرَرۡتُم مِّنَ ٱلۡمَوۡتِ أَوِ ٱلۡقَتۡلِ وَإِذٗا لَّا
تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿١٦﴾ قُلۡ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ
أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ
ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿١٧﴾ ۞قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ
وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلۡبَأۡسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾
أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ تَدُورُ
أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ
سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ
فَأَحۡبَطَ ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿١٩﴾ يَحۡسَبُونَ
ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم بَادُونَ
فِي ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ
إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢٠﴾ لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن
كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَءَا
ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ
ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ﴿٢٢﴾

16- ووایه: که وتښتئ دا تېښته به هیڅکله تاسو ته له مړیني او وژل کېدو (کومه) ګټه درونه رسوي، او په هغه صورت کې به له لږ شاني پرته برخمن نه کړی شئ، 17- ووایه: هغه څوك دئ چې له الله مو خوندي وساتي که کوم بدوالی درته وغواړي او یا کومه پېرزوینه درته وغواړي؟! او له الله پرته به نه ځان ته کوم مولا وموميي او نه کوم مرستندوی. 18- بې شکه چې الله ستاسو خنډ کېدونکي وګړي او هغه ښه پیژندلي چې خپلو وروڼو ته (د دې وینا) ویوونکي وو: زموږ لوري ته راشئ په داسي حال کې چې په جګړې کې برخه نه اخلي مګر ډېر لږ، 19- پر تاسو (د هري ښېګڼې) په اړه بخل کوونکي، کله چې د وېرې حالت راشي نو دوی به ووینې چې ستا په لوري به داسي ګوري چې سترګی به ئې رغړي، د هغه چا په څېر چې د مرګ (د وېري او هیبت) له کبله بې سده شوی، خو کله چې وېره (او د خوف حالت) له منځه ولاړ شي له تاسو سره به په تېرو ژبو مخامخ کېږي، د مال ډېر حرص لرونکي، دوی ایمان نه دئ راوړی، نو الله د دوی عملونه حبط کړل او دا کار الله ته آسان دئ. 20- داسي انګېري چې (د دښمنانو) ډلي لا نه دي تللي او که احزاب (بیا) راشي دا به خوښوي چې د کوچیانو په ډلي کې په بیدیا کې اوسېدی او ستاسو خبري ئې (له یوه او بل) پوښتلی، او که (احیاناً) په تاسو کې وی نو نه به وو جنګېدلي مګر ډېر لږ. 21- یقیناً چې تاسو ته د الله په استازي کې نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځي ته امید ساتي او الله زیات یادوي. 22- او کله چې مؤمنانو هغه ډلي ډلي (لښکري) ولیدلې وئې ویل: دا همغه څه دي چې الله او پیغمبر ئې له موږ سره ژمنه کړې وه، او الله او د هغه پیغمبر رښتیا ویلي، او زیات ئې نه کړ مګر د دوی ایمان او انقیاد.

مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن
قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٣﴾ لِّيَجۡزِيَ
ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ
عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
قَوِيًّا عَزِيزٗا ﴿٢٥﴾ وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن
صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ
فَرِيقٗا ﴿٢٦﴾ وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضٗا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ
إِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيۡنَ أُمَتِّعۡكُنَّ
وَأُسَرِّحۡكُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ
وَٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلۡمُحۡسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجۡرًا عَظِيمٗا
﴿٢٩﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ مِنكُنَّ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖ يُضَٰعَفۡ لَهَا
ٱلۡعَذَابُ ضِعۡفَيۡنِۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ﴿٣٠﴾

23- له مؤمنانو ځيني مېړني داسي دي چي له الله سره کړې ژمني ئې رښتينې کړې، نو د دوی ځيني هغه دي چي خپل نذر ئې ترسره کړ، او ځيني هغه چي انتظار کوي او په هيڅ ډول بدلون سره ئې (د خپلي ژمني) بدلون نه دئ کړی، 24- تر څو الله رښتينو ته د خپلي رښتينولۍ بدله ورکړي او منافقين يا له خپل مشيت سره سم تعذيب کړي يا ئې توبه قبوله کړي، يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ. 25- او الله هغه وګړي له خپلو غصو (ډکو زړونو) سره په شا وټمبول چي کفر ئې کړی وو په داسي حال کې چي په هيڅ خير او ښېګڼي نه وو نائل شوي، او الله د دې جنګ په اړه مؤمنانو ته کافي شو، او الله عزتمن ځواکمن دئ، 26- او د اهل کتاب هغه وګړي ئې له خپلو کلاګانو راکوز کړل او د دوی په زړونو کې ئې رعب واچولو چي د هغوی ملاتړ ئې وکړ، ځيني مو وژل او ځيني مو اسيرول، 27- او د دوی زمکه، کورونه او اموال مو تاسو ته په ميراث درکړل او هغه زمکه هم چي لا تراوسه مو ګام نه دئ پرې اېښی، او الله په هر څه توانمن دئ. 28- اې نبي! خپلو مېرمنو ته دي ووايه: که د دنيوي ژوند او د هغه د سينګار په لټه کې يئ نو راشئ چي څه متاع درکړم او په ښه توګه خوشي کولو سره مو خوشې کړم، 29- او که داسي يئ چي الله، د هغه رسول او د آخرت کور غواړئ نو يقيناً چي الله ستاسو نېکو ته ستر اجر برابر کړی. 30- اې د نبي مېرمنو! که له تاسو څوک کوم ځرګند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې په دوه ځلي زياتوالي سره زيات کړی شي، او الله ته دا کار آسان دئ،

*وَمَن يَقۡنُتۡ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا نُّؤۡتِهَآ
أَجۡرَهَا مَرَّتَيۡنِ وَأَعۡتَدۡنَا لَهَا رِزۡقٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ
لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ
فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ﴿٣٢﴾ وَقَرۡنَ
فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ
لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾
وَٱذۡكُرۡنَ مَا يُتۡلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱلۡحِكۡمَةِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ
وَٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ
وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلۡخَٰشِعِينَ
وَٱلۡخَٰشِعَٰتِ وَٱلۡمُتَصَدِّقِينَ وَٱلۡمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ
وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلۡحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمۡ وَٱلۡحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ
ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٣٥﴾

31- او له تاسو چي څوك الله او د هغه رسول ته منقاد شي او نېك عمل وكړي اجر به ئې دوه ځلي وركړو او غوره رزق به ورته برابر كړو. 32- اې د پيغمبر مېرمنو! تاسو د هيڅ بلي ښځي په څېر نه يئ كه تقوى وكړئ، نو په وينا كي پوستوالى مه كوئ داسي چي هغه څوك څه طمع وكړي چي په زړه كي ئې كوم مرض وي، او په معروفي غوره وينا سره خبري كوئ، 33- او په خپلو كورونو كي تم شئ او د مخكني جاهليت د دور ښرگندېدو په څېر مه ښرگندېږئ، لمونځ اقامه كړئ، زكات وركړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وكړئ، الله خو يوازي دا غواړي چي له تاسو اې كوروالو؛ ناپاكوالى لري وساتي او په ځانگړي پاكولو سره مو پاكي وساتي، 34- او هغه څه ياد كړئ چي ستاسو په كورونو كي له الهي آيتونو او حكمت كوم څه درباندي لوستل كېږي، يقيناً چي الله ډېر باخبر د لطافت خاوند دئ. 35- يقيناً چي مسلمانان او مسلماناني، مؤمنان او مؤمناني، منقاد نارينه او منقادي ښځي، رښتيني نارينه او رښتينې ښځي، صبرناك نارينه او صبرناكي ښځي، خاشع نارينه او خاشع ښځي، صدقه وركوونكي او صدقه وركوونكې، روژتي او روژتۍ، د خپل عورت ساتونكي او (د خپل عورت) ساتونكې، او د الله زيات يادوونكي او ذكر كوونكې؛ الله ورته د بخښني او ستر اجر تيارى نيولى.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ
لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا
مُّبِينًا ﴿٣٦﴾ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِىٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ
عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ وَتُخْفِى فِى نَفْسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى
ٱلنَّاسَ وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَىٰهُ ۖ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا
لِكَىْ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِىٓ أَزْوَٰجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا۟
مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٣٧﴾ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ مِنْ حَرَجٍ
فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ
قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا
يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ
مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ
شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾
وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ
لِيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾

36- او هیڅ مؤمن او مؤمني ته نه ښايي چي کله الله او د ده رسول د کوم کار پرېکړه وکړي (بيا دي) دوی ته په خپل کار کي څه اختيار وي، او څوك چي له الله او د هغه له رسول سرغړاوی وکړي يقيناً چي په ښکاره لاروركتوب سره لاروركی شو. 37- او کله چي تا هغه کس ته چي هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوينه کړې وه؛ ويل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه، او هغه څه دي په خپل زړه کي پټ ساتل چي الله ئې ښکاره کوونکی وو او له خلکو وېرېدې په داسي حال کي چي الله د دې زيات وړ دئ چي ترې ووېرېږې، نو کله چي زيد خپل حاجت ترې پوره کړ تا ته مو په نکاح کړه، د دې لپاره چي پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنگسه نه وي چي د خپلو زوی بوللو مېرمني هغه مهال په نکاح کړي چي هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي، او د الله امر تر سره کېدونکی وو، 38- پر پيغمبر په هغه څه کي هيڅ حرج نشته چي الله ورته ټاکلي، د الله هغه سنت چي تر دې وړاندي تېر شوی او د الله امر په ټاکلې توگه سرته رسېدونکی وي، 39- هغه (انبياء) چي الهي رسالتونه رسوي او ترې وېرېږي او له الله پرته له هيچا نه وېرېږي او الله د حساب کوونکي په توگه کافي دئ. 40- او محمد ستاسو د هيڅ نارينه پلار نه دئ خو هغه د الله استازی او د انبياوو خاتم (مُهْر او پای) دئ او الله په هر څه ښه پوه دئ. 41- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! الله په ډېرو يادولو سره ياد کړئ، 42- او سبا او بېگاه ئې تسبيح وايئ، 43- دی هغه (ذات) دئ چي پر تاسو رحمتونه لېږي او فرشتې ئې هم، ترڅو تاسو له تيارو د نور په لوري وباسي، او هغه پر مؤمنانو مهربان دئ،

تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ٤٤ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٤٥ وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ
بِإِذۡنِهِۦ وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ٤٦ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ
فَضۡلٗا كَبِيرٗا ٤٧ وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَدَعۡ أَذَىٰهُمۡ
وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ٤٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا
نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقۡتُمُوهُنَّ مِن قَبۡلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا
لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ عِدَّةٖ تَعۡتَدُّونَهَاۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا
جَمِيلٗا ٤٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ
أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ
عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي
هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ
ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۗ قَدۡ عَلِمۡنَا
مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ لِكَيۡلَا
يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٠

44- په هغه ورځ چي ورسره مخامخ کېږي ښه راغلی به ئې (په) سلام (سره) وي او غوره اجر ئې ورته تيار کړی. 45- اې نبي! يقيناً چي ته مو شاهد، زېری ورکوونکی، انذار ورکوونکی لېږلی يې، 46- او د الله په حکم د الله لوري ته بلونکی او لکه روڼ څراغ، 47- او مؤمنانو ته دا زېری ورکړه چي ستر الهي فضل ئې په برخه دئ، 48- او د کافرانو او منافقينو متابعت مه کوه، ځوروني ئې له پامه وغورځوه، او پر الله توکل وکړه، او الله د وکيل په توګه کافي دئ. 49- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! کله چي مؤمني مېرمني په نکاح کړئ بيا وړاندي تر دې چي نژدېکت ورسره وکړئ طلاق ورکړئ نو تاسو پر دوی د عدت داسي کوم حق نه لرئ چي شمېرل به ئې کوئ، نو څه متاع ورکړئ او په ښه توګه خوشي کولو سره ئې خوشې کړئ. 50- اې نبي! تا ته مو ستا هغه مېرمني روا کړې دي چي تا ئې مهر ورکړی، او ستا هغه وينځې چي الله درباندي پېرزو کړې دي، او ستا هغه ترلې، د ترندو لوڼې دي، د ماما لوڼې دي، د توريو (خاله ګانو) لوڼې دي چي له تا سره ئې هجرت کړی او هغه مؤمنه مېرمن چي غواړي خپل نفس پيغمبر ته وبخښي، خو که پيغمبر وغواړي هغه په نکاح کړي، دا خاص ستا لپاره دي، نه د (ټولو) مؤمنانو لپاره، موږ په يقين سره پوهېږو چي پر دوی مو د خپلو مېرمنو او وينځو په اړه څه فرض کړي، ترڅو پر تا کومه تنګسه نه وي، او الله مهربان بخښونکی دئ.

*تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ
مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا
يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَآ ءَاتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمٗا ﴿٥١﴾ لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعۡدُ وَلَآ
أَن تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكَ حُسۡنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ
يَمِينُكَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ رَّقِيبٗا ﴿٥٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّآ أَن يُؤۡذَنَ لَكُمۡ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيۡرَ
نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنۡ إِذَا دُعِيتُمۡ فَٱدۡخُلُواْ فَإِذَا طَعِمۡتُمۡ فَٱنتَشِرُواْ
وَلَا مُسۡتَـٔۡنِسِينَ لِحَدِيثٍۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ يُؤۡذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَسۡتَحۡيِۦ
مِنكُمۡۖ وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعٗا
فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ
وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ
مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن تُبۡدُواْ
شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴿٥٤﴾

51- هغه ئې وروسته کړه چې ته ئې غواړې او هغه درنژدې کړه چې ته ئې غواړې، او که له هغو چې تا جلا کړې دي څوك ئې دروغواړې نو څه گناه دربانديي نشته، همدا دې ته نژدې ده چې د دوی سترگې یخي شي او غمجني نه شي، او په هغه څه راضي وي چې تا دوی ټولو ته ورکړي، او الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسو په زړونو کې دي، او الله د حلم او صبر خاوند پوه دئ، 52- تر دې آخوا تا ته نوري ښځې روا نه دي او نه دا چې په نورو مېرمنو ئې تعویض کړې، که څه هم د هغوی ښکلا دې حیران کړي، مگر هغه چې ستا وینځې وي، او الله پر هر څه څارونکی دئ. 53- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! د پیغمبر کورونو ته تر هغه مه ننوځئ چې اجازه درکړی شي، د داسې خوړو لپاره چې پخېدو ته ئې منتظر نه وئ، او کله چې وبلل شئ نو ننوځئ او کله چې خواړه وخورئ خواره شئ، او نه د خبرو تلوسه کوونکي، یقیناً چې ستاسو دا کار پیغمبر ځوروي او هغه له تاسو حیاء کوي، او الله د حق (له ویلو) حیاء نه کوي، او کله چې له مېرمنو (ئې) څه غواړئ نو د حجاب له آخوا ئې ترې وغواړئ، همدا مو ستاسو او د دوی د زړونو لپاره د زیات پاکوالي باعث دئ، او تاسو ته نه ښايي چې رسول الله وځوروئ او نه ابداً دا (درسره ښايي) چې له ده وروسته د ده مېرمني په نکاح کړئ، یقیناً چې دا مو د الله په نزد کې ستر (بد کار) دئ. 54- که کوم څه څرگند کړئ یا ئې پټ کړئ نو یقیناً چې الله پر هر څه ښه پوه دئ.

لَّا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ فِيٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ
أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتۡ
أَيۡمَٰنُهُنَّۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ
ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ
عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ
ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ
يُؤۡذُونَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ بِغَيۡرِ مَا ٱكۡتَسَبُواْ فَقَدِ ٱحۡتَمَلُواْ
بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ﴿٥٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ
وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن
يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٩﴾ ۞لَّئِن لَّمۡ يَنتَهِ
ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡمُرۡجِفُونَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ
لَنُغۡرِيَنَّكَ بِهِمۡ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَآ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٦٠﴾ مَّلۡعُونِينَۖ
أَيۡنَمَا ثُقِفُوٓاْ أُخِذُواْ وَقُتِّلُواْ تَقۡتِيلٗا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ
مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٦٢﴾

55- پر دوی نه د خپلو پلرونو په اړه څه گناه شته، نه د خپلو زامنو، نه د خپلو وروڼو، نه د خپلو وریرونو، نه د خپلو خوریيو، نه د خپلوانو ښځو، او نه د وینځو په اړه، او له الله ووېرېږئ، یقیناً چي الله پر هر څه شاهد دئ. 56- یقیناً چي الله او فرشتې ئې پر پیغمبر درود لېږي، اې هغو چي ایمان ئې راوړی! پر هغه درود لېږئ او ځانگړی سلام پرې وایئ. 57- یقیناً هغه چي الله او د ده رسول (په خپلو غلطو خبرو سره) ځوروي الله په دنیا او آخرت کي پر دوی لعنت کړی او سپکوونکی عذاب ئې ورته تیار کړی. 58- او هغه چي مؤمنان او مؤمناني له دې پرته ځوروي چي څه (غلط کارونه) ئې کړي وي نو یقیناً چي د بهتان او ښکاره گناه (پېټی) ئې پر شا کړی. 59- اې نبي! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو مېرمنو ته ووایه چي خپل پړوني پر خپلو ځانونو راتاو کړي، همدا دې ته نژدې ده چي وپېژندی شي او ونه ځورول شي، او الله مهربان بخښونکی دئ. 60- که منافقین او هغه چي په زړونو کي ئې بېماري ده او د مدینې مرجفین (د کچه خبرو خپرونکي) ډډه ونه کړي حتماً به تا پرې برلاسی کړو چي بیا به دلته ستا مجاورت ونه کړي مگر لږ شانتي، 61- لعنت کړی شوي، چي چېري وموندی شي ونیول شي او په ځانگړي وژلو سره ووژل شي. 62- دا د الله هغه سنت دئ چي په مخکنیو کي تېر شوی او هیڅکله به د الله سنت ته تغییر او بدلون ونه مومې.

يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِۖ قُلۡ إِنَّمَا عِلۡمُهَا عِندَ ٱللَّهِۚ وَمَا
يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا ﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ
وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا
نَصِيرٗا ﴿٦٥﴾ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا
ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ ﴿٦٦﴾ وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا
فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠ ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ وَٱلۡعَنۡهُمۡ لَعۡنٗا
كَبِيرٗا ﴿٦٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ
فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ﴿٦٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ﴿٧٠﴾ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ
لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾
إِنَّا عَرَضۡنَا ٱلۡأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلۡجِبَالِ فَأَبَيۡنَ أَن
يَحۡمِلۡنَهَا وَأَشۡفَقۡنَ مِنۡهَا وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا ﴿٧٢﴾
لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ
وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمَۢا ﴿٧٣﴾

63- خلك د قيامت په اړه تا پوښتي، ووايه: علم ئې يوازي له الله سره
دئ، او څه شي خبر كړی يې ښايي دا نېټه به نژدې وي؟! 64- يقيناً
چي الله كافران لعنت كړي او لمبه ناك اور ئې ورته تيار كړی. 65- تر
ابده په هغه كي تلپاته، نه به كوم مولا موندی شي او نه كوم
مرستندوی. 66- هغه ورځ چي مخونه به ئې په اور كي (يوه او بل
لوري ته) اړول كېږي؛ په داسي حال كي چي وايي به: ای كاش د الله او
د رسول اطاعت مو كړی وی، 67- او وايي به: اې زموږ ربه! يقيناً چي
موږ د خپلو سالارانو او لويانو اطاعت وكړ چي له (سمي) لاري ئې
منحرف كړو، 68- اې زموږ ربه! دوه برابره عذاب وركړه او په ستري
رټني سره ئې ورټه. 69- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! د هغو وګړو په
څېر مه كېږئ چي موسی ئې وځوراوو او الله له هغه څه برائت وركړ
چي دوی ويل او د الله په وړاندي مخور وو. 70- اې هغو چي ايمان
ئې راوړی! د الله پروا وكړئ او په صفا او سمي وينا سره وينا كوئ،
71- چي په دې سره به ستاسو عملونه درته اصلاح كړي او ګناهونه به
مو درته وبخښي، او چا چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وكړ نو
يقيناً چي په ستري بريا سره بريالی شو. 72- يقيناً چي موږ دا امانت
آسمانونو، زمكي او غرونو ته وړاندي كړ خو هغوی له دې ډډه وكړه
چي په غاړه ئې واخلي او (له ستروالي او عظمت ئې) ووېرېدل او انسان
په غاړه واخيست، يقيناً چي هغه ډېر ظالم او ډېر نا پوه او جاهل وو.
73- تر څو منافقين او منافقاني، مشركين او مشركاني تعذيب كړي او
پر نارينه او ښځينه مؤمنانو (په خپل رحمت سره) رجوع وكړي، او
يقيناً چي الله مهربان بخښونكی دئ.

# سُورَةُ سَبَإٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ
فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ١ يَعۡلَمُ مَا يَلِجُ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا
يَخۡرُجُ مِنۡهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعۡرُجُ فِيهَاۚ وَهُوَ ٱلرَّحِيمُ
ٱلۡغَفُورُ ٢ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَأۡتِينَا ٱلسَّاعَةُۖ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي
لَتَأۡتِيَنَّكُمۡ عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِۖ لَا يَعۡزُبُ عَنۡهُ مِثۡقَالُ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَآ أَصۡغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡبَرُ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ
مُّبِينٖ ٣ لِّيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم
مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٤ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ
أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٞ ٥ وَيَرَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ
ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ ٱلۡحَقَّ وَيَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡحَمِيدِ ٦ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هَلۡ نَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ رَجُلٖ
يُنَبِّئُكُمۡ إِذَا مُزِّقۡتُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمۡ لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍ ٧

# سبإ- مكي سوره- 54 آيتونه

د ډېر مهربان رحم كوونكي الله په نامه

1- ستايني هغه الله ته دي چې څه په آسمانونو كې دي او څه په زمكې كې دي ټول د ده دي، او ستايني په آخرت كې هم ده ته دي، او هغه باخبره د حكمت خاوند دئ، 2- په هغه څه چې په زمكې كې ننوځي او له زمكې وځي او له آسمان راكوزېږي يا په هغه كې لوړ ځي پوهېږي، او هغه بخښونكى مهربان دئ. 3- او هغو چې كفر ئې كړى وويل: دا د قيامت نېټه به هيڅكله پر موږ رانشي، ووايه: نه؛ داسې نه ده، په خپل هغه رب مې قسم چې پر غيب پوه دئ حتماً به دربانديې راشي، نه په آسمان كې د يوې ذرې په وزن كوم شى ترې پټ پاته كېدى شي او نه په زمكې كې او نه تر دې ووړ او نه ترې ستر شته مگر دا چې په څرگندوونكي كتاب كې (ثبت) ده. 4- تر څو هغو ته چې ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي نېكه بدله وركړي، بخښنه او غوره رزق به دوى ته ورپه برخه شي، 5- او هغو چې زما د آيتونو په اړه ئې د عاجزوونكو په توگه هڅه كړې دوى ته د دردناك اضطراب عذاب (ټاكل شوى) دئ. 6- او هغه چې علم وركړى شوى هغه (كتاب) ته چې ستا لوري ته درلېږل شوى (په داسې سترگه) گوري چې هغه ستا د رب له لوري دئ، (سر تر پاى) حق دئ او د ستايلي عزتمن (رب) لاري ته لارښوونه كوي. 7- او هغو چې كفر ئې كړى وويل: آيا داسې سړى دروښيو چې تاسو پر دې خبروي چې كله په بشپړ شړېدو سره وشړول شئ تاسو به حتماً په نوي پيدايښت كې (پيدا كړى) شئ،

أَفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِۦ جِنَّةُۢۗ بَلِ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ فِي
ٱلۡعَذَابِ وَٱلضَّلَٰلِ ٱلۡبَعِيدِ ﴿٨﴾ أَفَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَىٰ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا
خَلۡفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِن نَّشَأۡ نَخۡسِفۡ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ نُسۡقِطۡ
عَلَيۡهِمۡ كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّكُلِّ عَبۡدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾
۞وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضۡلٗاۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُۥ وَٱلطَّيۡرَۖ وَأَلَنَّا لَهُ
ٱلۡحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ ٱعۡمَلۡ سَٰبِغَٰتٖ وَقَدِّرۡ فِي ٱلسَّرۡدِۖ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي
بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿١١﴾ وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهۡرٞ وَرَوَاحُهَا شَهۡرٞۖ
وَأَسَلۡنَا لَهُۥ عَيۡنَ ٱلۡقِطۡرِۖ وَمِنَ ٱلۡجِنِّ مَن يَعۡمَلُ بَيۡنَ يَدَيۡهِ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ
وَمَن يَزِغۡ مِنۡهُمۡ عَنۡ أَمۡرِنَا نُذِقۡهُ مِنۡ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعۡمَلُونَ لَهُۥ
مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٖ كَٱلۡجَوَابِ وَقُدُورٖ رَّاسِيَٰتٍۚ
ٱعۡمَلُوٓاْ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكۡرٗاۚ وَقَلِيلٞ مِّنۡ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾ فَلَمَّا
قَضَيۡنَا عَلَيۡهِ ٱلۡمَوۡتَ مَا دَلَّهُمۡ عَلَىٰ مَوۡتِهِۦٓ إِلَّا دَآبَّةُ ٱلۡأَرۡضِ تَأۡكُلُ
مِنسَأَتَهُۥۖ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ ٱلۡجِنُّ أَن لَّوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ٱلۡغَيۡبَ مَا
لَبِثُواْ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ﴿١٤﴾

8- آیا پر الله دروغجنه افتراء کوي که پېریانی شوی، نه؛ بلکي هغه چي پر آخرت باور نه کوي په عذاب اخته او په ژور لاروركتوب کي دي، 9- آیا د آسمان او زمکي هغه څه ته ئې پام نه دئ کړی چي د دوی په وړاندي او د دوی تر شا دي؟ که وغواړو په زمکي کي به ئې ښخ کړو او یا د آسمان کومه ټوټه به پرې راپرې باسو، یقیناً چي په دې کي هر انابت کوونکي بنده ته یوه څرګنده نښه ده. 10- او داؤد ته مو له خپل لوري فضل ورپه برخه کړ، (ومو ویل:) اې غرونو! له ده سره همغږي کوئ او مارغانو ته هم، او اوسپنه مو ورته نرمه کړه، 11- چي زغري جوړي کړه او کړۍ په اندازه ولګوه، او نېك عمل کوئ، یقیناً چي زه په هغه څه پوهېږم چي تاسو ئې کوئ. 12- او سلیمان ته مو هغه باد مسخر کړ چي سبانی (مزل) به ئې یوه میاشت او بېګانی به ئې یوه میاشت وو، د مسو چینه مو ورته راخوټولې وه، او له پېریانو مو هغه ورته مسخر کړي وو چي د ده د رب په حکم به د ده په وړاندي (په کار) لګیا ول، او که د دوی کوم چا به زموږ له حکم سرغړاوی او کوږوالی وکړ لمبه ناك عذاب مو ورڅکلو، 13- هغه څه به ئې جوړول چي ده غوښتل؛ لکه لوړي جنګي کلاګاني، تماثیل (انځورونه)، د حوضونو په څېر طشتونه او تم شوي ثابت دېګونه، (ورته ویلي مو وو:) اې د داؤد پلویانو! د شکر په توګه عمل کوئ، او زما لږ بندګان شکر کوونکي دي، 14- نو کله چي موږ د ده د مړیني پرېکړه وکړه د زمکي له یوې خزندې پرته چي د ده عصاء ئې خوړله بل څه دوی د هغه په مړیني پوه نه کړل، نو کله چي راپرېوت پېریان پوه شول چي که په غیب پوهېدی نو په سپکوونکي عذاب کي به نه څنډېدل.

لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ
مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ ١٥
فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ
ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن سِدۡرٖ قَلِيلٖ ١٦ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم
بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ١٧ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ
ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ سِيرُواْ
فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ ١٨ فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ
أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَ وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ١٩ وَلَقَدۡ صَدَّقَ عَلَيۡهِمۡ إِبۡلِيسُ ظَنَّهُۥ
فَٱتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٠ وَمَا كَانَ لَهُۥ عَلَيۡهِم مِّن
سُلۡطَٰنٍ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يُؤۡمِنُ بِٱلۡأٓخِرَةِ مِمَّنۡ هُوَ مِنۡهَا فِي شَكّٖۗ وَرَبُّكَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ٢١ قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ
لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ
فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢

15- يقيناً چي سبأ (والو) ته د دوی په ټاټوبي کې یوه څرګنده نښه وه،
ښي او کيڼ لوري ته (ئې) دوه بڼه، د خپل رب رزق وخورئ او د هغه
شکر پر ځای کړئ، ټاټوبی (مو) سُتره او رب (مو) بخښونکی. 16- دوی
اعراض وکړ نو موږ د عرم (بند) سېل پرې راوست او د دوی دوه بڼه
مو په داسي دوو بڼو وربدل کړل چي بې خونده خواړه (مېوې)، د غز
وني او لږ څه بېري ئې درلودې. 17- همدا د دوی سزا وه چي له دې
کبله مو ورکړه چي کفر ئې وکړ، او آيا موږ له ډېر ناسپاس پرته بل چا
ته سزا ورکوو؟ 18- او د دوی او هغو کليو تر منځ مو څرګند کلي
رامنځته کړل چي برکت مو په کې اېښی، او په هغوی کې مو تګ مقدر
کړی وو، په شپو شپو او ورځو ورځو په دې لارو کې سفر کوئ؛ په داسي
حال کې چي په امن کې به وئ، 19- نو وئې ويل: اې زموږ ربه! زموږ
په سفرونو کې لريوالی راوله، او پر خپل ځان ئې ظلم وکړ، نو موږ قصې
ترې جوړي کړې او په بشپړ خورېدو سره مو خواره واره کړل، يقيناً
چي په دې کې هر ډېر صابر او ډېر شاکر ته زياتي څرګندي نښي دي،
20- او يقيناً چي شيطان خپل ګمان پرې رښتينی کړ نو د مؤمنانو له
يوې ډلي پرته نورو د هغه متابعت وکړ، 21- پر دوی ئې څه سلطه نه
وه مګر دا چي موږ غوښتل پر آخرت ايمان راوړونکي له هغه جوت
کړو چي د هغه په اړه په شك کې دئ، او ستا رب پر هر څه ساتونکی
(څارونکی) دئ. 22- ووايه: له الله پرته چي پر چا (د معبود) ګمان کوئ
(مرستي ته ئې ) ورو بلئ، (دوی) نه په آسمانونو کې د ذرې برابر څه
په واك کې لري او نه په زمکي کې، او نه په دوی دواړو کې کوم شراکت
لري او نه د ده په وړاندي کوم ملاتړی لري،

وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن
قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٢٣
۞قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قُلِ ٱللَّهُۖ وَإِنَّآ أَوۡ
إِيَّاكُمۡ لَعَلَىٰ هُدًى أَوۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢٤ قُل لَّا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّآ
أَجۡرَمۡنَا وَلَا نُسۡـَٔلُ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٢٥ قُلۡ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفۡتَحُ
بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَهُوَ ٱلۡفَتَّاحُ ٱلۡعَلِيمُ ٢٦ قُلۡ أَرُونِيَ ٱلَّذِينَ أَلۡحَقۡتُم
بِهِۦ شُرَكَآءَۖ كَلَّاۚ بَلۡ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٢٧ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ
إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعۡلَمُونَ ٢٨ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٩
قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوۡمٖ لَّا تَسۡتَـٔۡخِرُونَ عَنۡهُ سَاعَةٗ وَلَا تَسۡتَقۡدِمُونَ
٣٠ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن نُّؤۡمِنَ بِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَلَا بِٱلَّذِي
بَيۡنَ يَدَيۡهِۗ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ
بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ
ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا مُؤۡمِنِينَ ٣١

23- او نه د ده په وړاندې شفاعت ګټه رسولی شي مګر هغه چا ته چي اجازه ورکړي، تر هغه چي له زړونو ئې وېره وایستل شي وبه وایي: ستاسو رب څه ویلي؟ وایي به: حق، او هغه ستر لوړ دئ. 24- ووایه: څوك له آسمان او زمکي روزي درکوي؟ ووایه: الله، نو یا موږ او یا تاسو به په هدایت (او سمي لاري روان) یو یا په څرګندي لاروركتوب كې، 25- ووایه: له هغو جرمونو چي موږ کړي وي تاسو نه پوښتل کېږئ او موږ له هغه څه نه پوښتل کېږو چي تاسو ئې کوئ، 26- ووایه: زموږ رب به مو سره یو ځای کوي، بیا به په حق سره زموږ تر منځ پرېکړه کوي او هغه ښه پوه پرېکړه کوونکی دئ. 27- ووایه: هغه راوښیئ چي د شریکانو په توګه مو ورسره نښلولي، هیڅکله داسي نه ده؛ هغه باحکمت عزتمن دئ. 28- او ته مو نه یې لېږلی مګر د ټولو خلکو لپاره د بشارت ورکوونکي او انذار ورکوونکي په توګه خو ډېری خلك نه پوهېږي، 29- او وایي: (د قیامت) دا وعده به کله وي که رښتیني یئ؟ 30- ووایه: تاسو ته داسي نېټه ټاکل شوې چي نه یو ساعت ترې وروسته کېدی شئ او نه وړاندې کېدی شئ. 31- او هغو چي کفر ئې کړی وویل: نه به هیڅکله پر دې قرآن ایمان راوړو او نه پر هغه چي ترې وړاندې دئ، او کاش هغه مهال وګورې چي ظالمان د خپل رب په وړاندې ودرول شوي وي په داسي حال کې چي ځیني به ئې ځینو نورو ته دا وینا ورګرځوي: په ضعف کې ساتل شوي به هغو ته چي لویي ئې غوښتله وایي: که تاسو نه وی نو موږ به حتماً مؤمنان وو،

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ
ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُمۖ بَلۡ كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ
ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ بَلۡ مَكۡرُ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ إِذۡ تَأۡمُرُونَنَآ أَن
نَّكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجۡعَلَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّدَامَةَ لَمَّا رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَۚ
وَجَعَلۡنَا ٱلۡأَغۡلَٰلَ فِيٓ أَعۡنَاقِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ هَلۡ يُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٣٣﴾ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ
أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُواْ نَحۡنُ أَكۡثَرُ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا وَمَا نَحۡنُ
بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُ وَلَٰكِنَّ
أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُم بِٱلَّتِي
تُقَرِّبُكُمۡ عِندَنَا زُلۡفَىٰٓ إِلَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ
جَزَآءُ ٱلضِّعۡفِ بِمَا عَمِلُواْ وَهُمۡ فِي ٱلۡغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ
يَسۡعَوۡنَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلۡ
إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم
مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٣٩﴾

32- هغه چي لويي ئې غوښتله هغو ته چي په ضعف کي ساتل شوي وو، وايي: آيا موږ له هدايت منع کړئ له هغه وروسته چي درته راغی؟! نه؛ بلکي تاسو په خپله مجرمين وئ، 33- او هغه چي ضعف ئې غوښتل شوی وو هغو ته چي لويي ئې غوښتله وايي: نه؛ بلکي ستاسو هغه د شپې او ورځي مکر ئې (سبب وو) چي موږ ته به مو امر کولو چي د الله په اړه کفر وکړو او سيالان ورته وټاکو، او کله چي عذاب وګوري (خپل) ندامت به پټ کړي، او د هغو په غاړو کي به زنځيرونه واچوو چي کفر ئې کړی، آيا له هغه پرته چي کول ئې د بل څه سزا ورکول کېږي؟! 34- او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی (پيغمبر) نه دئ لېږلی مګر دا چي مترفينو ئې (هغو چي سوکالي ورپه برخه شوې) وويل: مونږ په قطعي توګه له هغه څه منکر يو چي تاسو ورسره لېږل شوي يئ، 35- او وئې ويل: موږ (تر نورو) زيات مال او اولاد لرو او هيڅکله تعذيبېدونکي نه يو! 36- ووايه: يقيناً زما رب چا ته چي وغواړي رزق پراخوي او محدودوي، خو د خلکو ډېری نه پوهېږي، 37- او ستاسو مالونه او اولادونه هغه څه نه دي چي زموږ خوا ته مو د نژدې والي په حقيقي معنی نژدې کوي، مګر هغه چي ايمان راوړي او نېك عمل وکړي؛ نو دوی ته د خپلو کړنو له کبله غبرګه بدله ده او همدا دوی به په دنګو ماڼيو کي خوندي اوسي، 38- او هغه چي زموږ د آيتونو په اړه د عاجزوونکو په توګه هڅه کوي همدا دوی به په عذاب کي حاضر کړی شوي وي. 39- ووايه: يقيناً چي زما رب چي له خپلو بندګانو هر چا ته وغواړي روزي پراخوي او ورته محدودوي ئې، او کوم څه چي تاسو (د الله په لار کي) انفاقوئ نو هغه ئې معاوضه ورکوي او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ.

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ
يَعۡبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِمۖ بَلۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ
ٱلۡجِنَّۖ أَكۡثَرُهُم بِهِم مُّؤۡمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يَمۡلِكُ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٖ
نَّفۡعٗا وَلَا ضَرّٗا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّتِي كُنتُم
بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا
رَجُلٞ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمۡ عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُكُمۡ وَقَالُواْ مَا هَٰذَآ
إِلَّآ إِفۡكٞ مُّفۡتَرٗىۚ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا
سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّن كُتُبٖ يَدۡرُسُونَهَاۖ وَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمۡ
قَبۡلَكَ مِن نَّذِيرٖ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَمَا بَلَغُواْ مِعۡشَارَ مَآ
ءَاتَيۡنَٰهُمۡ فَكَذَّبُواْ رُسُلِيۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾ *قُلۡ إِنَّمَآ أَعِظُكُم
بِوَٰحِدَةٍۖ أَن تَقُومُواْ لِلَّهِ مَثۡنَىٰ وَفُرَٰدَىٰ ثُمَّ تَتَفَكَّرُواْۚ مَا بِصَاحِبِكُم
مِّن جِنَّةٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا نَذِيرٞ لَّكُم بَيۡنَ يَدَيۡ عَذَابٖ شَدِيدٖ ﴿٤٦﴾ قُلۡ مَا
سَأَلۡتُكُم مِّنۡ أَجۡرٖ فَهُوَ لَكُمۡۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ شَهِيدٞ ﴿٤٧﴾ قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿٤٨﴾

40- او هغه ورځ چي دوی ټول راغونډ کړي بیا فرشتو ته ووایي: آیا دغو خلکو ستاسو عبادت کولو؟ 41- وبه وایي: پاکي تا ته ده، ته مو د دوی په وړاندي مولا یې، بلکي دوی د پېریانو (شیطانانو) بندګي کوله، د دوی ډېری پرې باوري ول، 42- نو نن به نه ځیني ځینو نورو ته کومه ګټه په واك کي لري او نه کوم تاوان، او هغو ته به ووایو چي ظلم ئې کړی: د هغه اور عذاب وڅکئ چي تاسو دروغجن ګڼلو. 43- او کله چي زما څرګند آیتونه پرې ولوستل شي وایي: دا له داسي سړي پرته بل څوك نه دئ چي غواړي تاسو له هغه څه منع کړي چي ستاسو پلرونو لمانځل، او وایي: دا له دروغجني افتراء پرته بل څه نه دي، او هغو چي کفر ئې کړی د دې حق (دین) په اړه هغه مهال چي دوی ته راغی وویل: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، 44- دوی ته مو نه داسي کتابونه ورکړي چي دوی ئې لولي او نه مو تر تا وړاندي دوی ته کوم خبرداری ورکوونکی لېږلی، 45- او هغو هم دروغ وګڼلو چي تر دوی وړاندي ول، او د هغه څه لسمي ته هم نه دي رسېدلي چي هغوی ته مو ورکړي وو او زما استازي ئې تکذیب کړل نو (آیا پوهېږئ چي) زما انکار څنګه وو؟! 46- ووایه: یوازي په یوې خبري پند درکوم چي د الله لپاره دوه دوه او یو یو ودرېږئ بیا له ځان سره فکر وکړئ، ستاسو ملګری په کوم لېونتوب نه دئ اخته شوی، هغه فقط تاسو ته تر یوه سخت عذاب وړاندي خبرداری درکوونکی دئ، 47- ووایه: که مي کوم اجر درنه وغوښت هغه دي ستاسو وي، زما اجر یوازي پر الله دئ، او هغه پر هر څه ګواه دئ، 48- ووایه: یقیناً چي زما رب په دقیقه او سمه توګه نښه ولي (وینا ئې دقیقه ده)، په پټو (اسرارو) ډېر ښه پوه دئ،

قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلۡ إِن ضَلَلۡتُ فَإِنَّمَآ
أَضِلُّ عَلَىٰ نَفۡسِيۖ وَإِنِ ٱهۡتَدَيۡتُ فَبِمَا يُوحِيٓ إِلَيَّ رَبِّيٓۚ إِنَّهُۥ سَمِيعٞ قَرِيبٞ
﴿٥٠﴾ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ فَزِعُواْ فَلَا فَوۡتَ وَأُخِذُواْ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴿٥١﴾ وَقَالُوٓاْ
ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٢﴾ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِهِۦ
مِن قَبۡلُۖ وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ
مَا يَشۡتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشۡيَاعِهِم مِّن قَبۡلُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ فِي شَكّٖ مُّرِيبِۭ
﴿٥٤﴾

## سُورَةُ فَاطِرٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ
أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلۡخَلۡقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١﴾ مَّا يَفۡتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحۡمَةٖ فَلَا مُمۡسِكَ لَهَاۖ وَمَا
يُمۡسِكۡ فَلَا مُرۡسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ
يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ﴿٣﴾

49- ووایه: حق راغی، او باطل (معبودان) نه څه پیلولی شي او نه ئې اعاده کولی شي، 50- ووایه: که زه بې لاري شوی وم نو یوازې د ځان په ضرر به بې لاري شوی وم، او که هدایت شوی وم نو دا د هغې وحې له کبله دي چې زما رب ئې راته کوي، یقیناً چې هغه نژدې اورېدونکی دئ. 51- او ای کاش هغه مهال وګورې چې وېرې اخیستي وي، نو د خلاصون (امکان) هم نه وي او له نژدې واټن ونیول شي!! 52- او وایي به: ایمان مو پرې راوړ، حال دا چې له لرې واټن به څنګه دوی ته دا لاس رسی وي؟! 53- په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه کفر کړی وو، او له لرې واټن په غیاب کې ویشتل کوي، 54- او د دوی او هغه څه تر منځ به خنډ رامنځته شي چې دوی ئې تلوسه کوي؛ همغسې لکه چې تر دې وړاندې د دوی له هممشربانو سره وشول، یقیناً چې هغوی په دوکه کوونکي شك کې ول.

## فاطر- مکي سوره- 45 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ستاینه الله ته ده، د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی، د هغو فرشتو استازي ګرځوونکی چې د دوه ګونو، درې ګونو او څلور ګونو وزرونو والې دي، چې څه غواړي په پیدایښت (مخلوقاتو) کې ئې زیاتوي، یقیناً چې الله پر هر څه په بشپړه توګه قادر دئ، 2- الله چې د رحمت کومه برخه د خلکو لپاره پرانیزي نو هیڅ بندوونکی ئې نشته او څه چې بند کړي نو له ده وروسته ئې هیڅ لېږونکی نشته، او هغه باحکمت عزتمن دئ. 3- اې خلکو! پر تاسو د الله (پېرزو شوی) نعمت یاد کړئ، آیا له الله پرته بل کوم خالق شته چې تاسو ته له آسمان او ځمکې روزي درکوي؟ له ده پرته بل معبود نشته، نو له کومه دوکه کېږئ؟

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ
٤ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَلَا
يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ٥ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ
إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ٦ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ
وَأَجۡرٞ كَبِيرٌ ٧ أَفَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ فَرَءَاهُ حَسَنٗاۖ فَإِنَّ ٱللَّهَ
يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۖ فَلَا تَذۡهَبۡ نَفۡسُكَ عَلَيۡهِمۡ
حَسَرَٰتٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٨ وَٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّيَٰحَ
فَتُثِيرُ سَحَابٗا فَسُقۡنَٰهُ إِلَىٰ بَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَحۡيَيۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ
كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ٩ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡعِزَّةَ فَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ جَمِيعًاۚ إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ
ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥۚ وَٱلَّذِينَ يَمۡكُرُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ
لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۖ وَمَكۡرُ أُوْلَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ١٠ وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن
تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ جَعَلَكُمۡ أَزۡوَٰجٗاۚ وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا
تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي
كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ١١

4- او که تا تکذیب کړي نو یقیناً چې تر تا وړاندې پیغمبران تکذیب شوي، او کارونه د الله لوري ته راجع کېږي. 5- اې خلکو! یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده، نو نه دې دنیوي ژوند تاسو غولوي او نه د الله په اړه هغه غولوونکی (شیطان)، 6- یقیناً چې شیطان ستاسو دښمن دئ نو دښمن ئې وبولئ، هغه خو خپله ډله یوازې دې ته بلي چې د دوزخیانو په ډلې کې وي، 7- هغه چې کفر ئې کړی سخت عذاب به د دوی (په برخه) وي، او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د دوی به بخښنه او ستر اجر (په برخه) وي. 8- آیا هغه چې خپل بد عمل ورته مزین کړی شوی او ښکلی ورته ښکاري، نو یقیناً چې الله هغه څوك بې لارې کوي چې دی ئې غواړي او د هغه لارښوونه کوي چې دی ئې غواړي، نو ستا خپل ځان دې پر دوی د حسرت له کبله له منځه نه ځي، یقیناً چې الله په هغه څه ښه پوه دئ چې دوی ئې کوي. 9- او الله هغه ذات دئ چې بادونه ئې راولېږل چې ورېځې خوځوي، نو د مړه ټاټوبي په لور مو بوتلې، بیا مو ځمکه د هغې له مړینې وروسته پرې راژوندۍ کړه، خورېدا (بیاژوندون) به همداسې وي. 10- څوك چې عزت غواړي نو (پوه دې شي چې) عزت ټول له الله سره دئ، د ده لوري ته پاکه وینا بر درومي او نېك عمل ته لوړوالی ورکوي، او هغه چې بدې کړنې د تدبیر په توګه کاروي سخت عذاب ئې په برخه دئ، او د دوی مکر شنډېدونکی دئ. 11- او الله تاسو له خاورې پیدا کړئ، بیا له نطفې، بیا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځینه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي مګر د ده له علم سره سم، او نه د کوم عمروال عمر ورزیاتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡبَحۡرَانِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ سَآئِغٞ شَرَابُهُۥ وَهَٰذَا
مِلۡحٌ أُجَاجٞۖ وَمِن كُلّٖ تَأۡكُلُونَ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةٗ
تَلۡبَسُونَهَاۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ
وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي
ٱلَّيۡلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ذَٰلِكُمُ
ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ
مِن قِطۡمِيرٍ ١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا
ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡۚ وَلَا
يُنَبِّئُكَ مِثۡلُ خَبِيرٖ ١٤ ۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِۖ
وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ١٥ إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَأۡتِ بِخَلۡقٖ
جَدِيدٖ ١٦ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٖ ١٧ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ
أُخۡرَىٰۚ وَإِن تَدۡعُ مُثۡقَلَةٌ إِلَىٰ حِمۡلِهَا لَا يُحۡمَلۡ مِنۡهُ شَيۡءٞ وَلَوۡ كَانَ
ذَا قُرۡبَىٰٓۗ إِنَّمَا تُنذِرُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَۚ
وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفۡسِهِۦۚ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ١٨

12- دا دوه سمندرونه سره برابر نه دي: دا يو خوږ، تنده ماتوونکی او خښاك ئې خوندور، او دا بل مالګين او تريو، او له هر يوه تازه غوښه خورئ او هغه ګاڼه راباسئ چي پر تن کوئ ئې، او کښتۍ په کي ګورې چي څيرونکې دي د دې لپاره چي فضل ئې ولټوئ او چي شکر وکړئ. 13- شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپې کي ننباسي او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړي چي هر يو ئې د ټاکلې نيټې مطابق درومي، دا ستاسو هغه رب دئ چي واکمني د ده ده، او هغه چي له ده پرته ئې دربلئ د کجوري د زړي کوم پوستکی هم په واك کي نه لري، 14- که ئې درو‌بلئ نو ستاسو بلنه نه اوري او که ئې واوري درته منلی ئې نشي، او د قيامت په ورځ به ستاسو د شرك په اړه انکار کوي، او د کوم باخبره په څېر به دي خبر نه کړي. 15- اې خلکو! تاسو الله ته حاجتمن يئ او الله ستايلی غني دئ، 16- که وغواړي تاسو به له منځه يوسي او نوی مخلوق به رامنځته کړي، 17- او دا الله ته ګران (کار) نه دئ. 18- او هيڅ په شا کوونکی د بل بار نه په شا کوي، او که کوم دروند بار شوی (کس) د خپل بار وړلو لپاره (چا ته) بلنه ورکړي نو څه به ترې په شا نه کړی شي که څه هم د خپلوۍ خاوند وي، يقيناً چي ته يوازي هغو ته خبرداری ورکوې چي له نه ليدو سره سره له خپل رب وېرېږي او لمونځ قائموي، او چا چي پاکيزګي غوره کړه نو يوازي د ځان په ګټه پاکيزګي غوره کوي، بيا د الله په لوري بېرته ګرځېدا ده.

وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ ١٩ وَلَا ٱلظُّلُمَٰتُ وَلَا ٱلنُّورُ ٢٠
وَلَا ٱلظِّلُّ وَلَا ٱلۡحَرُورُ ٢١ وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَحۡيَآءُ وَلَا ٱلۡأَمۡوَٰتُۚ إِنَّ
ٱللَّهَ يُسۡمِعُ مَن يَشَآءُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُسۡمِعٖ مَّن فِي ٱلۡقُبُورِ ٢٢ إِنۡ
أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ٢٣ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۚ وَإِن مِّنۡ
أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ ٢٤ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ
مِن قَبۡلِهِمۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلۡكِتَٰبِ
ٱلۡمُنِيرِ ٢٥ ثُمَّ أَخَذۡتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۖ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ٢٦
أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٖ
مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهَاۚ وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا
وَغَرَابِيبُ سُودٞ ٢٧ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ
أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَۗ إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ
عَزِيزٌ غَفُورٌ ٢٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ يَرۡجُونَ تِجَٰرَةٗ لَّن تَبُورَ ٢٩
لِيُوَفِّيَهُمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ غَفُورٞ شَكُورٞ ٣٠

19- نه ړوند او سترګور سره برابرېدی شي، 20- او نه تیارې او رڼا، 21- او نه سیوری او (د غرمې) تودوخه، 22- او نه ژوندي سره برابرېدی شي او نه مړي، یقیناً چې الله هغه چا ته اورول کوي چې دی ئې غواړي، او ته هغو ته چې په قبرونو کې دي اوروونکی نه یې، 23- ته یوازې یو خبرداری ورکوونکی یې. 24- یقیناً چې ته مو حقیقتاً یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لېږلی یې، هیڅ داسې امت نشته چې کوم نذیر نه وي په کې تېر شوی، 25- او که تا تکذیب کړي نو یقیناً چې هغو هم تکذیب کړل چې تر دوی وړاندې ول، په داسې حال کې چې پیغمبرانو ئې څرګندې نښې، صحیفې او روښانه کتابونه وروړل، 26- بیا مې هغه ونیول چې کفر ئې کړی وو، نو (وګوره) چې زما انکار او عذاب څنګه وو!! 27- آیا نه ګورې چې الله له آسمان اوبه ورو‌ي او په دې سره داسې مېوې راباسو چې رنګونه ئې ډول ډول دي، او له غرونو ځینې ئې سپینې او سرې ګارې دي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او ځینې ئې تك تور، 28- او همداسې د خلکو، خزنده وو او څارویو رنګونه ډول ډول دي، یقیناً چې له الله یوازې د ده پوه بندګان وېرېږي، یقیناً چې الله بخښونکی عزتمن دئ. 29- یقیناً هغه چې د الله کتاب لولي او لمونځ قائموي او له هغه څه په پټه او څرګنده توګه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي؛ د داسې تجارت هیله لري چې هیڅکله نه تباه کېږي. 30- تر څو دوی ته خپله بدله په بشپړه توګه ورکړي او خپل فضل لاورزیات کړي، یقیناً چې هغه شکور بخښونکی دئ.

وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ هُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ
يَدَيۡهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرُۢ بَصِيرٞ ٣١ ثُمَّ أَوۡرَثۡنَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ
ٱصۡطَفَيۡنَا مِنۡ عِبَادِنَاۖ فَمِنۡهُمۡ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ وَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞ
وَمِنۡهُمۡ سَابِقُۢ بِٱلۡخَيۡرَٰتِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ٣٢
جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ
وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ٣٣ وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَذۡهَبَ
عَنَّا ٱلۡحَزَنَۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٞ شَكُورٌ ٣٤ ٱلَّذِيٓ أَحَلَّنَا دَارَ ٱلۡمُقَامَةِ
مِن فَضۡلِهِۦ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٞ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٞ ٣٥
وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمۡ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقۡضَىٰ عَلَيۡهِمۡ فَيَمُوتُواْ وَلَا
يُخَفَّفُ عَنۡهُم مِّنۡ عَذَابِهَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي كُلَّ كَفُورٖ ٣٦ وَهُمۡ
يَصۡطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا نَعۡمَلۡ صَٰلِحًا غَيۡرَ ٱلَّذِي كُنَّا
نَعۡمَلُۚ أَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ
ٱلنَّذِيرُۖ فَذُوقُواْ فَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ٣٧ إِنَّ ٱللَّهَ عَٰلِمُ غَيۡبِ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٣٨

31- او له کتاب مو چې څه تا ته وحې کړې هغه حق دئ؛ د هغه تصديقوونکی چې تر ده وړاندې وو، يقيناً چې الله د خپلو بندګانو په اړه باخبر ليدونکی دئ. 32- بيا مو دا کتاب خپلو هغو بندګانو ته په ميراث ورکړ چې موږ غوره کړي، نو لدوی ځيني پر خپل ځان ظالم، ځيني ئې منځلاری او ځيني ئې د ښېګڼو په لور تلوار کوونکی دي، همدا ستر فضيلت دئ، 33- تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي په داسې حال کې چې هلته به د سرو زرو او مرغلرو په لاسونديو سينګار کړی شي او جامې به ئې ورېښمنې وي، 34- او وايي به: ستاينې ټولې هغه الله ته دي چې انديښنې ئې له موږ ختمې کړې، يقيناً چې زموږ رب شکور بخښونکی دئ. 35- هغه چې موږ ئې د خپل فضل له امله په تلپاته استوګنځي کې مېشت کړو په داسې حال کې چې نه په کې ستومانې رارسي او نه په کې ستړيا رارسي. 36- او هغه چې کفر ئې کړی دوی ته د دوزخ اور دئ، نه به د دوی په اړه داسې پرېکړه کېږي چې ومري او نه به د هغه کوم عذاب ترې کمېږي، همداسې هر ناسپاس ته سزا ورکوو، 37- په داسې حال کې چې دوی به په هغه کې چيغې وهي: اې زموږ ربه! ومو باسه چې نېك عمل وکړو، له هغه عمل متفاوت چې موږ کولو، آيا تاسو ته مو دومره عمر نه وو درکړی چې هغه څوك په کې پند اخيستی شي چې پند قبلوي، او نذير هم درغلی وو، نو وڅکئ چې ظالمانو ته هيڅ مرستندوی نشته. 38- يقيناً چې الله د آسمانونو او زمکې په غيبو پوه دئ، يقيناً چې هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ،

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَمَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ
وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ ٱلْكَٰفِرِينَ
كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَمْ
ءَاتَيْنَٰهُمْ كِتَٰبًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِن يَعِدُ ٱلظَّٰلِمُونَ بَعْضُهُم
بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمْسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ
وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا
﴿٤١﴾ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ
إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ ٱسْتِكْبَارًا فِى
ٱلْأَرْضِ وَمَكْرَ ٱلسَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ ٱلْمَكْرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِۦ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ
إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ
تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ
مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعْجِزَهُۥ مِن شَىْءٍ فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾

39- دی همغه ذات دئ چي تاسو ئې په زمکې کې خليفه وگرځولئ، نو
څوك چي كفر وكړي نو د خپل كفر بده پايله به ئې په برخه وي، او د
كافرانو كفر د خپل رب په وړاندي له غضب پرته بل څه نه ورته زياتوي،
او كافرانو ته د دوی كفر له تاوان پرته بل څه نه زياتوي. 40- ووايه: آيا
پام مو دئ چي ستاسو هغو شركاوو چي له الله پرته ئې دربلئ راوښيئ
چي د زمكې څه ئې پيدا كړي او يا ئې په آسمانونو کې څه شركت په برخه
دئ، يا مو كوم كتاب وركړی چي له مخې ئې پر كوم څرگند دليل
(متمسك) دي، نه؛ بلكي ظالمان يو له بل سره له دوكې پرته د بل څه
وعده نه كوي. 41- يقيناً چي الله آسمانونه او زمكه له دې ټموي چي زوال
ومومي، او كه زائل شي نو له ده وروسته داسي څوك نشته چي تم ئې
كړي، يقيناً چي هغه بخښونكی حليم دئ. 42- او په خپلو كلكو قسمونو
سره ئې لوړه وكړه چي كه كوم پيغمبر ورته راشي نو د نورو امتونو تر
هر يوه به زيات هدايت شوي وو، خو كله چي نذير ورغی نو له نفرت
(تېښتي) پرته ئې بل څه ورزيات نه كړل. 43- په زمكې کې د لويي
غوښتني او بد تدبير په توگه، په داسي حال کې چي بد تدبير له خپل
خاوند پرته په بل چا نه پرېوځي، نو آيا دوی د مخكنيو له سنت پرته بل
څه ته انتظار لري؟ په داسي حال کې چي هيڅكله به د الله د سننو لپاره
هيڅ تبديلي ونه مومې او هيڅكله به د الله د سننو لپاره هيڅ تحويل
(تغيير) ونه مومې. 44- آيا په زمكې کې نه دي گرځېدلي چي ليدلي ئې وی
د هغو پايله څنگه وه چي تر دوی وړاندي ول او د ځواك له پلوه (تر
دوی) ډېر پياوړي، او الله داسي نه وو چي په آسمانونو کې ئې كوم شی
عاجز كړی شي او نه هم په زمكې کې، يقيناً چي هغه توانمن پوه دئ،

وَلَوۡ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُواْ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهۡرِهَا مِن دَآبَّةٖ
وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ بِعِبَادِهِۦ بَصِيرَۢا ﴿٤٥﴾

## سُورَةُ يسٓ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يسٓ ﴿١﴾ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ
صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤﴾ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٥﴾ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ
أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ﴿٦﴾ لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ
فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٧﴾ إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا فَهِيَ إِلَى
ٱلۡأَذۡقَانِ فَهُم مُّقۡمَحُونَ ﴿٨﴾ وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ
خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ ﴿٩﴾ وَسَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ
ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠﴾ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ
ٱلذِّكۡرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِۖ فَبَشِّرۡهُ بِمَغۡفِرَةٖ وَأَجۡرٖ كَرِيمٍ
﴿١١﴾ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَنَكۡتُبُ مَا قَدَّمُواْ وَءَاثَٰرَهُمۡۚ وَكُلَّ شَيۡءٍ
أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ ﴿١٢﴾

45- او كه الله خلك د هغه څه له كبله مؤاخذه كولی چې دوی كړي نو (د زمكې) پر شا به ئې هيڅ خزنده نه وو پرېښی، خو دوی تر ټاكلې نېټې ځنډوي، نو كله چې د دوی اجل راورسېږي نو الله (هغه مهال) له كوم شك پرته د خپلو بندګانو په اړه ښه ليدونكی وي.

## يٰس- مكي سوره- 83 آيتونه

د ډېر مهربان رحم كوونكي الله په نامه

1- ياء، سين، 2- قسم په باحكمت قرآن، 3- يقيناً چې ته يو له پيغمبرانو يې، 4- پر مستقيمې لارې، 5- د مهربان عزتمن ذات (له لورې) لاندې لېږنه. 6- تر څو هغه وګړي انذار كړې چې پلرونه ئې نه دي انذار شوي نو ځكه غافل دي، 7- يقيناً چې دا وينا د دوی پر ډېريو محققه (رښتينې) شوې نو ځكه ايمان نه راوړي، 8- يقيناً چې موږ د دوی په غاړو كې داسې زنځيرونه اچولي چې تر زنو پورې (رسېدلي) دي نو ځكه دوی سر نېغ نيونكي دي، 9- او موږ هم د دوی تر مخ ځانګړې خنډونه ګرځولي او هم د دوی تر شا ځانګړي خنډونه، نو دوی مو داسې پوښلي چې ليدل نشي كولی، 10- او پر دوی برابره ده چې انذار ئې كړې يا ئې انذار نه كړې؛ (هيڅكله) ايمان نه راوړي. 11- يقيناً چې ته يوازې هغه څوك انذار كولی شې چې د پند متابعت وكړي او له رحمن رب په غياب كې ووېرېږي، نو هغه ته د ځانګړې بخښنې او ځانګړي غوره رزق زېری وركړه، 12- يقيناً چې موږ مړي راژوندي كوو او هغه څه ليكو چې دوی وړاندې كړي او د ګامونو نښې ئې هم، او هر څه مو په يوه څرګند پرانيستي كتاب كې درج كړي.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا أَصۡحَٰبَ ٱلۡقَرۡيَةِ إِذۡ جَآءَهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿١٣﴾ إِذۡ
أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم
مُّرۡسَلُونَ ﴿١٤﴾ قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن
شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَكۡذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ
لَمُرۡسَلُونَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا
بِكُمۡۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ
﴿١٨﴾ قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ مُّسۡرِفُونَ ﴿١٩﴾
وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ
﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا لِيَ لَآ
أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً
إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ
﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ
﴿٢٥﴾ قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ
لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٧﴾

13- او د هغو کليوالو مثال ورته تېر کړه چې پيغمبران ورغلل، 14- هغه
مهال چې دوه مو ورولېږل خو دوی تکذيب کړل نو په درېيم مو د دوی
ملاتړ وکړ، نو وئې ويل: يقيناً چې موږ ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي
يو، 15- وئې ويل: تاسو خو له دې پرته بل څه نه يئ چې زموږ په څېر بني
آدمان يئ، او رحمن رب هيڅ څه نه دي لېږلي، تاسو له دې پرته بل څه نه
يئ چې دروغ وايئ، 16- وئې ويل: زموږ رب ښه پوهېږي چې موږ په يقيني
توګه ستاسو لوري ته لېږل شوي استازي يو، 17- او پر موږ له څرګند ابلاغ
پرته بل څه (ذمه والي) نشته، 18- وئې ويل: يقيناً چې تاسو ځان ته د
بدمرغۍ سبب بولو، که دډه ونه کړئ حتماً مو رجم کوو او حتماً به له موږ
دردوونکی عذاب دروررسېږي، 19- وئې ويل: بدمرغي مو په خپله له تاسو
سره ده، آيا سره له دې چې پند درکړی شي، نه؛ بلکي تاسو مسرف وګړي يئ.
20- او د ښار له لري څنډې يو داسي سړی راغی چې تلوار ئې کولو؛ وئې
ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وکړئ، 21- د هغو متابعت
وکړئ چې کومه بدله نه درنه غواړي او دوی هدايت شوي دي. 22- او څه
راباندي شوي چې د هغه ذات عبادت ونه کړم چې زه ئې پيدا کړی يم او
د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ، 23- آيا له ده پرته داسي معبودان ونيسم
چې که رحمن رب د کوم تاوان اراده راته وکړي نه د دوی شفاعت کوم څه
رانه دفع کولی شي او نه مي ژغورلی شي، 24- يقيناً چې زه به هغه مهال په
څرګندي تېروتني کې يم، 25- نو له ما ئې واورئ چې ما په يقيني توګه
ستاسو پر رب ايمان راوړی. 26- (ورته) وويل شول: دې جنت ته ننوځه،
وئې ويل: کاش زما قوم پوهېدلی، 27- په هغه څه چې له کبله ئې زما رب
بخښنه راته وکړه او له معززينو ئې وګرځولم،

۞وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنۢ بَعۡدِهِۦ مِن جُندٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا
كُنَّا مُنزِلِينَ ٢٨ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ
٢٩ يَٰحَسۡرَةً عَلَى ٱلۡعِبَادِۚ مَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ
يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٠ أَلَمۡ يَرَوۡاْ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّنَ ٱلۡقُرُونِ أَنَّهُمۡ
إِلَيۡهِمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ٣١ وَإِن كُلّٞ لَّمَّا جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ٣٢
وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ
يَأۡكُلُونَ ٣٣ وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ وَفَجَّرۡنَا
فِيهَا مِنَ ٱلۡعُيُونِ ٣٤ لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ
أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ
ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦ وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ
مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ٣٧ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ
ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨ وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ
كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ٣٩ لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ
وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ٤٠

28- او له ده وروسته مو نه د ده پر قوم له آسمانه کوم لښکر ولېږلو او نه ئې لېږونکي وو، 29- دا خو له یوې توندي چیغي پرته بل څه نه وو چي له کبله ئې همغه مهال سړې ایرې شول، 30- وای افسوس پر دغو بندګانو، هیڅ پیغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چي پر هغه ئې استهزاء کړې!! 31- آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چي تر دوی وړاندي مو څومره نسلونه داسي هلاك کړل چي د دوی په لوري بېرته نه راستنېږي، 32- او هر یو به ئې زموږ په وړاندي غونډ حاضر کړی شوي وي. 33- او دوی ته دا مړه زمکه یوه څرګنده نښه ده چي موږ ژوندۍ کړه او له هغې مو هغه دانه راوایستله چي دوی ئې خوري، 34- او په هغې کې مو د کجورو او انګورو بڼونه پیدا کړل او په هغې کې مو چینې وبهولې، 35- ترڅو ئې مېوه او هغه څه وخوري چي دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آیا شکر نه کوي؟! 36- سپېڅلتیا هغه ذات ته چي ټول جوړه جوړه (مخلوقات) ئې پیدا کړل، له هغه څه هم چي زمکه ئې راټوکوي او د دوی له خپلو ځانونو هم او له هغه څه هم چي نه پرې پوهېږي. 37- او دوی ته یوه څرګنده نښه شپه ده چي ورځ ترې راباسو چي له کبله ئې دوی هغه مهال په تیاره کې شي، 38- او لمر په خپل مستقر او تمځای کې درومي، دا د پوه ځواکمن ذات مقدره ټاکنه ده، 39- او سپوږمۍ ته مو منازل ټاکلي تر هغه چي د کجوري د وچي زړې ښاخګي په څېر شي، 40- نه لمر ته ښایي چي سپوږمۍ لاندي کړي او نه شپه پر ورځ وړاندي کېدونکې ده، او هر یو په خپل خپل فلك کې لامبي (په فضاء کې درومي).

وَءَايَةٌ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقۡنَا لَهُم
مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا
هُمۡ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٤٤﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ
ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا
تَأۡتِيهِم مِّنۡ ءَايَةٖ مِّنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِمۡ إِلَّا كَانُواْ عَنۡهَا مُعۡرِضِينَ ﴿٤٦﴾ وَإِذَا
قِيلَ لَهُمۡ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلَّذِينَ
ءَامَنُوٓاْ أَنُطۡعِمُ مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ
مُّبِينٖ ﴿٤٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ﴿٤٨﴾ مَا
يَنظُرُونَ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ تَأۡخُذُهُمۡ وَهُمۡ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَا
يَسۡتَطِيعُونَ تَوۡصِيَةٗ وَلَآ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٥٠﴾ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ
فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ
بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٢﴾
إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ جَمِيعٞ لَّدَيۡنَا مُحۡضَرُونَ ﴿٥٣﴾
فَٱلۡيَوۡمَ لَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗا وَلَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٥٤﴾

41- او دوي ته یوه څرګنده نښه دا ده چي د دوی اولاد مو په ډکې کښتۍ کي سپاره کړل، 42- او دې ته ورته هغه څه مو ورته پیدا کړي چي پرې سپرېږي، 43- او که وغواړو غرق به ئې کړو نو بیا به ئې نه چیغي اورېدونکی وي او نه به وژغورل شي، 44- مګر زموږ له لوري کومه پېرزوینه او تر یوه وخته څه متاع. 45- او کله چي ورته وویل شي: له هغه څه ووېرېږئ چي ستاسو مخي ته دي او له هغه څه هم چي تر شا مو دي، تر څو رحم درباندي وشي، 46- او د خپل رب له آیتونو هیڅ آیت نه ورځي مګر دا چي دوی ترې انکار کوي. 47- او کله چي ورته وویل شي: له هغه څه ئې انفاق کړئ چي الله درروزي کړي، هغه چي کفر ئې کړی هغو ته چي ایمان ئې راوړی وایي: آیا هغه چا ته خواړه ورکړو چي که الله غوښتی په خپله به ئې خواړه ورکړي وو؟! تاسو نه یئ مګر په څرګندي تېروتني کي، 48- که رښتیني یئ ووایئ چي دا وعده به کله وي؟ 49- (دوی خو) له یوې داسي لوړي چیغي پرته د بل څه انتظار نه لري چي دوی به ونیسي، په داسي حال کي چي په شخړو به بوخت وي، 50- نو نه به وصیت کولی شي او نه به خپلي کورنۍ ته ستنېدی شي. 51- او په شپېلۍ کي به پو کړی شي چي په نتیجه کي به ئې دوی له خپلو قبرونو د خپل رب په لور ځغلي، 52- وایي به: وای افسوس پر موږ؛ چا له خپلو خوب ځایونو راپاڅولو؟ دا همغه څه دي چي رحمن رب ئې وعده کړې وه او پیغمبرانو رښتیا ویلي وو، 53- دا خو به له یوې تونديچیغي پرته بل څه نه وي چي له کبله به ئې همغه مهال ټول زموږ په وړاندي حاضر کړی شوي وي، 54- نو په دې ورځ به نه پر چا کوم ظلم کېږي او نه به له هغه څه پرته سزا درکول کېږي چي تاسو کول.

إِنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ ٱلۡيَوۡمَ فِي شُغُلٖ فَٰكِهُونَ ﴿٥٥﴾ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي
ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴿٥٦﴾ لَهُمۡ فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ
﴿٥٧﴾ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴿٥٨﴾ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ
﴿٥٩﴾ ۞أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ
لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٦١﴾
وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ﴿٦٢﴾
هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ
تَكۡفُرُونَ ﴿٦٤﴾ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ
أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ
فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبۡصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ
مَكَانَتِهِمۡ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مُضِيّٗا وَلَا يَرۡجِعُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَن نُّعَمِّرۡهُ
نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا
يَنۢبَغِي لَهُۥٓۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ وَقُرۡءَانٞ مُّبِينٞ ﴿٦٩﴾ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيّٗا
وَيَحِقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾

55- يقيناً چې جنتيان به دغه ورځ خوښ خوښ په ځانګړو مشغولتياوو
کې بوخت وي، 56- دوی او مېرمني به ئې په سيورو کې پر تختونو
(ناست) تکيه وهونکې وي، 57- هلته به ډول ډول مېوې او هر هغه
څه د دوی په برخه وي چې غواړي ئې، 58- يو سلام، د رحمن رب له
لوري يوه وينا. 59- اې مجرمانو! نن بېل شئ، 60- اې د آدم بچيانو!
آيا فرمان مې نه وو درلېږلی چې د شيطان بندګي مه کوئ؛ يقيناً چې
هغه ستاسو څرګند دښمن دئ؟ 61- او زما عبادت وکړئ، همدا
مستقيمه لار ده، 62- او يقيناً چې ستاسو ډېر نسلونه ئې بې لارې
کړل آيا تعقل مو نه کولو، 63- همدا هغه دوزخ دئ چې وعده ئې
درکول کېده، 64- نن د هغه کفر له کبله ورننوځئ چې تاسو کولو.
65- په دغه ورځ به د دوی پر خولو مهر ولګوو او د دوی لاسونه به
له موږ سره خبرې کوي او پښې به ئې پر هغو کړنو ګواهي ورکوي چې
دوی کولې، 66- او که وغواړو پر سترګو به ئې ړوندوالی راولو نو د
لارې لټه به کوي خو څنګه به ئېويني؟ 67- او که وغواړو پر خپل
خپل ځای به ئې داسې مسخ کړو چې په نتيجه کې به ئې نه وړاندې
تللی شي او نه وروسته ستنېدلی شي. 68- او چا ته چې عمر ورکوو
بېرته ئې په خلقت کې رانسکوروو، نو آيا تعقل نه کوئ؟! 69- او نه
موږ شعر ورښودلی او نه له ده سره ښايي، دا خو له ځانګړې پند او
څرګندوونکې قرآن پرته بل څه نه دي، 70- ترڅو هغه انذار کړي چې
ژوندی وي او د کافرانو په اړه هغه وينا محققه شي.

أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا
مَٰلِكُونَ ٧١ وَذَلَّلۡنَٰهَا لَهُمۡ فَمِنۡهَا رَكُوبُهُمۡ وَمِنۡهَا يَأۡكُلُونَ ٧٢
وَلَهُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٧٣ وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ
ٱللَّهِ ءَالِهَةٗ لَّعَلَّهُمۡ يُنصَرُونَ ٧٤ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَهُمۡ وَهُمۡ لَهُمۡ
جُندٞ مُّحۡضَرُونَ ٧٥ فَلَا يَحۡزُنكَ قَوۡلُهُمۡۘ إِنَّا نَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا
يُعۡلِنُونَ ٧٦ أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقۡنَٰهُ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ
خَصِيمٞ مُّبِينٞ ٧٧ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ
ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ
بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلۡأَخۡضَرِ
نَارٗا فَإِذَآ أَنتُم مِّنۡهُ تُوقِدُونَ ٨٠ أَوَ لَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ٨١
إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢ فَسُبۡحَٰنَ
ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٣

## سُورَةُ الصَّافَّاتِ

71- آیا دې ته ئې پام نه دئ کړی چې موږ هغه څاروي ورته پیدا کړي چې زموږ لاسونو جوړ کړي او دوی ئې خاوندان دي، 72- او دوی ته مو رام کړي نو ځيني ئې د دوی سورلۍ دي او له ځينو ئې خوراك کوي، 73- او په هغوی کې دوی ته ځيني ګټې او څښاکونه دي، نو آیا شکر نه کوي؟!! 74- له الله پرته ئې داسې معبودان ونیول چې ښايي (په دې سره به) د دوی ملاتړ وشي، 75- (نه يوازې) ملاتړ ئې نشي کولی (بلکې) دوی په خپله د هغوی لپاره چمتو شوی لښکر وي. 76- نو د دوی وينا دې تا غمجن نه کړي، يقيناً چې موږ په هغه څه هم پوهېږو چې دوی ئې پټوي او په هغه څه هم چې دوی ئې څرګندوي. 77- آیا دغه انسان دې ته پام نه دئ کړی چې موږ له يوې نطفې پيدا کړی، او بيا دی څرګند جګړاوو شو، 78- او زموږ لپاره ئې مثل تېر کړ په داسې حال کې چې خپل پيدايښت ئې هېر کړی، وئې ويل: څوك به دا هډوکي په داسې حال کې راژوندي کړي چې وراسته شوي وي؟ 79- ووايه: همغه ذات به ئې راژوندي کړي چې په لومړي ځل ئې پيدا کړل، او هغه په هر ډول پيدايښت ښه پوه دئ، 80- همغه چې تاسو ته ئې له شنې ونې داسې اور پيدا کړ چې ترې بلول کوئ، 81- آیا هغه چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر نه دئ چې دوی ته ورته پيدا کړي؟! ولې نه؛ هغه ډېر پوه غوره پيدا کوونکی دئ، 82- يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) کېږي!! 83- نو سپېڅلتيا هغه ذات ته ده چې د هر څه ټولواکي د هغه په لاس کې ده او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

## الصّٰفٰت- مکي سوره- 182 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا ١ فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا ٢ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ٣ إِنَّ
إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ٤ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَرَبُّ
ٱلۡمَشَٰرِقِ ٥ إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِزِينَةٍ ٱلۡكَوَاكِبِ ٦ وَحِفۡظٗا
مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ ٧ لَّا يَسَّمَّعُونَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰ وَيُقۡذَفُونَ
مِن كُلِّ جَانِبٖ ٨ دُحُورٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ وَاصِبٌ ٩ إِلَّا مَنۡ خَطِفَ
ٱلۡخَطۡفَةَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ ثَاقِبٞ ١٠ فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَهُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَم
مَّنۡ خَلَقۡنَآۚ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّن طِينٖ لَّازِبِۭ ١١ بَلۡ عَجِبۡتَ
وَيَسۡخَرُونَ ١٢ وَإِذَا ذُكِّرُواْ لَا يَذۡكُرُونَ ١٣ وَإِذَا رَأَوۡاْ ءَايَةٗ
يَسۡتَسۡخِرُونَ ١٤ وَقَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٌ ١٥ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا
تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ١٦ أَوَ ءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ١٧ قُلۡ نَعَمۡ
وَأَنتُمۡ دَٰخِرُونَ ١٨ فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٞ وَٰحِدَةٞ فَإِذَا هُمۡ يَنظُرُونَ ١٩
وَقَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا هَٰذَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ٢٠ هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ٱلَّذِي كُنتُم
بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ٢١ ۞ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ
يَعۡبُدُونَ ٢٢ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَٱهۡدُوهُمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡجَحِيمِ ٢٣
وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ٢٤

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- په یوه صف کې لیکه کېدونکو قسم، 2- بیا په ځانګړي رټلو سره رټونکو قسم، 3- بیا د ذکر لپاره په پر له پسې راتلونکو قسم، 4- بې شکه چې ستاسو رب یو دئ، 5- هماغه د آسمانونو، زمکې او د هرهغه څه رب چې د دوی دواړو تر منځ دي او د ټولو ختیځونو رب. 6- یقیناً چې دا مونږ یو چې د دنیا آسمان مو په ستورو ښایسته کړی، 7- او له هر متمرد شیطان د ساتنې په توګه (مو ګمارلې). 8- ملأ اعلی ته غوږ نشي نیولی، او له هر لوري ویشتل کېږي، 9- د شړلو په موخه، په داسې حال کې چې دوی ته دائمي عذاب دئ، 10- خو که کوم څه اختطاف کړي نو شهاب ثاقب (تېزه شعله) ورپسې شي. 11- نو وئې پوښته چې آیا دوی د پیدایښت له پلوه مضبوط دي او که هغه څه چې موږ پیدا کړي، موږ خو دوی له سرښناکې خټې پیدا کړي. 12- نه؛ بلکې ته حیرانتیا ښیې او دوی تمسخر کوي، 13- او کله چې پند ورکړی شي پند نه اخلي، 14- او که کومه څرګنده نښه وګوري نو مسخرې پرې کوي، 15- او وایي: دا خو له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ، 16- آیا کله چې ومرو او خاورې او هډوکې شو آیا بیا به هم موږ بېرته راپاڅول کېږو؟ 17- او زموږ لومړني پلرونه هم؟! 18- ووایه: هو؛ او په داسې حال کې چې تاسو به سرکوزي او ذلیل وئ، 19- یقیناً چې دا به یوازې یوه تونده چیغه وي چې بیا به دوی هغه مهال (هر څه) ګوري، 20- او وایي به: افسوس پر موږ! دا همغه د جزاء ورځ ده، 21- دا همغه د پرېکړې ورځ ده چې تاسو تکذیبوله. 22- هغه راغونډ کړئ چې ظلم ئې کړی وو او د دوی جوړې هم او هغه هم چې دوی له الله پرته لمانځل؛ 23- او د دوزخ لارې ته ئې سم کړئ، 24- وئې دروئ چې پوښتل کېدونکي دي.

مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلۡ هُمُ ٱلۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقۡبَلَ
بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَأۡتُونَنَا عَنِ
ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ بَل لَّمۡ تَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُم
مِّن سُلۡطَٰنِۭۖ بَلۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا طَٰغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيۡنَا قَوۡلُ رَبِّنَآۖ إِنَّا
لَذَآئِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغۡوَيۡنَٰكُمۡ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ﴿٣٢﴾ فَإِنَّهُمۡ يَوۡمَئِذٖ فِي
ٱلۡعَذَابِ مُشۡتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ
إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ
ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ ﴿٣٦﴾ بَلۡ جَآءَ بِٱلۡحَقِّ وَصَدَّقَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣٧﴾
إِنَّكُمۡ لَذَآئِقُواْ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجۡزَوۡنَ إِلَّا مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ
﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٤٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ رِزۡقٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٤١﴾ فَوَٰكِهُ
وَهُم مُّكۡرَمُونَ ﴿٤٢﴾ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٤٣﴾ عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٤﴾
يُطَافُ عَلَيۡهِم بِكَأۡسٖ مِّن مَّعِينِۭ ﴿٤٥﴾ بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٤٦﴾ لَا
فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ ﴿٤٧﴾ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ عِينٞ
﴿٤٨﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيۡضٞ مَّكۡنُونٞ ﴿٤٩﴾ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ
﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٞ ﴿٥١﴾

25- څه درباندي شوي چي يو د بل مرسته نه شئ كولی؟ 26- نه؛ بلكي دوی به دغه ورځ د تسليمولو غوښتونكي وي، 27- او ځيني به ځينو نورو ته مخ اړوي، په داسي حال كي چي يو به بل پوښتي؛ 28- وايي به: دا تاسو وئ چي موږ ته به له ښمينه راتلئ، 29- وبه وايي: نه؛ بلكي تاسو په خپله ايمان راوړونكي نه وئ، 30- او موږ پر تاسو كومه سلطه نه درلوده، بلكي تاسو په خپله سركښ وګړي وئ، 31- نو ځكه پر موږ (ټولو) د خپل رب وينا محققه شوه، يقيناً چي موږ ئې هرو مرو (د خوند) څكونكي يو، 32- يقيناً چي موږ همغسي بې لاري كړئ چي په خپله بې لاري شوي وو. 33- نو دوی به په دغه ورځ په عذاب كي سره ګډ وي، 34- يقيناً چي موږ له مجرمينو سره همداسي كوو، 35- دوی داسي ول چي كله به ورته وويل شو: له الله پرته بل معبود نشته؛ نو تكبر به ئې كولو، 36- او ويل به ئې: آيا موږ د يوه مجنون شاعر لپاره د خپلو معبودانو پرېښودونكي شو، 37- داسي نه ده؛ بلكي حق ئې ووړ او ټول پيغمبران ئې تصديق كړل، 38- يقيناً چي تاسو د دردناك عذاب څكونكي يئ، 39- او له هغه پرته چي كول مو د بل څه سزا نه دركول كېږي. 40- مګر د الله مخلص بندګان، 41- دوی ته به ټاكلی غوره رزق وي؛ 42- مېوې، او دوی به عزتمن كړی شوي وي، 43- له نعمتونو ډكو جنتونو كي، 44- پر تختونو يو بل ته مخامخ، 45- پر دوی به د ځانګړې چينې د شرابو جامونه راچورلي، 46- تك سپين او څښونكو ته خوندور، 47- نه به په هغه كي كوم خرابوالی وي او نه به ترې بې سده كېږي، 48- خوا ته به ئې داسي د نظر لنډوونكې د (ښكلو) غټو غټو سترګو والي وي، 49- لكه چي پوښلې هګۍ وي. 450- نو ځيني به ځينو نورو ته مخ كړي په داسي حال كي چي يو به بل پوښتي، 51- د دوی يو ويونكی به ووايي: زه خو داسي وم چي يو ملګری مي وو،

يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا
أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي
سَوَآءِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ
رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٥٧﴾ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّا مَوْتَتَنَا
ٱلْأُولَىٰ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٥٩﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ
هَٰذَا فَلْيَعْمَلِ ٱلْعَٰمِلُونَ ﴿٦١﴾ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا
جَعَلْنَٰهَا فِتْنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِيٓ أَصْلِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾
طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَأَكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ
مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ
مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا۟ ءَابَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰٓ
ءَاثَٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ
أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا
عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادَىٰنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ٱلْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾
وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾

52- ویل به ئې: آیا ته له باور کوونکو یې؟، 53- آیا کله چې ومرو او خاورې او هډوکي شو آیا موږ به محاسبه او مجازات کېدونکي یو، 54- وبه وایي: آیا تاسو اطلاع موندونکي یئ، 55- نو نظر به واچوي او د دوزخ په منځ کې به ئې وګوري، 56- وبه وایي: قسم په خدای چې نژدې وه ما (په دوزخ کې) وغورځوې، 57- او که زما د رب پېرزوینه نه وی نو زه به هم (په دوزخ کې) له حاضر کړی شوو سره وم. 58- نو آیا داسې نه ده چې اوس مړه کېدونکي نه یو، 59- مګر زموږ همغه لومړنی مړینه؟ آیا موږ عذاب کېدونکي یو؟ 60- یقیناً چې همدا ستره بریا ده، 61- نو عمل کوونکي دې د داسې بریا لپاره عمل وکړي چې دې ته ورته وي. 62- آیا دا د مېلمستیا په توګه غوره دئ که د زقوم ونه، 63- یقیناً چې همغه مو د ظالمانو لپاره فتنه ګرځولې، 64- دا داسې ونه ده چې د دوزخ په تل کې راټوکېږي، 65- وږي ئې داسې دي لکه د شیطانانو سرونه، 66- نو دوی به ترې خوراك کوي، او له همدې به د (خپلو) خېټو ډکوونکي وي، 67- بیا به حتماً دوی ته پر هغې د تودو اوبو ګډونه وي، 68- بیا به ئې ګرځېدا حتماً د دوزخ د اور کندې په لورې وي، 69- یقیناً چې دوی خپل پلرونه تېروتي موندلي ول، 70- نو د هغوی پر پلونو ځغلېدونکي ول، 71- او یقیناً چې تر دوی وړاندې ډېری لومړني بې لارې شوي ول. 72- او یقیناً چې په دوی کې مو ګواښونکي (انبیاء) ولېږل، 73- نو وګوره چې د انذار شوو پایله څنګه وه، 74- د الله د مخلصو بندګانو په استثناء. 75- او یقیناً چې نوح موږ ته غږ کړ په داسې حال کې چې غوره اجابت کوونکي یو، 76- او دی او د ده اهل مو له ستر کړاو وژغورل،

وَجَعَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلۡبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٧٨﴾
سَلَٰمٌ عَلَىٰ نُوحٖ فِي ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٨٠﴾
إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٨٢﴾ ۞وَإِنَّ مِن
شِيعَتِهِۦ لَإِبۡرَٰهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذۡ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلۡبٖ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ
وَقَوۡمِهِۦ مَاذَا تَعۡبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفۡكًا ءَالِهَةً دُونَ ٱللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا
ظَنُّكُم بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظۡرَةٗ فِي ٱلنُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي
سَقِيمٞ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ مُدۡبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ ءَالِهَتِهِمۡ فَقَالَ أَلَا
تَأۡكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمۡ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيۡهِمۡ ضَرۡبَۢا
بِٱلۡيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقۡبَلُوٓاْ إِلَيۡهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعۡبُدُونَ مَا تَنۡحِتُونَ ﴿٩٥﴾
وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُواْ ٱبۡنُواْ لَهُۥ بُنۡيَٰنٗا فَأَلۡقُوهُ فِي
ٱلۡجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُواْ بِهِۦ كَيۡدٗا فَجَعَلۡنَٰهُمُ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ إِنِّي
ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبۡ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠٠﴾
فَبَشَّرۡنَٰهُ بِغُلَٰمٍ حَلِيمٖ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ ٱلسَّعۡيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ أَرَىٰ
فِي ٱلۡمَنَامِ أَنِّيٓ أَذۡبَحُكَ فَٱنظُرۡ مَاذَا تَرَىٰۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ
سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾

77- او د ده اولاد مو باقي پاته شوي وگرځول، 78- او د ده په اړه مو په
وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده، 79- چې په ټولو عالمونو کې دې پر نوح
سلامونه وي، 80- يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، 81- يقيناً
چې هغه زما د مؤمنو بندگانو له ډلې وو، 82- بيا مو هغه نور غرق کړل. 83-
او يقيناً چې ابراهيم حتماً د ده د تابعانو له ډلې وو، 84- هغه مهال چې خپل
رب ته له روغ زړه سره راغی، 85- هغه مهال چې خپل پلار او خپل قوم ته
ئې وويل: دا څه دي چې تاسو ئې لمانځئ، 86- آيا له الله پرته دروغجن
معبودان غواړئ؟ 87- نو د رب العالمين په اړه مو څه گمان دئ؟ 88- بيا ئې
په ستورو کې په يوه نظر سره وکتل، 89- بيا ئې وويل: يقيناً چې زه ناروغ يم،
90- نو په داسې حال کې ئې مخونه ترې واړول چې تر شا کېدونکي ول، 91- نو
د دوی معبودانو ته پټ پټ ورغی او (ورته) وئې ويل: آيا (څه) نه خورئ؟!!
92- څه دربانديې شوي چې خبري نه کوئ؟! 93- نو د ښي لاس په گوزار سره
ئې مضبوط گوزار پرې وکړ، 94- نو په منډه منډه ئې د ده لوري ته مخه کړه،
95- وئې ويل: آيا هغه څه لمانځئ چې په خپله مو تراشلي؟ 96- په داسې حال
کې چې الله هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوئ. 97-
وئې ويل: يو بنيان ورته جوړ کړئ او د لمبه ناك اور په کندې کې ئې وغورځوئ،
98- نو د ده په اړه ئې د يوه تدبير اراده وکړه خو موږ دوی په خپله لاندې
شوي کړل. 99- او وئې ويل: زه خو د خپل رب په لوري تلونکی يم، يقين لرم
چې هغه به حتماً لار راوښيي، 100- اې زما ربه! د صالحينو له ډلې ئې راپه
برخه کړې، 101- نو د يوه صبرناك زلمي زېری مو ورکړ، 102- نو چې کله له
ده سره د سعي (عمر) ته ورسېدو، وئې ويل: اې گرانه زويه! په خوب کې وينم
چې تا ذبح کوم، وگوره چې ستا رأيه څه ده؟ هغه وويل: پلار جانه! په کوم
کار چې گمارل شوی يې هغه ترسره کړه، که خدای کول ما به د صبر کوونکو
له ډلې ومومې،

فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ١٠٣ وَنَٰدَيۡنَٰهُ أَن يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ١٠٤ قَدۡ
صَدَّقۡتَ ٱلرُّءۡيَآۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٠٥ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ
ٱلۡبَلَٰٓؤُاْ ٱلۡمُبِينُ ١٠٦ وَفَدَيۡنَٰهُ بِذِبۡحٍ عَظِيمٖ ١٠٧ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي
ٱلۡأٓخِرِينَ ١٠٨ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ١٠٩ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ
١١٠ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١١ وَبَشَّرۡنَٰهُ بِإِسۡحَٰقَ نَبِيّٗا مِّنَ
ٱلصَّٰلِحِينَ ١١٢ وَبَٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ وَعَلَىٰٓ إِسۡحَٰقَۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحۡسِنٞ
وَظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ مُبِينٞ ١١٣ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١١٤
وَنَجَّيۡنَٰهُمَا وَقَوۡمَهُمَا مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ١١٥ وَنَصَرۡنَٰهُمۡ فَكَانُواْ
هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ١١٦ وَءَاتَيۡنَٰهُمَا ٱلۡكِتَٰبَ ٱلۡمُسۡتَبِينَ ١١٧ وَهَدَيۡنَٰهُمَا
ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١١٨ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِمَا فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ١١٩ سَلَٰمٌ
عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ١٢٠ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٢١ إِنَّهُمَا
مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٢٢ وَإِنَّ إِلۡيَاسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٢٣ إِذۡ قَالَ
لِقَوۡمِهِۦٓ أَلَا تَتَّقُونَ ١٢٤ أَتَدۡعُونَ بَعۡلٗا وَتَذَرُونَ أَحۡسَنَ
ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٢٥ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡ وَرَبَّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٢٦

103- کله چې دواړه (خپل رب ته) تسلیم شول او هغه ئې پړمخې پرې ایست، 104- او غږ مو ورته وکړ چې اې ابراهیمه! 105- بې شکه چې تا خپل خوب رښتیا کړ، موږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو، 106- یقیناً چې دا څرګنده آزموینه وه، 107- او لویه قرباني مو په بدل کې ورکړه، 108- او د ده په اړه مو په وروستنیو کې دا (خبره) پرېښوده، 109- چې پر ابراهیم دې سلامونه وي، 110-همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو، 111- یقیناً چې هغه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې دئ. 112- او د اسحاق زېرى مو ورکړ؛ د صالحینو له ډلې یو نبي، 113- او پر ده او اسحاق مو برکت نازل کړ، په داسې حال کې چې له اولاد ئې څوك نېك او څوك په څرګنده توګه پر خپل ځان ظلم کوونکى. 114- او یقیناً چې پر موسى او هارون مو لورېینه وکړه، 115- او دوى دواړه او د دوى قوم مو له ستر کړاو وژغورل، 116- او د دوى ملاتړ مو وکړ چې له کبله ئې همدا دوى غالب ول، 117- او دوى دواړو ته مو همغه ښه بیانوونکى کتاب ورکړ، 118- او دواړو ته مو سمه لار وښوده، 119- او د دواړو په اړه مو په وروستنیو کې (دا وینا) پرېښوده، 120- چې پر موسى او هارون دې سلام وي، 121- یقیناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، 122- یقیناً چې دواړه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې ول. 123- او بې شکه چې الیاس هم د دغو مرسلینو له ډلې وو، 124- کله چې ئې خپل قوم ته وویل: آیا ځان ساتنه نه کوئ، 125- آیا بعل لمانځئ (مرسته ترې غواړئ) او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ، 126- هغه الله چې هم ستاسو رب دئ او هم ستاسو د لومړنیو پلرونو رب؟!

فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُونَ ١٢٧ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٢٨
وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ١٢٩ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِلۡ يَاسِينَ ١٣٠ إِنَّا كَذَٰلِكَ
نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣١ إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٣٢ وَإِنَّ لُوطٗا لَّمِنَ
ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٣٣ إِذۡ نَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ١٣٤ إِلَّا عَجُوزٗا فِي
ٱلۡغَٰبِرِينَ ١٣٥ ثُمَّ دَمَّرۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ١٣٦ وَإِنَّكُمۡ لَتَمُرُّونَ عَلَيۡهِم
مُّصۡبِحِينَ ١٣٧ وَبِٱلَّيۡلِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ١٣٨ وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ
١٣٩ إِذۡ أَبَقَ إِلَى ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ١٤٠ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ
ٱلۡمُدۡحَضِينَ ١٤١ فَٱلۡتَقَمَهُ ٱلۡحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٞ ١٤٢ فَلَوۡلَآ أَنَّهُۥ كَانَ
مِنَ ٱلۡمُسَبِّحِينَ ١٤٣ لَلَبِثَ فِي بَطۡنِهِۦٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ١٤٤ *فَنَبَذۡنَٰهُ
بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيمٞ ١٤٥ وَأَنۢبَتۡنَا عَلَيۡهِ شَجَرَةٗ مِّن يَقۡطِينٖ ١٤٦
وَأَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ مِاْئَةِ أَلۡفٍ أَوۡ يَزِيدُونَ ١٤٧ فَـَٔامَنُواْ فَمَتَّعۡنَٰهُمۡ إِلَىٰ حِينٖ
١٤٨ فَٱسۡتَفۡتِهِمۡ أَلِرَبِّكَ ٱلۡبَنَاتُ وَلَهُمُ ٱلۡبَنُونَ ١٤٩ أَمۡ خَلَقۡنَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ
إِنَٰثٗا وَهُمۡ شَٰهِدُونَ ١٥٠ أَلَآ إِنَّهُم مِّنۡ إِفۡكِهِمۡ لَيَقُولُونَ ١٥١ وَلَدَ ٱللَّهُ
وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٥٢ أَصۡطَفَى ٱلۡبَنَاتِ عَلَى ٱلۡبَنِينَ ١٥٣

127- نو هغه ئې تکذيب کړ چې له کبله به ئې حتماً احضار شوي وي، 128- مګر د الله مخلص بندګان، 129- او د ده په اړه مو په وروستنيو کې (دا وينا) پرېښوده، 130- چې پر الياس دې سلام وي، 131- يقيناً چې موږ نېکانو ته همداسې بدله ورکوو، 132- يقيناً چې هغه زموږ د مؤمنو بندګانو له ډلې وو. 133- او بې شکه چې لوط هم له دغو مرسلينو وو، 134- هغه مهال چې دی او د ده ټول اهل مو وژغورل، 135- په وروسته پاتو کې له يوې بوډۍ پرته، 136- بيا مو نور ويجاړ کړل، 137- او يقيناً چې تاسو سبا سبا پرې تېرېږئ، 138- او په شپه کې هم، نو آيا تعقل نه کوئ؟! 139- او يقيناً چې يونس هم له دغو پيغمبرانو وو، 140- کله چې د ډکې کښتۍ په لور وتښتېدو. 141- پچه ئې ورسره واچوله او دی پړ وخوت. 142- نو کب په داسې حال کې تېر کړ چې (د خپل ځان) ملامتوونکی وو، 143- که له تسبيح ويونکو نه وی، 144- نو تر هغې ورځې به د هغه په نس کې پاته وو چې (خلك) بيا راپاڅول کېږي. 145- نو په داسې حال کې مو په لوخ ډاګ وغورځاوو چې ناروغ وو، 146- او د کدو بوټی مو پرې راشين کړ. 147- او سلو زرو يا تر دې څه زياتو (خلکو) ته مو استازی لېږلی وو، 148- نو ايمان ئې پرې راوړ او تر يوه وخته مو مهلت ورکړ. 149- نو وئې پوښته چې آيا ستا د رب به لوڼې وي او د دوی زامن؟ 150- او آيا فرښتې مو ښځينه پيدا کړې په داسې حال کې چې دوی شاهد ول؟ 151- پام چې دا د دوی يو درواغ دي چې وايي: 152- الله زېږول کړي او بې شکه چې دوی حتماً دروغجن دي، 153- آيا لوڼو ته ئې پر زامنو غوره والی ورکړی؟

مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ١٥٤ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ١٥٥ أَمۡ لَكُمۡ سُلۡطَٰنٞ
مُّبِينٞ ١٥٦ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٥٧ وَجَعَلُواْ بَيۡنَهُۥ
وَبَيۡنَ ٱلۡجِنَّةِ نَسَبٗاۚ وَلَقَدۡ عَلِمَتِ ٱلۡجِنَّةُ إِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُونَ ١٥٨
سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٥٩ إِلَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٦٠
فَإِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ ١٦١ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ بِفَٰتِنِينَ ١٦٢ إِلَّا مَنۡ هُوَ
صَالِ ٱلۡجَحِيمِ ١٦٣ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٞ مَّعۡلُومٞ ١٦٤ وَإِنَّا لَنَحۡنُ
ٱلصَّآفُّونَ ١٦٥ وَإِنَّا لَنَحۡنُ ٱلۡمُسَبِّحُونَ ١٦٦ وَإِن كَانُواْ لَيَقُولُونَ ١٦٧ لَوۡ
أَنَّ عِندَنَا ذِكۡرٗا مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٦٨ لَكُنَّا عِبَادَ ٱللَّهِ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ١٦٩
فَكَفَرُواْ بِهِۦۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ١٧٠ وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا
ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ
١٧٣ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٤ وَأَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ ١٧٥
أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ ١٧٦ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمۡ فَسَآءَ صَبَاحُ
ٱلۡمُنذَرِينَ ١٧٧ وَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ حِينٖ ١٧٨ وَأَبۡصِرۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُونَ
١٧٩ سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ
١٨١ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٢

## سُورَةُ صٓ

154- څه درباندي شوي؛ څنګه قضاوت کوئ؟ 155- نو آیا پند نه اخلئ؟ 156- او آیا کوم څرګند برهان درسره شته؟ 157- نو خپل کتاب راوړئ که رښتیني یئ. 158- او د ده او پېریانو تر منځ ئې یوه نَسَبي اړیکه رامنځته کړه، حال دا چې پېریان پوه شوي چې دوی به حتماً احضار کړی شوي وي، 159- الله ته له هغه څه سپېڅلتیا ده چې دوی ئې بیانوي، 160- مګر د الله مخلص بندګان، 161- نو یقیناً چې تاسو او هغه څه چې تاسو ئې لمانځئ؛ 162- د ده په اړه په فتنه کې اچوونکي نه یئ؛ 163- مګر د هغه چا چې دوزخ ته ننوتونکی وي. 164- او زموږ هیڅ یو داسي نه دئ چې ټاکلی مقام دي ونه لري، 165- او یقیناً چې موږ صف صف کېدونکي یو، 166- او یقیناً چې موږ تسبیح ویونکي یو. 167- او یقیناً چې دوی داسي ول چې ویل ئې: 168- که له موږ سره د مخکنیو کوم ذکر وی؛ 169- نو موږ به حتماً د الله مخلص بندګان وو، 170- خو بیا ئې د هغه په اړه کفر وکړ، نو حتماً به پوه شي. 171- او یقیناً چې زموږ وینا لا دمخه زموږ د انبیاوو بندګانو په اړه تېره شوې؛ 172- چې یقیناً همدا دوی به بریالي وي؛ 173- او یقیناً چې همدا زموږ لښکر غالب دئ. 174- نو تر یوه وخته مخ ترې واړوه، 175- او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري، 176- نو آیا زموږ د عذاب په اړه تلوار کوي؟ 177- خو کله چې د دوی پر سیمي پرېوځي هغه مهال به د ګواښل شوو سباوون ډېر بدغونی وي، 178- نو تر یوه وخته مخ ترې واړوه، 179- او وئې ګوره چې دوی به هم ډېر ژر وګوري. 180- سپېڅلتیا ستا رب ته ده، د عزت خاوند رب، له هغه څه چې دوی ئې بیانوي، 181- او پر پیغمبرانو دي سلام وي؛ 182- په داسي حال کې چې ستاینې ټولې د عالمونو رب ته دي.

## ص- مکي سوره- 88 آیتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ١ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ٢
كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ٣
وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ
٤ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ٥ وَٱنطَلَقَ
ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ
٦ مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ ٧ أَءُنزِلَ
عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ مِنۢ بَيۡنِنَاۚ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ مِّن ذِكۡرِيۚ بَل لَّمَّا يَذُوقُواْ
عَذَابِ ٨ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَحۡمَةِ رَبِّكَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡوَهَّابِ ٩ أَمۡ لَهُم
مُّلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَاۖ فَلۡيَرۡتَقُواْ فِي ٱلۡأَسۡبَٰبِ ١٠ جُندٞ
مَّا هُنَالِكَ مَهۡزُومٞ مِّنَ ٱلۡأَحۡزَابِ ١١ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَعَادٞ
وَفِرۡعَوۡنُ ذُو ٱلۡأَوۡتَادِ ١٢ وَثَمُودُ وَقَوۡمُ لُوطٖ وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِۚ أُوْلَٰٓئِكَ
ٱلۡأَحۡزَابُ ١٣ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ١٤ وَمَا يَنظُرُ
هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ ١٥ وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا
قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ١٦

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- صاد، قسم پر دې د ذکر خاوند قرآن، 2- نه؛ بلکي هغه په (مزعوم) تکبر او اختلاف کي دي چي کفر ئې کړی، 3- تر دوی وړاندي مو څومره نسلونه هلاك کړل چي چيغي ئې وختې خو هغه مهال د تېښتي هيڅ مجال نه وو، 4- او پر دې ئې تعجب وکړ چي د دوی له منځه يو خبرداری ورکوونکی ورغی او کافرانو وويل: دا خو ستر دروغجن کوډګر دئ، 5- آيا ټول معبودان ئې يو معبود ګرځولی، دا خو حيرانوونکې خبره ده!! 6- مشران او سرداران ئې روان شول او وئې ويل: ځئ او پرخپلو معبودانو صبر وکړئ، بې شکه چي همدا مطلوب کار دئ، 7- دا مو په دې وروستني مذهب کي هم ندي اورېدلي، دا له کذب او افتراء پرته بل څه نه دي. 8- آيا زموږ په منځ کي په همدا ده دا ذکر نازل شوی، نه؛ بلکي دوی زما د ذکر په اړه په شك کي دي، نه؛ بلکي تر اوسه ئې زما عذاب نه دئ څکلی، 9- آيا ستا د ډېر عطا کوونکي عزتمن رب د پېرزويني خزانې لدوی سره دي؟ 10- آيا د آسمانونو او زمکي او هغه څه واك لدوی سره دئ چي په دواړو کي دي، (که داسي وي) نو په دغو اسبابو کي دي لوړ ولاړ شي. 12- د لويو ډلو په پرتله يو وړوکی شانته لښکر چي همدلته ماتېدونکی دئ. 13- تر دوی وړاندي د نوح قوم، عاد، د مېخونو خاوند فرعون، 14- ثمود، د لوط قوم او ايکه والو (انبياء) تکذيب کړل، دوی همغه لويي لويي ډلي دي؛ 15- چي هري يوې ئې له دې پرته بل څه نه دي کړي چي پيغمبران ئې تکذيب کړل چي په پايله کي ئې زما تعذيبوَنه ترسره شوه. 16- او دا وګړي له يوې داسي توندي چيغي پرته بل څه ته انتظار نه کوي چي هيڅ ځنډېدل به ئې نه وي. 16- دا په داسي حال کي چي دوی وايي: اې زموږ ربه! د حساب تر ورځي وړاندي زموږ برخه راکړه.

ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾
إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ﴿١٨﴾ وَٱلطَّيۡرَ
مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿١٩﴾ وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ
ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٠﴾ ۞وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ ﴿٢١﴾ إِذۡ
دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا
عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ
ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ
فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ
نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ
دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗاۤ وَأَنَابَ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرۡنَا لَهُۥ
ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ
خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ
فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ
عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٦﴾

17- په هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وايي او زموږ بنده داؤد در په ياد کړه چې د (پیاوړو او هنرمندو) لاسونو خاوند وو، يقيناً چې هغه (خدای ته ډېر ډېر او بيا بيا) ورگرځېدونکی وو، 18- يقيناً چې موږ غرونه ورسره رام کړي وو چې سهار او ماښام به ئې تسبيح ويله؛ 19- او مرغان ورته راغونډ کړی شوي، ټول ورته راگرځېدونکي، 20- د ده پاچايي مو ورته مضبوطه کړه، حکمت او پرېکنده وينا مو ورپه برخه کړه، 21- او آيا د هغو شخړه کوونکو خبر دررسېدلی چې له دېواله محراب (د عبادت ځای) ته واوښتل، 22- کله چې د داؤد محضر ته داخل شول، دی ترې وويرېدو، وئې ويل: مه وېرېږه! موږ دوه دعوی کوونکي يو چې يوه پر بل تېری کړی، نو زموږ تر منځ په حقه سره پرېکړه وکړه، ظلم مه کوه او د سمې لارې لارښوونه راته وکړه، 23- دا زما ورور دئ چې نه نوي مېږې لري او زما يوه مېږه ده، نو ما ته ئې وويل: دا هم ما ته وسپاره او په خبرو کې ئې زور زياتی راسره وکړ، 24- وئې ويل: يقيناً چې په خپلو مېږو سربېره ستا د مېږې په غوښتلو سره ئې ظلم درباندې کړی او يقيناً چې ډېری شريکان يو پر بل تېری کوي پرته له هغو چې ايمان ئې راوړی او نېك عمله دي او دوی څومره لږ دي، او داؤد گمان وکړ چې موږ آزمويلی نو له خپل رب ئې بخښنه وغوښته، په سجده پرېوت او خدای ته ئې مخه کړه، 25- نو موږ دا ورته وبخښله او يقيناً چې ده ته زموږ تقرب حاصل وو او غوره پايله، 26- اې داؤده! يقيناً چې ته مو په زمکې کې خليفه گمارلی يې، نو د خلکو ترمنځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لارې به دې تېرباسي، يقيناً هغه چې د الله له لارې منحرف شي په دې سبب دوی ته سخت عذاب (ټاکل شوی) دئ چې د حساب ورځ ئې هېره کړې.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ
كَٱلۡفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ
أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾
إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلۡجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ
حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَيَّۖ
فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدۡ فَتَنَّا سُلَيۡمَٰنَ وَأَلۡقَيۡنَا عَلَىٰ
كُرۡسِيِّهِۦ جَسَدٗا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا
يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ
تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٖ وَغَوَّاصٖ
﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ
بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٠﴾ وَٱذۡكُرۡ
عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾
ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ﴿٤٢﴾

27- او موږ آسمان او زمکه او څه چې په دوی کې دي خوشې او بېهوده
نه دي پیدا کړي، دا هسې د هغو کسانو ګمان دئ چې کافران شوي،
نو دغو کافرانو ته د اور لویه کنده ده. 28- آیا هغه چې ایمان ئې
راوړی او نېك عملونه ئې کړي په زمکې کې د فساد کوونکو په څېر کړو،
آیا متقین به د فاجرانو په څېر کړو. 29- داسې مبارك کتاب چې موږ
ستا لوري ته لېږلی تر څو د هغه په آیتونو کې تدبر وکړي او عقلمن
ترې پند واخلي. 30- او پر داؤد مو سلیمان ولوراوو، غوره بنده، یقیناً
چې هغه (خپل رب ته) ډېر ستنېدونکی وو، 31- هغه مهال چې
مازدیګر تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندې کړی شول، 32- نو وئې
ویل: د خپل رب د ذکر په سبب مې د آسونو مینه غوره کړې، تر څو
چې (د دوړو) په حجاب کې پټ شول، 33- (وئې ویل) بېرته ئې ما ته
راوګرځوئ، نو (د دوی) پر پښو او غاړو ئې لاس راکاږو. 34- او یقیناً
چې سلیمان مو وآزمویو او د ده پر کرسۍ مو یوه (هسې) جثه واچوله،
بیا ئې انابت وکړ، 35- وئې ویل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسې
پاچایي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هیچا سره نه ښایي، بې
شکه چې ته ډېر لوروونکی یې، 36- نو هغه باد مو ورته مسخر کړ چې
د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چې ده غوښتو؛ 37-
او هغه پېریان چې ماڼۍ جوړوونکي او غوټه وهونکي وو؛ 38- او نور
ئې تړلي په زنځیرونو کې، 39- دا زموږ پېرزوینه ده، نو احسان کوه یا
لاس راټموه؛ له (کوم) حساب پرته، 40- او یقیناً چې ده ته زموږ په
خوا کې تقرب او نژدېوالی دئ او غوره پایله. 41- او زموږ بنده ایوب
درپه یاد کړه، کله چې ئې خپل رب ته غږ کړ: شیطان په کړاو او عذاب
اخته کړی یم، 42- (ورته ومو ویل): په خپلې پښې سره ئې ووهه، دا
ئې د غسل سوړ ځای او څښاك،

وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ
﴿٤٣﴾ وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ
نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ﴿٤٤﴾ وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ
وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٤٥﴾ إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ
ذِكۡرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٧﴾ وَٱذۡكُرۡ
إِسۡمَٰعِيلَ وَٱلۡيَسَعَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِۖ وَكُلّٞ مِّنَ ٱلۡأَخۡيَارِ ﴿٤٨﴾ هَٰذَا ذِكۡرٞۚ وَإِنَّ
لِلۡمُتَّقِينَ لَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٩﴾ جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾
مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾ ۞وَعِندَهُمۡ
قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾
إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾ هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٖ
﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ
وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾ هَٰذَا فَوۡجٞ مُّقۡتَحِمٞ
مَّعَكُمۡ لَا مَرۡحَبَۢا بِهِمۡۚ إِنَّهُمۡ صَالُواْ ٱلنَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُواْ بَلۡ أَنتُمۡ لَا
مَرۡحَبَۢا بِكُمۡۖ أَنتُمۡ قَدَّمۡتُمُوهُ لَنَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ رَبَّنَا مَن
قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدۡهُ عَذَابٗا ضِعۡفٗا فِي ٱلنَّارِ ﴿٦١﴾

43- او ده ته مو د ده ټول ټبر او له هغوی سره ورته ئې ورپه برخه کړل، زموږ له لوري يوه پېرزوينه او د عقلمنو لپاره يو پند، 44- او په خپل لاس يوه ګېډۍ واخله او وهل پرې وکړه او لوړه دې مه ماتوه، يقيناً چې هغه مو صبرناك وموند، غوره بنده، يقيناً چې هغه ډېر رجوع کوونکی وو. 45- او زموږ بندګان ابراهيم، اسحاق او يعقوب درپه ياد کړه؛ د پياوړو لاسونو خاوندان او سترګور، 46- يقيناً چې دوی ته مو د آخرت يادولو خصلت سره ځانګړتيا ورکړې وه، 47- او يقيناً چې دوی زموږ په وړاندې د غوره شوو نېکانو له ډلې ول. 48- او اسمعيل، يسع او ذالکفل درپه ياد کړه، چې هر يو ئې د نېکانو له ډلې وو، 49- دا ذکر دئ، او يقيناً چې دغو متقيانو ته حتماً د ورګرځېدو ښکلی ځای دئ؛ 50- داسې تلپاته جنت چې دروازې به ئې ورته پرانيستې وي، 51- په هغه کې داسې تکيه کوونکې چې ډېرې مېوې او څښاك به غواړي، 52- او خوا ته به ئې د نظر لنډوونکې همزولې وي، 53- دا همغه څه دي چې د حساب د ورځې په اړه ئې وعده درسره کېده، 54- يقيناً دا زموږ همغه رزق دئ چې پای ته رسېدل ئې نشته. 55- همدا؛ او د سرکښانو لپاره حتماً د ورګرځېدو بد ځای دئ، 56- داسې دوزخ چې دوی به ورننوځي، ځومره بد استوګنځی، 57- همدا؛ تودې اوبه او نو (زوي)؛ نو خوند دې وڅکي، 58- او دې ته ورته نور ډول ډول عذابونه، 59- دا داسې فوځ دئ چې له تاسو سره يو ځای ننوتونکی دئ، هيڅ هرکلی دې ورته نه وي، يقيناً چې دوی هرو مرو اور ته ننوتونکي دي. 60- وبه وايي: نه؛ بلکې تاسو هغه يئ چې هيڅ هرکلی دې درته نه وي، تاسو دا راپه برخه کړی، نو د تمېدو ځومره بد ځای!! 61- وبه وايي: اې زموږ ربه! چا چې دا راپه برخه کړ په اور کې ئې عذاب دوه برابره ورزيات کړه.

وَقَالُواْ مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالٗا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ ٱلۡأَشۡرَارِ ﴿٦٢﴾ أَتَّخَذۡنَٰهُمۡ
سِخۡرِيًّا أَمۡ زَاغَتۡ عَنۡهُمُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٦٣﴾ إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقّٞ تَخَاصُمُ أَهۡلِ
ٱلنَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ مُنذِرٞۖ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٦٥﴾
رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفَّٰرُ ﴿٦٦﴾ قُلۡ هُوَ نَبَؤٌاْ
عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾ أَنتُمۡ عَنۡهُ مُعۡرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنۡ عِلۡمِۭ بِٱلۡمَلَإِ ٱلۡأَعۡلَىٰٓ
إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِن يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذۡ قَالَ
رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن طِينٖ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ
فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾ فَسَجَدَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمۡ
أَجۡمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّآ إِبۡلِيسَ ٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ
يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ
كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ﴿٧٥﴾ قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ
مِن طِينٖ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ
إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ
مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ
لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٢﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ﴿٨٣﴾

62- او وبه وايي: څه راباندي شوي هغه سړي نه گورو چې موږ به د
اشرارو له ډلي گڼل؟!، 63- آيا موږ تر ملنډو لاندي نيولي ول که سترگي
ترې کږې شوې، 64- يقيناً چې د دوزخيانو دا شخړه يو حقيقت دئ.
65- ووايه: خبره فقط دا ده چې زه يو منذِر يم، او له يوازيني ډېر
برلاسي الله پرته بل معبود نشته، 66- همغه د آسمانونو، زمکي او هر
هغه څه بخښونکی عزتمن رب چې په دوی دواړو کې دي، 67- ووايه:
دا ستره خبره ده، 68- تاسو ترې ډډه کوئ، 69- زه د ملأ اعلی د هغه
مهال په اړه څه علم نه لرم چې دوی مناقشه کوي، 70- ما ته له دې
پرته بله وحي نه کېږي چې زه يو څرگند نذير(گواښونکی) يم. 71- کله
چې ستا رب فرشتو ته وويل: يقيناً زه له خټې د يوه انسان پيدا کوونکی
يم، 72- نو کله چې مي هغه برابر کړ او خپله روح مي په کې پو کړه
نو هغه ته په سجده شئ، 73- نو ټولو فرشتو يو ځايي سجده وکړه؛
74- مگر ابليس چې د لويي لټه ئې وکړه او له کافرانو وو، 75- وئې
ويل: اې ابليسه! څه شي هغه چا ته له سجدې کولو منع کړې چې ما
په خپل لاس پيدا کړ؟ لويي دي وغوښته که ته له لوړو وې؟ 76- وئې
ويل: زه ترې ښه يم، زه دي له اور پيدا کړی يم او هغه دي له خټې
پيدا کړی، 77- وئې ويل: ترې ووځه چې ته له شك پرته رټل شوی يې،
78- او يقيناً چې پر تا د قيامت تر ورځې زما لعنت دئ. 79- وئې ويل:
اې زما ربه! تر هغې ورځې مهلت را چې بيارااپاڅول کېږي، 80- وئې
ويل: نو ته له مهلت ورکړی شوو يې، 81- د يوه معلوم وخت تر
ورځې، 82- وئې ويل: ستا پر عزت قسم چې حتماً به دوی ټول
تېرباسم، 83- مگر د دوی له ډلي ستا مخلص بندگان،

قَالَ فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ
أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ
﴿٨٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعْدَ حِينٍۭ ﴿٨٨﴾

## سُورَةُ الزُّمَرِ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿١﴾ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ
بِٱلْحَقِّ فَٱعْبُدِ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿٢﴾ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلْخَالِصُ ۚ
وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ
زُلْفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِى مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَهْدِى مَنْ هُوَ كَٰذِبٌ كَفَّارٌ ﴿٣﴾ لَّوْ أَرَادَ ٱللَّهُ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا
لَّٱصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٤﴾
خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ
ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ أَلَا
هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّٰرُ ﴿٥﴾

84- وئې ویل: نو همدا حق دئ او زه هم حق وایم، 85- چې حتماً به دوزخ له تا او د دوی له هغو ټولو ډکوم چې ستا متابعت ئې کړی. 86- ووایه: له تاسو کوم اجر نه پرې غواړم او نه زه له تکلف کوونکو یم، 87- دا خو د ټولو عالمیانو لپاره فقط یو اغېزمن پند دئ؛ 88- او د ویناوو په حقیقت به ئې له لږ ځنډ وروسته هرومرو پوه شئ.

## الزمر- مکي سوره- 75 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، 2- یقیناً چې دا کتاب مو په رښتینې توگه ستا لوري ته لېږلی نو په داسې حال کې د الله عبادت کوه چې ده ته د دین سوچه کوونکی وې، 3- پام چې سوچه دیانت (انقیاد) د الله حق دئ، او هغه چې له ده پرته ئې اولیاء غوره کړي (په داسې حال کې چې وایي:) له دې پرته ئې د بل څه لپاره نه لمانځو چې په ښه نژدېکت سره مو الله ته ورنژدې کړي، یقیناً چې الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې پرېکړه کوي چې دوی په کې اختلاف کوي، یقیناً چې الله هغه څوك نه هدایتوي چې دروغجن کافر وي. 4- که الله غوښتی چې کوم زوی (او ځای ناستی) ونیسي نو له هغه څه به ئې کوم یو په خپله خوښه غوره کړی وو چې دی ئې پیدا کوي، سپېڅلتیا ده ته ده، هغه یوازینی برلاسی الله دئ، 5- آسمانونه او زمکه ئې سم پیدا کړي، شپه پر ورځ راتاووي او ورځ پر شپې راتاووي، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر کړي، هر یو ئې د ټاکلې نېټې مطابق درومي، پام چې هغه بخښونکی عزتمن دئ.

خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ
ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖۚ يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ
خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ
فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ ۝٦ إِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمۡۖ وَلَا يَرۡضَىٰ
لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَۖ وَإِن تَشۡكُرُواْ يَرۡضَهُ لَكُمۡۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ
أُخۡرَىٰۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرۡجِعُكُمۡ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَۚ
إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝٧ ۞وَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَا رَبَّهُۥ
مُنِيبًا إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُۥ نِعۡمَةٗ مِّنۡهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدۡعُوٓاْ إِلَيۡهِ مِن قَبۡلُ
وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِۦۚ قُلۡ تَمَتَّعۡ بِكُفۡرِكَ قَلِيلًا إِنَّكَ
مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ ۝٨ أَمَّنۡ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ سَاجِدٗا وَقَآئِمٗا يَحۡذَرُ
ٱلۡأٓخِرَةَ وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦۗ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ
لَا يَعۡلَمُونَۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝٩ قُلۡ يَٰعِبَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۗ وَأَرۡضُ ٱللَّهِ
وَٰسِعَةٌۗ إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ ۝١٠

6- له یوه ژوي ئې پیدا کړئ، بیا ئې له هغه د ده جوړه پیدا کړه، او له څارویو ئې تاسو ته اته جوړې نازلې کړې، تاسو د خپلو میندو په بطن کې، په دریو تیارو کې، یو په بل پسې پیدایښت سره پیدا کوي، همدا ستاسو پالونکی رب دئ چې ټولواکي د ده ده او له ده پرته بل معبود نشته، نو کوم لوري ته اړول کېږئ؟! 7- که کافر شئ نو یقیناً چې الله له تاسو بې نیاز دئ، او خپلو بندګانو ته دا کفر نه خوښوي، او که شکر وکړئ نو درته خوښوي ئې، او هیڅ بار وړونکی د بل بار نه وړي، بیا مو د خپل رب په لوري بېرته ګرځېدا ده نو په هغه څه به مو پوه کړي چې تاسو کول، یقیناً چې هغه د سینو په شته وو ښه پوه دئ. 8- او کله چې انسان ته کوم کړاو ورسېږي نو خپل رب ته په داسي حال کې دعاء کوي چې ده ته په پر له پسې توګه انابت کوونکی وي، بیا کله چې له خپل لوري کوم نعمت پرې ولوروي نو هغه څه هېر کړي چې تر دې وړاندې ئې د هغه په اړه دعاء کوله او الله ته سیالان جوړ کړي چې نور د الله له لاري پرې تېرباسي، ووایه: په خپل کفر سره لږ شانته برخمن شه، یقیناً چې ته د اور له خاوندانو یې. 9- آیا هغه چې د شپې له لوري په داسي حال کې سجده کوونکی او قیام کوونکی وي چې (خپل رب ته) غاړه ایښودونکی وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب د رحمت هیله لري، ووایه: آیا هغه چې پوهېږي او هغه چې نه پوهېږي سره برابر دي، یقیناً چې یوازي عقلمن وګړي پند اخلي، 10- ووایه: اې زما هغو بندګانو چې ایمان ئې راوړی! له خپل رب ووېرېږئ، هغه چې ښېګڼه ئې کړې په دنیا کې به ئې ښېګڼه په برخه شي، او د الله زمکه پراخه ده، یقیناً چې صبرناکو ته د دوی پوره پوره اجر په بې حسابه توګه ورکول کېږي.

قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ ٱلدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ
أَوَّلَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ
﴿١٣﴾ قُلِ ٱللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُۥ دِينِي ﴿١٤﴾ فَٱعْبُدُواْ مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِۦۗ
قُلْ إِنَّ ٱلْخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ أَلَا
ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٥﴾ لَهُم مِّن فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن
تَحْتِهِمْ ظُلَلٌۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِينَ
ٱجْتَنَبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ أَن يَعْبُدُوهَا وَأَنَابُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰۚ فَبَشِّرْ
عِبَادِ ﴿١٧﴾ ٱلَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمْ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٨﴾ أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ
ٱلْعَذَابِ أَفَأَنتَ تُنقِذُ مَن فِي ٱلنَّارِ ﴿١٩﴾ لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ لَهُمْ
غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُۖ وَعْدَ ٱللَّهِ لَا
يُخْلِفُ ٱللَّهُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٢٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ
يَنَٰبِيعَ فِي ٱلْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِۦ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ
مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ حُطَٰمًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِأُوْلِي ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢١﴾

11- ووایه: یقیناً چې زه ګمارل شوی یم چې الله په داسې حال کې
ولمانځم چې دیانت مې ورته سوچه کړی، 12- او پر دې ګمارل شوی
یم چې د مسلمانانو لومړی وم، 13- ووایه: یقیناً چې زه د لویې ورځې
له عذاب وېرېږم که د خپل رب سرغړاوی وکړم، 14- ووایه: الله په
داسې حال کې لمانځم چې خپل دین ورته سوچه کوونکی یم، 15- نو
تاسو هغه څه ولمانځئ چې له ده پرته مو (د هغه لمانځل) غوښتي،
ووایه: یقیناً چې زیانمنان هغه دي چې خپل ځان او خپل اهل ته ئې
د قیامت په ورځ زیان رسولی، پام چې همدا څرګند زیان دئ، 16-
دوی ته به له پاسه ئې هم د اور چترۍ وي او له لاندې ئې هم چترۍ،
دا همغه څه دي چې الله خپل بندګان پرې وېروي، نو اې زما بندګانو!
له ما ووېرېږئ. 17- او هغه چې له طاغوت ئې له دې پلوه ځان لرې
وساتو چې بندګي ئې وکړي او د الله لوري ته ئې انابت وکړ؛ دوی ته
زېری دئ، نو زما دغو بندګانو ته زېری ورکړه؛ 18- هغو ته چې وینا
ته غوږ ږدي او تر ټولو د غوره خبرې متابعت کوي، دوی هغه خلك
دي چې الله هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي. 19- نو آیا هغه
چې په اړه ئې د عذاب وینا محققه شوې نو آیا ته هغه څوك ژغورلی
شې چې په اور کې (پرېوتی) دئ. 20- خو هغه چې له خپل رب وېرېدلي؛
دوی ته داسې ماڼۍ دي چې له پاسه ئې نورې جوړې شوې ماڼۍ دي،
ترې لاندې ویالې بهېږي، د الله وعده، الله له وعدې تخلف نه کوي.
21- آیا پام دې نه دئ کړی چې الله له آسمانه هغه اوبه ورولې چې
په زمکې کې ئې د چینو په توګه ننه ایستې، بیا په همدې سره هغه
کښت راباسي چې رنګونه ئې ډول ډول دي، بیا وچ شي نو ته ئې
زېړبخن ګورې، بیا ئې مات مات کړي، یقیناً چې په دې کې حتماً عقلمنو
ته ځانګړی پند دئ.

أَفَمَن شَرَحَ ٱللَّهُ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِ فَهُوَ عَلَىٰ نُورٖ مِّن رَّبِّهِۦۚ فَوَيۡلٞ
لِّلۡقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ ٱللَّهُ
نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ
ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ
ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِنۡ هَادٍ ﴿٢٣﴾ أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجۡهِهِۦ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَقِيلَ
لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُواْ مَا كُنتُمۡ تَكۡسِبُونَ ﴿٢٤﴾ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن
قَبۡلِهِمۡ فَأَتَىٰهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ ٱللَّهُ
ٱلۡخِزۡيَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ
يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدۡ ضَرَبۡنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٖ
لَّعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا غَيۡرَ ذِي عِوَجٖ لَّعَلَّهُمۡ
يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا رَّجُلٗا فِيهِ شُرَكَآءُ مُتَشَٰكِسُونَ
وَرَجُلٗا سَلَمٗا لِّرَجُلٍ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٩﴾ إِنَّكَ مَيِّتٞ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ عِندَ رَبِّكُمۡ تَخۡتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

22- نو آيا هغه چې الله ئې د اسلام په لوري سينه ورته پرانيستې ده او
هغه د خپل رب له رڼا برخمن دئ، نو افسوس د هغو پر حال چې زړونه
ئې د الله د ذکر په اړه سخت دي، همدا دوی په څرګندې تېروتني کې دي،
23- الله هغه ذات دئ چې تر ټولو غوره وينا ئې د داسې کتاب په توګه
لېږلې چې سره ورته بيا بيا راغلې، د هغو وګړو پوستکي ورته ځېږ کېږي چې
له خپل رب وېرېږي، بيا ئې پوستکي او زړونه د الله د ذکر په لوري مايل او
نرم شي، همدا هغه الهي هدايت دئ چې الله هغه څوك پرې هدايتوي چې
دی ئې غواړي، او هغه چې الله ئې بې لارې کړي نو هيڅ لارښود ئې نشته.
24- نو آيا هغه چې د قيامت په ورځ به په خپل مخ سره له بد عذاب ځان
ساتنه کوي، په داسې حال کې چې دغو ظالمانو ته به وويل شي: د هغه څه
خوند وڅکئ چې تاسو ترلاسه کول. 25- هغو هم تکذيب کړل چې تر دوی
وړاندې ول چې له کبله ئې هغه عذاب په داسې توګه ورغی چې تصور ئې
نشو کولی، 26- نو الله د دنيا سپك عذاب وروڅکلو او د آخرت عذاب حتماً
تر هغه ستر دئ، کاش پوهېدی. 27- او يقيناً چې خلکو ته مو په دې قرآن
کې هر ډول مثال بيان کړی په دې موخه چې پند واخلي، 28- داسې عربي
قرآن چې هيڅ کوږوالی نه لري، ښايي ځان ساتنه وکړي. 29- الله د داسې
يوه سړي مثال بيان کړی چې په خپلو کې شخړه کوونکي شريکان (مالکان)
ئې وي او د داسې سړي چې په بشپړه توګه د يوه کس وي؛ آيا دا دواړه د
مثال له پلوه سره برابر دي؟! ستاينې ټولې الله ته دي، خو د دوی ډېری نه
پوهېږي. 30- يقيناً چې ته هم مرې او دوی هم مري، 31- بيا به تاسو د
قيامت په ورځ حتماً د خپل رب په وړاندې په خپلو کې شخړه کوئ.

۞ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَذَبَ عَلَى ٱللَّهِ وَكَذَّبَ بِٱلصِّدۡقِ إِذۡ جَآءَهُۥٓۚ
أَلَيۡسَ فِى جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ٣٢ وَٱلَّذِى جَآءَ بِٱلصِّدۡقِ
وَصَدَّقَ بِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ ٣٣ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ
رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٣٤ لِيُكَفِّرَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ أَسۡوَأَ
ٱلَّذِى عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ ٱلَّذِى كَانُواْ يَعۡمَلُونَ
٣٥ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبۡدَهُۥۖ وَيُخَوِّفُونَكَ بِٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ
وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٦ وَمَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ
مِن مُّضِلٍّۗ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِعَزِيزٖ ذِى ٱنتِقَامٖ ٣٧ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ
خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ
مِن دُونِ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَنِىَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ هَلۡ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ
أَوۡ أَرَادَنِى بِرَحۡمَةٍ هَلۡ هُنَّ مُمۡسِكَٰتُ رَحۡمَتِهِۦۚ قُلۡ حَسۡبِىَ ٱللَّهُۖ
عَلَيۡهِ يَتَوَكَّلُ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ٣٨ قُلۡ يَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ
إِنِّى عَٰمِلٞۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣٩ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ
عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ٤٠

32- نو تر هغه چا به لوی ظالم څوك وي چې د الله په اړه ئې درواغ
ووېل، او رښتينې وينا ئې له هغه وروسته دروغ وګڼله چې ورته راغله،
آيا د دغو كافرانو مېشت ځی به په دوزخ كې نه وي؟ 33- او هغه چې
رښتيا ئې راوړل او هغه ئې تصديق كړ همدا دوی متقيان دي، 34-
دوی ته د خپل رب په خوا كې هر هغه څه دي چې دوی ئې غواړي،
همدا د نېكانو بدله ده، 35- ترڅو الله لدوی هغه بد بد عملونه محو
كړي چې دوی كړي او د هغه غوره عمل په تناسب بدله وركړي چې
دوی كولو. 36- آيا الله خپل بنده ته كافي نه دئ؟!! په داسې حال كې
چې دوی دې له ده پرته په نورو سره وېروي، او الله چې څوك بې
لارې كړي نو هيڅ لارښود ئې نشته، 37- او الله چې څوك هدايت كړي
نو هيڅ بې لارې كوونكی ئې نشته، آيا الله عزتمن غچ اخيستونكی نه
دئ؟ 38- او كه ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمكه چا پيدا كړي؟ حتماً
به ووايي: الله، ووايه: آيا پام مو نه دئ كړی چې كه الله د كوم تاوان
اراده راته وكړي هغه چې تاسو ئې (مرستې ته) دربلئ آيا دوی ئې د
تاوان رفع كوونكې دي؟ او كه د كومې پېرزوينې اراده راته وكړي آيا
دوی ئې د پېرزوينې ټموونكې دي؟ ووايه: الله راته كافي دئ، توكل
كوونكې پر ده توكل كوي. 39- ووايه: اې زما قومه! پر خپل خپل ځای
(او كړنلارې) عمل وكړئ؛ زه هم عمل كوونكی يم، نو ژر به پوه شئ؛
40- چې چا ته به داسې عذاب ورسېږي چې سپك به ئې كړي او تلپاته
عذاب به پرې راپرېوځي،

إِنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ لِلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّۖ فَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ
فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم
بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي
مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ
إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ أَمِ
ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَۚ قُلۡ أَوَلَوۡ كَانُواْ لَا يَمۡلِكُونَ شَيۡـٔٗا
وَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤٣﴾ قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ لَّهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٤٤﴾ وَإِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُ ٱشۡمَأَزَّتۡ
قُلُوبُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِۖ وَإِذَا ذُكِرَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦٓ
إِذَا هُمۡ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٤٥﴾ قُلِ ٱللَّهُمَّ فَاطِرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
عَٰلِمَ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ أَنتَ تَحۡكُمُ بَيۡنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُواْ
فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوۡ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا
وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلۡعَذَابِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ وَبَدَا
لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمۡ يَكُونُواْ يَحۡتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾

41- يقيناً چي موږ په رښتينې توگه دا کتاب د خلکو لپاره پر تا نازل کړی، نو څوك چي په سمي لاري روان شي نو د ځان لپاره ئې ده، او څوك چي بې لاري شي نو د ځان په ضرر بې لاري کېږي، او ته پرې ذمه وال نه يې. 42- الله له ساه لرونکو د مرگ په وخت کي ساه اخلي او له هغو چي مړه شوي نه وي د خوب په وخت کي، نو د چا چي د مرگ پرېکړه شوې وي ساه ئې له ځان سره ساتي او بله تر ټاکلې نېټې بېرته لېږي، بې شکه چي پدې کي فکر کونکو ته ډېري نښي دي. 43- آيا له الله پرته ئې شفاعت کوونکي غوره کړي؟ ووايه: که څه هم نه کوم شی په واك کي لري او نه تعقل کولی شي؟ 44- ووايه: سپارښتنه په بشپړه توگه د الله (په واك کي) ده، د آسمانونو او زمکي واکمني د ده ده، بيا د ده لوري ته ستنول کېږئ. 45- او کله چي الله په يوازې توگه ياد کړی شي نو د هغو زړونه کرکه ښيي چي پر آخرت ايمان نه لري، او کله چي هغه ياد شي چي له ده پرته دي نو ناڅاپه به هغوی خوښي کوي. 46- ووايه: اې د آسمانونو او زمکي پنځوونکيه! پر پټو او ښکاره وو پوه ذاته! دا ته ئې چي د خپلو بندگانو تر منځ په هغه څه کي پرېکړه کوې چي دوی په کي اختلاف کولو، 47- او که دغو ظالمانو ته ټول هغه څه وي چي په زمکي کي دي او ورسره دې ته ورته نور هم نو حتماً به ئې د قيامت په ورځ د بد عذاب په بدل کي فديه کړي، او د الله له لوري به هغه څه ورته جوت شي چي گمان ئې نه کولو،

وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ
٤٨ فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ
إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمِۭۚ بَلۡ هِيَ فِتۡنَةٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ٤٩ قَدۡ قَالَهَا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ
يَكۡسِبُونَ ٥٠ فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْۚ وَٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡ
هَٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيبُهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُواْ وَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ٥١ أَوَ
لَمۡ يَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ٥٢ ۞قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ
أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ
إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥٣ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن
قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ٥٤ وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ
مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ
بَغۡتَةٗ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٥٥ أَن تَقُولَ نَفۡسٞ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا
فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ٥٦

48- او د خپلو لاسته راوړنو بدوالی به ورته جوت شي او هغه څه به پرې محقق شي چې ملنډې ئې پرې وهلې. 49- نو کله چې انسان ته کوم کړاو ورسېږي موږ بلي (دعاء راته کوي)، بیا کله چې له خپل لوري کوم نعمت ورپه برخه کړو وايي: دا خو يوازې د علم له مخې راکړی شوی، نه؛ بلکې دا خو یوه آزموینه ده خو د دوی ډېری نه پوهېږي، 50- یقیناً هغو هم دا خبره وکړه چې تر دوی وړاندې ول، نو هغو چې دوی ترلاسه کول کوم څه ترې دفع نه کړی شو، 51- نو د هغه څه بدوالی ورورسېدو چې دوی ترلاسه کړي ول، او له دغو چې چا ظلم کړی حتماً به د هغه څه بدوالی ورورسېږي چې ترلاسه کړي ئې دي او دوی عاجزوونکي نه دي، 52- آیا په دې نه دي پوه شوي چې الله هر چا ته چې دی ئې وغواړي رزق پراخوي او تنګوي، یقیناً چې په دې کې هغو وګړو ته ډېري نښې دي چې ایمان لري. 53- ووایه: اې زما هغو بندګانو چې پر خپلو ځانونو ئې تېری کړی! د الله له رحمت مه ناهیلي کېږئ، یقیناً چې الله ټول ګناهونه بخښي، یقیناً چې هغه مهربان بخښونکی دئ، 54- او د خپل رب لوري ته ستانه شئ او د ده په وړاندې تر هغه د مخه تسلیم شئ چې عذاب درته راشي بیا مو کومه مرسته ونه کړی شي، 55- او د هغه ډېر غوره څه متابعت وکړئ چې ستاسو د رب له لوري درته نازل شوي، تر دې وړاندې چې عذاب په داسې حال کې په ناڅاپي توګه درته راشي چې په خیال کې مو نه ګرځي، 56- داسې چې یو کس به وايي: زما پر حال دې له دې کبله افسوس وي چې د الله په خوا کې مې تېری وکړ او یقیناً چې زه د ملنډو وهونکو له ډلې وم،

أَوۡ تَقُولَ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ أَوۡ تَقُولَ
حِينَ تَرَى ٱلۡعَذَابَ لَوۡ أَنَّ لِي كَرَّةٗ فَأَكُونَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٨﴾
بَلَىٰ قَدۡ جَآءَتۡكَ ءَايَٰتِي فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَٱسۡتَكۡبَرۡتَ وَكُنتَ مِنَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٥٩﴾ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ
وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٦٠﴾ وَيُنَجِّي
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ بِمَفَازَتِهِمۡ لَا يَمَسُّهُمُ ٱلسُّوٓءُ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ
﴿٦١﴾ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿٦٢﴾ لَّهُۥ مَقَالِيدُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٣﴾ قُلۡ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَأۡمُرُوٓنِّيٓ أَعۡبُدُ أَيُّهَا ٱلۡجَٰهِلُونَ
﴿٦٤﴾ وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ
لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ
وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٦٦﴾ وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ
جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ
سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٦٧﴾

57- یا دا چي ووایي: که الله هدایت کړی وی نو حتماً به د متقینو له
ډلي وم، 58- یا دا چي کله عذاب وګوري نو ووایي: کاش بېرته ګرځېدا
مي په برخه شي چي د نېکانو له ډلي شم، 59- داسي نه ده؛ بلکي زما
آیتونه په یقیني توګه درغلي ول خو تا هغوی درواغ وګڼل، لویي دي
وغوښتله او د کافرانو له ډلي وې. 60- او د قیامت په ورځ به هغه
خلك چي د الله په اړه ئې دروغ ویلي وو وګورې چي مخونه به ئې تك
تور وي، آیا د دغو کبرجنو (مناسب) مېشت ځای دوزخ نه دئ؟ 61-
او الله به هغه چي تقوی ئې کړې د خپلو بریاوو له امله وژغوري،
داسي چي نه به په کوم کړاو اخته کېږي او نه به غمجن کېږي. 62-
الله د هر څه خالق دئ، او هغه پر هر څه وکیل (څارونکی) دئ، 63-
د آسمانونو او زمکي کلیاني د ده دي، او هغه چي د الله د آیتونو په اړه
ئې کفر کړی همدا دوی زیانمن دي. 64- ووایه: اې ناپوهانو! نو آیا پر
دې مي ګمارئ چي غیرالله ولمانځم، 65- او یقیناً چي تا ته هم او هغو
ته هم چي تر تا وړاندي ول وحي شوې چي که شرك وکړې نو عمل به
دي تباه شي او حتماً به د زیانمنو له ډلي شې، 66- نه؛ بلکي الله لمانځه
او د شاکرانو له ډلي اوسه. 67- او د الله په اړه ئې د ده له قدر سره
وړ قدرونه ونه کړه، په داسي حال کي چي د قیامت په ورځ به ټوله
زمکه د ده په موټ کي وي او آسمانونه به د ده په ښي لاس کي راتاو
کړی شوي وي، ده ته سپېڅلتیا ده او له هغه څه لوړتیا چي دوی ئې
(ورسره) شریکوي.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا
مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾
وَأَشۡرَقَتِ ٱلۡأَرۡضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ وَجِاْيٓءَ بِٱلنَّبِيِّـۧنَ
وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتۡ
كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَا يَفۡعَلُونَ ﴿٧٠﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا وَقَالَ
لَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَتۡلُونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ
رَبِّكُمۡ وَيُنذِرُونَكُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَاۚ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنۡ
حَقَّتۡ كَلِمَةُ ٱلۡعَذَابِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧١﴾ قِيلَ ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ
جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٢﴾ وَسِيقَ ٱلَّذِينَ
ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ زُمَرًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتۡ أَبۡوَٰبُهَا
وَقَالَ لَهُمۡ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ طِبۡتُمۡ فَٱدۡخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴿٧٣﴾
وَقَالُواْ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي صَدَقَنَا وَعۡدَهُۥ وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ
مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُۖ فَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٧٤﴾

68- او په شپېلۍ کې به پو شي نو څوك چې په آسمانونو کې دي او څوك
چې په زمکې کې دي (ټول به) بې سده شي، مگر هغه چې الله غوښتي،
بیا به بل ځل په کې پو شي نو ناڅاپه به دوی په داسي حال کې ودرېدلي
وي چې انتظار به کوي، 69- او زمکه به د خپل رب په نور سره ځلانده
شي، کتاب به کېښودی شي، پیغمبران او شاهدان به راوستی شي او د
دوی تر منځ به په حق سره پرېکړه وشي؛ په داسي حال کې چې پر دوی
به ظلم نه کېږي. 70- او هر چا ته به د هغو عملونو بشپړه بدله ورکړی
شي چې کړي ئې دي په داسي حال کې چې دی په هغه څه ښه پوه دئ
چې دوی ئې کوي، 71- او هغه وګړي به د دوزخ په لوري ډلي ډلي
وخوځول شي چې کفر ئې کړی، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته
پرانیستل شي او څارونکي ئې ورته ووايي: آيا تاسو ته ستاسو له ډلي داسي
پیغمبران نه وو درغلي چې ستاسو د رب آیتونه ئې درته لوستل او د خپلې
دغې ورځې له مخامخېدو ئې وېرولئ، وبه وايي: ولې نه؛ خو د کافرانو
په اړه د عذاب وينا ترسره شوه، 72- وبه ویل شي: د دوزخ پر دروازو
ننوځئ په هغه کې تلپاته، نو د دغو کبرجنو مېشت ځای څومره بد دئ!!
73- او هغه وګړي به د جنت په لوري ډله ډله وخوځول شي چې له خپل
رب وېرېدلي، تر هغه چې ورشي او دروازې ئې ورته پرانیستل شي او
څارونکي ئې ورته ووايي: سلام پر تاسو، ښېراز دي وئ، نو د تلپاتو په
شان ورننوځئ، 74- او وبه وايي: ستاینې ټولې هغه الله ته دي چې خپله
وعده ئې راسره رښتینې کړه او دا زمکه ئې په داسي حال کې موږ ته په
میراث راکړه چې د جنت په هر ځای کې غواړو اوسو، نو د دغو عمل
کوونکو اجر څومره غوره دئ!!

وَتَرَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ حَآفِّينَ مِنۡ حَوۡلِ ٱلۡعَرۡشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡۚ
وَقُضِيَ بَيۡنَهُم بِٱلۡحَقِّۚ وَقِيلَ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧٥

## سُورَةُ غَافِرٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٢ غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ
وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ
ٱلۡمَصِيرُ ٣ مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا
يَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٤ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ
مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ
لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٥ وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ
كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ٦ ٱلَّذِينَ
يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ
وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا
فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧

75- او فرشتې به ګورې چې د عرش چاپېر راځرخي په داسي حال کې
چې د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایي، او د دوی تر منځ به په
حق سره پرېکړه وشي او وبه ویل شي: ستاینې د عالمونو رب الله ته
دي.

## المؤمن- مکي سوره- 85 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء میم، 2- د دې کتاب رالېږنه د پوه عزتمن الله له لوري ده، 3- د ګناه بخښونکی او د توبې قبلوونکی، کلك تعذیبوونکی، د فضل خاوند، له ده پرته بل معبود نشته، بېرته ستنېدا د ده لوري ته ده. 4- د الله د آیتونو په اړه یوازې هغه وګړي مجادله کوي چې کفر ئې کړی، نو په ښارونو کې د دوی اوښتل راواوښتل دې تا دوکه نه کړي، 5- تر دوی وړاندې د نوح قوم او تر دوی وروسته ډلو دروغ ګڼلي، او هرې ډلې هوډ کړی چې خپل پیغمبر ونیسي او د باطل په مټ ئې په دې موخه مجادله کړې چې حق پرې محو کړي، چې له کبله ئې موږ ونیول، نو (وګوره چې) زما تعذیب څنګه وو، 6- او همداسې ستا د رب وینا د هغو په اړه محققه شوې چې کفر ئې کړی (په دې توګه) چې دوی حتماً د اور خاوندان دي. 7- هغه چې عرش پر اوږو وړي او هغه چې شاوخوا ئې دي د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایي، پر ده ایمان لري او هغو ته بخښنه غواړي چې ایمان ئې راوړی؛ (وایي) اې زموږ ربه! د رحمت او علم له پلوه هر څه ته په پراخه پیمانه رسېدلی یې، نو هغو ته بخښنه وکړه چې توبه ئې کړې او ستا د لارې متابعت ئې کړی او د دوزخ له عذاب ئې وساته،

رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ
ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٨
وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ
هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ ٱللَّهِ
أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ أَنفُسَكُمۡ إِذۡ تُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلۡإِيمَٰنِ
فَتَكۡفُرُونَ ١٠ قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا ٱثۡنَتَيۡنِ
فَٱعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلۡ إِلَىٰ خُرُوجٖ مِّن سَبِيلٖ ١١ ذَٰلِكُم
بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن يُشۡرَكۡ بِهِۦ تُؤۡمِنُواْۚ
فَٱلۡحُكۡمُ لِلَّهِ ٱلۡعَلِيِّ ٱلۡكَبِيرِ ١٢ هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ
وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقٗاۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ١٣
فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١٤ رَفِيعُ
ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ
مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ١٥ يَوۡمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ
عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ١٦

8- اې زموږ ربه! هغه تلپاته جنت ته ئې ننباسه چې تا ئې ژمنه ورسره کړې او د دوی له پلرونو، د دوی له مېرمنو او د دوی له اولاد هغه هم چې صالح وي، يقيناً چې ته باحکمت عزتمن يې، 9- له بديو ئې وساته، څوك چې ته په دې ورځ له بديو وساتې نو پېرزوينه دې پرې کړې، او دا همغه ستره بريا ده. 10- يقيناً چې هغو ته به ورغږ شي چې کفر ئې کړی: ستاسو تر هغه قهر چې د ځان په اړه (يو پر بل) ئې لرئ د الله د هغه مهال قهر ډېر ستر وو چې ايمان ته بلل کېدئ او تاسو کفر کولو، 11- وايي به: اې زموږ ربه! دوه ځلي دې مړه کړو او دوه ځلي دې ژوندي کړو نو پر خپلو گناهونو مو اعتراف وکړ، نو آيا د وتلو لوري ته کومه لار شته، 12- دا مو د دې لپاره ده چې کله به الله په يوازي توگه وبلل شو نو تاسو به انکار کولو او که به د هغه په اړه شرك کېدو نو تاسو به باور کولو، نو پرېکړه د ستر لوړ الله په واك کې ده. 13- دی همغه ذات دئ چې تاسو ته خپل آيتونه درښيي او له آسمانه رزق درته رالېږي، او پند نه اخلي مگر هغه چې انابت کوي، 14- نو الله په داسي حال کې دروبلئ چې (خپل) دين ورته سوچه کوونکي وئ، که څه هم کافران کرکه کوي، 15- د لوړو درجو خاوند، د عرش څښتن، له خپلو بندگانو چې چا ته غواړي پر هغه د خپل حکم له مخي وحي لېږي چې د مخامخېدو له ورځي (خلك) انذار کړي، 16- هغه ورځ چې دوی به راڅرگندېدونکي وي، د دوی هيڅ څه به له الله پټ نه پاته کېږي، دغه ورځ به ټولواکي د چا وي؟ د يوازيني برلاسي الله.

ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٧﴾ وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡأٓزِفَةِ إِذِ ٱلۡقُلُوبُ لَدَى
ٱلۡحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَۚ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ
﴿١٨﴾ يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ يَقۡضِي
بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ ٱللَّهَ
هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿٢٠﴾ ۞أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُواْ هُمۡ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ
قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡ وَمَا كَانَ لَهُم
مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم
بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ
﴿٢٢﴾ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ
وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ
مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ ٱقۡتُلُوٓاْ أَبۡنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسۡتَحۡيُواْ
نِسَآءَهُمۡۚ وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿٢٥﴾

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن
يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ٢٦ وَقَالَ مُوسَىٰٓ
إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ بِيَوۡمِ
ٱلۡحِسَابِ ٢٧ وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ
أَتَقۡتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدۡ جَآءَكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ مِن
رَّبِّكُمۡۖ وَإِن يَكُ كَٰذِبٗا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهُۥۖ وَإِن يَكُ صَادِقٗا
يُصِبۡكُم بَعۡضُ ٱلَّذِي يَعِدُكُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ
مُسۡرِفٞ كَذَّابٞ ٢٨ يَٰقَوۡمِ لَكُمُ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ ظَٰهِرِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ
فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأۡسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَاۚ قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ
إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ٢٩ وَقَالَ ٱلَّذِيٓ
ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُم مِّثۡلَ يَوۡمِ ٱلۡأَحۡزَابِ ٣٠ مِثۡلَ
دَأۡبِ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ
ظُلۡمٗا لِّلۡعِبَادِ ٣١ وَيَٰقَوۡمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ يَوۡمَ ٱلتَّنَادِ ٣٢ يَوۡمَ
تُوَلُّونَ مُدۡبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنۡ عَاصِمٖۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ
فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٖ ٣٣

26- او فرعون وویل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او هغه دې خپل رب (مرستې ته) وروبلي، زه وېرېږم چې ستاسو دین به بدل کړي او یا به په زمکې کې فساد خور کړي! 27- او موسی وویل: زه خپل رب او ستاسو رب ته له هر هغه کبرجن پناه وړم چې د حساب په ورځې ایمان نه لري. 28- او د فرعونیانو یوه مؤمن سړي چې خپل ایمان ئې پټولو وویل: آیا یو سړی له دې کبله وژنئ چې وایي: زما رب الله دئ؛ په داسې حال کې چې په یقیني توګه ئې ستاسو د رب له لوري ښکاره نښې درته راوړې، که هغه دروغجن وي د درواغو پایله به ئې پر غاړه وي او که رښتینی وي نو له هغه څه به کومه برخه درورسېږي چې وعده ئې درکوي، یقیناً چې الله هغه څوك نه هدایتوي چې دروغجن تېری کوونکی وي، 29- اې زما قومه! نن خو واکمني په داسې حال کې ستاسو په برخه ده چې په دې زمکې کې غالب یئ نو که د الله عذاب راورسېږي څوك به مو د هغه په وړاندې مرسته کوي؟! فرعون وویل: له هغه څه پرته بل څه نه درښیم چې زه ئې (غوره) وینم او د کمال له لارې پرته بل څه ته ستاسو لارښوونه نه کوم، 30- او هغه چې ایمان ئې راوړی وو وویل: اې زما قومه! زه پر تاسو د دغو ډلو د (بدې) ورځې په څېر (ورځې راتلو) وېرېږم، 31- د نوح د قوم او د عاد، ثمود او هغو حالت ته ورته چې تر دوی وروسته ول، په داسې حال کې چې الله پر خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري، 32- او اې زما قومه! زه پر تاسو یو بل ته د چیغو وهلو له ورځې وېرېږم، 33- له هغې ورځې چې د شا ته کېدونکو په توګه به مخ اړوئ، په داسې حال کې چې د الله له لوري به کوم ساتونکی نه لرئ، او الله چې څوك بې لارې کړي هیڅ لارښود به ئې په برخه نشي،

وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ يُوسُفُ مِن قَبۡلُ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلۡتُمۡ فِي
شَكّٖ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلۡتُمۡ لَن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ
مِنۢ بَعۡدِهِۦ رَسُولٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ مُّرۡتَابٌ
٣٤ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡۖ كَبُرَ
مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ كَذَٰلِكَ يَطۡبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ قَلۡبِ مُتَكَبِّرٖ جَبَّارٖ ٣٥ وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبۡنِ لِي
صَرۡحٗا لَّعَلِّيٓ أَبۡلُغُ ٱلۡأَسۡبَٰبَ ٣٦ أَسۡبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ
إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبٗاۚ وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ
عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِۚ وَمَا كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ إِلَّا فِي تَبَابٖ ٣٧
وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُونِ أَهۡدِكُمۡ سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ٣٨
يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ
ٱلۡقَرَارِ ٣٩ مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ
صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ
ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٤٠

34- او یقیناً چې تر دې وړاندې یوسف څرګندې نښې درته راوړې
نو تاسو تل د هغه څه په اړه په شك کې وئ چې هغه درته راوړل؛
تر هغه چې وفات شو نو تاسو وویل: الله به تر ده وروسته هیڅکه
کوم پیغمبر ونه لېږي، الله همداسې هر شکمن تېرى کوونکى بې
لارې کوي، 35- هغه چې د الله د آیتونو په اړه له داسې کوم دلیل
پرته مجادله کوي چې ورته راغلی وي، د الله او د هغو په وړاندې
ستر (جرم) چې ایمان ئې راوړى، همداسې الله د هر کبرجن جابر
پر زړه مهر لګوي. 36- او فرعون وویل: اې هامانه! ما ته یوه
دنګه ماڼۍ جوړه کړه؛ هیله ده دغو لارو ته ورسېږم، 37- د
آسمانونو لارو ته چې په دې توګه د موسى معبود ته وګورم په
داسې حال کې چې زه ئې یقیناً دروغجن انګېرم، او فرعون ته د ده
بد عمل همداسې ښایسته کړى شو او له سمې لارې واړول شو، او
د فرعون تدبیر له تباهۍ پرته په بل څه کې نه وو. 38- او هغه
چې ایمان ئې راوړى وو وویل: اې زما قومه! زما متابعت وکړئ
چې د رشد او کمال لار دروښیم، 39- اې زما قومه! یقیناً چې دا
دنیایي ژوند فقط یوه متاع ده او یقیناً چې د تمېدو کور خو همغه
آخرت دئ، 40- چا چې بدغونى عمل وکړ نو یوازې هغه ته ورته
سزا به ورکول کېږي او له نارینه او ښځینه وو چې چا نېك عمل
وکړ په داسې حال کې چې مؤمن وي نو همدا دوى به جنت ته
ننوځي چې هلته به له حساب پرته روزي ورکول کېږي.

۞وَيَٰقَوۡمِ مَا لِيٓ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدۡعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٤١﴾
تَدۡعُونَنِي لِأَكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشۡرِكَ بِهِۦ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞ
وَأَنَا۠ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡغَفَّٰرِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدۡعُونَنِيٓ
إِلَيۡهِ لَيۡسَ لَهُۥ دَعۡوَةٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَلَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى
ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ
أَقُولُ لَكُمۡۚ وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ
﴿٤٤﴾ فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ
ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٥﴾ ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ
ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَإِذۡ
يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا
كُنَّا لَكُمۡ تَبَعٗا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا نَصِيبٗا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴿٤٧﴾
قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُلّٞ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ حَكَمَ بَيۡنَ
ٱلۡعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ
يُخَفِّفۡ عَنَّا يَوۡمٗا مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٩﴾

41- او اې زما قومه! څه راسره کېږي چې زه مو د نجات لوري ته بلم
او تاسو مې د اور لوري ته بلئ، 42- دې ته مې بلئ چې د الله په اړه
کفر وکړم او هغه څه ورسره شريك کړم چې په اړه ئې هيڅ علم نه
لرم او زه مو د بخښونکي عزتمن لوري ته بلم، 43- حقيقت له دې پرته
بل څه نه دئ چې د کوم څه لوري ته ما بلئ نه په دنيا کې کومه بلنه
ورته شته او نه په آخرت کې، او دا چې ستنېدا مو د الله لوري ته ده او
دا چې مسرفين د اور خاوندان دي، 44- نو حتماً به هغه څه درپه ياد
کړئ چې زه ئې درته وايم، او خپل کار الله ته حواله کوم، يقيناً چې
الله د خپلو بندګانو ښه ليدونکی دئ. 45- نو الله له هغو بدو تدبيرونو
وساتو چې دوی وکړل او بد عذاب په خپله د فرعونيانو په برخه شو،
46- هغه اور چې سبا او بېګا ورو وړاندي کېږي او هغه ورځ چې قيامت
راشي (وبه ويل شي:) فرعونيان ډېر شديد عذاب ته ننباسئ. 47- او
هغه مهال چې په اور کې به په خپلمنځی شخړې بوخت وي، نو
مستضعفين به هغو ته چې لويي ئې غوښته ووايي: موږ خو ستاسو
متابعين وو نو آيا تاسو له موږ د اور د کومي برخي دفع کوونکي يئ،
48- هغه به وايي چې لويي ئې غوښته: موږ خو ټول په همدې (اور)
کې يو، يقيناً چې الله د خپلو بندګانو تر منځ پرېکړه کړې ده، 49- او
هغه چې په اور کې دي د دوزخ ساتونکو ته به ووايي: خپل رب ته
دعاء وکړئ چې يوه ورځ د دې عذاب کومه برخه له موږ سپکه کړي،

قَالُوٓاْ أَوَ لَمۡ تَكُ تَأۡتِيكُمۡ رُسُلُكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ قَالُواْ بَلَىٰۚ قَالُواْ
فَٱدۡعُواْۗ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ٥٠ إِنَّا لَنَنصُرُ
رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ
٥١ يَوۡمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعۡذِرَتُهُمۡۖ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ
ٱلدَّارِ ٥٢ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡهُدَىٰ وَأَوۡرَثۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
ٱلۡكِتَٰبَ ٥٣ هُدٗى وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٥٤ فَٱصۡبِرۡ إِنَّ
وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ بِٱلۡعَشِيِّ
وَٱلۡإِبۡكَٰرِ ٥٥ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ
سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡ إِن فِي صُدُورِهِمۡ إِلَّا كِبۡرٞ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِۚ
فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ٥٦ لَخَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ أَكۡبَرُ مِنۡ خَلۡقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَعۡلَمُونَ ٥٧ وَمَا يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلۡمُسِيٓءُۚ قَلِيلٗا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ٥٨

50- وبه وايي: آيا داسي نه وه چي تاسو ته ستاسو پيغمبرانو څرګندي نښي دروړلې، وبه وايي: ولې نه؛ وبه وايي: نو (په خپله دعاء وکړئ، په داسي حال کي چي د کافرانو بلنه له ضلالت پرته په بل څه کي نه وي. 51- يقيناً چي موږ د خپلو پيغمبرانو او هغو چي ايمان ئې راوړی په دنيايي ژوند کي هم او په هغي ورځي هم مرسته کوو چي ګواهان به ودريږي، 52- هغه ورځ چي ظالمانو ته به د دوی عذرونه ګټه نه رسوي او دوی ته به لعنت ورپه برخه وي او بد استوګنځی به ئې وي. 53- او يقيناً چي موسی ته مو لارښوونه ورپه برخه کړه او بني اسرائيلو ته مو هغه کتاب په ميراث پرېښود، 54- د عقلمنو لپاره لارښوونه او پند. 55- نو صبر کوه چي يقيناً د الله وعده رښتينې ده، او د خپلي ګناه لپاره بخښنه غواړه او سبا او ماښام د خپل رب د ستايني تسبيح وايه. 56- يقيناً هغه چي د الله د آيتونو په اړه مجادله کوي پرته له دې چي کوم دليل ورکړی شوی وي؛ په سينو کي ئې داسي کبر دئ چي هيڅکله وررسېدلی نشي، نو په الله سره پناه غواړه، يقيناً چي هغه ليدونکی اورېدونکی دئ، 57- د آسمانونو پيدايښت حتماً د خلکو تر پيدايښت ډېر ستر (کار) دئ؛ خو اکثر خلك نه پوهېږي. 58- او نه ړوند او سترګور سره برابر دي، او نه هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او نه بدکار، لږ شانته پند اخلئ،

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأَاتِيَةٌ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يُؤۡمِنُونَ ٥٩ وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ
يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ٦٠
ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ لِتَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ
إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَشۡكُرُونَ ٦١ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ لَّآ إِلَٰهَ
إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٦٢ كَذَٰلِكَ يُؤۡفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِ
ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ٦٣ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا
وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡ وَرَزَقَكُم مِّنَ
ٱلطَّيِّبَٰتِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ
٦٤ هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ
لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٥ ۞قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ
تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ ٱلۡبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرۡتُ
أَنۡ أُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٦

59- یقیناً چې (د قیامت هغه) نېټه حتماً راتلونکې ده، هیڅ شك په کې نشته؛ خو ډېری خلك ایمان نه راوړي. 60- او ستاسو رب وویل: ما ته دعاء وکړئ چې درته وئې منم، یقیناً هغه کسان چې زما له عبادت لويي (او سرغړاوی) کوي ډېر ژر به جهنم ته ذلیل او سپك داخل شي. 61- الله هغه ذات دئ چې شپه ئې ستاسو لپاره داسي گرځولې چې په هغې کې هوسا شئ او ورځ ئې د لیدو وسیله، بې شکه چې الله پر خلکو د پېرزویني خاوند دئ خو د خلکو ډېری شکر نه کوي، 62- همدا ستاسو رب دئ، د هر څه خالق، له ده پرته بل معبود نشته، نو څنگه دوکه کېږئ؟ 63- همداسې هغه دوکه کړی شوي وو چې د الله له آیتونو ئې انکار کولو. 64- الله هغه ذات دئ چې زمکه ئې تاسو ته تم ځای وگرځوله او آسمان ئې چت، او تاسو ته ئې صورت درکړ، بیا ئې ستاسو صورت غوره او ښایسته کړ او له پاکیزه وو ئې تاسو ته روزي درکړه، همدا ستاسو پالونکی رب دئ، نو با برکته دئ د عالمونو رب الله. 65- دی همغه ژوندی ذات دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، نو په داسي حال کې ئې دربله چې (خپل) دیانت ورته سوچه کوونکی یې، ستاینې ټولی د عالمونو پالونکي الله ته دي، 66- ووایه: له کله چې زما د رب له لوري څرگند آیتونه راته راغلي زه له دې منع کړی شوی یم چې هغه ولمانځم چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، او پر دې گمارل شوی یم چې د عالمونو پالونکي ته منقاد اوسم.

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ
يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخًاۚ
وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبْلُۖ وَلِتَبْلُغُوٓاْ أَجَلًا مُّسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ
تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ
لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ
أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلْكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهِۦ رُسُلَنَاۖ
فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ
يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِى ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ
أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل لَّمْ
نَكُن نَّدْعُواْ مِن قَبْلُ شَيْـًٔاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾
ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ تَفْرَحُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ
تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ٱدْخُلُوٓاْ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئْسَ مَثْوَى
ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ
ٱلَّذِى نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٧٧﴾

67- دی هغه ذات دئ چي تاسو ئې له خاوري پيدا کړئ، بيا ئې له نطفې، بيا ئې له علقې، بيا تاسو د ماشوم په توګه راباسي، بيا (ستاسو روزنه کوي) تر هغه چي خپل پياوړتيا او قوت ته ورسئ، بيا تر هغه چي زاړه شئ، له تاسو ځيني تر دې وړاندي وفات کړی شي، او تر څو ټاکلي اجل ته ورسئ او ښايي تعقل وکړئ. 68- دی همغه ذات دئ چي ژوند ورکوي او مړول کوي (وژني)، او کله چي د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو کېږي. 69- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي د الله د آيتونو په اړه مجادله کوي؛ کوم لوري ته اړول کېږي؟!! 70- هغه چي دا کتاب او هغه څه ئې تکذيب کړل چي خپل پيغمبران مو ورسره لېږلي، ژر به پوه شي، 71- هغه مهال چي زولنې او زنځيرونه به ئې په غاړو کې وي، راکښل کېږي به، 72- په تودو اوبو کې، بيا به په اور کې سوزول کېږي، 73- بيا به ورته وويل شي: هغه چېري دي چي تاسو له الله پرته پرې شرك کولو، 74- وبه وايي: رانه ورك شوي، بلکي موږ تر دې وړاندي کوم څه نه دئ لمانځلی، الله کافران همداسي بې لاري کوي، 75- دا مو له دې کبله چي تاسو په زمکي کې په ناحقه خوښ خوښ کېدئ او له دې کبله چي فخر او کبر مو کولو، 76- د دوزخ دروازو ته ننوځئ په هغه کې تلپاته، نو د کبرجنو مېشت ځی څومره بد دئ. 77- نو صبر کوه چي د الله وعده رښتينې ده، يا به د هغه څه کومه برخه دروښيو چي لدوی سره ئې ژمنه کوو، يا به تا وفات کړو نو زما په لوري به بېرته ستنول کېږي،

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ
وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ
إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ
ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٧٨﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمَ لِتَرۡكَبُواْ مِنۡهَا
وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَلِتَبۡلُغُواْ عَلَيۡهَا
حَاجَةٗ فِي صُدُورِكُمۡ وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ﴿٨٠﴾
وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَأَيَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ
فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَانُوٓاْ
أَكۡثَرَ مِنۡهُمۡ وَأَشَدَّ قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا
كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرِحُواْ
بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٨٣﴾
فَلَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥ وَكَفَرۡنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ
مُشۡرِكِينَ ﴿٨٤﴾ فَلَمۡ يَكُ يَنفَعُهُمۡ إِيمَٰنُهُمۡ لَمَّا رَأَوۡاْ بَأۡسَنَاۖ سُنَّتَ
ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ فِي عِبَادِهِۦۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

78- او یقیناً چي تر تا وړاندي مو داسي پیغمبران ولیږل چي د ځینو قصې مو دراورولې او د ځینو قصې مو نه دي دراورولې، او هیڅ پیغمبر ته نه ښایي چي د الله له اذن پرته کومه څرګنده نښه (معجزه) راوړي، نو کله چي د الله امر راشي د حق مطابق پرېکړه به وشي او هغه مهال به باطلپال زیانمن شي. 79- الله هغه ذات دئ چي څاروي ئې تاسو ته داسي جوړ کړي چي پر ځینو ئې سپاره شئ او ځیني ئې وخورئ، 80- او په دوی کې تاسو ته ځیني ګټې دي او چي په دوی سره د خپلو زړونو کوم حاجت ته ورسېږئ، او تاسو پر دغو څارویو او پر کښتیو سپاره (حمل) کېږئ. 81- او تاسو ته خپل آیتونه درښیي، نو له کومو الهي آیتونو انکار کوئ؟! 82- نو آیا په زمکي کې نه دي ګرځېدلي چي لیدلي ئې وی؛ د هغو پایله څنګه وه چي تر دوی وړاندي ول، تر دوی زیات ول، او د ځواك او په زمکي کې د آثارو له پلوه ډېر پیاوړي، نو هغه څه لدوی دفع کول ونه کړی شو چي دوی ترلاسه کول. 83- او کله چي د دوی پیغمبرانو څرګندي نښي وروړې په خپلي هغي پوهي ئې خوښي وکړه چي ورسره وه او هغه څه د دوی په اړه ترسره شول چي دوی ملنډې پرې وهلې، 84- نو کله چي دوی زموږ عذاب ولید وئې ویل: پر یوازیني الله مو ایمان راوړ او له هغه څه انکار کوو چي په اړه ئې مشرکان شوي وو، 85- نو کله چي زموږ عذاب وګوري داسي به نه وي چي ایمان به ئې ګټه ورورسوي، دا هغه الهي سنت دئ چي په بندګانو کې ئې تېر شوی او هغه مهال به کافران زیان وکړي.

# سُورَةُ فُصِّلَتْ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٢ كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا
عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا
يَسۡمَعُونَ ٤ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا
وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ٥ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠
بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ
وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ٦ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم
بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ
أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٨ ۞قُلۡ أَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ
فِي يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٩ وَجَعَلَ فِيهَا
رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ
لِّلسَّآئِلِينَ ١٠ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ
ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ١١

# فصلت- مکي سوره- 54 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء میم، 2- د ډېر زیات مهربان له لوري یوه لېږنه، 3- داسي کتاب چي آیتونه ئې سپړل شوي، په عربي لوستل کېدونکی؛ د هغو وګړو لپاره چي پوهېږي، 4- زېری ورکوونکی او ګواښونکی، نو اکثرو (ډېریو) ئې داسي ډډه وکړه چي نه اوري. 5- او وئې ویل: زموږ زړونه د هغه څه په وړاندي په پردو کي دي چي ته مو وربلې او په غوږونو کي مو دروندوالی دئ او زموږ او ستا تر منځ ځانګړی حجاب دئ نو ته (خپل) کار کوه چي موږ ئې هم کوونکي یو. 6- ووایه: یقیناً چي زه ستاسو په څېر یوازي یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چي ستاسو معبود یوازینی معبود دئ؛ نو د ده لوري ته استقامت غوره کړئ او بخښنه ترې وغواړئ، او د مشرکینو پر حال افسوس، 7- هغه چي زکات نه ورکوي او دوی د آخرت په اړه کافران دي، 8- یقیناً هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي دوی ته نه پرې کېدونکی اجر دئ. 9- ووایه: آیا تاسو د هغه ذات په اړه کفرکوئ چي زمکه ئې په دوو ورځو کي پیدا کړه او ده ته سیالان ټاکئ، همدا د عالمونو رب دئ، 10- او په څلورو ورځو کي ئې په هغې کي له پاسه لنګرونه (غرونه) جوړ کړل، په هغې کي ئې برکت واچاوو، او په هغې کي ئې د غوښتونکو له حاجت سره سم روزي وټاکله، 11- بیا ئې د آسمان لوري ته مخه کړه په داسي حال کي چي لوګی وو، نو هغه او زمکي ته ئې وویل: په خپله خوښه یا په نه زړه راوړاندي شئ، وئې ویل: په خپله خوښه راځو،

فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا
ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿١٢﴾ فَإِنۡ
أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذۡ
جَآءَتۡهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ
قَالُواْ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ فَإِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾
فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ
أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا
يَجۡحَدُونَ ﴿١٥﴾ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ
لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ
وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيۡنَٰهُمۡ فَٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡعَمَىٰ عَلَى
ٱلۡهُدَىٰ فَأَخَذَتۡهُمۡ صَٰعِقَةُ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡهُونِ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٧﴾
وَنَجَّيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ وَيَوۡمَ يُحۡشَرُ أَعۡدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى
ٱلنَّارِ فَهُمۡ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيۡهِمۡ سَمۡعُهُمۡ
وَأَبۡصَٰرُهُمۡ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٠﴾

12- نو هغه ئې په دوو ورځو کې اوه آسمانونه کړل او په هر آسمان کې ئې د هغه اړوند چارو وحې وکړه، او نژدې آسمان مو په څراغونو (ستورو) سره ښایسته او خوندي کړ، همدا د پوه عزتمن رب ټاکنه ده. 13- خو که دوی اعراض وکړ نو ورته ووایه: په یوه تندر مو وېروم؛ د عاد او ثمود تندر ته ورته، 14- هغه مهال چې پيغمبران ترې وړاندې او ترې وروسته ورغلل چې له الله پرته بل څه مه لمانځئ، وئې ویل: که زموږ رب غوښتی نو حتماً به ئې ملائکې رالېږلې وې، نو موږ په هغه څه کافران یو چې تاسو ورسره رالېږل شوي یئ، 15- او عاد خو په ناحقه په زمکې کې لويي غوښتنه وکړه او وئې ویل: څوك به تر مونږ د قوت له پلوه ډېر پیاوړی وي؟ آیا دې ته ئې پام ونه کړ چې هغه الله تر دوی ډېر قوي دئ چې دوی ئې پيدا کړي او زمونږ له آیتونو ئې انکار کاوو. 16- نو په سپېرو ورځو کې مو تونده سیلۍ پرې راوستله، چې په دنیايي ژوند کې سپك عذاب وروڅکو، او د آخرت عذاب خو هرومرو ډېر سپکوونکی دئ، په داسې حال کې چې مرسته به ئې نه کېږي، 17- او ثمودیان داسې ول چې د دوی لارښوونه مو وکړه خو ړوندوالی ئې تر هدایت غوره وګڼلو، نو د هغه څه له کبله د سپکوونکي عذاب تندر ونیول چې دوی ترلاسه کول، 18- او هغه مو وژغورل چې ایمان ئې راوړی وو او ځان ساتنه ئې کوله. 19- او هغه ورځ چې د الله غلیمان به د اور لوري ته ورغونډ کړی شي، په داسې حال کې چې دوی به ډلې ډلې کړی شوي وي، 20- تر هغه چې (اور ته نژدې) ورشي، غوږونه، سترګې او پوستکي به ئې په هغه څه شهادت ورکوي چې دوی کول.

وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمۡ لِمَ شَهِدتُّمۡ عَلَيۡنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ
شَيۡءٖۚ وَهُوَ خَلَقَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا كُنتُمۡ
تَسۡتَتِرُونَ أَن يَشۡهَدَ عَلَيۡكُمۡ سَمۡعُكُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُكُمۡ وَلَا جُلُودُكُمۡ
وَلَٰكِن ظَنَنتُمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعۡلَمُ كَثِيرٗا مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمۡ
ظَنُّكُمُ ٱلَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمۡ أَرۡدَىٰكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ
﴿٢٣﴾ فَإِن يَصۡبِرُواْ فَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡۖ وَإِن يَسۡتَعۡتِبُواْ فَمَا هُم مِّنَ
ٱلۡمُعۡتَبِينَ ﴿٢٤﴾ ۞وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا
خَلۡفَهُمۡ وَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ
وَٱلۡإِنسِۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ
لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴿٢٦﴾ فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ عَذَابٗا شَدِيدٗا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٧﴾
ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ
بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا
مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٢٩﴾

21- او خپلو پوستکو ته به وايي: ولې زموږ په ضد شهادت ورکوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي یو چې هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پیدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ. 22- او تاسو چې (خپلې کړنې) پټولې (داسې مو انګېرله چې نه به) ستاسو غوږونه درباندې ګواهي ورکوي، نه ستاسو سترګې او نه ستاسو پوستکي، خو دا ګمان مو کړی وو چې الله په ډېرو هغو کارونو نه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ. 23- او همدا ستاسو هغه ګمان وو چې د خپل رب په اړه مو ګمان کولو، تباه ئې کړئ او له زیانمنو شوئ، 24- نو که صبر وکړي استوګنځی ئې اور دئ او که عفو وغواړي نو په عفو شوو کې به شامل نشي. 25- او داسې همځنګ مو ورته ټاکلي چې دوی ته ئې هغه څه ښایسته کړي چې د دوی په وړاندې دي او د دوی تر شا دي او د دوی په اړه د پېریانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کې چې تر دوی وړاندې تېر شوي، دا وینا محققه شوې چې یقیناً دوی زیانمن دي. 26- او هغو چې کفر ئې کړی وویل: دې قرآن ته غوږ مه ږدئ او په هغه کې غوغا جوړه کړئ چې غالب شئ، 27- نو حتماً به هغو ته کلك عذاب وروڅکو چې کفر ئې کړی او هرومرو به د دغه ډېر بد عمل سزا ورکړو چې دوی کولو، 28- همدا اور د الله د دښمنانو سزا ده، په هغه کې دوی ته د تلپاته کېدو کور دئ، د هغه څه سزا چې دوی زموږ د آیتونو په اړه انکار کولو. 29- او هغو چې کفر ئې کړی وویل: اې زموږ ربه! د پېریانو او انسانانو هغه دوه راوښیه چې موږ ئې بې لارې کړو چې تر خپلو پښو ئې لاندې کړو، چې له لاندینیو (ذلیلو) شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ
تُوعَدُونَ ٣٠ نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ
وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ
٣١ نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ٣٢ وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ
إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٣٣ وَلَا
تَسۡتَوِي ٱلۡحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُۚ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ فَإِذَا
ٱلَّذِي بَيۡنَكَ وَبَيۡنَهُۥ عَدَٰوَةٞ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٞ ٣٤ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ
إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٖ ٣٥ وَإِمَّا
يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ نَزۡغٞ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلۡعَلِيمُ ٣٦ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا
تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِ ٱلَّذِي
خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ٣٧ فَإِنِ ٱسۡتَكۡبَرُواْ فَٱلَّذِينَ
عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُمۡ لَا يَسۡـَٔمُونَ۩ ٣٨

30- یقیناً هغه چې وئې ویل: زموږ رب الله دئ؛ بیا ئې استقامت وکړ، فرشتې به پرې نازلیږي (له دې وینا سره) چې مه وېره کوئ او مه غمجن کیږئ او د هغه جنت په زیري سره خوښ اوسئ چې وعده ئې درکول کیږي، 31- موږ هم د دنیا په ژوند کې ستاسو دوستان یو او هم په آخرت کې، او تاسو ته په دې کې هر هغه څه شته چې ستاسو زړه ئې غواړي او هر هغه څه چې تاسو ئې غوښتنه وکړئ، 32- یوه مېلمستیا د ډېر مهربان بخښونکي له لوري. 33- او تر هغه چا به څوك د وینا له پلوه ډېر غوره وي چې د الله لوري ته ئې بلنه ورکړه، نېك عمل ئې وکړ او وئې ویل: زه په یقیني توګه د مسلمانانو له ډلې یم، 34- په داسې حال کې چې نه ښېګڼې سره برابرېدی شي او نه بدي، په هغه څه سره ئې دفع کوه چې تر ټولو غوره وي، ناڅاپه به (وګورې) هغه چې ستا او د هغه ترمنځ کومه دښمني وه داسې شوی لکه کوم خواخوږی دوست، 35- او دا له هغو پرته چې صبر ئې کړی د بل چا نه په برخه کیږي او دا له هغه پرته چې ستر بختور وي د بل چا نه په برخه کیږي، 36- او که د شیطان له لوري کومه وسوسه او هڅونه درورسیږي نو په الله سره پناه غواړه، یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ. 27- او د ده له آیتونو دا شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، هغه الله ته سجده وکړئ چې دوی ئې پیدا کړي که یوازې دی لمانځئ، 28- او که د لویي په لټه کې شول نو هغه چې ستا د رب خوا ته دي شپه او ورځ د ده تسبیح وایي په داسې حال کې چې نه ستومانه کیږي.

يُلۡقَىٰ فِي ٱلنَّارِ خَيۡرٌ أَم مَّن يَأۡتِيٓ ءَامِنٗا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ٱعۡمَلُواْ
مَا شِئۡتُمۡ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
بِٱلذِّكۡرِ لَمَّا جَآءَهُمۡۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٞ ﴿٤١﴾ لَّا يَأۡتِيهِ
ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ
حَمِيدٖ ﴿٤٢﴾ مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدۡ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبۡلِكَۚ
إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغۡفِرَةٖ وَذُو عِقَابٍ أَلِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ
قُرۡءَانًا أَعۡجَمِيّٗا لَّقَالُواْ لَوۡلَا فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥٓۖ ءَا۬عۡجَمِيّٞ
وَعَرَبِيّٞۗ قُلۡ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ هُدٗى وَشِفَآءٞۚ وَٱلَّذِينَ لَا
يُؤۡمِنُونَ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٞ وَهُوَ عَلَيۡهِمۡ عَمًىۚ أُوْلَٰٓئِكَ
يُنَادَوۡنَ مِن مَّكَانِۢ بَعِيدٖ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ
فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ
وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿٤٥﴾ مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا
فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

39- او د ده له آیتونو یو دا دئ چي ته زمکه وچه سپېره ګورې خو کله چي اوبه پرې ووروو وخوځېږي او وده وکړي، یقیناً هغه چي زمکه ژوندۍ کوي حتماً د مړو ژوندي کوونکی دئ، یقیناً چي هغه پر هر څه توانمن دئ، 40- یقیناً هغه چي زموږ د آیتونو په اړه کږېږي پر موږ پټ نه پاته کېږي، نو آیا هغه چي په اور کې اچول کېږي غوره دئ او که هغه چي د قیامت په ورځ به د خوندي په توګه راشي، څه چي غواړئ وئې کړئ، یقیناً چي دی د هغه څه ښه لیدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ. 41- یقیناً هغه چي د دې ذکر (پندناك قرآن) په اړه له هغه وروسته کفر کوي چي ورورځاندي شي په داسي حال کې چي هغه له شك پرته عزتمن او درونډ کتاب دئ، 42- چي باطل ئې نه مخي ته راتلی شي او نه ئې له شا، د ستایل شوي با حکمت له لوري یوه ځانګړې لېږنه. 43- تا ته له هغه څه پرته بل څه نه ویل کېږي چي تر تا وړاندي پیغمبرانو ته ویل شوي، یقیناً چي ستا رب د بخښني والا دئ او د دردونکي عذاب خاوند. 44- او که مو هغه عجمي (غیر عربي) قرآن ګرځولی وی نو حتماً به ئې ویلي وو: ولي ئې آیتونه نه دي سپړل شوي، آیا یو عجمي او یو عربي؟ ووایه: دا د هغو لپاره لارښود او درمل دئ چي ایمان ئې راوړی، او هغه چي ایمان نه راوړي په غوږونو کې ئې یو ډول درونډوالی دئ او دا وربانډي ړوندوالی دئ، دوی داسي دي (لکه) چي له لري ځای ورغږ کېږي. 45- او یقیناً چي موسی ته مو هغه کتاب ورکړ چي په اړه ئې اختلاف وکړی شو، او که ستا د رب له لوري داسي وینا نه وی چي وړاندي تېره شوې نو حتماً به د دوی تر منځ (تر دې وړاندي) پرېکړه شوې وه او یقیناً چي دوی ئې په اړه په حیرانوونکي شك کې دي. 46- چا چي صالح عمل وکړ نو د ځان په ګټه ئې دئ او چا چي بد کار وکړ پر ده به (ئې وبال) وي، او ستا رب پر خپلو بندګانو ظلم کوونکی نه دئ،

*إِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِۚ وَمَا تَخۡرُجُ مِن ثَمَرَٰتٖ مِّنۡ أَكۡمَامِهَا
وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ أَيۡنَ
شُرَكَآءِي قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٖ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ
يَدۡعُونَ مِن قَبۡلُۖ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٤٨﴾ لَّا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَٰنُ
مِن دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٞ قَنُوطٞ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ
رَحۡمَةٗ مِّنَّا مِنۢ بَعۡدِ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَآ أَظُنُّ
ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّجِعۡتُ إِلَىٰ رَبِّيٓ إِنَّ لِي عِندَهُۥ لَلۡحُسۡنَىٰۚ
فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِمَا عَمِلُواْ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنۡ عَذَابٍ
غَلِيظٖ ﴿٥٠﴾ وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ أَعۡرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا
مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٖ ﴿٥١﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ
ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرۡتُم بِهِۦ مَنۡ أَضَلُّ مِمَّنۡ هُوَ فِي شِقَاقِۭ بَعِيدٖ ﴿٥٢﴾
سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ
ٱلۡحَقُّۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ أَلَآ إِنَّهُمۡ
فِي مِرۡيَةٖ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمۡۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٖ مُّحِيطُۢ ﴿٥٤﴾

47- د قیامت (اړوند) علم ده ته ورګرځول کېږي، او د الله له علم سره له مطابقت پرته نه له مېوو کومه یوه له خپل پوټکي راوځي، او نه کومه ښځینه څه په خپل رحم کې وړي او نه ئې (پر زمکه) ږدي، او په کومه ورځ چې دوی ته غږ شي: زما شریکان او سیالان چېري دي؟!! وبه وایي: موږ درته عرض کړی چې هیڅ یو مو (د دې خبري) ګواهي ورکوونکی نه دئ، 48- او هغه به ترې ورك شي چې تر دې وړاندي ئې لمانځل، او ګمان به وکړي چې د تېښتي هیڅ ځای نشته. 49- انسان د خیر له غوښتلو نه ستومانه کېږي، او که کوم شر ورورسېږي نو بیا سخت ناهیلی او بې اسرې وي. 50- او که له خپل لوري کومه پېرزوینه وروڅکو له هغه وروسته چي کوم کړاو وررسېدلی حتماً به ووایي: همدا له ما سره وړ دي، او ګمان نه کوم چې د قیامت نېټه قائمېدونکې (راتلونکې) ده، او که د خپل رب لوري ته وګرځول شم حتماً به د هغه خوا ته ښېګڼه راپه برخه کېږي، نو حتماً به هغه چې کفر ئې کړی په هغه څه خبر کړو چې دوی کړي او هرومرو به د سخت عذاب خوند وروڅکو، 51- او کله چې پر انسان پېرزوینه وکړو ډډه کوي او اړخ اړوي، او کله چې شر ورورسېږي نو د اوږدې دعاء خاوند وي. 52- ووایه: آیا دې ته مو پام کړی چې که دا د الله له لوري وي بیا تاسو د هغه په اړه کفر کړی وي، نو تر هغه به زیات تېروتی څوك وي چې په ژور اختلاف کې وي؟! 53- ډېر ژر به خپل آیتونه په آفاق (کائنات) کې هم او د دوی په خپلو نفسونو کې هم وروښیو تر څو ورته څرګنده شي چې هغه حق دئ، آیا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟ 54- پام چې یقیناً دوی له خپل رب سره د ملاقات په اړه په شك کې دي، پام چې یقیناً هغه په هر څه محیط دئ.

# سُورَةُ الشُّورَىٰ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ عٓسٓقٓ ﴿٢﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِيٓ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ ٱللَّهُ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٣﴾ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ
ٱلۡعَظِيمُ ﴿٤﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِن فَوۡقِهِنَّۚ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ
ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهُ حَفِيظٌ
عَلَيۡهِمۡ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِوَكِيلٖ ﴿٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ قُرۡءَانًا
عَرَبِيّٗا لِّتُنذِرَ أُمَّ ٱلۡقُرَىٰ وَمَنۡ حَوۡلَهَا وَتُنذِرَ يَوۡمَ ٱلۡجَمۡعِ لَا رَيۡبَ فِيهِۚ
فَرِيقٞ فِي ٱلۡجَنَّةِ وَفَرِيقٞ فِي ٱلسَّعِيرِ ﴿٧﴾ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَهُمۡ أُمَّةٗ
وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمُونَ مَا لَهُم مِّن
وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٨﴾ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ
يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٩﴾ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ
فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبِّي عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾

# الشوری- مکي سوره- 53 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء، میم، 2- عین، سین، قاف، 3- همداسي باحکمت عزتمن ذات تا او هغو ته چي تر تا وړاندي ول وحي کوي، 4- څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په زمکي کي دي (ټول) د ده دي، او هغه ستر لوړ دئ، 5- نژدې ده چي آسمانونه له بره ئې وچوي، په داسي حال کي چي فرشتې د خپل رب له ستاینې سره تسبیح وایي او هغو ته بخښنه غواړي چي په زمکي کي دي، پام چي یقیناً الله مهربان بخښونکی دئ، 6- او هغه چي له ده پرته ئې پالونکي نیولي الله پرې څارونکی دئ او ته پرې وکیل نه یې. 7- او همداسي مو تا ته یو عربي قرآن د دې لپاره وحي کړ چي د کلیو منځنی او هغه چي چاپېر ئې دي وګواښې، او د راغونډېدو له هغي ورځي خبرداری ورکړې چي هیڅ شك په کي نشته، یوه ډله به په جنت کي وي او یوه ډله به په لمبه ناك اور کي، 8- او که الله غوښتي وی نو حتماً به ئې دوی یو امت ګرځولي ول، خو هغه څوك چي دی ئې غواړي په خپل رحمت کي ننباسي، او ظالمان داسي دي چي دوی ته نه کوم مل شته او نه کوم مرستندوی، 9- آیا له ده پرته ئې پالونکي نیولي؟! نو همدا الله پالونکی دئ او همدا دی مړي ژوندي کوي او هغه پر هر څه ښه توانمن دئ. 10- او په هر هغه څه کي چي تاسو اختلاف کړی نو حکم ئې د الله لوري ته (محول) دئ، همدا زما رب دئ، پر هغه مي توکل کړی او د هغه لوري ته انابت کوم.

فَاطِرُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا
وَمِنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ أَزۡوَٰجٗا يَذۡرَؤُكُمۡ فِيهِۚ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ
ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُۥ مَقَالِيدُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَبۡسُطُ
ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١٢﴾ *شَرَعَ
لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا
وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا
تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ
إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوٓاْ إِلَّا مِنۢ
بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ
إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى لَّقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُورِثُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۢ
بَعۡدِهِمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿١٤﴾ فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ
أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ
وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ
أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ
ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾

11- د آسمانونو او زمکي پنځوونکی، (هغه چي) تاسي ته ئې په خپله له تاسو جوړې جوړې پيدا کړې او له څارويو ئې هم جوړې جوړې، په همدې کي تاسي خوروي، هيڅ شی هغه ته د ورته په څېر نه دئ، او هغه ليدونکی اورېدونکی دئ. 12- د آسمانونو او زمکي کلياني د ده دي، چا ته چي وغواړي روزي پراخوي او تنگوي، يقيناً چي هغه په هر څه ښه پوه دئ. 13- تاسو ته ئې د دين هغه طريقه ټاکلې چي نوح ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه او هغه چي تا ته مو وحي کړې، او هغه چي ابراهيم، موسى او عيسى ته مو د هغې سپارښتنه کړې وه، او هغه دا چي دين قائم کړئ او په هغه کي مه متفرق کېږئ، مشرکينو ته هغه څه (منل) گران دي چي ته ئې وربلې، الله هغه څوك خپل لوري ته غوره کوي چي دی ئې غواړي او هغه څوك هدايتوي چي د ده لوري ته انابت کوي، 14- او ډلي ډلي نشول مگر له هغه وروسته چي علم ورته راغی؛ په خپلو کي د تېري له کبله، او که ستا د رب له لوري يوه وينا چي وړاندي تېره شوې نه وی، تر يوې ټاکلې نېټې (د فرصت ورکولو وينا)، نو هرو مرو به د دوی تر منځ پرېکړه شوې وه، او يقيناً هغه چي تر دوی وروسته کتاب په ميراث ورکړی شو په دې اړه په حيرانوونکي شك کي دي. 15- نو د همدې لپاره وبله، او همغسي استقامت کوه چي گمارل شوی يې، او د دوی د هوسونو متابعت مه کوه، او ووايه: په هر هغه کتاب مي ايمان راوړی چي الله نازل کړی، او پر دې گمارل شوی يم چي ستاسو تر منځ عدالت وکړم، الله هم زموږ رب دئ او هم ستاسو، موږ ته خپل عملونه دي او تاسو ته خپل عملونه، زموږ او ستاسو تر منځ کومه شخړه نشته، الله به موږ او تاسي په خپلو کي راغونډ کړي او ورتگ د ده لوري ته دئ.

وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ
دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾
ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ
ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٞ ﴿١٧﴾ يَسۡتَعۡجِلُ بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مُشۡفِقُونَ مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ إِنَّ
ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾ ٱللَّهُ لَطِيفُۢ
بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَن كَانَ
يُرِيدُ حَرۡثَ ٱلۡأٓخِرَةِ نَزِدۡ لَهُۥ فِي حَرۡثِهِۦۖ وَمَن كَانَ يُرِيدُ حَرۡثَ
ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾ أَمۡ لَهُمۡ
شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا
كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ
﴿٢١﴾ تَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا كَسَبُواْ وَهُوَ وَاقِعُۢ بِهِمۡۗ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي رَوۡضَاتِ ٱلۡجَنَّاتِۖ لَهُم
مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمۡۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَضۡلُ ٱلۡكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

16- او هغه چي د الله په اړه له دې وروسته شخړه کوي چي لبيك ورته
ويل شوی؛ حجت ئې د دوی د رب په وړاندي باطل دئ او پر دوی د الله
غضب دئ او دوی ته شديد عذاب دئ. 17- الله هغه ذات دئ چي پر حق
مبني کتاب او ميزان ئې نازل کړی، او څه خبر کړی يې؟ ښايي د قيامت
نښه به نژدې وي، 18- هغه ئې په تلوار سره غواړي چي ايمان پرې نه لري،
او هغه چي ايمان لري ترې وېرېدونکي دي او پوهېږي چي هغه رښتينې ده،
پام چي هغه خلك په ژوري تېروتني کې دي چي د قيامت په اړه جدل کوي.
19- الله پر خپلو بندگانو د نرمښت خاوند دئ، چا ته چي وغواړي روزي
ورکوي، او هغه عزتمن ځواکمن دئ، 20- څوك چي د آخرت کر غواړي په
کښت کې به ئې ورزيات کړو او څوك چي د دنيا کښت غواړي څه به ترې
ورکړو په داسي حال کې چي په آخرت کې به ئې هيڅ برخه نه وي. 21- آيا
داسي شريکان ئې دي چي د دين هغه طريقه ئې ورته ټاکلې چي الله ئې
إذن او اجازه نه ده ورکړې، او که د پرېکړې هغه وينا نه وی نو حتماً به د
دوی تر منځ (وروستۍ) پرېکړه شوې وه او يقيناً چي دغو ظالمانو ته دردناك
عذاب دئ، 22- دا ظالمان به گورې چي له هغه څه وېرېدونکي دي چي
ترلاسه کړي ئې دي په داسي حال کې چي هغه پر دوی پرېوتونکی دئ، او
هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د جنتونو په بڼگوټو
(باغچو) کې به وي، دوی ته به د خپل رب په خوا کې هر هغه څه وي چي
غواړي ئې، همدا ستر فضل دئ.

ذَٰلِكَ ٱلَّذِي يُبَشِّرُ ٱللَّهُ عِبَادَهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِۗ
قُل لَّآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًا إِلَّا ٱلۡمَوَدَّةَ فِي ٱلۡقُرۡبَىٰۗ وَمَن يَقۡتَرِفۡ
حَسَنَةً نَّزِدۡ لَهُۥ فِيهَا حُسۡنًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ أَمۡ يَقُولُونَ
ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗاۖ فَإِن يَشَإِ ٱللَّهُ يَخۡتِمۡ عَلَىٰ قَلۡبِكَۗ وَيَمۡحُ ٱللَّهُ
ٱلۡبَٰطِلَ وَيُحِقُّ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٢٤﴾
وَهُوَ ٱلَّذِي يَقۡبَلُ ٱلتَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهِۦ وَيَعۡفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعۡلَمُ
مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٢٥﴾ وَيَسۡتَجِيبُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
وَيَزِيدُهُم مِّن فَضۡلِهِۦۚ وَٱلۡكَٰفِرُونَ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞ ﴿٢٦﴾ ۞وَلَوۡ
بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ
مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ
مِنۢ بَعۡدِ مَا قَنَطُواْ وَيَنشُرُ رَحۡمَتَهُۥۚ وَهُوَ ٱلۡوَلِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنۡ
ءَايَٰتِهِۦ خَلۡقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَآبَّةٖۚ وَهُوَ
عَلَىٰ جَمۡعِهِمۡ إِذَا يَشَآءُ قَدِيرٞ ﴿٢٩﴾ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٖ فَبِمَا
كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ﴿٣٠﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي
ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٣١﴾

23- دا همغه څه دي چې الله ئې خپلو هغو بندګانو ته زېری ورکوي
چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، ووایه: له تاسو هیڅ
اجر نه پرې غواړم مګر په خپلوۍ کې دوستي، او څوك چې کومه ښېګڼه
وکړي هغه ته ښېګڼه په کې زیاتوو، یقیناً چې الله شاکر بخښونکی دئ.
24- آیا وایي چې پر الله ئې دروغجنه افتراء کړې، نو که الله غوښتی
ستا پر زړه به ئې مهر لګولی وو، الله باطل محو کوي او حق محقق
کوي په خپلو ویناوو سره، یقیناً چې هغه د سینو په شته وو ښه پوه
دئ. 25- او دی همغه (ذات) دئ چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او
له ګناهونو تېرېږي او په هغه څه پوهېږي چې تاسو ئې کوئ، 26- او
د هغو اجابت کوي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او له
خپلو پېرزوینو لازیاتي ورپه برخه کوي، او کافران داسي دي چې دوی
ته شدید عذاب دئ. 27- او که الله خپلو بندګانو ته رزق پراخ کړی وی
حتماً به ئې په زمکې کې بغاوت کړی وو؛ خو په همغه اندازه ئې نازلوي
چې دی ئې غواړي، یقیناً چې هغه د خپلو بندګانو په اړه ښه لیدونکی
باخبر دئ، 28- او دی همغه ذات دئ چې باران له هغه وروسته
نازلوي چې مأیوس شوي وي او خپل رحمت خوروي او دی ستایل
شوی مولا دئ، 29- او له آیتونو ئې د آسمانونو او زمکې پیدایښت او
هغه خوځېدونکې دي چې په دوی دواړو کې ئې خواره کړي او دی کله
چې وغواړي په راغونډولو ئې ښه توانمن دئ. 30- او په کوم مصیبت
چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو له کبله دئ
او له ډېرو ئې (الله ) تېرېږي. 31- او تاسو په زمکې کې عاجزوونکي نه
یئ، او تاسو ته له الله پرته نه کوم مولا شته او نه کوم مرستندوی.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأۡ يُسۡكِنِ ٱلرِّيحَ
فَيَظۡلَلۡنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٍ
﴿٣٣﴾ أَوۡ يُوبِقۡهُنَّ بِمَا كَسَبُواْ وَيَعۡفُ عَن كَثِيرٖ ﴿٣٤﴾ وَيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ
يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٣٥﴾ فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ
فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ
رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا
غَضِبُواْ هُمۡ يَغۡفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ
أَصَابَهُمُ ٱلۡبَغۡيُ هُمۡ يَنتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَٰٓؤُاْ سَيِّئَةٖ سَيِّئَةٞ مِّثۡلُهَاۖ فَمَنۡ
عَفَا وَأَصۡلَحَ فَأَجۡرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ
ٱنتَصَرَ بَعۡدَ ظُلۡمِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَا عَلَيۡهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ
عَلَى ٱلَّذِينَ يَظۡلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ أُوْلَٰٓئِكَ
لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤٣﴾
وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن وَلِيّٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَتَرَى ٱلظَّٰلِمِينَ لَمَّا
رَأَوُاْ ٱلۡعَذَابَ يَقُولُونَ هَلۡ إِلَىٰ مَرَدّٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿٤٤﴾

32- او له آيتونو ئې په سمندر کې دا غرونو ته ورته تلونکې (کښتۍ) دي، 33- که وغواړي سيلۍ به په ټپه ودروي چې له کبله به ئې د هغې پر شا ولاړې پاته شي، يقيناً چې په دې کې هر ډېر صبر کوونکي ډېر شکر کوونکي ته څرګندې نښې دي، 34- يا به ئې د هغه څه له کبله تباه کړي چې دوی کړي او له ډېرو تېرېږي. 35- او هغه چې زما د آيتونو په اړه مجادله کوي پوه شي چې کوم پناه ځی ورته نشته. 36- نو څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه چې وي، دا د دنيوي ژوند متاع ده، او هغه څه چې له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چې ايمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. 37- او هغه چې له کبيره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي او کله چې غصه شي نو بخښنه کوي، 38- او هغه چې د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلی، لمونځ ئې قائم کړی او کار ئې په خپلو کې مشوره وي او له هغه څه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي. 39- او هغه چې کله تېری پرې وشي غچ اخلي، 40- او د بدو سزا بدو ته ورته بد وي، نو څوك چې عفو وکړي او مصالحه وکړي نو اجر ئې د الله پر ذمه دئ، يقيناً چې هغه ظالمان نه خوښوي. 41- او هغه چې پر ده له ظلم وروسته ئې غچ اخيستی پر دوی (د الزام) هيڅ لار نشته، 42- (د ملامتيا) لار يوازې پر هغو ده چې پر خلکو ظلم کوي او په ناحقه په زمکې کې بغاوت (تېری) کوي، همدا دوی ته دردناك عذاب دئ، 43- او چا چې صبر وکړ او بخښنه ئې وکړه يقيناً چې دا له همتناکو کارونو دئ. 44- او الله چې څوك لارورکی کړي نو له ده وروسته ئې هيڅ مولا نشته، او کله چې ظالمان عذاب وګوري ته به ئې وينې چې وايي: آيا بېرته ستنېدو ته کومه لار شته،

وَتَرَىٰهُمۡ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا خَٰشِعِينَ مِنَ ٱلذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرۡفٍ
خَفِيّٖۗ وَقَالَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ فِي عَذَابٖ مُّقِيمٖ ﴿٤٥﴾ وَمَا
كَانَ لَهُم مِّنۡ أَوۡلِيَآءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ
فَمَا لَهُۥ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾ ٱسۡتَجِيبُواْ لِرَبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ
لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۚ مَا لَكُم مِّن مَّلۡجَإٖ يَوۡمَئِذٖ وَمَا لَكُم مِّن
نَّكِيرٖ ﴿٤٧﴾ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ حَفِيظًاۖ إِنۡ
عَلَيۡكَ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُۗ وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ فَرِحَ بِهَاۖ وَإِن
تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَإِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ كَفُورٞ ﴿٤٨﴾ لِّلَّهِ
مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثٗا
وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ أَوۡ يُزَوِّجُهُمۡ ذُكۡرَانٗا وَإِنَٰثٗاۖ وَيَجۡعَلُ
مَن يَشَآءُ عَقِيمًاۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾ ۞وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ
ٱللَّهُ إِلَّا وَحۡيًا أَوۡ مِن وَرَآيِٕ حِجَابٍ أَوۡ يُرۡسِلَ رَسُولٗا فَيُوحِيَ
بِإِذۡنِهِۦ مَا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ عَلِيٌّ حَكِيمٞ ﴿٥١﴾

45- او دوی به ګورې چې په داسي حال کې به وروړاندې کړی شي
چې د ذلت له کبله به داسي خشوع کوونکې وي چې د سترګي له
کونجه به په پټه ګوري، او چا چې ایمان راوړی وایي به: بې شکه
چې زیانمن همغه دي چې ځان او خپل ټبر ته ئې د قیامت په ورځ
تاوان ورسولو، پام چې ظالمان به په تلپاته عذاب کې وي، 46- او له
الله پرته به ئې داسي دوستان نه وي چې مرسته ئې وکړي، او الله
چې څوك لارورکی کړي نو هیڅ لار ورته نشته. 47- خپل رب ته لبیك
ووایئ تر هغه وړاندې چې داسي ورځ راشي چې د الله له لوري بېرته
ستنېدا ورته نشته، په دې ورځ به نه کوم پناه ځی درته وي او نه
به کوم نکیر (انکار کوونکی او بدلوونکی)، 48- او که اعراض وکړي نو
ته مو پر دوی ساتونکی نه یې لېږلی، پر تا له ابلاغ پرته بل څه نشته،
او موږ چې کله انسان ته له خپل لوري کومه پېرزوینه وروڅکو نو
پرې خوښ شي او که د هغه څه له کبله چې د دوی لاسونو وړاندې
کړي کومه ستونزه وررسېږي نو یقیناً چې (هغه مهال) دا انسان
ډېر ناسپاس وي. 49- د آسمانونو او زمکې واکمني د الله ده، هر هغه
څه پیدا کوي چې وئې غواړي، چا ته چې وغواړي ښځینه اولاد
ورکوي او چا ته چې وغواړي نارینه اولاد ورکوي، 50- یا نارینه او
ښځینه ګډ ورکوي، او هغه شنډ کړي چې دی ئې غواړي، یقیناً چې
دی توانمن پوه دئ. 51- او هیڅ انسان ته نه ښایي چې الله ورسره
تکلم وکړي مګر په وحي (خفي اشارې) سره، یا د حجاب له شا، یا
یوه فرشته لېږي چې د ده له حکم سره سم هغه څه وحي کړي چې
دی ئې غواړي،یقیناً چې هغه باحکمت لوړ دئ،

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ
وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ
وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾ صِرَٰطِ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ أَلَآ إِلَى ٱللَّهِ تَصِيرُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٥٣﴾

## سُورَةُ الزُّخْرُفِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢﴾ إِنَّا جَعَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ
تَعۡقِلُونَ ﴿٣﴾ وَإِنَّهُۥ فِيٓ أُمِّ ٱلۡكِتَٰبِ لَدَيۡنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿٤﴾
أَفَنَضۡرِبُ عَنكُمُ ٱلذِّكۡرَ صَفۡحًا أَن كُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّسۡرِفِينَ ﴿٥﴾
وَكَمۡ أَرۡسَلۡنَا مِن نَّبِيّٖ فِي ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٦﴾ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُواْ
بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٧﴾ فَأَهۡلَكۡنَآ أَشَدَّ مِنۡهُم بَطۡشٗا وَمَضَىٰ مَثَلُ
ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨﴾ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ
خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٩﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا
وَجَعَلَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠﴾

52- همداسي مو تا ته د خپل امر ځانګړې وحي وکړه، ته نه پوهېدې
چي کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې، خو
موږ داسي نور وګرځاوو چي له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدایتوو
چي غواړو ئې، او بې شکه چي ته د مستقیمي لاري خوا ته لارښوونه
کوې. 53- د هغه الله لاري ته چي څه په آسمانونو کي او څه په ځمکي
دي ټول د ده دي، پام چي کارونه د الله لوري ته ورګرځي.

## الزخرف- مکي سوره- 89 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء میم، 2- قسم په دې څرګند کتاب، 3- یقیناً چي مونږ هغه یو
عربي قرآن ګرځولی ترڅو تاسو تعقل وکړئ 4- او یقیناً چي هغه زموږ
خوا ته په اصلي کتاب کي دئ، له شك پرته باحکمت او لوړ دئ، 5- نو
آیا له تاسو دا ذکر د مخ اړولو په توګه بند کړو، له دې کبله چي تاسو
تېری کوونکي وګړي یئ؟! 6- او د پیغمبرانو څومره مو په لومړنیو کي
لېږلي؟! 7- او هیڅ نبي نه ورتلو مګر پر هغه به ئې استهزاء کوله، 8-
نو موږ هغه هلاك کړل چي د لاس اچوني له پلوه تر دوی ډېر پیاوړي
ول، او د دغو لومړنیو مثالونه تېر شوي. 9- او که ترې وپوښتې: دا
آسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي؛ حتماً به ووایي: ډېر پوه عزتمن ذات
پیدا کړي، 10- هغه چي ځمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې
کي ئې تاسو ته لاري جوړي کړې چي هدایت شئ.

وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءَۢ بِقَدَرٍ فَأَنشَرۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةً مَّيۡتًاۚ كَذَٰلِكَ
تُخۡرَجُونَ ﴿١١﴾ وَٱلَّذِى خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ
ٱلۡفُلۡكِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مَا تَرۡكَبُونَ ﴿١٢﴾ لِتَسۡتَوُۥاْ عَلَىٰ ظُهُورِهِۦ ثُمَّ تَذۡكُرُواْ
نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ إِذَا ٱسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ وَتَقُولُواْ سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِى سَخَّرَ
لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾
وَجَعَلُواْ لَهُۥ مِنۡ عِبَادِهِۦ جُزۡءًاۚ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ
ٱتَّخَذَ مِمَّا يَخۡلُقُ بَنَاتٍ وَأَصۡفَىٰكُم بِٱلۡبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم
بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحۡمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾ أَوَ
مَن يُنَشَّؤُاْ فِى ٱلۡحِلۡيَةِ وَهُوَ فِى ٱلۡخِصَامِ غَيۡرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾ وَجَعَلُواْ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمۡ عِبَٰدُ ٱلرَّحۡمَٰنِ إِنَٰثًاۚ أَشَهِدُواْ خَلۡقَهُمۡۚ
سَتُكۡتَبُ شَهَٰدَتُهُمۡ وَيُسۡـَٔلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُواْ لَوۡ شَآءَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مَا
عَبَدۡنَٰهُمۗ مَّا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ
ءَاتَيۡنَٰهُمۡ كِتَٰبًا مِّن قَبۡلِهِۦ فَهُم بِهِۦ مُسۡتَمۡسِكُونَ ﴿٢١﴾ بَلۡ قَالُوٓاْ
إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّهۡتَدُونَ ﴿٢٢﴾

11- او هغه چي له آسمان ئې په ټاکلې اندازه اوبه نازلي کړې چي په
دې سره مو مړ ټاټوبې ژوندی کړی، همداسي به راایستل کېږئ، 12- او
هغه چي ټولي جوړې ئې پیدا کړې او تاسو ته ئې د کښتیو او څارویو
داسي څه پیدا کړي چي پرې سپرېږئ، 13- چي پر شا ئې سم کښېنئ، بیا
هغه مهال د خپل رب نعمت درپه یاد کړئ چي پرې سم کښېنئ او
ووایئ: سپېڅلتیا هغه ذات ته ده چي دا ئې موږ ته مسخر کړي په داسي
حال کي چي موږ ئې اېلوونکي (تابع کوونکي) نه وو، 14- او موږ د خپل
رب لوري ته حتماً بېرته ورگرځېدونکي یو. 15- او ده ته ئې د ده له
بندگانو یوه برخه ټاکلې، یقیناً چي انسان ځرگند ناسپاس دئ، 16- آیا له
هغه څه ئې لوڼي نیولې چي دی ئې پیدا کوي او تاسو ته ئې په زامنو
سره غوره والی درکړی؟ 17- او کله چي د دوی کوم یوه ته په هغه څه
زېری ورکړی شي چي رحمن رب ته ئې د مثال په توگه منسوب کړی مخ
ئې تك تور شي په داسي حال کي چي د غمونو زغمونکی وي، 18- آیا هغه
چي په گاڼې کي وده کوي او هغه په شخړي کي ناځرگند وي؟! 19- او
هغه فرشتې ئې ښځینه گڼلې دي چي د رحمن بندگان دي، آیا د دوی
پیدایښت ئې مشاهده کړی، حتماً به ئې شهادت ولیکل شي او وبه پوښتل
شي. 20- او وئې ویل: که رحمن رب غوښتي وی نو موږ به نه وو لمانځلي،
په دې اړه ئې هیڅ علم نشته، دوی له خوشي اټکل پرته بل څه نه کوي،
21- آیا تر دې وړاندي مو داسي کوم کتاب ورکړی چي دوی پرې تمسك
کوونکي دي، 22- بلکي وئې ویل: موږ خپل پلرونه په یوې تگلاري موندلي
او موږ ئې پر پلونو په سمه لار روان یو،

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتۡرَفُوهَآ
إِنَّا وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٖ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقۡتَدُونَ ﴿٢٣﴾ ۞قَٰلَ أَوَلَوۡ
جِئۡتُكُم بِأَهۡدَىٰ مِمَّا وَجَدتُّمۡ عَلَيۡهِ ءَابَآءَكُمۡۖ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم
بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٢٥﴾ وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ
﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي
عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٢٨﴾ بَلۡ مَتَّعۡتُ هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمۡ حَتَّىٰ
جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ وَرَسُولٞ مُّبِينٞ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ
وَإِنَّا بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ
ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم
مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ
لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ﴿٣٢﴾
وَلَوۡلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ لَّجَعَلۡنَا لِمَن يَكۡفُرُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ
لِبُيُوتِهِمۡ سُقُفٗا مِّن فِضَّةٖ وَمَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُونَ ﴿٣٣﴾

23- او همداسې مو تر تا وړاندې په هيڅ کلي کې هيڅ نذير نه دئ
لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې وويل: موږ خپل پلرونه په يوې تګلارې
موندلي او موږ ئې پر پلونو پسې اقتداء کوونکي يو، 24- وئې ويل: که
څه هم تر هغه څه مې ډېر ښه لارښود درته راوړی وي چې خپل
پلرونه مو پرې موندلي؟!! وئې ويل: موږ په قطعي توګه په هغه څه
کافر يو چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، 25- نو له هغوی مو غچ
واخيست، نو وګوره چې د تکذيبوونکو پايله څنګه وه!! 26- او کله
چې ابراهيم خپل پلار او خپل قوم ته وويل: يقيناً چې زه له هغه څه
په بې زارۍ کې يم چې تاسو ئې لمانځئ، 27- له هغه پرته چې زه ئې
پيدا کړی يم، هغه به مې حتماً (مزيد) هدايت کړي، 28- او دا ئې په
خپلو پاته شونو کې باقي وينا کړه چې راوګرځي. 29- بلکې دا خلك او د
دوی پلرونه مې متمتع کړل تر هغه چې حق او څرګند پيغمبر ورغی،
30- او کله چې حق ورغی نو وئې ويل: دا کوډې دي او موږ ئې په
اړه کافر يو. 31- او وئې ويل: ولې دا قرآن د دواړو کليو په يوه ستر
سړي نازل نشو، 32- آيا دوی ستا د رب رحمت وېشي، (آيا) موږ په
دنيا کې د دوی تر منځ د دوی معيشت وېشلی او ځيني مو پر ځينو
نورو د درجو له پلوه لوړ کړي چې ځيني ئې ځيني نور تر تمسخر
لاندې ونيسي؟! او ستا د رب رحمت تر هغه څه ډېر غوره دئ چې
دوی ئې غونډوي. 33- او که خلك يوه ډله نه کېدلی نو موږ به حتماً
هغو ته چې د رحمن رب په اړه کفر کوي د دوی خونو ته د سپينو
زرو چتونه جوړ کړي وو او داسې زينې چې پرې اوچتېږي؛

وَلِبُيُوتِهِمۡ أَبۡوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخۡرُفًاۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ
لَمَّا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَٱلۡأٓخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَمَن
يَعۡشُ عَن ذِكۡرِ ٱلرَّحۡمَٰنِ نُقَيِّضۡ لَهُۥ شَيۡطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾
وَإِنَّهُمۡ لَيَصُدُّونَهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُم مُّهۡتَدُونَ ﴿٣٧﴾
حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَٰلَيۡتَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَ بُعۡدَ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ فَبِئۡسَ
ٱلۡقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلۡيَوۡمَ إِذ ظَّلَمۡتُمۡ أَنَّكُمۡ فِي ٱلۡعَذَابِ
مُشۡتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنتَ تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ أَوۡ تَهۡدِي ٱلۡعُمۡيَ وَمَن كَانَ
فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا نَذۡهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنۡهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوۡ
نُرِيَنَّكَ ٱلَّذِي وَعَدۡنَٰهُمۡ فَإِنَّا عَلَيۡهِم مُّقۡتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَٱسۡتَمۡسِكۡ
بِٱلَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ
لَّكَ وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ
مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَقَدۡ
أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴿٤٧﴾

34- او د خونو دروازې ئې او داسي تختونه چي پرې تکيه کوي، 35- او نور سينګاري شيان، او دا هر يو فقط د دنيايي ژوند يوه متاع ده، او ستا د رب خوا ته آخرت د متقيانو لپاره دئ. 36- او څوك چي د رحمن رب له ذکر سترګي پټي کړي داسي مسلط شيطان ورته ټاکو چي هغه ئې نژدې ملګرى وي، 37- او يقيناً چي دوى به ئې له سمي لاري راګرځوي او داسي به انګېري چي دوى هدايت شوي دي، 38- تر هغه چي موږ ته راشي؛ وايي به: کاش زما او ستا تر منځ د مشرقينو په واټن لريوالى وى، نو څومره بد ملګرى!!، 39- له دې کبله چي تاسو ظلم کړى نو په دې ورځ به دا تاسو ته هيڅکله ګټه ونه رسوي چي په عذاب کي شريك يئ. 40- نو آيا ته کڼو ته اورول کولى شې يا ړندو ته او هغه ته لار ښودلى شې چي په ښکاره ضلالت کي وي، 41- نو يا خو به موږ تا بوځو چي بيا به موږ ترې انتقام اخيستونکي يو، 42- يا به هغه څه دروښيو چي وعده مو ورسره کړې، يقيناً چي موږ پر دوى توانمن يو، 43- نو په هغه څه منګولي لګوه چي تا ته مو وحي کړى، يقيناً چي ته پر سمي لاري يې، 44- او يقيناً دا ستا او ستا د قوم لپاره يو ذکر دئ، او حتماً به وپوښتل شئ، 45- او زما د رسولانو له هغو وپوښته چي تر تا وړاندي ول: آيا له رحمن رب پرته مو داسي معبودان ټاکلي چي لمانځل کېږي. 46- اويقيناً چي موسى مو له خپلو ښکارندو آيتونو سره فرعون او د ده ملأ (درباريانو) ته ولېږو، چي وئې ويل: يقيناً چي زه د رب العالمين استازى يم، 47- نو کله چي ئې زموږ آيتونه وروړل ناڅاپه ئې د هغو آيتونو په اړه خنداګاني کولې،

وَمَا نُرِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ إِلَّا هِىَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا ۖ وَأَخَذْنَـٰهُم
بِٱلْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُوا۟ يَـٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدْعُ لَنَا
رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ
ٱلْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾ وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِى قَوْمِهِۦ قَالَ يَـٰقَوْمِ
أَلَيْسَ لِى مُلْكُ مِصْرَ وَهَـٰذِهِ ٱلْأَنْهَـٰرُ تَجْرِى مِن تَحْتِىٓ ۖ أَفَلَا
تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمْ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْ هَـٰذَا ٱلَّذِى هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ
﴿٥٢﴾ فَلَوْلَآ أُلْقِىَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ أَوْ جَآءَ مَعَهُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ
مُقْتَرِنِينَ ﴿٥٣﴾ فَٱسْتَخَفَّ قَوْمَهُۥ فَأَطَاعُوهُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا
فَـٰسِقِينَ ﴿٥٤﴾ فَلَمَّآ ءَاسَفُونَا ٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَـٰهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٥﴾
فَجَعَلْنَـٰهُمْ سَلَفًا وَمَثَلًا لِّلْءَاخِرِينَ ﴿٥٦﴾ *وَلَمَّا ضُرِبَ ٱبْنُ مَرْيَمَ
مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوٓا۟ ءَأَـٰلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا
ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًۢا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ
أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَـٰهُ مَثَلًا لِّبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا
مِنكُم مَّلَـٰٓئِكَةً فِى ٱلْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾

48- او دوی ته مو هیڅ داسي څرګنده نښه نه ده ښودلې چي هغه به تر سيالي ئې ستره نه وه، او په عذاب مو په دې موخه اخته کړل چي راوګرځي، 49- او وئې ویل: اې کوډګره! خپل رب ته زموږ لپاره په هغه څه سره دعاء وکړه چي ته ئې پرې مختص کړی يې، يقيناً چي موږ حتماً هدايت کېدونکي يو،50- نو کله چي به موږ هغه عذاب ترې لرې کړ ناڅاپه به دوی (خپله ژمنه) ماتوله. 51- او فرعون په خپل قوم کي په جګ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چي زما تر واك لاندي بهېږي؟ آيا نه ګورئ؟ 52- آيا زه غوره يم که دا چي سپك دئ او نشي کولی څرګنده وينا وکړي؟ 53- ولي د سرو زرو لاسوندي نه دي پرې اچول شوي يا ولي صف تړلي فرشتې نه دي ورسره راغلي؟ 54- نو خپل قوم ئې داسي تحميق کړ چي د ده اطاعت ئې وکړ، يقيناً چي دوی فاسق وګړي ول، 55- نو کله چي ئې موږ ناراض کړو انتقام مو ترې واخيست او ټول مو غرق کړل، 56- نو دوی مو وروستنيو ته پخواني او متل وګرځول. 57- او کله چي د مريمې زوی د يوه مثال په توګه وړاندي شو ناڅاپه ستا قوم ئې له کبله شور ځوږ جوړوي، 58- او وايي: آيا زموږ معبودان غوره دي که دی؟ تا ته ئې يوازي د يوه جدل په توګه بيانوي، بلکي دوی شخړن وګړي دي، 59- هغه خو يوازي يو داسي بنده وو چي پېرزوينه مو پرې وکړه او د بني اسرائيلو لپاره مو بېلګه وګرځاوو، 60- او که مو غوښتلی نو له تاسو به مو په زمکي کي داسي فرشتې جوړي کړې وې چي ځای ناستي کېږي،

وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ
مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ
﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِٱلْحِكْمَةِ
وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى تَخْتَلِفُونَ فِيهِۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ
﴿٦٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾
فَٱخْتَلَفَ ٱلْأَحْزَابُ مِنۢ بَيْنِهِمْۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْ عَذَابِ
يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا
يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ ٱلْأَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلْمُتَّقِينَ
﴿٦٧﴾ يَٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ وَلَآ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ أَنتُمْ
وَأَزْوَٰجُكُمْ تُحْبَرُونَ ﴿٧٠﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ
وَأَكْوَابٍۖ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُۖ وَأَنتُمْ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ﴿٧١﴾ وَتِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِىٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ
﴿٧٢﴾ لَكُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٣﴾

61- او هغه خو د قيامت لپاره يوه علامه او نښه ده؛ نو د هغې په اړه شك مه كوئ او زما متابعت وكړئ، همدا مستقيمه لار ده. 62- او شيطان دي تاسو وانه ړوي، يقيناً چي هغه ستاسو ښكاره ډښمن دئ. 63- او كله چي عيسى له ښكاره نښو سره راغى وئې ويل: يقيناً چي له حكمت سره درته راغلى يم او د دې لپاره چي ځيني هغه څه درته جوت كړم چي تاسو په كي اختلاف كوئ، نو له الله وويريږئ او زما اطاعت وكړئ، 64- يقيناً چي همدا الله هم زما رب دئ او هم ستاسو؛ نو وئې لمانځئ، همدا مستقيمه لار ده، 65- نو دغو ډلو په خپل منځ كي اختلاف وكړ، نو د دردناكي ورځي د عذاب له كبله د هغو په حال افسوس چي ظلم ئې وكړ. 66- آيا له دې پرته د بل څه انتظار لري چي (د قيامت) نېټه په ناڅاپي توګه ورته راشي په داسي حال كي چي دوى به نه پوهيږي. 67- په دې ورځ به دوستان ځيني د ځينو نورو لپاره غليمان وي، مګر متقيان، 68- اې زما بندګانو! نن نه كومه وېره درباندي شته او نه به تاسو غمجن كيږئ، 69- هغه چي زما پر آيتونو ئې ايمان راوړى او مسلمانان ول، 70- جنت ته ننوځئ تاسو هم او ستاسو مېرمني هم، په داسي حال كي چي خوښي به مو په برخه شي، 71- پر دوى به د سرو زرو نالبكي او ګيلاسونه تاوراتاو كيږي، او په هغوى كي هغه څه چي زړونه ئې غواړي او سترګي ترې خوند اخلي، په داسي حال كي چي تاسو به په هغه كي تلپاته وئ، 72- او دا همغه جنت دئ چي تاسو ته د هغه څه له كبله په ميراث دركړى شوى چي كول مو، 73- په دې كي تاسو ته ډېري داسي مېوې دي چي ترې خورئ به ئې.

إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ٧٤ لَا يُفَتَّرُ عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيهِ
مُبۡلِسُونَ ٧٥ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن كَانُواْ هُمُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧٦ وَنَادَوۡاْ
يَٰمَٰلِكُ لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ٧٧ لَقَدۡ جِئۡنَٰكُم
بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ ٧٨ أَمۡ أَبۡرَمُوٓاْ أَمۡرٗا فَإِنَّا
مُبۡرِمُونَ ٧٩ أَمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّا لَا نَسۡمَعُ سِرَّهُمۡ وَنَجۡوَىٰهُمۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا
لَدَيۡهِمۡ يَكۡتُبُونَ ٨٠ قُلۡ إِن كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٞ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡعَٰبِدِينَ ٨١
سُبۡحَٰنَ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٨٢
فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ٨٣ وَهُوَ
ٱلَّذِي فِي ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٞ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَٰهٞۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ٨٤
وَتَبَارَكَ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَعِندَهُۥ عِلۡمُ
ٱلسَّاعَةِ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٨٥ وَلَا يَمۡلِكُ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ
ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلۡحَقِّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٨٦ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ
خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٨٧ وَقِيلِهِۦ يَٰرَبِّ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ
لَّا يُؤۡمِنُونَ ٨٨ فَٱصۡفَحۡ عَنۡهُمۡ وَقُلۡ سَلَٰمٞۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ٨٩

74- يقيناً چي دا مجرمين به د دوزخ په عذاب كي تلپاته وي، 75-
لدوى به سست او سپك نه كړى شي او دوى به په كي ناهيلي وي، 76-
او موږ پر دوى ظلم نه دئ كړى بلكي دوى پر خپل ځان ظلم كولو،
77- او غږ به كړي: اې مالكه! ستا رب دې پر موږ پای ته ورسوي، وبه
وايي: تاسو پاته كېدونكي يئ، 78- يقيناً چي حق مو دروړ خو ستاسو
ډېرى له حق كركه كوونكي يئ. 79- آيا د كوم كار قطعي پرېكړه ئې
كړې؟ نو موږ هم فيصله كوونكي يو، 80- آيا داسي انګېري چي موږ ئې
سري خبري او پټي مشورې نه اورو؟ ولي نه؛ او د دوى په خوا كي زموږ
استازي ئې ليكي، 81- ووايه: كه رحمن زوی درلودی نو زه د عابدانو
لومړنی يم، 82- له هغه څه چي دوى ئې بيانوي د آسمانونو او زمكي
رب؛ د عرش مالك ته سپېڅلتيا ده. 83- نو پرې ئې ږده چي هسي لګيا
وي او لوبي كوي تر هغه چي له خپلي هغي ورځي سره مخامخ شي
چي وعده ئې وركول كېږي. 84- او دی هغه ذات دئ چي هم په
آسمانو كي اله دئ او هم په زمكي كي اله، او هغه پوه باحكمت دئ،
85- او هغه ذات مبارك دئ چي د آسمانونو او زمكي او هر هغه څه
واك له ده سره دئ چي په دوى دواړو كي دي، او د قيامت د ورځي
علم له ده سره دئ او د ده لوري ته ورګرځول كېږئ، 86- او هغه د
شفاعت واك نه لري چي له ده پرته ئې بلي مګر هغه چي په رښتينې
توګه ګواهي وركړي په داسي حال كي چي پوهېږي. 87- او كه ئې
وپوښتې: چا پيدا كړي؛ حتماً به وايي: الله، نو له كومه دوكه كېږي؟!
88- او دا وينا ئې ګواه ده چي اې زما ربه! دا ټولی هغه وګړي دي چي
ايمان نه راوړي، نو مخ ترې واړوه او ووايه: سلام، ژر به پوه شي.

# سُورَةُ الدُّخَانِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ٢ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ إِنَّا كُنَّا
مُنذِرِينَ ٣ فِيهَا يُفۡرَقُ كُلُّ أَمۡرٍ حَكِيمٍ ٤ أَمۡرٗا مِّنۡ عِندِنَآۚ إِنَّا
كُنَّا مُرۡسِلِينَ ٥ رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٦ رَبِّ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَآۖ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ٧ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٨ بَلۡ هُمۡ فِي شَكّٖ
يَلۡعَبُونَ ٩ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ١٠ يَغۡشَى
ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ١١ رَّبَّنَا ٱكۡشِفۡ عَنَّا ٱلۡعَذَابَ إِنَّا
مُؤۡمِنُونَ ١٢ أَنَّىٰ لَهُمُ ٱلذِّكۡرَىٰ وَقَدۡ جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مُّبِينٞ ١٣ ثُمَّ
تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَقَالُواْ مُعَلَّمٞ مَّجۡنُونٌ ١٤ إِنَّا كَاشِفُواْ ٱلۡعَذَابِ قَلِيلًاۚ
إِنَّكُمۡ عَآئِدُونَ ١٥ يَوۡمَ نَبۡطِشُ ٱلۡبَطۡشَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ إِنَّا مُنتَقِمُونَ
١٦ *وَلَقَدۡ فَتَنَّا قَبۡلَهُمۡ قَوۡمَ فِرۡعَوۡنَ وَجَآءَهُمۡ رَسُولٞ كَرِيمٌ ١٧ أَنۡ
أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ١٨

# الدخان- مکي سوره- 59 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء، میم، 2- قسم په دې څرګند کتاب، 3- یقیناً چې مونږ په یوې مبارکې شپې کې نازل کړی، بې شکه چې موږ انذار کوونکي یو، 4- په دې کې د هر حکیمانه کار پرېکړه کېږي. 5- زموږ له لوري د یوه امر په توګه، یقیناً چې موږ لېږونکي وو، 6- ستا د رب یوه پېرزوینه، یقیناً چې هغه پوه اورېدونکی دئ، 7- د آسمانونو او زمکې او هر هغه څه رب چې په دوی دواړو کې دي، که یقین کوونکي یئ، 8- له ده پرته بل اله نشته، ژوند او مرګ بخښي، ستاسو رب او ستاسو د لومړنیو پلرونو رب، 9- خو دوی په داسې حال کې په لوبو بوخت دي چې په شك کې دي. 10- نو هغې ورځې ته انتظار کوه چې آسمان به څرګند لوګی راوړي، 11- داسې چې خلك به پوښي، دا دردناك عذاب دئ، 12- اې زموږ ربه! دا عذاب له موږ لرې کړه؛ موږ حتماً ایمان راوړونکي یو، 13- څنګه به ئې پند اخیستل په برخه وي حال دا چې څرګندونکی پیغمبر ورغی، 14- بیا دوی مخ واړاوو او وئې ویل: یو پوه کړی شوی لېونی دئ، 15- یقیناً چې موږ لږ شېبه د عذاب لرې کوونکي یو؛ تاسو بېرته ستنېدونکي یئ، 16- هغه ورځ چې موږ به په سخت نیولو سره نیول وکړو، یقیناً چې موږ انتقام اخیستونکي یو. 17- او یقیناً چې د فرعون قوم مو تر دوی وړاندې وآزمویو او عزتمن پیغمبر ورغی، 18- (له دې پیغام سره) چې د الله بندګان ما ته وسپارئ، یقیناً چې زه تاسو ته امین استازی یم،

وَأَن لَّا تَعۡلُواْ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنِّيٓ ءَاتِيكُم بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ١٩ وَإِنِّي عُذۡتُ
بِرَبِّي وَرَبِّكُمۡ أَن تَرۡجُمُونِ ٢٠ وَإِن لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ لِي فَٱعۡتَزِلُونِ ٢١ فَدَعَا
رَبَّهُۥٓ أَنَّ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمٞ مُّجۡرِمُونَ ٢٢ فَأَسۡرِ بِعِبَادِي لَيۡلًا إِنَّكُم
مُّتَّبَعُونَ ٢٣ وَٱتۡرُكِ ٱلۡبَحۡرَ رَهۡوًاۖ إِنَّهُمۡ جُندٞ مُّغۡرَقُونَ ٢٤ كَمۡ تَرَكُواْ
مِن جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ٢٥ وَزُرُوعٖ وَمَقَامٖ كَرِيمٖ ٢٦ وَنَعۡمَةٖ كَانُواْ فِيهَا
فَٰكِهِينَ ٢٧ كَذَٰلِكَۖ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ٢٨ فَمَا بَكَتۡ عَلَيۡهِمُ
ٱلسَّمَآءُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَا كَانُواْ مُنظَرِينَ ٢٩ وَلَقَدۡ نَجَّيۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنَ
ٱلۡعَذَابِ ٱلۡمُهِينِ ٣٠ مِن فِرۡعَوۡنَۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيٗا مِّنَ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ٣١
وَلَقَدِ ٱخۡتَرۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ عِلۡمٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ٣٢ وَءَاتَيۡنَٰهُم مِّنَ ٱلۡأٓيَٰتِ
مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٞاْ مُّبِينٌ ٣٣ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ٣٤ إِنۡ هِيَ إِلَّا مَوۡتَتُنَا
ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُنشَرِينَ ٣٥ فَأۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٣٦
أَهُمۡ خَيۡرٌ أَمۡ قَوۡمُ تُبَّعٖ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ
مُجۡرِمِينَ ٣٧ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ٣٨ مَا
خَلَقۡنَٰهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٣٩

19- او د الله په وړاندې لويي مه کوئ يقيناً چې زه له څرګند دليل سره درته راغلی يم، 20- او زه خپل رب او ستاسو رب ته له دې پناه وړم چې سنګسار مې کړئ، 21- او که پر ما ايمان نه راوړئ نو له ما په څنګ شئ، 22- نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چې دا ټولی مجرم وګړي دي. 23- نو زما بندګان په يوه شپه کې روان کړه، يقيناً چې ستاسو تعاقب به کيږي، 24- او بحر پرانيستی او ولاړ پريږده، بې شکه چې دوی غرقيدونکی لښکر دئ، 25- څومره باغونه او چينې ئې پريښودل؛ 26- او فصلونه او غوره استوګنځي 27- او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! 28- همداسي؛ او بل قوم ته مو په ميراث ورکړل، 29- نو نه آسمان او زمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شو!! 30- او يقيناً چې بني اسرائيل مو له هغه سپکوونکې عذاب وژغورل، 31- له فرعون؛ يقيناً چې هغه د مسرفينو له ډلې يو ستر متکبر وو، 32- او يقيناً چې په پوهې سره مو (بني اسرائيل) پر ټولو نړۍ والو غوره کړل؛ 33- او هغه نښې مو ورکړې چې څرګندې آزمويني په کې وې. 34- يقيناً دا ډله حتما وايي:؛ 35- چې دا نه دئ مګر زموږ لومړنی مرګ، او موږ بيرته راژوندي کيدونکې نه يو، 36- که رښتيني يئ زموږ پلرونه راولئ (راژوندي کړئ). 37- آيا دوی غوره دي که د تبع قوم او هغه چې تر دوی وړاندې ول، موږ هلاک کړل، يقينا دوی مجرمان ول. 38- او موږ دا آسمانونه او زمکه او څه چې په دوی کې دي؛ د لوبو کوونکو په توګه نه دي پيدا کړي، 39- نه مو دي پيدا کړي مګر په حقه سره، خو د دوی ډيری نه پوهيږي.

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ مِيقَٰتُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٠﴾ يَوۡمَ لَا يُغۡنِي مَوۡلًى عَن
مَّوۡلَى شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ هُوَ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٢﴾ إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ ٱلۡأَثِيمِ ﴿٤٤﴾
كَٱلۡمُهۡلِ يَغۡلِي فِي ٱلۡبُطُونِ ﴿٤٥﴾ كَغَلۡيِ ٱلۡحَمِيمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوهُ
فَٱعۡتِلُوهُ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّواْ فَوۡقَ رَأۡسِهِۦ مِنۡ
عَذَابِ ٱلۡحَمِيمِ ﴿٤٨﴾ ذُقۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ
هَٰذَا مَا كُنتُم بِهِۦ تَمۡتَرُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٖ
﴿٥١﴾ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٖ ﴿٥٢﴾ يَلۡبَسُونَ مِن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ
مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٥٣﴾ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٖ ﴿٥٤﴾ يَدۡعُونَ فِيهَا
بِكُلِّ فَٰكِهَةٍ ءَامِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ
ٱلۡأُولَىٰۖ وَوَقَىٰهُمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكَۚ ذَٰلِكَ
هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمۡ
يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَٱرۡتَقِبۡ إِنَّهُم مُّرۡتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

## سُورَةُ الجَاثِيَةِ

40- يقيناً چي د فصل ورځ د دوی ټولو ميقات او ميعاد دئ.
41- هغه ورځ چي هيڅ دوست به له هيڅ دوست څه نشي
دفع کولی او نه به د دوی مرسته کېدی شي، 42- مگر هغه
چي الله پرې رحم کړی، يقيناً چي هغه مهربان عزتمن دئ. 43-
يقيناً چي د زقوم ونه، 44- د گنهگار خوراك دئ، 45- لکه تور
بوی ناك تېل چي په نس کي خوټېږي، 46- د اېشېدلو اوبو د
خوټېدلو په څېر، 47- وئې نيسئ او د دوزخ لوري ته ئې کښ
کړئ 48- بيا ئې پر سر د تودو اوبو عذاب توی کړئ، 49-
وڅکه! يقيناً چي ته همدا ته ډېر عزتمن او مخور يې! 50-
يقيناً چي دا همغه څه دي چي تاسو ئې په اړه شك کولو. 51-
يقيناً چي متقيان به په خوندي مقام کي وي، 52- په جنتونو
او چينو کي، 53- د نازکو او پرېړو ورېښمو جامې به اغوندي،
يو له بل سره مخامخېدونکي، 54- همداسي او له حور عين سره
به ئې جوړه کړو، 55- په هغه کي به هر ډول مېوه په داسي
حال کي غواړي چي ايمن به وي، 56- هلته به له لومړۍ مړيني
پرته بل مرگ نه څکي، او د دوزخ له اوره به ئې وساتي، 57-
ستا د رب له لوري يوه لورېينه، همدا ستره بريا ده. 58- نو
يقيناً چي ستا پر ژبه مو آسان کړ چي پند واخلي، 59- نو
انتظار کوه چي دوی هم منتظر دي.

## الجاثيه- مکي سوره- 37 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ إِنَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ٣ وَفِي خَلۡقِكُمۡ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٞ
لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ٤ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مِن رِّزۡقٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٞ لِّقَوۡمٖ
يَعۡقِلُونَ ٥ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۖ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَ
ٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ يُؤۡمِنُونَ ٦ وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ٧ يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ
تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ
٨ وَإِذَا عَلِمَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا شَيۡـًٔا ٱتَّخَذَهَا هُزُوًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ
٩ مِّن وَرَآئِهِمۡ جَهَنَّمُۖ وَلَا يُغۡنِي عَنۡهُم مَّا كَسَبُواْ شَيۡـٔٗا وَلَا مَا ٱتَّخَذُواْ
مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ١٠ هَٰذَا هُدٗىۖ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ عَذَابٞ مِّن رِّجۡزٍ أَلِيمٌ ١١ ۞ٱللَّهُ ٱلَّذِي سَخَّرَ
لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ
وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
جَمِيعٗا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ١٣

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء، میم، 2- د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري ده، 3- یقیناً چې په آسمانونو او زمکې کې حتماً د ایمان راوړونکو لپاره ښکاره ښکاره نښې دي، 4- او ستاسو په پیدایښت کې او په هغو خوځېدونکو ژوو کې چې خوروي ئې د یقین کوونکو لپاره څرګندي نښي دي، 5- او د شپې او ورځې په اختلاف او په هغه څه کې چې الله د رزق په توګه له آسمان نازل کړی او په هغه سره ئې زمکه له خپلي مړیني وروسته ژوندۍ کړې او د بادونو په لګېدلو کې د هغو وګړو لپاره څرګندي نښي دي چې تعقل کوي، 6- دا د الله آیتونه دي چې پر تا ئې په رښتینې توګه لولو، نو د الله له وینا او د ده له آیتونو وروسته به په کومې وینا ایمان راوړي؟! 7- افسوس د هر ډېر دروغجن ګنهګار په حال، 8- د الله آیتونه اوري چې پرې لوستل کېږي بیا د داسې لویي غوښتونکي په توګه اصرار کوي چې ګواکې هغه ئې نه دي اورېدلي، نو د دردناك عذاب زېری ورکړه، 9- او کله چې زما له آیتونو په کوم څه پوه شي ملنډې پرې وهي، همدا دوی ته سپکوونکی عذاب دئ، 10- تر شا ئې دوزخ، په داسې حال کې چې نه به د دوی لاسته راوړني هیڅ څه ترې دفع کړی شي او نه هغه چې له الله پرته ئې اولیاء نیولي، او دوی ته ستر عذاب دئ. 11- دا یوه لارښوونه ده، او هغه چې د خپل پالونکي رب د آیتونو په اړه کفر کوي دوی ته د اضطراب دردناك عذاب دئ. 12- الله هغه ذات دئ چې تاسو ته ئې سمندر داسې مسخر کړی چې د ده په امر کښتۍ په کې رواني شي، چې د ده فضل ولټوئ او چې شکر وکړئ. 13- او تاسو ته ئې ټول هغه څه مسخر کړل چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په زمکه کې دي، یقیناً په دې کې هغه قوم ته نښي دي چې تفکر کوي.

قُل لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَغۡفِرُواْ لِلَّذِينَ لَا يَرۡجُونَ أَيَّامَ ٱللَّهِ لِيَجۡزِيَ
قَوۡمَۢا بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ
أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۖ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ
وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُم بَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِۖ فَمَا
ٱخۡتَلَفُوٓاْ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ رَبَّكَ
يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ
جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ
لَا يَعۡلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمۡ لَن يُغۡنُواْ عَنكَ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۚ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ
بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۖ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا بَصَٰٓئِرُ لِلنَّاسِ
وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجۡتَرَحُواْ
ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجۡعَلَهُمۡ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءٗ
مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَاتُهُمۡۚ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَلِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا
يُظۡلَمُونَ ﴿٢٢﴾

14- هغو ته چي ایمان ئې راوړی ووایه: هغو ته دي بخښنه وکړي چي د الهي ورځو طمع نه لري، د دې لپاره چي یوه قوم ته د هغه څه له کبله بدله ورکړي چي کولو ئې، 15- څوك چي نېك عمل وکړي نو ګټه ئې د ده لپاره ده او څوك چي بد وکړي نو تاوان ئې پر ده دئ، بیا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږئ. 16- او یقیناً چي بني اسرائیلو ته مو کتاب، حکم او نبوت ورکړ، او پاکیزه پاکیزه رزق مو ورکړ او پر ټولو عالمیانو مو فضیلت ورکړ، 17- او څرګند احکام مو ورکړل، نو اختلاف ئې ونه کړ مګر له هغه وروسته چي پوهه ئې په برخه شوه، په خپلو کې د تېري له کبله، یقیناً چي ستا رب به د قیامت په ورځ د هغه څه په اړه پرېکړه کوي چي دوی په کې اختلاف کولو. 18- بیا مو ته د دغه کار په یوې تګلاري (مأمور) وګرځولې، نو متابعت ئې وکړه او د هغو د هوسونو متابعت مه کوه چي نه پوهېږي، 19- یقیناً چي هغوی د الله هیڅ څه له تا نشي دفع کولی، او یقیناً چي ظالمان داسي دي چي ځیني ئې د ځینو نورو دوستان دي او الله د متقیانو مولا دئ، 20- دا د خلکو لپاره د بصیرت اسباب او د هغو لپاره لارښود او رحمت دئ چي یقین کوي. 21- آیا هغه چي بد کارونه ئې ترسره کړي ګمان کوي چي د هغو په څېر به ئې وګرځوو چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، داسي چي د دوی ژوند او د دوی مرګ به سره برابر وي؟! څومره بد حکم دئ چي دوی ئې کوي. 22- او الله آسمانونه او زمکه پر حق مبتني پیدا کړي او په دې موخه چي هر ساکښ ته د هغه څه له مخي بدله ورکړی شي چي کړي ئې دي په داسي حال کې چي پر دوی به ظلم نه کېږي.

أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلۡمٖ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمۡعِهِۦ
وَقَلۡبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَٰوَةٗ فَمَن يَهۡدِيهِ مِنۢ بَعۡدِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا
تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ
إِلَّا ٱلدَّهۡرُۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾ وَإِذَا تُتۡلَىٰ
عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتُواْ بِـَٔابَآئِنَآ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُحۡيِيكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يَجۡمَعُكُمۡ إِلَىٰ
يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ
مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَخۡسَرُ ٱلۡمُبۡطِلُونَ
﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٖ جَاثِيَةٗۚ كُلُّ أُمَّةٖ تُدۡعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ مَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَٰبُنَا يَنطِقُ عَلَيۡكُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّا كُنَّا نَسۡتَنسِخُ
مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُدۡخِلُهُمۡ
رَبُّهُمۡ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَفَلَمۡ
تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ وَكُنتُمۡ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا
قِيلَ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَٱلسَّاعَةُ لَا رَيۡبَ فِيهَا قُلۡتُم مَّا نَدۡرِي مَا
ٱلسَّاعَةُ إِن نَّظُنُّ إِلَّا ظَنّٗا وَمَا نَحۡنُ بِمُسۡتَيۡقِنِينَ ﴿٣٢﴾

23- نو آيا هغه دي وليد چي خپل هوس ئې اله نيولى او الله په پوهي سره هغه لاروركى كړ، او د هغه پر غوږونو او زړه ئې مهر ولګولو او د ده پر سترګو ئې پرده غوړولې، نو له الله وروسته به ئې څوك هدايت كړي، آيا پند نه اخلئ؟! 24- او وئې ويل: (حقيقت) له دې پرته بل څه نه دئ چې يوازې همدا زمونږ دنيايي ژوند دئ، مرو او راژوندي كېږو او له زمانې پرته مو بل څه نه مړوي، په داسي حال كې چي په دې اړه هيڅ علم نه لري، دوى هسي ګمان كوي. 25- او كله چي زما څرګند آيتونه پرې ولوستل شي نو له دې پرته ئې بل حجت نه وي چي وايي: كه رښتيني يئ نو زمونږ پلرونه راولئ، 26- ووايه: الله مو ژوندي كوي بيا مو مړوي بيا مو د قيامت هغي ورځي ته راغونډوي چي هيڅ شك په كې نشته خو ډېرى خلك نه پوهېږي. 27- او د آسمانونو او زمكي ټولواكي د الله ده، او كومه ورځ چي قيامت قائم شي په دې ورځ به باطلپال تاواني شي. 28- او هره ډله به په ګونډو شوې وګورې، هره ډله به د خپل كتاب لوري ته بلل كېږي، په دې ورځ به د هغه څه بدله دركول كېږي چي تاسو كولو، 29- دا زمونږ هغه كتاب دئ چي ستاسو په اړه حقه وينا كوي، يقيناً چي موږ هغه څه ليكل چي تاسو كول، 30- نو هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عملونه ئې كړي د دوى رب به ئې په خپل رحمت كې داخل كړي، همدا څرګنده بريا ده، 31- خو هغه چي كفر ئې كړى نو آيا تاسو نه وئ چي زما آيتونه درباندي لوستل كېدل او تاسو به لويي غوښتله او مجرم وګړي وئ. 32- او كله چي به وويل شو: يقيناً چي د الله وعده رښتينې ده او د قيامت نښه داسي ده چي هيڅ شك په كې نشته؛ تاسو به ويل: موږ نه پوهېږو چي دا قيامت څه دئ، يقيناً چي يوازي د يوه ګمان (په حد كې) ګمان كوو او موږ متيقن نه يو،

وَبَدَا لَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٣٣
وَقِيلَ ٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰكُمۡ كَمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ هَٰذَا وَمَأۡوَىٰكُمُ
ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ٣٤ ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ ٱتَّخَذۡتُمۡ ءَايَٰتِ
ٱللَّهِ هُزُوٗا وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُخۡرَجُونَ مِنۡهَا وَلَا هُمۡ
يُسۡتَعۡتَبُونَ ٣٥ فَلِلَّهِ ٱلۡحَمۡدُ رَبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَرَبِّ ٱلۡأَرۡضِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ
٣٦ وَلَهُ ٱلۡكِبۡرِيَآءُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٣٧

## سُورَةُ الأَحۡقَافِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ١ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ مَا خَلَقۡنَا
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ٣ قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ
ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ٱئۡتُونِي
بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٤
وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّن يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسۡتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوۡمِ
ٱلۡقِيَٰمَةِ وَهُمۡ عَن دُعَآئِهِمۡ غَٰفِلُونَ ٥

33- او د هغه څه بدوالی به ورته جوت شي چې دوی کړي او هغه څه
به پرې محقق شي چې ملنډې ئې پرې وهلې، 34- او وبه ویل شي: نن
به تاسو داسې هېر کړو لکه چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر
کړی وو، او استوګنځی به مو اور وي او هیڅ مرستندوی به درته نه
وي، 35- دا مو د دې لپاره چې د الله په آیتونه مو ملنډې وهلې او
دنیايي ژوند دوکه کړي وئ، نو نن به نه ترې ایستل کېږي او نه به ئې
عذر قبلېدی شي. 36- نو ستاینې د عالمونو هغه رب ته دي چې هم د
آسمانونو رب دئ او هم د زمکې رب، 37- او په آسمانونو او زمکې کې
لويي ده ته مختص ده او هغه باحکمت عزتمن دئ.

## الأحقاف- مکي سوره- 35 آیتونه

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- حاء، میم، 2- د دې کتاب لېږنه د باحکمت عزتمن الله له لوري
ده، 3- موږ آسمانونه او زمکه او هغه څه چې په دوی دواړو کې دي
له حق او ټاکلې نېټې پرته په بله توګه نه دي پیدا کړي، او هغه چې
کفر ئې کړی له هغه څه اعراض کوونکي دي چې پرې ګواښل شوي.
4- ووایه: آیا پام مو کړی چې له الله پرته کوم څه دربلئ راوئې ښيئ
چې د زمکې څه ئې پیدا کړي او په آسمانونو کې ئې څه شرکت په
برخه دئ؟! تر دې وړاندینی کوم کتاب راته راوړئ یا د علم کومه
پاته شونې؛ که رښتیني یئ، 5- او تر هغه به ډېر تېروتی څوك وي
چې له الله پرته داسې څوك وربلي چې د قیامت تر ورځې د دوی
اجابت نشي کولی او هغوی ئې له دعاء غافل دي؟

وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُواْ لَهُمۡ أَعۡدَآءٗ وَكَانُواْ بِعِبَادَتِهِمۡ كَٰفِرِينَ ٦
وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِلۡحَقِّ لَمَّا
جَآءَهُمۡ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٌ ٧ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ
فَلَا تَمۡلِكُونَ لِي مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِۚ كَفَىٰ
بِهِۦ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٨ قُلۡ مَا كُنتُ
بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا
يُوحَىٰٓ إِلَيَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ٩ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ
ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ
وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠ وَقَالَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡ كَانَ خَيۡرٗا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيۡهِۚ وَإِذۡ لَمۡ يَهۡتَدُواْ
بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفۡكٞ قَدِيمٞ ١١ وَمِن قَبۡلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ
إِمَامٗا وَرَحۡمَةٗۚ وَهَٰذَا كِتَٰبٞ مُّصَدِّقٞ لِّسَانًا عَرَبِيّٗا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ
ظَلَمُواْ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُحۡسِنِينَ ١٢ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ
ٱسۡتَقَٰمُواْ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١٣ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤

6- او کله چې خلك راغونډ کړی شي د دوی دښمنان به شي او د دوی له لمانځنې به انکار کوي. 7- او کله چې زموږ څرګند آيتونه پرې تلاوت شي هغه چې کفر ئې کړی کله چې حق ورشي د هغه په اړه وايي: دا څرګندي کوډي دي، 8- آيا وايي: دا ئې له ځانه جوړ کړی؟! ووایه: که مې له ځانه افتراء کړی وي نو تاسو د الله هيڅ څه راته په واك کې نه لرئ، دی پر هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو په کې لګیا يئ، هغه زما او ستاسو تر منځ د ګواه په توګه کافي دئ، او هغه مهربان بخښونکی دئ، 9- ووایه: زه د پيغمبرانو لومړنی نه يم او نه پوهېږم چې له ما سره به څه کېږي او نه په دې چې له تاسو سره به څه کېږي، او زه يوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کېږي، زه له يوه څرګند نذير پرته بل څه نه يم، 10- ووایه: آيا پام مو دئ چې (څنګه به وي) که دا د الله له لوري وي او تاسو پرې کفر کړی وي او د بني اسرائيلو يوه ګواه هم په ورته ئې ګواهي ورکړې وي نو هغه پرې ايمان راوړی او تاسو کبر کړی؟!! يقيناً چې الله دا ظالم وګړي نه هدايتوي. 11- او هغو چې کفر ئې کړی د هغو په اړه چې ايمان ئې راوړی وويل: که ښه وی نو تر موږ به ئې هغه ته سبقت نه وو کړی، او کله چې په هغه سره هدايت نه شول نو حتماً به وايي: دا پخوانی دروغ دئ، 12- په داسې حال کې چې تر هغه وړاندې د موسی کتاب يو لارښود او يو رحمت وو، او دا د عربي ژبې يو مصدق کتاب دئ؛ د دې لپاره چې هغه پرې وګواښل شي چې ظلم ئې کړی او نېکانو ته يو زېری. 13- يقيناً هغه چې وئې ويل: الله زموږ رب دئ؛ بيا ئې ټينګ پاته کېدل وغوښتل نو پر دوی نه کومه وېره شته او نه به غمجن شي، 14- دوی د جنت خاوندان دي؛ په هغه کې تلپاته؛ د هغه څه يوه بدله چې دوی کول.

وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًاۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًاۖ
وَحَمْلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ
سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ
وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓۖ إِنِّى تُبْتُ
إِلَيْكَ وَإِنِّى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ
مَا عَمِلُواْ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِۖ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ
ٱلَّذِى كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِىٓ
أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِى وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ ٱللَّهَ
وَيْلَكَ ءَامِنْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ
﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم
مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِۖ إِنَّهُمْ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا
عَمِلُواْۖ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا
وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا فَٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ
تَسْتَكْبِرُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾

15- او انسان ته مو له خپل مور پلار سره د ښېګڼې سپارښتنه کړې، مور ئې له کړاو سره حمل کړ او له کړاو سره ئې وزېږاوو، حمل او له تې پرېکون ئې دېرش میاشتې وو، تر هغه چې خپلې مضبوطتیا ته ورسېدو او څلوېښت کلنۍ ته ورسېدو وئې ویل: اې زما ربه! ما ته د دې الهام وکړه چې ستا د هغه نعمت شکر اداء کړم چې پر ما او زما پر مور پلار دې پېرزو کړی او چې داسې نېك عمل وکړم چې ته ئې خوښوې، او په اولاد کې مې اصلاح راپه برخه کړه، یقیناً چې ستا لورې ته مې رجوع کړې او یقیناً چې زه له مسلمانانو یم، 16- دا وګړي هغه دي چې د دوی هغه غوره عمل به قبلوم چې کړی ئې دئ او د جنتیانو په ډله کې به ئې له بدیو تېرېږم، هغه رښتینې وعده چې لدوی سره کېدله. 17- او هغه چې خپل پلار مور ته ئې وویل: تاسو ته دې اف وي، آیا دا وعده راکوئ چې (له قبر به) راوایستل شم، په داسې حال کې چې تر ما وړاندې ډېر نسلونه تېر شوي؟! او دوی دواړه الله ته استغاثه کوي (او وايي:) افسوس پر تا؛ ایمان راوړه، یقیناً چې د الله وعده رښتینې ده، نو وايي: دا یوازې د لومړنیو قصې دي، 18- دا هغه وګړي دي چې د دوی په اړه د پېریانو او انسانانو د هغو ډلو په ضمن کې چې تر دوی وړاندې تېر شوي دا وینا محققه شوې چې یقیناً دوی زیانمن ول. 19- او هر چا ته له هغه سره سم درجې دي چې کړي ئې دي، او دا د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وربشپړ کړي په داسې حال کې چې پر دوی به ظلم نه کېږي. 20- او هغه ورځ چې اور ته به هغه وګړي وړاندې کړی شي چې کفر ئې کړی؛ په خپل دنیايي ژوند کې مو خپل پاکیزه نعمتونه ختم کړل او ترې متمتع شوئ، نو نن به د سپکوونکي عذاب سزا درکول کېږي؛ له دې کبله چې په زمکې کې مو په ناحقه تکبر کولو او له دې کبله چې تاسو سرغړاوی کولو.

۞وَٱذۡكُرۡ أَخَا عَادٍ إِذۡ أَنذَرَ قَوۡمَهُۥ بِٱلۡأَحۡقَافِ وَقَدۡ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ
مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦٓ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّيٓ أَخَافُ
عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ٢١ قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا لِتَأۡفِكَنَا عَنۡ
ءَالِهَتِنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٢٢ قَالَ إِنَّمَا
ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ
قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ٢٣ فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضٗا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ قَالُواْ هَٰذَا
عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ
٢٤ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا فَأَصۡبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمۡۚ
كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٢٥ وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰهُمۡ فِيمَآ إِن
مَّكَّنَّٰكُمۡ فِيهِ وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ سَمۡعٗا وَأَبۡصَٰرٗا وَأَفۡـِٔدَةٗ فَمَآ أَغۡنَىٰ
عَنۡهُمۡ سَمۡعُهُمۡ وَلَآ أَبۡصَٰرُهُمۡ وَلَآ أَفۡـِٔدَتُهُم مِّن شَيۡءٍ إِذۡ كَانُواْ
يَجۡحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ٢٦
وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَا مَا حَوۡلَكُم مِّنَ ٱلۡقُرَىٰ وَصَرَّفۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّهُمۡ
يَرۡجِعُونَ ٢٧ فَلَوۡلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرۡبَانًا
ءَالِهَةَۢۖ بَلۡ ضَلُّواْ عَنۡهُمۡۚ وَذَٰلِكَ إِفۡكُهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ٢٨

21- او د عاد ورور درياد کړه؛ هغه مهال چې خپل قوم ئې په احقاف کې انذار کړ؛ په داسې حال کې چې تر ده وړاندې او وروسته انذاروونکي (پيغمبران) تېر شوي وو چې له الله پرته بل څوك مه لمانځئ، يقيناً چې زه پر تاسو د يوې سترې ورځې له عذاب وېرېږم، 22- وئې ويل: آيا د دې لپاره راغلى يې چې موږ له خپلو معبودانو واړوې، که له رښتينو يې هغه څه راوړه چې وعده ئې راکوې، 23- وئې ويل: دا علم يوازې له الله سره دئ او زه هغه څه دررسوم چې ورسره لېږل شوى يم، خو زه مو داسې وګړي ګورم چې جهالت کوئ، 24- نو کله چې ئې هغه د يوې داسې وريځې په بڼې کې وليد چې د دوى درو ته ئې مخه کړې؛ وئې ويل: دا داسې وريځ ده چې باران به راباندې وورو وي، نه؛ بلکې دا همغه څه دي چې تلوار مو پرې کولو، يوه سيلۍ چې دردناك عذاب په کې دئ، 25- د خپل رب په حکم هر څه ورانوي، نو داسې شول چې له کورونو پرته ئې هيڅ څه نه ليدل کېدل، مجرمو وګړو ته همداسې سزا ورکوو. 26- او يقيناً چې دوى مو په داسې څه کې متمکن کړي ول چې تاسو مو نه يئ په کې متمکن کړي، او دوى ته مو غوږونه، سترګې او زړونه ورکړي ول، خو غوږونو، سترګو او زړونو ئې کوم څه ترې دفع نه کړى شو؛ له دې کبله چې د الله په اړه ئې انکار کولو او هغه څه پرې محقق شو چې ملنډې ئې پرې وهلې، 27- او يقيناً چې له کليوالو مو هغه هلاك کړل چې ستاسو شاوخوا کې ول، او آيتونه مو په مکرره توګه بيان کړل چې راوګرځي، 28- نو ولې هغو د دوى مرسته ونه کړه چې له الله پرته ئې د نژدېوالي سبب معبودان ګڼل، بلکې ترې ورك شول، او دا د دوى دروغ او هغه څه وو چې له ځانه ئې افتراء کول.

وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ
قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ
إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ
يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٠ يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ
ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ
أَلِيمٖ ٣١ وَمَن لَّا يُجِبۡ دَاعِيَ ٱللَّهِ فَلَيۡسَ بِمُعۡجِزٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَيۡسَ
لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءُۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٣٢ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ
ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَلَمۡ يَعۡيَ بِخَلۡقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ
أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰۚ بَلَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٣٣ وَيَوۡمَ يُعۡرَضُ
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيۡسَ هَٰذَا بِٱلۡحَقِّۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَرَبِّنَاۚ قَالَ
فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٣٤ فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ
ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ
لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةٗ مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ
٣٥

## سُورَةُ مُحَمَّدٍ

29- او کله چې د پېريانو يوه داسې ډله مو ستا لوري ته راوگرځوله چې قرآن ته ئې غوږ نيولو، کله چې ورته حاضر شول وئې ويل: چوپ شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو، خپل قوم ته د خبرداري ورکونکو په توگه ستانه شول؛ 30- وئې ويل: اې زموږ قومه! يقيناً چې موږ داسې يو کتاب واورېدو چې تر موسی وروسته نازل شوی، د هغه څه مصدق چې ترې وړاندې ول، د حق لوري او مستقيمې لارې ته لارښوونه کوي. 31- اې زموږ قومه! د الله د بلونکي بلنه ومنئ او ايمان پرې راوړئ چې ستاسو ځيني گناهونه دروبخښي او له دردناك عذاب مو وژغوري، 32- او څوك چې د الله د بلونکي اجابت ونه کړي نو نه په زمکې کې عاجزوونکی دئ او نه له ده پرته پالونکي ورته شته، همدا دوی په څرگندې تېروتنې کې دي. 33- آيا دې ته ئې پام نه دئ کړی هغه الله چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي او په پيدا کولو ئې نه دئ ستومانه شوی په دې قادر دئ چې مړي راژوندي کړي؟! ولې نه؛ يقيناً چې هغه په هر څه توانمن دئ، 34- او په کومه ورځ چې اور ته هغه وگړي وړاندې کړی شي چې کفر ئې کړی (ورته وبه ويل شي:) آيا دا (عذاب) رښتينی نه دئ؟! وبه وايي: ولې نه؛ په خپل رب مو قسم، وبه وايي: نو د هغه کفر له کبله چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ. 35- نو داسې صبر کوه لکه چې هوډمنو پيغمبرانو صبر کړی او د دوی په اړه تلوار مه کوه، کومه ورځ چې دوی هغه څه وگوري چې وعده ئې ورکول کېږي داسې به وي لکه چې د ورځې له يوه ساعت پرته ئې ځنډ او درنگ نه وي کړی. دا يو ابلاغ دئ، نو آيا له دغو فاسقو وگړو پرته به بل څوك هلاك کړی شي؟!

## محمد- مکي سوره- 38 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ١ وَٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُواْ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٖ وَهُوَ ٱلۡحَقُّ مِن
رَّبِّهِمۡ كَفَّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَأَصۡلَحَ بَالَهُمۡ ٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ٱتَّبَعُواْ ٱلۡبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّبَعُواْ ٱلۡحَقَّ مِن رَّبِّهِمۡۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ
ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمۡثَٰلَهُمۡ ٣ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرۡبَ ٱلرِّقَابِ
حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثۡخَنتُمُوهُمۡ فَشُدُّواْ ٱلۡوَثَاقَ فَإِمَّا مَنَّۢا بَعۡدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ
ٱلۡحَرۡبُ أَوۡزَارَهَاۚ ذَٰلِكَۖ وَلَوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنۡهُمۡ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَاْ
بَعۡضَكُم بِبَعۡضٖۗ وَٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٤
سَيَهۡدِيهِمۡ وَيُصۡلِحُ بَالَهُمۡ ٥ وَيُدۡخِلُهُمُ ٱلۡجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمۡ ٦ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ٧ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٨ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ
ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٩ ۞أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ
كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۖ وَلِلۡكَٰفِرِينَ أَمۡثَٰلُهَا ١٠
ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوۡلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلۡكَٰفِرِينَ لَا مَوۡلَىٰ لَهُمۡ ١١

## د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- هغه چې کفر ئې کړی او د الله له لارې ئې ډډه کړې؛ عملونه ئې ورحبط کړل. 2- او هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي او پر هغه څه ئې ایمان راوړی چې پر محمد نازل شوی او هغه د دوی د رب له لوري حق (رښتینی پیغام) دئ، د دوی بدغوني خصلتونه ئې ترې وپوښل او د دوی حالت ئې غوره او سم کړ، 3- دا د دې لپاره چې هغو د باطل متابعت وکړ چې کفر ئې کړی او هغو چې ایمان ئې راوړی د هغه حق متابعت وکړ چې د دوی د رب له لوري دئ، الله په دې توګه خلکو ته د دوی مثالونه بیانوي. 4- نو کله چې له کافرانو سره مخامخ شئ نو د غاړو وهل دي (دنده مو)، تر هغه چې ښه ئې ووژنئ، بیا (ئې د تړلو لپاره) بندونه کلك کړئ، بیا یا احسان پرې کول دي او یا فدیه (واخلئ)، تر هغه چې جګړه خپل اوزار کېږدي، همداسي ده او که الله وغواړي نو حتماً به لدوی انتقام واخلي خو د دې لپاره چې ستاسو ځیني په ځینو نورو سره وآزمويي، او هغه چې د الله په لار کې وژل شوي نو هیڅکله به د دوی عملونه ضائع نه کړي، 5- حتماً به ئې هدایت کړي او حالت به ئې غوره او سم کړي، 6- او هغه جنت ته به ئې ننباسي چې دوی ته ئې معرفي کړی. 7- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! که د الله ملتیا وکړئ ستاسو ملتیا به وکړي او ستاسو ګامونه به ټینګ کړي، 8- او هغه چې کفر ئې کړی نو دوی ته پرمخي لوېدل دي او عملونه ئې بې لارې (هدر) کړل. 9- دا د دې لپاره چې دوی له هغه څه کرکه وکړه چې الله نازل کړی نو د دوی عملونه ئې حبط کړل. 10- نو آیا په ځمکې کې نه دي ګرځېدلي چې لیدلي ئې وی د هغو پایله څنګه وه چې تر دوی وړاندې ول، الله (هر څه) پرې راوران کړل، او دغو کافرانو ته د همغو په څېر عقوبتونه دي. 11- دا د دې لپاره چې الله د هغو مولا دئ چې ایمان ئې راوړی او دا چې کافرانو ته هیڅ مولا نشته.

إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ
ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثۡوٗى لَّهُمۡ ١٢ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةٗ مِّن
قَرۡيَتِكَ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَتۡكَ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ فَلَا نَاصِرَ لَهُمۡ ١٣ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ
بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّهِۦ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُم ١٤ مَّثَلُ
ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن
لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ
مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ
فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ١٥ وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ
إِلَيۡكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنۡ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ
ءَانِفًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡ ١٦
وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ١٧ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا
ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ
ذِكۡرَىٰهُمۡ ١٨ فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ ١٩

12- یقیناً چې الله به هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي داسي جنتونو ته ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي، او هغه چې کفر ئې کړی داسي متمتع کېږي او خوري لکه چې څاروي خوراك کوي او اور به د دوی ټمځی وي. 13- او د کلیو څومره داسي ول چې ستا تر دغه کلي چې ته ئې وایستلې د ځواك له پلوه ډېر مضبوط ول؛ هلاك مو کړل او هیڅ مرستندوی ئې نه وو. 14- نو آیا هغه چې د خپل رب پر یوه څرګند دریځ وي د هغه چا په څېر دئ چې بدي کړني ئې ورته ښایسته کړی شوې او د خپلو هوسونو متابعت ئې کړی؟! 15- د هغه جنت مثال چې متقیانو ته ئې وعده ورکړی شوې (داسي دئ): په هغه کې د داسي اوبو ویالې دي چې نه ګنده کېږي، او د داسي شیدو ویالې چې خوند ئې نه بدلېږي، او د داسي شرابو ویالې چې څښونکو ته خوندور دي، او د داسي شاتو ویالې چې صفا کړی شوي، او دوی ته په هغه کې هر ډول مېوې دي او د خپل رب بخښنه، آیا (دا به) د هغه چا په څېر وي چې په اور کې تلپاته دئ او داسي ګرمي اوبه به پرې څښل کېږي چې کولمې به ئې ټوټې ټوټې کړي؟!! 16- او د دوی ځیني داسي دي چې تا ته غوږ نیسي تر هغه چې ستا له خوا ووځي؛ نو هغو ته چې پوهه ئې په برخه شوې وایي: همدا اوس ئې څه وویل؟ دوی هغه وګړي دي چې الله د هغوی پر زړونو مهر لګولی او په خپلو هوسونو پسي تللي. 17- او هغه چې هدایت شوي هدایت ئې ورزیات کړ او د دوی تقوی ئې ورپه برخه کړه. 18- نو آیا له دې پرته بل څه ته انتظار کوي چې د قیامت ورځ په ناڅاپي توګه ورته راشي؟!! یقیناً چې نښې ئې راغلې دي، نو کله چې ورته راشي پند اخیستل به ئې څنګه په برخه شي؟! 19- نو پوه شه چې یقیناً له الله پرته بل معبود نشته، او د خپلي ګناه لپاره بخښنه غواړه او د مؤمنو نارینه وو او ښځینه وو لپاره هم، او الله ستاسو د ګرځېدو راګرځېدو پر ځای هم پوهېږي او پر مېشت ځای مو هم.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ
مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ
يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٠
طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ
خَيۡرٗا لَّهُمۡ ٢١ فَهَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن تَوَلَّيۡتُمۡ أَن تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرۡحَامَكُمۡ ٢٢ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فَأَصَمَّهُمۡ
وَأَعۡمَىٰٓ أَبۡصَٰرَهُمۡ ٢٣ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ
أَقۡفَالُهَآ ٢٤ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ
لَهُمُ ٱلۡهُدَى ٱلشَّيۡطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمۡ وَأَمۡلَىٰ لَهُمۡ ٢٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ
قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ سَنُطِيعُكُمۡ فِي بَعۡضِ ٱلۡأَمۡرِۖ
وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِسۡرَارَهُمۡ ٢٦ فَكَيۡفَ إِذَا تَوَفَّتۡهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ ٢٧ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱتَّبَعُواْ مَآ أَسۡخَطَ
ٱللَّهَ وَكَرِهُواْ رِضۡوَٰنَهُۥ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٢٨ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ
فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخۡرِجَ ٱللَّهُ أَضۡغَٰنَهُمۡ ٢٩

20- او هغه چې ایمان ئې راوړی وایي: ولې کومه سوره نازله نشوه (چې د جګړې اجازه ورکړي) خو کله چې پرېکنده سوره نازله شوه او په هغې کې د جګړې یادونه وشوه نو د بیمارو زړونو خاوندان دې لیدل چې ستاسو لورې ته ئې داسې هك پك کتل لکه د مرګ له هیبته د بې سده کس لیدل، 21- دوی ته خو اطاعت او د منلو وړ خبره په کار وه، او کله چې کار مصمم شو که ئې له الله سره صداقت کړی وی دا حتماً ورته غوره وو. 22- نو آیا دې ته نژدې یئ چې که (د چارو) متولي شئ په زمکې کې به فسادونه کوئ او د خپلوۍ اړیکې به شلوئ؟! 23- دوی همغه دي چې الله لعنت کړي او له کبله ئې کاڼه کړي او سترګې ئې ورړندې کړې. 24- نو آیا په قرآن کې تدبر نه کوي یا ئې پر زړونو خپل کلپونه دي. 25- یقیناً هغه چې پر خپلو شاګانو واوښتل له هغه وروسته چې هدایت ورته څرګند شو؛ شیطان دا ورته سینګار کړی او هیلې ئې ورته تلقین کړې. 26- دا له دې کبله چې دوی هغو ته چې د الله له لورې نازل شوي (کتاب) په اړه ئې کرکه وښوده؛ وویل: حتماً به په ځینو چارو کې ستاسو اطاعت وکړو او الله د دوی په اسرارو (په پټو ویناوو او کړنو) پوهېږي. 27- نو هغه مهال به څنګه وي چې فرشتې د دوی روح قبضوي او پر مخ او شا ئې ګوزارونه ورکوي. 28- دا له دې کبله چې دوی د هغه څه متابعت وکړ چې الله ئې په قهر کړی او د ده له رضاء ئې کرکه وکړه، نو د دوی عملونه ئې حبط کړل. 29- آیا هغه چې په زړونو کې ئې بیماري ده داسې انګېري چې الله به هیڅکله د دوی کینې رابهر نه کړي؟!

وَلَوۡ نَشَآءُ لَأَرَيۡنَٰكَهُمۡ فَلَعَرَفۡتَهُم بِسِيمَٰهُمۡۚ وَلَتَعۡرِفَنَّهُمۡ فِي لَحۡنِ
ٱلۡقَوۡلِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٠﴾ وَلَنَبۡلُوَنَّكُمۡ حَتَّىٰ نَعۡلَمَ
ٱلۡمُجَٰهِدِينَ مِنكُمۡ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبۡلُوَاْ أَخۡبَارَكُمۡ ﴿٣١﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَشَآقُّواْ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعۡدِ مَا
تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗا وَسَيُحۡبِطُ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٣٢﴾
*يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبۡطِلُوٓاْ
أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ
مَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡ ﴿٣٤﴾ فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى
ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ﴿٣٥﴾
إِنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ وَلَهۡوٞۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤۡتِكُمۡ
أُجُورَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ ﴿٣٦﴾ إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ
تَبۡخَلُواْ وَيُخۡرِجۡ أَضۡغَٰنَكُمۡ ﴿٣٧﴾ هَـٰٓأَنتُمۡ هَـٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ
لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُۖ وَمَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا
يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦۚ وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُۚ وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ
يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم ﴿٣٨﴾

30- او كه وغواړو حتماً به دوى دروښيو چې بيا به ئې حتماً له خپلو
څېرو پېژنې، او هرومرو به ئې د وينا له طرز او بڼې وپېژنې او الله
ستاسو پر عملونو پوهېږي. 31- او حتماً به تاسو وآزمويو تر هغه چې
ستاسو مجاهدين او صبركوونكي معلوم كړو او ستاسو خبرې وآزمويو.
32- يقيناً هغه چې كفر ئې وكړ او د الله له لارې ئې امتناع وكړه او له
پيغمبر سره ئې مخالفت وكړ، او دا له هغه وروسته چې هدايت ورته
جوت شو؛ هيڅكله به الله ته كوم ضرر ونه رسوي او حتماً به د دوى
عملونه حبط او شنډ كړي. 33- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! د الله
اطاعت وكړئ او د پيغمبر اطاعت وكړئ او خپل عملونه مه باطلوئ.
34- يقيناً هغه چې كفر ئې وكړ او د الله له لارې په ډډه شول بيا په
داسې حال كې مړه شول چې كافران ول؛ الله به هيڅكله دوى ته بخښنه
ونه كړي. 35- نو مه سست كېږئ، او روغې جوړې ته بلنه مه وركوئ،
په داسې حال كې چې تاسو لوړ يئ او الله له تاسو سره دئ او هيڅكله
به ستاسو عملونه درته ضائع نه كړي. 36- يقيناً چې د دنيا ژوند خو
يوازې لوبه او بېهوده مشغولتيا ده، او كه ايمان راوړئ او تقوى ولرئ
نو ستاسو اجرونه به دركړي او مالونه به مو نه درنه غواړي. 37- كه د
هغې غوښتنه درنه وكړي بيا ټينګار درباندې وكړي بخل به وكړئ او
ستاسو كينې به رابهر كړي. 38- اې تاسو دغو وګړو! بلل كېږئ چې د
الله په لار كې انفاق وكړئ نو ستاسو ځينې بخل كوي، او څوك چې بخل
وكړي له خپل ځان ئې سپماوى او بخل كړى، په داسې حال كې چې الله
غني دئ او تاسو نېستمن، او كه ډډه وكړئ نو ستاسو پرځاى به بل
قوم غوره كړي بيا به هغوى ستاسو په څېر نه وي.

# سُورَةُ الفَتۡحِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحًا مُّبِينًا ١ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ
وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسۡتَقِيمًا ٢
وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصۡرًا عَزِيزًا ٣ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡۗ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ٤ لِّيُدۡخِلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَيُكَفِّرَ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوۡزًا عَظِيمًا ٥
وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ وَٱلۡمُشۡرِكَٰتِ
ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِۚ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ
وَلَعَنَهُمۡ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ٦ وَلِلَّهِ جُنُودُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ٧ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ
شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ
وَتُوَقِّرُوهُۚ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةً وَأَصِيلًا ٩

## الفتح- مدني سوره- 29 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- یقیناً چې موږ څرګنده فتح درپه برخه کړه، 2- داسې چې الله
تا ته ستا هغه ګناهونه هم وبخښي چې تېر شوي او هغه هم
چې وروسته شوي، او خپل نعمت درباندې بشپړ کړي او مستقیمه
لار دروښیي 3- او په ځواکمنې او عزتمنې مرستې سره ستا ملاتړ
وکړي. 4- دی هغه ذات دئ چې د مؤمنانو په زړونو کې ئې سکینه
نازله کړه، چې خپل ایمان په نور ایمان سره زیات کړي او د
آسمانونو او زمکې ټولې لښکرې د الله دي او الله باحکمت پوه دئ.
5- د دې لپاره چې مؤمنان او مؤمنانې هغو جنتونو ته داخل کړي
چې ترې لاندې ویالې بهېږي، تلپاته په هغه کې، او سیئات ترې
وپوښي، او همدا د الله په نزد کې ستره بریا ده، 6- او د دې لپاره
چې هغه منافقین او منافقانې او مشرکین او مشرکانې تعذیب کړي
چې د الله په اړه بدګمانې کوونکي دي، بده راچورلېدا پر دوی ده،
او الله دوی په خپل غضب اخته کړي او دوی ئې رټلي او جهنم ئې
ورته تیار کړی، د ورتګ څومره بد ټاټوبی!! 7- او د آسمانونو او
زمکې ټولې لښکرې د الله دي او الله باحکمت عزتمن دئ. 8- یقیناً
چې ته مو د شاهد، زېری ورکوونکي او انذاروونکي په توګه لېږلی
یې، 9- چې پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ، ملتیا ئې وکړئ،
درناوی ئې وکړئ، او سبا او ماښام د ده تسبیح ووایئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ فَمَن
نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَوۡفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ
فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ١٠ سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ
شَغَلَتۡنَآ أَمۡوَٰلُنَا وَأَهۡلُونَا فَٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَاۚ يَقُولُونَ بِأَلۡسِنَتِهِم مَّا لَيۡسَ فِي
قُلُوبِهِمۡۚ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا أَوۡ
أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢاۚ بَلۡ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرَۢا ١١ بَلۡ ظَنَنتُمۡ أَن
لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهۡلِيهِمۡ أَبَدٗا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي
قُلُوبِكُمۡ وَظَنَنتُمۡ ظَنَّ ٱلسَّوۡءِ وَكُنتُمۡ قَوۡمَۢا بُورٗا ١٢ وَمَن لَّمۡ يُؤۡمِنۢ
بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَعِيرٗا ١٣ وَلِلَّهِ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١٤ سَيَقُولُ ٱلۡمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقۡتُمۡ إِلَىٰ مَغَانِمَ
لِتَأۡخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعۡكُمۡۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُواْ كَلَٰمَ ٱللَّهِۚ قُل لَّن
تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمۡ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبۡلُۖ فَسَيَقُولُونَ بَلۡ تَحۡسُدُونَنَاۚ بَلۡ
كَانُواْ لَا يَفۡقَهُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٥

10- بېشکه هغه چي له تا سره بیعت کوي په حقیقت کې له الله سره بیعت کوي، د الله تعالی لاس د دوی پر لاسونو د بره دئ، او څوك چي (خپل بیعت) مات کړي نو یوازي د ځان په تاوان ئې ماتوي، او څوك چي هغه څه بشپړ کړي چي له الله سره ئې پرې ژمنه کړې نو ژر به ستر اجر ورکړي. 11- وروسته پاته کړی شوي کوچیان به هرو مرو تا ته وايي: خپل مال او عیال مشغول کړو، په خپلو ژبو هغه څه وايي چي په زړونو کې ئې نشته، ورته ووايه: نو هغه څوك دئ چي د الله له لوري تاسو ته د څه واکمن وي، که هغه د ضرر اراده درته وکړي یا د کومي ګټي اراده، داسي نده بلکي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ، 12- بلکي تاسو ګمان وکړ چي پیغمبر او مؤمنان به هیڅکله خپلو خپلوانو ته (روغ رمټ) راونه ګرځي، همدې (تصور) ستاسو په زړونو کې ښایست وموند او بدګماني مو وکړه، او تاسو بې خیره وګړي یاست. 13- او څوك چي پر خدای او د ده پر رسول ایمان رانه وړي نو موږ دغو کافرانو ته لمبې تیاري کړې. 14- او د آسمانونو او زمکي ټولواکي د الله ده، چا ته چي وغواړي بخښنه کوي او څوك چي وغواړي په عذاب ئې اخته کوي، په داسي حال کې چي الله مهربان بخښونکی دئ. 15- هغه مهال چي تاسو د ځینو غنائمو په لوري خوځېږئ چي ترلاسه ئې کړئ؛ حتماً به وروسته پاته کړی شوي درته وايي: موږ پرېږدئ چي درپسې شو، غواړي د الله پرېکړه بدله کړي، ووایه: هیڅکله به زموږ متابعت ونه کړئ، الله لا له وړاندي همداسي ویلي، نو حتماً به وايي: بلکي له موږ سره حسد کوئ، نه؛ بلکي دوی نه پوهېږي مګر لږ،

قُل لِّلۡمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ
تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَۖ فَإِن تُطِيعُواْ يُؤۡتِكُمُ ٱللَّهُ أَجۡرًا حَسَنٗاۖ وَإِن
تَتَوَلَّوۡاْ كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٦﴾ لَّيۡسَ عَلَى
ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ وَمَن
يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن
يَتَوَلَّ يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٧﴾ ۞لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ
يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ
عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا قَرِيبٗا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةٗ يَأۡخُذُونَهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ
عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةٗ تَأۡخُذُونَهَا فَعَجَّلَ
لَكُمۡ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ أَيۡدِيَ ٱلنَّاسِ عَنكُمۡ وَلِتَكُونَ ءَايَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ
وَيَهۡدِيَكُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ﴿٢٠﴾ وَأُخۡرَىٰ لَمۡ تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهَا قَدۡ
أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا ﴿٢١﴾ وَلَوۡ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ
ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴿٢٣﴾

16- د کوچیانو وروسته پاته کړی شوو ته ووایه: د داسي قوم لوري ته به وبلل شئ چي کلك جګړمار دي؛ د دې لپاره چي یا ورسره وجنګېږئ یا مسلمان شي، نو که مو اطاعت وکړ؛ الله به غوره بدله درکړي او که مو داسي اعراض وکړ لکه چي تر دې وړاندي مو اعراض کړی وو؛ په دردوونکي عذاب سره به تاسو تعذیب کړي. 17- نه پر ړانده کومه ګناه شته، نه پر ګوډ کومه ګناه شته او نه پر ناروغ کومه ګناه شته، او څوك چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي داسي جنتونو ته به ئې داخل کړي چي ترې لاندي ویالې بهېږي، او څوك چي اعراض وکړي په دردونکي عذاب سره به ئې تعذیب کړي. 18- یقیناً چي الله هغه مهال له دغو مؤمنانو راضي شو چي تر وني لاندي ئې له تا سره بیعت کولو، او پر هغه څه پوه شو چي د دوی په زړونو کي وو نو ځکه ئې پر دوی سکینه نازله کړه او نژدې فتح ئې د بدلې په توګه ورکړه، 19- او ډېر غنائم چي دوی به ئې ترلاسه کوي، او الله باحکمت عزتمن دئ. 20- الله له تاسو سره د ډېرو داسي غنائمو وعده کړې چي تاسو به ئې ترلاسه کوئ، عجالتاً ئې دا درپه برخه کړه، او د دغو خلکو لاسونه ئې له تاسو دفع کړل، او د دې لپاره چي د مؤمنانو لپاره یوه څرګنده نښه (بېلګه) شئ او تاسي په سمي لار هدایت کړي. 21- او یوه بله چي تاسو لا تراوسه پرې توانېدلي نه یئ په داسي حال کي چي الله پرې احاطه کړې، او الله پر هر څه قادر دئ. 22- او که هغه چي کفر ئې کړی له تاسو سره جنګېدلي وی حتماً به ئې شاګاني اړولې وې؛ بیا به ئې نه کوم ولي موندلی وو او نه کوم مرستندوی، 23- د الله هغه سنت چي وړاندي تېر شوی او د الله سنت ته به هیڅ بدلون ونه مومې.

وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيۡدِيَهُمۡ عَنكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ عَنۡهُم بِبَطۡنِ مَكَّةَ
مِنۢ بَعۡدِ أَنۡ أَظۡفَرَكُمۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾
هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡهَدۡىَ مَعۡكُوفًا
أَن يَبۡلُغَ مَحِلَّهُۥۚ وَلَوۡلَا رِجَالٞ مُّؤۡمِنُونَ وَنِسَآءٞ مُّؤۡمِنَٰتٞ لَّمۡ تَعۡلَمُوهُمۡ
أَن تَطَـُٔوهُمۡ فَتُصِيبَكُم مِّنۡهُم مَّعَرَّةُۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۖ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ فِى
رَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ لَوۡ تَزَيَّلُواْ لَعَذَّبۡنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا
﴿٢٥﴾ إِذۡ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ
ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ
وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهۡلَهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ لَّقَدۡ صَدَقَ
ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ
ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ
فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتۡحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ
بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾

24- او دی هغه ذات دئ چي د مکې دننه ئې د دوی لاسونه له تاسو تم کړل او ستاسو لاسونه له دوی، له هغه وروسته چي تاسو ئې پرې برلاسي کړئ، او الله د هغه څه ښه ليدونکی وو چي تاسو کول. 25- دوی همغه دي چي کفر ئې وکړ او له مسجدالحرام ئې ستاسو (د تګ) مخنيوی وکړ، په داسي حال کي چي د قربانۍ څاروي هم د حلالېدو خپل ځای ته له رسېدو منع کړی شوي وو، او که هغه مؤمنان نارينه او مؤمني مېرمني نه وی چي تاسو نه پېژندل؛ داسي نه چي په ناپوهۍ سره ئې ترپښو لاندي کړئ او د دوی له کبله به تاسو ته په ناخبرۍ کي پېغور متوجه شي، د دې لپاره چي الله هغه څوك په خپل رحمت کي داخل کړي چي دی ئې غواړي، که (ترې) بېل شوي وی نو د دوی هغه به مو په دردناك عذاب اخته کړي وو چي کفر ئې کړی. 26- هغه مهال چي کافر شوو په خپلو زړونو کي جاهلانه حميت (ننګ) رامنځته کړ نو الله پر خپل پيغمبر او پر مؤمنانو خپله سکينه نازله کړه او د تقوی په وينا ئې مقيد کړل په داسي حال کي چي د همدې مستحق او وړ ول، او الله په هر څه ښه پوه دئ. 27- يقيناً چي الله د خپل رسول حقيقي خوب رښتينی کړ، که خدای وغوښتل حتماً به مسجدالحرام ته په داسي حال کي خوندي او په امن سره ننوځئ چي (له عمرې وروسته به) خپل وېښتان يا خريئ يا لنډوئ، وېره به نه لرئ، نو په هغه څه پوه شوی چي تاسو پرې پوه نه ياست، تر دې وړاندي ئې بله نژدې بريا او فتح مقدر کړې. 28- دی هغه ذات دئ چي خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی چي پر ټولو اديانو ئې غالب کړي، او الله د شاهد په توګه کافي دئ.

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ
تَرَىٰهُمۡ رُكَّعٗا سُجَّدٗا يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗاۖ سِيمَاهُمۡ فِي
وُجُوهِهِم مِّنۡ أَثَرِ ٱلسُّجُودِۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي
ٱلۡإِنجِيلِ كَزَرۡعٍ أَخۡرَجَ شَطۡـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسۡتَغۡلَظَ فَٱسۡتَوَىٰ عَلَىٰ
سُوقِهِۦ يُعۡجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلۡكُفَّارَۗ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةٗ وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ﴿٢٩﴾

## سُورَةُ الحُجُرَاتِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ
إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿١﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ
فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ
أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ﴿٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ
أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ
لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ ﴿٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ
ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤﴾

29- محمد چي د الله رسول دئ او هغه کسان چي له ده سره دي پر کافرانو شديد او په خپلو منځونو کي رحم کوونکي دي. دوی به په داسي حال کي گورې چي رکوع کوونکي او سجده کوونکي دي، د الله فضل او رضاء لټوي، د سجدو له امله د دوی په مخونو کي د دوی نښي ځرگندي، دا په تورات کي د دوی مثال راغلی، او مثال ئې په انجيل کي هغه کر ته ورته دئ چي له زمکي خپل تېغ (نوغی) راوباسي، بيا ئې مضبوط کړي، بيا پرېړ شي، بيا پر خپل ډډ ودرېږي، داسي چي کرونکي حيران کړي، د دې لپاره چي کافران پرې غضبناك کړي، الله د دوی له هغو سره چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د بخښني او ستر اجر وعده کړې ده.

## الحجرات- مدني سوره- 18 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! د الله او د هغه د پيغمبر په وړاندي
مخکي مه کېږئ او له الله ووېرېږئ، يقيناً چي الله ښه پوه
اورېدونکی دئ. 2- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! خپل غږونه د پيغمبر
تر غږ مه اوچتوئ او هغه ته په جگ غږ سره خبره مه کوئ، هغسي
لکه ستاسو د ځينو ځينو نورو ته جگ غږ، داسي نه چي عملونه مو
حبط شي په داسي حال کي چي نه به پوهېږئ. 3- يقيناً هغه چي خپل
غږونه د رسول الله په خوا کي ټيټوي؛ دوی هغه دي چي الله ئې زړونه
د تقوی لپاره عيار کړي، دوی ته بخښنه او ستر اجر دئ. 4- يقيناً هغه
چي تا ته د حجرو له شا چيغي وهي ډېری ئې تعقل نه کوي،

رَّحِيمٌ ۝٥ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن
تُصِيبُواْ قَوۡمَۢا بِجَهَٰلَةٖ فَتُصۡبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلۡتُمۡ نَٰدِمِينَ ۝٦ وَٱعۡلَمُوٓاْ
أَنَّ فِيكُمۡ رَسُولَ ٱللَّهِۚ لَوۡ يُطِيعُكُمۡ فِي كَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ لَعَنِتُّمۡ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيۡكُمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِي قُلُوبِكُمۡ وَكَرَّهَ
إِلَيۡكُمُ ٱلۡكُفۡرَ وَٱلۡفُسُوقَ وَٱلۡعِصۡيَانَۚ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ۝٧
فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعۡمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ۝٨ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ فَإِنۢ بَغَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا عَلَى ٱلۡأُخۡرَىٰ
فَقَٰتِلُواْ ٱلَّتِي تَبۡغِي حَتَّىٰ تَفِيٓءَ إِلَىٰٓ أَمۡرِ ٱللَّهِۚ فَإِن فَآءَتۡ فَأَصۡلِحُواْ
بَيۡنَهُمَا بِٱلۡعَدۡلِ وَأَقۡسِطُوٓاْۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٩ إِنَّمَا
ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ
تُرۡحَمُونَ ۝١٠ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن
يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا
مِّنۡهُنَّۖ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ
ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝١١

5- او که دوی تر هغه صبر کړی وی چې ته وروتلی وی یقیناً دا ورته غوره وو، او الله مهربان بخښونکی دئ. 6- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې کوم فاسق کوم خبر درته راوړي نو ښه څېړنه وکړئ؛ داسې نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره تاوان ورسوئ او بیا پر هغه څه پښېمان شئ چې ومو کړل، 7- او په دې پوه شئ چې په تاسو کې د الله رسول دئ، که په ډېری چارو کې ستاسو خبره ومني نو دا به مو وځوروي، خو الله تاسو ته ایمان محبوب وګرځولو او هغه ئې ستاسو په زړونو کې ښایسته کړ، او کفر، فسق او سرغړاوی ئې درته کرکجن کړ، همدا دوی په سم لوري تلونکي دي، 8- د الله یو فضل او یو نعمت، او الله باحکمت پوه دئ. 9- او که د مؤمنانو دوه ډلې په خپلو کې وجنګېدلې نو د دوی تر منځ روغه جوړه وکړئ، نو که (له صلحې وروسته) کومې یوې ئې پر بلې تېری وکړ نو له هغې سره وجنګېږئ چې تېری ئې کړی تر هغه چې د الله حکم ته ستنه شي، نو که ستنه شوه د دوی تر منځ په عدل او قسط سره مصالحه وکړئ، یقیناً چې الله مقسطین خوښوي. 10- یقیناً چې مؤمنان (په خپلو منځونو کې) ورونه دي، نو د خپلو دوو ورونو تر منځ روغه جوړه وکړئ او له الله ووېرېږئ چې رحم درباندې وشي. 11- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! نه دې یوه ډله پر بلې ډلې تمسخر کوي؛ ښایي هغوی به تر دوی غوره وي، او نه دې ځینې ښځې پر ځینو نورو ښځو؛ ښایي هغوی به تر دوی غوره وي، او په خپل منځ کې (یو بل ته) عیب مه منسوبوئ، او یو بل په بدو القابو مه یادوئ، له ایمان (راوړلو) وروسته بد نوم (فسوق) دئ، او څوک چې توبه ونه کړي همدا دوی ظالمان دي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ
وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمۡ أَن
يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ مَيۡتٗا فَكَرِهۡتُمُوهُۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٞ رَّحِيمٞ
١٢ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ
شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ
عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣ ۞قَالَتِ ٱلۡأَعۡرَابُ ءَامَنَّاۖ قُل لَّمۡ تُؤۡمِنُواْ وَلَٰكِن قُولُوٓاْ
أَسۡلَمۡنَا وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ
لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ١٤ إِنَّمَا
ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ
بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ ١٥ قُلۡ
أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمۡ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ
وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ١٦ يَمُنُّونَ عَلَيۡكَ أَنۡ أَسۡلَمُواْۖ قُل لَّا تَمُنُّواْ
عَلَيَّ إِسۡلَٰمَكُمۖ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَٰنِ إِن
كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٧ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ
بَصِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

12- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! له ډېريو گمانونو ډډه وکړئ، يقيناً
چې ځيني گمانونه گناه وي، تجسس مه کوئ، او ځيني د ځينو نورو
غيبت مه کوئ، آيا کوم يو مو دا خوښوي چې د خپل مړي ورور غوښه
وخوري؟! په داسي حال کې چې تاسو ترې کرکه لرئ، او له الله ووېرېږئ،
يقيناً چې الله مهربان توبه قبلوونکی دئ. 13- اې خلکو! يقيناً چې موږ
له يوه نارينه او يوې ښځينه راپيدا کړئ او ټبر ټبر او قبيلې قبيلې مو
کړئ تر څو يو بل وپېژنئ، بې شکه چې د الله په وړاندې ستاسو تر
ټولو غوره ستاسو تر ټولو زيات پرهېزگار دئ، يقيناً چې الله ښه باخبر
پوه دئ. 14- بانډوالو وويل: ايمان مو راوړی، ووايه: ايمان مو نه دئ
راوړی بلکې ووايئ: موږ تسليم شوي يو، لا ايمان ستاسو په زړونو کې
نه دئ ننوتی، او که د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ نو ستاسو د
عملونو هيڅ څه به کم نه کړي، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.
15- يقيناً مؤمنان خو يوازې هغه دي چې پر الله او د هغه پر پيغمبر
ئې ايمان راوړی، بيا ئې هيڅ شك نه دئ کړی او په خپل مال او ځان
سره ئې د الله په لار کې جهاد کړی، همدا دوی رښتيني دي. 16- ووايه:
آيا الله پر خپل دين پوهوئ (خبروئ)، په داسي حال کې چې الله په هغه
څه هم پوه دئ چې په آسمانونو کې دي او په هغه څه هم چې په
زمکې کې دي، او الله په هر څه ښه پوه دئ، 17- له دې کبله پر تا
احسان باروي چې مسلمان شوي، ووايه: پر ما د خپل اسلام منت مه
بړدئ، بلکې الله پر تاسو منت بړدي چې د ايمان لوري ته ئې هدايت کړئ
که رښتيني يئ. 18- يقيناً چې الله د آسمانونو او زمکې په پټو پوه دئ
او الله د هغه څه ليدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ.

## سُورَةُ قٓ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ١ بَلۡ عَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ
ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَيۡءٌ عَجِيبٌ ٢ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗاۖ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ
بَعِيدٞ ٣ قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ
٤ بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيٓ أَمۡرٖ مَّرِيجٍ ٥ أَفَلَمۡ يَنظُرُوٓاْ
إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوۡقَهُمۡ كَيۡفَ بَنَيۡنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٖ ٦
وَٱلۡأَرۡضَ مَدَدۡنَٰهَا وَأَلۡقَيۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجِۭ
بَهِيجٖ ٧ تَبۡصِرَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ٨ وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ ٩ وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ
لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ١٠ رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ
ٱلۡخُرُوجُ ١١ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَأَصۡحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ١٢
وَعَادٞ وَفِرۡعَوۡنُ وَإِخۡوَٰنُ لُوطٖ ١٣ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٖۚ كُلّٞ
كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ١٤ أَفَعَيِينَا بِٱلۡخَلۡقِ ٱلۡأَوَّلِۚ بَلۡ هُمۡ فِي لَبۡسٖ
مِّنۡ خَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٥

# ق- مکي سوره- 45 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قاف، قسم پر دې پرتمین قرآن، 2- نه؛ بلکي له دې کبله هېښ شول چي د دوی له منځه یو ګواښونکی ورغی، نو کافرانو وویل: دا خو عجیب شی دئ، 3- آیا کله چي ومرو او خاوري وو؟! دا خو (له امکان) لري بیا راستنېدل دي، 4- په داسي حال کي چي موږ په هغه څه پوه شوي یو چي زمکه ئې ترې کموي، او له موږ سره ساتونکی کتاب دئ، 5- نه؛ بلکي دا حق ئې هغه مهال تکذیب کړ چي ورغی، نو له همدې کبله دوی په ګډ وډ کار اخته شوي. 6- نو آیا د خپل سر له پاسه آسمان ته نه ګوري چي څنګه مو هغه جوړ کړ او هغه مو ښایسته کړ، داسي چي هیڅ چاود ئې نشته، 7- او زمکه مو داسي چي هغه مو خوره کړه او په هغې کي مو غرونه واچول او په هغې کي مو هر ډول جوړه جوړه بوټي راوټوکول، 8- هر رجوع کوونکي بنده ته د بصیرت او پند په توګه، 9- او له آسمانه مو برکتناکي اوبه نازلي کړې چي په همدې سره مو باغونه او رېبل کېدونکي دانه وال بوټي راشنه کړل، 10- او د خرما هسکي وني چي وږي ئې ډك یو پر بل پراته، 11- د بندګانو لپاره د رزق په توګه، او په همدې سره مو مړ ټاټوبی ژوندی کړ، هغه بیا راوتل به همداسي وي. 12- تر دوی وړاندي د نوح قوم، د هغه زاړه کوهي خاوندانو او ثمودیانو تکذیب (غوره) کړ، 13- او عادیانو، فرعون، د لوط ورونو، 14- د هغه ځنګله خاوندانو او د تبع قوم، ټولو پیغمبران تکذیب کړل، نو زما وعید (ګواښ) محقق شو، 15- نو آیا موږ په لومړي پیدایښت سره ستومانه او ناتوانه شوو؟ نه؛ بلکي دوی د نوي پیدایښت په اړه په شك کي دي.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهِۦ نَفۡسُهُۥۖ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ
إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذۡ يَتَلَقَّى ٱلۡمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ
ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ ﴿١٧﴾ مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٞ ﴿١٨﴾
وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي
ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّعَهَا سَآئِقٞ وَشَهِيدٞ
﴿٢١﴾ لَّقَدۡ كُنتَ فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا فَكَشَفۡنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ
ٱلۡيَوۡمَ حَدِيدٞ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلۡقِيَا فِي جَهَنَّمَ
كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٖ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ مَعَ
ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلۡقِيَاهُ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ *قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا
مَآ أَطۡغَيۡتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخۡتَصِمُواْ لَدَيَّ
وَقَدۡ قَدَّمۡتُ إِلَيۡكُم بِٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ ٱلۡقَوۡلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٖ
لِّلۡعَبِيدِ ﴿٢٩﴾ يَوۡمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمۡتَلَأۡتِ وَتَقُولُ هَلۡ مِن مَّزِيدٖ ﴿٣٠﴾
وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ غَيۡرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ
حَفِيظٖ ﴿٣٢﴾ مَّنۡ خَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِ وَجَآءَ بِقَلۡبٖ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾
ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٖۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيۡنَا
مَزِيدٞ ﴿٣٥﴾

16- او يقيناً چي موږ انسان پيدا کړی او په هغه څه پوهېږو چي خپل نفس ئې دی پرې وسوسه کوي، او موږ د غاړي تر رگ ورنږدې يو، 17- هغه مهال چي ښي او کيڼ لوري ته ناست دوه ترلاسه کوونکي لاسته راوړنه کوي، 18- هيڅ وينا نه وايي مگر دا چي خوا ته ئې چمتو څارونکی وي. 19- د مرگ بې سدي حقيقت (په ځرگنده توگه) راوړ، دا همغه څه دي چي تا ترې ډډه کوله، 20- او په شپېلۍ کي به پو کړی شي، دا همغه د وعيد ورځ ده، 21- او هر نفس به په داسي توگه راشي چي له هغه سره به يو بوونکی وي او يو گواه، 22- يقيناً چي ته له دې په غفلت کي وې نو ستا پرده مو اوچته کړه چي له کبله به ئې نن ستا سترگي تېزي وي. 23- او همځنگی به ئې ووايي: دا هغه څه دي چي له ما سره تيار حاضر دي، 24- تاسو دواړه هر ډېر کفر کوونکی عنادگر په دوزخ کي وغورځوئ، 25- همغه د خير ډېر مانع، تېری کوونکی، شك کوونکی، 26- هغه چي له الله سره ئې بل معبود نيولی، په شديد عذاب کي ئې وغورځوئ، 27- همځنگی به ئې ووايي: اې زموږ ربه! ما سرغړاوي ته نه دئ اړ کړی بلکي په خپله په ژوري تېروتني کي وو، 28- وبه وايي: زما په وړاندي شخړه مه کوئ؛ په داسي حال کي چي لا له وړاندي مي وعيد درلېږلی وو، 29-زما خوا ته وينا نه بدلېږي، او زه پر خپلو بندگانو ظلم کوونکی نه يم. 30- هغه ورځ چي دوزخ ته به ووايو: آيا ډك شوې؟ او هغه به ووايي: آيا مزيد څه شته؟! 31- او جنت به متقيانو ته نږدې کړی شي له کوم لري والي پرته، 32- دا هغه څه دي چي له تاسو سره ئې وعده کېږي، له هر ډېر ډېر ستنېدونکي (توبه کوونکي) او ښه ساتونکي سره، 33- هغه چي له رحمن رب په غياب کي وېرېدلی او له انابت کوونکي زړه سره راغلی، 34- په سلامتۍ سره ورننوځئ، دا د تل پاته کېدو ورځ ده، 35- دوی ته به په هغه کي هر هغه څه وي چي دوی ئې غواړي په داسي حال کي چي له موږ سره لازيات دي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُواْ فِي ٱلْبِلَٰدِ
هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى
ٱلسَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا
فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ
بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ ٱلْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ
فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَٱسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ ٱلْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ
قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُونَ ٱلصَّيْحَةَ بِٱلْحَقِّۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا
نَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ
سِرَاعًاۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَۖ وَمَآ أَنتَ
عَلَيْهِم بِجَبَّارٍۖ فَذَكِّرْ بِٱلْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

## سُورَةُ الذَّارِيَاتِ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَٱلْحَٰمِلَٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَٱلْجَٰرِيَٰتِ يُسْرًا ﴿٣﴾
فَٱلْمُقَسِّمَٰتِ أَمْرًا ﴿٤﴾ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٌ ﴿٦﴾

36- او تر دوی وړاندي مو څومره هغه نسلونه هلاك كړل چي تر دوی په لاس اچونو كي ډېر شديد ول؛ له همدې كبله ښارونو ته ننوتل، آيا كوم پناه ځی (ئې) وو، 37- يقيناً چي په دې كي هغه ته حتماً پند دئ چي زړه ئې وي او په داسي حال كي غوږ ږدي چي (په توجه سره) حاضر وي. 38- او يقيناً چي موږ آسمانونه او زمكه او هغه څه چي په دوی كي دي په شپږو ورځو كي پيدا كړل په داسي حال كي چي كومه ستوماني رابانديې رانه غله، 39- نو پر هغه څه صبر وكړه چي دوی ئې وايي او تر لمر ختو وړاندي او تر (لمر) لوېدو وړاندي د خپل رب په ستايني لگيا اوسه، 40- او د شپې په يوې برخي كي د هغه تسبيح وايه او په سجدو پسي هم. 41- او واوره؛ هغه ورځ چي منادي به له نژدې ځای غږ كړي، 42- هغه ورځ چي په رښتينې توگه به هغه چيغه اوري، همدا د بياراوتلو ورځ ده، 43- يقيناً چي موږ ژوندي كول او مړ كول كوو او زموږ لوري ته ستنېدا ده. 44- هغه ورځ چي زمكه به داسي ترې وچوي چي دوی به تلوار كوونكي وي، دا پاځون پر موږ آسان دئ، 45- موږ په هغه څه ښه پوه يو چي دوی ئې وايي، او ته پرې جبر كوونكی نه يې، نو هغه ته په قرآن سره پند وركړه چي زما له وعيد وېرېږي.

## الذاريات- مكي سوره- 60 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم كوونكي الله په نامه

1- قسم په خوروونكو د خورولو په حال كي، 2- بيا د درانه پېټي پر شا وړونكو، 3- بيا په آسانۍ خوځېدونكو، 4- بيا د يوه كار په وېشونكو، 5- بېشكه چي له تاسو سره كېدونكې وعده رښتينې ده 6- او دين (مكافات او مجازات) حتماً واقع كېدونكی دئ.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ ﴿٧﴾ إِنَّكُمۡ لَفِي قَوۡلٖ مُّخۡتَلِفٖ ﴿٨﴾ يُؤۡفَكُ عَنۡهُ
مَنۡ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ ٱلۡخَرَّٰصُونَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي غَمۡرَةٖ سَاهُونَ ﴿١١﴾
يَسۡـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوۡمَ هُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ يُفۡتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُواْ
فِتۡنَتَكُمۡ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تَسۡتَعۡجِلُونَ ﴿١٤﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي
جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ
مُحۡسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ
يَسۡتَغۡفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴿١٩﴾ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ
ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَفِي ٱلسَّمَآءِ
رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ
أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ
﴿٢٤﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ
إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ
﴿٢٧﴾ فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٢٨﴾
فَأَقۡبَلَتِ ٱمۡرَأَتُهُۥ فِي صَرَّةٖ فَصَكَّتۡ وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوزٌ عَقِيمٞ ﴿٢٩﴾
قَالُواْ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

7- قسم د لارو خاوند آسمان باندي، 8- يقيناً چي تاسو په مختلفي وينا کې يئ، 9- هغه ترې اړول کېږي چي اړول شوی، 10- مړه دي وي دا دروغجن اټکل کوونکي، 11- هغه چي په ژور جهالت کې بېخوده دي. 12- پوښتي چي دا د مکافات او مجازات ورځ به کله وي، 13- هغه ورځ چي دوی به په اور معذب شي، 14- د خپلي فتنې خوند وڅکئ؛ دا هغه څه دي چي تاسو په تلوار غوښتلو. 15- يقيناً چي متقيان به په جنتونو او چينو کې وي، 16- هغه څه به ترلاسه کوي چي د دوی رب ورکړي، دوی تر دې وړاندي نېکان ول، 17- د شپې لږ برخه به په اړخ پرېوتل، 18- او سحر مهال به ئې مغفرت غوښتو، 19- او په مالونو کې ئې د سائل او محروم لپاره ځانګړی حق وو. 20- او په زمکي کې د يقين کوونکو لپاره ډېري څرګندي نښي دي، 21- او ستاسو په خپل وجود کې هم، نو آيا سترګورتيا نه کوئ، 22- او په آسمان کې ستاسو رزق دئ او هغه څه چي وعده ئې درکول کېږي، 23- نو د آسمان او زمکي پر رب قسم چي دا په يقيني توګه داسي حقيقت دئ لکه چي تاسو خبري کوئ. 24- آيا د ابراهيم د درنو مېلمنو خبر دررسېدلی، 25- هغه مهال چي خوا ته ئې ورغلل او وئې ويل: سلام، ده (ورته) وويل: سلام، ناآشنا وګړي، 26- نو غلی خپل ټبر ته ورغی او څورب سخوندر ئې (وريت کړی) راوړ، 27- نو دوی ته ئې په داسي حال کې ورنژدې کړ چي وئې ويل: آيا نه ئې خورئ؟ 28- نو لدوی ئې يو ډول وېره احساس کړه، وئې ويل: مه وېرېږه، او د يوه پوه ځوانکي زېری ئې ورکړ، 29- مېرمني ئې مخ ورواړاوو او په حيرانتيا سره ئې په داسي حال کې په جګ غږ وويل چي خپل مخ ئې په څپېړه وواهو: يوه شنډه بوډۍ (او د زوی زېری)؟!، 30- وئې ويل: ستا رب همداسي ويلي، يقيناً چي هغه پوه باحکمت دئ،

۞قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣١﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ
مُّجۡرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن طِينٖ ﴿٣٣﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ
لِلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخۡرَجۡنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدۡنَا
فِيهَا غَيۡرَ بَيۡتٖ مِّنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكۡنَا فِيهَآ ءَايَةٗ لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ
ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٣٧﴾ وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ
﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٞ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ
فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿٤٠﴾ وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ
ٱلۡعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾ وَفِي
ثَمُودَ إِذۡ قِيلَ لَهُمۡ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ
فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مِن قِيَامٖ وَمَا
كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ﴿٤٦﴾
وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ
ٱلۡمَٰهِدُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾
فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ
إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥١﴾

31- وئې ویل: نو اې استازو! مأموریت مو څه دئ؟ 32- وئې ویل: د یوه مجرم قوم لوري ته لېږل شوي یو، 33- چي خټېني ډبري پرې ووروو، 34- هغه چي د مسرفینو لپاره ستا د رب خوا ته نښه شوې دي، 35- نو هغه مؤمنان مو ترې وایستل چي په هغه (ښار) کي ول، 36- نو موږ په هغه کي د مسلمانانو له یوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله، 37- او په دوی کي مو د هغو لپاره څرګنده (د عبرت) نښه پرېښوده چي له دردناك عذاب وېرېږي. 38- او د موسی د هغه مهال په قصې کي چي فرعون ته مو له یوه څرګند دلیل سره ولېږو، 39- نو پر خپل رکن (اړخ) واوښت او وئې ویل: کوډګر دئ یا مجنون، 40- نو دی او د ده لښکري مو ونیول او په داسي حال کي مو په سمندر کي وغورځول چي ملامتولو وړ وو. 41- او د عادیانو په قصې کي هغه مهال چي شنډه سیلۍ مو پرې راوسته، 42- پر هر څه چي ورتله داسي به ئې وګرځاوو لکه وروست. 43- او د ثمودیانو په قصې کي هغه مهال چي ورته وویل شول: تر یوې نېټې برخمن او متمتع شئ، 44- نو د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ چي په نتیجه کي ئې په داسي حال کي تندر ونیول چي (ورته) کتل ئې، 45- نو نه په کوم پاڅون وتوانېدل او نه غچ اخیستونکي ول. 46- او تر دې وړاندي د نوح قوم، یقیناً چي دوی فاسق وګړي ول. 47- او آسمان مو په خپلو لاسونو جوړ کړ او مونږ (ئې) پراخوونکي یو. 48- او زمکه مو وغوړوله نو څومره غوره آواروونکي. 49- او د هر څه مو دوه ګونې جوړې پیدا کړې هیله ده پند واخلئ. 50- نو د الله په لوري تلوار وکړئ، یقیناً چي زه تاسو ته د هغه څرګند نذیر یم، 51- او له الله سره بل (څوك) معبود مه ګرځوئ؛ یقیناً چي زه تاسو ته د هغه څرګند نذیر یم.

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ
٥٢ أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ طَاغُونَ ٥٣ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ
٥٤ وَذَكِّرۡ فَإِنَّ ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٥ وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ
وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنۡهُم مِّن رِّزۡقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن
يُطۡعِمُونِ ٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ ٥٨ فَإِنَّ لِلَّذِينَ
ظَلَمُواْ ذَنُوبًا مِّثۡلَ ذَنُوبِ أَصۡحَٰبِهِمۡ فَلَا يَسۡتَعۡجِلُونِ ٥٩ فَوَيۡلٌ لِّلَّذِينَ
كَفَرُواْ مِن يَوۡمِهِمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ٦٠

## سُورَةُ الطُّورِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلطُّورِ ١ وَكِتَٰبٍ مَّسۡطُورٍ ٢ فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ ٣ وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ
٤ وَٱلسَّقۡفِ ٱلۡمَرۡفُوعِ ٥ وَٱلۡبَحۡرِ ٱلۡمَسۡجُورِ ٦ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ
لَوَٰقِعٌ ٧ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ٨ يَوۡمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوۡرًا ٩ وَتَسِيرُ
ٱلۡجِبَالُ سَيۡرًا ١٠ فَوَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي خَوۡضٍ
يَلۡعَبُونَ ١٢ يَوۡمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ١٣ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِي كُنتُم
بِهَا تُكَذِّبُونَ ١٤

52- همداسي هغه چي تر دوی وړاندي ول هيڅ پيغمبر نه دئ ورغلی مگر
دا چي وئې ويل: يا کوډگر دئ يا مجنون، 53- آيا يوه بل ته د همدې
سپارښتنه کړې؟! نه؛ بلکي دوی طغيان کوونکي وګړي دي، 54- نو مخ ترې
واړوه چي په دې سره به ته ملامت نه وې، 55- او پند ورکوه چي يقيناً پند
ورکول مؤمنانو ته ګټه رسوي. 56- او پېريان او انسانان مي له دې پرته د
بل څه لپاره نه دي پيدا کړي چي زما عبادت وکړي، 57- نه لدوی کوم رزق
غواړم او نه دا ترې غواړم چي خواړه راکړي، 58- يقيناً چي الله د مضبوط
ځواك خاوند روزي ورکوونکی دئ. 59- نو يقيناً هغو ته چي ظلم ئې کړی
داسي ټاکلی عذاب دئ لکه د دوی د يارانو ټاکلی عذاب، نو په تلوار دې له
ما نه غواړي. 60- نو هغو ته به افسوسناك حالت وي چي کفر ئې کړی د
خپلي هغي ورځي له کبله چي وعده ئې ورکول کېږي.

## الطور- مکي سوره-49 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په طور، 2- قسم په ليکل شوي کتاب، 3- په نشر شوو پاڼو کي،
4- قسم په آباد شوي کور، 5- قسم په لوړ شوي چت، 6- قسم په ډك
شوي بحر، 7- بې شکه چي ستا د رب عذاب حتماً واقع کېدونکی دئ، 8-
هيڅ دفع کوونکی ئې نشته. 9- کومه ورځ چي آسمان په ځانګړې خوځېدا
سره وخوځېږي، 10- او غرونه په ځانګړې روانېدا سره روان شي، 11- نو
افسوس په دې ورځ دغو درواغ ګڼونکو ته، 12- هغه چي په چټي
مشغولتياوو کي لوبي کوي، 13- هغه ورځ چي په ځانګړي ټېل وهلو سره
به دوزخ ته ټېل وهل شي، 14- دا همغه اور دئ چي تاسو تکذيبولو،

أَفَسِحۡرٌ هَٰذَآ أَمۡ أَنتُمۡ لَا تُبۡصِرُونَ ﴿١٥﴾ ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ
سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي
جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ وَوَقَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ عَذَابَ
ٱلۡجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ
سُرُرٍ مَّصۡفُوفَةٍۖ وَزَوَّجۡنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتۡهُمۡ
ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلۡحَقۡنَا بِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَمَآ أَلَتۡنَٰهُم مِّنۡ عَمَلِهِم مِّن
شَيۡءٖۚ كُلُّ ٱمۡرِيِٕۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٞ ﴿٢١﴾ وَأَمۡدَدۡنَٰهُم بِفَٰكِهَةٖ وَلَحۡمٖ مِّمَّا
يَشۡتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأۡسٗا لَّا لَغۡوٞ فِيهَا وَلَا تَأۡثِيمٞ ﴿٢٣﴾
*وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ غِلۡمَانٞ لَّهُمۡ كَأَنَّهُمۡ لُؤۡلُؤٞ مَّكۡنُونٞ ﴿٢٤﴾ وَأَقۡبَلَ
بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا قَبۡلُ فِيٓ أَهۡلِنَا
مُشۡفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن
قَبۡلُ نَدۡعُوهُۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرۡ فَمَآ أَنتَ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ
بِكَاهِنٖ وَلَا مَجۡنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمۡ يَقُولُونَ شَاعِرٞ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ
﴿٣٠﴾ قُلۡ تَرَبَّصُواْ فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلۡمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

15- نو آيا دا کوم جادو دئ او که تاسو داسي يئ چي نه وينئ، 16-
ورننوځئ، نو که صبر کوئ يا صبر نه کوئ درته يو شان دئ، يوازي د هغه
څه له مخي سزا درکول کېږي چي تاسو کولو. 17- يقيناً چي متقيان به په
جنتونو او نعمتونو کي وي، 18- پر هغه څه خوښي کوونکي چي خپل رب
ورکړي او خپل رب د دوزخ له عذاب ساتلي، 19- د هغه څه له امله چي
تاسو کول په خوند خوند وخورئ او وڅښئ، 20- په داسي حال کي چي پر
ليکه شوو تختونو به ډډه وهلي ناست وي او له حور عين سره به ئې جوړه
جوړه کړو. 21- او هغه چي ايمان ئې راوړی او زوزات (اولاد) ئې په ايمان
کي د دوی متابعت کړی؛ اولاد به ئې ورسره يوځای کړو او د دوی د عملونو
هيڅ څه به ورته کم نه کړو، هر کس د هغه څه گرو کي دئ چي کړي ئې
دي، 22- داسي مېوه او غوښه به ورکړو چي د دوی زړه ئې غواړي، 23- يو
له بل به داسي جامونه ترلاسه کوي چي نه به په هغه کي چټي وينا وي او
نه گناه کول، 24- داسي ځوانکي به ئې پرې راچورلي چي خوندي ساتل شوو
ملغلرو ته به ورته وي. 25- او ځيني به پر ځينو نورو مخ راواړوي په داسي
حال کي چي يو به بل پوښتي، 26- وايي به: موږ تر دې وړاندي په خپل
خپل ټبر کي (له خپل رب) وېرېدونکي وو، 27- نو الله پر موږ احسان وکړ او
موږ ئې له سوزوونکي عذاب وساتلو، 28- موږ داسي وو چي وړاندي مو دی
بللو (لمانځلو)، يقيناً چي دی مهربان احسان کوونکی دئ. 29- نو پند ورکوه
چي ته د خپل رب د پېرزويني له امله نه کوم کاهن يې او نه کوم مجنون،
30- آيا وايي: يو شاعر دئ چي موږ ورته (د داسي حالت) انتظار کوو چي
شك قطع کوي (له منځه وړي)، 31- ووايه: انتظار وکړئ چي زه هم له
تاسو سره يو ځای د انتظار کوونکو په ډلي کي يم.

أَمۡ تَأۡمُرُهُمۡ أَحۡلَٰمُهُم بِهَٰذَآۚ أَمۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ ٣٢ أَمۡ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥۚ بَل
لَّا يُؤۡمِنُونَ ٣٣ فَلۡيَأۡتُواْ بِحَدِيثٖ مِّثۡلِهِۦٓ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ٣٤ أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ
غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا
يُوقِنُونَ ٣٦ أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَيۡطِرُونَ ٣٧ أَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٞ
يَسۡتَمِعُونَ فِيهِۖ فَلۡيَأۡتِ مُسۡتَمِعُهُم بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ٣٨ أَمۡ لَهُ ٱلۡبَنَٰتُ وَلَكُمُ
ٱلۡبَنُونَ ٣٩ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا فَهُم مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ٤٠ أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ
فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ٤١ أَمۡ يُرِيدُونَ كَيۡدٗاۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هُمُ ٱلۡمَكِيدُونَ ٤٢
أَمۡ لَهُمۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٤٣ وَإِن يَرَوۡاْ كِسۡفٗا مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ سَاقِطٗا يَقُولُواْ سَحَابٞ مَّرۡكُومٞ ٤٤ فَذَرۡهُمۡ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي
فِيهِ يُصۡعَقُونَ ٤٥ يَوۡمَ لَا يُغۡنِي عَنۡهُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٤٦
وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ عَذَابٗا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ٤٧
وَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعۡيُنِنَاۖ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ٤٨
وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ٤٩

## سُورَةُ النَّجۡمِ

32- آیا خپل عقلونه ئې پر دې ګماري، یا دوی طغیان کوونکي وګړي دي، 33- آیا وایي: له ځانه ئې جوړ کړی؟ نه؛ بلکي ایمان راوړونکي نه دي، 34- نو د ده په څېر کومه وینا دې راوړي که رښتیني وي، 35- آیا له کوم شي (خالق) پرته پیدا شوي او که دوی په خپله پیدا کوونکي دي، 36- آیا دا آسمانونه او دا زمکه ئې پیدا کړي؟! نه؛ بلکي یقین کوونکي نه دي، 37- آیا ستا د رب خزانې لدوی سره دي یا دوی په خپله واکمن دي؟! 38- آیا کومه زینه ورسره ده چي پرې (بر درومي او) اوربېدل کوي؟! نو د دوی کوم اورېدونکی دې څرګند دلیل راوړاندي کړي. 39- آیا لوڼي ده ته او زامن تاسو ته دي؟! 40- آیا کومه بدله ترې غواړې داسي چي دوی ئې له تاوان درانه کړی شوي؟! 41- آیا د غیب (علم) ورسره دئ چي دوی ئې لیکي؟! 42- آیا د پټ تدبیر اراده لري، نو هغه چي کفر ئې کړی دوی په خپله د پټ تدبیر په منګولو کي دي، 43- آیا له الله پرته بل معبود لري، الله ته له هغه څه سپېڅلتیا ده چي دوی ئې (ورسره) شریکوي. 44- او که د آسمان کومه ټوټه وګوري چي راپرېوتونکې ده وایي به: متراکمه وریځ ده، 45- نو تر هغه ئې پرېږده چي له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چي په هغې کي به بې سده کړی شي، 46- هغه ورځ چي پټ تدبیر به ئې هیڅ څه نشي ترې دفع کولی او نه به ئې مرسته کېدی شي، 47- او هغو ته چي ظلم ئې کړی پر دې علاوه بل عذاب دئ خو د دوی ډېری نه پوهېږي. 48- او د خپل رب حکم ته صبر وکړه چي یقیناً ته زموږ تر سترګو لاندي یې، او د خپل رب په ستاینې سره تسبیح وایه هغه مهال چي پاڅېږې؛ 49- او د شپې په یوې برخې کي او د ستورو شا اړولو پر مهال.

## النجم- مکي سوره- 62 آیتونه

وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمۡ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ
عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ
۝٥ ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ ۝٦ وَهُوَ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٧ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ۝٨
فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ أَوۡ أَدۡنَىٰ ۝٩ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ ۝١٠ مَا
كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ۝١١ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ۝١٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ
نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ ۝١٣ عِندَ سِدۡرَةِ ٱلۡمُنتَهَىٰ ۝١٤ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلۡمَأۡوَىٰٓ ۝١٥
إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ ۝١٦ مَا زَاغَ ٱلۡبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ۝١٧ لَقَدۡ
رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ ۝١٨ أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ۝١٩
وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ ۝٢٠ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ ۝٢١ تِلۡكَ إِذٗا
قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ ۝٢٢ إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم
مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى
ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلۡهُدَىٰٓ ۝٢٣ أَمۡ لِلۡإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ
۝٢٤ فَلِلَّهِ ٱلۡأٓخِرَةُ وَٱلۡأُولَىٰ ۝٢٥ ۞وَكَم مِّن مَّلَكٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي
شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ۝٢٦

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په ستوري چې کله ناځاپه وغورځي، 2- ستاسو ملګری نه تېروتی او نه بې لارې شوی، 3- او نه له خپلې هوی او هوس خبرې کوي، 4- دا نه دئ مګر داسې وحې چې وحې کېږي، 5- د مضبوط ځواك خاوند ورښودلی، 6- د مکنت او متانت خاوند، چې برابر شو؛ 7- حال دا چې هغه په لوړ پاس کې وو، 8- بیا نژدې شو نو کوز راغی، 9- نو د دوو لیندیو په واټن وو یا تر دې هم ورنژدې، 10- نو د ده بنده ته ئې هغه څه وحې کړ چې وحې ئې کړ، 11- نو دغه زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې لیدلي ئې وو، 12- نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چې دی ئې ویني؟!! 13- په داسې حال کې چې هغه ئې یو ځل بل هم لیدلی وو، 14- د سدرة المنتهی (وروستۍ بېرې) خوا ته، 15- چې هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت استوګنځی) دئ، 16- هغه مهال چې سدرة المنتهی ځانګړې شي پوښلې وه، 17- نه سترګې کاږه لیدل کړي او نه تېروتې، 18- یقیناً د خپل رب ځینې ستر ستر آیتونه ئې لیدلي. 19- نو آیا دغه لات او عزی ته؛ 20- او دغه بل درېیم منات ته مو پام کړی، 21- آیا تاسو ته نارینه دي او ده ته ښځینه؟!! 22- دا نو بیا ډېر ظالمانه وېش دئ، 23- دا خو له هغو څو نومونو پرته بل څه نه دي چې تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله د هغوی په اړه هیڅ دلیل نه دئ نازل کړی، دوی یوازې د ګمان او هغه څه متابعت کوي چې هوی او هوس ئې خوښوي، په داسې حال کې چې د دوی د رب له لوري لارښوونه ورغلې. 24- آیا انسان ته هر هغه څه دي چې تمنا ئې کوي، 25- په داسې حال کې چې وروستنۍ او لومړنۍ د الله دي! 26- او په آسمانونو کې څومره فرښتې داسې دي چې شفاعت ئې هیڅ ګټه نشي رسولی مګر له هغه وروسته چې الله اجازه ورکړي هغه چا ته چې دی ئې غواړي او راضي شي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ لَيُسَمُّونَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ تَسۡمِيَةَ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢٧﴾
وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّۖ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغۡنِي مِنَ
ٱلۡحَقِّ شَيۡـٔٗا ﴿٢٨﴾ فَأَعۡرِضۡ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكۡرِنَا وَلَمۡ يُرِدۡ إِلَّا ٱلۡحَيَوٰةَ
ٱلدُّنۡيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبۡلَغُهُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن
سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٣٠﴾ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي
ٱلۡأَرۡضِ لِيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ وَيَجۡزِيَ ٱلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ
بِٱلۡحُسۡنَى ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ
رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ إِذۡ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَإِذۡ
أَنتُمۡ أَجِنَّةٞ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡۖ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ
ٱتَّقَىٰٓ ﴿٣٢﴾ أَفَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعۡطَىٰ قَلِيلٗا وَأَكۡدَىٰٓ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُۥ
عِلۡمُ ٱلۡغَيۡبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَمۡ لَمۡ يُنَبَّأۡ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾
وَإِبۡرَٰهِيمَ ٱلَّذِي وَفَّىٰٓ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيۡسَ
لِلۡإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعۡيَهُۥ سَوۡفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجۡزَىٰهُ ٱلۡجَزَآءَ
ٱلۡأَوۡفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلۡمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴿٤٣﴾
وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا ﴿٤٤﴾

27- يقيناً هغه چي پر آخرت ايمان نه لري حتماً فرشتې په ښځينه نومونو نوموي، 28- په داسي حال کې چي په دې اړه هيڅ علم نه لري، يوازي د ګمان متابعت کوي، او يقيناً چي ګمان د کوم حقيقت (له هيڅ څه څوک) نه مستغني کوي، 29- نو له هغه چا اعراض وکړه چي زموږ له ذکر ئې مخ اړولی او د دنيا له ژوند پرته بل څه نه غواړي، 30- همدا د دوی د علم وروستی پړاو دئ، يقيناً چي همدا ستا رب پر هغه چا ښه پوه دئ چي د ده له لاري تېروتی او دی پر هغه ښه پوه دئ چي هدايت شوی. 31- او هغه څه چي په آسمانونو کې دي او هغه څه چي په زمکي کې دي د الله دي؛ د دې لپاره (ئې پيدا کړي) چي بدچلنو ته د هغه څه مطابق سزا ورکړي چي کړي ئې دي او هغو ته چي نېکي ئې کړې په غوره توګه بدله ورکړي، 32- هغه چي د ګناهونو له لويو لويو او فحش کارونو ډډه کوي مګر له وړکيو، يقيناً چي ستا رب د پراخي بخښني خاوند دئ، هغه ستاسو په اړه هغه مهال هم ښه پوهېدو چي تاسو ئې له زمکي پيدا کړئ او هغه مهال هم چي د خپلو ميندو په ګېډو کې جنين وئ (وړوکي چي په سترګو نه ليدل کېږي)، نو خپل ځانونه مه ستايئ، دی په هغه ښه پوه دئ چي ځان ساتنه ئې کړې. 33- آيا هغه ته دي پام کړی چي شا ئې واړوله، 34- لږ ئې ورکړل او لاس ئې تم کړ، 35- آيا د غيب علم ورسره دئ نو (په خپلو سترګو ئې) ګوري، 36- او آيا په هغه څه نه دئ خبر کړی شوی چي د موسی صحيفو کې وو؛ 37- او د ابراهيم چي وفا ئې وکړه، 38- دا چي هيڅوک به د بل (د ګناه) پېټی په اوږو نه وړي، 39- او دا چي انسان ته له خپلي هڅي پرته بل څه نه ورپه برخه کېږي؛ 40- او دا چي هڅي به ئې حتماً وکتل شي، 41- او بيا به په بشپړي بدلې سره بدله ورکړی شي؛ 42- او دا چي انتهاء ستا د رب په لوري ده. 43- او دا چي دی همغه دئ چي خندول او ژړول ئې کړي، 44- او دا چي دی همغه دئ چي مړول او ژوندي کول ئې کړي،

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ ﴿٤٦﴾
وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُۥ
هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُۥٓ أَهۡلَكَ عَادًا ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَاْ فَمَآ
أَبۡقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ هُمۡ أَظۡلَمَ وَأَطۡغَىٰ ﴿٥٢﴾
وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ أَهۡوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ
تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نَذِيرٞ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ ٱلۡأٓزِفَةُ ﴿٥٧﴾
لَيۡسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنۡ هَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ
تَعۡجَبُونَ﴿٥٩﴾ وَتَضۡحَكُونَ وَلَا تَبۡكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمۡ سَٰمِدُونَ ﴿٦١﴾
فَٱسۡجُدُواْ لِلَّهِۤ وَٱعۡبُدُواْ۩ ﴿٦٢﴾

## سُورَةُ القَمَرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴿١﴾ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ
سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ﴿٢﴾ وَكَذَّبُواْ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ ﴿٣﴾
وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزۡدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكۡمَةُۢ بَٰلِغَةٞۖ فَمَا
تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡۘ يَوۡمَ يَدۡعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَيۡءٖ نُّكُرٍ ﴿٦﴾

45- او دا چې ده نرینه او ښځینه جوړې پیدا کړې، 46- له یوې نطفې
کله چې وڅڅول شي، 47- او دا چې بل پاڅون د ده پر ذمه دئ، 48-
او دا چې دی همغه دئ چې غني کول او نېستمن کول ئې کړي، 49-
او دا چې دی همغه دئ چې د شعری ستوري رب دئ، 50- او دا چې
ده لومړني عادیان هلاك كړل، 51- او ثمودیان چې باقي ئې پرې نښودل،
52- او د نوح قوم لا له وړاندي، يقيناً چې دوی ډېر ظالم او ډېر سرکښ
ول، 53- او هغه نسکور شوي چې لاندي ئې وغورځول، 54- نو هغه
څه وپوښلو چې وئې پوښلو، 55- نو د خپل رب د کوم کوم نعمت په
اړه شك کوې؟!! 56- دا د لومړنيو گواښونکو (پیغمبرانو) له ډلي يو نذير
دئ. 57- نژدې راتلونکې رانژدې شوه، 58- له الله پرته بل څرگندونکی
ورته نشته، 59- نو آیا لدې خبري تعجب کوئ، 60- او خاندئ او ژاړئ
نه؟ 61- په داسي حال كي چې تاسو كبر كوونكي يئ، 62- نو الله ته
سجده کوئ او عبادت ئې کوئ.

## القمر- مکي سوره- 55 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- (د قیامت) ساعت رانژدې شو او سپوږمۍ وچاوده، 2- او که کومه
څرگنده نښه وگوري ډډه کوي او وايي: يو مستمر جادو، 3- او درواغ
گڼله ئې وکړه او د خپلو هوسونو متابعت ئې وکړ په داسي حال کي
چې هر امر (کار) پلی کېدونکی دئ. 4- او يقيناً چې دوی ته له مهمو
خبرو دومره څه ورغلي چې په هغه کي کافي تنبيه ده، 5- بشپړ حکمت،
خو اِنذارونه گټه نه وررسوي، 6- نو مخ ترې واړوه، کومه ورځ چې
هغه بلونکی د يوه کرکجن شي لوري ته بلنه ورکوي،

خُشَّعًا أَبۡصَٰرُهُمۡ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ كَأَنَّهُمۡ جَرَادٞ مُّنتَشِرٞ ٧
مُّهۡطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِۖ يَقُولُ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَسِرٞ ٨ ۞كَذَّبَتۡ
قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ فَكَذَّبُواْ عَبۡدَنَا وَقَالُواْ مَجۡنُونٞ وَٱزۡدُجِرَ ٩ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ
أَنِّي مَغۡلُوبٞ فَٱنتَصِرۡ ١٠ فَفَتَحۡنَآ أَبۡوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٖ مُّنۡهَمِرٖ ١١
وَفَجَّرۡنَا ٱلۡأَرۡضَ عُيُونٗا فَٱلۡتَقَى ٱلۡمَآءُ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ قَدۡ قُدِرَ ١٢ وَحَمَلۡنَٰهُ
عَلَىٰ ذَاتِ أَلۡوَٰحٖ وَدُسُرٖ ١٣ تَجۡرِي بِأَعۡيُنِنَا جَزَآءٗ لِّمَن كَانَ كُفِرَ ١٤
وَلَقَد تَّرَكۡنَٰهَآ ءَايَةٗ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٥ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ
١٦ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ١٧ كَذَّبَتۡ عَادٞ
فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ١٨ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِي
يَوۡمِ نَحۡسٖ مُّسۡتَمِرّٖ ١٩ تَنزِعُ ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٖ مُّنقَعِرٖ ٢٠
فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ٢١ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن
مُّدَّكِرٖ ٢٢ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ٢٣ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٗا مِّنَّا وَٰحِدٗا نَّتَّبِعُهُۥٓ
إِنَّآ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٍ ٢٤ أَءُلۡقِيَ ٱلذِّكۡرُ عَلَيۡهِ مِنۢ بَيۡنِنَا بَلۡ هُوَ
كَذَّابٌ أَشِرٞ ٢٥ سَيَعۡلَمُونَ غَدٗا مَّنِ ٱلۡكَذَّابُ ٱلۡأَشِرُ ٢٦ إِنَّا مُرۡسِلُواْ
ٱلنَّاقَةِ فِتۡنَةٗ لَّهُمۡ فَٱرۡتَقِبۡهُمۡ وَٱصۡطَبِرۡ ٢٧

7- سترګي به ئې ټيټې او خړې وي، له قبرونو به داسې وځي لکه چې خواره ملخان وي، 8- د بلونکي لورې ته ځغلېدونکي، کافران به وايي: دا يوه ډېره سخته ورځ ده! 9- تر دوی وړاندې د نوح قوم زموږ بنده تکذيب کړ او وئې ويل: لېونی دئ او رټل شوی، 10- نو خپل رب ته ئې دعاء وکړه چې زه مغلوب يم نو په خپله انتقام واخله. 11- نو د آسمان دړې مو په رابهېدونکو اوبو پرانيستې، 12- او زمکه مو روانې چينې کړه؛ نو (دواړه) اوبه د داسې کار لپاره سره يوځای شوې چې له وړاندې مقدر شوی وو، 13- او دی مو د تختو او مېخونو والې (بېړۍ) باندې حمل کړ، 14- زموږ تر نظر لاندې خوځېدله، د هغه لپاره بدله چې کفران ئې شوی وو، 15- او يقيناً چې د يوې ښکارندې نښې په توګه مو پرېښوده، نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟ 16- نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟، 17- او يقيناً چې موږ قرآن د پند اخيستو لپاره آسان کړی نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟ 18- عاديانو تکذيب وکړ، نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه، 19- يقيناً چې موږ يوه تېزه هيبتناکه سړه سيلۍ پر دوی ولېږله، په يوې سپېرې پرله پسې ورځې کې، 20- چې خلک ئې داسې راايستل لکه چې دوی د هغو کجورو ستې وي چې له جرړو ايستل شوې، 21- نو (وګوره چې) زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟، 22- او يقيناً چې موږ قرآن د پند اخيستو لپاره آسان کړی نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟ 23- ثموديانو دا ګواښونه تکذيب کړل؛ 24- نو وئې ويل: آيا له خپلې ډلې د يوه انسان متابعت وکړو؛ يقيناً چې په دې صورت کې به موږ په تېروتنې او لېونتيا کې وو، 25- آيا دا ذکر زموږ له منځه (يوازې) پر ده نازل شوی، نه؛ بلکې دی ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ، 26- سبا به حتماً پوه شي چې څوک ډېر دروغجن او ډېر جاه طلب دئ، 27- يقيناً چې موږ دوی ته د يوې آزموينې په توګه د هغې اوښې لېږونکي يو؛ نو ورته انتظار وکړه او صبر کوه،

وَنَبِّئۡهُمۡ أَنَّ ٱلۡمَآءَ قِسۡمَةُۢ بَيۡنَهُمۡۖ كُلُّ شِرۡبٖ مُّحۡتَضَرٞ ٢٨ فَنَادَوۡاْ
صَاحِبَهُمۡ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ٢٩ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ٣٠ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا
عَلَيۡهِمۡ صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلۡمُحۡتَظِرِ ٣١ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا
ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ٣٢ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوطِۢ بِٱلنُّذُرِ ٣٣ إِنَّآ
أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٖۖ نَّجَّيۡنَٰهُم بِسَحَرٖ ٣٤ نِّعۡمَةٗ مِّنۡ
عِندِنَاۚ كَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَن شَكَرَ ٣٥ وَلَقَدۡ أَنذَرَهُم بَطۡشَتَنَا فَتَمَارَوۡاْ
بِٱلنُّذُرِ ٣٦ وَلَقَدۡ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيۡفِهِۦ فَطَمَسۡنَآ أَعۡيُنَهُمۡ فَذُوقُواْ عَذَابِي
وَنُذُرِ ٣٧ وَلَقَدۡ صَبَّحَهُم بُكۡرَةً عَذَابٞ مُّسۡتَقِرّٞ ٣٨ فَذُوقُواْ عَذَابِي
وَنُذُرِ ٣٩ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ٤٠ وَلَقَدۡ جَآءَ
ءَالَ فِرۡعَوۡنَ ٱلنُّذُرُ ٤١ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذۡنَٰهُمۡ أَخۡذَ عَزِيزٖ
مُّقۡتَدِرٍ ٤٢ أَكُفَّارُكُمۡ خَيۡرٞ مِّنۡ أُوْلَٰٓئِكُمۡ أَمۡ لَكُم بَرَآءَةٞ فِي ٱلزُّبُرِ
٤٣ أَمۡ يَقُولُونَ نَحۡنُ جَمِيعٞ مُّنتَصِرٞ ٤٤ سَيُهۡزَمُ ٱلۡجَمۡعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ
٤٥ بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوۡعِدُهُمۡ وَٱلسَّاعَةُ أَدۡهَىٰ وَأَمَرُّ ٤٦ إِنَّ ٱلۡمُجۡرِمِينَ فِي
ضَلَٰلٖ وَسُعُرٖ ٤٧ يَوۡمَ يُسۡحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمۡ ذُوقُواْ مَسَّ
سَقَرَ ٤٨ إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ ٤٩

28- او خبر ورکړه چې دا اوبه د دوی تر منځ وېشل شوې دي، د څښلو هر وار د (اوښې او د کليوالو د) حضور نېټه ده، 29- نو خپل ملګري ته ئې غږ کړ، نو لاس په کار شو او ټپي ئې کړه، 30- نو وګوره چې زما عذاب څنګه وو او زما ګواښنې څنګه؟ 31- نو موږ يوه لوړه چيغه پرې ولېږله، نو داسې شول لکه د شپون په شپول کې کارول شوې مات مات ډکې، 32- او يقيناً چې موږ قرآن د پند اخيستو لپاره آسان کړی نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟ 33- د لوط قوم دا ګواښونه تکذيب کړل؛ 34- يقيناً چې موږ کاڼي ورورونکې سيلۍ پر دوی ولېږله؛ د لوط له ټبر پرته، چې ګهيځ مهال مو وژغورل، 35- له خپلې خوا يوه پېرزوينه، همداسې هغه چا ته بدله ورکوو چې شکر وکړي، 36- او يقيناً چې زموږ له نيونې ئې وېرولي ول، خو دوی د ګواښونو په اړه شك وکړ، 37- او يقيناً چې د ده د مېلمنو په اړه ئې له ده سره خبره (غوښتنه) کړې وه، نو موږ د دوی سترګې محو (ړندې) کړې نو زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ، 38- او يقيناً چې سبا په سباوون کې ټمبدونکي عذاب ونيول، 39- نو زما عذاب او زما ګواښونه وڅکئ، 40- او يقينا چې موږ قرآن د پند اخيستو لپاره آسان کړی نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟ 41- او يقيناً چې فرعونيانو ته ګواښونه ورغلل، 42- زموږ ټول آيتونه ئې تکذيب کړل نو موږ ونيول؛ د ځواکمن عزتمن ذات د نيولو په څېر. 43- آيا ستاسو کافران تر هغوی غوره دي او که تاسو ته په کتابونو کې برائت په برخه شوی، 44- يا وايي: موږ برلاسي او يو د بل مرستندوی ټولی يو، 45- دا ټولی به هرومرو ماته خوري او شاګانې به اړوي، 46- نه؛ بلکې د قيامت ساعت ئې وروستی موعد دئ او دا ساعت ستر آفت او ډېر تريخ ساعت دئ، 47- يقيناً چې مجرمين په تېروتنې او لېونتوب کې دي، 48- کومه ورځ چې په اور کې پړمخې کش کړی شي، (ورته وبه ويل شي:) د دوزخ (د لمبو) رسېدنې خوند وڅکئ!! 49- يقيناً چې موږ هرڅه له ټاکلې تقدير سره سم پيدا کړي،

وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدۡ أَهۡلَكۡنَآ
أَشۡيَاعَكُمۡ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيۡءٖ فَعَلُوهُ فِي ٱلزُّبُرِ ﴿٥٢﴾
وَكُلُّ صَغِيرٖ وَكَبِيرٖ مُّسۡتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَنَهَرٖ ﴿٥٤﴾
فِي مَقۡعَدِ صِدۡقٍ عِندَ مَلِيكٖ مُّقۡتَدِرِۭ ﴿٥٥﴾

## سُورَةُ الرَّحۡمَٰن

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ﴿٢﴾ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ ﴿٤﴾
ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٖ ﴿٥﴾ وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ ﴿٦﴾
وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا تَطۡغَوۡاْ فِي ٱلۡمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَأَقِيمُواْ
ٱلۡوَزۡنَ بِٱلۡقِسۡطِ وَلَا تُخۡسِرُواْ ٱلۡمِيزَانَ ﴿٩﴾ وَٱلۡأَرۡضَ وَضَعَهَا لِلۡأَنَامِ ﴿١٠﴾
فِيهَا فَٰكِهَةٞ وَٱلنَّخۡلُ ذَاتُ ٱلۡأَكۡمَامِ ﴿١١﴾ وَٱلۡحَبُّ ذُو ٱلۡعَصۡفِ
وَٱلرَّيۡحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٣﴾ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن
صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ﴿١٥﴾ فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٦﴾ رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ وَرَبُّ ٱلۡمَغۡرِبَيۡنِ ﴿١٧﴾
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿١٨﴾

50- او زموږ امر يوازې يو ځل او داسې وي لکه د سترګې يو وار رپول، 51- او يقيناً چې موږ ستاسو مخکني امثال (سيالان) هلاك کړي نو آيا کوم عبرت اخيستونکی شته؟! 52- او هر هغه څه چې دوی کړي په (عمل) پاڼو کې دي، 53- او هر ووړ او لوی (عمل) ليکل شوی دئ. 54- يقيناً چې متقيان به په جنتونو او ويالو کې وي، 55- د رښتينولۍ په ناستځای کې؛ د مقتدر ټولواك خوا ته.

## الرحمن- مدني سوره- 78 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- همغه رحمن؛ 2- قرآن ښودلی، 3- انسان ئې پيدا کړی، 4- بيانول ئې ورښودلي. 5- لمر او سپوږمۍ په حساب دي، 6- او بوټي او ونې په سجده لګيا، 7- او آسمان ئې لوړ کړ او ميزان ئې وضع کړ، 8- چې په ميزان کې تېری ونه کړئ، 9- او وزن په عدالت سره قائم کړئ او په ميزان کې نقصان مه کوئ. 10- او زمکه ئې د خلائقو لپاره ټاکلې، 11- په هغې کې مېوې دي او خرما د پوټکو خاوندې، 12- او واښه والې دانې او کشمالي (د ښو وږمو بوټي)، 13- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 14- انسان ئې د کودړې په څېر له کړنګېدونکې خټې پيدا کړ، 15- او جن ئې د اور له بې دوده لمبې، 16- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 17- د دوه ختيځو او دوه لوېديځو رب، 18- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ.

مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ١٩ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ ٢٠ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢١ يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ٢٢ فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢٣ وَلَهُ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡمُنشَـَٔاتُ فِي ٱلۡبَحۡرِ
كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ٢٤ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٢٥ كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٖ
٢٦ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ رَبِّكَ ذُو ٱلۡجَلَٰلِ وَٱلۡإِكۡرَامِ ٢٧ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ٢٨ يَسۡـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ كُلَّ يَوۡمٍ هُوَ فِي شَأۡنٖ
٢٩ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٠ سَنَفۡرُغُ لَكُمۡ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ
٣١ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٢ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ
ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا
تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ
عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٦ فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةٗ كَٱلدِّهَانِ
٣٧ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٨ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ
إِنسٞ وَلَا جَآنّٞ ٣٩ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٤٠ يُعۡرَفُ
ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ٤١

19- دوه سمندرونه ئې داسي سره پرېښي چي مخامخ کېږي، 20- تر منځ ئې داسي پرده چي تېری (ترې) نه کوي، 21- نو تاسو دواړه د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ 22- لدوی دواړو مرغلري او مرجان راوځي، 23- نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذیبوئ؟ 24- او په سمندر کي ئې داسي جوړي شوې تلونکې (بېړۍ) دي چي د غرونو په څېر دي. 25- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 26- هغه ټول فناء کېدونکي دي چي پر (زمکي) اوسي، 27- او ستا د رب ذات؛ دا د جلال او اکرام خاوند پاته کېږي، 28- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 29- هغه څه چي په آسمانونو او زمکي کي دي غوښتنه ترې کوي (د خپلو اړتیاوو پوره کېدل ترې غواړي)، دی هره ورځ په یوه کار کي لګیا دئ. 30- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 31- اې دوو درنو! حتماً به تاسو ته درفارغ شو، 32- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 33- اې د پېریانو او انسانانو ټولیه! که کولی شئ چي د آسمانونو او زمکي له قطرونو تېر شئ (او بل لوري ته ئې ووځئ) نو ننوځئ، نفوذ نشئ کولی مګر په قوت او ځواك سره. 34- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟! 35- پر تاسو باندي به د اور داسي خالصي لمبې او داسي ویلي (توکي) لېږل کېږي چي مقابله ئې نشئ کولی. 36- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 37- نو کله چي آسمان وچوي داسي به سور رنګی وي لکه ویلي سره غوړي، 38- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 39- نو په دې ورځ به نه کوم انسان د خپل جرم په اړه پوښتل کېږي او نه کوم پېری، 40- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 41- مجرمین به له خپلو څېرو پېژندل کېږي، نو د تندي له وېښتانو او پښو به نیول کېږي،

فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا
ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴿٤٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ
دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ
لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتَانِ ﴿٦٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٥﴾
فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴿٦٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٧﴾
فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾

42- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 43- دا همغه دوزخ دئ چې مجرمينو به تکذيبولو، 44- دا مجرمين به د ده او خوټېدونکو اوبو تر منځ چورلي، 45- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 46- او هغه چا ته دوه جنتونه دي چې د خپل رب په وړاندې د ودرېدو له نېتې وېرېدلی، 47- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ. 48- ګڼ ګڼ څانګور(ښونه)، 49- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 50- په دواړو کې دوه رواني چينې، 51- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 52- په هغوی کې د هر ډول مېوې دوه ګونې جوړې، 53- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 54- په داسې فرشونو به تکيه وهونکې ناست وي چې استرونه به ئې د پرېړو ورېښمو وي، او د جنتونو رسېدلې مېوې نژدې، 55- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ، 56- په هغو کې داسې سترګې رالنډونکې (حياناکې مېرمنې) چې تر دې وړاندې نه کوم انسان لاس وروړی او نه کوم پېري، 57- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 58- دوی به داسې برېښي لکه ياقوت او مرجان، 59- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 60- نو آيا د احسان بدله له احسان پرته بل څه وي؟ 61- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 62- او ترې رالاندې دوه جنتونه، 63- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 64- تك شنه (توربخن)، 65- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 66- په دواړو کې دوه داري وهونکې چينې، 67- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟

فِيهِنَّ خَيۡرَٰتٌ حِسَانٞ ٧٠ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٧١
حُورٞ مَّقۡصُورَٰتٞ فِي ٱلۡخِيَامِ ٧٢ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
٧٣ لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٞ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنّٞ ٧٤ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ٧٥ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفۡرَفٍ خُضۡرٖ وَعَبۡقَرِيٍّ حِسَانٖ ٧٦
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٧٧ تَبَٰرَكَ ٱسۡمُ رَبِّكَ ذِي ٱلۡجَلَٰلِ
وَٱلۡإِكۡرَامِ ٧٨

## سُورَةُ الوَاقِعَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١ لَيۡسَ لِوَقۡعَتِهَا كَاذِبَةٌ ٢ خَافِضَةٞ رَّافِعَةٌ
٣ إِذَا رُجَّتِ ٱلۡأَرۡضُ رَجّٗا ٤ وَبُسَّتِ ٱلۡجِبَالُ بَسّٗا ٥ فَكَانَتۡ
هَبَآءٗ مُّنۢبَثّٗا ٦ وَكُنتُمۡ أَزۡوَٰجٗا ثَلَٰثَةٗ ٧ فَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ مَآ
أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ٨ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ
٩ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ١٠ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ١١ فِي جَنَّٰتِ
ٱلنَّعِيمِ ١٢ ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ وَقَلِيلٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ١٤ عَلَىٰ
سُرُرٖ مَّوۡضُونَةٖ ١٥ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيۡهَا مُتَقَٰبِلِينَ ١٦

68- په هغو کې مېوې، خرما او انار، 69- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 70- په هغو کې ښې او ښکلې مېرمني، 71- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟، 72- په خيمو کې ملتزمي تور سترګې، 73- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 74- تر دې وړاندي نه کوم انسان لاس وروړی او نه کوم پېري، 75- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 76- تکيه وهونکي پر شنو بالښتونو، او ښکلو قيمتي فرشونو باندي، 77- نو تاسو دواړه د خپل رب له کومو کومو نعمتونو انکار کوئ؟ 78- ستا د جليل او کريم رب نوم برکتي دئ.

## الواقعه- مکي سوره- 96 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کله چي هغه پېښه رامنځنه شي، 2- د پېښېدو تکذيبوونکی ئې نشته، 3- ټيټوونکې لوړوونکې، 4- هغه مهال چي زمکه په ځانګړي ړچولو سره وړچول شي، 5- او غرونه په ځانګړي وړه کېدو سره وړه وړه کړی شي، 6- نو خورې شوې دوړي به شي، 7- او تاسو به درې ډلي شئ، 8- نو د ميمنت خاوندان؛ څومره عجيب دي د ميمنت خاوندان! 9- او د مشئمت خاوندان څومره عجيب دي د مشئمت خاوندان! 10- او وړاندي تلونکي به وړاندي تللي وي، 11- همدا دوی مقربين دي، 12- له نعمتونو ډك جنت کې، 13- ډېری د ړومبنيو 14- او لږ د وروستنيو. 15- پر سينګار شوو تختونو باندي، 16- پر هغو تکيه کوونکي يو بل ته مخامخ،

يَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾ بِأَكۡوَابٖ وَأَبَارِيقَ وَكَأۡسٖ مِّن
مَّعِينٖ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنۡهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَٰكِهَةٖ مِّمَّا
يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحۡمِ طَيۡرٖ مِّمَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٞ ﴿٢٢﴾ كَأَمۡثَٰلِ
ٱللُّؤۡلُوِٕ ٱلۡمَكۡنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسۡمَعُونَ فِيهَا
لَغۡوٗا وَلَا تَأۡثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلٗا سَلَٰمٗا سَلَٰمٗا ﴿٢٦﴾ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ
مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِي سِدۡرٖ مَّخۡضُودٖ ﴿٢٨﴾ وَطَلۡحٖ مَّنضُودٖ ﴿٢٩﴾
وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ﴿٣٠﴾ وَمَآءٖ مَّسۡكُوبٖ ﴿٣١﴾ وَفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ ﴿٣٢﴾ لَّا
مَقۡطُوعَةٖ وَلَا مَمۡنُوعَةٖ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٖ مَّرۡفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ
﴿٣٥﴾ فَجَعَلۡنَٰهُنَّ أَبۡكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتۡرَابٗا ﴿٣٧﴾ لِّأَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٞ
مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٠﴾ وَأَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ
أَصۡحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِي سَمُومٖ وَحَمِيمٖ ﴿٤٢﴾ وَظِلّٖ مِّن يَحۡمُومٖ ﴿٤٣﴾ لَّا
بَارِدٖ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُتۡرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُواْ
يُصِرُّونَ عَلَى ٱلۡحِنثِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُواْ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا
تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿٤٧﴾ أَوَ ءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلۡ إِنَّ
ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡأٓخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٥٠﴾

17- تل پاته ځوانکي به ئې پر شاوخوا راچورلي، 18- د روان څښاك له پيالو، کوزو او جامونو سره، 19- نه به له هغه په سرخوږي اخته کړی شي او نه به بې سده کېږي، 20- او له داسي مېوو سره چي دوی ئې غوره کوي، 21- او د مارغانو له داسي غوښي سره چي زړه ئې ورته کېږي، 22- او غټ سترګې حوري، 23- په صدف کې (خوندي) مرغلرو ته ورته، 24- د هغه څه بدله چي دوی کولو، 25- نه به په هغه کې کومه بېهوده خبره اوري او نه کومه د ګناه خبره، 26- مګر د سلام سلام وينا. 27- او د يمين خاوندان (بختور)، څه عجيب دي دا بختور، 28- په بې اغزيو بېرو کې، 29- او د کېلو په ګڼ مېوو ونو کې، 30- او په خورو سيورو کې، 31- او تل روانو اوبو کې، 32- او ډېرو مېوو کې، 33- نه قطع کېدونکې او نه منع کېدونکې، 34- او په لوړو لوړو پالنګونو کې، 35- يقيناً چي موږ په ځانګړي پنځولو سره پنځولې دي، 36- نو باکرې (پېغلې) مو ګرځولې دي، 37- مينه ناکې همزولې، 38- د اصحاب اليمين لپاره، 39- ډېری له لومړنيو 40- او ډېری له وروستنيو. 41- او کيڼ لاسي، څه حيرتناك (حالت کې) دي کيڼ لاسي، 42- په سوزنده لمبو او جوشو اوبو کې، 43- د تور او تود دود په سيوري کې، 44- نه سوړ نه ګټور، 45- يقيناً چي دوی تر دې وړاندي سوکاله ول، 46- او په ستري ګناه ئې ټينګار کولو، 47- او ويل به ئې: آيا کله چي ومرو او خاوري او هډوکي وو آيا حتماً به راپاڅول کېږو؟! 48- او آيا زموږ لومړني پلرونه هم؟! 49- ووايه: يقيناً چي لومړني او وروستني به، 50- هرومرو د يوې معلومي ورځې ميقات ته غونډ کړی شوي وي،

ثُمَّ إِنَّكُمۡ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلۡمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَأٓكِلُونَ مِن شَجَرٖ مِّن زَقُّومٖ
﴿٥٢﴾ فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ﴿٥٤﴾
فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٥٦﴾ نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ
فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ ﴿٥٨﴾ ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ
ٱلۡخَٰلِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ ٱلۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٦٠﴾
عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمۡثَٰلَكُمۡ وَنُنشِئَكُمۡ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدۡ
عَلِمۡتُمُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُولَىٰ فَلَوۡلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَفَرَءَيۡتُم مَّا تَحۡرُثُونَ ﴿٦٣﴾
ءَأَنتُمۡ تَزۡرَعُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾ لَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنَٰهُ حُطَٰمٗا
فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغۡرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَءَيۡتُمُ
ٱلۡمَآءَ ٱلَّذِي تَشۡرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمۡ أَنزَلۡتُمُوهُ مِنَ ٱلۡمُزۡنِ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنزِلُونَ
﴿٦٩﴾ لَوۡ نَشَآءُ جَعَلۡنَٰهُ أُجَاجٗا فَلَوۡلَا تَشۡكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَءَيۡتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي
تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمۡ أَنشَأۡتُمۡ شَجَرَتَهَآ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحۡنُ
جَعَلۡنَٰهَا تَذۡكِرَةٗ وَمَتَٰعٗا لِّلۡمُقۡوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾
*فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾

51- بیا به تاسو اې تېروتو دروغ ګڼونکو؛ 52- حتماً د زقوم له ونې خوړونکي وئ، 53- نو خپلې خېټې ترې ډکوونکي، 54- له پاسه ئې د اېشېدلو اوبو څښونکي، 55- د تږو اوښانو د څښلو په څېر څښونکي، 56- همدا به د سزا او جزاء په ورځ د دوی مېلمستیا وي. 57- موږ پیدا کړي یئ نو ولې (بیا پیدا کول) رښتینی نه بولئ، 58- آیا د هغه څه په اړه مو پام کړی چې (په رحم کې ئې) څڅوئ، 59- آیا تاسو ئې پنځوئ او که موږ پنځوونکي یو، 60- موږ په تاسو کې مرګ مقدر کړی او تر موږ وړاندي کېدونکی نشته، 61- په دې کې چې ستاسو په عوض کې ستاسو امثال راپیدا کړو او په داسي بڼې کې مو پیدا کړو چې نه پرې پوهېږئ، 62- او یقیناً چې تاسو د لومړني پیدایښت په څرنګوالي پوه شوي یئ نو ولې پند نه اخلئ؟! 63- آیا هغه څه ته مو پام کړی چې تاسو ئې کرئ، 64- آیا تاسو ئې رازرغونوئ او که موږ زرغونوونکي یو؟ 65- که وغواړو مات مات ډکي به ئې کړو داسي چې تاسو به هك پك شئ، 66- (بیا به وایئ) موږ تاواني شوي یو، 67- بلکې محروم کړی شوي یو. 68- آیا هغو اوبو ته مو پام کړی چې تاسو ئې څښئ؟! 69- آیا تاسو ئې له وريځو راکوزوئ او که ئې موږ راکوزوونکي یو؟! 70- که وغواړو تروې به ئې کړو؛ نو ولې شکر نه کوئ؟!71- آیا هغه اور ته مو پام کړی چې تاسو ئې بلوئ، 72- آیا تاسو ئې ونه پنځولې ده او که پنځوونکي موږ یو؟! 73- موږ هغه یوه یادونه ګرځولې او حاجتمنو ته یوه متاع، 74- نو د خپل ستر رب د نامه تسبیح وایه. 75- نو نه؛ د ستورو په موقعیتونو لوړه کوم 76- او دا خو یقیناً چې ستر قسم دئ که پوه شئ،

إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ﴿٧٧﴾ فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ
﴿٧٩﴾ تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ﴿٨١﴾
وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾ فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾
وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا
تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ
نَعِيمٖ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٞ لَّكَ مِنۡ
أَصۡحَٰبِ ٱلۡيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٞ
مِّنۡ حَمِيمٖ ﴿٩٣﴾ وَتَصۡلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلۡيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحۡ
بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

## سُورَةُ الحَدِيدِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١﴾ لَهُۥ
مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ
﴿٢﴾ هُوَ ٱلۡأَوَّلُ وَٱلۡأٓخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلۡبَاطِنُۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾

77- بې شکه چې دا عزتمن قرآن دئ، 78- په مکنون (پوښلي) کتاب کې،
79- له پاکانو پرته ئې بل څوك نشي مس کولی، 80- د رب العالمین له
لوري نازل شوی. 81- نو آیا د دې قرآن په اړه بې اعتنائي کوونکي یئ،
82- او دا خپله روزي (برخه) ګرځوئ چې تاسو (ئې) تکذیبوونکي وئ؟
83- نو کله چې (سا) ستوني ته ورسېږي 84- او هغه مهال تاسو (ورته)
ګورئ، 85- او موږ هغه ته تر تاسو ډېر ورلنډ وو خو تاسي نه وینئ. 86-
نو که تاسو دین (الهي حکم) ته منقاد نه یئ 87- ستنه ئې کړئ که
رښتیني یئ. 88- نو که هغه د مقربینو له ډلې وي، 89- نو هوسایي،
خوږوږمه ګلان او له نعمتونو ډك جنت (به ئې وي) 90- او که د بختورو
(اصحاب الیمین) له ډلې وي نو (ورته وبه ویل شي) تا ته د بختورو له
لوري سلام دئ، 92- او که د لارورکو درواغ ګڼونکو له ډلې وي، 93- نو
بیا مېلمستیا به (ئې) تودې خوټېدونکې اوبه وي، 94- او په دوزخ کې
غورځول، 95- یقیناً چې دا یو یقیني حقیقت دئ، 96- نو د خپل ستر رب
د نامه تسبیح وایه.

## الحدید- مدني سوره- 29 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي د الله تسبیح وایي او هغه
باحکمت عزتمن دئ، 2- د آسمانونو او زمکې ټولواکي د ده ده، ژوند
ورکوي او مرګ ورکوي او هغه په هر څه توانمن دئ، 3- دی هم لومړی
دئ او هم وروستی، هم څرګند دئ هم پټ، او دی په هر څه پوه
دئ،

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى
ٱلْعَرْشِ ۖ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾ لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ
ٱلْأُمُورُ ﴿٥﴾ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌۢ
بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٦﴾ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم
مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾
وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ وَقَدْ
أَخَذَ مِيثَٰقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ
ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ
لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٩﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ
ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟ ۚ
وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾ مَّن ذَا ٱلَّذِى
يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١١﴾

4- دی همغه دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل او بیا پر عرش برابر شو، په هغه څه هم پوهېږي چي په زمکي کي ننوځي او په هغه څه هم چي ترې وځي او په هغه څه هم چي له آسمان راکښته کېږي او په هغه څه هم چي په کي لوړ ځي، او هغه په هر ځای کي چي تاسو وئ درسره دئ، او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ. 5- د آسمانونو او زمکي ټولواکي د ده ده، او چاري د الله لوري ته ستنول کېږي، 6- شپه په ورځ کي ننباسي او ورځ په شپه کي ننباسي، او هغه د سينو په شته وو ښه پوه دئ. 7- پر الله او د ده پر پيغمبر ایمان راوړئ او له هغه څه انفاق وکړئ چي تاسو ئې په هغه کي ځای ناستي (د نورو وارث) کړي يئ، نو چا چي ستاسو له ډلي ایمان راوړ او انفاق ئې وکړ دوی ته ستر اجر دئ، 8- او څه درباندي شوي چي پر الله ایمان نه راوړئ حال دا چي پيغمبر تاسو بلي چي پر خپل رب ایمان راوړئ او په داسي حال کي چي ستاسو ژمنه ئې ترلاسه کړې؛ که مؤمنان يئ. 9- دی همغه دئ چي پر خپل بنده ئې څرګند آيتونه نازل کړل چي تاسو له تيارو د نور لوري ته وباسي، او يقيناً چي الله پر تاسو مهربان لوروونکی دئ. 10- او څه درباندي شوي چي د الله په لار کي انفاق نه کوئ په داسي حال کي چي د آسمانونو او زمکي ميراث د الله دئ، ستاسو هغه چي تر فتحي وړاندي ئې انفاق کړی او جنګېدلي (له نورو سره) برابر نه دي، دوی د درجې له پلوه تر هغو ستر دي چي ترې وروسته ئې انفاق کړی او جنګېدلي، او الله له هر يوه سره غوره وعده کړې، او الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ. 11- هغه څوك دئ چي الله ته کوم پور د حسنه قرض په توګه ورکړي، چي ده ته به ئې څو برابره کړي او ده ته به پرتمين اجر وي،

يَوۡمَ تَرَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَسۡعَىٰ نُورُهُم بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۖ
بُشۡرَىٰكُمُ ٱلۡيَوۡمَ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ ذَٰلِكَ
هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٢﴾ يَوۡمَ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ
ءَامَنُواْ ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ مِن نُّورِكُمۡ قِيلَ ٱرۡجِعُواْ وَرَآءَكُمۡ فَٱلۡتَمِسُواْ
نُورٗاۖ فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ وَظَٰهِرُهُۥ مِن
قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ﴿١٣﴾ يُنَادُونَهُمۡ أَلَمۡ نَكُن مَّعَكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمۡ
فَتَنتُمۡ أَنفُسَكُمۡ وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَٱرۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ
أَمۡرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ﴿١٤﴾ فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ
وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُۖ هِيَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَبِئۡسَ
ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٥﴾ ۞أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا
نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ
عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿١٦﴾ ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ
ٱللَّهَ يُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ
﴿١٧﴾ إِنَّ ٱلۡمُصَّدِّقِينَ وَٱلۡمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقۡرَضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعَفُ
لَهُمۡ وَلَهُمۡ أَجۡرٞ كَرِيمٞ ﴿١٨﴾

12- هغه ورځ چې مؤمنين او مؤمناني به داسې وينې چې رڼا به ئې
مخې او ښي لورې ته وي، نن به ستاسو زيرى هغه جنتونه وي چې
ترې لاندې ويالې بهيږي؛ په هغه کې تلپاته، همدا ستره بريا ده، 13-
هغه ورځ چې منافقين او منافقاني به هغو ته چې ايمان ئې راوړى
وايي: موږ ته تم شئ چې ستاسو له رڼا څه څلا ترلاسه کړو، وبه
ويل شي: شا لورې ته مو ستانه شئ او هلته کوم نور ولټوئ، نو د
دوى تر منځ به داسې ديوال ووهل شي چې يوه دروازه به ئې وي،
منځ ئې داسې چې په هغه کې به رحمت وي او ظاهر ئې داسې چې
په وړاندې ئې عذاب، 14- دوى ته به چيغې وهي: آيا موږ له تاسو
سره نه وو؟! وبه وايي: هو؛ خو تاسو خپل ځان په فتنې کې وغورځاوو
او انتظار مو وکړ او شك مو وکړ او هيلو دوکه کړئ تر هغه چې د
الله حکم راغى او د الله په اړه غولوونکي وغولولئ. 15- نو نن به نه
له تاسو فديه اخيستل کيږي او نه له هغو چې کفر ئې کړى،
استوګنځى مو اور، همدا مو مل، او د ورتلو څومره بد ځاى! 16- آيا
هغو ته چې ايمان ئې راوړى د دې وخت نه دئ رارسيدلى چې زړونه
ئې د الله په يادولو او د هغه حق له کبله وپوړيږي چې الله نازل
کړى او د هغو په څير نه شي چې تر دې وړاندې کتاب ورکړى شوى
وو او وخت پرې اوږد شو نو زړونه ئې سخت شول او د دوى ډيرى
فاسقان ول؟! 17- په دې پوه شئ چې الله زمکه له خپلې مړينې
وروسته ژوندۍ کوي، يقيناً چې خپل آيتونه مو درته بيان کړل د دې
لپاره چې تعقل وکړئ. 18- يقيناً چې صدقه ورکوونکي نارينه او
ښځينه او هغه چې الله ته ئې کوم پور د حسنه قرض په توګه ورکړى؛
څو برابره به ئې ورته زيات کړي او دوى ته پرتمين اجر دئ.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَۖ وَٱلشُّهَدَآءُ
عِندَ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ وَنُورُهُمۡۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ
أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ١٩ ٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا لَعِبٞ
وَلَهۡوٞ وَزِينَةٞ وَتَفَاخُرُۢ بَيۡنَكُمۡ وَتَكَاثُرٞ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِۖ كَمَثَلِ
غَيۡثٍ أَعۡجَبَ ٱلۡكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَكُونُ
حُطَٰمٗاۖ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٞ شَدِيدٞ وَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٞۚ وَمَا
ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ٢٠ سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ
وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ
وَرُسُلِهِۦۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ
٢١ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي
كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٢٢ لِّكَيۡلَا
تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ
مُخۡتَالٖ فَخُورٍ ٢٣ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ وَيَأۡمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلۡبُخۡلِۗ وَمَن
يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٢٤

19- او هغه چې پر الله او د ده پر پیغمبرانو ئې ایمان راوړی؛ دوی د الله په وړاندې ډېر رښتیني او شهادت ورکوونکې دي، دوی ته خپل خپل اجر او رڼا ده، او هغه چې کفر ئې کړی او زما آیتونه ئې تکذیب کړي دوی دوزخیان دي. 20- په دې پوه شئ چې د دنیا ژوند یوازې لوبه، بېهوده مشغولتیا، سینګار، ستاسو تر منځ یو پر بل فخر کول، د مال او اولاد په اړه یو تر بل زیات درلودل دئ، لکه هغه باران چې بوټي ئې کروندګې حیران کړي، بیا وچ شي چې ته ئې زېړ شوی ګورې، بیا مات مات شي، او په آخرت کې هم شدید عذاب دئ او هم د الله مغفرت او رضاء، او د دنیا ژوند له غولوونکې متاع پرته بل څه نه دئ. 21- د خپل رب بخښنې او هغه جنت لوري ته تلوار وکړئ چې سور ئې د آسمان او زمکې د سور په اندازه دئ، هغو ته تیار کړی شوی چې پر الله او د ده پر پیغمبرانو ئې ایمان راوړی، همدا د الله فضل دئ، هغه چا ته ئې ورکوي چې دی ئې غواړي، او الله د ستر فضل خاوند دئ. 22- نه په زمکې کې کومه پېښه رامنځته کېږي او نه ستاسو په خپل ځان کې مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) شوې تر هغه وړاندې چې پیدا ئې کړو، یقیناً چې دا الله ته آسان دئ، 23- تر څو د هغه څه له کبله ناهیلي ونه کړئ چې له لاسه مو وتلي او نه پر هغه څه خوښي وکړئ چې تاسو ته ئې درکړي، او الله هر فخر کوونکی متکبر نه خوښوي، 24- هغه چې بخل کوي او خلك پر بخل ګماري، او څوك چې مخ واړوي نو یقیناً چې الله همغه ذات دئ چې ستایل شوی غني دئ.

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ
لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ
لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ
عَزِيزٞ ٢٥ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحٗا وَإِبۡرَٰهِيمَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ
وَٱلۡكِتَٰبَۖ فَمِنۡهُم مُّهۡتَدٖۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٢٦ ثُمَّ قَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ
ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيۡنَا بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَۖ
وَجَعَلۡنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأۡفَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَرَهۡبَانِيَّةً ٱبۡتَدَعُوهَا
مَا كَتَبۡنَٰهَا عَلَيۡهِمۡ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ رِضۡوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ
رِعَايَتِهَاۖ فَـَٔاتَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۡهُمۡ أَجۡرَهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ
٢٧ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ بِرَسُولِهِۦ يُؤۡتِكُمۡ
كِفۡلَيۡنِ مِن رَّحۡمَتِهِۦ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا تَمۡشُونَ بِهِۦ وَيَغۡفِرۡ
لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢٨ لِّئَلَّا يَعۡلَمَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَلَّا
يَقۡدِرُونَ عَلَىٰ شَيۡءٖ مِّن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ
مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢٩

25- يقيناً چي خپل پيغمبران مو له څرګندو نښو سره ولېږل او لدوی
سره مو کتاب او ميزان ولېږلو چي خلك پر عدالت قائم وي او هغه
اوسپنه مو رالېږلې (پيدا کړې) چي په هغې کي شديد جنګ دئ او
خلکو ته (ډېري) ګټې، او چي الله هغه خلك معلوم کړي چي په غياب
کي د ده او د ده د پيغمبرانو ملتيا کوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواکمن
دئ. 26- او يقيناً چي نوح او ابراهيم مو ولېږل او د دواړو په اولاد کي
مو نبوت او کتاب وټاکلو نو د دوی ځيني لار موندونکي شول او د دوی
ډېری فاسقان شول، 27- بيا مو د دوی پر پلونو خپل پيغمبران ورپسې
کړل او عيسی د مريمې زوی مو ورپسې کړ او ده ته مو انجيل ورکړ او
د هغو په زړونو کي مو زړه سوی، رحمت او رهبانيت راپيدا کړ چي د
ده متابعت ئې وکړ، هغه رهبانيت چي دوی په خپله رامنځته کړ او
موږ د الله د رضاء له لټولو پرته بل څه نه وو پرې فرض کړي؛ نو په
داسي توګه ئې هغه مراعات نه کړ چي ورسره وړ وو، نو د دوی هغو
ته مو خپل خپل اجر ورکړ چي ايمان ئې راوړی وو او د دوی ډېری
فاسقان ول. 28- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او د
ده پر پيغمبر ايمان راوړئ، چي د خپل رحمت دوه برخي درکړي او
داسي رڼا درته وټاکي چي په هغه سره تګ وکړئ او تاسو ته بخښنه
وکړي، او الله مهربان بخښونکی دئ، 29- د دې لپاره چي اهل کتاب
داسي ونه انګېري چي د الله د فضل په هيڅ څه به برلاسي نه شي، او
دا چي فضل د الله په واك کي دئ هغه چا ته ئې ورکوي چي دی ئې
وغواړي، او الله د ستر فضل خاوند دئ.

# سُورَةُ المُجَادلَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ
وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ١ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ
مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمۡۖ إِنۡ أُمَّهَٰتُهُمۡ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي
وَلَدۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَيَقُولُونَ مُنكَرٗا مِّنَ ٱلۡقَوۡلِ وَزُورٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ
غَفُورٞ ٢ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمۡ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُواْ
فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مِّن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۚ ذَٰلِكُمۡ تُوعَظُونَ بِهِۦۚ وَٱللَّهُ
بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٣ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ
مِن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ فَإِطۡعَامُ سِتِّينَ مِسۡكِينٗاۚ
ذَٰلِكَ لِتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ وَلِلۡكَٰفِرِينَ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ٤ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُواْ كَمَا
كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ
عَذَابٞ مُّهِينٞ ٥ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْۚ
أَحۡصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٦

# المجادله- مدني سوره- 22 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- يقيناً چي الله د هغي مېرمني وينا اورېدلې ده چي د خپل مېړه په اړه ئې له تا سره مجادله کوله او الله ته ئې شکايت کولو، او الله ستاسو دواړو محاوره اورېدله، يقيناً چي الله ښه ليدونکی اورېدونکی دئ. 2- ستاسو هغه چي له خپلو مېرمنو ظهار کوي (داسي ئې پر ځان حراموي لکه خپله مور)؛ هغوی ئې ميند نه دي، ميندي ئې له شکه پرته يوازي هغه دي چي دوی ئې زېږولي، او يقيناً چي دوی کرکجنه او دروغجنه خبره کوي او يقيناً چي الله بخښونکی عفو کوونکی دئ. 3- او هغه چي له خپلو مېرمنو ظهار کوي بيا هغه څه ته ستنېږي چي ويلي ئې دي، نو د يوې غاړې آزادول دي؛ وړاندي تر دې چي يو له بل سره نژدېکت وکړي، دا هغه څه دي چي تاسو ته پرې وعظ کېږي، او الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ، 4- او څوك چي ونه مومي نو دوه مياشتي پرله پسې روژه نيول دي، وړاندي تر دې چي يو له بل سره نژدېکت وکړي، او څوك چي ونه توانېږي نو شپېتو مسکينانو ته خوراك ورکول دي؛ دا د دې لپاره چي پر الله او د هغه پر پيغمبر ايمان ولرئ، او دا الهي پولي دي، او کافرانو ته دردوونکی عذاب دئ. 5- يقيناً هغه چي له الله او د ده له پيغمبر سره دښمني کوي همغسي سپك او ذليل شوي لکه هغه چي تر دوی وړاندي سپك شوي ول، او يقيناً چي څرگند آيتونه مو نازل کړي، او دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب دئ، 6- هغه ورځ چي الله به دوی ټول راپاځوي او په هغه څه به ئې خبروي چي دوی کړي، هغه چي الله شمېرلي او دوی هېر کړي او الله په هر څه ناظر دئ.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ مَا يَكُونُ
مِن نَّجۡوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمۡ وَلَا خَمۡسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمۡ وَلَآ
أَدۡنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكۡثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمۡ أَيۡنَ مَا كَانُواْۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم
بِمَا عَمِلُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٧ أَلَمۡ تَرَ إِلَى
ٱلَّذِينَ نُهُواْ عَنِ ٱلنَّجۡوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَيَتَنَٰجَوۡنَ
بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِۖ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ
يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ
حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ
إِذَا تَنَٰجَيۡتُمۡ فَلَا تَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِ
وَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ٩ إِنَّمَا
ٱلنَّجۡوَىٰ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ لِيَحۡزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيۡسَ بِضَآرِّهِمۡ شَيۡـًٔا
إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ١٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ
ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ١١

7- آيا پام دي نه دئ چي الله په هر هغه څه پوهېږي چي په آسمانونو او په زمکې کې دي، نه داسي نجوی (پټې خبري کول) شته چي د دريو ترمنځ وي او دی ئې څلورم نه وي او نه د پنځو ترمنځ چي دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم يا زيات مگر دا چي دی ورسره وي، هرچېري چي وي، بيا به ئې د قيامت په ورځ په هغه څه خبر کړي چي دوی کولو، بې شکه چي الله په هر څه ښه پوه دئ. 8- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي له پټې مرکې منع شول بيا هغه څه ته ستنېږي چي ترې منع شوي او د گناه، تېري او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه پټې مرکې کوي، او کله چي درته راشي نو په داسي الفاظو سلام درته وايي چي الله په هغه سره پر تا سلام نه دئ ويلی او له ځان سره وايي: الله مو ولې پر هغه څه نه تعذيبوي چي موږ ئې وايو! هغه دوزخ ورته بس دئ چي ورننوځي به، نو د ورتگ ځومره بد ځاتوبی! 9- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! کله چي پټې مرکې کوئ نو د گناه، تېري او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه پټې مرکې مه کوئ، او د ښېگڼې او تقوی په اړه پټې مرکې کوئ، او له هغه الله ووېرېږئ چي د هغه لوري ته به ورغونډ کړی شئ، 10- دا نجوی يوازې د شيطان له لوري وي چي غواړي هغه پرې غمجن کړي چي ايمان ئې راوړی؛ په داسي حال کې چي هغوی ته د کوم ضرر رسوونکی نه دئ مگر د الله په إذن، نو مؤمنان دي پر الله توکل وکړي. 11- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! کله چي درته وويل شي: د ناستي په ځای کې پراخوالی وکړئ؛ نو پراخوالی وکړئ چي الله پراخوالی درپه برخه کړي، او کله چي درته وويل شي: اوچت شئ؛ نو اوچت شئ، الله به ستاسو د هغو درجې لوړي کړي چي ايمان ئې راوړی او هغه چي علم ورکړی شوی، او الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ
صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾
ءَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٖۚ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ وَتَابَ
ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَٱللَّهُ
خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٣﴾ ۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم
مَّا هُم مِّنكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ وَيَحۡلِفُونَ عَلَى ٱلۡكَذِبِ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ
ٱللَّهُ لَهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدًاۖ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٥﴾ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ
جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٦﴾ لَّن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ
أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيَحۡلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحۡلِفُونَ لَكُمۡ
وَيَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍۚ أَلَآ إِنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ ﴿١٨﴾ ٱسۡتَحۡوَذَ عَلَيۡهِمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمۡ ذِكۡرَ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ
ٱلشَّيۡطَٰنِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿١٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِي
ٱلۡأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ﴿٢١﴾

12- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې له پیغمبر سره پټه مرکه کوئ نو
له خپلې پټې مرکې وړاندې کومه صدقه ورکړئ، همدا ستاسو لپاره غوره او
زیات سپېڅلی دئ، او که ئې ونه مومئ نو الله مهربان بخښونکی دئ، 13-
آیا له دې ووېرېدئ چې تر خپلو پټو مرکو وړاندې صدقات ورکړئ، نو که
داسې مو ونه کړل او الله پر تاسو پېرزوینه وکړه (درته معاف ئې کړ) نو
لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او د الله او د ده د پیغمبر اطاعت وکړئ، او الله
په هغه څه ښه پوه دئ چې تاسو ئې کوئ. 14- آیا هغو ته دې پام نه دئ
کړی چې له داسې وګړو سره ئې دوستي کړې چې الله پرې غضب کړی، نه
دوی ستاسې له ډلې دي او نه د هغوی له ډلې، په داسې حال کې په درواغو
لوړه کوي چې پوهېږي، 15- الله سخت عذاب ورته تیار کړی، هغه څه له
شك پرته ډېر بد دي چې دوی ئې کوي، 16- له خپلو قسمونو ئې ډال جوړ
کړی او د الله له لارې ئې ډډه کړې چې له کبله ئې دوی ته سپکوونکی
عذاب دئ. 17- هیڅکله به نه د دوی مالونه د الله کوم څه (کوم عذاب)
ترې دفع کړی شي او نه ئې اولادونه، دوی دوزخیان دي، په هغه کې تلپاته،
18- هغه ورځ چې الله به دوی ټول راپاڅوي نو ده ته به همغسې لوړې
کوي لکه چې تاسو ته قسمونه خوري، او داسې به انګېري چې دوی په کوم
څه (موفق کېدونکي) دي، پام چې یقیناً همدا دوی دروغجن دي، 19-
شیطان پرې مسلط شوی نو د الله یادونه ئې ترې هېره کړې، دا ډله د شیطان
حزب دئ، پام چې یقیناً همدا د شیطان د حزب (غړي) تاوانیان دي. 20-
یقیناً هغه چې له الله او د ده له رسول سره دښمني کوي همدا دوی د ډېرو
سپکو په ډلې کې دي، 21- الله دا لیکلي چې هم به زه هرومرو برلاسی کېږم
او هم زما پیغمبران، یقیناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ.

لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ
أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ
جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ
وَرَضُواْ عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ
﴿٢٢﴾

## سُورَةُ الحَشۡرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١﴾
هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ
لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم
مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ
ٱلرُّعۡبَۚ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ
يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ﴿٢﴾ وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ
فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ﴿٣﴾

22- هغه قوم چي پر الله او پر آخرت ئې ایمان وي؛ هیڅکله به ئې
داسي ونه مومې چي له هغه چا سره دوستي وکړي چي له الله او د
هغه له پیغمبر سره ئې دښمني کړې وي، که څه هم دوی ئې پلرونه
وي، زامن ئې وي، ورونه ئې وي او خپلوان ئې وي، همدغه کسان دي
چي الله د دوی په زړونو کي ایمان ثبت کړی او په خپله روح (غیبي
فیض) سره ئې د هغوی مرسته کړې، هغوی به داسي جنتونو ته داخل
کړي چي ترې لاندي ویالې بهېږي، په هغه کي تلپاته، الله له هغوی
راضي شوی، دوی له الله راضي شوي، همدا د الله حزب دئ، (دغه کسان
د الله د حزب غړي دي) یقیناً چي د الله حزب بریالی دئ.

## الحشر- مدني سوره- 24 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په زمکي کي دي الله ته تسبیح
کوي او هغه باحکمت عزتمن دئ. 2- دی همغه ذات دئ چي د اهل
کتاب هغه کافران شوي ئې له لومړي غونډېدو سره سم له خپلو
کورونو وایستل، تاسو دا گمان نه کولو چي دوی به ووځي او دوی
گمان کولو چي کلاگاني به ئې د الله په وړاندي د دوی ساتونکې وي،
نو الله په داسي توگه ورغی چي دوی ئې گمان نه وو کړی، او د دوی
په زړونو کي ئې وېره واچوله، خپلي خوني ئې په خپل لاس او د مؤمنانو
په لاس ورانولې، نو اې سترگورو! عبرت واخلئ، 3- او که الله د دوی په
اړه وطن پرېښودل نه وی لیکلي نو دوی به ئې حتماً په دنیا کي تعذیب
کړي ول، په داسي حال کي چي دوی ته په آخرت کي د اور عذاب دئ،

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ﴿٤﴾ مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا
فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ
مِنۡهُمۡ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٖ وَلَا رِكَابٖ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ
رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٦﴾ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ
عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ
وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ كَيۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ
مِنكُمۡۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٧﴾ لِلۡفُقَرَآءِ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ
أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأَمۡوَٰلِهِمۡ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا
وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو
ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي
صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ
خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٩﴾

4- دا له دې کبله چې دوی د الله او د ده د رسول مقابله وکړه او څوک چې د الله مقابله وکړي نو الله سخت سزا ورکوونکی دئ. 5- د کجورو کومې ونې چې تاسو قطع کړې او یا مو پر خپلو جرړو ولاړې پرېښودې نو دا د الله په إذن او د دې لپاره وو چې دا فاسقان سپك کړي، 6- او الله چې د دوی کوم څه پر خپل پیغمبر ولورول نو تاسو نه کوم آس پرې ځغلولی او نه کوم اوښ، خو الله خپل پیغمبران پر هغه څه مسلطوي چې دی ئې غواړي او الله پر هر څه توانا دئ، 7- د دغو کلیو د استوګنو کوم څه چې الله پر خپل پیغمبر لورولي نو دا د الله، د پیغمبر، د خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او د مسافرانو دي، دا د دې لپاره چې هغه ستاسو د غنیانو تر منځ لاس په لاس نه شي، پیغمبر چې تاسو ته څه درکړي هغه واخلئ او له څه ئې چې منع کړئ له هغه ډډه وکړئ او له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله شدید العقاب دئ. 8- د مهاجرینو هغو فقیرانو ته چې له خپلو کورونو او مالونو ایستل شوي، د الله فضل او رضاء لټوي او د الله او د ده د رسول ملتیا کوي، همدا دوی رښتیني دي، 9- او هغه چې تر دوی وړاندې ئې په دې کور او د ایمان (غبږ) کې ځای نیولی، له هغو سره محبت لري چې د دوی لوري ته ئې هجرت کړی، او په خپلو سینو کې هغه څه ته اړتیا نه مومي چې دوی ته ورکړی شوي او پر خپل ځان نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم په خپله ډېر حاجتمن وي، او څوك چې د خپل نفس له حرص او بخل خوندي پاته شو همدا دوی بریالي دي،

وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا
ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ
رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠ ۞أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ
لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ
لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ
لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١١ لَئِنۡ أُخۡرِجُواْ لَا
يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمۡ وَلَئِن نَّصَرُوهُمۡ
لَيُوَلُّنَّ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ١٢ لَأَنتُمۡ أَشَدُّ رَهۡبَةٗ فِي صُدُورِهِم
مِّنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ١٣ لَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ جَمِيعًا
إِلَّا فِي قُرٗى مُّحَصَّنَةٍ أَوۡ مِن وَرَآءِ جُدُرِۭۚ بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٞۚ
تَحۡسَبُهُمۡ جَمِيعٗا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ١٤
كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَرِيبٗاۖ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ١٥ كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ
قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦

10- او هغه چي تر دوی وروسته راغلي او وايي: اې زموږ ربه! موږ او زموږ هغو وروڼو ته بخښنه وکړه چي پر موږ ئې د ايمان لوري ته سبقت (وړاندي تګ) کړی او زموږ په زړونو کي هغو ته رخه او کينه مه ګرځوه چي ايمان ئې راوړی؛ اې زموږ ربه! يقيناً چي ته مهربان لورووںکی يې. 11- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړی چي منافقت ئې کړی او خپلو هغو کافران شوو وروڼو ته چي د اهل کتاب له ډلي دي وايي: که وايستل شوئ حتماً موږ هم درسره وځو او ستاسو په اړه به د هيچا هيڅکله اطاعت ونه کړو او که جګړه درسره وشوه هرومرو ستاسو ملتيا کوو په داسي حال کي چي الله ګواهي ورکوي چي دوی يقيناً دروغجن دي، 12- که وايستل شي نه ورسره وځي او که جګړه ورسره وشي مرسته ئې نه کوي او که ئې مرسته وکړي حتماً به شاګاني اړوي او بيا به ئې مرسته ونه شي. 13- يقيناً چي تاسو د دوی په سينو کي د وېري له پلوه تر الله هم سخت يئ، دا له دې کبله چي دوی هغه وګړي دي چي نه پوهېږي، 14- په ګډه به له تاسو سره ونه جنګېږي مګر په حصار لرونکو کليو کي يا د دېوالونو له شا، خپلمنځۍ جګړي ئې سختي وي، متحد ئې انګېرې په داسي حال کي چي زړونه ئې جلا جلا دي، دا له دې کبله چي دوی هغه وګړي دي چي تعقل نه کوي، 15- د هغو په څېر چي تر دوی لږ وړاندي ول، د خپلو چارو سزا ئې وڅکله، او دوی ته دردناك عذاب دئ، 16- لکه د شيطان په څېر چي انسان ته ئې وويل: کافر شه، نو کله چي کافر شو وئې ويل: يقيناً چي زه له تا بې زار يم، يقيناً چې زه له رب العالمين الله وېرېږم،

فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ
مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا
تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسۡتَوِيٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۚ
أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوۡ أَنزَلۡنَا هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ عَلَىٰ
جَبَلٖ لَّرَأَيۡتَهُۥ خَٰشِعٗا مُّتَصَدِّعٗا مِّنۡ خَشۡيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلۡكَ
ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي
لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾
هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ
ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ
﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ
يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

## سُورَةُ المُمْتَحنَةِ

17- نو د دواړو پایله دا وه چې دواړه به په اور کې وي، په هغه کې تلپاته، او همدا د دغو ظالمانو سزا ده. 18- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ او (ستاسې) هر کس دې وګوري چې د سبا لپاره ئې څه وړاندې کړي، او له الله ووېرېږئ یقیناً چې الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ، 19- او د هغو په څېر مه کېږئ چې الله ئې هېر کړ نو الله د دوی خپل ځانونه ترې هېر کړل، همدا دوی فاسقان دي، 20- د اور خاوندان (دوزخیان) او د جنت خاوندان (جنتیان) سره برابر نه دي، یوازې همدا جنتیان بریالي دي. 21- که مو دا قرآن په کوم غره نازل کړی وی نو حتماً به دې د الله له وېرې وېرجن ټوټې ټوټې کېدونکی لیدلی وو، او دا هغه مثالونه دي چې خلکو ته ئې په دې موخه بیانوو چې تفکر وکړي. 22- دی هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، په پټ او ښکاره پوه، دی ډېر ډېر مهربان رحم کوونکی دئ، 23- دی هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، ټولواک، سپېڅلی، بشپړ، امان ورکوونکی، احاطه کوونکی، عزتمن، برلاسی او د لویي څښتن دئ، الله ته له هغه څه سپېڅلتیا ده چې دوی ئې ورسره شریکوي، 24- دی پنځوونکی الله، پیدا کوونکی او انځوروونکی دئ، هر هغه څه ده ته تسبیح وایي چې په آسمانونو او زمکې کې دي، او هغه باحکمت عزتمن دئ.

## الممتحِنه- مدني سوره- 13 آیتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ
إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ
وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي
وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ
أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١ إِن يَثۡقَفُوكُمۡ
يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ
وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢ لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣ قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ
أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ
وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ
ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ إِلَّا قَوۡلَ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ
لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۖ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا
وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ
وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٥

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه نیسئ، داسې چې د دوستۍ (پیغام) وررسوئ، حال دا چې دوی په هغه حق کافران شوي چې تاسو ته درغلی، پیغمبر او تاسو له دې کبله باسي چې پر خپل رب مو ایمان راوړئ، که (په رښتیا) زما په لار کې د جهاد لپاره او زما د رضاء په لټه کې وتلي یئ، په پټه هغوی ته د دوستۍ (پیغام) استوئ په داسې حال کې چې زه په هغه څه هم ښه پوهېږم چې تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چې تاسو ئې څرګندوئ، او له تاسو چې څوك دا كار وكړي نو يقيناً چې سمه لار ئې ورکه کړې. 2- که په لاس ورشئ نو دښمنان به مو وي او خپل لاسونه او ژبې به د تاوان په موخه ستاسو په لوري دراوږدوي او دا به خوښوي چې تاسو هم کافران شئ. 3- هیڅکله به نه ستاسو خپلوان ګټه دررسوي او نه مو اولاد، د قیامت په ورځ به ستاسو تر منځ بېلوالی راولي، او الله د هغه څه ښه لیدونکی دئ چې تاسو ئې کوئ. 4- بې شکه چې تاسو ته په ابراهیم او د ده په ملګرو کې غوره بېلګه شته؛ هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وویل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زار یو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، له تاسو منکر یو، زموږ او ستاسو ترمنځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو یوازې پر یوه الله ایمان راوړئ، مګر خپل پلار ته د ابراهیم هغه وینا چې حتماً به تا ته بخښنه غواړم په داسې حال کې چې له الله تا ته کوم څه په واك کې نه لرم، اې زموږ ربه! پر تا مو توکل کړی، ستا لوري ته مو رجوع کړې او بېرته ستنېدا ستا لوري ته ده، - اې زموږ ربه! موږ هغو ته یوه آزموینه مه کړې چې کفر ئې غوره کړی او اې زموږ ربه! موږ ته بخښنه وکړه، یقیناً چې ته باحکمت عزتمن یې،

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِيهِمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَۚ
وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ٦ ۞عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ
بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ عَادَيۡتُم مِّنۡهُم مَّوَدَّةٗۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ
٧ لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم
مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ٨
إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن
دِيَٰرِكُمۡ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ أَن تَوَلَّوۡهُمۡۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلظَّٰلِمُونَ ٩ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٖ
فَٱمۡتَحِنُوهُنَّۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّۖ فَإِنۡ عَلِمۡتُمُوهُنَّ مُؤۡمِنَٰتٖ فَلَا
تَرۡجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلۡكُفَّارِۖ لَا هُنَّ حِلّٞ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّۖ وَءَاتُوهُم مَّآ
أَنفَقُواْۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّۚ وَلَا
تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ وَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْۚ ذَٰلِكُمۡ
حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠ وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ
مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتۡ أَزۡوَٰجُهُم مِّثۡلَ
مَآ أَنفَقُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ١١

6- يقيناً چي تاسو ته په هغوی کې ښکلې اقتداء ده، هغه چا ته چي الله او د آخرت ورځې ته هیله ساتي، او چا چي مخ واړاوو نو یقیناً چي الله ستایل شوی غني دئ. 7- ښايي الله به ستاسو او د دوی د هغو وګړو تر منځ دوستي راپيدا کړي چي دښمني مو ورسره کړې، الله قدير دئ او الله مهربان بخښونکی دئ. 8- الله له هغو نه يئ منع کړي چي له تاسو سره نه دي جنګېدلي او تاسو ئې له خپلو مېنو نه يئ ايستلي، له دې چي ښېګڼه ورسره وکړئ او عادلانه چلن ورسره وکړئ، يقيناً چي الله داسي مقسطين (عادلان) خوښوي. 9- يقيناً چي الله يوازي له هغو خلکو سره چي د دين له کبله له تاسو سره جنګېدلي، تاسو ئې له خپل ټاټوبي ايستلي يئ او ستاسو په ايستلو کې ئې د (دښمن) ملتيا کړې، له موالات منع کړي يئ، او څوك چي له هغوی سره موالات وکړي همدا دوی ظالمان دي. 10- اې هغو چي ايمان ئې راوړی! کله چي مؤمني ښځې د مهاجرو په توګه درشي نو هغوی وآزمويئ، الله د دوی پر ايمان ښه پوه دئ، که مو هغوی مؤمني وموندلې نو د کفارو لوري ته ئې مه ستنوئ، نه دوی هغوی ته حلالي دي او نه هغوی دوی ته حلال کېږي، او هغه څه ورکړئ چي هغوی لګولي، او پر تاسو کومه ګناه نشته چي دوی هغه مهال په نکاح کړئ چي مَهر ئې ورکړئ، او د کافرو مېرمنو په نکاح پوري منګولي مه ټينګوئ او هغه څه وغواړئ چي تاسو لګولي او هغوی دي هغه څه وغواړي چي دوی لګولي، همدا د الله حکم دئ، چي ستاسو تر منځ حکم کوي او الله باحکمت پوه دئ. 11- او که د مېرمنو د مهر کومه برخه مو د کفارو لوري ته له لاسه ووتله، بيا مو سزا ورکړه؛ نو هغو ته چي مېرمني ئې تللې دي دومره څه ورکړئ چي دوی لګولي، او له هغه الله ووېرېږئ چي تاسو پرې ايمان لرونکي يئ.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ يُبَايِعۡنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ
بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡرِقۡنَ وَلَا يَزۡنِينَ وَلَا يَقۡتُلۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأۡتِينَ
بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ وَلَا يَعۡصِينَكَ فِي
مَعۡرُوفٖ فَبَايِعۡهُنَّ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُنَّ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢﴾
يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ قَدۡ
يَئِسُواْ مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ﴿١٣﴾

## سُورَةُ الصَّفِّ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
﴿١﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ﴿٢﴾ كَبُرَ مَقۡتًا
عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ
يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ﴿٤﴾ وَإِذۡ قَالَ
مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ لِمَ تُؤۡذُونَنِي وَقَد تَّعۡلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ
إِلَيۡكُمۡۖ فَلَمَّا زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾

12- اې پېغمبره! کله چې مؤمني ښځې درشي د دې لپاره چې له تا سره
په دې بیعت وکړي چې نه به له الله سره کوم څه شریکوي، نه به غلا
کوي، نه به زنا کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به داسي دروغجن تور
لګوي چې د خپلو لاسونو او پښو منځ کې ئې افتراء کوي، او نه به په کوم
معروف کار کې له تا سرغړونه کوي، نو بیعت ورسره وکړه او له الله بخښنه
ورته وغواړه، یقیناً چې الله مهربان بخښونکی دئ. 13- اې هغو چې ایمان
ئې راوړی! له هغو وګړو سره دوستي مه کوئ چې الله پرې غضب کړی،
له آخرت داسي ناهیلي دي لکه چې د قبرونو خاوندان کفار ناهیلي دي.

## الصف- مدني سوره- 14 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکي کې دي الله ته
تسبیح کوي او هغه باحکمت عزتمن دئ. 2- اې هغو چې ایمان
ئې راوړی! ولې هغه څه وایئ چې نه ئې کوئ؟! 3- دا د الله په
وړاندي د ستر غضب وړ دئ چې هغه څه ووایئ چې نه ئې کوئ.
4- یقیناً چې الله له هغو سره مینه لري چې د ده په لار کې داسي
صف تړلي جنګېږي لکه چې دوی یو اوسپنیز دېوال وي. 5- او
هغه مهال چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! ولې مي
ځوروئ؛ په داسي حال کې چې پوهېږئ زه له کوم شك پرته ستاسو
لوري ته د الله استازی یم، بیا کله چې کاږه شول نو الله د دوی
زړونه کاږه کړل، او الله داسي فاسق وګړي نه هدایتوي،

وَإِذۡ قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُم
مُّصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي
ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ٦ وَمَنۡ
أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُوَ يُدۡعَىٰٓ إِلَى ٱلۡإِسۡلَٰمِۚ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٧ يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ
مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ
وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ تُنجِيكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ١٠
تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ
وَأَنفُسِكُمۡۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١١ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ
ذُنُوبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ
طَيِّبَةٗ فِي جَنَّٰتِ عَدۡنٖۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٢ وَأُخۡرَىٰ تُحِبُّونَهَاۖ نَصۡرٞ
مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتۡحٞ قَرِيبٞۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٣ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ
أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى
ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ
١٤

6- او هغه مهال چې عيسى د مريمې زوى وويل: اې بني اسرائيلو! يقيناً چې زه ستاسو لوري ته د الله رسول يم، د هغه تورات تصديقوونكى چې تر ما وړاندې دئ او د هغه پيغمبر زېرى وركوونكى چې له ما وروسته به راځي چې نوم ئې احمد دئ، نو كله چې له څرګندو نښو سره ورغى وئې ويل: دا څرګند جادو دئ. 7- او تر هغه به زيات ظالم څوك وي چې پر الله دروغجنه افتراء كوي په داسې حال كې چې دى د اسلام لوري ته بلل كېږي، او الله داسې ظالم وګړي نه هدايتوي. 8- غواړي په خپلو خولو سره د الله نور له منځه يوسي په داسې حال كې چې الله د خپل نور بشپړوونكى دئ كه څه هم كافران كركه ولري. 9- دى هغه ذات دئ چې خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلي چې پر ټولو دينونو ئې غالب كړي كه څه هم مشركين كركه ولري. 10- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! آيا هغه تجارت دروښيم چې له دردناك عذاب مو ژغوري، 11- پر الله او د ده پر پيغمبر ايمان ولرئ او په خپل مال او نفس سره د الله په لار كې جهاد وكړئ، همدا درته غوره دئ كه وپوهېږئ، 12- ګناهونه به مو درته وبخښي او داسې جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندې ويالې بهېږي، او په تلپاته جنتونو كې پاكيزه استوګنځي، همدا ستره بريا ده، 13- او هغه بل چې تاسو ئې خوښوئ: د الله مرسته او نژدې فتح، مؤمنانو ته زېرى وركړه. 14- اې هغو چې ايمان ئې راوړى! د الله انصار شئ، همغسې لكه چې د مريمې زوى عيسى حواريونو ته وويل: څوك مې د الله لوري ته مله دي؟ حواريونو وويل: موږ د الله انصار يو، نو د بني اسرائيلو يوې ډلې ايمان راوړ او بلې ډلې كفر وكړ، نو هغه مو د خپلو دښمنانو په خلاف تأييد كړل چې ايمان ئې راوړى وو، نو دوى غالب شول.

## سُورَةُ الجُمُعَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡمَلِكِ ٱلۡقُدُّوسِ ٱلۡعَزِيزِ
ٱلۡحَكِيمِ ١ هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ
ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ
لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ٢ وَءَاخَرِينَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُواْ بِهِمۡۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ٣ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ
ٱلۡعَظِيمِ ٤ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ثُمَّ لَمۡ يَحۡمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلۡحِمَارِ
يَحۡمِلُ أَسۡفَارَۢاۚ بِئۡسَ مَثَلُ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥ قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمۡتُمۡ
أَنَّكُمۡ أَوۡلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ
٦ وَلَا يَتَمَنَّوۡنَهُۥٓ أَبَدَۢا بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ
٧ قُلۡ إِنَّ ٱلۡمَوۡتَ ٱلَّذِي تَفِرُّونَ مِنۡهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمۡۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ
عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٨

## الجمعه- مدني سوره- 11 آيتونه

**د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه**

**1- څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په زمکي کي دي؛ ټولواك، سپېڅلي، عزتمن باحکمت الله ته تسبيح وايي، 2- دی همغه ذات دئ چي په نالوستو کي ئې د دوی له ډلي يو رسول ولېږو چي د ده آيتونه پرې ولولي، تزکيه ئې کړي او کتاب او حکمت وروښيي، په داسي حال کي چي تر دې وړاندي په ښرگندي تېروتني کي ول، 3- او د دوی نور چي لا تراوسه نه دي ورسره يوځای شوي، او هغه باحکمت عزتمن دئ، 4- دا د الله فضل دئ هغه چا ته ئې ورکوي چي دی ئې وغواړي، او الله د ستر فضل څښتن دئ. 5- د هغو مثال چي د تورات حملولو (مسئوليت) د دوی پر اوږو ږدول شوی وو؛ بيا ئې هغه حمل نه کړ؛ هغه خره ته ورته دئ چي کتابونه پر شا وړي، د هغو وگړو مثال څومره بد دئ چي د الله آيتونه ئې تکذيب کړل، او الله دا ظالم وگړي نه هدايتوي. 6- ووايه: اې هغو چي يهودان شوي! که گمان کوئ چي يوازي تاسو د الله دوستان يئ نه نور خلك نو د مرگ هيله وکړئ که رښتيني يئ، 7- او د هغه څه له کبله به ئې هيڅکله هيله ونه کړي چي د دوی لاسونو وړاندي کړي، او الله د دغو ظالمانو پر حال ښه پوه دئ، 8- ووايه: هغه مرگ چي ترې تښتئ نو هغه خو حتماً له تاسو سره مخامخېدونکی دئ، بيا د هغه ذات لوري ته گرځول کېږئ چي په پټ او ښرگند پوه دئ، نو په هغه څه به مو پوه کړي چي تاسو کول.**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ
إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ
٩ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ
ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ١٠ وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ
لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ مِّنَ ٱللَّهۡوِ
وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١

## سُورَةُ المُنَافِقُونَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ
لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ١ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ
جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ٣
*وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ كَأَنَّهُمۡ
خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ
قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٤

9- اې هغو چې ایمان ئې راوړی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه آذان وشي نو د الله د ذکر لوري ته تلوار وکړئ او پېر پلور پرېږدئ، همدا ستاسو لپاره غوره دئ که پوهېږئ، 10- او کله چې لمونځ پای ته ورسېږي په زمکې کې خواره شئ او د الله د فضل لټه وکړئ او الله زیات یاد کړئ چې بریالي شئ، 11- او کله چې کوم تجارت یا کومه مشغولوونکې لوبه وګوري د هغې لوري ته وروځي او تا ولاړ پرېږدي، ووایه: هغه څه چې له الله سره دي تر دې لوبې او تر تجارت غوره دي او الله تر ټولو غوره روزي ورکوونکی دئ.

## المنافقون- مدني سوره- 11 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کله چې منافقین تا ته درغلي ویلي ئې دي: ګواهي ورکوو چې یقیناً ته حتماً د الله رسول یې، په داسي حال کې چې الله پوهېږي ته د ده رسول یې او الله ګواهي ورکوي چې منافقین یقیناً دروغجن دي. 2- خپل قسمونه ئې د یوه ډال په توګه نیولي، نو د الله له لارې ئې ډډه وکړه، یقیناً چې هغه څه بد دي چې دوی کولو. 3- دا له دې کبله چې دوی ایمان راوړی بیا ئې کفر کړی، نو پر زړونو ئې مهر ولګول شو چې له امله ئې نه پوهېږي. 4- او کله چې دوی وګورې جثې ئې تا حیرانوي، او که خبري کوي نو ته ئې وینا ته غوږ ږدې، دوی داسې دي لکه تکیه کړی شوې لکړې، هر جګ غږ د ځان خلاف ګڼي، همدا دوی اصلي دښمنان دي نو حذر ترې وکړه، الله دې هلاك کړي، له کومه دوکه کېږي؟!

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ يَسۡتَغۡفِرۡ لَكُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوۡاْ رُءُوسَهُمۡ
وَرَأَيۡتَهُمۡ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ٥ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ أَسۡتَغۡفَرۡتَ
لَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ لَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي
ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٦ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ عَلَىٰ مَنۡ عِندَ
رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّواْۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ
وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَفۡقَهُونَ ٧ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعۡنَآ إِلَى
ٱلۡمَدِينَةِ لَيُخۡرِجَنَّ ٱلۡأَعَزُّ مِنۡهَا ٱلۡأَذَلَّۚ وَلِلَّهِ ٱلۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ
وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن
يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ٩ وَأَنفِقُواْ مِن مَّا
رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوۡلَآ
أَخَّرۡتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٠
وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَاۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ
١١

## سُورَةُ التَّغَابُنِ

5- او کله چې هغوی ته وويل شي: راشئ چې رسول الله تاسو ته بخښنه وغواړي، خپل سرونه به تاو کړي او دوی به وګورې چې په داسي حال کې به ډډه کوي چې د خپلې لويي په لټه کې وي. 6- دا ورته برابره ده چې بخښنه ورته وغواړې او که بخښنه ورته ونه غواړې، الله به هيڅکله دوی ته بخښنه ونه کړي، يقيناً چې الله دا فاسق وګړي نه هدايتوي. 7- دوی هغه دي چې وايي: پر هغو مالي لګښتونه مه کوئ چې د پيغمبر په خوا کې دي، د دې لپاره چې خواره شي، په داسي حال کې چې د آسمانونو او زمکې خزانې د الله دي خو منافقين نه پوهېږي. 8- وايي: که مدينې ته ستانه شو نو ډېر عزتمن به ډېر ذليل هرومرو له مدينې باسي، په داسي حال کې چې عزت د الله دئ، د ده د پيغمبر دئ او د مؤ منانو دئ خو منافقين نه پوهېږي. 9- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! نه دي ستاسو مالونه تاسو د الله له ذکر غافل کړي او نه ستاسو زامن، او څوک چې داسي وکړي نو همدا دوی زيانمن دي. 10- او له هغه څه انفاق وکړئ چې تاسو ته مو درروزي کړي، تر هغه وړاندې چې کوم يوه ته مو مرګ درشي بيا ووايي: اې زما ربه! ولې دي تر يوې نژدې نېټې ونه ځنډولم چې د صدقاتو ورکړه مي کړې وی او له صالحانو شوی وی؟! 11- او کله چې د يوه ژوي اجل راشي نو الله ئې هيڅکله نه ځنډوي او الله په هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

## التغابن- مدني سوره- 18- آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم
مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ
وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ
٤ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُ فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ
وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٞ يَهۡدُونَنَا فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْۖ وَّٱسۡتَغۡنَى ٱللَّهُۚ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٞ
٦ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ
لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ
وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٨ يَوۡمَ يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ
ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا يُكَفِّرۡ
عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ
أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- هغه څه چي په آسمانونو کي دي او هغه څه چي په زمکي کي دي د الله په تسبيح بوخت دي، ټولواکي د ده ده او ستاينه ده ته ده، او هغه پر هر څه توانمن دئ، 2- دی هغه دئ چي تاسو ئې پيدا کړئ، چي ځيني مو کافر دي او ځيني مو مؤمن، او الله د هغه څه ښه ليدونکی دئ چي تاسو ئې کوئ، 3- آسمانونه او زمکه ئې په حقه پيدا کړي او تاسو ته ئې صورت درکړی او ستاسو صورت ئې غوره او ښکلی گرځولی، او د ده لوري ته ستنېدا ده، 4- په هغه څه پوهېږي چي په آسمانونو او زمکي کي دي او په هغه څه هم پوهېږي چي تاسو ئې پټوئ او په هغه څه هم چي تاسو ئې څرگندوئ، او الله د سينو په شته وو ښه پوه دئ. 5- آيا د هغو خبر نه دئ درغلی چي تر دې وړاندي ئې کفر وکړ نو د خپل کار سزا ئې وڅکله، او دوی ته دردوونکی عذاب دئ، 6- دا له دې کبله چي دوی ته د دوی پيغمبران له څرگندو نښو سره ورغلل او دوی وويل: آيا يو انسان زموږ لارښوونه کوي، نو کفر ئې وکړ او مخ ئې واړولو، او الله بې نيازي وکړه او الله ستايلی بې نياز دئ. 7- هغو چي کفر ئې کړی داسي ئې انگېرلې چي هيڅ کله به نه راپاځول کېږي، ووايه: داسي نه ده؛ پر خپل رب مي قسم چي حتماً به راپاځول شئ بيا به حتماً پر هغه څه خبر کړی شئ چي تاسو کړي او دا الله ته آسان دئ. 8- نو پر الله او د ده پر پيغمبر او پر هغه نور ايمان راوړئ چي موږ نازل کړی، او الله پر هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ. 9- هغه ورځ چي تاسو به د راغونډېدو ورځي ته راغونډ کړي، همدا د تغابن ورځ (د گټي يا تاوان ورځ) ده، او څوک چي پر الله ايمان راوړي او نېك عمل وکړي بدغوني به ئې ترې زائل کړي او داسي جنتونو ته به ئې ننباسي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، په هغوی کي تر ابد تلپاته، همدا ستره بريا ده،

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصۡحَـٰبُ ٱلنَّارِ خَـٰلِدِينَ
فِيهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٠﴾ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ
وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١١﴾ وَأَطِيعُواْ
ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ
ٱلۡمُبِينُ ﴿١٢﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٣﴾
يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ
فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ
عَظِيمٞ ﴿١٥﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ
خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٦﴾ إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ
وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ
ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٨﴾

## سُورَةُ الطَّلَاقِ

10- او هغه چې کفر ئې وکړ او زما آيتونه ئې تکذيب کړل دوی د اور خاوندان دي، په هغه کې تلپاته، او د ورستنېدو څومره بد ځای. 11- هيڅ مصيبت نه واقع کېږي مګر د الله په اذن او اراده او څوک چې پر الله ايمان لري هغه ئې زړه هدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دئ. 12- او د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر اطاعت وکړئ، او که مخ واړوئ نو زموږ پر استازي له څرګند ابلاغ پرته بل څه نشته. 13- الله هغه دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، او مؤمنان بايد پر الله توکل وکړي. 14- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! يقيناً چې ستاسو له مېرمنو او ستاسو له اولاد ځيني ستاسو دښمنان دي نو ترې حذر وکړئ، او که عفو وکړئ، مخ واړوئ او بخښنه وکړئ نو يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ، 15- يقيناً چې ستاسو اموال او ستاسو اولاد فقط يوه آزموينه ده، او الله داسي دئ چې د هغه په نزد کې ستر اجر دئ. 16- نو له الله هومره ووېرېږئ چې کولی شئ، واورئ، اطاعت وکړئ او انفاق وکړئ چې همدا ستاسو لپاره غوره دئ، او څوک چې د خپل نفس له حرص او بخل وساتل شو همدا دوی بريالي دي، 17- که الله ته کوم غوره پور په پور ورکړئ تاسو ته به ئې څو برابره زيات کړي او بخښنه به درته وکړي، او الله د زغم خاوند مننونکی دئ، 18- په پټ او څرګند پوه باحکمت عزتمن دئ.

## الطلاق- مدني سوره- 12 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ ٱلۡعِدَّةَۖ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن
يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ
ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا ١ فَإِذَا بَلَغۡنَ
أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ فَارِقُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ وَأَشۡهِدُواْ ذَوَيۡ
عَدۡلٖ مِّنكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ
يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ
مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ
بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا ٣ وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ
ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ
يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ
يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ٤ ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَمَن
يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا ٥

**د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه**

**1- اې نبي! کله چې ښځو ته طلاق ورکوئ نو د دوی عدت ته په پام سره هغوی طلاقې کړئ او دا عدت وشمېرئ، او له خپل رب الله ووېرېږئ، مه ئې تاسو د دوی له اړوند خونو باسئ او نه دې دوی وځي مګر دا چې د فحش کوم ځرګند کار ترسره کړي، او همدا الهي پولې دي، او څوك چې له الهي پولو تېری وکړي نو يقيناً چې پر خپل ځان ئې ظلم کړی، ته نه پوهېږې؛ ښايي الله به له دې وروسته کوم نوی حالت رامنځته کړي. 2- نو کله چې خپلو نېټو ته ورسېدلې نو يا ئې په غوره توګه ايساري کړئ او يا ئې په غوره توګه بېلې کړئ، او له خپل منځه دوه د عدل خاوندان شاهد ونيسئ، او شهادت د الله لپاره اداء کړئ، دا هغه څه دي چې په هغه سره هغه چا ته نصيحت کېږي چې پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري، او څوك چې له الله وېرېږي؛ د نجات لار به ورته پرانيزي، 3- او له داسې لارې به رزق او روزي ورکړي چې ګمان ئې هم نه کوي، او څوك چې پر الله توکل وکړي نو هغه ورته کافي دئ، يقيناً چې الله خپل کار ته رسېدونکی دئ، بې شکه چې الله د هر کار لپاره حد او نېټه ټاکلې ده. 4- او ستاسې هغه مېرمنې چې له حيض ناهيلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتې دئ او د هغو هم چې حيض نه کوي، او د حامله مېرمنو نېټه دا ده چې خپل حمل وزېږوي، او څوك چې له الله ووېرېږي هغه ته به په خپل کار کې آسانی وګرځوي، 5- دا د الله هغه امر دئ چې تاسو ته ئې نازل کړی، او څوك چې له الله ووېرېږي بدغونې (بد خصلتونه) به ئې ترې پټ کړي او اجر به ورته ستر کړي.**

أَسۡكِنُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ سَكَنتُم مِّن وُجۡدِكُمۡ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُواْ
عَلَيۡهِنَّۚ وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمۡلٖ فَأَنفِقُواْ عَلَيۡهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ
فَإِنۡ أَرۡضَعۡنَ لَكُمۡ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأۡتَمِرُواْ بَيۡنَكُم بِمَعۡرُوفٖۖ وَإِن
تَعَاسَرۡتُمۡ فَسَتُرۡضِعُ لَهُۥٓ أُخۡرَىٰ ﴿٦﴾ لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ وَمَن
قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهُۥ فَلۡيُنفِقۡ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَآ
ءَاتَىٰهَاۚ سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ﴿٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ
أَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبۡنَٰهَا حِسَابٗا شَدِيدٗا وَعَذَّبۡنَٰهَا عَذَابٗا نُّكۡرٗا
﴿٨﴾ فَذَاقَتۡ وَبَالَ أَمۡرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمۡرِهَا خُسۡرًا ﴿٩﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمۡ
عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ يَـٰٓأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ قَدۡ أَنزَلَ ٱللَّهُ
إِلَيۡكُمۡ ذِكۡرٗا ﴿١٠﴾ رَّسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٖ لِّيُخۡرِجَ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِۚ وَمَن يُؤۡمِنۢ
بِٱللَّهِ وَيَعۡمَلۡ صَٰلِحٗا يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَآ أَبَدٗاۖ قَدۡ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزۡقًا ﴿١١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ
وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ مِثۡلَهُنَّۖ يَتَنَزَّلُ ٱلۡأَمۡرُ بَيۡنَهُنَّ لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا ﴿١٢﴾

6- هلته ئې واوسوئ چې تاسو اوسئ؛ له خپل توان سره سم، او ضرر مه وررسوئ داسي چې تنگسه پرې راولئ، او که اولاد په نس لري نو تر هغه پرې انفاق کوئ چې خپل اولاد وزېږوي، او که ئې ستاسو لپاره (ستاسو اولاد ته) تی ورکولو نو اجوره ئې ورکړئ، او په غوره توگه په خپلو کې مشوره وکړئ، او که سختي وکړئ نو بله به تی ورکړي، 7- حتماً دي وسي د خپل وس سره سم انفاق وکړي، او پر چا چې خپل رزق تنگ کړی شوی وي نو له همغه څه دي انفاق وکړي چې الله ورکړي، الله هیڅوك نه گماري مگر له هغه سره سم چې ورکړي ئې دي، الله به حتماً له کړاو وروسته آساني رامنځته کړي. 8- او له کلیو څومره ئې داسي وو چې د خپل رب او د ده د پیغمبرانو له امر ئې سرغړاوی وکړ چې له کبله ئې موږ په شدید حساب سره محاسبه ورسره وکړه او په ناوړه عذاب سره مو تعذیب کړ، 9- نو د خپل کار وبال ئې وڅکلو او د کار پایله ئې تاوان وو، 10- الله شدید عذاب ورته تیار کړی، نو اې هغو عقلمنو چې ایمان ئې راوړی! له الله ووېرېږئ، یقیناً چې الله ستاسو لوري ته یو ذکر لېږلی؛ 11- داسي یو پیغمبر چې د الله څرگند آیتونه د دې لپاره درباندي لولي چې هغه وگړي له تیارو د نور لوري ته وباسي چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي، او څوك چې پر الله ایمان راوړي او نېك عمل وکړي داسي جنتونو ته به ئې ننباسي چې ترې لاندي ویالې بهېږي؛ په هغه کې تر ابده تلپاته، په داسي حال کې چې الله ئې رزق ورته ښایسته او غوره گرځولی. 12- الله همغه ذات دئ چې اوه آسمانونه ئې پیدا کړل او له زمکي هم د هغوی په څېر، د دوی تر منځ امر نازلېږي، ترڅو په دې پوه شئ چې یقیناً الله پر هر څه توانمن دئ او دا چې الله پر هر څه علماً احاطه کړې.

# سُورَةُ التَّحۡرِيمِ

## بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ
غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١ قَدۡ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمۡ تَحِلَّةَ أَيۡمَٰنِكُمۡۚ وَٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ
وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ ٢ وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا
نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا
نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ٣ إِن تَتُوبَآ
إِلَى ٱللَّهِ فَقَدۡ صَغَتۡ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ
وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ٤ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ
إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرٗا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٖ مُّؤۡمِنَٰتٖ قَٰنِتَٰتٖ
تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٖ سَٰٓئِحَٰتٖ ثَيِّبَٰتٖ وَأَبۡكَارٗا ٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ
أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ
غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٦ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَعۡتَذِرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ٧

## التحريم- مدني سوره- 12 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې نبي! ولې هغه څه حراموې چې الله درته حلال کړي؟ په داسي حال
کې چې د خپلو مېرمنو رضاء لټوې، او الله مهربان بخښونکی دئ، 2- يقيناً
چې الله تاسو ته د قسمونو پرانيستل مقرر کړي، او الله ستاسو مولا دئ او
هغه باحکمت پوه دئ. 3- او کله چې پيغمبر له خپلو ځينو مېرمنو سره
يوه خبره په سري توګه ياده کړه، نو کله چې هغې دا خبره (نورو ته) بيان
کړه او الله دی پرې پوه کړ، يوه برخه ئې څرګنده کړه او له بلې ئې ډډه
وکړه، نو کله چې ئې هغه پرې خبره کړه وئې ويل: چا دا خبره درته وکړه؟
وئې ويل: باخبره پوه ذات پرې خبر کړم. 4- او که تاسو دواړه الله ته توبه
وکړئ نو يقيناً چې ستاسو زړونو کوږوالی موندلی، او که د ده په خلاف يوه
د بلې ملاتړ وکړئ نو يقيناً چې الله په خپله د ده مولا دئ او جبرائيل او
صالح مؤمنان، پر دې سربېره فرشتې ملاتړې، 5- که تاسو طلاقې کړي نو
ښايي رب به ئې داسي مېرمني په بدل کې ورکړي چې تر تاسو غوره دي،
مسلماني، مؤمناني، منقادي، توبه کوونکې، عبادت کوونکې، د رب لوري ته
سياحت کوونکې، کونډې او پېغلې. 6- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! ځان
او خپله کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې سون به ئې خلك او ډبري وي،
داسي فرشتې پرې ګمارل شوې چې سخت زړي او مضبوطي دي او په هغه
څه کې له الله سرغړاوی نه کوي چې پرې ګماري ئې او همغه څه کوي چې
پرې ګمارل کېږي. 7- اې هغو چې کفر ئې کړی! نن عذر مه وړاندي کوئ،
يقيناً چې يوازي د هغه څه مطابق سزا درکول کېږي چې تاسو کول.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ
أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّـٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ
نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا
وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ
ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ
ٱلۡمَصِيرُ ٩ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ
وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ
فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ
مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ١٠ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ
فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن
فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ
عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ
بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ١٢

8- اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د الله لوري ته په سوچه توبې سره ستانه شئ، ښايي ستاسو رب به ستاسو بدغوني پټ کړي او داسي جنتونو ته به مو ننباسي چې ترې لاندي ويالې بهېږي؛ هغه ورځ چې الله به نبي او هغه چې له ده سره ئې ايمان راوړی ونه شرموي، رڼا به ئې مخي ته او د دوی ښي لوري ته ځغلي؛ وايي به: اې زموږ ربه! نور مو راته بشپړ کړه او بخښنه راته وکړه، يقيناً چې ته پر هر څه توانمن يې. 9- اې نبي! له کافرانو او منافقينو سره جهاد کوه او توند چلن ورسره کوه، د دوی ټمځی دوزخ دئ، د ستنېدو څومره بد ځای! 10- الله د هغو لپاره چې کفر ئې کړی د نوح د مېرمني او د لوط د مېرمني مثال بيان کړی؛ دواړه زموږ د بندګانو له ډلې د دوو صالح بندګانو تر نکاح لاندي وې، دواړو له هغوی سره خيانت وکړ، نو د الله هيڅ څه ئې لدوی دواړو دفع نه کړی شو، او ورته وويل شو: اورته ننوځئ؛ له نورو ننوتکونو سره يو ځای، 11- او الله د هغو لپاره چې ايمان ئې راوړی د فرعون د مېرمني مثال بيان کړی چې وئې ويل: اې زما ربه! ما ته په خپلي خوا کې په جنت کې يو استوګنځی جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمله مي وژغوره او له دغه ظالم قوم مي وژغوره. 12- او د عمران لور مريمې (مثال) چې د خپل عورت ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلي روح يوه روح په کې پو کړه، د خپل رب ويناوي او د هغه کتابونه ئې رښتيني وګڼل، او د غاړه اېښودونکو له ډلې وه.

# سُورَةُ المُلۡكِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ ٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَيَوٰةَ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡغَفُورُ
٢ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن
تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ
كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤ وَلَقَدۡ زَيَّنَّا
ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومٗا لِّلشَّيَٰطِينِۖ وَأَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ
عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ٥ وَلِلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ
ٱلۡمَصِيرُ ٦ إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقٗا وَهِيَ تَفُورُ ٧ تَكَادُ
تَمَيَّزُ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۖ كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ
نَذِيرٞ ٨ قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن
شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ٩ وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ
مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ١٠ فَٱعۡتَرَفُواْ بِذَنۢبِهِمۡ فَسُحۡقٗا لِّأَصۡحَٰبِ
ٱلسَّعِيرِ ١١ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ
١٢

# الملك- مكي سوره- 30 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- مبارك دئ هغه ذات چي واکمني ئې ده په لاس کي، او ښه قادر دئ په هر څه. 2- هغه ذات چي مرگ او ژوند ئې راپيدا کړ ترڅو وآزمويي تاسو چي کوم يو مو ښه او غوره دئ عمل کي؟ او هغه دئ ډېر بخښونکی عزتمن. 3- هغه ذات چي اوه آسمانونه ئې پوړ پوړ پيدا کړل، د رحمن په مخلوقاتو کي بېلوالی ليدی نه شې، نو وغړوه سترگي، آيا گورې کوم يو چاود؟ 4- بيا هم وغړوه سترگي په وار وار، راوبه گرځي سترگي ستا په لوري نامراده او وي به ارمانجني. 5- او بې شکه چي آسمان د دې نږدې مو ښايسته کړلو په روڼو څراغونو او کړل مو "وسيله" د شيطانانو د رټلو، او دوی ته مو تيارکړلو د سرو لمبو عذاب. 6- او هغوی ته چي کافر شول په خپل رب، عذاب د جهنم دئ او دا ورگرځېدا څومره بدمرغه! 7- چي کله په کي گوزار شي، له هغه به غضبناکه چيغه واوري او هغه به شور او ځوږ کړي. 8- نژدې به وي چي وچوي له غيظه، چي کله کوم لښکر په کي گوزار شي، ساتونکي به ئې پوښتي: ستاسو خوا ته کوم نذير نه وو راغلی؟! 9- وايي به چي هو! يو نذير خو وو راغلی، خو مونږ هغه تکذيب کړ او دا مو وويل چي نه الله څه نازل کړي، او نه تاسو يئ له ستري تېروتني پرته بل څه کي. 10- او وايي به: که غوږ مو وی نيولی او تعقل مو کړی وی، په ټولگي د دوزخيانو کي به نه وو. 11- نو په خپلو گناهونو به اقرار شي، نو نفرين د دوزخيانو دې ټولگي ته.12- بې شکه، هغه خلك چي په غيب سره وېرېږي له خپل ربه، بخښنه به وي دوی ته او ستر اجر.

وَأَسِرُّواْ قَوْلَكُمْ أَوِ ٱجْهَرُواْ بِهِۦٓۖ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا
يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٤﴾ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ
ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُواْ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزْقِهِۦۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾
ءَأَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ﴿١٦﴾
أَمْ أَمِنتُم مَّن فِى ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًاۖ فَسَتَعْلَمُونَ
كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ
﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا
ٱلرَّحْمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ
يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا
ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥۚ بَل لَّجُّواْ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَن
يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ
وَٱلْأَفْـِٔدَةَۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ
وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾
قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾

13- که وينا مو يا کړئ پټه يا ښکاره، بې شکه هغه پوه دئ د سينو په ټولو شته وو.14- آيا چا چې (مخلوقات دي) پيدا کړي، نه به (پرې) پوهېږي؟! حال دا چې دی لطيف دئ؛ ښه باخبر. 15- دی خو هغه ذات دئ چې دا زمکه ئې کړه تاسو ته تابع، نو پر اوږو ئې وگرځئ او له روزۍ ئې وخورئ، او له گور بيا پاڅون د ده په لور دئ.16- آيا خوندي شوي يئ له هغه چې آسمان کې دئ، له دې چې په زمکې کې مو ښخ کړي چې ناڅاپه به بيا خوځي؟17- آيا خوندي شوي يئ له هغه چې آسمان کې دئ، له دې چې تيرې ورووکې يوه سيلۍ درباندي راولي، هله به بيا پوه شئ چې څنگه دئ انذار مې؟18- او بې شکه چې د دوی مخکنيو هم انکار وکړ، نو (وگوره چې) څنگه وو انکار مې؟ 19- مگر نه ئې دي ليدلي پورته له خپل سر دغه مرغان، چې کله خلاص وزري شي او کله ئې راغونډ کړي، نه ئې ساتي له رحمن خدای پرته بل څوک، بې شکه چې هغه خو نظر ساتی دئ پر هر څه.20- له رحمن خدای پرته څوک دئ چې مو فوځ وي، ستاسو ملاتړ وکړي؟ کافران فقط (پرېوتي) دي دوکې کې. 21- آ به څوک وي چې روزي درکړي، که دی خپله روزي وسپموي؟! بلکي دوی ټينگار کوي، سرکښۍ کې او په تېښتي کې (له حق).22- آيا څوک چې پړمخ درومي سم روان دئ، او که هغه چې په سمه لار نېغ درومي؟ 23- ووايه: دی هماغه ذات دئ چې تاسو ته ئې وده درکړه، او غوږ، سترگي او زړونه ئې درته جوړ کړل، ډېره لږه ده ستاسو مننه!! 24- ووايه: دی خو هغه ذات دئ چې په زمکه ئې خواره کړئ، او ورغونډ به کړی شئ ده ته. 25- او وايي: نو دا وعده به کله وي، که تاسو وئ رښتيني؟ 26- ووايه: دا علم خو يوازي له الله سره دئ، او زه خو له ښکاره نذيره پرته بل څه نه يم.

فَلَمَّا رَأَوۡهُ زُلۡفَةٗ سِيٓـَٔتۡ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ
تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَهۡلَكَنِيَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوۡ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ
ٱلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٢٨﴾ قُلۡ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيۡهِ تَوَكَّلۡنَاۖ
فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٢٩﴾ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَصۡبَحَ مَآؤُكُمۡ
غَوۡرٗا فَمَن يَأۡتِيكُم بِمَآءٖ مَّعِينِۭ ﴿٣٠﴾

## سُورَةُ القَلَمِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نٓۚ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ ﴿١﴾ مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ ﴿٢﴾ وَإِنَّ لَكَ
لَأَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُونٖ ﴿٣﴾ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٖ ﴿٤﴾ فَسَتُبۡصِرُ وَيُبۡصِرُونَ
﴿٥﴾ بِأَييِّكُمُ ٱلۡمَفۡتُونُ ﴿٦﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ
أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿٧﴾ فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ
﴿٩﴾ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٖ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾ هَمَّازٖ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٖ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ
مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ عُتُلِّۭ بَعۡدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾ أَن كَانَ ذَا مَالٖ وَبَنِينَ ﴿١٤﴾ إِذَا
تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٥﴾ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ﴿١٦﴾

27- نو کله چې ئې وګوري نژدې، سپېره به شي مخونه د هغوی چې کافران شول، او وبه ویل شي: دا دئ هغه څه چې غوښتنه ئې کړه تاسو. 28- ووایه: آیا پوهېږئ چې که الله ما او هغه چې له ما سره دي ووژني یا پر مونږ رحم وکړي، څوك به کافرانو ته له دردناك عذاب پناه ورکوي؟ 29- ووایه: دی هماغه رحمان ذات دئ چې ایمان مو پرې راوړی، او توکل مو پرې کړی، ژر به پوه شئ چې څوك په څرګند ضلالت کې دئ؟ 30- ووایه: آیا پوهېږئ چې که اوبه مو (په زمکه کې) ننوځي، نو څوك به رواني اوبه درته راولي؟

## القلم- مکي سوره- 52 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- نون* قسم په قلم او څه چې دوی ئې لیکي. 2- د خپل رب د پېرزویني په سبب لېونی نه یې. 3- او یقیناً چې خامخا تا ته دئ اجر، نه غوڅېدونکی. 4- او بې شکه چې ته یې په سترو سترو خصلتونو. 5- نو ژر به ئې هم ته ګورې او هم دوی ګوري، 6- چې ستاسو کومي ډلي کې مجنون دئ. 7- بې شکه چې ستا رب دئ ډېر ښه پوه، په حال د هغه چا چې له لاري ئې تېروتی او ښه پوه دئ په (هغوی چې) مهتدین دي. 8- نو د دغو دروغجنو اطاعت مه کړه. 9- خوښوي چې کاش ته مداهنت وکړې چې بیا دوی هم مداهنت وکړي.10- او اطاعت مه کړه د هر سپك قسم خور. 11- عیب لټوونکی، چغلګر. 12- د خیر مانع، متجاوز، ګنهګار، 13- بدخوی، سربېره پر دې بدنام. 14- د دې لپاره چې د مال او د اولاد خاوند دئ. 15- چې پرې ولوستی شي زمونږ آیتونه، وایي به: د مخکنیو قصې دي.

إِنَّا بَلَوۡنَٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ إِذۡ أَقۡسَمُواْ لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ﴿١٧﴾
وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ ﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٞ مِّن رَّبِّكَ وَهُمۡ نَآئِمُونَ ﴿١٩﴾
فَأَصۡبَحَتۡ كَٱلصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوۡاْ مُصۡبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ ٱغۡدُواْ عَلَىٰ حَرۡثِكُمۡ
إِن كُنتُمۡ صَٰرِمِينَ ﴿٢٢﴾ فَٱنطَلَقُواْ وَهُمۡ يَتَخَٰفَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدۡخُلَنَّهَا ٱلۡيَوۡمَ
عَلَيۡكُم مِّسۡكِينٞ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوۡاْ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَأَوۡهَا قَالُوٓاْ إِنَّا
لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا
تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ
بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا
خَيۡرٗا مِّنۡهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ
أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾
أَفَنَجۡعَلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ كَٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمۡ
لَكُمۡ كِتَٰبٞ فِيهِ تَدۡرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمۡ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمۡ لَكُمۡ
أَيۡمَٰنٌ عَلَيۡنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمۡ لَمَا تَحۡكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلۡهُمۡ أَيُّهُم
بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾ أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآءُ فَلۡيَأۡتُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾
يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

16- ژر به په خرطوم ورته داغ کېږدو. 17- یقیناً چې مونږ داسي وآزمویل لکه د هغه باغ خاوندان چې مو آزمویلي ول، کله چې ئې لوړه وکړه چې خامخا به ئې په سباوون کې میوې راشکوي. 18- او استثناء ئې هم ونکړه. 19- نو ستا د رب له لوري یو چورلېدونکی پرې راوچورلېد، په داسي حال کې چې ویده ول. 20- نو له جرړو د ایستل شوي په څېر شو. 21- نو په سباوون کې ئې یوه بل ته غږ کړ. 22- چې سهار وختي په خپل کښت حاضر شئ که ئې راشکونکي یئ. 23- نو په داسي حال کې وخوځېدل چې پټ پټ به سره غږېدل. 24- تر څو کوم مسکین دربانديي راداخل نه شي (بڼ ته). 25- په سباوون کې وخوځېدل، په منع کولو ئې برلاسي. 26- خو چې وئې لید، وئې ویل: خامخا مو لاره ورکه کړې. 27- نه، بلکې محروم شوي یو. 28- تر ټولو ښه ئې وویل: مګر تاسو ته مي نه وو ویلي؟ ولې تسبیح نه وایئ؟ 29- وئې ویل: پاکې زمونږ رب ته ده، یقیناً چې مونږ ظالمان وو. 30- بیا ئې ځینو ځینو نورو ته مخ کړ، یو د بل ملامتوونکي. 31- وئې ویل: وای پر مونږ چې یقیناً سرکښ وو. 32- امید دئ رب مو تر دې غوره په بدل کې راکړي، مونږ د ده په لوري رغبت کوونکي یو. 33- (دنیوي) عذاب به داسي وي، او د آخرت عذاب خو حتماً تر دې ستر دئ، کاش پوهېدلی!! 34- بې شکه متقیانو ته په نزد د خپل مولا کې جنتونه دي، ډک ډک له نعمتونو. 35- آیا مسلمانان کړو د مجرمینو په څېر؟ 36- څه درباندي شوي؟ دا څنګه قضاوت کړئ؟ 37- آیا کوم کتاب لرئ چې دا په کې لولئ؟ 38- حتماً به تاسو ته په دې کې هر هغه څه وي چې غوره کوئ ئې!! 39- آیا پر مونږ مو داسي ژمني شته چې تر قیامته به غځېږي چې له مخي به ئې تاسو ته هر هغه څه وي چې امر ئې کوئ؟! 40- ترې وپوښته: کوم ئې د دې ذمه وار دئ؟ 41- یا مګر (له الله سره) شریکان لري، نو خپل شریکان دي راولي که رښتیني وي. 42- هغه ورځ چې پنډۍ بربنډه کړی شي، او دوی سجدې ته راوبلل شي، خو توانېدی به نه شي.

خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ
سَٰلِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرۡنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِۖ سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ
حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا
فَهُم مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ﴿٤٧﴾
فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلۡحُوتِ إِذۡ نَادَىٰ وَهُوَ
مَكۡظُومٞ ﴿٤٨﴾ لَّوۡلَآ أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعۡمَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ مَذۡمُومٞ
﴿٤٩﴾ فَٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ﴿٥١﴾ وَمَا
هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٥٢﴾

## سُورَةُ الحَاقَّةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ
وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾ وَأَمَّا عَادٞ
فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ
أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ
﴿٧﴾ فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ﴿٨﴾

43- سترګي ئې خړې او ټيټې، ذلت پرې سيورى غوړولى، يقيناً چې له دې
مخکې سجدې ته بلل کېدل په داسي حال کې چې روغ رمټ ول. 44- نو ما او
هغه څوك سره پرېږده چې دا خبره دروغ ګڼي، حتماً به ئې داسي په تدريج
سره تباه کړو چې پوه هم نه شي. 45- او دوى ته خو مهلت ورکوو، خو بې
شکه چې تدبير مي ډېر مضبوط دئ. 46- آيا داسي اجر ترې غواړې چې دوى
ئې د تاوان له پېټي درانه کړى شوي! 47- آيا غيبي (اسرار) ورسره دي چې
دوى ئې ليکي! 48- نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه، او د کب وال په څېر
مه کېږه چې غږ ئې کړ، په داسي حال کې چې غصه ناك وو. 49- که د خپل
رب پېرزوينه ئې نه وى په برخه شوې، نو خامخا به په سپېره ډاګ غورځېدلى
او مذمت شوى به وو. 50- خو خپل رب غوره او له صالحينو ئې کړ. 51- او
بې شکه چې کله کافران ذکر (قرآن) اوري نو نژدې وي چې په خپلو (غضبناکو)
سترګو سره دي وښويوي او وايي: دى خو هسي لېونى دئ. 52- حال دا چې دا
خو عالميانو ته له پنده پرته بل څه نه دئ.

## الحاقة- مكي سوره- 52 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- هماغه واقع کېدونکې! 2- څه ده دا واقع کېدونکې؟ 3- څه شي
پوه کړې چې څه ده دا واقع کېدونکې؟ 4- ثمودیانو او عادیانو؛
تکذيب کړه دا ځپونکې. 5- نو په سرکښه عذاب هلاك شول ثموديان.
6- او په سرکښه توند باد هلاك شولو عاديان. 7- اوه شپې او اته
ورځې ئې دا پرېکنده (سيلۍ) پرې مسلط کړه، دا قوم به دې په دې
(وخت) کې داسي وو مونډلى چې پړمخې پراته دي، لکه ستې د خرما،
تشې او له جرړو ايستل شوې. 8- نو آيا څه پاته شونې ترې ګورې؟

وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ٩ فَعَصَوۡاْ
رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ١٠ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ
فِي ٱلۡجَارِيَةِ ١١ لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ١٢ فَإِذَا
نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا
دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ
يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ
يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧ يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ١٨ فَأَمَّا
مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ١٩ إِنِّي
ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ حِسَابِيَهۡ ٢٠ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ٢١ فِي جَنَّةٍ
عَالِيَةٖ ٢٢ قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ٢٣ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَآ أَسۡلَفۡتُمۡ فِي
ٱلۡأَيَّامِ ٱلۡخَالِيَةِ ٢٤ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي
لَمۡ أُوتَ كِتَٰبِيَهۡ ٢٥ وَلَمۡ أَدۡرِ مَا حِسَابِيَهۡ ٢٦ يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ
٢٧ مَآ أَغۡنَىٰ عَنِّي مَالِيَهۡۜ ٢٨ هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ٢٩ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ
٣٠ ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ٣١ ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا
فَٱسۡلُكُوهُ ٣٢ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ٣٣ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ
طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣٤ فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ هَٰهُنَا حَمِيمٞ ٣٥

9- فرعون او مخکنیو ئې هم او د نسکور شوو کلیو (کلیوالو) هم گناه
ته لاس کړ. 10- او د خپل رب له استازي ئې سرغړونه وکړه، نو ځکه ئې
په زیاتېدونکي (عذاب) اخته کړل. 11- نو کله چې هغو اوبو طغیان وکړ،
تاسو مو په رواني (بېړۍ) کې سپاره کړئ. 12- تر څو ئې درته پند وگرځوو
او حساس غوږونه ئې په یاد وساتي. 13- نو هغه وخت چې پو شي په
شپېلۍ کې، یو وار پو. 14- او اوچت کړی شي هم زمکه او هم غرونه، نو
سره وبه ټکول شي په یو وار ټکولو. 15- نو واقع به شي په دې ورځ،
هماغه واقع کېدونکې. 16- او آسمان به هم شق شق شي، نو وي به په
دې ورځې، سست او شلېدلی. 17-او فرشتې به ئې په ژیو کې وي، او ستا
د رب عرش به په دې ورځ په خپل سر نیسي اته گونې. 18- په دې ورځ
به داسي راوړاندي کړی شئ چې هیڅ پټېدونکې به مو پټه پاته نه شي.
19- نو چا ته چې خپله عمل پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، نو وایي به:
آی! تاسو ته وایم! راشئ عمل پاڼه مي ولولئ. 20- یقیناً چې ما باور کاوو
چې حتماً به له خپل حساب سره مخامخ کېږم. 21- نو دی به په راضي
کوونکي ژوند کې وي. 22- په لوړ پوړي جنت کې.23- مېوې ئې نژدې
نژدې. 24- وخورئ او وڅښئ په خوند خوند، د هغه څه په وجه چې په
تېرو ورځو کې مو وړاندي لېږلي وو. 25- او هغه چې پاڼه به ئې په کیڼ
لاس کې ورکړی شي وایي به: ای کاش عمل پاڼه مي نه وی راکړی شوې!
26- او په دې نه وی پوه شوی چې حساب مي څنگه دئ! 27- کاش دا
(خو د کار) پای ته رسوونکې وی. 28- مال مي بې نیازه نه کړم. 29-
واکمني مي تباه شوه. 30- وئې نیسئ او د غاړې کړۍ ورواچوئ، 31-
بیا ئې په دوزخ کې واچوئ. 32- بیا ئې په داسي زنځیر وتړئ چې اوږدوالی
ئې اویا گزه دئ. 33- یقیناً چې ده نه په ستر الله ایمان راوړ، 34- او نه
ئې مسکین ته د خوراك د ورکړي هڅونه کوله.

وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَأْكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ أُقْسِمُ
بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾ وَمَا
هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۚ قَلِيلًا مَّا
تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ
ٱلْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ ٱلْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا
مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا
لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِنَّهُۥ
لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

## سُورَةُ المَعَارِجِ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَأَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ﴿١﴾ لِّلْكَٰفِرِينَ لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ ﴿٢﴾ مِّنَ
ٱللَّهِ ذِى ٱلْمَعَارِجِ ﴿٣﴾ تَعْرُجُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ
مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴿٤﴾ فَٱصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّهُمْ
يَرَوْنَهُۥ بَعِيدًا ﴿٦﴾ وَنَرَىٰهُ قَرِيبًا ﴿٧﴾ يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ ﴿٨﴾
وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾

35- نو نن به ئې دلته نه کوم دوست وي، 36- او نه (د زخمونو) له نو پرته کوم طعام. 37- چې له خطاکارانو پرته ئې بل څوك نه خوري. 38- نو نه، داسې نه ده، قسم په هغه څه چې ګورئ. 39- او په هغه څه چې نه ئې ګورئ. 40- یقیناً دا ده وینا د مخور استازي. 41- او دا نه ده د کوم شاعر وینا، ډېر لږ ایمان راوړئ. 42- او نه د کوم کاهن وینا، لږ پند اخلئ. 43- رالېږنه د رب العالمین له لوري. 44- او که ئې ځیني خبري راباندې تړلی. 45- حتماً به مو په ښي لاس ترې اخیستلی. 46- بیا به مو د غاړې رګ ترې پرې کولی. 47- نو ستاسو هیڅوك به ترې دفع کوونکی نه وی. 48- او بې شکه چې دا تذکر دئ پرهېزګارانو ته. 49- او مونږ خو یقیناً په دې پوهېږو چې ستاسو ځیني دروغ ګڼونکي دي. 50- او دا خو به حتماً د کافرانو د حسرت باعث شي. 51- او بې شکه چې دا یو یقیني حقیقت دئ. 52- نو د ستر رب په نامه دې تسبیح وایه.

## المعارج- مکي سوره- 44- آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- وغوښت یوه غوښتونکي یو عذاب واقع کېدونکی! 2- چې کافرانو ته ئې نشته، هیڅ دفع کوونکی. 3- له لوري د الله، څښتن د معراجونو. 4- فرشتې او روح تر ده ورپورته کېږي؛ په داسې یوې ورځ کې چې مقدار ئې دئ پنځوس زره کالونه. 5- نو صبر وکړه، ښکلی صبر. 6- بې شکه چې دوی ئې لرې بولي. 7- او مونږ ئې نژدې ګورو. 8- هغه ورځ چې دا آسمان به وي په څېر د ویلې شوې فلز. 9- او دا غرونه به وي د ورېښلو وړیو په څېر. 10- او هیڅ دوست به د هیڅ دوست پوښتنه نه کړي.

يُبَصَّرُونَهُمْۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾
وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ
يُنجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّآۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةٗ لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾
وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ ﴿١٨﴾ ۞إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا ﴿٢٠﴾
وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ
دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴿٢٥﴾
وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ
﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ مَأۡمُونٖ ﴿٢٨﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ﴿٢٩﴾
إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ
ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ ﴿٣١﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ
وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ قَآئِمُونَ ﴿٣٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ
صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ﴿٣٦﴾ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾ أَيَطۡمَعُ
كُلُّ ٱمۡرِيٖٕ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ﴿٣٨﴾ كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ
﴿٣٩﴾ فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾

11- که څه هم هغوی ئې تر نظر شي، مجرم به خوښوي چې کاش خپل زامن د دې ورځې د عذاب فدیه کړي، 12- او خپله ښځه او خپل ورور، 13- او ټبر ئې چې پناه ورکوي، 14- او ټول هغه چې په زمکه کې دي، چې وئې ژغوري. 15- نه؛ داسې نه ده، دا خو یوه لمبه ده، 16- ښه ایستونکې د وریتولو لپاره. 17- وربولي به هغه چې شا ئې اړولې او ډډه ئې کړې. 18- او راغونډول ئې، بیا ئې ساتل. 19- یقیناً چې انسان دئ پیدا شوی ډېر کم ظرفه او بې صبره. 20- چې شر ور ورسېږي، زګېروی کوونکی شي. 21- او چې خیر ئې شي په برخه سخت مانع ( د خیر د کار) شي. 22- غیر له لمونځ کوونکو، 23- هغه چې په خپل لمانځه پایښت کوي. 24- او هغه چې په مالونو کې ئې ځانګړی معلوم حق وي. 25- لپاره د سؤالګرو او بې وزلو. 26- او هغه چې د بدلې ورځ رښتینې ګڼي. 27- او هغه چې د خپل رب له عذابه وېرېدونکي دي. 28- بې شکه چې د رب عذاب ئې بې امانه دئ. 29- او هغه چې د خپل عورت ساتونکي دي. 30- مګر په خپلو جوړه وو (مېرمنو) او یا وینځو، چې بیا نو ملامت نه دي. 31- او چا چې له دې پرته څه لټولي دوی تېری کوونکي دي. 32- او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو رعایت کوونکي دي. 33- او هغه چې په خپلو شهادتونو په نبغه درېدونکي دي. 34- او هغه چې پر خپلو لمونځونو مواظبت کوي. 35- دوی به په جنتونو کې وي، معزز او مکرم. 36- نو په دې کافرانو څه شوي چې په تلوار ستا لوري ته راځغلي. 37- له ښي او له کیڼ لوري ډله ډله. 38- مګر هر یو ئې دا طمع کوي چې داخل کړی شي له نعمتونو ډک جنت ته؟! 39- نه؛ داسې نه ده، دا مونږ یو چې له داسې څه مو پیدا کړل چې په خپله پرې پوهېږي.

عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٤١﴾ فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ
وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾ يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ
ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ
تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

## سُورَةُ نُوحٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ﴿١﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٢﴾ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ
وَأَطِيعُونِ ﴿٣﴾ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ
أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوۡتُ
قَوۡمِي لَيۡلٗا وَنَهَارٗا ﴿٥﴾ فَلَمۡ يَزِدۡهُمۡ دُعَآءِيٓ إِلَّا فِرَارٗا ﴿٦﴾ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ
لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ
وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا ﴿٧﴾ ثُمَّ إِنِّي دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارٗا ﴿٨﴾ ثُمَّ إِنِّيٓ أَعۡلَنتُ لَهُمۡ
وَأَسۡرَرۡتُ لَهُمۡ إِسۡرَارٗا ﴿٩﴾ فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ﴿١٠﴾

40- نو نه، د ختیځو او لوېدیځو په رب مي قسم چي مونږ قادر یو، 41- په دې چي تر دوی په غوره ئې بدل کړو، او مونږ مغلوبېدونکي نه یو. 42- نو دوی پرېږده چي خوشي ګډ وي او لوبي کوي، تر څو له خپلې هغې ورځې سره مخامخ شي چي وعده ئې ورکول کېږي. 43- هغه ورځ چي له قبرو به په تلوار سره راوځي داسي لکه چي د نښو په لور ځغلي. 44- سترګي ئې خړې، په ذلت اخته، دا ده هماغه ورځ چي وعده ئې ورکول کېده.

## نوح- مکي سوره- 28 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- مونږ خو نوح خپل قوم ته ورولېږو، چي خپل قوم ته دي خبرداری ورکړه، له دې مخکې چي په دردناك عذاب اخته شي. 2- وئې ویل: اې زما قومه! بې شکه چي زه درته څرګند نذیر یم. 3- چي د الله عبادت وکړئ، پروا ئې وکړئ او زما اطاعت وکړئ. 4- تر څو مو ځیني ګناهونه دروبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي، بې شکه کله چي الهي نېټه راورسېږي نه شي ځنډول کېدی، کاش که تاسو پوهېدئ!! 5- وئې ویل: اې زما ربه! قوم مي شپه او ورځ دعوت کړ. 6- خو بلني مي له تېښتي پرته بل څه په کې زیات نه کړل. 7- او چي کله مي بلنه ورکړه چي وئې بخښې، نو خپلې ګوتې ئې په غوږونو کې کړې، په خپلو جامو کې پټ شول، لجاجت ئې وکړ او په عجیب تکبر سره ئې لویي غوښتنه وکړه. 8- بیا مي په جګ غږ دعوت کړل. 9- بیا مي (دعوت) ورته علني کړ، بیا مي په ښه پټوالي ورته سري کړ. 10- نو ومي ویل: له خپل رب بخښنه وغواړئ، چي بې شکه هغه ډېر بخښونکی دئ.

يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا ﴿١١﴾ وَيُمۡدِدۡكُم بِأَمۡوَٰلٖ وَبَنِينَ
وَيَجۡعَل لَّكُمۡ جَنَّـٰتٖ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ أَنۡهَٰرٗا ﴿١٢﴾ مَّا لَكُمۡ لَا تَرۡجُونَ
لِلَّهِ وَقَارٗا ﴿١٣﴾ وَقَدۡ خَلَقَكُمۡ أَطۡوَارًا ﴿١٤﴾ أَلَمۡ تَرَوۡاْ كَيۡفَ خَلَقَ ٱللَّهُ
سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗا ﴿١٥﴾ وَجَعَلَ ٱلۡقَمَرَ فِيهِنَّ نُورٗا وَجَعَلَ ٱلشَّمۡسَ
سِرَاجٗا ﴿١٦﴾ وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ نَبَاتٗا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمۡ فِيهَا
وَيُخۡرِجُكُمۡ إِخۡرَاجٗا ﴿١٨﴾ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴿١٩﴾
لِّتَسۡلُكُواْ مِنۡهَا سُبُلٗا فِجَاجٗا ﴿٢٠﴾ قَالَ نُوحٞ رَّبِّ إِنَّهُمۡ عَصَوۡنِي وَٱتَّبَعُواْ
مَن لَّمۡ يَزِدۡهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا خَسَارٗا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا كُبَّارٗا ﴿٢٢﴾
وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمۡ وَلَا تَذَرُنَّ وَدّٗا وَلَا سُوَاعٗا وَلَا يَغُوثَ
وَيَعُوقَ وَنَسۡرٗا ﴿٢٣﴾ وَقَدۡ أَضَلُّواْ كَثِيرٗاۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلٗا
﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيٓـَٔـٰتِهِمۡ أُغۡرِقُواْ فَأُدۡخِلُواْ نَارٗا فَلَمۡ يَجِدُواْ لَهُم مِّن دُونِ
ٱللَّهِ أَنصَارٗا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوحٞ رَّبِّ لَا تَذَرۡ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ
دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرۡهُمۡ يُضِلُّواْ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓاْ إِلَّا فَاجِرٗا كَفَّارٗا
﴿٢٧﴾ رَّبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيۡتِيَ مُؤۡمِنٗا وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۖ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّـٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارَۢا ﴿٢٨﴾

11- تر څو له آسمانه پرله پسې ورښت درباندي راولېږي. 12- او په مالونو او زامنو مو مرسته وکړي او باغونه درته جوړ کړي او ویالې درته جوړي کړي. 13- ولې د هغه عزت هیله نه کوئ چي (اساسا) د الله دئ. 14- حال دا چي تاسو ئې په ډول ډول پیدا کړئ. 15- آیا نه ګورئ چي الله څنګه اوه آسمانونه پوړ پوړ پیدا کړل؟ 16- او سپوږمۍ ئې په کې یوه رڼا او لمر ئې یو څراغ وګرځاوو؟ 17- او الله له زمکي په ځانګړي راټوکولو سره راوټوکولئ. 18- بیا مو بېرته ورګرځوي او په بل راایستو سره مو راباسي. 19- او الله زمکه درته خور فرش وګرځوله. 20- تر څو ئې په پراخو لارو لاړ شئ. 21- نوح وویل: زما ربه! دوی خو له ما سرغړاوی وکړ او د هغه چا متابعت ئې وکړ چي مال او اولاد له تاوانه پرته بل څه ورزیات نه کړل. 22- او مکر ئې وکړ، ستر مکر. 23- او وئې ویل: خپل معبودان مه پرېږدئ، مه له کوم (ود) لاس اخلئ او مه له کوم (سواع) او مه له کوم (یغوث) او (یعوق) او (نسر). 24- سره له دې چي یقیناً ډېر ئې بې لاري کړل او ظالمانو ته له ضلالت پرته بل څه مه زیاتوه. 25- د خپلو ګناهونو له کبله غرق شول او په اور کې داخل کړی شول، نو له الله پرته ئې ځان ته هیڅ مرستندویان ونه موندل. 26- او نوح وویل: اې زما ربه! پر زمکي هیڅ کافر اوسېدونکی مه پرېږده! 27- که ئې پرېږدې ستا بندګان بې لاري کوي او له کافر او فاجر پرته بل څه نه زېږوي. 28- اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، او زما مور پلار ته، او هر هغه چا ته چي د مؤمن په توګه زما کور ته راننوځي او باایمانو نارینه وو او ښځو ته، او ظالمانو ته له تباهۍ پرته بل څه مه زیاتوه!

# سُورَةُ الجِنِّ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا
١ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ٢ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ
جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ٣ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى
ٱللَّهِ شَطَطٗا ٤ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ٥
وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا
٦ وَأَنَّهُمۡ ظَنُّواْ كَمَا ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ أَحَدٗا ٧ وَأَنَّا لَمَسۡنَا
ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدۡنَٰهَا مُلِئَتۡ حَرَسٗا شَدِيدٗا وَشُهُبٗا ٨ وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ مِنۡهَا
مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِۖ فَمَن يَسۡتَمِعِ ٱلۡأٓنَ يَجِدۡ لَهُۥ شِهَابٗا رَّصَدٗا ٩ وَأَنَّا لَا
نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ رَشَدٗا ١٠ وَأَنَّا مِنَّا
ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا ١١ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن
نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبٗا ١٢ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ
ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا ١٣

# الجن- مکي سوره- 28 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ووایه: راته وحي شوې چې د پېریانو یوه ډله ورته غوږ شول او وئې ویل: بې شکه چې مونږ عجیب قرآن واورېدو. 2- د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ایمان مو پرې راوړ، او هیڅکله به څوك له خپل رب سره شریك نه کړو. 3- او دا چې زمونږ د رب شأن ډېر لوړ دئ، نه ئې کومه مېرمن نیولې او نه کوم زوی. 4- او دا چې زمونږ ناپوهانو به د الله په اړه پوچې چتې خبرې کولې. 5- او دا چې مونږ گمان کاوو چې انس او جن به هیڅکله د الله په هکله دروغ ونه وایي. 6- او دا چې د انسانانو ځینو کسانو به د پېریانو ځینو وگړو ته پناه وړه او د دوی سرکښي به ئې ورزیاتوله. 7- او دا چې دوی هم داسې گمان کاوو لکه تاسو چې گمان کاوو چې الله به هیڅکله څوك بیا نه راپاڅوي. 8- او دا چې مونږ آسمان لمس کړی او هغه مو له ساتونکو او لمبو ډك موندلی. 9- او دا چې مونږ به د هغه په ځینو تم ځایونو کې د اورېدو لپاره کښېناستو، نو څوك چې اوس غوږ ونیسي ځان ته به په کمین کې ناسته لمبه ومومي. 10- او دا چې مونږ نه پوهېږو هغه چا ته چې په زمکې کې اوسېږي د شر اراده شوې او که به ئې رب ورته د رشد اراده کړې وي؟ 11- او دا چې ځیني مو صالح دي او ځیني مو غیر له دې، او مونږ د بېلو بېلو تگلارو خاوندان وو. 12- او دا چې مونږ گمان وکړ چې نه خو الله په زمکې کې ناتوانه کولی شو او نه ئې هیڅکله په تېښتې سره ناتوانه کولی شو. 13- او دا چې کله مونږ دا لارښود (کتاب) واورېدو ایمان مو پرې راوړ، او څوك چې په خپل رب ایمان راوړي نو نه دي له کمښت او تاوانه وېره لري او نه له ظلمه.

وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ
رَشَدٗا ١٤ وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا ١٥ وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى
ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا ١٦ لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن
ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا ١٧ وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ
مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا ١٨ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ
عَلَيۡهِ لِبَدٗا ١٩ قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ٢٠ قُلۡ إِنِّي
لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا ٢١ قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ
وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا ٢٢ إِلَّا بَلَٰغٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦۚ وَمَن
يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ٢٣ حَتَّىٰٓ
إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعۡلَمُونَ مَنۡ أَضۡعَفُ نَاصِرٗا وَأَقَلُّ عَدَدٗا ٢٤
قُلۡ إِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٞ مَّا تُوعَدُونَ أَمۡ يَجۡعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا ٢٥ عَٰلِمُ
ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ٢٦ إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ
فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا ٢٧ لِّيَعۡلَمَ أَن قَدۡ
أَبۡلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمۡ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيۡهِمۡ وَأَحۡصَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ عَدَدَۢا ٢٨

14- او دا چې ځيني مو مسلمانان دي او ځيني مو په کږو لارو تلونکي، نو چا
چې اسلام راوړی دوی د رشد په لټه کې شوي. 15- خو په کږو لارو تلونکي به
د دوزخ خاشاك وي. 16- او دا چې که په دې لار نېغ پاته شي په پرېمانه اوبو
به ئې خړوبه کړو. 17- تر څو ئې په دې کې وآزمويو، او څوك چې د خپل رب
له ياده ډډه وکړي په زياتېدونکي عذاب کې به ئې ننباسي. 18- او دا چې ټول
مساجد د الله دي، نو له الله سره بل هيڅوك مه رابلئ. 19- او دا چې کله د
الله بنده پاڅېدو، (الله) ئې رابلو، نږدې ول پرې راپنډ (او رابرگ) شي. 20-
ووايه! يوازې خپل رب ته مې دعاء کوم، هيڅوك ورسره نه شريکوم. 21- ووايه!
يقيناً چې زه تاسو ته نه د کوم تاوان څښتن يم او نه د کوم هدايت او رشد.
22- ووايه! (په دې باور يم چې) ما ته خو له الله هيڅوك پناه نه شي راکولی
او له ده پرته هيڅ پناه ځای نه شم موندلی. 23- مگر دا چې د الله له لوري د
يوه ابلاغ او د ده د پيغامونو (مالك يم)، او څوك چې له الله او د ده له پيغمبره
سرغړاوی وکړي، نو ده ته د دوزخ اور دئ چې تل تر تله به په کې اوسي. 24-
تر څو چې هغه څه ووينې چې وعده ئې ورسره کېږي، نو پوه به شي چې د
چا مرستندوی ضعيف او شمېر ئې لږ دئ. 25- ووايه: نه پوهېږم چې آيا هغه
څه رانژدې دي چې وعده ئې درکول کېږي او که رب به مې د هغې تر رارسېدو
کوم وخت او موده وټاکي. 26- عالم الغيب رب چې په خپلو غيبي اسرارو
هيڅوك نه خبروي. 27- مگر هغه پيغام وړونکي (فرشتې) چې د (خپل پيغام
د انتقال لپاره ئې) غوره کوي، نو دی ئې تر مخې او شا څارن او مراقب ټاکي.
28- تر څو وگوري چې د خپل رب پيغامونه ئې رسولي، په داسې حال کې چې
د دوی په هر څه ئې احاطه کړې او هر څه ئې دقيق او په شمار شمېرلي.

# سُورَةُ المُزَّمِّلِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢﴾ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ
قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ
قَوۡلٗا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ
فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا ﴿٧﴾ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلٗا ﴿٨﴾
رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلٗا ﴿٩﴾ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ
مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا جَمِيلٗا ﴿١٠﴾ وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي
ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ﴿١١﴾ إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ﴿١٢﴾ وَطَعَامٗا ذَا
غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٣﴾ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ
كَثِيبٗا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ
أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ رَسُولٗا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا
وَبِيلٗا ﴿١٦﴾ فَكَيۡفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرۡتُمۡ يَوۡمٗا يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾
ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرُۢ بِهِۦۚ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن
شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾

# المزمل- مکي سوره- 20 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آی اې په جامو کې نغښتیه!! 2- د شپې پاڅه پرته له لږ. 3- نیمایي ئې یا
ترې راکم کړه لږ. 4- یا پرې زیات کړه او قرآن لوله په صفا لوستلو. 5- بې
شکه چې ژر به نازل کړو پر تا درنه وینا. 6- بې شکه چې تر پښو لاندي
کولو کې د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وینا کې تکړه. 7- یقیناً چې تا
ته د ورځې اوږده مشغولتیا وي. 8- او د خپل رب نوم یادوه، او د ده په
لوري په ښه بېلېدو بېل شه. 9- د ختیځ او لوېدیځ رب، چې له ده پرته بل
اله نشته، نو ځان ته ئې وکیل نیسه. 10- او په هغه څه صبر وکړه چې دوی
ئې وايي، او په غوره او نېکه توګه ترې بېل شه. 11 : او ما او هغه مکذبین
سره پرېږده چې د نعمت خاوندان دي، او مهلت ورکړه لږ. 12: یقیناً چې
له مونږ سره عبرتناك عذابونه او دوزخ دئ. 13: او په ستوني کې نښتونکی
خوراك او دردناك عذابونه دي. 14: هغه ورځ چې غرونه او زمکه به
وخوځي او غرونه به د شګو ډېرۍ ته ورته شي. 15: یقیناً چې مونږ ستاسو
په لوري یو داسي پیغمبر ولېږو چې پر تاسو به شاهد وي، همغسي لکه چې
د فرعون په لوري مو یو پیغمبر ولېږو. 16: او فرعون له هغه پیغمبره
عصیان وکړ، نو مونږ په سختي نیوني سره ونیوو. 17: نو که کافر شئ له
هغي ورځي به ځان څنګه ساتئ چې واړه زاړه کوي. 18: دا آسمان پرې
دړي وړي کېږي، وعده ئې ترسره کېدونکې ده. 19: یقیناً چې دا یو تذکر
دئ، نو چا چې غوښتي وي د الله په لوري دي (د رسېدو) لار غوره کړي.

*إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ
مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ
عَلَيۡكُمۡۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ
وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَبۡتَغُونَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ
فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ
وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗاۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ عِندَ
ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٗا وَأَعۡظَمَ أَجۡرٗاۚ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمُۢ ﴿٢٠﴾

## سُورَةُ المُدَّثِّرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ﴿٤﴾
وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ﴿٥﴾ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ﴿٧﴾ فَإِذَا نُقِرَ فِي
ٱلنَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ يَسِيرٖ ﴿١٠﴾
ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ﴿١١﴾ وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا مَّمۡدُودٗا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودٗا
﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا
عَنِيدٗا ﴿١٦﴾ سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾

20- بې شکه چې ستا رب پوهېږي چې ته هم نژدې دوه برخې د شپې، او
نیمايي او درېیمه ئې پاځېږې او ستا د ملګرو یوه ډله هم، او الله شپه او
ورځ اندازه کوي، پوه شوی چې هیڅکله ئې نه شئ احاطه کولی، نو تاسو
ته ئې بخښنه وکړه، نو اوس د قرآن هومره مقدار تلاوت کړئ چې درته
آسانه وي، پوه شوی چې ستاسو ځیني به ناروغه وي، او نور به په زمکه د
الله د فضل په لټه کې په سفر وځي، او نور به د الله په لار کې جنګېږي، نو
څکه هومره قرائت وکړئ چې درته آسانه وي، او لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ،
او الله ته ښه پور په پور ورکړئ، او د ځان لپاره چې د ښېګنې هر څه مخکې
لېږئ او د الله په خوا کې ئې بیاموئ، دا غوره دئ او د اجر له پلوه ستر، او
له الله بخښنه وغواړئ، بې شکه چې الله دئ مهربان بخښونکی.

## المدثر- مکي سوره- 56 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- اې د خوب څادر په ځان راکښونکیه. 2- پاځه او خبرداری ورکړه. 3- او
خپل رب ستر ګڼه. 4- او جامه دې پاکه ساته. 5- او تزلزل پرېږده. 6- او مه
(ئې) غوښوه زیات (ئې) ګڼونکی. 7- او خپل رب ته صبر کوه. 8- نو کله
چې شپېلۍ کې پو شي. 9- نو دا ورځ به وي، ډېره سخته ورځ. 10- پرکافرانو
ناآسانه. 11- ما پرېږده او هغه چې پیدا مې کړ یوازې. 12- او ورته ومې
ګرځاوو زیاتېدونکی مال. 13- او حاضر چمتو زامن. 14- او تیار مې کړ ده
ته پراخوالی. 15- بیا طمع کړي چې زیات ئې کړم. 16- نه ؛ داسې نه ده،
هغه خو دښمن شوی دئ زما د آیتونو. 17- ژر به ئې واچوو په زیاتېدونکي
مشقت کې. 18- دی خو همغه دئ چې فکر او سنجش ئې وکړ.

فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ
﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ يُؤۡثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا
قَوۡلُ ٱلۡبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَأُصۡلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبۡقِي وَلَا
تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٞ لِّلۡبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلۡنَآ أَصۡحَٰبَ
ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةٗۖ وَمَا جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيَسۡتَيۡقِنَ
ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَيَزۡدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنٗا وَلَا يَرۡتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ
أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَمَا
يَعۡلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكۡرَىٰ لِلۡبَشَرِ ﴿٣١﴾ كَلَّا وَٱلۡقَمَرِ ﴿٣٢﴾
وَٱلَّيۡلِ إِذۡ أَدۡبَرَ ﴿٣٣﴾ وَٱلصُّبۡحِ إِذَآ أَسۡفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحۡدَى ٱلۡكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرٗا
لِّلۡبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾ كُلُّ نَفۡسِۢ بِمَا
كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ
ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾
وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا
نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلۡيَقِينُ ﴿٤٧﴾

19- نو مرگ پر ده چي دا څنگه سنجش ئې وکړ. 20- بيا هم مرگ پر ده چي څنگه (بد) سنجش ئې وکړ. 21- بيا ئې نظر وکړ. 22- بيا ئې مخ تريو او تندى گونځي کړ. 23- بيا ئې شا کړه او ځان ئې ستر وښود. 24- بيا ئې وويل: دا خو له نقل شوي جادو پرته بل څه نه دئ. 25- دا خو د انسان له وينا پرته بل څه نه دئ. 26- حتماً به ئې سقر کې واچوو. 27- او څه شي خبر کړې چي سقر څه دئ؟ 28- نه پرېږدي او نه خوشي کوي. 29- د څېرو بدلوونکى. 30- نولس پرې گمارل شوې. 31- او د دوزخ ساتونکي مو له فرشتو پرته بل څوك نه دي گرځولي، او د دوى شمېر مو د کافرانو له تعذيب پرته د بل څه لپاره نه دئ گرځولى، ترڅو اهل کتاب پرې يقين وکړي او د مؤمنانو ايمان زيات کړي، او تر څو اهل کتاب او مؤمنان څه شك ونکړي، او تر څو د بيمارو زړونو خاوندان او کافران وايي: الله تعالى په دې مثال سره څه ويل غواړي؟ همداسي الله چي څوك غواړي بې لاري کوي ئې او څوك چي دى ئې غواړي هدايت کوي ئې، او ستا درب په لښکرو له ده پرته هيڅوك نه پوهېږي، او دا نه ده مگر د انسان لپاره يوه يادونه. 32- داسي نه ده، قسم په سپوږمۍ. 33- او په شپې چي ترشا شي. 34- او په سباوون چي روڼ شي. 35- بې شکه چي دا يوه له سترو (پېښو) ده. 36- انسان ته خبرداري ورکوونکى. 37- ستاسو هغه چا ته چي غواړي مخکي ولاړ شي يا وروسته پاته شي. 38- هر څوك د هغه څه په گرو کې دئ چي ترلاسه کړي ئې دي. 39- مگر اصحاب اليمين. 40- چي دوى به په جنتونو کې يو له بله پوښتي: 41- له مجرمينو: 42- څه څه په سقر کې واچولئ؟ 43- وايي به: مونږ له لمونځ کوونکو نه وو، 44- او مسکين ته مو خوراك نه ورکاوو. 45- د خوشو خلکو په څنگ کې په چټي لوبو مشغول وو. 46- او انکار به مو کاوو د قيامت له ورځي. 47: تر هغه چي راورسېدو مرگ مو!!

فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمۡ عَنِ ٱلتَّذۡكِرَةِ مُعۡرِضِينَ ﴿٤٩﴾
كَأَنَّهُمۡ حُمُرٞ مُّسۡتَنفِرَةٞ ﴿٥٠﴾ فَرَّتۡ مِن قَسۡوَرَةِۭ ﴿٥١﴾ بَلۡ يُرِيدُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ
أَن يُؤۡتَىٰ صُحُفٗا مُّنَشَّرَةٗ ﴿٥٢﴾ كَلَّاۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذۡكِرَةٞ
﴿٥٤﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذۡكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ هُوَ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ
وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴿٥٦﴾

## سُورَةُ القِيَامَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ
أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ بَلۡ يُرِيدُ
ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ﴿٥﴾ يَسۡـَٔلُ أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ
﴿٧﴾ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ
أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُاْ ٱلۡإِنسَٰنُ
يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ بَصِيرَةٞ ﴿١٤﴾ وَلَوۡ أَلۡقَىٰ
مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ
وَقُرۡءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾

48- نو د هيڅ شفاعت کوونکي شفاعت به ګټه ورونه رسوي. 49- نو سره له دې څه پرې شوي چې له دې تذکر ډډه کوي؟ 50- داسي لکه چې ترېدلي صحرائي خره وي، 51- چې له زمري تښتېدلي. 52- نه، بلکي هر يو ئې غواړي چې ورکړی شي پرانيستې پاڼې. 53- نه، داسي نه ده، بلکي له آخرته نه وېرېږي. 54- نه، داسي نه ده؛ بلکي دا يوه يادونه ده. 55- نو څوك چې غواړي پند دې ترې واخلي. 56- او پند نه ترې اخلي مګر دا چې الله ئې وغواړي، همدی د وېرېدو وړ دئ او د بخښني غوښتو وړ.

## القيامة- مكي سوره- 40 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- نه، زما دي قسم وي د قيامت په ورځي. 2- او نه، زما دي قسم وي په ملامتونکي نفس. 3- آيا دا انسان انګېري چې راغونډ به نه کړو د ده هډوکي؟ 4- ولي نه، په دې برلاسي يو چې برابر ئې کړو د ګوتو سرونه. 5- بلکي دا انسان غواړي چې فجور وکړي ترې ورمخکي. 6- نو پوښتي: کله به وي د قيامت ورځ؟! 7- نو کله چې سترګي شي رډې رډې. 8- او سپوږمۍ شي تکه توره. 9- او يوځای کړلی شي لمر او سپوږمۍ. 10- وايي به انسان چې چېري دئ د تېښتي ځای؟ 11- داسي نه ده، هيڅ پناه ځی به نه وي. 12- په دې ورځ به تمځای ته د تلو لار وي ستا د رب په لوري. 13- په دې ورځ به انسان خبر کړی شي په هغه څه چې مخکي ئې لېږلي او شا ته ئې پرېښي. 14- بلکي انسان ښه سترګه ور دئ په خپل ځان. 15- که څه هم وړاندي کړي خپل عذرونه. 16- ژبه دي پرې مه خوځوه، د دې لپاره چې تلوار پرې کوې. 17- راغونډول او ويل ئې دي زمونږ په ذمه. 18- نو چې کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. 19- بيا ئې بيانول هم زمونږ په ذمه دي.

كَلَّا بَلۡ تُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ
﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذِۭ بَاسِرَةٞ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفۡعَلَ بِهَا
فَاقِرَةٞ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنۡۜ رَاقٖ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ
ٱلۡفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلۡتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمَسَاقُ ﴿٣٠﴾
فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ
أَهۡلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾ أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوۡلَىٰ لَكَ فَأَوۡلَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَيَحۡسَبُ
ٱلۡإِنسَٰنُ أَن يُتۡرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمۡ يَكُ نُطۡفَةٗ مِّن مَّنِيّٖ يُمۡنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ
عَلَقَةٗ فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنۡهُ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾
أَلَيۡسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحۡـِۧيَ ٱلۡمَوۡتَىٰ ﴿٤٠﴾

## سُورَةُ الإِنسَانِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ﴿١﴾ إِنَّا
خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ أَمۡشَاجٖ نَّبۡتَلِيهِ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا
﴿٢﴾ إِنَّا هَدَيۡنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرٗا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا
لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن
كَأۡسٖ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾

20- نه؛ داسي نه ده، بلکي دنيا خوښوئ. 21- او آخرت پرېږدئ. 22- ځيني
څېرې به په دې ورځ وي تازه خوښي. 23- د خپل رب په لوري کتونکې. 24-
او ځيني څېرې به په دې ورځ وي خړې. 25- گمان به کوي چي ملاماتونکی
چلن به ورسره وشي. 26- نه، داسي نه ده، کله چي ورسي تر ستوني. 27- او غږ
شي چي شته کوم دم کوونکی؟ 28- او گمان وکړي چي دا وخت دئ د فراق.
29- او راتاو شي ساق په ساق. 30- په دې ورځ به د ټلو لار وي ستا د رب په
لوري. 31- نو نه ئې تصديق کړ او نه ئې لمونځ وکړ. 32- برعکس تکذيب ئې
کړ او مخ ئې واړاوو. 33- بيا په کبر سره ولاړ تر خپل ټبره. 34- وای وای دئ
ستا په حال. 35- بيا وای وای دئ ستا په حال. 36- آيا گمان کړي دا انسان
چي مهمل به پرېښودی شي. 37- مگر نه وو يوه نطفه د توېېدونکې مني ؟
38- بيا وو ځوړند توکی چي پيدا او برابر ئې کړ. 39- بيا ئې ترې جوړه کړه د
نارينه او ښځينه جوړه. 40- مگر دا ذات به قادر نه وي چي مړي کړي ژوندي؟

## الدهر- مدني سوره- 31 آيتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آيا پر انسان داسي وخت راغلی چي د يادولو وړ شئ نه وو؟ 2- دا
مونږ يو چي انسان مو له مختلطي نطفې پيدا کړ، چي آزمويو ئې او
ليدونکی اورېدونکی مو ترې جوړ کړ. 3- بې شکه چي مونږ لار
وروښوده، که شاکر وي او که بې پاسه او کفور. 4- بې شکه چي مونږ
د کافرانو لپاره زنځيرونه، غړوندي او د اور لمبې تياري کړې. 5- يقيناً
چي نېکان به له داسي جامونو څښي چي مخلوط به ئې د کافور وي.

عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرٗا ﴿٦﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ
وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ﴿٧﴾ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ
مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ
جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسٗا قَمۡطَرِيرٗا ﴿١٠﴾ فَوَقَىٰهُمُ
ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةٗ وَسُرُورٗا ﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةٗ
وَحَرِيرٗا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا شَمۡسٗا وَلَا زَمۡهَرِيرٗا
﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلٗا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ عَلَيۡهِم
بِـَٔانِيَةٖ مِّن فِضَّةٖ وَأَكۡوَابٖ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٖ قَدَّرُوهَا
تَقۡدِيرٗا ﴿١٦﴾ وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيۡنٗا فِيهَا
تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ﴿١٨﴾ *وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيۡتَهُمۡ
حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤٗا مَّنثُورٗا ﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيۡتَ ثَمَّ رَأَيۡتَ نَعِيمٗا وَمُلۡكٗا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾
عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ
رَبُّهُمۡ شَرَابٗا طَهُورًا ﴿٢١﴾ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءٗ وَكَانَ سَعۡيُكُم مَّشۡكُورًا
﴿٢٢﴾ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ تَنزِيلٗا ﴿٢٣﴾ فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا
تُطِعۡ مِنۡهُمۡ ءَاثِمًا أَوۡ كَفُورٗا ﴿٢٤﴾ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ﴿٢٥﴾

6- هغه چینه چې د الله خاص بندګان به ئې خوا کې ښښي، روانوي به ئې
(ځنګه ئې چې) روانول غواړي. 7- په نذرونو وفا کوي او له هغې ورځې
وېرېږي چې شر به ئې خور وي. 8- او مسکین، یتیم او اسیر ته په داسې
حال کې طعام ورکوي چې خوښېږي ئې. 9- یوازې د الله د رضاء لپاره
طعام درکوو، نه بدله درنه غواړو او نه مننه. 10- بې شکه چې مونږ له
خپل رب وېرېږو، له هغې ورځې چې تریو مخې قهرجنه ده. 11- نو الله
د دغې ورځ له شره وساتل، او له تازګۍ او خوښۍ سره ئې مخامخ کړل.
12- او د دې لپاره ئې د جنت او ورېښمینو جامو بدله ورکړه چې صبر
ئې وکړ. 13- په تختونو به ئې په کې ډډه وهلې وي، نه به د لمر تودوخه
په کې ګوري او نه یخني. 14- او سیوري به ئې پرې رانژدې وي، او مېوې
به ئې په عجیبه توګه په خدمت کې او ترلاس لاندې. 15- او د سپینو زرو
لوښي او د بلورو جامونه به پرې راګرځول کېږي. 16- د سپینو زرو شیشه
ئي (لوښي)، چې په ظریفه توګه اندازه شوي. 17- او هلته به په داسې
جامونو څړوبه کړی شي چې ممزوج به ئې د زنجبیل وي، 18- په جنت
کې یوه چینه چې سلسبیل نومول شوې. 19- او شا او خوا کې به ئې تنکي
تلپاته زلمیان ګرځي راګرځي، که ئې وګورې د خورو ملغلرو ګمان به پرې
وکړې. 20- که هغه ځای وګورې نو پرېمانه نعمتونه او ستره پاچایي به
دې لیدلې وي. 21- ملبس په پرېړ او نازك شین بخن حریر او د سپینو
زرو په لاس وندیو مزین، او خپل رب به ئې په پاکیزه شرابو څړوبه کړي.
22- (او ورته وایي به:) دا ستاسو بدله ده او ستاسو هڅې منل شوې په
قدرونې سره. 23- دا مونږ یو چې قرآن مو پرتا نازل کړ، په غوره او جزء
جزء نازلولو سره. 24- نو د خپل رب تر حکمه صبر وکړه، او د دوی د
هیڅ ګنهکار او کفور خبره مه منه. 25- او د خپل رب نوم دې سهار
ماښام یادوه.

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ
ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَّحۡنُ خَلَقۡنَٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ
أَسۡرَهُمۡۖ وَإِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ أَمۡثَٰلَهُمۡ تَبۡدِيلًا ﴿٢٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن
شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ
كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ
لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمَۢا ﴿٣١﴾

## سُورَةُ المُرۡسَلَاتِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ﴿١﴾ فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا ﴿٢﴾ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا ﴿٣﴾
فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ فَرۡقٗا ﴿٤﴾ فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴿٥﴾ عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ﴿٦﴾ إِنَّمَا
تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ ﴿٧﴾ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ﴿٨﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ ﴿٩﴾
وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ﴿١١﴾ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ﴿١٢﴾
لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ﴿١٤﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾ أَلَمۡ نُهۡلِكِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ ٱلۡأٓخِرِينَ ﴿١٧﴾
كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾

26- او د شپې په یوې برخې کې سجدې ورته کوه او د شپې په اوږدو کې ئې په تسبیح لګیا اوسه. 27- بې شکه چې دغه خلك عاجلة (ژر ترلاسه کېدونکې) خوښوي، اوترشا ئې درنې ورځې ته شا کوي. 28- دوی خو مونږ پیدا کړي، او مونږ ئې (د وجود) بندونه ورمضبوط کړي او چې کله وغواړو دوی ته ورته به ئې په عوض کې راپیدا کړو!! 29- بې شکه چې دا یو تذکر او پند دئ، نو څوك چې غواړي خپل رب ته د رسېدو (غوره) لار دي غوره کړي. 30- او نه شئ غوښتی مګر هله چې الله ئې وغواړي، بې شکه چې الله باحکمت پوه دئ. 31- څوك چې وغواړي د خپل رحمت (په سیوري) کې ئې داخلوي، او هغه چې ظالمان دي هغوی ته ئې دردناك عذاب تیار کړی.

## المرسلات- مکي سوره- 50 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په دغو لېږل شوو په پېژانده توګه. 2- بیا قسم په دې شیندونکو د شیندلو په حالت کې. 3- قسم په دغو خوروونکو د خورولو په حالت کې. 4- بیا قسم په فرق کوونکو د بېلولو په حالت کې. 5- بیا د ذکر په دغو القاء کوونکو، 6- د عذر یا د خبرداري لپاره. 7- بې شکه چې هغه ژمنه حتماً ترسره کېدونکې ده چې وعده ئې درسره کېږي. 8- نو چې کله ستوري تپ تیاره شي. 9- او چې کله آسمان شي دړې وړې. 10- او چې کله غرونه وایستی شي. 11- او چې کله لېږل شوي بل وخت ته موکول کړی شي. 12- د کومې ورځې لپاره به وځنډول شي؟ 13- د پرېکړې د ورځې لپاره. 14- او څه پوه کړې چې د پرېکړې ورځ څه ده؟ 15- افسوس په دې ورځ په حال د تکذیبوونکو. 16- آیا مخکني مو هلاك نه کړل؟ 17- بیا مو وروستني ورپسې نه کړل؟ 18- له مجرمینو سره همداسې چلن کوو. 19- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال.

أَلَمۡ نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ
قَدَرٍ مَّعۡلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ
﴿٢٤﴾ أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحۡيَآءً وَأَمۡوَٰتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلۡنَا فِيهَا
رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٍ وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ
﴿٢٨﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّٖ ذِي
ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغۡنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرۡمِي بِشَرَرٍ
كَٱلۡقَصۡرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٞ صُفۡرٞ ﴿٣٣﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾
هَٰذَا يَوۡمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِۖ جَمَعۡنَٰكُمۡ وَٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ
لَكُمۡ كَيۡدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي
ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا
كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجۡرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيۡلٌ يَوۡمَئِذٍ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثِۭ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٠﴾

20- آیا له سپکو کرکجنو اوبو مو پیدا نه کړئ. 21- او آیا په مضبوط ځای کي مو ځای په ځای نه کړ؟ 22- تر یوې معلومي نېټې؟ 23- نو وتوانېدو او همدا راز ښه توانېدونکي یو. 24- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. 25- آیا زمکه مو راغونډوونکې نه ده ګرځولې. 26- د ژوندو او مړو. 27- او آیا دنګ دنګ غرونه مو په کي نه دي جوړ کړي او خوندوري اوبه مو نه دي درباندي څښلې؟ 28 - افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. 29- درومئ د هغه څه په لوري چي دروغ به مو ګاڼو! 30- درومئ د هغه سیوري په لوري چي درې څانګي لري. 31- نه راحت بخښونکی دئ او نه د لمبو مخنیوی کوي. 32- هغه چي د ماڼیو په څېر سوکي شیندي. 33- ژېړو اوښانو ته ورته. 34- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. 35- دا داسي ورځ ده چي خبري به نه شي کولی. 36- او نه به دوی ته اجازه ورکړی شي چي عذر وړاندي کړي. 37- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. 38- دا د پرېکړي ورځ ده، هم مو تاسو کړئ راغونډ هم مخکنیان. 39- نو که د کوم پټ تدبیر (امکان) درسره وي نو زما په خلاف ئې وکاروئ. 40- افسوس په دې ورځ د تکذیبوونکو په حال. 41- بې شکه چي پرهېزګاران به په سیورو کي او د چینو خوا ته وي. 42- او هرراز مېوو کي چي غواړي ئې. 43- د هغو عملونو په وجه ئې په خوند خوند وخورئ وڅښئ چي تاسو به کول. 44- مونږ خو نېکانو ته داسي بدله ورکوو. 45- افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال. 46- وخورئ او متمتع شئ لږ شانته چي تاسو مجرمین یئ. 47- افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال. 48- او چي ورته وویل شي: رکوع وکړئ، رکوع نه کوي. 49- افسوس په دې ورځ د مکذبینو په حال. 50- نو له دې وروسته به په کومي خبري ایمان راوړي؟!!

## سُورَةُ النَّبَإِ

### بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٢﴾ ٱلَّذِى هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ﴿٣﴾
كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾
وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتًا
﴿٩﴾ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيۡنَا فَوۡقَكُمۡ
سَبۡعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلۡنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡمُعۡصِرَٰتِ
مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخۡرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّٰتٍ أَلۡفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ يَوۡمَ
ٱلۡفَصۡلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾ يَوۡمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأۡتُونَ أَفۡوَاجًا ﴿١٨﴾
وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ أَبۡوَٰبًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ ٱلۡجِبَالُ فَكَانَتۡ سَرَابًا ﴿٢٠﴾
إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتۡ مِرۡصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ﴿٢٢﴾ لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابًا
﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرۡدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً
وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾
وَكُلَّ شَىۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ كِتَٰبًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُواْ فَلَن نَّزِيدَكُمۡ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

## النبأ- مکي سوره- 40 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- له څه شي يو بل پوښتي. 2- له هغي ستري خبري. 3- کوم چي دوی
په کي په خپله مختلف دي. 4- نه، داسي نه ده، ژر ده چي به پوه شي.
5- بيا هم داسي نه ده، ژر ده چي به پوه شي. 6- آيا نه ده گرځولې
مو دا زمکه يوه زانگو؟ 7- او دا غرونه، څه مېخونه؟ 8- مگر نه مو
کړئ پيدا جوړه جوړه؟ 9- ستاسو خوب مو کړ لامل د هوسايني؟ 10-
او دا شپه مو کړه په څېر د يوه پوښاك؟ 11- او دا ورځ مو کړه مهال
د ژوند او ژواك؟ 12- او له تاسو بر مو جوړ کړل کلك اوه گوني. 13-
او جوړ کړی مو ځراغ دئ روڼ او تود. 14- او اوبه مو کړې راتوی له
نښتېځونکو پرله پسې. 15- چي راوباسو په دي سره څه بوټي څه دانې.
16- او سمسوره گڼ باغونه. 17- بې شکه چي د پرېکړي ورځ ټاکلې
يوه نېټه ده. 18- هغه ورځ، چي پو به شي شپېلۍ کي، نو راځئ به ډلي
ډلي. 19- او آسمان به پرانيستی شي، نو شي به دړي دړي. 20- او روان
به کړی شي غرونه، نو شي به سرابونه.21- بې شکه چي دوزخ دئ کمين
ځی. 22- سرکښانو ته ټمځی. 23- په هغه کي درنگ کوونکي اوږدې
اوږدې پېړۍ. 24- نه به په کي وڅکي څه سوړوالی، نه څه څښاك. 25-
مگر گرمي او تودې اوبه او نو. 26- برابره وړ سزا. 27- دوی وو چي
ئې هيله نه کوله د حساب. 28- او دروغ به ئې گڼلو آيتونه زمونږ په
دروغو. 29- او هر څه مو گڼلي په ليکلو. 30- نو وڅکئ چي درزيات
به نه کړو مگر بل عذاب.

إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعۡنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتۡرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأۡسًا
دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً
حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا ٱلرَّحۡمَٰنِۖ لَا يَمۡلِكُونَ مِنۡهُ
خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّاۖ لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ
ٱلرَّحۡمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا
﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرۡنَٰكُمۡ عَذَابًا قَرِيبًا يَوۡمَ يَنظُرُ ٱلۡمَرۡءُ مَا قَدَّمَتۡ يَدَاهُ وَيَقُولُ
ٱلۡكَافِرُ يَٰلَيۡتَنِي كُنتُ تُرَٰبَۢا ﴿٤٠﴾

## سُورَةُ النَّازِعَاتِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقًا ﴿١﴾ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطًا ﴿٢﴾ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحًا ﴿٣﴾
فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقًا ﴿٤﴾ فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرًا ﴿٥﴾ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتۡبَعُهَا
ٱلرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوۡمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبۡصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا
لَمَرۡدُودُونَ فِي ٱلۡحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُواْ تِلۡكَ إِذًا كَرَّةٌ
خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلۡ أَتَىٰكَ
حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذۡ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾

31- بې شکه متقیانو ته ښه ځای دئ د بریا. 32- باغونه او انګور. 33- او همزولې پېغلې حورې. 34- او جامونه ډك تر ژۍ. 35- نه به هلته بېهوده خبرې اورې نه درواغ. 36- بدله ده ستا د رب، پېرزوینه په حساب. 37- رب د آسمانونو او د زمکې او په دوی کې د هر څه، همغه رحمن ذات چې نه شي توانېدی د ده (له وېرې) په وینا. 38- هغه ورځ چې جبرئیل او فرشتې به وې ولاړې ټول په لیکه، تکلم به نه شي کړلی مګر هغه چې رخصت ورکړي رحمن رب او کوي سمه وینا. 39- دا رښتینې ورځ ده، نو څوك چې غواړي، غوره دې کړي لاره د ورتګ، په لوري د خپل رب. 40- بې شکه چې انذار مو کړئ له یوه نژدې عذابه، له هغسې یوې ورځې چې هر کس به د خپل لاس لېږلي ګوري او وايي به کافر: ای کاش که زه وی خاوري!

## النازعات- مکي سوره- 46 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم دئ په ډوب شوو راوتونکو. 2- قسم په خوشي شوو خوځېدونکو. 3- قسم دئ په لامبو لامبو وهونکو. 4- بیا قسم دئ په عجیبه مخکې تلو مخکې کېدونکو. 5- بیا په هغه د ستر کار تدبیرووونکو. 6- هغه ورځ چې ولړزېږي لړزېدونکې. 7- بیا ورپسې راشي همغه پسې راتلونکې. 8- په دې ورځ به ځیني زړونه مرتعش وي رېږدېدونکي. 9- سترګې د دوی خړې وېرېدونکي. 10- وايي: آیا مونږ یو مخکني حالت ته بیا ورګرځېدونکي؟ 11- که هر څو وو وراسته شوي څو هډوکي؟ 12- وايي: دا خو به نو خود وي تاواني بیا ګرځېدنه! 13- نو دا به په یقین سره، یوازې وي یوه چیغه. 14- ناڅاپه به بیا دوی وي په همغه خور میدان کې. 15- آیا، د موسی د قصې حال دررسېدلی؟ 16- کله چې ورغږ کړ د ده رب، په سپېڅلې آ کرې ورې درې کې:

ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلۡ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾
وَأَهۡدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخۡشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلۡأٓيَةَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ
وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدۡبَرَ يَسۡعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ
ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلۡأٓخِرَةِ وَٱلۡأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ
لِّمَن يَخۡشَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ءَأَنتُمۡ أَشَدُّ خَلۡقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُۚ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمۡكَهَا
فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغۡطَشَ لَيۡلَهَا وَأَخۡرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ
دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخۡرَجَ مِنۡهَا مَآءَهَا وَمَرۡعَىٰهَا ﴿٣١﴾ وَٱلۡجِبَالَ أَرۡسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعٗا
لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوۡمَ يَتَذَكَّرُ
ٱلۡإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلۡجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ
﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَحِيمَ هِيَ ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ
خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفۡسَ عَنِ ٱلۡهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلۡجَنَّةَ هِيَ
ٱلۡمَأۡوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرۡسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن
ذِكۡرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾
كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوۡ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

## سُورَةُ عَبَسَ

17- د فرعون په لوري لاړ شه چې ده کړې سرکښي ده. 18- ورته ووايه چې
دې ته دي خوا کېږي چې ته پاك شې؟ 19- او هدايت دي کړم په لوري د
خپل رب، چې بيا به نو وېرېږې. 20- نو ئې وښودله ده ته هغه لويه ستړه
نښه. 21- خو تکذيب او سرکښي ئې کړله خپله. 22- بيا ئې شا کړه هاند
کوونکی. 23- بيا ئې غونډ کړل، نو ئې غږ کړ: 24- نو ئې وويل: زه ستاسو
اعلی رب يم! 25- نو الله دی په وروستي، ړومبي عذاب باندي اخته کړ.
26- بې شکه دې کې پند دئ هغه چا ته چې وېرېږي. 27- تاسو به وئ گران
په پيدايښت کې که آسمان چې جوړ ئې کړ؟ 28- لوړتيا ئې کړه ورلوړه او
ښه ئې برابر کړ. 29- او شپه ئې کړه ورپټه او راوې ايسته غرمه ئې. 30-
او تر دې وروسته ئې زمکه کړه خوره. 31- راوې ايستې اوبه ئې او واښه
ئې. 32- او ځای په ځای ئې ودرول دا غرونه. 33- متاع ستاسو لپاره او
ستاسو د څارويو. 34- نو چې راشي هغه ستره هنگامه. 35- هغه ورځ چې
انسان ياد کړي خپلي کړني. 36- او څرگند کړی شي دوزخ وهغه چا ته چې
څه ويني. 37- نو هغه چې ئې وکړه سرکښي. 38- او د دنيا ژوندون ئ
خوښ کړ. 39- نو بې شکه چې جحيم به وي تمځی. 40- او اما هغه چې په
وړاندي د خپل رب له ودرېدو ووېريدو او له هوی هوس ئې منع کړ خپل
نفس. 41- نو بې شکه چې جنت به وي تمځی. 42- تا پوښتي له ساعت
چې دا کله به وي وخت د ودرېدو ئې؟ 43- دا ته په څه (مقام) کې يې د
دې د يادولو. 44- پای خو ئې دئ ستا د رب په لوري. 45- ته خو يو منذر
يې هغه چا ته چې له دې وېرېږي. 46- داسي به وي دوی په هغه ورځ
چې وئې گوري: چې نه دي پاته شوي مگر يوازي يو ماښام او يا غرمه ئې.

## عبس- مکي سوره- 42 آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ١ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ٢ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ٣
أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ٤ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ
٦ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ٧ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ٨ وَهُوَ يَخۡشَىٰ
٩ فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ١٠ كَلَّآ إِنَّهَا تَذۡكِرَةٞ ١١ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ١٢ فِي
صُحُفٖ مُّكَرَّمَةٖ ١٣ مَّرۡفُوعَةٖ مُّطَهَّرَةِۭ ١٤ بِأَيۡدِي سَفَرَةٖ ١٥ كِرَامِۭ بَرَرَةٖ
١٦ قُتِلَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَآ أَكۡفَرَهُۥ ١٧ مِنۡ أَيِّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ ١٨ مِن نُّطۡفَةٍ
خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ١٩ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ٢٠ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقۡبَرَهُۥ ٢١ ثُمَّ
إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ٢٢ كَلَّا لَمَّا يَقۡضِ مَآ أَمَرَهُۥ ٢٣ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ
طَعَامِهِۦٓ ٢٤ أَنَّا صَبَبۡنَا ٱلۡمَآءَ صَبّٗا ٢٥ ثُمَّ شَقَقۡنَا ٱلۡأَرۡضَ شَقّٗا ٢٦
فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا حَبّٗا ٢٧ وَعِنَبٗا وَقَضۡبٗا ٢٨ وَزَيۡتُونٗا وَنَخۡلٗا ٢٩ وَحَدَآئِقَ
غُلۡبٗا ٣٠ وَفَٰكِهَةٗ وَأَبّٗا ٣١ مَّتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ ٣٢ فَإِذَا جَآءَتِ
ٱلصَّآخَّةُ ٣٣ يَوۡمَ يَفِرُّ ٱلۡمَرۡءُ مِنۡ أَخِيهِ ٣٤ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ٣٥ وَصَٰحِبَتِهِۦ
وَبَنِيهِ ٣٦ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ٣٧ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ
مُّسۡفِرَةٞ ٣٨ ضَاحِكَةٞ مُّسۡتَبۡشِرَةٞ ٣٩ وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ عَلَيۡهَا غَبَرَةٞ ٤٠

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- تریو ئې کړ تندی او مخ ئې واړاوو. 2- چې کله ورته راغی هغه ړوند. 3- څه شي ته خبرکړې، ښایی (غوښتل ئې) ځان تزکیه کړي. 4- یا پند واخلي او پند ئې ګټور کړي. 5- خو چا چې استغناء به ئې کوله. 6- نو ستا وه ورته خاصه پاملرنه. 7- او څه پره ئې پر تا نشته، که ځان نه کړي تزکیه. 8- خو ځوك چې په تلوار راغی ستا خوا ته. 9- او وېري وو اخیستی. 10- نو تا کړه له هغه بې پروایي. 11- نه، داسي نه ده، دا یوه یادونه ده. 12- نو پند دې ترې واخلي ځوك چې غواړي. 13- په غوره غوره پاڼو کي. 14- لوړي، پاکیزه، 15- په لاس د سفراوو، 16- مخور او نېك خصلته. 17- مرګ په دې انسان، دا څه شي دئ کافر کړ؟ 18- له څه ئې راپیدا کړ؟ 19- له یوې وړې نطفې، پیدا ئې کړ او جوړ ئې کړلو سم په اندازه. 20- بیا ئې ورته لار کړله آسانه. 21- بیا ئې مړ کړ، نو ئې ښخ کړلو په ګور کي. 22- بیا چې کله وغواړي هغه به منتشر کړي. 23- نه، داسي نه ده، نه ئې کړو ترسره هغه څه چې دی الله وو پرې ګمارلی. 24- نو انسان دې خپل طعام ته نظر وکړي. 25- چې په څنګه تویولو مو راتوی کړلې اوبه؟ 26- بیا په څنګه شق کولو سره شق مو کړه دا زمکه؟ 27- نو راشنه مو کړه په دې کي څه دانه. 28- او انګور او ساګ سابه. 29- او وني د زیتون او د کجورو. 30- او ګڼ سمسور باغونه. 31- هم مېوه او هم واښه. 32- یوه متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو. 33- نو کله چې راورسي هماغه تنده چیغه. 34- هغه ورځ چې هرځوك تښتي له خپل وروره، 35- او له موره او خپل پلاره، 36- او له خپلي ښځي، خپل اولاده، 37- په دې ورځي به هر یوه د دوی ته داسي مشغولتیا وي چې په خپله به ئې بس وي. 38- په دې ورځي به ځیني څېرې سپیني او رڼې وي. 39- مُسکېدونکې، ښاد، خوشحاله. 40- او ځیني څېرې داسي چې دې ورځ کي به پراته وي پرې ګردونه.

تَرۡهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

## سُورَةُ التَّكۡوِيرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ﴿١﴾ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ
سُيِّرَتۡ ﴿٣﴾ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ﴿٤﴾ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ﴿٥﴾ وَإِذَا
ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ﴿٦﴾ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ﴿٧﴾ وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ
﴿٨﴾ بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ
كُشِطَتۡ ﴿١١﴾ وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ﴿١٣﴾ عَلِمَتۡ
نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ﴿١٤﴾ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ﴿١٥﴾ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ﴿١٦﴾
وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ﴿١٧﴾ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ
كَرِيمٖ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ﴿٢١﴾
وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ
عَلَى ٱلۡغَيۡبِ بِضَنِينٖ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٖ ﴿٢٥﴾ فَأَيۡنَ
تَذۡهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن
يَسۡتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

41- تورواڵي او تیارو به وي پوښلې. 42- همدا دي آ بدکاره کافران.

## التکویر- مکي سوره- 29 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کله چي راتاو کړی شي دا لمر. 2- او کله چي تیاره شي دغه ستوري. 3- او کله چي روان کړی شي دا غرونه. 4- او چي کله پرېښودی شي بلاربي اوښي. 5- او چي کله تَرېدونکي را غونډ کړی شي. 6- او کله چي سیندونه تر ژۍ ډك شي. 7- او چي کله سره جوخت کړی شي نفسونه. 8- او چي کله ښخه شوې وپوښتی شي. 9- په کومي یوې گناه ده وژل شوې؟ 10- او چي کله صحیفې خورې ورې شي. 11- او کله چي له پوسته دا آسمان شي. 12- او کله چي دوزخ (بل) په لمبو شي. 13- او جنت چي کله راوستی نژدې شي. 14- په خپلو حاضرکړو باندي پوه به هر یو نفس شي. 15- نو داسي نه ده، لوړه کړم په دغو بیا راتلونکو. 16- په دې تلونکو پټېدونکو. 17- او په شپې چي شي په تلو. 18- او قسم د سباوون په سا ایستو. 19- بې شکه دا وینا ده د استازي عزتمن. 20- مخور د عرش خاوند ته او ځواکمن. 21- هلته منل شوی او امین. 22- او ستاسو دا ملگری مجنون نه دئ. 23- او بې شکه چي هغه ئې دئ لیدلی ښرگند افق کي. 24- او نه دئ دی په غیب باندي بخیل. 25- او نه ده دا وینا د رټل شوي کوم شیطان. 26- نو چېري درومئ تاسو؟ 27- دا نه ده مگر ذکر ټول عالم ته. 28- ستاسو هغه چا ته چي ئې غوښتي؛ مستقیم شي. 29- تاسو غوښتی نه شئ تر څو نه وي غوښتي خدای، رب د عالمونو.

مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

## سُورَةُ الانفِطَارِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ﴿١﴾ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ
﴿٣﴾ وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ﴿٤﴾ عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾
فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ
عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَٰتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿١٢﴾ إِنَّ
ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ
﴿١٥﴾ وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ
مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٌ لِّنَفۡسٍ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾

## سُورَةُ المُطَفِّفِينَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيۡلٌ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا
كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ﴿٣﴾ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبۡعُوثُونَ ﴿٤﴾

## الانفطار- مكي سوره- 19 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- هغه وخت، چې چاود چاود شي دا آسمان. 2- او کله چې خواره شي دا
ټول ستوري. 3- او کله چې روان کړی شي سيندونه. 4- او کله چې قبرونه
وسپړل شي. 5- هر څوك به په کوم څه چې مخکې کړي او وروسته کړي ئې
وو پوه شي. 6- آی! اې انسانه! د خپل رب په اړه څه يې غولولی؟ 7- هغه
چې پيدا ئې کړې او ښه ئې برابر او متعادل کړې. 8- په هري بڼې چې
غوښتل ئې، ترکيب ئې کړې. 9- نه، داسي نه ده، بلکې تاسو دغه دين
تکذيبوئ. 10- حال دا چې ګمارل شوې دي پر تاسو حافظان. 11- عزتمن
ليکوالان. 12- په هغه څه پوهېږي چې کوئ ئې. 13- بې شکه چې نېکان
به وي نعيم کې. 14- او بې شکه بد کاران به وي جحيم کې. 15- د سزا په
ورځ به ننوځي هغه کې. 16- او، غائبېدونکي به ترې نه وي. 17- او څه شي
ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. 18- بيا څه شي ته خبر کړې چې دا
ورځ د سزا څه ده. 19- آ ورځ چې څوك به نه لري بل چا ته څه په واك کې
او (واك به د هر) کار وي په دې ورځ مختص الله ته.

## المطففين- مكي سوره- 36 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- واى واى د کموونکو په (حال). 2- آ چې کله څان په نورو تلي، ډکه
ډکه پيمانه غواړي. 3- او چې نور يا پيمانه کړي يا ئې وتلي، کمی کوي.
4- آيا دغه ډله ګمان نه کړي چې حتماً به پاڅولی شي.

لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ
ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ٧ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا سِجِّينٞ ٨ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٩
وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٠ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ ١١ وَمَا
يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ
أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٣ كَلَّاۖ بَلۡۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ١٤
كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ١٥ ثُمَّ إِنَّهُمۡ لَصَالُواْ ٱلۡجَحِيمِ
١٦ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ١٧ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ
ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ١٨ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ١٩ كِتَٰبٞ مَّرۡقُومٞ ٢٠
يَشۡهَدُهُ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢١ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ٢٢ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ
٢٣ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ٢٤ يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٖ مَّخۡتُومٍ
٢٥ خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ٢٦ وَمِزَاجُهُۥ
مِن تَسۡنِيمٍ ٢٧ عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا ٱلۡمُقَرَّبُونَ ٢٨ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ
مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ٢٩ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ٣٠ وَإِذَا
ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ٣١ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ
لَضَآلُّونَ ٣٢ وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ ٣٣

5- د يوې سترې ورځ لپاره. 6- هغه ورځ چې رب العالمين ته به
ودرېږي خلك.7- نه، داسې نه ده، بې شكه چې ليك پاڼه د بدكارو وي
سجين كې. 8- او څه په دې خبر كړې چې څه دئ دا سجين؟ 9- يو ليكل
شوی كتاب. 10- وای په دې ورځ په دروغ گڼونكو. 11- آ چې
دروغجنه ئې گڼله د سزا ورځ. 12- او نه ئې گڼي دروغ، مگر هر تېرى
كوونكى گنهگار. 13- چې كله ولوستى شي آيتونه مو ورباندې، وايي:
قصې د مخكنيو!! 14- نه، داسې نه ده، بلكې زنگ وهلی دئ د دوی پر
زړونو، د دوی لاس ته راوړنو. 15- نه، داسې نه ده، بې شكه په دې
ورځ به محجوب وي له خپل رب. 16- بيا به وي ننوتونكي په جحيم
كې. 17- بيا به وويل شي: دا همغه څه دئ چې دروغ به مو گڼلو. 18-
نه، داسې نه ده، بې شكه عمل پاڼه د نېكانو به په لوړو لوړو كې وي.
19- او څه يې ته پوه كړی چې څه دي دا لوړ لوړ؟ 20- ليكلی يو
كتاب. 21- تماشا به ئې كوي مقربين. 22- بې شكه چې ابرار به وي
نعيم كې. 23- پر تختونو باندې ناست به تماشا كړي. 24- په څېرو كې
به ئې مومې تازه والی د نعيم. 25- څړوبېږي په خالصو سرمُهر شوو
شرابونو. 26- مُهر به ئې مشك وي، نو په دې كې دې سيالي وكړي
سيالان. 27- او له تسنيم ئې گډونه. 28- آ چينه چې ئې په خوا كې
څښل مقربين كا. 29- بې شكه هغو خلكو چې ئې كړي وو جرمونه،
خندل به ئې پر هغو چې ايمان ئې وو راوړی! 30- چې خوا ته به ئې
تېرشول، سترگك به ئې وهلو په خپل منځ كې. 31- او چې كله به خپل
اهل او كهول ته گرځېدل، خوښ خوښ به گرځېدل. 32- او چې كله به
ئې وليدل، ويل به ئې: دا دوی خو بې له شكه دي لاروركي. 33- حال
دا چې پردوی نه وو لېږل شوي څاركوونكي.

فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ
يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلۡ ثُوِّبَ ٱلۡكُفَّارُ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

## سُورَةُ الانشِقَاقِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ﴿١﴾ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ
﴿٣﴾ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحًا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ
كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ
أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوۡفَ
يَدۡعُواْ ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصۡلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورًا ﴿١٣﴾
إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓۚ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَآ أُقۡسِمُ
بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا
عَن طَبَقٖ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ لَا
يَسۡجُدُونَ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا
يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾

34- نو نن به پر کفارو باندي خاندي هغه خلك چي ایمان ئې وو راوړی.35-
پر تختونو باندي ناست به تماشا کړي. 36- آیا ورکړی شو کفارو ته ثواب د
هغه څه چي دوی کولو؟

## الانشقاق- مکي سوره- 25 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کله چي آسمان ټوټې ټوټې شي. 2- او خپل رب ته به غوږ شي او همدغه
ورته ښایي. 3- اوکله چي خوره کړی شي دا زمکه. 4- او راواچوي هر څه
چي وي په دې کي او خالي شي. 5- او خپل رب ته به غوږ شي او همدغه
ورته ښایي. 6- آی اې انسانه! بې شکه چي دا ته یې د خپل رب په لور په
هڅه هاندکوونکی، نو مخامخېدونکی به ئې وې. 7- نو هغه چي په ښي لاس
کي ئې ورکړی شي لیك پاڼه. 8- نو ژر به محاسبه شي په آساني محاسبې. 9-
او ورگرځي به خپل اهل ته خوشحاله. 10- او هغه چي لیك پاڼه به ئې
ورکړی شي له شا. 11- نو ژر ده چي مرگی به ځانته بولي. 12- او ملبو کي (د
دوزخ) به ننوځي. 13- دی خو خپل ټبرکي وو خوشحاله. 14- ده گمان کاوو
چي وبه نگرځي هیڅکله! 15- هوکي ولي نه، چي رب ئې وو د ده لیدونکی!
16- نو نه، زما دي لوړه په شفق وي. 17- او په شپې او څه چي ونیسي په
غېږ کي. 18- او په سپوږمۍ چي کله بشپړه شي. 19- حتماً به له یوه پوړه؛
بل پوړ ته اوچت درومئ. 20- نو څه شوي په دوی چي ایمان نه راوړي؟
21- او چي قرآن پرې ولوستی شي سجده نه کوي؟ 22- بلکي دروغ ئې گڼي
هغه چي کافر شول. 23- او الله خو ډېر ښه پوه دئ په هر څه چي غونډوي
ئې. 24- نو ورکړه ورته زیری د دردناك عذاب. 25-

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍۭ ﴿٢٥﴾

## سُورَةُ البُرُوجِ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْبُرُوجِ ﴿١﴾ وَٱلْيَوْمِ ٱلْمَوْعُودِ ﴿٢﴾ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴿٣﴾
قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ﴿٤﴾ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ﴿٥﴾ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ
﴿٦﴾ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴿٧﴾ وَمَا نَقَمُواْ مِنْهُمْ إِلَّآ
أَن يُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٨﴾ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلْمُؤْمِنِينَ
وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُواْ فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ
﴿١٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ
يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾
فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾
بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِى تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ﴿٢٠﴾ بَلْ
هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾

مګر هغه چې ایمان ئې وي راوړی او ښه ښه عملونه ئې وي کړي، چې دوی ته به وي اجر نه غوځېدونکی.

## البروج- مکي سوره- 22 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم د برجونو په خاوند آسمان. 2- او په هغې موعود ورځې. 3- او په هر شاهد او مشهود. 4- هلاك شول خاوندان د خندقونو. 5-(خندقونه د سره) اور او د ډېر سون. 6- چې ئې دوی پر غاړه ناست وو. 7- او شاهد د هغه څه چې مؤمنانو سره دوی کړل!! 8- او عیبناکه ئې ونه ګاڼو لدوی؛ مګر دا چې په ستایلي عزیز خدای ئې ایمان راوړ. 9- هغه ذات چې د دې زمکې، آسمانونو واکمني د ده ده او الله دئ په هر څه باندې شاهد. 10- بې شکه چا چې واچول فتنو کې مؤمنان او مؤمناني، بیا ئې ونکړه توبه، د دوزخ عذاب دئ دوی ته او د اور عذاب دئ دوی ته. 11- بې شکه، هغو چې ایمان ئې وي راوړی، ښه کارونه ئې وي کړي، داسې جنتونه به وي دوی ته، چې ترې لاندې ئې ویالې بهېږي، همدا ستره بریا ده. 12- بې شکه چې نیونه ستا د رب ده حتماً سخته. 13- دا خو دی دئ چې پیلول کوي او بیا راګرځول. 14- او دی دئ آ بخښونکی مینه ناك. 15- ستر د عرش خاوند. 16- کوونکی د هر څه چې وئې غواړي. 17- آیا تا ته رسېدلی دئ خبر د آ لښکرو؟ 18- د فرعون او د ثمود؟ 19- خو په لټه د تکذیب کې دي هغه چې کافران شول. 20- او الله دئ د دوی چار چاپېر محیط. 21- بلکې دا دئ پرتمین قرآن. 22- په یوې خوندي صفحې کې.

## سُورَةُ الطَّارِقِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ٣ إِن
كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ٤ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ٥ خُلِقَ مِن
مَّآءٖ دَافِقٖ ٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ٧ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ
٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ١٠ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ
ٱلرَّجۡعِ ١١ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ١٢ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ
١٤ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ١٥ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ
رُوَيۡدَۢا ١٧

## سُورَةُ الأَعۡلَىٰ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ٣
وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ٥ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ
٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرَىٰ ٨
فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ٩ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ١٠

## الطارق- مکي سوره- 17 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- لوړه په آسمان او دا د شپې وَر ټکوونکي. 2- څه شي خبردار کړې چي
څه دئ دا د شپې وَر ټکوونکی؟ 3- ستوری ځلېدونکی. 4- هیڅوك داسي
نشته چي پر ده نه وي ساتونکی. 5- نو دا انسان دي وګوري، له څه دئ
پیدا شوی؟ 6- له ټوپ وهونکو اوبو دئ پیدا شوی. 7- راوځي د سینې
او ملا له منځه. 8- بې شکه چي هغه ئې توانا دئ په بیا راګرځولو. 9-
هغه ورځ چي (ټول) رازونه به بربنډ شي. 10- نو نه به ئې څه توان وي،
نه ملاتړی. 11- لوړه په آسمان دا پر له پسې راګرځوونکی. 12- او په
زمکي چاودېدونکې. 13- بې شکه چي دا پرېکنده وینا ده. 14- او نه ده
هغه خوشې بېهوده. 15- دوی خو کاروي څه تدبیرونه. 16- او زه هم
کاروم څه تدبیرونه. 17- نو پرېږده کافران، لږ غوندي ئې پرېږده.

## الاعلی- مکي سوره- 19 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- یاد کړه په پاکۍ سره نوم د خپل اعلی رب. 2- هغه چي پیدا ئې
کړل (هرڅه) او برابر ئې کړل. 3- او آ چي اندازه او هدایت ئې کړل.
4- او هغه چي دا بوټي ئې راوایستل. 5- بیا ئې زرغونه او توربخن
کړل. 6- ژر به ئې پرتا لولو، داسي چي ئې هېر نه کړې. 7- مګر دا چي
الله وغواړي، بې شکه دی پوهېږي په ښکاره او په هغه چي پټېږي.
8- او تا به کړو روان په دې آسانه، آسانۍ سره. 9- نو وکړه یادونه، که
تذکار وو ګټور. 10- هغه چي وېرېږي، ژر به پند ترې واخلي.

وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ﴿١١﴾ ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ
فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾
بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ﴿١٦﴾ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِي
ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

## سُورَةُ الغَاشِيَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٞ
نَّاصِبَةٞ ﴿٣﴾ تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةٗ ﴿٤﴾ تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ﴿٥﴾ لَّيۡسَ لَهُمۡ
طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ ﴿٦﴾ لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٖ ﴿٧﴾ وُجُوهٞ
يَوۡمَئِذٖ نَّاعِمَةٞ ﴿٨﴾ لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٞ ﴿٩﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ﴿١٠﴾ لَّا تَسۡمَعُ
فِيهَا لَٰغِيَةٗ ﴿١١﴾ فِيهَا عَيۡنٞ جَارِيَةٞ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٞ مَّرۡفُوعَةٞ ﴿١٣﴾
وَأَكۡوَابٞ مَّوۡضُوعَةٞ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٞ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ﴿١٦﴾
أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ
رُفِعَتۡ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ
سُطِحَتۡ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ ﴿٢١﴾ لَّسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ ﴿٢٢﴾

11- او هغه چي ترټولو زيات شقي وي، له دې به شي په ډډه. 12- همغه چي
داخل به شي ستر اور کې. 13- بيا به هلته نه مري او نه خو به ژوند کوي. 14-
يقيناً بريالى شو چا چي ځان کړو تزکيه. 15- او ورياد د خپل رب نوم شو، نو
ودرېد په لمانځه. 16- خو تاسو غوره کړی ژوند د دې دنيا. 17- حال دا چي
آخرت دئ هم غوره هم تل پاته. 18- بې شکه چي دا (ثبت) دئ مخکنيو
صحيفو کې. 19- د ابراهيم او د موسى په صحيفو کې.

## الغاشية- مکي سوره- 26 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آيا تا ته رسېدلی دئ خبر د آ پوښونکې؟ 2- څه څېرې به په دې ورځ
وي وېرېدونکې. 3- ستړې او ستومانه. 4- ننوځي به سره اور کې. 5-
څروبېږي به له يوې تودې چينې. 6- نه به وي خوراك دوی ته پرته له
اغزن بوټي.7- نه به څوربولی شي او نه خو به د لوږي چاره کړلی شي.
8- په دغه ورځ به ځيني څېرې خوښي وي. 9- راضي په خپلو هڅو.
10- عالي شانه جنتو کې. 11- نه به اوري هلته بېهوده وينا. 12- په دې
کې وي رواني چينې. 13- په دې کې لوړ تختونه. 14- او جامونه هري
خوا ته اېښودلي. 15- او په ليکه ږدول شوي بالښتونه. 16- او خواره
نفيس فرشونه. 17- مگر نه گوري اوښانو ته چي څنگه پيدا شوي؟ 18-
او آسمان ته چي دا څنگه لوړ کړی شوی؟ 19- او دې غرونو ته چي
څنگه نصب کړی شوي؟ 20- او دې زمکي ته چي څنگه خوره شوې؟
21- نو وریاد کړه چي ته يې وريادوونکی. 22- نه يې ته پر دوی سلطه
کوونکی.

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَكۡبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيۡنَآ
إِيَابَهُمۡ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

## سُورَةُ الفَجۡرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡفَجۡرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ﴿٢﴾ وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ﴿٣﴾ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ ﴿٤﴾
هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ ﴿٥﴾ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾
إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ﴿٧﴾ ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ
جَابُواْ ٱلصَّخۡرَ بِٱلۡوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِي
ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ
عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا ٱلۡإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ
فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكۡرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ
فَقَدَرَ عَلَيۡهِ رِزۡقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ
ٱلۡيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأۡكُلُونَ
ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ﴿٢٠﴾ كَلَّآۖ إِذَا دُكَّتِ
ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا دَكّٗا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ﴿٢٢﴾

23- مگر هغه چي ئې شا کړه او کافر شو. 24- نو الله به ئې په لوی عذاب تعذیب کړي. 25- بې شکه چي راتگ ئې زمونږ په لور دئ. 26- بیا یقیناً چي حساب ئې پر مونږ (پور) دئ.

## الفجر- مکي سوره- 30 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په سباوون. 2- او په هرو لسو شپو. 3- او په دغه جفت او طاق. 4- او په شپې چي شي روانه. 5- آیا دې کې به قسم وي پوهیالیو ته؟ 6- ودي نه لیدو؛ عادیانو سره څه وکړل ستا رب ؟ 7- د ارم (عاد)، آ خاوند د جگو ستنو. 8- آ چي نه وو پیدا شوي دوی ته ورته په ښارونو. 9- او ثمود سره چي ډبري ئې درو کې وتراشلې. 10- او فرعون سره خاوند د آ میخونو. 11- هغه (خلك) چي ښارونو کې ئې وکړه سرکښي. 12- فسادونه ئې ډېر کړي په هغو کې. 13- نو رب دي پرې راپرېښوده متروکه د عذاب. 14- بې شکه چي ستا رب دئ په کمین کې. 15- نو دا انسان چي کله ئې خپل رب وآزمویي او عزت او نعمت ورکړي، نو وایي به چي رب مي عزت راکړ. 16- او چي کله ئې بیا وآزمویي (داسي) چي روزي پرې کړي محدوده، نو وایي به چي خدای مي اهانت کړم. 17- نه، داسي نه ده، بلکي نه کوئ عزت د یتیمانو. 18- او نه هڅوئ یو بل په اطعام د مسکینانو. 19- او د بل د میراث برخه خورئ په زښت زیات خوړلو. 20- او مینه کړئ له مال سره، مینه ډېره کلکه. 21- نه، داسي نه ده، هغه وخت چي په ټکولو، ټکولو اواره کړی شي زمکه. 22- او رابه شي ستا رب او وي به فرښتې لیکه په لیکه.

وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَۚ يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴿٢٣﴾
يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٞ
﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٞ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾
ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ﴿٢٨﴾ فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾
وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾

## سُورَةُ البَلَدِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ
﴿٣﴾ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾ أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ
أَحَدٞ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهۡلَكۡتُ مَالٗا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ
﴿٧﴾ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيۡنَٰهُ
ٱلنَّجۡدَيۡنِ ﴿١٠﴾ فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ
رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ ﴿١٤﴾ يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوۡ
مِسۡكِينٗا ذَا مَتۡرَبَةٖ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ
وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡمَرۡحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﴿١٨﴾

23- او دوزخ به راوستى شي په دې ورځ او وریاد به شي انسان ته په دې ورځ، خو له کومه به ئې وي پند اخیستنه؟ 24- وایي به: ای کاش چې څه مي کړي وی دغه خپل ژوندون ته. 25- نو هیڅوك به په دې ورځ، د ده عذاب ته ورته، کړول نه شي کولی. 26- او هیڅوك به د ده کلك تړلو شانته، کلك تړل نه شي کولی. 27- آی اې ډاډه نفسه! 28- د خپل رب په لوري ګرځه راضي کوونکی، راضي شوی. 29- نو زما په بندګانو کې شامل شه. 30- او جنت ته مي داخل شه.

## البلد- مکي سوره- 20 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- نه، قسم مي په دې ښار. 2- او ته حلال ګڼلی کېږې پدې ښار کې. 3- او لوړه په هر پلار او په هر زوی. 4- بې شکه چې انسان مو پیدا کړی په سختۍ کې. 5- آیا داسي انګېري چې هیڅکله به څوك نشي پرې قادر؟ 6- وایي: ډېر مال مي کړ تباه! 7- آیا دی انګېري داسي چې هیچا لیدلی نه دئ؟ 8- آیا ده ته مو ورنکړلې دوې سترګې؟ 9- او یوه ژبه او دوې شونډې؟ 10- او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟ 11- وئې نه دانګلو دغې سختې لار ته. 12- څه شي یې پوه کړی چې دا سخته لاره څه ده؟ 13- د غاړو پرانیستل. 14- او د لوږې په ورځ ورکړه د طعام. 15- د خپلوۍ خاوند یتیم ته. 16- یا په خاورو سپېره شوي کوم مسکین ته. 17- بیا له ډلې د هغو شي چې ایمان ئې دئ راوړی او په صبر او زړه سوي باندې ئې کړې سپارښتنه. 18- دوی به وي د نېکمرغۍ خاوندان.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ١٩ عَلَيۡهِمۡ نَارٞ مُّؤۡصَدَةُۢ ٢٠

## سُورَةُ الشَّمۡسِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلشَّمۡسِ وَضُحَىٰهَا ١ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ٢ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ٣ وَٱلَّيۡلِ
إِذَا يَغۡشَىٰهَا ٤ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ٥ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا طَحَىٰهَا ٦ وَنَفۡسٖ
وَمَا سَوَّىٰهَا ٧ فَأَلۡهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقۡوَىٰهَا ٨ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ٩ وَقَدۡ
خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ١٠ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ بِطَغۡوَىٰهَآ ١١ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشۡقَىٰهَا ١٢
فَقَالَ لَهُمۡ رَسُولُ ٱللَّهِ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقۡيَٰهَا ١٣ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمۡدَمَ
عَلَيۡهِمۡ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمۡ فَسَوَّىٰهَا ١٤ وَلَا يَخَافُ عُقۡبَٰهَا ١٥

## سُورَةُ اللَّيۡلِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ١ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ٢ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ٣ إِنَّ
سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ٤ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٦
فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ٨ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ٩

19- او زمونږ په آيتونو چي کافر شول، دوی به وي د بدمرغۍ خاوندان.
20- ګمارل شوی سرپوښلی اور پر دوی.

## الشمس- مکي سوره- 15 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په دغه لمر او په غرمه ئې. 2- قسم په دې سپوږمۍ چي شي ورپسې.
3- قسم په دغي ورځ چي ئې ځرګند کړي. 4- قسم په دغي شپې چي ئې راونغاړي
تيارې کې. 5- قسم په دې آسمان او په دا هسي جوړېدو ئې.6- قسم په دغي
زمکي او دا هسي خورېدو ئې. 7- قسم په دغه نفس او په دا هسي سمبدو ئې.
8- چي الهام ئې ورته وکړ د فجور او ځان ساتو ئې. 9- بې شکه بريالی شو هغه
ځوك چي پاك ئې کړلو. 10- او بې شکه نامراد شو هغه ځوك چي وئې لړلو. 11-
په خپلي سرکښۍ خو ثمودیانو تکذيب وکړ. 12- هله چي راپورته شو ترټولو لوی
بدبخت ئې. 13- نو دوی ته وويل د خدای رسول چي پام، د الله په دغي اوښي
او وار د اوبه خور ئې. 14- خو دروغجن ئې وګڼلو او د اوښي لاس او پښې ئې
قطع کړلې، نو په وجه د ګناه ئې د دوی رب پرې غضب وکړو او ښه ئې برابر
کړل. 15- او د عاقبت ئې پروا نه کړي.

## الليل- مکي سوره- 21 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په دغي شپې چي کله ونغاړي تياره کې. 2- قسم په دغي ورځې چي
ځلانده کړي (رڼا کې). 3- قسم دئ په دا هسي پيدايښت د نر او ښځې. 4- بېشکه
بېلابېلي مو دي هڅي. 5- نو هغه چي ئې ورکړه او تقوی وکړه. 6- او رښتيا ئې
وګڼله غوره پايله. 7- نو ژر به ئې آساني ته آسان کړو. 8- او چا چي استغناء او
بخل وکړ. 9- او دروغ ئې وګڼله غوره پايله.

فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴿١٠﴾ وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيۡنَا
لَلۡهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا
يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى ﴿١٥﴾ ٱلَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى ﴿١٧﴾
ٱلَّذِي يُؤۡتِي مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا
ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾

## سُورَةُ الضُّحَىٰ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾ وَلَلۡأٓخِرَةُ
خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ﴿٥﴾ أَلَمۡ يَجِدۡكَ
يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ﴿٨﴾
فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ﴿٩﴾ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ
فَحَدِّثۡ ﴿١١﴾

## سُورَةُ الشَّرۡحِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ﴿٢﴾

10- نو ژر به ئې آ ګراني ته آسان کړو. 11- او مال به ئې څه دفع کړي له ده،
کله چي نسکور شي؟ 12- بې شکه چي پر مونږ ده لارښودنه. 13- او له شکه
پرته پای او پیل دئ زمونږ. 14- نو ومو ویرولئ له آ اوره چي لمبې کړي. 15-
ننوځي په کې نه مګر همغه چي ترټولو وي بدبخته. 16- همغه چي تکذیب ئې
کړ او شا ئې واړوله. 17- او تر ټولو متقي به ترې ساتلی شي په ډډه. 18- هغه
چي خپل مال ورکوي، ځان تزکیه کوونکی. 19- هیڅا ته، له ده سره کوم داسي
نعمت نه وي چي بدله ئې ورکوی شي. 20- مګر د خپل لوړ رب د رضاء لټول.
21- نو خود به ژر راضي شي.

## الضحی- مکي سوره- 11 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په دې غرمه. 2- قسم په دغه شپه چي شي تیاره. 3- نه پرېښی
یې خپل رب، نې ګڼلی یې دښمن. 4- او پایله تا ته غوره ده له پیله.5-
او ژر به دي خپل رب، هومره درکړي چي راضي شې. 6- مګر نه ئې
وموندلې یو یتیم او د ټېکي ځای ئې درکړ؟ 7- مګر نه ئې وموندلې یو
لارورکی او لار ئې وښودله؟ 8- او نیازمند ئې وموندلې، خو غناء ئې
کړه په برخه. 9- نو یتیم باندي قهر مه کړه.10- او مه رټه سائل. 11-
او په وینا شه د خپل رب په نعمتونو.

## الشرح- مکي سوره- 8 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آیا ستا سینه مو نه کړه درته پراخه؟ 2- او آیا کوز مو له تا نه کړ
ستا دروند پېټی؟

ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ٣ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ٤ فَإِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٥
إِنَّ مَعَ ٱلۡعُسۡرِ يُسۡرًا ٦ فَإِذَا فَرَغۡتَ فَٱنصَبۡ ٧ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرۡغَب ٨

## سُورَةُ التِّينِ

بِّسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيۡتُونِ ١ وَطُورِ سِينِينَ ٢ وَهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ٱلۡأَمِينِ ٣ لَقَدۡ
خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ٤ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ٥ إِلَّا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ٦ فَمَا
يُكَذِّبُكَ بَعۡدُ بِٱلدِّينِ ٧ أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ ٨

## سُورَةُ العَلَقِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ
وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ
٥ كَلَّآ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَيَطۡغَىٰٓ ٦ أَن رَّءَاهُ ٱسۡتَغۡنَىٰٓ ٧ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ
ٱلرُّجۡعَىٰٓ ٨ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ٩ عَبۡدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ١٠ أَرَءَيۡتَ إِن كَانَ
عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ١١ أَوۡ أَمَرَ بِٱلتَّقۡوَىٰٓ ١٢

3- هغه چي ستا ملا ئې ماتوله. 4- او درته لوړ مو کړ ستا ذکر. 5- نو
بېشکه هري ستونزي سره وه يوه آساني. 6- نو بېشکه هري ستونزي
سره وي به آساني. 7- نو کله چي فارغ شې، بيا پيل کړه هڅه هاند. 8-
او په لوري د خپل رب وکړه رغبت.

## التين- مکي سوره- 8 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه
1- په دې انځر او په دې زيتون باندي قسم. 2- په طور سينين باندي
قسم. 3- په دغه خوندي ښار باندي قسم. 4- بې شکه چي انسان مو
پيدا کړی دئ په ډېر غوره جوړښت کي. 5- بيا مو رد کړ دی تر ټولو ټيټو
ټيټ ته. 6- مگر هغه چي ايمان ئې وي راوړی او کړي ئې وي سم سم
عملونه، نو وي به تلپاته بدله دوی ته. 7- څه شي نو د دين درواغ گڼلو
ته ته اړ کړي؟ 8- مگر نه دئ خدای احکم الحاکمين؟

## العلق- مکي سوره- 19 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه
1- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پيدا ئې کړ. 2- انسان ئې له
ځوړندو پيدا کړ. 3- ولوله چي رب دي ډېر کريم دئ. 4- آ چي په قلم
ئې پوهه ورکړه. 5- انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو. 6-
نه، داسي نه ده، بې شکه چي انسان حتماً طغيان کړي. 7- که ئې ځان
بې نيازه وليد. 8- بې شکه چي ورتگ دئ ستا د رب په لوري. 9- آيا ودي
ليد هغه چي مخنيوی کړي؟ 10- د بنده چي کله لمونځ کړي. 11- آيا
ودي ليد که دی په هدايت وي. 12- او گمارنه په تقوی کړي.

أَرَءَيۡتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ١٣ أَلَمۡ يَعۡلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ١٤ كَلَّا لَئِن لَّمۡ يَنتَهِ
لَنَسۡفَعَۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ١٥ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ١٦ فَلۡيَدۡعُ نَادِيَهُۥ ١٧
سَنَدۡعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ١٨ كَلَّا لَا تُطِعۡهُ وَٱسۡجُدۡۤ وَٱقۡتَرِب۩ ١٩

## سُورَةُ القَدۡرِ

بِّسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ
خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ
أَمۡرٖ ٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ٥

## سُورَةُ البَيِّنَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَمۡ يَكُنِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ
تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ ١ رَسُولٞ مِّنَ ٱللَّهِ يَتۡلُواْ صُحُفٗا مُّطَهَّرَةٗ ٢ فِيهَا كُتُبٞ
قَيِّمَةٞ ٣ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ
٤ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ
وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ٥

13- آیا ودي لید، که دی تکذیب کړي او دی شا اړوي. 14- آیا نه پوهېږي چي الله خو ویني؟ 15- نه، داسي نه ده، که دی منع نه شو، حتماً به ئې راکښ کړو د تندي له وېښتو. 16- له درواغجن او خطاکار تندي. 17- نو راودي بلي دی د خپل مجلس ملګري. 18- او مونږ به حتماً وبلو څارن پلي ځواکونه. 19- نه، داسي نه ده، اطاعت ئې مه کړه، سجده وکړه، ځان نژدې کړه.

## القدر- مکي سوره- 5 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- بې شکه چي نازل مو کړ د قدر په شپه. 2- او څه شي ته خبر کړې چي څه ده دا د قدر شپه. 3- تر زرو میاشتو غوره ده د قدر شپه. 4- په دې کې راکوزېږي د خپل رب په اذن، روح او د هرکار فرشتې. 5- سلامته ده دا شپه د سباوون تر ختو.

## البینة- مدني سوره- 8 آیتونه

### د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کافر شوي کتابیان او مشرکان به رابېل شوي نه وو، تر هغه چي راغلې نه وی دوی ته (څرګندونکې) بینه. 2- د خدای رسول، چي لولي پاکیزه صحیفې. 3- په کې سمي سنجیده لیکني. 4- او بېل بېل نه شول هغه چي دا کتاب وو ورکړی شوی، مګر وروسته له هغه چي ورته راغله دا څرګنده نښه. 5- او نه وو ګمارل شوي له دې پرته په بل څه؛ چي ولمانځي الله، خالصوونکي ورته دین، یومخیزي، او پر دې چي لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي او همدا دئ قیم دین.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ
خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ٧ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ
جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ
ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ٨

## سُورَةُ الزَّلۡزَلَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ١ وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ٢ وَقَالَ
ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ٣ يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ٤ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا
٥ يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٦ فَمَن يَعۡمَلۡ
مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ٧ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ٨

## سُورَةُ العَادِيَاتِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡعَٰدِيَٰتِ ضَبۡحٗا ١ فَٱلۡمُورِيَٰتِ قَدۡحٗا ٢ فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا
٣ فَأَثَرۡنَ بِهِۦ نَقۡعٗا ٤ فَوَسَطۡنَ بِهِۦ جَمۡعًا ٥

6- بې شکه کافر شوي کتابیان او مشرکان به د دوزخ په اور کې وي، تلپاته په هغه کې، همدا دوی دي ترټولو بد مخلوق. 7- له شك پرته چا چې ایمان راوړ او صالح عمل ئې وکړ، دوی دي تر ټولو ښه مخلوق. 8- بدله ئې د خدای خوا کې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې به ویالې بهېږي، تل پاته په هغه کې، الله لدوی راضي او دوی له ده راضي، دا د هغه چا لپاره چې له خپل رب ئې وېره وکړه.

## الزلزال- مکي سوره- 8 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- کله چې ولړزي دا زمکه په خپلې لړزېدا. 2- او راوباسي دا زمکه خپل درانه درانه. 3- او ووایي انسان چې څه پرې شوي؟ 4- په دې ورځ به خپل اخبار بیانوي. 5- دا ځکه چې ستا رب به ورته وحي کړې وي. 6- راوبه وځي په دې ورځ خلك بېل بېل، ترڅو وښودی شي دوی ته خپل اعمال. 7- نو چا چې د وړې ذرې په قدر نېکي کړې، ویني به ئې. 8- او چا چې د وړې ذرې په قدر د شر کار کړی، ویني به ئې.

## العادیات- مکي سوره- 11 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- په ځوږ سره زغاستونکو قسم.2- بیا په سُم (پونده) سپرغۍ شیندونکو قسم.3- او په سباوون یرغل کوونکو قسم. 4- په کوم سره چې دوړې کړي خورې. 5 - په کوم سره چې ننوځي په منځ د یوه ټولي کې.

إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٞ ٦ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٞ ٧ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ
ٱلۡخَيۡرِ لَشَدِيدٌ ٨ ۞أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ مَا فِي ٱلۡقُبُورِ ٩ وَحُصِّلَ مَا فِي
ٱلصُّدُورِ ١٠ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ١١

## سُورَةُ القَارِعَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡقَارِعَةُ ١ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ٣ يَوۡمَ يَكُونُ
ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ٤ وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ٥
فَأَمَّا مَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ٦ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ٧ وَأَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ
مَوَٰزِينُهُۥ ٨ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٞ ٩ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ١٠ نَارٌ حَامِيَةُۢ ١١

## سُورَةُ التَّكَاثُرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٣ ثُمَّ
كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ٥ لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ
٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ٨

6- یقیناً چي انسان دئ خپل مولا ته ډېر ناشکر. 7- او په خپله دی په دې باندي شاهد دئ.8- او په میني کې د خیر خو ډېر شدید دئ. 9- آیا نه پوهېږي، کله چي راپاڅوی شي هغه چي قبرو کې دي. 10- او وسپړی شي هغه چي سینو کې دي. 11- په دې ورځ به خامخا د دوی رب ښه په دوی خبر وي.

## القارعة- مکي سوره- 11 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آ ځپونکې. 2- څه ده دا ځپونکې؟ 3- او څه پوه کړې چي څه ده دا ځپونکې؟ 4- هغه ورځ چي خلك وي د خورو ورو ملخانو په څېر. 5- او غرونه د خورو ورو وړیو په څېر. 6- نو د چا چي درانه شول تلل شوي. 7- نو وي به راضي کوونکي ژوند کې. 8- او هغه چي ئې سپك شول تلل شوي. 9- نو مور به ئې وي کنده. 10- او څه پوه کړې چي څه ده دا کنده ؟11- تاوناك اور.

## التکاثر- مکي سوره- 8 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- مشغول کړئ زیات غوښتني، 2- تر دې چي تاسو وکتل گورونه.3- داسي نه ده، ژر به پوه شئ. 4- بیا هم داسي نه ده، ژر به پوه شئ. 5- نه، نه، که په علم یقین پوه شئ. 6- خامخا به په نظر درشي جحیم. 7- خامخا به ئې بیا وگورئ په سترگه د یقین. 8- بیا به حتماً وپوښتی شئ په دې ورځي له نعیم.

## سُورَةُ العَصۡرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ
ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣

## سُورَةُ الهُمَزَةِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ١ ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ٢ يَحۡسَبُ
أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ٣ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ٤ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا
ٱلۡحُطَمَةُ ٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧ إِنَّهَا
عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨ فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩

## سُورَةُ الفِيلِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ
فِي تَضۡلِيلٖ ٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ
مِّن سِجِّيلٖ ٤ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ٥

## العصر- مكي سوره- 3 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- قسم په زمان. 2- يقيناً چي په زيان کې دئ انسان. 3- مګر هغه چي ايمان ئې وي راوړی او صالح اعمال ئې کړي او سپارښتنه ئې د حق يوه بل ته کړې او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې.

## الهمزة- مكي سوره- 9 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

**1**- وای وای په هر سترګك وهونکي د عيبونو لټوونکي. **2**- همغه چي ئې مال راټول او شمار کړ.**3**- ګمان کوي چي مال به ئې تل پاته کړي.**4**- نه، داسي نه ده، حتماً به واچوی شي حطمه کې.**5**- او څه شي ته خبر کړې چي څه ده حطمه.**6**- الهي بل شوی اور.**7**- هماغه چي په زړونو به راتاو شي. **8**- دا به په هغوی وي سرپوښلی. **9**- په غزول شوو ستنو کې.

## الفيل- مكي سوره- 5 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

**1**- خبر نه يې! فيل دارانو سره څه وکړل ستا رب؟ **2**- آيا نه ئې کړ بې لاري د دوی چل؟ **3**- او خېلونه د مرغانو ئې ونه لېږل پر دوی؟ **4**- ويشتل به دي په کاڼو د خټينو تيږو. **5**- نو الله کړل دوی په شان د خوړل شوو وښو.

## سُورَةُ قُرَيۡشٍ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ١ إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ٢
فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٣ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم
مِّنۡ خَوۡفِۭ ٤

## سُورَةُ المَاعُونِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ٢
وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣ فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ٤ ٱلَّذِينَ
هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ٥ ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ٦ وَيَمۡنَعُونَ
ٱلۡمَاعُونَ ٧

## سُورَةُ الكَوۡثَرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ
ٱلۡأَبۡتَرُ ٣

## قريش- مكي سوره- 4 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- د قريشو د الفت په پاس. 2- الفت ئې د ژمي او د دوبي له سفر سره. 3- نو د دې کور د رب عبادت دې وکړي. 4- آ چې له لوږې ئې ماړه کړل او له وېرې ئې خوندي.

## الماعون- مکي سوره- 7 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- آيا پېژنې همغه چې دا دين تکذيبوي؟2- نو دا خو هغه څوك دئ چې يتيم به رټي. 3- او څوك به مسکين کس ته د طعام په ورکړي نه هڅوي. 4- نو افسوس افسوس په دغو لمونځ کوونکو. 5- همغه چې غافل له خپل لمانځه دي. 6- هماغه چې کوي به ځان ښودنه. 7- او له ورکړي د ماعون (د مرستي عام اسباب) به مخنيوی کا.

## الکوثر- مکي سوره- 3 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- تا ته مو بې شکه چې دروبخښو کوثر(زښت زيات). 2- نو وکوه خپل رب ته دي، لمونځ او قرباني.3- بې شکه ستا دښمن دئ په خپله خوار ابتر.

## سُورَةُ الكَافِرُونَ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ٢ وَلَآ أَنتُمۡ
عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ٤ وَلَآ أَنتُمۡ
عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٥ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ ٦

## سُورَةُ النَّصۡرِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ١ وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ
ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ٢ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا ٣

## سُورَةُ المَسَدِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ٢
سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤ فِي جِيدِهَا
حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ٥

## الکافرون- مکي سوره- 6 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ووایه : آی، های، اې کافرانو! 2- زه نه لمانځم هغه څه چې
تاسو ئې لمانځئ. 3- او نه تاسو يئ لمانځونکي د هغه چې زه ئې
لمانځم. 4- او نه زه یم لمانځونکی د هغه چې عبادت ئې وکړ تاسو.
5- او نه تاسو عابدان د هغه څه یاستئ چې زه ئې عبادت کړم.
6- تاسو ته دي خپل دین وي او ما ته دي خپل دین.

## النصر- مدني سوره- 3 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- هغه وخت چې راشي الهي بریا او فتح. 2- او خلك وګورې چې
ننوځي د خدای دین کې ډلي ډلي، 3- نو لګیا شه د خپل رب په ثناء،
او غواړه ترې بخښنه، بې شکه چې هغه دئ د توبې ښه قبلوونکی.

## اللهب- مکي سوره- 7 آیتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- مات شه دواړه لاسه د ابولهب او تباه دي شي.2- نه دي د ده
مال ترې دفاع وکړي او نې لاسته راوړني.3- ژر به ننوځي د لمبو
خاوند یوه اور کې. 4- او هم ښځه ئې، دا د خاشاك وړونکې. 5-
په غاړه کې مضبوطه رسۍ.

## سُورَةُ الإِخْلَاصِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ
يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤

## سُورَةُ الفَلَقِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ
إِذَا وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ
إِذَا حَسَدَ ٥

## سُورَةُ النَّاسِ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣ مِن
شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥
مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦

## الاخلاص- مكي سوره- 4 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ووايه: هغه دئ يوازينی الله. 2- بشپړ بې نياز الله. 3- نه ئې زېږولي، او نه دئ زېږېدلی. 4- او نشته دئ کوم سيال ورته.

## الفلق- مدني سوره- 5 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ووايه: پناه وړم د ټولو چاودېدونکو رب ته. 2- له شر د هغه څه چي ده پيدا کړل. 3- او له شره د تيارې چي راخوره شي. 4- او له شر د پو کوونکو په (غوټو يا) عقدو کې. 5- او له شره د حاسد چي حسد وکړي.

## الناس- مدني سوره- 6 آيتونه

د ډېر مهربان رحم کوونکي الله په نامه

1- ووايه: پناه وړم د ټولو خلکو رب ته.2- ټولواك د ټولو خلکو. 3- معبود د ټولو خلکو. 4- د بيا بيا راتلونکي وسواس له شره. 5- هغه چي وسوسې اچوي په سينو کې د خلکو. 6- که له پېريانو وي که له خلکو.

# فهرست

نوم صفحه

الفاتحه- مكي سوره- 7 آيتونه ---------------------- - 1 -

البقره- مدني سوره- 286 آيتونه -------------------- - 2 -

آل عمران- مدني سوره- 200 آيتونه ---------------- - 98 -

النساء، مدني 176آيتونه-------------------------- - 151 -

المائده مدني سوره 120 آيتونه------------------- - 210 -

الانعام مكي 165 آيتونه ------------------------ - 254 -

الاعراف مكي 206 آيتونه ------------------------ - 300 -

الانفال- مدني- 75 آيتونه------------------------- - 352 -

التوبه- مدني- 129 آيتونه ---------------------- - 372 -

يونس- مكي- 109 آيتونه ------------------------ - 413 -

هود- مكي سوره- 123 آيتونه ------------------- - 440 -

يوسف- مكي سوره- 111 آيتونه ----------------- - 469 -

الرعد- مكي سوره- 43 آيتونه-------------------- - 498 -

ابراهيم- مكي سوره- 52 آيتونه ------------------ - 510 -

الحجر- مكي سوره- 99 آيتونه ------------------- - 524 -

النحل- مكي سوره- 128 آيتونه ------------------ - 534 -

الاسراء- مكي سوره- 111 آيتونه ----------------- - 564 -

الكهف- مكي سوره- 110 آيتونه ----------------- - 586 -

مريم- مكي سوره- 98 آيتونه -------------------- - 610 -

طٰهٰ- مكي سوره- 135 آيتونه -------------------- - 624 -

الانبياء- مكي سوره- 112 آيتونه ----------------- - 644 -

الحج- مكي او مدني سوره- 78 آيتونه ------------ - 662 -

المؤمنون- مكي سوره- 118 آيتونه ---------------- - 682 -

النور- مدني سوره- 64 آيتونه -------------------- - 698 -

الفرقان- مكي سوره- 77 آيتونه ------------------ - 718 -

الشعراء- مكي سوره- 227 آيتونه ---------------- - 732 -

النمل- مكي سوره- 93آيتونه -------------------- - 752 -

القصص- مكي سوره- 88 آيتونه ------------------ - 770 -

# فهرست سوره ها - 1210 -


العنکبوت- مکي سوره- 69 آیتونه --------------- - 792 -

الروم- مکي سوره- 60 آیتونه -------------------- - 808 -

لقمان- مکي سوره- 34 آیتونه -------------------- - 822 -

السجده- مکي سوره- 30 آیتونه ------------------ - 828 -

الاحزاب- مکي سوره- 73 آیتونه ------------------ - 834 -

سبإ- مکي سوره- 54 آیتونه ----------------------- - 856 -

فاطر- مکي سوره- 45 آیتونه --------------------- - 868 -

یٰس- مکي سوره- 83 آیتونه ------------------------ - 880 -

الصٰفٰت- مکي سوره- 182 آیتونه ---------------- - 890 -

ص- مکي سوره- 88 آیتونه ---------------------- - 904 -

الزمر- مکي سوره- 75 آیتونه ------------------- - 916 -

المؤمن- مکي سوره- 85 آیتونه ------------------- - 934 -

فصلت- مکي سوره- 54 آیتونه ------------------- - 953 -

الشوری- مکي سوره- 53 آیتونه ------------------ - 965 -

الزخرف- مکي سوره- 89 آیتونه ------------------ - 977 -

فهرست سوره ها - 1211 -

الدخان- مكي سوره- 59 آيتونه ------------------ - 991 -

الجاثيه- مكي سوره- 37 آيتونه ------------------ - 995 -

محمد- مكي سوره- 38 آيتونه ------------------- - 1011 -

الفتح- مدني سوره- 29 آيتونه ------------------- - 1021 -

الحجرات- مدني سوره- 18 آيتونه --------------- - 1029 -

ق- مكي سوره- 45 آيتونه ---------------------- - 1035 -

الذاريات- مكي سوره- 60 آيتونه --------------- - 1039 -

الطور- مكي سوره-49 آيتونه ------------------- - 1045 -

النجم- مكي سوره- 62 آيتونه------------------- - 1049 -

القمر- مكي سوره- 55 آيتونه------------------- - 1055 -

الرحمن- مدني سوره- 78 آيتونه----------------- - 1061 -

الواقعه- مكي سوره- 96 آيتونه ----------------- - 1067 -

الحديد- مدني سوره- 29 آيتونه ---------------- - 1073 -

المجادله- مدني سوره- 22 آيتونه --------------- - 1083 -

الحشر- مدني سوره- 24 آيتونه ----------------- - 1089 -

الممتحِنه- مدني سوره- 13 آيتونه ---------------- - 1095 -

الصف- مدني سوره- 14 آيتونه ------------------ - 1101 -

الجمعه- مدني سوره- 11 آيتونه ----------------- - 1105 -

المنافقون- مدني سوره- 11 آيتونه --------------- - 1107 -

التغابن- مدني سوره- 18- آيتونه ---------------- - 1109 -

الطلاق- مدني سوره- 12 آيتونه------------------ - 1113 -

التحريم- مدني سوره- 12 آيتونه ---------------- - 1119 -

الملك- مكي سوره- 30 آيتونه ------------------- - 1123 -

القلم- مكي سوره- 52 آيتونه ------------------- - 1127 -

الحاقة- مكي سوره- 52 آيتونه ------------------- - 1131 -

المعارج- مكي سوره- 44- آيتونه ----------------- - 1135 -

نوح- مكي سوره- 28 آيتونه -------------------- - 1139 -

الجن- مكي سوره- 28 آيتونه ------------------- - 1143 -

المزمل- مكي سوره- 20 آيتونه ------------------ - 1147 -

المدثر- مكي سوره- 56 آيتونه------------------- - 1149 -

القيامة- مكي سوره- 40 آيتونه ------------------- - 1153 -

الدهر- مدني سوره- 31 آيتونه ------------------- - 1155 -

المرسلات- مكي سوره- 50 آيتونه------------------- - 1159 -

النبأ- مكي سوره- 40 آيتونه --------------------- - 1163 -

النازعات- مكي سوره- 46 آيتونه------------------ - 1165 -

عبس- مكي سوره- 42 آيتونه --------------------- - 1167 -

التكوير- مكي سوره- 29 آيتونه ------------------ - 1171 -

الانفطار- مكي سوره- 19 آيتونه ------------------ - 1173 -

المطففين- مكي سوره- 36 آيتونه----------------- - 1173 -

الانشقاق- مكي سوره- 25 آيتونه ----------------- - 1177 -

البروج- مكي سوره- 22 آيتونه ------------------- - 1179 -

الطارق- مكي سوره- 17 آيتونه ------------------- - 1181 -

الاعلى- مكي سوره- 19 آيتونه ------------------- - 1181 -

الغاشية- مكي سوره- 26 آيتونه------------------ - 1183 -

الفجر- مكي سوره- 30 آيتونه-------------------- - 1185 -

الشمس- مكي سوره- 15 آيتونه----------------- - 1189 -
الليل- مكي سوره- 21 آيتونه ------------------- - 1189 -
الضحى- مكي سوره- 11 آيتونه ----------------- - 1191 -
الشرح- مكي سوره- 8 آيتونه ------------------- - 1191 -
التين- مكي سوره- 8 آيتونه -------------------- - 1193 -
العلق- مكي سوره- 19 آيتونه------------------- - 1193 -
البينة- مدني سوره- 8 آيتونه ------------------ - 1195 -
الزلزال- مكي سوره- 8 آيتونه ------------------ - 1197 -
العاديات- مكي سوره- 11 آيتونه -------------- - 1197 -
القارعة- مكي سوره- 11 آيتونه ---------------- - 1199 -
التكاثر- مكي سوره- 8 آيتونه ------------------ - 1199 -
العصر- مكي سوره- 3 آيتونه------------------- - 1201 -
الهمزة- مكي سوره- 9 آيتونه ------------------ - 1201 -
الفيل- مكي سوره- 5 آيتونه ------------------- - 1201 -
قريش- مكي سوره- 4 آيتونه-------------------- - 1203 -

الماعون- مكي سوره- 7 آيتونه------------------- - 1203 -

الكوثر- مكي سوره- 3 آيتونه ------------------- - 1203 -

الكافرون- مكي سوره- 6 آيتونه------------------ - 1205 -

النصر- مدني سوره- 3 آيتونه ------------------- - 1205 -

اللهب- مكي سوره- 7 آيتونه-------------------- - 1205 -

الاخلاص- مكي سوره- 4 آيتونه------------------ - 1207 -

الفلق- مدني سوره- 5 آيتونه ------------------- - 1207 -

الناس- مدني سوره- 6 آيتونه ------------------- - 1207 -

فهرستcontents ---------------------------- - 1208 -